# تورات شریف

اشاعت کوونکی: یونائیټډ بایبل سوسایټیز
د چاپ شمېر: ۲۰۰۰
د چاپ کال: ۱٤۳٤ - ۲۰۱۳
د ISBN شمېره ۹۷۸۹۶۹۲۵۰۸۵۹۵

# د تورات شریف پیژندګلو

اُمبارک شئ! اوس تورات شریف په نوې پښتو کښې هم چاپ شوے دے. دا د خُدائ پاک هغه مُقدس کلام دے چې په حضرت مُوسیٰ علیه السلام باندې نازل شوے وو اؤ د عبرانی ژبې د پخوانو نُسخو نه ستاسو د پاره ترجمه شوے دے چې په خپله مورنۍ ژبه کښې يې ولولئ. د تورات معنیٰ شریعت یا قانُون دے. دا هغه کلام دے چې د حضرت اِبراهیم علیه السلام د اولاد سره د خُدائ پاک د برکتُونو د لوظ بیان کوی. د شریعت بُنیاد هغه لس حُکمُونه دی چې مالک خُدائ حضرت مُوسیٰ علیه السلام ته د سینا په غر باندې پیش کړی وُو.

په تورات شریف کښې د حضرت مُوسیٰ علیه السلام پینځهٔ کتابُونه، د حضرت اِبراهیم علیه السلام د اولاد تاریخ، اؤ د حضرت مُوسیٰ علیه السلام د ژوند قیصه شامله ده. دې ته شریعت ځکه وائی چې خُدائ پاک خپلو خلقو ته قانُون وښودلو اؤ دا وعده يې ورسره وکړه چې د دې شریعت په ذریعه به برکت ورکړی. خو د ټولو نه اهمه خبره دا ده چې دا بُنیادم ته د فضل اؤ ایمان نعمت ښائی، چې د خُدائ پاک سره تعلق اؤ شراکت ولری نه چې د نیکۍ اؤ د خپل عمل په ذریعه د خُدائ پاک د رضا حاصلولو کوشش وکړی.

## تورات شریف مُونږ ولې لولُو؟

تورات شریف د ټولې دُنیا د پاره د خُدائ پاک د رحم اظهار وو. په دې باندې پوهېدل ضروری دی چې خُدائ پاک د ازل نه د بُنیادم سره څنګه تعلق ساتی. دا مُونږ ته د خُدائ پاک د دې دُنیا اؤ د بلې دُنیا د پاره نۀ بدلېدُونکے مقصد ښائی. دا په ټولو آسمانی کتابُونه باندې د پوهېدو بُنیاد دے. د دې پېغام د یو خاص قبیلې د پاره نه بلکې د ټولو انسانانو د پاره دے. په دې کښې هغه بُنیادی خبرې شاملې دی چې دُنیا څنګه پېدا شوه اؤ واحِد خُدائ پاک یې څنګه چلوی، چې د قدرت اؤ د مینې خاوند دے. په حقیقت کښې، اصلی مومِنانو ته وئیلی شوی دی چې په هغه کتابُونو ایمان راوړی کُوم چې وړاندې نازِل شوی وُو، اؤ څوک چې دا کتابُونه نۀ منی نو هغوئ ګُمراه دی.

## د خُدائ پاک نۀ بدلیدونکے کلام

څۀ ثبُوت شته چې دا اصلی تورات دے؟ اؤ! دا تاریخی خبره ده چې تورات شریف د دوو زرو کالو وړاندې په اصلی شکل کښې لاتبدیل موجُود دے. اؤ مُونږ له یقین کول په کار دی چې خُدائ پاک د اصلی نُسخو حفاظت کولے شی چې انسان یې ګډې وډې نۀ کړی، ځکه چې خُدائ پاک وعده کړې ده چې هغه به د خپل کلام حفاظت کوی. د خُدائ پاک په ښائسته

نومُونو کښې يو نوم الحافِظ (حفاظت کوُونکے) دے. هغۀ وعده کړې ده چې د خپل کلام حفاظت به کوى نو داسې هيڅ څوک نشته چې د خُدائ پاک په کلام کښې بدلُون وکړى، اؤ هيڅ څوک يې د چا د دماغو نه نۀ شى ويستلے. دا هم حقيقت دے چې خُدائ پاک العليم دے. د هغۀ د علم څۀ حد نشته نو هغه د خپل ذات خلاف هيڅ هم نۀ کوى اؤ د خُدائ پاک د کلام يوه حصه هم نۀ ده منسُوخ شوې. لکه چې مُونږ ته پته ده چې بُنيادم غلطى وکړى نو بيا د هغې اِصلاح کوى، خو د خُدائ پاک معامله داسې نۀ ده.

دا ترجمه د عبرانى ژبې نه شوې ده، اؤ د هغه معتبرو تاريخى نُسخو نه شوې ده چې په ټوله دُنيا کښې په عجائب گهرو کښې پرَتې دى. زياتې راغونډې کړے شوې نُسخې په قاهِره (مِصر) کښې اؤ په فلسطين کښې نن هم موجودې دې، په دې کښې چې کومى ډيرى پخوانئ نُسخې دې هغې ته د مالگې د درياب نُسخې وئيلے شى. د مالگې د درياب نُسخې محمد الذئب اؤ د هغۀ د ترۀ زوئ په کال ۱۹٤۷ عيسوى کښې د فلسطين په خربه قمران کښې موندلې وې، کُوم چې د مالگې درياب سره نزدې دے. د مالگې د درياب نُسخې زمونږ دپاره يو لوئ ثبوت دے چې د تورات شريف د متن حفاظت په ايماندارئ سره د زرگونو کالو نه کيدو.



د مالګې د دریاب نُسخې په الأُردن عجائب ګهر کښې



دا نُسخه د مالګې دریاب د نُسخو یوه حصه ده

## د تورات شریف په پښتو ژبه کښې ترجمه

د اصلی متن ترجمه ولې کیږی؟ د خُدائ پاک د کلام حقیقی مقصد دا دے چې مُونږ وربانديې پوهه شُو اؤ په خپل ژوند کښې يې عملی کړُو. نو په دې وجه د خُدائ پاک د کلام د لوستُونکی مورنی ژبې ته د ترجمو کولو يو لوئ تاريخ موجُود دے، د دې د پاره چې د دُنيا په هر ګوټ کښې خُدائ پاک د خلقو نه رضا شی. د تورات شریف وړومبی ترجمه دوه زره کاله وړاندې په یونانی ژبه کښې شوې وه. د هغې نه پس د دې ترجمه د دُنيا د دوو زرو نه زياتو ژبو کښې شوې ده. د فخر خبره دا ده چې د پښتو د ټولو نه اول چاپ شوے کتاب تورات شریف دے چې په کال ۱۸۱۸ عیسوی کښې چاپ شوے وو. ستاسو په لاس کښې چې کُومه ترجمه ده دا د هغه سلسلې يوه برخه ده چې پښتنو له يوه موقع ورکوی چې ټول آسمانی کتابُونه ولولی.

## په تورات شریف کښې څۀ ليکلی شوی دی؟

د حضرت مُوسیٰ علیه السلام په تورات شریف کښې دا پينځۀ کتابُونه دی:

### ۱- د پيدايښت کتاب:

د پيدايښت کتاب د هر څيز، سره د دې دُنيا د تخليق بيان کوی. په دې کښې ليکلے شوی دی چې خُدائ پاک بُنيادم څنګه پيدا

کړو اؤ وړومبی انسانان حضرت آدم علیه السلام اؤ بی‌بی حوا يې په باغِ عدن کښې څنګه ودان کړل، ګُناه څنګه دُنيا ته راغله اؤ د خُدائ پاک برکت د هغوئ په ذريعه څنګه ټولو قومونو ته ورسېدو. د پېدايښت کتاب د حضرت اِبراهيم علیه السلام قيصه هم بيانوی، ځوک چې د خُدائ پاک په نظر کښې د ټولو صادقانو پلار دے. دا د انسان تاريخ اؤ هغه عمل هم ښائی چې خُدائ پاک وربانديې رضا کېږی.

## ۲- د هِجرت کتاب:

د هِجرت کتاب د هغه څلورو سوو کالُونو بيان کوی چې د حضرت اِبراهيم علیه السلام د کورنۍ نه د مِصر د غُلامۍ په وخت کښې څنګه يو قوم جوړ شو. او بيا د حضرت مُوسیٰ علیه السلام د مشرۍ لاندې څنګه هغوئ د مِصر د غُلامۍ نه آزاد شول. د شريعت د مُقرر کېدو اؤ د هغه مُقدس ځائ بيان هم کوی چرته به چې د واحد حقيقی خُدائ پاک عبادت کېدو. د دې کتاب بُنيادی پېغام دا دے چې خُدائ پاک مُونږ د هر قِسم غُلامۍ نه آزاد کړُو چې مُونږ د هغهٔ عبادت وکړو اؤ د هغهٔ په سلامتۍ کښې ژوند تيرُو.

## ۳- د ليويانو کتاب:

د ليويانو کتاب د هغه رسمُونو بيان کوی چې د حضرت مُوسیٰ علیه السلام شريعت يې يوه طريقه ښائی چې د هغې په ذريعه د خُدائ پاک رضا حاصله کړے شی. بُنيادی خبره په کښې د خُدائ

پاک پاکوالے اؤ د خُدائ پاک خلقو ته بلنه ده چې وائی، ”تاسو پاک اوسئ ځکه چې زۀ پاک یم.“ په دې کتاب کښې اهم ټکے ”کفاره“ دے؛ دا هغه رسم دے چې خُدائ پاک د خپل رحم په وجه یوه لار جوړه کړه چې د بې‌ګُناه وینې تویولو په ذریعه انسان پاک شی.

## ٤- د شمېر کتاب:

د شمېر کتاب هغه تاریخی واقعې بیانوی چې د حضرت اِبراهیم علیه السلام اولاد په بیابان کښې د سرګردانه ګرځېدو په وخت ورسره مخ شوے وو. د خپلې بې ایمانئ، نافرنئ اؤ ضد په وجه هغه وطن ته ورداخل نۀ شول چې خُدائ پاک یې ورسره لوظ کړے وو. د دې کتاب نُوم د حضرت اِبراهیم علیه السلام د اولاد د مردم شمارئ نه اخذ کړے شوے دے. د دې کتاب بُنیادی خبره د بُنیادم ناکامی اؤ د خُدائ پاک وفاداری ده. اګر چې هغه قوم په بیابان کښې په څلوېښتو کالو کښې نافرمانی وکړه خو د هغې باوجُود ورسره خدائ پاک وفادار پاتې شو.

## ٥- د ګردان کِتاب:

د ګردان کِتاب مطلب دے ”د شریعت دوباره بیانول“. دا کتاب د شریعت بیان دوباره کوی اؤ د تاریخ د هغه کتابُونو سره یې هم تعلق دے چې کُوم وروستو راروان دی. دا د شریعت د نظرثانئ سره دا هم وائی چې د حضرت اِبراهیم علیه السلام اولاد به څنګه د خُدائ پاک خِدمت کوی اؤ څنګه به ورسره د زړۀ د اخلاصه مینه کوی.

دا د هغه برکتُونو چې د تابعدارئ په وجه راځی اؤ د هغه لعنتُونو بیان کوی چې د نافرمانئ په وجه راځی. په دې کښې بُنیادی آیت دا دے، ”مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک دے، مالِک خُدائ یو دے.“ دا د حضرت مُوسیٰ علیه السلام د مرګ اؤ د حضرت یشوع د هغهٔ په ځائ د خِدمت کولو بیان کوی. د حضرت مُوسیٰ علیه السلام مقصد د بنیاِسرائیلو حوصله افزائی کول وُو چې تابعدار اؤ وفادار اوسی اؤ د مالک خُدائ سره مینه کوی.

په دې ټولو پینځو واړوکتابُونو کښې مُونږ ګورُو چې پخوانو مشرانو په خُدائ پاک ایمان لرلو اؤ هغوئ په دُنیا کښې د مُسافرو په شان ژوند تېرولو. د هغوئ نظر همېشه په خُدائ پاک، په راتلُونکی وخت اؤ په هغه عظیم الشان ځائ باندې وو چې خُدائ پاک د هغوئ د پاره تیارولو. په دې باندې پوهېدل ضروری دی چې هغوئ په صراطِ المسقیم باندې د تلو کوشش کولو خو هغوئ کامِل نهٔ وُو. هغوئ انسانان وُو چې کله کله به یې تیندک وخوړو اؤ بې لارې به شول. خُدائ پاک چې د هغوئ نه په څهٔ باندې رضا کېدو دا د هغوئ نیک عمل نهٔ وو، بلکې دا د هغوئ د خُدائ پاک سره مینه اؤ په هغهٔ باندې د هغوئ ایمان وو. دا د هغوئ بې عِزتی نهٔ ده چې د هغوئ کمزورئ بیان شوې دی، بلکې مُونږ له یو لوئ اُمید راکوی، ځکه چې مالک خُدائ هغوئ قبُول کړل اؤ د هغوئ د کمزورئ باوجُود د خپل مقصد د پُورا کولو د پاره یې اِستعمال کړل. دا هغه ایمان دے چې زمُونږ هم نصیب کېدے شی.

# د تورات د کتابونو فهرست


د پېدايښت کِتاب ..................... پېدايښت ۱
د هِجرت کِتاب ..................... هِجرت ۱٤۸
د ليويانو کِتاب ..................... ليويانو ۲۷۹
د شمېر کِتاب ..................... شمېر ۳٦۸
د ګردان کِتاب ..................... ګردان ٤۸۰

# د پېدايښت کِتاب

---

## د پېدايښت قيصه

۱ ① په شروع کښې، چې کله خُدائ پاک ټول جهان پېدا کړو،
② زمکه خالی وه اؤ هيڅ په کښې نۀ وُو. سمندر هر څۀ ګېر
کړی وُو. اؤ هر څيز په توره تيارۀ کښې پټ وو اؤ د خُدائ پاک
رُوح په اوبو حرکت کولو. ③ بيا خُدائ پاک حُکم وکړو چې، ”رڼا
دې شی“ نو رڼا شوه. ④ خُدائ پاک په دې ليدو خوشحاله وو. بيا
هغۀ رڼا د تيارې نه جُدا کړه، ⑤ اؤ په رڼا يې ”ورځ“ نُوم کېښودو
اؤ په تيارۀ يې ”شپه“. شپه تېره شوه. اؤ سحر شو. دا وړومبۍ ورځ
وه. ⑥ بيا خُدائ پاک حُکم وکړو چې، ”د پاسنو او لاندينو اوبو تر
مينځه دې فضا جوړه شی.“ ⑦ نو هم داسې وشول. نو خُدائ پاک
فضا جوړه کړه چې لاندې اوبۀ د پاس اوبو نه جُدا وی. ⑧ هغۀ په
دې چت ”آسمان“ نُوم کېښودو. شپه تېره شوه. اؤ سحر شو. دا

دويمه ورځ وه. ۹ بيا خُدائ پاک حُکم وکړو، ”د آسمان لاندې
اوبۀ دې په يو ځائ راغونډې شی، نو وچه به راښکاره شی.“ نو هم
داسې وشول. ۱۰ هغۀ په وچه ”زمکه“ نُوم کېښودو اؤ په يو ځائ
راغونډو شوو اوبو يې ”سمندر“ نُوم کېښودو. اؤ خُدائ پاک د دې
ليدو سره خوشحاله وو. ۱۱ بيا هغۀ حُکم وکړو، ”زمکه دې هر قِسم
بُوټی رازرغُون کړی، هغه ټول بُوټی چې غله اؤ مېوه به کوی.“ نو
هم داسې وشول. ۱۲ نو زمکې هغه هر قِسم بُوټی زرغُون کړل کُوم
چې غله اؤ مېوه کوی اؤ خُدائ پاک د دې ليدو سره خوشحاله وو.
۱۳ شپه تېره شوه. اؤ سحر شو. دا دريمه ورځ وه. ۱۴ بيا خُدائ پاک
حُکم وکړو، ”ځلېدُونکی څيزُونه دې په آسمان کښې راښکاره شی
چې ورځ د شپې نه جُدا کړی اؤ چې د ورځو، مياشتو اؤ د کالونو
نښې شی، ۱۵ دا به په آسمان کښې زمکې ته ځلېږی.“ نو هم داسې
وشول. ۱۶ نو خُدائ پاک هغه دوه غټ ځلېدُونکی څيزُونه جوړ
کړل، نمر به د ورځې ځلېږی اؤ سپوږمۍ به د شپې ځلېږی، هغۀ
ستوری هم پېدا کړل. ۱۷ هغۀ دا ځلېدُونکی څيزُونه په آسمان کښې
مُقرر کړل چې زمکې له رڼا ورکوی، ۱۸ چې په ورځ اؤ شپه باندې
اِختيار ولری اؤ رڼا د تيارې نه جُدا کړی. اؤ خُدائ پاک د دې ليدو
سره خوشحاله وو. ۱۹ شپه تېره شوه. اؤ سحر شو. دا څلورمه ورځ
وه. ۲۰ بيا خُدائ پاک حُکم وکړو، ”سمندر دې د ډېر قِسم ساه
اخستُونکی څيزُونو نه ډک شی اؤ هوا دې د مارغانو نه ډکه شی.“
۲۱ نو خُدائ پاک غټې سمندری بلاګانې پېدا کړې، هر قِسم ساه
لړُونکی څيزُونه چې په اوبو کښې اوسېږی اؤ هر قِسم مارغان يې پېدا

کړل. اؤ خُدائ پاک د دې ليدو سره خوشحاله وو. ۲۲ اؤ خُدائ
پاک برکت ورکړو اؤ د اوبو مخلُوق ته يې ووئيل چې ډېر شئ اؤ
سمندر ډک کړئ اؤ مارغانو ته يې ووئيل چې زيات شئ. ۲۳ شپه
تېره شوه اؤ سحر شو. دا پينځمه ورځ وه. ۲۴ بيا خُدائ پاک حُکم
وکړو، ”زمکه دې هر قِسم ځاروی اؤ ځنګلی، واړۀ اؤ غټ ځناور
پېدا کړی.“ نو هم داسې وشول. ۲۵ نو خُدائ پاک دا ټول ځناور پېدا
کړل اؤ هغه د دې ليدو سره خوشحاله وو. ۲۶ بيا خُدائ پاک ووئيل،
”مُونږ به اوس بنيادم جوړ کړُو، اؤ هغوئ به د خپل صورت په شان
جوړ کړُو. هغوئ به په کبانو، مارغانو اؤ په ټولو ځناورو، ځاروو اؤ
ځنګلی، وړو اؤ غټو ځناورو باندې اِختيار لری.“ ۲۷ نو خُدائ پاک
بنيادم پېدا کړل اؤ د خپل صورت په شان يې جوړ کړل. هغوئ يې
نر اؤ ښځه پېدا کړل، ۲۸ برکت يې ورکړو اؤ وې وئيل، ”ډېر بچی
پېدا کړئ، نو ستاسو اولاد به په ټوله دُنيا کښې اوسېږی اؤ زمکه به
د هغوئ په لاس کښې وی. زۀ تاسو له په کبانو، مارغانو اؤ په ټولو
ځناورو باندې اِختيار درکوم. ۲۹ ما تاسو له د خوراک د پاره هر قِسم
غله اؤ هر قِسم مېوې پېدا کړې دی، ۳۰ خو ټولو ځنګلی ځناورو
اؤ ټولو مارغانو له ما د خوراک د پاره واښۀ اؤ شنۀ بُوټی پېدا کړې
دی.“ نو هم داسې وشول. ۳۱ خُدائ پاک دا ټول څيزُونه وکتل اؤ
هغه ډېر خوشحاله وو. شپه تېره شوه. اؤ سحر شو. دا شپږمه ورځ وه.

# ۲

۱ نو داسې د ټول جهان جوړېدل پُوره شُو. ۲ اؤ په اوومه
ورځ خُدائ پاک پېدايښت پُوره کړو اؤ کار يې بس کړو.
۳ هغۀ اوومې ورځې له برکت ورکړو اؤ مُقدسه يې وګرځوله، ځکه

چې هغۀ په اوومه ورځ پېدايښت پُوره کړو اؤ کار يې بس کړو. ٤ اؤ داسې ټول جهان پېدا شو.

## د عدن باغ

چې مالِک خُدائ، خُدائ پاک ټول جهان جوړ کړو، ٥ په زمکه هيڅ قِسم بُوټے نۀ وو اؤ هيڅ تُخم زرغُون شوے نۀ وو، ځکه چې هغۀ باران نۀ وو ورولے اؤ د زمکې د کروَندې هم څوک نۀ وُو. ٦ خو اوبۀ به د زمکې نه راوتلې اؤ زمکه به يې اوبۀ کوله. ٧ بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک د زمکې نه خٙۀ خاوره واخستله اؤ آدم يې ترې نه جوړ کړو. خُدائ پاک د هغۀ په سپږمو کښې د ژوند ساه پُو کړه اؤ آدم ژوندے شو. ٨ بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک په عدن کښې يو باغ وکَرلو اؤ هغه پېدا کړے آدم يې په کښې مُقرر کړو. ٩ هغۀ هلته د هر قِسم ښائسته اؤ ښو مېوو ونې وکَرلې. هغۀ د باغ په مېنځ کښې ژوند ورکوُونکې ونه اؤ د ښۀ اؤ بد پوهه ورکوُونکې ونه ولګوله. ١٠ په عدن کښې يو درياب به باغ اوبۀ کولو، د عدن بل طرف ته دا په څلورو سيندُونو کښې تقسيم شوے وو. ١١ د وړومبی سيند نُوم فيسون دے، دا د حويلې ټول وطن نه تېرېږی. ١٢ (سُوچه سره زر، خوشبودار عطر اؤ قيمتی کانړی دلته ملاوېږی.) ١٣ د دويم سيند نُوم جيحون دے، دا د کُوش ټول وطن نه تېرېږی، ١٤ دريم سيند دجله دے، چې د اسُور نَمرخاتۀ طرف نه تېرېږی اؤ څلورم د فرات سيند دے. ١٥ مالِک خُدائ، خُدائ پاک آدم د عدن باغ کښې مُقرر کړو چې په باغ

کښې کَرل ریبل کوی اؤ ساتنه یې کوی. ۱۶ مالِک خُدائ، خُدائ
پاک هغۀ ته حُکم وکړو، ”تۀ د باغ د هرې ونې مېوه خوړے
شې، ۱۷ خو د هغې ونې نه بغېر کُومه چې د ښۀ اؤ بد د پېژندګلو
پوهه ورکوی. چې هیڅ کله د هغې ونې مېوه ونۀ خورې، کۀ تا
وخوړه، نو په هغه ورځ به مړ شې.“ ۱۸ بیا مالِک خُدائ، خُدائ
پاک ووئیل، ”د آدم د پاره یواځې اوسېدل ښۀ نۀ دی. زۀ به د
هغۀ د پاره یوه ښۀ ملګرې جوړه کړم چې د هغۀ مدد به کوی.“
۱۹ نو هغۀ د زمکې نه څۀ خاوره واخستله اؤ ټول ځناور اؤ مارغان
یې ترې نه جوړ کړل. هغه یې بیا آدم له راوستل چې وګوری چې
څۀ نومُونه وربانديې ږدی، اؤ آدم چې په هر ژوندی څیز څۀ نُوم
کېښودو هم هغه یې نُوم شو. ۲۰ نو آدم په ټولو مارغانو اؤ ځناورو
نومُونه کېښودل، خو د آدم د پاره یوه ښۀ ملګرې نۀ وه پیدا شوی
چې د هغۀ مدد وکړی. ۲۱ بیا مالِک خُدائ، خُدائ پاک په آدم
درُوند خوب راوستلو اؤ چې آدم اُودۀ شو، نو هغۀ د آدم نه یوه
پوښتئ راوویسته اؤ هغه ځائ یې ورله په غوښه ډک کړو. ۲۲ بیا
مالِک خُدائ، خُدائ پاک د آدم د پوښتئ نه یوه ښځه پیدا کړه
اؤ هغۀ له یې راوستله. ۲۳ نو آدم ووئیل، ”واه، دا هم زما په شان
ده. اؤ زما په شان وجُود لری. د دې نُوم ”ښځه“ دے، ځکه
چې دا د بنیادم نه راویستلے شوې ده.“ ۲۴ نو هم دا وجه ده چې
سړے خپل مور اؤ پلار پرېږدی اؤ د ښځې سره یو ځائ وی اؤ
دواړه یو بدن شی. ۲۵ سړے اؤ ښځه دواړه بربنډ وُو، خو د یو
بل نه یې پړده نۀ کوله.

## د بنيادم نافرمانی کول

۳ ۱ مالِک خُدائ، خُدائ پاک چې څومره ځناور پيدا کړی
وُو مار په کښې د ټولو نه چالاک وو. مار د ښځې نه تپوس
وکړو، ”دا رښتيا دی څۀ چې تاسو ته خُدائ پاک وئيلی دی چې
د باغ د هرې يوې ونې مېوه مۀ خورئ؟“ ۲ ښځې جواب ورکړو،
”مُونږ ته په باغ کښې د هرې ونې نه د مېوې خوړلو اِجازت شته،
۳ خو بغېر د هغه ونې نه چې د باغ په مېنځ کښې ده. خُدائ پاک
مُونږ ته وئيلی دی چې د هغې ونې مېوه ونۀ خورئ اؤ نۀ چې لاس
وروړئ، کۀ لاس مو وروړو، نو تاسو به مړۀ شئ.“ ۴ مار جواب
ورکړو، ”دا دروغ دی، تاسو به نۀ مرئ. ۵ خُدائ پاک دا ځکه
وئيلی دی، چې هغۀ ته پته ده کۀ تاسو د دې مېوه وخوړه نو ستاسو
سترګې به وغړېږی، د خُدائ پاک په شان به شئ اؤ په ښۀ اؤ بد به
پوهه شئ.“ ۶ چې ښځې ونه وليده نو په زړۀ کښې يې راغلل چې
دا ونه دومره ښُکلې ده، مېوه به يې څومره خوَږه وی اؤ څومره مزه به
وکړی چې هوښيار شُو. نو لږه مېوه يې ترې وشُوکوله اؤ وې خوړله.
بيا يې هلته لږه ترې نه خاوند له هم ورکړه اؤ هغۀ هم وخوړله. ۷ چې
دا يې څنګه وخوړه، نو د دوئ سترګې وغړېدلې اؤ پته ورته ولګېده
چې دوئ خو بربنډ دی، نو دوئ د اينځر پاڼې وګنډلې اؤ ځانُونه يې
پرې پټ کړل. ۸ د ماښامی په نرئ نرئ هوا کښې دوئ د مالِک
خُدائ، خُدائ پاک د تلو آواز واؤرېدو، نو دوئ په ونو کښې پټ
شول. ۹ خو مالِک خُدائ، خُدائ پاک آدم له آواز ورکړو، ”تۀ چرته

يې؟“ ۱۰ هغۀ ورته ووئيل، ”ما په باغ کښې ستا د تلو آواز واؤرېدو،
زۀ وېرېدم اؤ ستا نه پټ شوم، ځکه چې بربنډ وم.“ ۱۱ نو خُدائ
پاک ترې تپوس وکړو، ”تا ته چا ووئيل چې تۀ بربنډ يې؟ تا هغه
مېوه وخوړه څۀ چې د کُومې نه ما منع کړے وې؟“ ۱۲ آدم جواب
ورکړو، ”کُومه ښځه چې تا زما سره کړې ده هغې ما له هغه مېوه
راکړه، نو ما وخوړه.“ ۱۳ نو مالِک خُدائ، خُدائ پاک د ښځې نه
تپوس وکړو، ”تا ولې داسې وکړل؟“ هغې ورته ووئيل، ”زۀ خو مار
دهوکه کړم اؤ ما وخوړله.“

## د خُدائ پاک د اِنصاف فېصله کول

۱۴ بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک مار ته ووئيل، ”د دې کار په وجه
ستا به دا سزا وى، په ټولو ځناورو کښې به صِرف تۀ لعنتى شې: د
اوس نه به په خېټه تلل کوې اؤ چې تر څو ژوندے يې خاورې به
خورې. ۱۵ زۀ به ستا اؤ د ښځې په مينځ کښې دُشمنى پيدا کړم،
د هغې اؤ ستا اولاد به همېشه دُشمنان وى. هغه به ستا سر چخنى
کوى اؤ تۀ به هغه په پُونده چيچې.“ ۱۶ اؤ هغۀ ښځې ته ووئيل، ”زۀ
به ستا د اُميدوارۍ تکليف اؤ د ماشُوم د زېږېدو درد زيات کړم. خو
د دې باوجُود، ستا شوق به خپل خاوند ته وى اؤ هغه به په تا اِختيار
لرى.“ ۱۷ اؤ هغۀ آدم ته ووئيل، ”تا د ښځې خبره ومنله اؤ هغه مېوه
دې وخوړه چې د کُومې نه ما منع کړے وې. ستا د عمل په وجه
زمکه لعنتى شوه. د خپل خوراک د پاره ته به ټول عُمر په دې زمکه
کښې سخته خوارى کوې. ۱۸ دا به آزغى اؤ مرکُونډۍ زرغُونوى اؤ

تۀ به ځنګلى بُوټى خورې. ⁽¹⁹⁾ سخت محنت به کوې، خولې به درنه
بهېږى اؤ ډوډۍ به خورې، تر دې چې د خاورو سره خاورې شې چې
د څۀ نه جوړ شوے يې. تۀ د خاورې نه جوړ وې اؤ بيا به خاورو له
ورځې.“ ⁽²⁰⁾ آدم په خپله ښځه حوا نُوم کېښودو، ځکه چې هغه د
ټولو بنيادمو مور وه. ⁽²¹⁾ نو مالِک خُدائ د آدم اؤ د هغۀ د ښځې د
پاره د ځناورو د څرمنې نه جامې جوړې کړې اؤ ور وابې غوستې.

## د حضرت آدم اؤ بى‌بى حوا د عدن د باغ نه ويستل

⁽²²⁾ بيا مالِک خُدائ، خُدائ پاک ووئيل، ”بنيادم زمُونږ په شان
شوے دے اؤ د ښۀ اؤ بد پوهه لرى. هسې نه چې خپل لاس اُوږد
کړى اؤ د ژوند ورکوُونکى ونې نه هم مېوه وخورى، نو همېشه به
ژوندے پاتې شى.“ ⁽²³⁾ نو مالِک خُدائ، خُدائ پاک هغه د عدن
باغ نه وشړلو اؤ د هغه زمکې کَرلو ريبلو ته يې ولېږلو چې د کُومې
د خاورې نه جوړ وو. ⁽²⁴⁾ آدم يې بهر کړو اؤ د باغ نَمرخاتۀ طرف ته
يې د وزرو والا مخلُوق اؤ يوه اور لرُونکې تُوره ودروله چې هر طرف
ته به تاوېده، چې د ژوند د ونې د لارې حِفاظت وکړى.

## قائِن اؤ هابيل

**٤** ⁽¹⁾ بيا آدم د حوا سره څملاستو، نو هغه اُميدواره شوه. اؤ
يو زوئ يې وشو اؤ وې وئيل، ”مالِک خُدائ زما مدد وکړو
اؤ زما زوئ يې وشو.“ نو هغې پرې قائِن نُوم کېښودو. ⁽²⁾ وروستو
يې بيا يو بل زوئ، هابيل وشو. هابيل شپُون شو، خو قائِن زميدار

وو. ٣ څۀ موده پس، قائِن د خپل فصل څۀ حِصه راوړه اؤ د مالِک
خُدائ په حضُور کښې يې پېش کړه. ٤ بيا هابيل د خپلو ګډو
وړومبے ګډُورے راوستو اؤ حلال يې کړو اؤ د ټولو نه ښۀ اندامُونه
يې د مالِک خُدائ په حضُور کښې پېش کړل. مالِک خُدائ د هابيل
نه رضا شو اؤ د هغۀ قُربانی يې خوښه شوه، ٥ خو قائِن اؤ د هغۀ
قُربانی يې نامنظُوره کړه. قائِن د غُصې نه تک سُور شو اؤ تندے يې
تريو کړو. ٦ بيا مالِک خُدائ قائِن ته ووئيل، "تۀ ولې دومره غُصه
يې؟ تا ولې تندے دومره تريو کړے دے؟ ٧ کۀ تا ښۀ کړی وے،
نو تۀ به مُسکے وې، خو تا بد کړی دی، نو ګُناه په تا حمله کولو
ته تياره ده. دا په تا حُکم چلول غواړی، خو تۀ پرې خامخا غالِب
شه." ٨ بيا قائِن خپل ورور هابيل ته ووئيل، "ځه چې بهر پټو ته
لاړ شُو." کله چې دوئ په پټو کښې وُو، قائِن په خپل ورور حمله
وکړه اؤ وې وژلو. ٩ مالِک خُدائ د قائِن نه تپوس وکړو، "ستا
ورور هابيل چرته دے؟" هغۀ جواب ورکړو، "ما ته پته نشته، ولې
د ورور خيال ساتل زما کار دے څۀ؟" ١٠ بيا مالِک خُدائ هغۀ ته
ووئيل، "تا ولې دا ظلم کړے دے؟ ستا د ورور وينه د زمکې نه ما
ته داسې چغې وهی، لکه چې څوک بدل اخستل غواړی. ١١ په تا
دې لعنت وی. اؤ د زمکې کَرل ربېل دې په تا نور بند وی ځکه
چې تا خپل ورور ووژلو اؤ د هغۀ وينه دې په زمکه باندې توئ کړه.
١٢ کله چې تۀ يوې کوې، نو زمکه به هيڅ پېداوار نۀ درکوی، تۀ
به بې کوره يې اؤ په زمکه به يو ځائ بل ځائ ګرځې." ١٣ نو قائِن
مالِک خُدائ ته ووئيل، "دا سزا زما د برداشت نه بهر ده. ١٤ تۀ ما

د زمکې نه وباسې اؤ زۀ به ستا د مخ نه پناه شم، زۀ به بې‌کوره يم
اؤ په زمکه به يو ځائ بل ځائ ګرځم، کۀ څوک مې وګورى نو
ما به ووژنى.“ ۱۵ خو مالِک خُدائ جواب ورکړو، ”داسې نۀ ده،
کۀ څوک تا ووژنى، نو اووۀ کسان به په بدل کښې وژلے شى.“ نو
مالِک خُدائ په قائِن يوه نښه ولګوله چې خلقو ته پته وى چې څوک
يې ګورى نو نۀ به يې وژنى. ۱۶ نو قائِن د مالِک خُدائ د حضُور
نه لرې لاړو اؤ د عدن نَمرخاتۀ طرف ته په يوه علاقه کښې اوسېدو
چې نُوم يې ”مُسافر“ وو.

## د قائِن اولاد

۱۷ قائِن د خپلې ښځې سره څملاستو اؤ يو زوئ يې وشو اؤ حنوک نُوم
يې پرې کېښودو. بيا قائِن يو ښار جوړ کړو اؤ په دې ښار يې هم ”حنوک“
نُوم کېښودو. ۱۸ د حنوک نه عيراد پېدا شو، هغه د محوياايل پلار وو
اؤ د محوياايل زوئ متوساايل پېدا شو، چې هغه د لمک پلار وو. ۱۹ د
لمک دوه ښځې يوه عده اؤ بله ضِله وه. ۲۰ د عده نه يابل پېدا شو، چې
د هغو خلقو پلار وو چې څاروى ساتى اؤ په خېمو کښې اوسېږى. ۲۱ د
هغۀ ورور يوبل وو، هغه د هغو ټولو موسيقارانو پلار وو چې رباب اؤ شپېلۍ
غږوى. ۲۲ د ضِله نه توبلقائِن پېدا شو، چې هغۀ به د پيتلو اؤ اوسپنې نه
هر قِسم آوزار جوړول. د توبلقائِن خور نعمه وه. ۲۳ لمک خپلو ښځو ته
ووئيل، ”عدې اؤ ضِلې، زما خبره واورئ: ما يو ځلمے وژلے دے ځکه
چې هغۀ زۀ وهلے وم. ۲۴ کۀ د قائِن د وژلو په بدل کښې اووۀ کسان
وژلے شى، نو زما د وژلو په بدل کښې به اووۀ اؤيا کسان ووژلے شى.“

## شيث اؤ انوش

٢ د آدم اؤ حوا يو بل زوئ وشو. هغې ووئيل، ”خُدائ پاک د
هابيل په ځائ ما له يو زوئ راکړے دے، هغه هابيل کُوم چې قائِن
وژلے وو.“ نو په هغۀ يې شيث نُوم کېښودو. ٢٦ د شيث يو زوئ وشو
چې په هغۀ يې انوش نُوم کېښودو. نو د دې نه پس خلقو د مالِک
خُدائ نُوم په عِبادت کښې اخستل شروع کړل.

## د حضرت آدم اولاد

**(د تاريخ اول کِتاب ١: ١-٤)**

**٥** ١ دا د آدم د اولاد نسب‌نامه ده. کله چې خُدائ پاک
بنيادم پيدا کړو، هغه يې د ځان په شان پيدا کړو. ٢ هغوئ
يې نر اؤ ښځه پيدا کړل، بختور يې کړل اؤ ”بنيادم“ نُوم يې پرې
کېښودو. ٣ کله چې آدم د يو سل دېرشو کالو وو، نو د هغۀ يو
زوئ وشو چې د هغۀ په شان وو اؤ شيث نُوم يې پرې کېښودو.
٤ د دې نه پس آدم اتۀ سوه کاله نور ژوندے وو. د هغۀ نور بچی
هم پيدا شول ٥ اؤ د نهۀ سوه دېرشو کالو په عُمر کښې په حق
ورسېدو. ٦ کله چې شيث د يو سل پينځو کالو وو، د هغۀ زوئ
انوش پيدا شو، ٧ هغه نور اتۀ سوه اووۀ کاله ژوندے وو. د هغۀ
نور بچی هم پيدا شول، ٨ اؤ د نهۀ سوه دولسو کالو په عُمر کښې
په حق ورسېدو. ٩ کله چې انوش د لس کم سلو کالو وو، د هغۀ
زوئ قېنان وشو، ١٠ اؤ هغه نور اتۀ سوه پينځلس کاله ژوندے وو.

د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۱۱ اؤ د نهٔ سوه پينځهٔ کالو په عُمر
کښې په حق ورسېدو. ۱۲ کله چې قېنان د اؤيا کالو وو، د هغهٔ
يو زوئ محللاېل پېدا شو، ۱۳ اؤ قېنان نور اتهٔ سوه څلوېښت کاله
ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۱۴ اؤ د نهٔ سوه لسو
کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۱۵ محللاېل د پينځو شپېتو کالو
وو، چې د هغهٔ زوئ يارد پېدا شو، ۱۶ اؤ هغه نور اتهٔ سوه دېرش
کاله ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۱۷ اؤ د پينځهٔ کم
نهٔ سوه کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۱۸ چې کله يارد د
يو سل دوه شپېتو کالو وو، د هغهٔ زوئ حنوک وشو، ۱۹ اؤ بيا نور
اتهٔ سوه کاله ژوندے وو. د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول ۲۰ اؤ د
نهٔ سوه دوه شپېتو کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۲۱ کله
چې حنوک د پينځو شپېتو کالو وو، د هغهٔ زوئ مِتهوشله پېدا شو.
۲۲ د دې نه پس، حنوک درې سوه کاله د خُدائ پاک په ملګرتيا
کښې ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پېدا شول. ۲۳ د هغهٔ ټول
عُمر درې سوه پينځهٔشپېتهٔ کاله وو. ۲۴ حنوک خپل ژوند د خُدائ
پاک په ملګرتيا کښې تېر کړو اؤ د هغې نه پس خلقو ونهٔ ليدو،
ځکه چې خُدائ پاک خپل ځان ته وبللو. ۲۵ کله چې مِتهوشله د
يو سل اووهٔ اتيا کالو وو، د هغهٔ زوئ لمک پېدا شو، ۲۶ اؤ هغه نور
اووهٔ سوه دوه اتيا کاله ژوندے وو، د هغهٔ نور بچی هم پېدا شول
۲۷ اؤ د نهٔ سوه نهٔ شپېتو کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو.
۲۸ کله چې لمک د يو سل دوه اتيا کالو وو، د هغهٔ يو زوئ وشو،
۲۹ لمک ووئيل، ”دا ماشُوم به مُونږ له د مالِک خُدائ لعنتی کړے

شوې زمکې د سختې خوارئ نه آرام راکړی“ نو د هغهٔ نُوم یې
نُوح کېښودو. ۳۰ لمک نور پینځهٔکم شپږ سوه کاله ژوندے وو.
د هغهٔ نور بچی هم پیدا شول ۳۱ اؤ د اووهٔ سوو اووهٔ اؤیاؤ کالو
په عُمر کښې په حق ورسېدو. ۳۲ د پینځو سوو کالو عُمر نه پس
د نُوح درې زامن وشول، شیم، حام اؤ یافت د دوئ نومُونه وُو.

## د بنیادم بد عملُونه

۶ ۱ کله چې بنیادم په ټوله دُنیا کښې خوارهٔ شول، نو د دوئ
لُوڼه پیدا کېدې، ۲ نو څهٔ آسمانی مخلُوق دا ښائسته پېغلې
ولېدې، د خوښې پېغلې یې ترې بوتلې اؤ ښځې یې کړې. ۳ بیا
مالِک خُدائ ووئیل، ”زهٔ به بنیادم نهٔ پرېږدم چې هغوئ دې همېشه
د پاره ژوندی وی، دا فانی مخلُوق دے. د نن نه پس به دوئ د شپږ
شلو کالو نه زیات ژوندی نهٔ وی.“ ۴ په هغه ورځو کښې اؤ هم
داسې وروستو، په زمکه دېوان وُو چې هغوئ د بنیادمو د ښځو اؤ د
آسمانی مخلُوق بچی وُو. هغوئ د هغه وخت تکړه اؤ مشهُور خلق
وُو. ۵ چې کله مالِک خُدائ وکتل چې هر یو کس په دُنیا کښې
بد عمله وو اؤ هر وخت د دوئ خیالونه بد وُو، ۶ نو هغه په خپلو
کړو پښېمانه شو چې دوئ یې پیدا کړل اؤ په زمکه یې آباد کړل.
هغه ډېر پښېمانه وو ۷ نو هغهٔ ووئیل، ”زهٔ به دا خلق چې ما پیدا
کړی دی د زمکې د مخ نه لرې کړم اؤ ورسره ځناور اؤ مارغان هم،
ځکه چې زهٔ ډېر پښېمانه یم چې ما دوئ پیدا کړل.“ ۸ خو مالِک
خُدائ د نُوح نه رضا وو.

## حضرت نُوح

۹ - ۱۰ دا د نُوح قيصه ده. د هغهٔ درې زامن وُو، شيم، حام اؤ يافت.
نُوح هيڅ غلطی نهٔ وه کړې اؤ د خُدائ پاک په ټول مخلُوق کښې هغه
يکی يو نېک او صادق سړے وو. هغهٔ د خُدائ پاک سره ملګرتيا لرله،
۱۱ خو نور ټول خلق د خُدائ پاک د سيدها لارې نه لری وُو اؤ هر
طرف ته زور او ظلم وو. ۱۲ خُدائ پاک چې دُنيا وکتله نو د خلقو د بد
عملۍ نه ډکه وه، ځکه چې خلق د سيدها لارې نه لرې وُو. ۱۳ خُدائ
پاک نُوح ته ووئيل، ”ما د ټولو بنيادمو د ختمولو فېصله کړې ده. زهٔ
به دوئ ټول تباه کړم، ځکه چې دُنيا د دوئ د بد عملۍ نه ډکه ده.
۱٤ د ځان د پاره د ښهٔ لرګی نه يوه لويه کشتۍ جوړه کړه، کوټې په
کښې جوړې کړه اؤ دننه اؤ بهر يې په تارکولو لېوه کړه. ۱۵ دا کشتۍ
يو سل پينځهٔ ځلوېښت ګزه اُوږده، ځليريشت ګزه پلنه اؤ څوارلس ګزه
اُوچته جوړه کړه. ۱٦ کشتۍ له چت هم جوړ کړه اؤ چت يې د سر نه
اوولس اِنچې په ترڅ جوړ کړه. دا درې چتيزه جوړه کړه اؤ يو طرف
ته دروازه هم په کښې پرېږده. ۱۷ ګوره! زهٔ به يو سېلاب راولم چې په
زمکه ټول مخلُوق تباه شی. هر ساه لرُونکے څيز به مړ شی، ۱۸ خو
زهٔ تا سره تړون کوم، د خپلې ښځې سره کشتۍ ته وخېژه، خپل زامن
اؤ د هغوئ ښځې هم وخېژوه. ۱۹ - ۲۰ د هر قِسم ځناورو اؤ مارغانو نه
يو نر اؤ يوه ښځه هم کشتۍ ته وخېژوه، چې د دوئ نسل باقی پاتې
شی. ۲۱ د ځان اؤ دوئ د پاره هر قِسم خوراک راجمع کړه،“ ۲۲ نو
نُوح هم هغه شان وکړل چې څنګه خُدائ پاک حُکم ورکړے وو.

## لوئ سېلاب

۷ ۱ بیا مالِک خُدائ نُوح ته ووئیل، ”د خپل ټول بال بچ
سره کشتۍ ته وخېژه، ما ته پته ده چې یوائې تهٔ په ټوله
دُنیا کښې هغه صادق سړے یې چې ښهٔ عمل کوې. ۲ د هر قِسم
حلال ځناورو نه اووهٔ جوړې واخله، خو د هر قِسم حرام ځناورو نه
صِرف یوه یوه جوړه واخله. ۳ اؤ هر قِسم مارغانو نه هم اووهٔ جوړې
واخله، د دې د پاره چې هر قِسم ځناور اؤ مارغان په مخ د زمکې
ژوندی پاتې شی. ۴ د نن نه اووهٔ ورځې پس به زهٔ باران راولم چې
څلوېښت شپې اؤ څلوېښت ورځې به ورېږی، د دې د پاره چې ټول
ژوندی د زمکې د مخ نه ورک شی.“ ۵ نو نُوح هغه هر څهٔ وکړل
چې څنګه مالِک خُدائ ورته حُکم ورکړے وو. ۶ نُوح د شپږو
سوو کالو وو چې په زمکه سېلاب راغلو. ۷ نو په هغه وخت نُوح
اؤ د هغهٔ ښځه، د هغهٔ زامن اؤ د هغوئ ښځې کشتۍ ته وختل چې
د سېلاب نه ځان بچ کړی، ۸ د هر قِسم ځناورو اؤ مارغانو یو نر اؤ
یوه ښځه، حلال اؤ حرام ټول، ۹ نُوح کشتۍ ته وخېژول، لکه چې
څنګه خُدائ پاک حُکم ورکړے وو. ۱۰ اووهٔ ورځې پس سېلاب
راغلو. ۱۱ چې کله نُوح د شپږو سوو کالو وو، نو د دویمې میاشتې
په اوولسمه ورځ د زمکې لاندې د بېشمېره چینو خُلې راخلاصې
شوې اؤ د آسمان ټولې طوفانی دروازې راخلاصې شوې، ۱۲ اؤ په
زمکه څلوېښت ورځې اؤ شپې باران وشو. ۱۳ هم په هغه ورځ نُوح
اؤ د هغهٔ ښځه، د هغهٔ درې زامن، سِم، حام اؤ یافت اؤ د هغوئ

ښځې ټول کشتۍ ته وختل. ۱۴ د دوئ سره هر قِسم څاروی اؤ
ځنګلی ځناور، واړهٔ اؤ غټ اؤ هر قِسم مارغان هم وُو. ۱۵ د هر قِسم
ژوندی څیزُونو جوړې د نُوح سره کشتۍ ته وختلې، ۱۶ چې څنګه
خُدائ پاک حُکم ورکړے وو. بیا مالِک خُدائ په نُوح پسې دروازه
بند کړه. ۱۷ څلویښت ورځې په زمکه سیلاب وو، اوبهٔ ډیرې زیاتې
شوې اؤ کشتۍ یې اُوچته کړه. ۱۸ اوبهٔ زیاتې شوې اؤ کشتۍ د اوبو
د پاسه ګرځېدله. ۱۹ اوبهٔ دومره زیاتې شوې چې لوړ لوړ غرُونه یې
پټ کړل، ۲۰ اوبهٔ دومره وختلې چې تقریباً د غرُونو د سرُونو نه اتهٔ
ګزه اُوچتې شوې. ۲۱ په زمکه هر ژوندے څیز مړ شو، ټول مارغان،
ځناور اؤ ټول بنیادم. ۲۲ په زمکه هر ژوندے څیز چې ساه لری، مړ
شو. ۲۳ مالِک خُدائ هر ژوندے څیز د زمکې د مخ نه ورک کړو.
بنیادم، ځناور اؤ مارغان. خو صِرف نُوح اؤ هغه ژوندی څیزُونه چې
د هغهٔ سره په کشتۍ کښې وُو ژوندی پاتې شول. ۲۴ اؤ اوبهٔ د یو نیم
سل ورځو پورې نهٔ کمېدلې.

## د سیلاب ختمېدل

۸ ۱ نُوح، د هغهٔ بال بچ اؤ هغه ټول ځناور کُوم چې په کشتۍ
کښې وُو د خُدائ پاک هېر نهٔ وُو، هغهٔ په زمکه هوا راوستله،
نو اوبهٔ په کمېدو شوې. ۲ د زمکې لاندې د چینو خُلې اؤ د آسمان
طوفانی دروازې بند شوې. باران ودرېدو، ۳ اؤ اوبهٔ ورو ورو په یو نیم
سل ورځو کښې کمې شوې. ۴ د اوومې میاشتې په اوولسمه ورځ
کشتۍ د اراراط په علاقه کښې په یو غرهٔ ودرېده. ۵ اوبهٔ کمېدې اؤ

د لسمې مياشتې په وړومبۍ ورځ د غرُونو څُوکې راڅرګندې شوې.
[٦] څلوېښت ورځې پس نُوح د کشتۍ کړکۍ کولاؤ کړه [٧] اؤ يو
کارغۀ يې والُوځولو. هغه واپس رانۀ غلو، خو په هوا کښې تر هغې
پورې اخوا دېخوا ګرځېدو چې د زمکې نه اوبۀ وچې شوې. [٨] په
دې دوران کښې، نُوح ګُوګُوشتکه والُوځوله چې وګورى چې اوبۀ
ختمې دى کۀ نۀ، [٩] خو اوبو تر اوسه پورې زمکه پټه کړې وه اؤ
ګُوګُوشتکې د خپو لګولو ځائ پېدا نۀ کړو. نو واپس راغله اؤ نُوح
لاس بهر کړو اؤ ځان سره يې کشتۍ کښې کښېنوله. [١٠] د اووۀ ورځو
اِنتظار نه پس هغۀ بيا ګُوګُوشتکه والُوځوله. [١١] اؤ په ماښامى کښې
هغۀ ته واپس راغله اؤ په مخُوکه کښې يې شنه د زيتُونو پاڼه نيولې
وه. نو نُوح ته پته ولګېده چې اوبۀ کمې شوې دى. [١٢] هغۀ بيا نور
اووۀ ورځې اِنتظار وکړو اؤ يو ځل بيا يې ګُوګُوشتکه والُوځوله، خو دا
ځل واپس رانۀ غله. [١٣] چې کله نُوح د شپږ سوه اؤ د يو کال شو، نو
د وړومبى مياشتې په وړومبۍ ورځ، اوبۀ وچې شوې. نُوح د کشتۍ د
چت يوه حِصه کولاؤ کړه، نظر يې واچولو اؤ چې يې وکتل نو زمکه
په وچېدو وه. [١٤] د دويمې مياشتې په اوويشتمه ورځ زمکه بېخى
وچه وه. [١٥] نو خُدائ پاک نُوح ته ووئيل چې، [١٦] ”د خپلې ښځې،
خپلو زامنو اؤ د دوئ د ښځو سره د کشتۍ نه بهر لاړ شه. [١٧] ټول
مارغان اؤ ځناور هم د ځان سره کُوز کړه، چې نور بچى پېدا کړى
اؤ په ټوله زمکه کښې خوارۀ شى.“ [١٨] نو نُوح د خپلې ښځې، خپلو
زامنو اؤ د دوئ د ښځو سره د کشتۍ نه کُوز شو. [١٩] ټول ځناور اؤ
مارغان په خپله خپله ډله کښې د کشتۍ نه ووتل.

## د حضرت نُوح قُربانی پیش کول

۲۰ نُوح یوه قُربان‌ګاه جوړه کړه چې مالِک خُدائ ته قُربانی پیش
کړی، هغهٔ د هر قِسم حلالو ځناورو اؤ مارغانو نه یو یو واخستو،
حلال یې کړل، په قُربان‌ګاه کښې یې وسوزول اؤ د خُدائ پاک په
حضُور کښې یې پیش کړل. ۲۱ د قُربانۍ په خوشبو مالِک خُدائ
رضا شو اؤ خپل ځان سره یې ووئیل، ”د بنیادم د عمل په وجه به بیا
زهٔ هیڅ کله زمکه نهٔ لعنتی کوم، ما ته پته ده چې د ماشُموالی نه د
دوئ خیالونه خراب وی. بیا به ټول مخلُوق تباه نهٔ کړم، لکه چې
دا ځل مې تباه کړی دی.

۲۲ چې تر کُومې پورې دُنیا موجُوده وی،
کَرل اؤ رېبل به وی، یخنی اؤ ګرمی به وی،
اوړے اؤ ژمے به وی،
شپه اؤ ورځ به وی اؤ دا به نهٔ ختمېږی.“

## د خُدائ پاک د حضرت نُوح سره یو تړون کول

۹ ۱ خُدائ پاک نُوح اؤ د هغهٔ زامنو له برکت ورکړو اؤ وې
وئیل، ”آباد شئ اؤ ډېر بچی پېدا کړئ، نو ستاسو اولاد
به په ټوله دُنیا کښې اوسېږی. ۲ ټول ځناور، مارغان اؤ کبان به
ستاسو نه یرېږی، دا ټول ستاسو د اِختیار لاندې دی. ۳ اوس دا
ځناور تاسو خوړلے شئ اؤ داسې شنهٔ بُوټی هم، دا ټول ستاسو د
خوراک د پاره دی. ۴ خو چې په کومه غوښه کښې وینه وی

هغه به نۀ خورئ، دا ستاسو د پاره منع ده ځکه چې په وينه
کښې ژوندُون دے. ۵ کۀ څوک بل کس قتلوی، زۀ به ورسره
حِساب کوم. کۀ يو ځناور بنيادم ووژنی نو سزا به يې مرګ وی.
۶ ځکه چې خُدائ پاک د خپل ځان په شان بنيادم جوړ کړے
دے. کۀ څوک د بنيادم وينه تويَوی، په بدل کښې به د هغۀ وينه
توئ شی، ۷ ډېر بچی پيدا کړئ، نو ستاسو اولاد به په ټوله دُنيا
کښې اوسېږی.“ ۸ خُدائ پاک نُوح اؤ د هغۀ زامنو ته ووئيل
چې، ۹ ”ګورئ! اوس زۀ تاسو اؤ ستاسو د اولاد سره دا تړون
کوم، ۱۰ هم داسې د هر ژوندی څيز، د ټولو مارغانو، ځناورو اؤ
هر هغه څيز سره چې ستاسو سره د کشتۍ نه رابهر شوی وُو.
۱۱ زۀ تاسو سره د دې خبرې تړون کوم چې بيا به هيڅ کله هم
ټول ژوندی په سېلاب نۀ غرقېږی، بيا به په سېلاب دُنيا نۀ تباه
کېږی. ۱۲ دا نښه به نۀ ختمېدُونکے تړون وی کُوم چې زۀ ستا اؤ
د ټولو ژوندو څيزُونو سره کوم، ۱۳ زۀ به په آسمان کښې د بُوډۍ
ټال جوړوم. دا به زما د دُنيا سره د تړون نښه وی. ۱۴ چې کله
هم زۀ په زمکه وريځې راولم اؤ چې د بُوډۍ ټال په وريځو کښې
راڅرګندېږی، ۱۵ نو ما ته به خپل تړون رايادېږی چې سېلاب به
بيا هيڅ کله ټول ژوندی څيزُونه نۀ تباه کوی. ۱۶ چې کله په
وريځو کښې د بُوډۍ ټال څرګند شی، زۀ به ورته ګورم اؤ هغه
نۀ ختمېدُونکے تړون به رايادوم کُوم چې ما د زمکې د ټولو ژوندو
څيزُونو سره کړے دے. ۱۷ دا زما د هغه تړون نښه ده کُوم چې
زۀ د دُنيا د ټولو ژوندو څيزُونو سره کوم.“

## حضرت نُوح اؤ د هغۀ زامن

۱۸ د نُوح زامن چې د کشتۍ نه کُوز شول هغوئ سِم، حام اؤ یافت
وُو. (حام د کنعان پلار وو.) ۱۹ په زمکه چې څومره خلق دی دا
ټول د نُوح د دریو زامنو اولاد دے. ۲۰ نُوح زمیدار وو، هغه ورومبے
کس وو چې د انګُورو باغ یې وکَرلو. ۲۱ د انګُورو شراب څښلو نه
پس هغه نشه شو اؤ په خپله خېمه کښې بربنډ څملاستو. ۲۲ چې
کله د کنعان پلار حام، خپل پلار داسې ولیدو نو هغه بهر لاړو اؤ
خپل دوه ورُونه یې خبرکړل. ۲۳ نو سِم اؤ یافت یو څادر واخستو اؤ
د خپلو اُوږو شا ته یې ونیولو. اؤ خېمې ته په شا دننه لاړل اؤ خپل
پلار یې پټ کړو اؤ مخُونه یې اړولی وُو چې پلار بربنډ ونۀ ګوری.
۲۴ چې کله نُوح په خود کښې شو اؤ خبر شو چې د ټولو کشری
زوئ د هغۀ سره څۀ کړی دی، ۲۵ نو هغۀ ووئیل چې،

”په کنعان دې لعنت وی،
هغه دې د ټولو ورُونړو د غُلامانو غُلام شی.
۲۶ مالِک خُدائ دې سِم بختور کړی،
اؤ کنعان دې د هغۀ غُلام کړی.
۲۷ خُدائ پاک دې یافت ډېر تېر کړی،
د هغۀ اولاد اؤ د سِم خلق دې د ورُونړو په شان کړی،
اؤ کنعان دې د هغۀ غُلام کړی.“

۲۸ د سېلاب نه پس نُوح نور درې نیم سوه کاله ژوندے وو ۲۹ اؤ
د نهۀ نیم سوه کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو.

## د حضرت نُوح د زامنو اولاد

(د تاریخ اول کِتاب ۱: ۵-۲۳)

**۱۰** (۱) دا د نُوح د زامنو، د سِم، حام اؤ یافت اولاد دے، چې د
سېلاب نه پس د هغوئ زامن پېدا شول. (۲) دا د یافت اولاد دے:
جُمر، ماجوج، مادی، یاوان، توبال، مسک اؤ تیراس. (۳) د جُمر اولاد د
اشکناز، ریفت اؤ د تُجرمه خلق وُو. (۴) د یاوان اولاد د اِلیسه، سپېن، قبرص
اؤ رهودس خلق وُو، (۵) د دوئ اولاد د سمندر په غاړه اؤ په جزیرو کښې
اوسېږی. دا د یافت اولاد دے، چې په بېلو بېلو قبیلو اؤ وطنُونو کښې اوسېږی
اؤ هره ډله خپله خپله ژبه وائی. (۶) دا د حام اولاد دے: کُوش، مِصر، لیبیا
اؤ کنعان. (۷) د کُوش اولاد د شیبا، حویله، سبته، راماه اؤ د سبتیکه خلق
دی. د راماه اولاد د شیبا اؤ د دَدان خلق دی. (۸) د کُوش زوئ نمرُود پېدا
شو، چې هغه د دُنیا وړومبے طاقتور جنګیالے وو. (۹) د مالِک خُدائ په مدد
هغه یو لوئ ښکاری وو، نو ځکه خلق وائی، ”مالِک خُدائ دې د نمرُود په
شان لوئ ښکاری کړه.“ (۱۰) د هغهٔ بادشاهی وړومبے په بابل، ارک اؤ اِکاد
وه، دا درې واړه د بابل په وطن کښې وُو. (۱۱) د دې وطن نه هغه اسُور ته
لاړو اؤ د نینیوه، رحوبوت عیر، کلح، (۱۲) اؤ د رسن ښارونه یې جوړ کړل،
رسن د نینیوه اؤ د لوئ ښار کلح په مېنځ کښې دے. (۱۳) د مِصر اولاد د
لُودی، عنامی، لهابی، نفتوحی، (۱۴) فتروسی، کسلوحی اؤ د کریت خلق وُو،
چې د هغوئ اولاد فلسطینیان دی. (۱۵) د کنعان اولاد دا دے: صیدا مشر
زوئ اؤ بشامه. (۱۶) د دې نه علاوه یبُوسی، اموری، جِرجاسی، (۱۷) حِوی،
عرقی، سینی، (۱۸) اروادی، صماری اؤ حماتی هم د کنعان د اولاد خلق دی.

د کنعانیانو بېلې بېلې قبیلې خورې شوې، ⑲ چې د کنعانیانو وطن شمالی
طرف صیدا نه جرار ته نزدې، تر غزه پورې ورسېدو او نَمرخاتۀ طرف صُدوم
ته، عمُوره، ادمه او لسع ته، چې ضِبیان ته نزدې دے. ⑳ دا د حام اولاد
دے، چې په بېلو بېلو قبیلو او وطنُونو کښې اوسېږی او هره ډله خپله خپله
ژبه وائی. ㉑ ټول عبرانیان د سِم اولاد دے، سِم د یافت مشر ورور دے.
㉒ دا د سِم اولاد دے چې نومُونه یې عیلام، اسُور، ارفکسد، لُود او ارام
دی. ㉓ د ارام اولاد د عُوض، حُول، جتر او د مس خلق دی. ㉔ ارفکسد
د سِلح پلار وو، چې هغه د عیبر پلار وو. ㉕ د عیبر دوه زامن وُو: د یو نُوم
فِلِګ وو، ځکه چې په هغه وخت کښې د دُنیا خلق خوارۀ وارۀ شوی وُو،
او د بل نُوم یُقطان وو. ㉖ د یُقطان اولاد د الموداد، سلف، حصارماوت،
اِراخ، ㉗ هدورام، اُوزال، دِقله، ㉘ عوبل، ابی‌مائیل، شیبا، ㉙ اوفیر، حویله او
د یوباب خلق دی. دا ټول د یُقطان اولاد دے. ㉚ چې دوئ په کُوم وطن
کښې اوسېدل هغه وطن د میسا نه سِفار پورې اُوږد وو چې نَمرخاتۀ طرف
ته د غرُونو په وطن کښې دے. ㉛ دا د سِم اولاد دے، چې په بېلو بېلو
قبیلو او وطنُونو کښې اوسېږی او هره ډله خپله خپله ژبه وائی. ㉜ دا ټول خلق
نسل په نسل، د بېلو بېلو نسب‌نامو په مُطابق د نُوح اولاد دے. د سېلاب
نه پس د دُنیا ټول قومُونه د نُوح د زامنو اولاد دے.

## د بابل برج

**۱۱** ① په شروع کښې، د ټولې دُنیا خلقو صِرف یوه ژبه وئیله
او د یو بل په خبرو پوهېدل. ② چې څنګه دوئ د نَمرخاتۀ
غاړې نه روان شول، چې چرته دوئ اوسېدل، نو د بابل په وطن

کښې يو هوار مېدان ته راغلل اؤ هلته دېره شول. ۳ دوئ يو بل ته
ووئيل، ”راځئ! چې خَښتې جوړې کړُو اؤ په اور يې پخې کړُو.“ نو
داسې د دوئ سره د آبادئ د پاره خَښتې اؤ د دې د نښلولو د پاره
تارکول وُو. ۴ نو دوئ ووئيل، ”راځئ چې اوس يو ښار اؤ دومره
لوئ برج جوړ کړُو چې آسمان ته ورسېږى، نو مُونږ به مشهُور شُو اؤ
په ټوله دُنيا کښې به خوارۀ وارۀ هم نۀ شُو.“ ۵ بيا مالِک خُدائ د
ښار اؤ هغه برج کتلو له راکُوز شو چې بنيادمو جوړ کړے وو، ۶ نو
هغۀ ووئيل، ”وګورئ! دا ټول يو خلق دى اؤ دوئ يوه ژبه وائى، او د
دې نه پس چې بيا دوئ څۀ کول هم وغواړى نو کولے به يې شى،
۷ راځئ چې لاندې ورشُو اؤ د دوئ ژبې ګډې وډې کړُو نو د يو
بل په خبرو به نۀ پوهېږى.“ ۸ نو مالِک خُدائ دوئ په ټوله زمکه
خوارۀ وارۀ کړل اؤ دوئ ښار جوړول پرېښودل. ۹ نو د هغه ښار نُوم
بابل شو، ځکه چې مالِک خُدائ هلته د خلقو ژبه ګډه وډه کړه اؤ
د هغه ځائ نه يې په ټوله زمکه خوارۀ وارۀ کړل.

## د سِم اولاد

**(د تاريخ اول کِتاب ۱: ۲۴-۲۷)**

۱۰ دا د سِم اولاد دے. د سېلاب نه دوه کاله پس، چې کله سِم
د سلو کالو وو، د هغۀ زوئ ارفکسد پېدا شو. ۱۱ د دې نه پس،
هغه پينځۀ سوه کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچى يې هم پېدا شول.
۱۲ چې کله ارفکسد د پينځو دېرشو کالو وو، د هغۀ زوئ سِلح پېدا
شو، ۱۳ د دې نه پس، هغه څلور سوه درې کاله نور ژوندے وو اؤ

نور بچی يې هم پيدا شول. ١٤ چې کله سِلح د دېرشو کالو وو، د
هغۀ زوئ عيبر پيدا شو، ١٥ د دې نه پس، هغه څلور سوه درې کاله
نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پيدا شول. ١٦ چې کله عيبر د
څلور دېرشو کالو وو، د هغۀ زوئ فِلِگ پيدا شو، ١٧ د دې نه پس
هغه څلور سوه دېرش کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پيدا
شول. ١٨ چې کله فِلِگ د دېرشو کالو وو، د هغۀ زوئ رعو پيدا
شو، ١٩ د دې نه پس، هغه دوه سوه نهۀ کاله نور ژوندے وو اؤ نور
بچی يې هم پيدا شول. ٢٠ چې کله رعو د دوه دېرشو کالو وو، د
هغۀ زوئ سروگ پيدا شو، ٢١ د دې نه پس، هغه دوه سوه اووۀ کاله
نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پيدا شول. ٢٢ چې کله سروگ د
دېرشو کالو وو، د هغۀ زوئ ناحور پيدا شو، ٢٣ د دې نه پس، هغه
دوه سوه کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم پيدا شول. ٢٤ چې
کله ناحور د نهۀ ويشتو کالو وو، د هغۀ زوئ تِره پيدا شو، ٢٥ د دې
نه پس، هغه يو سل نولس کاله نور ژوندے وو اؤ نور بچی يې هم
پيدا شول. ٢٦ چې تِره د اويا کالو وو د هغې نه پس، د هغۀ زامن
ابرام، ناحور اؤ حاران پيدا شول.

## د تِره اولاد

٢٧ دا د تِره اولاد دے، چې هغه د ابرام، ناحور اؤ حاران پلار وو.
حاران د لُوط پلار وو، ٢٨ اؤ حاران په خپل وطن اُور کښې چې په
بابل کښې دے، په حق ورسېدو، خو د هغۀ پلار لا ژوندے وو.
٢٩ ابرام ساریٰ سره وادۀ وکړو اؤ ناحور د مَلِکه سره وادۀ وکړو، چې

د حاران لُور وه، حاران د اِسکه پلار هم وو. ۳۰ د سارۍ بچی نۀ
وُو، ځکه چې هغه شنډه وه. ۳۱ تره د خپل زوئ ابرام، د خپل نمسی
لُوط، چې د حاران زوئ وو اؤ د خپلې اينږور سارۍ سره، چې د ابرام
ښځه وه، روان شو اؤ په بابل کښې د اُور ښار نه د کنعان وطن ته
لاړل. خو چې حاران ته ورسېدل نو هلته دېره شول. ۳۲ تره هلته د
دوه سوه اؤ پينځو کالو په عُمر کښې په حق ورسېدو.

## د خُدائ پاک د حضرت ابرام غوښتل

**۱۲** ۱ په يو وخت کښې مالِک خُدائ ابرام ته ووئيل، "خپل
وطن، د پلار کور اؤ خپلوان پرېږده اؤ هغه وطن ته هِجرت
وکړه چې کُوم درته زۀ ښايم. ۲ زۀ به تا له ډېر اولاد درکړم اؤ
هغوئ به يو لوئ قوم شی. زۀ به تا له برکت درکړم اؤ عِزتمند به
دې کړم، نو ستا په وجه به نورو ته برکت ملاوېږی. ۳ زۀ به هغوئ
له برکت ورکوم چې څوک ستا د پاره برکت غواړی. خو زۀ به په
هغوئ لعنت وايم چې څوک په تا لعنت وائی. اؤ هم ستا په ذريعه
به زۀ د دُنيا ټولو قومُونو له برکت ورکړم." ۴ چې کله ابرام د پينځو
اؤياؤ کالو وو، نو هغه د حاران نه روان شو، لکه څنګه چې مالِک
خُدائ ورته وئيلی وُو، اؤ لُوط هم ورسره لاړو. ۵ ابرام خپله ښځه
سارۍ، خپل ورارۀ لُوط هم د ځان سره روان کړل اؤ په حاران کښې
چې څومره مال اؤ نوکران يې جمع کړی وُو هغه ټول يې ځان سره
کړل اؤ کنعان ته روان شول. چې کله هغوئ کنعان ته ورسېدل،
۶ ابرام په دې وطن کښې سفر کولو چې شِکم ته نزدې، د موره

پاکې ونې زیارت له راغلو. (په هغه وخت کښې کنعانیان لا په دې
وطن کښې اوسېدل.) ۷ نو مالِک خُدائ ابرام ته څرګند شو اؤ هغۀ
ته یې ووئیل، ”دا هغه وطن دے چې زۀ یې ستا اولاد له ورکوم.“
بیا ابرام هلته مالِک خُدائ ته یوه قُربان‌ګاه جوړه کړه، چرته چې ورته
راڅرګند شوے وو. ۸ د دې نه پس، هغۀ د بیت‌اېل ښار نَمرخاتۀ
طرف ته د غرُونو وطن ته کَډه یوړه اؤ هغۀ په هغه ځائ کښې چې
نمر پرېواتۀ طرف ته بیت‌اېل اؤ نَمرخاتۀ ته عی دے په مېنځ کښې
خېمه ولګوله. هلته یې هم یوه قُربان‌ګاه جوړه کړه اؤ د مالِک خُدائ
نُوم یې پرې واخستو. ۹ بیا هغه بېلو بېلو ځایُونو ته کوچ کولو چې
د کنعان جنُوبی حِصې ته راغلو.

## حضرت ابرام په مِصر کښې

۱۰ اؤ یو ځل په کنعان کښې قحط راغلو اؤ دا د برداشت نه بهر
وو نو ابرام مِصر ته کوچ وکړو، چې هلته دېره شی. ۱۱ چې کله
هغه تقریباً مِصر ته اورېدو، هغۀ خپلې ښځې سارئ ته ووئیل، ”دا
خبره واوره! ستا کړۀ وړۀ د ښائسته ښځې دی. ۱۲ کۀ د مِصر والا تا
وګوری، نو هغوئ به ګُمان وکړی چې تۀ زما ښځه یې، نو هغوئ
به ما مړ کړی اؤ تا به ژوندئ پرېږدی. ۱۳ هغوئ ته ووایه چې زۀ یې
خور یم، نو داسې به ما ته څۀ نۀ وائی اؤ ستا په وجه به زۀ ژوندے
پاتې شم.“ ۱۴ چې کله هغوئ مِصر ته واورېدل، نو مِصریانو هغه
ولیده چې ډېره ښائسته ښځه وه. ۱۵ نو د فِرعون درباریانو هغه ولیده
اؤ فِرعون ته یې ووئیل چې هغه څومره ښائسته وه، نو هغه یې محل

ته بوتله. ۱۶ د هغې په وجه فِرعون د ابرام ښۀ عِزت وکړو اؤ هغۀ له
يې د ګډو اؤ چېلو رَمې ورکړې. څاروی، خرۀ، اُوښان اؤ ښځې اؤ
نران خِدمتګاران يې هم ورکړل. ۱۷ خو فِرعون سارئ بوتلې وه، نو
ځکه مالِک خُدائ په فِرعون اؤ د هغۀ په درباريانو يوه لويه وبا راوسته.
۱۸ فِرعون ابرام راوغوښتو اؤ تپوس يې ترې وکړو، "دا تا زما سره څۀ
کړی دی؟ تا ولې ما ته ونۀ وئيل چې هغه ستا ښځه ده؟ ۱۹ تا ولې
ووئيل چې هغه ستا خور ده اؤ ما درنه بوتله چې ښځه يې کړم؟ خپله
ښځه د ځان سره بوځه اؤ په خپله مخه ځه." ۲۰ فِرعون نوکرانو ته
حُکم وکړو، نو هغوئ ابرام بوتلو اؤ د خپلې ښځې اؤ ټول مال سره
يې د هغه وطن نه بهر کړو.

## د حضرت ابرام اؤ حضرت لُوط جُدا کېدل

**۱۳** ۱ ابرام د خپلې ښځې سره او ټول مال سره د مِصر نه
د کنعان په طرف صحرا ته لاړو اؤ لُوط هم ورسره وو.
۲ ابرام ډېر مالداره سړے وو، هغۀ څاروی اؤ داسې سپين زر اؤ سرۀ
زر يې هم لرل. ۳ اؤ هغۀ بېلو بېلو ځايُونو ته کوچ کولو اؤ بيت‌ايل ته
روان وو. هغه هم هغه ځائ ته ورسېدو چې د بيت‌ايل اؤ عی په مېنځ
کښې دے چرته چې هغه مخکښې دېره شوے وو ۴ اؤ قُربانګاه يې
جوړه کړې وه. اؤ د مالِک خُدائ نُوم يې پرې اخستے وو. ۵ د لُوط
سره هم څاروی اؤ رَمې وې، خپله کورنئ اؤ نوکران هم ورسره وُو.
۶ خو هلته دومره شنه زمکه نۀ وه چې دوئ دواړه په کښې يو ځائ
پاتې شوی وے، ځکه چې د دوئ سره ډېر زيات مال وو. ۷ نو د

ابرام اؤ د لُوط د شپُونکو په مېنځ کښې جګړه شوه. (په هغه وخت
کښې کنعانيان اؤ فرزيان هم په هغه وطن کښې اوسېدل.) ۸ نو
ابرام لُوط ته ووئيل، ”خُدائ پاک دې زما اؤ ستا اؤ زمُونږ د شپُونکو
په مېنځ کښې لانجه نۀ راولی، ځکه چې مُونږ خپلوان يُو. ۹ ولې
دا ټوله زمکه ستا په وړاندې نۀ ده؟ زما نه جُدا شه. چې چرته دې
خوښه وی هم هلته لاړ شه. کۀ تۀ ښی طرف ته ځې نو زۀ به ګڅ
طرف ته ځم، کۀ تۀ ګڅ طرف ته ځې نو زۀ به ښی طرف ته لاړ
شم.“ ۱۰ لُوط سترګې واړولې راواړولې اؤ د اُردن ټول هوار مېدان يې
وليدو، چې د ضُعر پورې، د مالِک خُدائ د باغ په شان يا د مِصر
د وطن په شان ښې ډېرې اوبۀ يې لرلې. (په هغه وخت کښې مالِک
خُدائ د صُدوم اؤ عمُوره ښارونه لا تباه کړی نۀ وُو.) ۱۱ نو لُوط د
ځان د پاره د اُردن ټول هوار مېدان خوښ کړو اؤ نَمرخاتۀ طرف ته
لاړو. نو داسې دوئ دواړه جُدا شول. ۱۲ ابرام د کنعان په وطن کښې
پاتې شو اؤ لُوط په مېدان کښې د ښارُونو په مېنځ کښې دېره شو اؤ
صُدوم سره نزدې يې خېمې ولګولې، ۱۳ چې د هغه ځائ خلق ډېر
خراب وُو اؤ د مالِک خُدائ ګُناهګار وُو.

## د مالِک خُدائ د حضرت ابرام سره د زمکې ورکولو وعده

۱۴ د لُوط د تلو نه پس، مالِک خُدائ ابرام ته ووئيل، ”چرته چې تۀ
ولاړ يې، د دې ځائ نه هر طرف ته ښۀ په غور سره وګوره. ۱۵ چې
څومره زمکه ستا په نظر راځی، دا زۀ تا اؤ ستا اولاد له همېشه د
پاره ورکوم. ۱۶ زۀ به تا له دومره ډېر اولاد درکوم چې هيڅ څوک

به يې شمېرلے نۀ شی خو د خاورو د ذرو شمېرل به ترې آسان وی.
۱۷ پاڅه! روان شه اؤ په ټوله زمکه نظر واچوه، ځکه چې دا ټوله تا
له درکوم.“ ۱۸ نو ابرام د دې ځائ نه کډه واخستله اؤ د ممرې پاکو
ونو ته نزدې دېره شو، چې دا په حبرون کښې دے اؤ هلته يې مالِک
خُدائ ته يوه قُربانګاه جوړه کړه.

## د حضرت ابرام حضرت لُوط راخلاصول

**١٤**
۱ په هغه وخت کښې، څلورو بادشاهانو، د بابل امرافِل، د
الاسر اريوک، د عيلام کِدرلاعُمر اؤ د جوئيم تِدعال، ۲ د
پينځو نورو بادشاهانو سره جنګ وکړو چې هغوئ دا دی، د صُدوم بَرع، د
عمُوره برشع، د ادمه سِنیاب: د حصيصون تامار شِميبر اؤ د بالع (يا ضُعر)
بادشاه. ۳ دې پينځو بادشاهانو د سِديم په مېدان کښې اتفاق وکړو اؤ
لښکر يې جوړ کړو، چرته چې د مالګې درياب دے. ۴ دوئ دولس کاله
د کِدرلاعُمر د مشرئ لاندې وُو، خو په ديارلسم کال هغوئ د هغۀ خِلاف
بغاوت وکړو. ۵ يو کال وروستو کِدرلاعُمر اؤ د هغۀ ملګری د خپلو لښکرو
سره راغلل اؤ رفائيم ته يې په عستارات قرنيم کښې، زوزيم ته په حام کښې اؤ
ايميم ته د سِوی قريتيم په مېدان کښې شکست ورکړو، ۶ اؤ حُوريانو ته يې
د ادوم په غرُونو کښې شکست ورکړو اؤ د صحرا په غاړه د ايل‌فاران پورې
وريسې روان وُو. ۷ بيا دوئ ترې راوګرځېدل اؤ قادِس ته واپس راغلل (چې
بيا په عين مِصفات مشهُور شو) دوئ د عماليقيانو ټول وطن ونيوو اؤ اموريانو
له يې شکست ورکړو چې په حصيصون تامار کښې اوسېدل. ۸ د صُدوم،
عمُوره، ادمه، ضِبوئيم اؤ د بالع بادشاهان د قلعو نه راووتل اؤ خپلې لښکرې

يې د جنګ د پاره تيارې کړې اؤ د سِديم په مېدان کښې يې جنګ وکړو.
٩ پينځۀ بادشاهان، د څلورو بادشاهانو سره وجنګېدل چې دوئ د عيلام،
د جوئيم، د بابل اؤ د الاسر وُو. ١٠ مېدان ټول د تارکولو د کندو نه ډک وو
اؤ چې کله د صُدوم اؤ عمُوره بادشاهان د جنګ نه تښتېدل، نو هغوئ په
کندو کښې پرېوتل، خو هغه نور درې بادشاهان غرُونو ته وتښتېدل. ١١ دې
څلورو بادشاهانو چې په صُدوم اؤ عمُوره کښې څومره مال وو هغه يې ټول
واخستو، چې په کښې د خوراک سامان هم وو اؤ دوئ لاړل. ١٢ د ابرام
ورارۀ لُوط، په صُدوم کښې اوسېدو، نو هغه يې هم بوتلو اؤ هر څۀ يې ترې
واخستل. ١٣ خو يو سړے وتښتېدو اؤ ابرام، عبرانی ته يې دا هر څۀ ووئيل،
چې هغه د ممرې، اموری پاکو ونو ته نزدې اوسېدو، ممرې اؤ د هغۀ خپلوانو
اسکال اؤ عانير هم د ابرام په جنګ کښې ملګرتيا کوله. ١٤ چې کله ابرام
خبر شو چې د هغۀ ورارۀ نېولے شوے دے، هغۀ خپل ټول درې سوه اتلس
فوجيان خپلې خېمې ته راوغوښتل اؤ په هغه څلورو بادشاهانو پسې تر دان
پورې روان وُو. ١٥ هلته هغۀ فوجيان په ډلو کښې تقسيم کړل اؤ د شپې يې
په دُښمن حمله وکړه اؤ هغوئ له يې شکست ورکړو، هغه د دمشق شمالی
طرف ته تر حوبه پورې په هغوئ پسې وو، ١٦ اؤ چې کُوم مال يې تښتولے
وو هغه يې ترې واپس واخستلو. اؤ خپل ورارۀ لُوط يې سره د ټول مال واپس
راوستو اؤ چې کُومې ښځې اؤ کسان نيولے شوی وُو هغه يې هم راوستل.

## د مِلکصِدق حضرت ابرام له برکت غوښتل

١٧ چې کله ابرام په کِدرلاعُمر اؤ په نورو بادشاهانو د فتح مُوندلو نه
پس واپس راغلو، نو د صُدوم بادشاه د سِوی مېدان ته ورله ستړی مشی

له راغلو (چې بل نُوم يې د بادشاهانو مېدان دے). ⑱ اؤ مِلکصِدق،
چې د شاليم بادشاه اؤ د خُدائ تعالىٰ يو اِمام وو، ابرام له ډوډۍ اؤ د
انګُورو شراب راوړل، ⑲ هغهٔ له يې برکت وغوښتلو اؤ ورته يې ووئيل،
"خُدائ تعالىٰ دې ابرام له برکت ورکړی، چا چې آسمان اؤ زمکه
پيدا کړې دی. ⑳ ټول ثناء صِفت دې د هغه خُدائ تعالىٰ وی چې
ستا دُښمنان يې ستا د خپو لاندې کړل." نو ابرام مِلکصِدق ته د
ټول مالِ غنيمت نه لسمه حِصه ورکړه. ㉑ د صُدوم بادشاه ابرام ته
ووئيل، "دا ټول مال ستا شو، خو ما له زما ټول خلق واپس راکړه."
㉒ ابرام جواب ورکړو، "زما دې په مالِک خُدائ قسم وی، چې ډېر
لوئ خُدائ تعالىٰ دے، چې د آسمان اؤ زمکې پيدا کوُونکے دے،
㉓ چې زهٔ به ستاسو هيڅ څيز نهٔ اِستعمالوم، يو تار يا د څپلۍ تسمه
قدر به هم ستاسو نهٔ وړم. چې تاسو دا ونهٔ وايئ، چې ابرام زمُونږ
په مال مالدار شوے وو. ㉔ زهٔ به ستاسو نه د هغه مال نه بغېر يو
څيز هم نهٔ قبلوم کُوم چې زما کسانو اِستعمال کړے دے. خو زما
ملګرى، عانير، اسکال اؤ ممرې دې خپله حِصه ترې نه واخلی."

## د حضرت ابرام سره د خُدائ پاک تړون

**۱۵** ① څهٔ موده پس، ابرام خوب وليدلو چې مالِک خُدائ
ورته وائی، "ابرامه! يرېږه مه. زهٔ ستا ډال يم اؤ زهٔ به تا
له يو لوئ اِنعام درکوم." ② خو ابرام جواب ورکړو، "مالِکه، مالِکه
خُدايه! ستا اِنعام به ما له څهٔ فائده راکړی، زما خو بچی هم نشته؟
اؤ صِرف د دمشق اِلعازر زما وارث دے. ③ ګوره! تا ما له اولاد نهٔ

دے راکړے اؤ زما غُلام به زما ميراث اخلی.“ ۴ نو د مالِک خُدائ
کلام يو ځل بيا هغۀ ته راغلو چې: ”ستا غُلام اِلعازر به ستا ميراث نۀ
اخلی، ستا خپل زوئ به ستا وارث وی.“ ۵ مالِک خُدائ هغه بهر
بوتلو اؤ ورته يې ووئيل، ”آسمان ته وګوره! کۀ تۀ د آسمان ستوری
شمېرلے شې نو وې شمېره، ستا اولاد به د ستورو په شان ډېر وی.“
۶ ابرام په مالِک خُدائ يقين وکړو، نو مالِک خُدائ هغه د خپل ايمان
له وجې صادق وګرځولو. ۷ بيا مالِک خُدائ هغۀ ته ووئيل، ”زۀ
مالِک خُدائ يم، چا چې په بابل کښې د اُور نه راوويستلې، چې دا
زمکه ستا خپله شی.“ ۸ خو ابرام ترې تپوس وکړو، ”مالِکه، مالِکه
خُدايه! ما ته به څنګه پته ولږی چې دا به زما شی؟“ ۹ هغۀ جواب
ورکړو، ”ما له يوه څخی، يوه چېلۍ اؤ يو ګډ راوله، چې هر يو د دريو
کالو وی اؤ يوه ګُوګُوشتکه اؤ کونتره هم راوړه.“ ۱۰ ابرام دا ځناور
حاضر کړل، حلال يې کړل، هغه درې ښاروی يې په مېنځ نيم کړل
اؤ په دوه قطارُونو کښې يې نيم نيم يو بل ته مخامخ کېښودل، خو
مارغان يې په مېنځ نيم نۀ کړل. ۱۱ ټپُوسان په غوښه لاندې راغُوټه
شول، خو ابرام ترې نه وشړل. ۱۲ چې کله نمر په پرېوتو شو، په ابرام
يو درُوند خوب راغلو اؤ يره اؤ توره تيارۀ هم پرې راغله. ۱۳ مالِک
خُدائ هغۀ ته ووئيل، ”تۀ دا خبره ياده ساته چې ستا اولاد به په پردی
وطن کښې مُسافر شی، دوئ به هلته غُلامان شی اؤ څلور سوه کاله
به پرې ظلم کېږی، ۱۴ خو زۀ به هغه قوم له سزا ورکړم چې دوئ
څوک غُلامان کوی اؤ چې کله هغه پردے وطن پرېږدی، نو دوئ
به ډېر مال دولت د ځان سره يوسی. ۱۵ اؤ تۀ په خپله به په ښۀ پوخ

عُمر کښې، په تسلی سره وفات شې اؤ دفن به شې. ۱۶ په څلورم
نسل کښې به ستا اولاد دلته واپس راشی، ځکه چې اموریانو اوسه
پورې دومره ګُناه نۀ ده کړې چې زۀ دوئ بهر کړم.“ ۱۷ چې کله
نمرپریواتو اؤ توره تیارۀ شوه، نو یو د بلو سکارو لوښے چې لُوګے یې
کولو اؤ یو بَل لرګے ناڅاپی راښکاره شو اؤ د ځناورو په مینځ کښې
تېر شو. ۱۸ نو په هغه وخت کښې مالِک خُدائ د ابرام سره یو تړون
وکړو. هغۀ ووئیل، ”زۀ ستا سره دا تړون کوم چې زۀ به ستا اولاد له
د مِصر د دې سیند نه د فرات تر لوئ سیند پورې دا زمکه ورکوم،
۱۹ اؤ ورسره د قینیانو وطن، د قنیزیانو، د قدمونیانو، ۲۰ د حِتیانو،
د فرزیانو، د رفائیم، ۲۱ د اموریانو، د کنعانیانو، د جرجاسیانو اؤ د
یبوسیانو وطن هم ورکوم.“

## حضرت اِسمٰعیل اؤ بی‌بی هاجِره

۱۶ ۱ د ابرام د ښځې ساری تر اوسه پورې بچی نۀ وُو شوی.
خو د هغې یوه مِصری وینځه وه چې نُوم یې هاجِره وو،
۲ نو هغې ابرام ته ووئیل، ”مالِک خُدائ ما له اولاد نۀ دے راکړے.
تۀ ولې زما د وینځې سره شپه نۀ تېروې؟ کېدے شی چې زۀ د هغې
نه آباده شم.“ نو ابرام د ساری خبره ومنله. ۳ نو هغې خپله وینځه
هاجِره ورکړه چې ښځه یې شی. (د ابرام په کنعان کښې د لس کاله
اوسېدو نه پس داسې وشول.) ۴ ابرام د هاجِرې سره څملاستو، نو
هغه اُمیدواره شوه. چې کله هغې ته پته ولګېده چې اُمیدواره شوه،
نو خپلې نېکې ته به یې سپک کتل. ۵ نو ساری ابرام ته ووئیل،

”دا بد ستا په وجه وشول. ما خپله وينځه په خپله ستا په غېږ کښې
کښېنوله اؤ چې د کُوم وخت نه هغې ته پته لګېدلې ده چې اُميدواره
ده، نو هغه ما ته سپک ګوری. مالِک خُدائ دې اِنصاف وکړی
چې په ما اؤ په تا کښې څوک په حقه دی.“ ٦ خو ابرام جواب
ورکړو، ”ډېر ښۀ، هغه ستا وينځه ده اؤ ستا په اِختيار کښې ده، چې
څۀ دې خوښه وی نو ورسره يې وکړه.“ نو ساریٰ د هاجِرې سره
دومره ظلم وکړو چې هغه تری وتښتېده. ٧ د مالِک خُدائ فرِښتې
په صحرا کښې د شُور په لاره هاجِره په چينه ومُوندله ٨ اؤ فرِښتې
ووئيل، ”هاجِرې، د ساریٰ وينځې! د کُوم ځائ نه تۀ راغلې يې اؤ
چرته ځې؟“ هغې جواب ورکړو، ”زۀ د خپلې نېکې نه تښتم.“ ٩ د
مالِک خُدائ فرِښتې هغې ته ووئيل، ”خپلې نېکې له واپس لاړه شه
اؤ د هغې د اِختيار لاندې ژوند تېروه.“ ١٠ بيا فرِښتې هغې ته دا هم
ووئيل، ”زۀ به تا له دومره ډېر اولاد درکړم چې هيڅ څوک به يې
نۀ شی شمېرلے. ١١ تۀ اوس اُميدواره يې اؤ د زوئ نُوم به اِسمٰعيل
کېږدې ځکه چې مالِک خُدائ په تکليف کښې ستا آواز اؤرېدلے
دے. ١٢ خو ستا زوئ به د يو ځنګلی په شان عُمر تېروی، هغه به د
هر چا دُښمن وی اؤ هر يو به د هغۀ خِلاف وی. هغه به د خپلوانو نه
بيل ژوند تيروی.“ ١٣ هاجِرې د ځان نه تپوس وکړو، ”ما خو خُدائ
پاک ليدلے دے اؤ بيا هم لا ژوندیٰ پاتې يم؟“ نو هغې هغه مالِک
خُدائ ته يو نُوم ورکړو چې د هغې سره يې خبرې کړې وې، يعنې
”هغه خُدائ پاک چې ګوری“. ١٤ دا ځکه د قادِس اؤ بيرد په مېنځ
کښې کُوهی ته خلق وائی چې ”د هغه ژوندی خُدائ پاک کُوهے

دے چې ما ګورى“. ⑮ د هاجِرې نه د ابرام زوئ وشو اؤ اِسمٰعيل نُوم
بې پرې کېښودو. ⑯ ابرام په هغه وخت کښې د شپږ اتياؤ کالو وو.

## سُنت د تړون يوه نښه

# ١٧

① چې کله ابرام د يو کم سلو کالو وو، نو مالِک خُدائ
هغۀ ته راښکاره شو اؤ وې وئيل، ”زۀ قادر خُدائ يم.
زما تابعدارى کوه اؤ همېشه بې‌عېبه اوسه. ② زۀ تا سره دا تړون
کوم چې ډېر اولاد به درکړم.“ ③ ابرام مخ په زمکه ولګولو، سجده
بې وکړه اؤ خُدائ پاک ووئيل چې، ④ ”ګوره! زۀ تا سره دا تړون
کوم: زۀ دا تړون کوم چې تۀ به د ډېرو قومُونو پلار شې. ⑤ نور به
تا ته ابرام نۀ شى وئيلے، ستا نُوم اِبراهيم شو، ځکه چې زۀ تا د ډېرو
قومُونو پلار جوړوم. ⑥ زۀ به تا بې‌حده ډېر آباد کړم، اؤ ستا نه به
قومُونه جوړ کړم اؤ ستا په اولاد کښې به بادشاهان وى. ⑦ زما به تا
اؤ ستا د اولاد سره دا تړون وى، دا به په راتلُونکو نسلُونو کښې يو
نۀ ختمېدُونکے تړون وى. زۀ به ستا اؤ ستا د اولاد خُدائ پاک يم.
⑧ زۀ به تا اؤ ستا اولاد له دا وطن ورکوم په کُوم کښې چې تۀ اوس
مُسافر يې. د کنعان ټول وطن به همېشه د پاره ستا د اولاد وى اؤ زۀ
به د هغوئ خُدائ پاک يم.“ ⑨ خُدائ پاک اِبراهيم ته ووئيل، ”تۀ
به زما سره دا تړون پُوره کوې، ستا اؤ ستا د اولاد د راتلُونکو نسلُونو
سره به دا تړون وى. ⑩ تۀ اؤ ستا د اولاد هر يو نر به خامخا سُنت
کېږى. ⑪-⑫ د نن نه پس به تاسو هر يو نر ماشُوم سُنت کوئ چې
هغه د اتو ورځو شى، ورسره هغه نوکران چې ستاسو په کور کښې

پېدا وی اؤ هغه هم چې د بل وطن نه راوستلے شوی دی. د دې نه
به دا معلُومېږی چې زما اؤ ستا په مېنځ کښې تړون شته. ١٣ هر یو به
خامخا سُنت کېږی، دا به په بدن یوه نښه وی چې پته لګې چې تا
سره زما تړون نۀ ختمېدُونکے دے. ١٤ خو چې کُوم نر سُنت شوے
نۀ وی هغه به زما د خلقو نه بېل وی، ځکه چې هغۀ زما تړون مات
کړے دے.“ ١٥ خُدائ پاک اِبراهیم ته ووئیل، ”تۀ نور خپلې ښځې
ته ساری مۀ وایه، د نن نه پس د هغې نُوم ساره شو. ١٦ زۀ به هغې
له برکت ورکړم اؤ د هغې نه به ستا یو زوئ پېدا شی. زۀ به هغې له
برکت ورکړم اؤ هغه به د قومُونو مور شی اؤ د هغې په اولاد کښې به
بادشاهان وی.“ ١٧ اِبراهیم تندے په زمکه ولګولو، سجده یې وکړه،
خو اِبراهیم په خندا شو، چې کله هغۀ سوچ کولو، ”چې یو سړے
د سلو کالو زوړ وی د هغۀ بچی پېدا کېدے شی څۀ؟ د ساره بچی
پېدا کېدے شی چې د لس کم سل کالو زَړه ده؟“ ١٨ اِبراهیم خُدائ
پاک ته ووئیل، ”کاش چې تۀ اِسمٰعیل زما وارث کړې!“ ١٩ خو
خُدائ پاک ووئیل چې، ”نه. ستا د خپلې ښځې ساره نه به یو زوئ
پېدا شی اؤ د هغۀ نُوم اِسحاق کېږده. د هغۀ اؤ د هغۀ د اولاد سره
به همېشه د پاره زما تړون وی. کُوم چې یو نۀ ختمېدُونکے تړون
دے. ٢٠ ما ستا د اِسمٰعیل د پاره سوال اؤرېدلے دے، نو هغۀ له به
هم برکت ورکړم اؤ هغۀ له به ډېر بچی اؤ ډېر اولاد ورکړم. هغه به
د دولسو بادشاهانو پلار وی اؤ زۀ به د هغۀ د اولاد نه یو لوئ قوم
جوړ کړم. ٢١ خو زما به ستا د زوئ اِسحاق سره تړون وی، چې هغه
به تقریباً بل کال په دې ورځو کښې د ساره نه پېدا کېږی.“ ٢٢ چې

کله خُدائ پاک د اِبراهیم سره خبرې تر سره کړې، نو ترې نه لاړو.
۲۳ هم په هغه ورځ اِبراهیم اِسمٰعیل اؤ په کور کښې چې څومره نران
پیدا شوی وُو هغه ټول بې سُنت کړل، سره د هغو نوکرانو چې د هغۀ
په کور کښې پیدا شوی وُو اؤ هغه بې هم سُنت کړل چې د بل وطن
نه راوستلے شوی وُو لکه څنګه چې خُدائ پاک هغۀ ته وئیلی وُو.
۲۴ اِبراهیم د یو کم سلو کالو وو چې هغه سُنت شو، ۲۵ اؤ د هغۀ
زوئ اِسمٰعیل د دیارلسو کالو وو. ۲۶ دوئ دواړه په یوه ورځ سُنت
شول، ۲۷ اؤ ورسره د اِبراهیم ټول نوکران هم سُنت شول.

## د حضرت اِبراهیم سره د زوئ د پیدا کېدو وعده

۱۸ ۱ مالِک خُدائ اِبراهیم ته د ممرې پاکو ونو سره
راڅرګند شو. چې اِبراهیم د سرې غرمې په وخت
د خېمې د دروازې په خُله کښې ناست وو، ۲ هغۀ وکتل اؤ
څۀ ګوری چې هلته درې سړی ولاړ دی. هغوئ بې چې څنګه
ولیدل، هغۀ سترګی مشی له ورمنډه کړه. د عِزت نه ورته ټیټ
شو، ۳ اِبراهیم ووئیل، "صاحِبانو! کۀ تاسو ما د دې قابِل ګڼئ،
نو زما سره ایسار شئ چې زۀ ستاسو خِدمت وکړم. ۴ کۀ اِجازت
وی نو زۀ به ستاسو خپو وینځلو له لږې اوبۀ راوړم، تاسو د دې
ونې لاندې دمه وکړئ. ۵ زۀ به تاسو له لږه ډوډۍ هم راوړم،
نو تاسو به بیا ښۀ مزل وکړئ. دا زما د پاره د عِزت خبره ده چې
زما کور ته راغلئ، نو زۀ به ستاسو مېلمستیا کوم." هغوئ جواب
ورکړو، "ښۀ ده، چې څنګه ستا خوښه وی نو هغه شان وکړه."

۶ اِبراهیم خېمې ته تېز لاړو اؤ ساره ته يې ووئيل، ”زر شه. د
ټولو نه د ښۀ اوړو بوجۍ راواخله اؤ ډوډۍ ترې پخې کړه.“ ۷ بيا
هغۀ د مال رَمې ته ورمنډه کړه اؤ يو کچه اؤ څورب څخرے يې
راونيوو اؤ يو نوکر له يې ورکړو، چې هغه يې زر زر تيار کړی.
۸ هغۀ لږ ماستۀ، پئ اؤ هغه پخه شوې غوښه هم راوړه اؤ سړو
ته يې هر څۀ کېښودل اؤ چې کله هغوئ ډوډۍ خوړله نو د ونې
لاندې ورته ولاړ وو. ۹ بيا هغوئ د هغۀ نه تپوس وکړو، ”ستا
ښځه ساره چرته ده؟“ هغۀ جواب ورکړو، ”هغه دننه په خېمه
کښې ده.“ ۱۰ يو مېلمه ووئيل، ”په راتلُونکی کال کښې به زۀ
واپس راشم اؤ ستا د ښځې ساره به يو زوئ پېدا شوے وی.“
ساره د خېمې د دروازې شا ته دا خبرې اؤرېدلې. ۱۱ اوس ګوره،
اِبراهيم اؤ ساره ډېر بُوډاګان وُو. اؤ ساره د ماشُوم د پېدا کېدو
نۀ وه. ۱۲ نو ساره د ځان سره وخندل اؤ وې وئيل، ”اوس زۀ
زَړه اؤ ضعيفه يم اؤ زما خاوند هم بُوډا دے، نو اوس په دې
عُمر کښې به زۀ د هغۀ سره خملم څۀ؟“ ۱۳ نو مالِک خُدائ د
اِبراهيم نه تپوس وکړو، ”ساره ولې وخندل اؤ وې وئيل چې په
دې عُمر کښې زما ماشُوم پېدا کېدے شی څۀ چې زۀ ډېره بُوډۍ
يم؟ ۱۴ داسې څۀ شته چې د مالِک خُدائ د پاره مُشکل وی؟
لکه چې څنګه ما ووئيل، په راتلُونکی کال به زۀ واپس راځم اؤ
د ساره به يو زوئ پېدا شی.“ ۱۵ نو ساره مُنکره شوه ځکه چې
هغه يرېده. هغې ووئيل، ”ما خو نۀ دی خندلی.“ هغۀ جواب
ورکړو، ”اؤ تا وخندل.“

## د حضرت اِبراهیم د صُدوم د نۀ تباه کېدو سوال کول

۱۶ بیا هغه سړی روان شول اؤ یو داسې ځائ ته لاړل چې د کُوم
ځائ نه یې صُدوم لیدلے شو، نو اِبراهیم هغوئ ته په مخه ښه وئیلو
د پاره ورسره لاړو. ۱۷ نو مالِک خُدائ د ځان سره ووئیل، ”زۀ چې
څۀ کول غواړم هغه به د اِبراهیم نه نۀ پټوم. ۱۸ د هغۀ اولاد به یو لوئ
طاقتور قوم وی اؤ د هغۀ په ذریعه به زۀ ټولو قومُونو له برکت ورکړم.
۱۹ ما هغه د دې د پاره غوره کړے دے چې هغه خپلو زامنو اؤ اولاد
ته دا نصیحت وکړی چې زما خبره منی اؤ هغه څۀ کوی چې کُوم
صحیح اؤ حق دی. کۀ دوئ داسې کوی، نو زۀ به هم د هغۀ د پاره
هغه هر څۀ وکړم چې ما یې وعده کړې ده.“ ۲۰ بیا مالِک خُدائ
اِبراهیم ته ووئیل، ”په صُدوم اؤ عمُوره باندې ډېر سخت الزامُونه
دی، دوئ ډېر بد عملونه کوی. ۲۱ زۀ به لاندې خامخا ځم چې دا
پته ولګوم چې کُوم الزامُونه ما اؤرېدلی دی چې هغه رښتیا دی اؤ
کۀ نه.“ ۲۲ بیا هغه دوه سړی لاړل اؤ د صُدوم طرف ته روان شول،
خو مالِک خُدائ د اِبراهیم سره ایسار شو. ۲۳ اِبراهیم مالِک خُدائ
ته نزدې شو اؤ تپوس یې ترې وکړو، ”تۀ په رښتیا د بد عملو سره
صادقان هم تباه کوې؟ ۲۴ کۀ په ښار کښې پنځوس صادقان کسان
وی، نو تۀ به ټول ښار تباه کوې څۀ؟ تۀ به دوئ نۀ معاف کوې د
دې د پاره چې هغه پنځوس کسان بچ شی؟ ۲۵ په رښتیا سره تۀ به
د بد عملو سره صادقان نۀ وژنې. دا نامُمکن دی، تۀ داسې نۀ شې
کولے. کۀ تۀ داسې وکړې، نو صادقانو خلقو ته به د بد عملو سره

سزا مِلاؤ شی. دا نامُمکن دی. د دُنيا اِنصاف کوُونکے به خامخا اِنصاف کوی." ٢٦ مالِک خُدائ ورته ووئيل، "کۀ په صُدوم کښې پنځوس صادقان کسان هم وی، نو زۀ به د هغوئ په خاطر ټول ښار بچ کړم." ٢٧ اِبراهيم بيا ووئيل، "مالِکه خُدايه! ما معاف کړه چې زۀ زړۀ ور شوم اؤ ستا په مخکښې خبرې کوم. ځکه چې زۀ ستا په مخکښې هيڅ هم نۀ يم. ٢٨ خو کېدے شی چې هلته د پنځوسو صادقانو کسانو په ځائ صِرف پينځۀ څلوېښت وی. نو تۀ به د پينځو کسانو د کمی په وجه ټول ښار تباه کوې څۀ؟" مالِک خُدائ جواب ورکړو، "کۀ پينځۀ څلوېښت صادقان کسان هم وی نو زۀ به هغه ښار نۀ تباه کوم." ٢٩ اِبراهيم بيا ووئيل، "کېدے شی چې هلته صِرف څلوېښت کسان وی." هغۀ جواب ورکړو چې، "کۀ څلوېښت کسان هم وی نو زۀ به هغه ښار نۀ تباه کوم." ٣٠ اِبراهيم ووئيل، "مالِکه خُدايه! غُصه کېږه مه، خو زۀ يو ځل بيا عرض کوم. کۀ هلته صِرف دېرش کسان وی نو بيا؟" هغۀ ووئيل، "زۀ به داسې نۀ کوم کۀ دېرش هم وی." ٣١ اِبراهيم ووئيل، "مالِکه خُدايه! ما معاف کړه چې زۀ زړۀ ور شوم اؤ ستا په مخکښې خبرې کوم، خو کۀ صِرف شل کسان وی؟" هغۀ ووئيل، "زۀ به هغه ښار نۀ تباه کوم کۀ شل کسان هم وی." ٣٢ اِبراهيم ووئيل، "مالِکه خُدايه! غُصه کېږه مه، زۀ به صِرف يو ځل بيا عرض کوم. کۀ هلته صِرف لس کسان وی نو بيا؟" هغۀ ووئيل، "کۀ لس کسان هم وی نو زۀ به هغه ښار نۀ تباه کوم." ٣٣ چې د اِبراهيم سره يې خبرې ختمې کړې نو مالِک خُدائ لاړو اؤ اِبراهيم کور ته راوګرځېدو.

## د صُدوم د خلقو گناهُونه

**١٩** ١ په هغه ماښام چې دوه فرِښتې صُدوم ته راغلې، لُوط د
ښار د دروازې سره نزدې د جرگې په ځائ کښې ناست
وو. چې څنگه هغۀ هغوئ ولیدې، نو هغه پاڅېدو اؤ سټرې مشی له
ورَغلو. هغه هغوئ ته د عِزت نه ټیټ شو ٢ اؤ وې وئیل، ”صاحِبانو!
زۀ به ستاسو خِدمت کوم. ما سره کور ته لاړ شئ. تاسو خپې ووینځئ
اؤ شپې ته ایسار شئ. تاسو چې سحر وختی پاڅئ نو په خپله مخه
تلے شئ.“ خو هغوئ جواب ورکړو، ”نه، مُونږ به دلته د جرگې په
ځائ کښې شپه وکړُو.“ ٣ خو هغۀ ډېر زور کولو اؤ آخِر ورسره کور
ته لاړل. لُوط خپلو نوکرانو له حُکم ورکړو چې ډوډۍ پخه کړی
اؤ د مېلمنو د پاره ښۀ خوراک تیار کړی. چې ډوډۍ تیاره شوه، نو
هغوئ وخوړه. ٤ د مېلمنو د څملاستو نه مخکښې، د صُدوم خلق
د هغه کور نه تاؤ شول. چې د ښار ټول خلق، واړۀ زاړۀ په کښې
وُو. ٥ دوئ لُوط بهر راوغوښتلو اؤ تپوس یې ترې وکړو، ”هغه سړی
چرته دی چې نن تا کره ایسار دی؟ مُونږ له یې بهر راوباسه.“ د
صُدوم خلقو د هغوئ سره زنا کول غوښتل. ٦ لُوط بهر ووتلو اؤ
ځان پسې یې دروازه بند کړه. ٧ هغۀ هغوئ ته ووئیل، ”عزیزانو! زۀ
ستاسو مِنت زاری کوم، داسې بد کار مۀ کوئ. ٨ گورئ! زما دوه
لُوڼه دی چې لا وادۀ شوې نۀ دی. هغوئ به زۀ بهر تاسو له راولم اؤ
چې څۀ مو خوښه وی هغه ورسره وکړئ. خو دې سړو ته هیڅ هم
مه وایئ، دوئ زما مېلمانۀ دی اؤ د دوئ حِفاظت کول په ما فرض

دى.“ ۹ خو دوئ ووئيل، ”ځه مړه ورک شه مُسافر سړے يې! تهٔ
څوک يې چې مُونږ ته چل ښائې؟ زمُونږ د مخې نه لرې شه، ګنې
د هغوئ نه به دې هم بد حال وکړُو.“ دوئ لُوط له ديکه ورکړه
اؤ د دروازې په ماتېدو يې شروع وکړه. ۱۰ خو هغه دننه دوه سړو
ورمنډه کړل، لُوط يې کور ته واپس راښکلو اؤ دروازه يې بند کړه.
۱۱ بيا هغوئ بهر هغه ټول خلق ړاندهٔ کړل، نو هغوئ د دروازې په
لټولو ستړى شول.

## د حضرت لُوط صُدوم پرېښودل

۱۲ هغه دوه سړو لُوط ته ووئيل، ”کهٔ دلته ستا نور څوک وى لکه
زامن، لُوڼه، زُومان اؤ يا ستا نور خپلوان په دې ښار کښې وى، نو
د دې ځائ نه يې بهر کړه، ۱۳ ځکه چې مُونږ دا ځائ تباه کوُو.
مالِک خُدائ ته د دې خلقو خِلاف فريادُونه رسېدلى دى اؤ مُونږ
يې رالېږلى يُو چې صُدوم تباه کړُو.“ ۱۴ بيا لُوط هغه سړو ته ورَغلو
چې کُومو ته يې لُوڼه کوژدن شوې وې اؤ ورته يې ووئيل، ”زر شئ
اؤ د دې ځائ نه ووځئ، مالِک خُدائ به دا ځائ تباه کوى.“ خو
د هغوئ خيال دا وو چې هغه ټوقې کوى. ۱۵ سحر وختى فرښتو
کوشش وکړو چې لُوط تېز شى. هغوئ ووئيل، ”زر شه! خپله ښځه
اؤ دوه لُوڼه روانې کړه اؤ ووځه، نو داسې به تاسو نهٔ مړهٔ کېږئ چې
کله ښار تباه کېږى.“ ۱۶ خو لُوط سستى کوله. اؤ مالِک خُدائ
په هغهٔ رحم وکړو، نو هغه سړو لُوط، د هغهٔ ښځه اؤ د هغهٔ دواړه
لُوڼه يې د لاس نهٔ ونيولې اؤ د ښار نهٔ يې بهر وويستل. ۱۷ بيا يوې

فرِښتې ووئیل، ”وتښتئ چې ژوندی پاتې شئ، په شا مۀ ګورئ اؤ
په مېدان کښې مۀ پاتې کېږئ. غرُونو ته منډه کړئ، نو داسې به
تاسو د مرګ نه بچ شئ.“ ۱۸ خو لُوط جواب ورکړو، ”اُف! نه
صاحِبانو! په مُونږ داسې مۀ کوئ. ۱۹ تاسو زما سره ډېر ښۀ کړی
دی اؤ زما ژوند مو بچ کړو. خو غرُونه ډېر زیات لرې دی، تباهی به
زما په سر راشی اؤ هلته رسېدو نه مخکښې به زۀ مړ شم. ۲۰ تاسو
ته هغه وړُوکے ښار ښکاری؟ هغه نزدې دے. زۀ به هلته لاړ شم.
ګورئ هغه خو وړُوکے ځائ دے، خو زۀ به په آمن کښې یم.“
۲۱ هغۀ جواب ورکړو، ”ټیک ده، زۀ به ستا خبره ومنم. زۀ به هغه
ښار نۀ تباه کوم. ۲۲ زر منډه کړه! زۀ به تر هغې پورې هیڅ هم نۀ
کوم چې ته هلته رسېدلے نۀ یې.“ لُوط دې ته وړُوکے ووئیل، نو
ځکه د هغه ښار نُوم ضُغر شو.

## د خُدائ پاک صُدوم اؤ عمُوره تباه کول

۲۳ نمر په راختو وو چې لُوط ضُغر ته ورسېدو. ۲۴ ناڅاپی مالِک
خُدائ د صُدوم اؤ عمُوره په ښارُونو باندې د اور د کاڼو باران
اؤرولو ۲۵ اؤ هغه ښارونه اؤ ټول مېدان یې تباه کړو، سره د ټولو
خلقو اؤ هر هغه څۀ چې په هغه زمکه زرغُون شوی وُو، تباه شول.
۲۶ خو د لُوط ښځې شا ته وکتل اؤ د مالګې ستن ترې جوړه شوه.
۲۷ په بله ورځ سحر وختی اِبراهیم هغه ځائ ته تېز لاړو چرته چې
هغه د مالِک خُدائ په حضُور کښې مخکښې ولاړ وو. ۲۸ هغۀ
لاندې صُدوم اؤ عمُوره اؤ د دې ټولو علاقو ته وکتل اؤ وې لیدل

چې د هغه وطن نه لُوګی ختل، دا داسې لُوګی وُو لکه چې د بټۍ
نه خېژی. ۲۹ خو چې خُدائ پاک د مېدان هغه ښارونه تباه کړل
چرته چې لُوط اوسېدو، نو اِبراهیم د هغۀ یاد وو اؤ لُوط یې ولېږلو
چې ځان بچ کړی.

## موآبیانو اؤ عمونیانو د بې‌شرمۍ بُنیاد کېښودل

۳۰ لُوط یرېدو چې په ضُعر کښې پاتې شی، نو هغه د خپلو دوه
لُوڼو سره پاس غرُونو ته لاړو اؤ دوئ په یو غار کښې اوسېدل. ۳۱ نو
مشرې لُور یې خپلې خور ته ووئیل، ”زمُونږ پلار بُوډا کېږی اؤ په
ټوله دُنیا کښې سړی نشته چې مُونږ وادۀ کړی اؤ بچی مو پیدا شی.
۳۲ راځه چې خپل پلار نشه کړُو، نو د هغۀ سره به څملُو اؤ بچی به
مو پیدا شی.“ ۳۳ په هغه شپه هغوئ هغۀ له شراب ورکړل اؤ مشره
لُور د هغۀ سره څملاسته. خو هغه دومره نشه وو چې پته ورته ونۀ
لګېده. ۳۴ بله ورځ مشرې لُور خپلې خور ته ووئیل، ”تېره شپه زۀ د
هغۀ سره څملاستم، اوس راځه چې نن شپه یې بیا نشه کړُو اؤ تۀ
د هغۀ سره څمله. نو مُونږ دواړه به د پلار نه اُمیدوارې شُو.“ ۳۵ نو
هغه شپه هغوئ هغه بیا نشه کړو اؤ کشره لُور د هغۀ سره څملاسته.
خو بیا هم هغه دومره نشه وو چې هغۀ ته هیڅ پته ونۀ لګېده. ۳۶ نو
د لُوط دواړه لُوڼه د خپل پلار نه اُمیدوارې شوې. ۳۷ د مشرې لُور یې
یو زوئ وشو، چې د هغۀ نُوم یې موآب کېښودو. هغه د نن زمانې د
موآبیانو پلار نیکۀ وو. ۳۸ د کشرې لُور یې هم یو زوئ وشو، چې د
هغۀ نُوم یې بِن‌عمی کېښودو. هغه د نن زمانې د عمونیانو پلار نیکۀ وو.

## حضرت اِبراهيم اؤ ابی‌مِلِک

۲۰ ۱ اِبراهيم د ممرې نه د کنعان صحرا ته لاړو اؤ د قادِس
اؤ شُور په مېنځ کښې اوسېدو. په هغه وخت کښې
چې کله هغه په جرار کښې اوسېدو، ۲ هغۀ وئيلی وُو چې خپله
ښځه ساره يې خور ده. نو د جرار بادشاه ابی‌مِلِک ترې ساره
بوتلې وه. ۳ خو يوه شپه هغۀ خُدائ پاک په خوب کښې وليدو
اؤ ورته يې ووئيل: ”گوره! تۀ د مرگ په خُله ولاړ يې، ځکه
چې کُومه ښځه تا راوستې ده هغه وادۀ شوې هم ده.“ ٤ خو
ابی‌مِلِک گوتې هم نۀ وې وروړې اؤ هغۀ ووئيل، ”مالِکه خُدايه!
زۀ بې گُناه يم! تۀ به ما اؤ زما خلق تباه کوې څۀ؟ ٥ اِبراهيم
خو په خپله وئيلی وُو چې هغه يې خور ده اؤ هغې هم وئيلی وُو
چې هغه يې ورور دے. ما خو دا په صفا نيت کړی دی اؤ زما
لاسُونو گُناه نۀ ده کړې.“ ٦ خُدائ پاک په خوب کښې جواب
ورکړو، ”اؤ، ما ته پته ده چې تا دا په صفا نيت کړی دی، هغې
ته گوتې وروړلو ته مې ځکه پرې نۀ ښودلې چې زما خِلاف گُناه
ونۀ کړې ۷ خو اوس، هغه ښځه خپل خاوند ته واپس کړه.
هغه يو نبی دے اؤ هغه به درته دُعا وکړی اؤ تۀ به مړ نۀ شې.
خو کۀ تۀ هغه واپس نۀ ورکوې، نو زۀ تا خبروم چې تۀ اؤ ستا
ټول خلق به مړۀ کېږئ.“ ۸ بل سحر وختی ابی‌مِلِک خپل ټول
درباريان راوغوښتل اؤ چې څۀ شوی وُو ورته يې ووئيل اؤ هغوئ
سخت ويرېدل. ۹ بيا ابی‌مِلِک اِبراهيم راوغوښتلو اؤ تپوس يې

ترې وکړو، ”دا تا په مُونږ څهٔ کړی دی؟ ما تا سره څهٔ بد کړی
دی چې تا په ما اؤ زما په بادشاهئ دا آفت راوستلے دے؟ داسې
خو د هيچا سره هم نۀ دی کول پکار، لکه چې تا زما سره کړی
دی. ۱۰ دا تا ولې کړی دی؟“ ۱۱ اِبراهيم جواب ورکړو، ”زما
دا خيال وو چې دلته به داسې هيڅ څوک هم نۀ وی چې هغه د
خُدائ پاک نه يريږی اؤ دوئ به ما ووژنی چې زما ښځه بوځی.
۱۲ هغه په رښتيا زما خور ده. هغه زما د پلار لُور ده، خو زما
د خپلې مور لُور نۀ ده اؤ ما هغه وادۀ کړه. ۱۳ چې کله خُدائ
پاک زۀ د خپل پلار د کور نه مُسافر کړم، نو ما هغې ته ووئيل،
تۀ به زما سره هغه وخت خپل غيرت څرګند کړې چې هر چا ته
وائې چې زۀ ستا ورور يم.“ ۱۴ بيا ابیمِلِک ساره واپس اِبراهيم ته
ورکړه، هم هغه وخت يې هغۀ ته ګډې، څاروی اؤ نوکران هم
ورکړل. ۱۵ هغۀ اِبراهيم ته ووئيل، ”ګوره! دا ټوله زما زمکه ده،
چې چرته دې خوښه وی هلته اوسېږه.“ ۱۶ هغۀ ساره ته ووئيل،
”زۀ ستا ورور له يو زر د سپينو زرو سيکې ورکوم، دا د دې د پاره
چې تا سره څومره خلق دی چې ټولو ته ثابِته شی چې تۀ بې ګُناه
يې، هر چا ته به معلُومه شی چې ستا لمن پاکه ده.“ ۱۷-۱۸ نو
په دې وجه چې د اِبراهيم د ښځې ساره سره کُومه واقعه شوې
وه، مالِک خُدائ د ابیمِلِک په محل کښې ټولې ښځې شنډې
کړې. نو اِبراهيم د ابیمِلِک د پاره دُعا وکړه اؤ خُدائ پاک هغه
روغ کړو، خُدائ پاک د هغۀ ښځه اؤ د هغۀ وينځې هم روغې
کړې، چې د دوئ بچی پيدا شی.

## د حضرت اِسحاق پیدا کېدل

**٢١**

١ مالِک خُدائ ساره له برکت ورکړو اؤ خپله وعده یې
ورسره پُوره کړه. ٢ اګرچې اِبراهیم په خپله ډېر بُوډا وو،
خو لکه څنګه چې خُدائ پاک ورته وئیلی وُو ساره اُمیدواره شوه اؤ
هم په هغه صحیح وخت د هغې زوئ وشو. ٣ اِبراهیم په خپل زوئ
اِسحاق نُوم کېښودو، ٤ اؤ چې اِسحاق د اتو ورځو شو، نو اِبراهیم
سُنت کړو، هم هغه شان چې څنګه خُدائ پاک حُکم ورکړے وو.
٥ اِبراهیم د سلو کالو وو چې اِسحاق پیدا شو، ٦ نو ساره ووئیل،
”خُدائ پاک زۀ خندولې یم. اوس چې هر څوک د دې نه خبر شی
نو زما سره به خاندی. ٧ چا به اِبراهیم ته وئیلی وے چې یوه ورځ
به زما نه هم د هغۀ ماشُوم پیدا کېږی؟ خو ګورئ! په زوړ عُمر کښې
یې زما نه زوئ پیدا شوے دے.“ ٨ چې ماشُوم غټېدو اؤ په خپله
د ډوډۍ د خوړلو شو، نو په هغه ورځ اِبراهیم یو لوئ خېرات وکړو.

## د بی‌بی هاجِرې اؤ د حضرت اِسمٰعیل لرې لېږل

٩-١٠ یوه ورځ، ساره وکتل چې د هاجِرې زوئ اِسمٰعیل
لوبې کولې، نو هغې اِبراهیم ته ووئیل، ”دا مِصرۍ وینځه اؤ د
هغې زوئ ورک کړه، زۀ دا نۀ غواړم چې هغۀ ته دې په میراث
کښې یو څیز هم مِلاؤ شی. هر څۀ به زما د زوئ وی.“ ١١ دې
مسئلې اِبراهیم ډېر پرېشان کړو، ځکه چې اِسمٰعیل خو هم د
هغۀ زوئ وو. ١٢ خو خُدائ پاک ووئیل، ”اِبراهیمه! د خپلې

وینځې اؤ د هلک په باره کښې مۀ خفه کېږه. هم هغه شان
وکړه چې څنګه درته ساره وائی ځکه چې د اِسحاق په ذریعه
به ستا اولاد ډېر شی. ۱۳ خو د وینځې زوئ هم ستا زوئ دے
اؤ د هغۀ د اولاد نه به یو لوئ قوم جوړ کړم.“ ۱۴ بل سحر
وختی اِبراهیم پاڅېدو اؤ هاجِرې له یې د اوبو ډک مشک اؤ
ډوډۍ ورکړه. او دا یې ورله په ولی کېښودل اؤ د زوئ سره
یې رُخصت کړه. اؤ هغه لاړه اؤ بیرسبع ته نزدې په صحرا
کښې سرګردانه ګرځېدله، ۱۵ اؤ چې د هغوئ سره اوبۀ ختمې
شوې، نو هاجِرې زوئ د یو بُوټی لاندې کښېنولو. ۱۶ اؤ لرِه
لرې ترې کښېناسته، هغې د ځان سره ووئیل چې زۀ دا نۀ شم
زغملے چې د خپل زوئ مرګ ووینم. اؤ هغه هلته ناسته وه
سلګۍ یې وهلې اؤ ژړل یې. ۱۷ چې کله خُدائ پاک د هلک
ژړا واؤرېده، نو د خُدائ پاک فرِښتې د آسمان نه هاجِرې ته
آواز وکړو اؤ ورته یې ووئیل، ”هاجِرې! تۀ ولې پرېشانه یې؟
یرېږه مۀ. خُدائ پاک ستا د زوئ ژړا اؤرېدلې ده. ۱۸ اُوچت
یې کړه اؤ په غېږ کښې یې کښېنوه، ځکه چې زۀ به هغه د
یو لوئ قوم پلار کړم.“ ۱۹ بیا خُدائ پاک هغې ته یو کُوهے
وښودلو. نو هغه کُوهی ته لاړه اؤ مشک یې د اوبو نه ډک کړو
اؤ هلک له یې اوبۀ ورکړې. ۲۰ خُدائ پاک اِسمٰعیل له برکت
ورکړو اؤ چې هلک څنګه لوئ شو، نو د هغۀ نه یو تکړه تیر
انداز جوړ شو. ۲۱ هغه د فاران په صحرا کښې اوسېدو، مور
ورله یوه مِصرۍ جینۍ خوښه کړه اؤ ورته یې وادۀ کړه.

## د آمن مُعاهده

۲۲ تقریباً هم په هغه وخت ابی‌مِلِک اؤ د هغۀ د لښکر مشر فیکُل
اِبراهیم ته ووئیل، "خُدائ پاک تا له په هر کار کښې برکت درکوی،
۲۳ اوس زۀ غواړم چې تۀ د خُدائ پاک په نُوم دا تړون وکړې چې
تۀ به زما سره دهوکه نۀ کوې اؤ همېشه به زما اؤ زما د اولاد وفادار
یې، لکه څنګه چې زۀ همېشه تا سره په دې وطن کښې وفادار یم
چې تۀ دلته مُسافر وې." ۲۴ نو اِبراهیم ورسره وعده وکړه. ۲۵ یوه
ورځ، اِبراهیم ابی‌مِلِک ته شکایت وکړو چې، "ستا یو څو نوکرانو
زما په یو کُوهی قبضه کړې ده." ۲۶ ابی‌مِلِک ورته ووئیل، "دا خو
ما ستا نه په وړومبی ځل واؤرېدل. تا ما ته مخکښې ولی ونۀ وئیل؟
ما ته پته نشته چې دا چا کړی دی." ۲۷ اِبراهیم ابی‌مِلِک ته ګډې اؤ
څۀ غواګانې ورکړې، نو د دوئ په مېنځ کښې د آمن مُعاهده وشوه.
۲۸ اِبراهیم د خپلې رَمې نه اووۀ ګډې جُدا کړې، ۲۹ اؤ ابی‌مِلِک ترې
تپوس وکړو، "تا دا اووۀ ګډې ولې جُدا کړې؟" ۳۰ اِبراهیم جواب
ورکړو، "زۀ غواړم چې دا اووۀ ګډې زما نه قبُولې کړې نو تۀ به ګواه
یې چې ما دا کُوهے کنستلے وو." ۳۱ نو په هغه ځائ یې بیرسبع
نُوم کېښودو، ځکه چې دوئ دواړو دلته مُعاهده کړې وه. ۳۲ چې
کله مُعاهده وشوه، نو ابی‌مِلِک اؤ د هغۀ د لښکر مشر فیکُل واپس
د فلسطین وطن ته لاړل. ۳۳ اِبراهیم په بیرسبع کښې د غز ونه وکَرله
اؤ د مالِک خُدائ د ابدی خُدائ عِبادت یې وکړو. ۳۴ اؤ اِبراهیم ډېر
وخت مُسافر وو اؤ د فلسطین په وطن کښې اوسېدو.

## د خُدائ پاک حضرت اِبراهیم ته د حضرت اِسحاق قُربانولو حُکم ورکول

**۲۲**
۱ څۀ موده وروستو خُدائ پاک د اِبراهیم اِمتحان واخستو،
هغۀ ته یې ووئیل، ”اِبراهیمه!“ نو اِبراهیم جواب ورکړو، ”زۀ
حاضر یم.“ ۲ خُدائ پاک ورته ووئیل، ”خپل زوئ روان کړه، خپل
یکی یو زوئ اِسحاق، د کُوم سره چې تۀ ډېره مینه کوې اؤ د موریاه
وطن ته لاړ شه. هلته په یو غر باندې چې زۀ به یې درته ښایم، هغه
ما ته د قُربانۍ په توګه پېش کړه.“ ۳ نو اِبراهیم سحر وختی پاڅېدو،
خپل خر یې کته کړو اؤ خپل دوه ځوانان سړی اؤ اِسحاق یې ځان
سره روان کړل، هغۀ د سوزېدُونکې قُربانۍ د پاره لرګی پرې کړل اؤ
روان شو اؤ هغه ځائ ته لاړو کوم چې خُدائ پاک ورته ښودلے وو.
۴ په دریمه ورځ چې اِبراهیم وکتل نو د لرې نه یې هغه ځائ ولیدو.
۵ نو هغۀ نوکرانو ته ووئیل، ”دلته د خرۀ سره ایسار شئ. دا هلک اؤ
زۀ به هلته لاړ شُو اؤ مُونږ به عِبادت وکړُو اؤ واپس به تاسو له راشُو.“
۶ اِبراهیم په اِسحاق د قُربانۍ لرګی یوړل اؤ په خپله یې یوه چاړۀ اؤ
ژوندی سکارۀ د اور بلولو د پاره یوړل. چې کله دوئ مزل کولو، ۷ نو
اِسحاق ووئیل، ”پلاره!“ هغۀ جواب ورکړو، ”اؤ! زما زویه؟“ اِسحاق
ترې تپوس وکړو، ”ما ته پته ده چې تا سره سکارۀ اؤ لرګی شته، خو
د قُربانۍ د پاره ګډُورے چرته دے؟“ ۸ اِبراهیم جواب ورکړو، ”زما
زویه، خُدائ پاک به په خپله د یو ګډ بندُوبست وکړی.“ اؤ دوئ
دواړه روان وُو. ۹ کله چې هغه ځائ ته ورسېدل کُوم چې ورته خُدائ

پاک ښودلے وو، اِبراهیم یوه قُربان‌ګاه جوړه کړه اؤ لرګی یې پرې سم
کېښودل. هغۀ خپل زوئ وتړلو اؤ په قُربان‌ګاه کښې یې د لرګو د پاسه
کېښودو. ۱۰ بیا اِبراهیم د خپل زوئ حلالولو د پاره چاړۀ راواخستله.
۱۱ خو ناڅاپه د مالِک خُدائ فرِښتې د آسمان نه هغۀ ته آواز وکړو،
”اِبراهیمه، اِبراهیمه!“ هغۀ جواب ورکړو، ”زۀ حاضر یم.“ ۱۲ فرِښتې
ووئیل، ”هلک له چې هیڅ تکلیف ورنۀ کړې اؤ نۀ ورته څۀ ووائې.
ما ته پته ده چې تۀ د خُدائ پاک نه یرېږې، ځکه چې تا هغۀ ته
خپل یکی یو زوئ هم پېش کړو.“ ۱۳ اِبراهیم څۀ ګوری چې یو ګډ
د ښکرو نه په غنو کښې اِنښتے وو. هغه لاړو اؤ را وې نیوو اؤ د خپل
زوئ په ځائ یې د سوزېدُونکې قُربانۍ په توګه پېش کړو. ۱۴ اِبراهیم
په هغه ځائ ”مالِک خُدائ بندُوبست کوی“ نُوم کېښودو. اؤ تر ننه
پورې خلق وائی، ”د مالِک خُدائ په غر به بندُوبست کېږی.“ ۱۵ د
مالِک خُدائ فرِښتې په دویم ځل د آسمان نه اِبراهیم ته آواز وکړو چې،
۱۶ ”مالِک خُدائ وائی چې زۀ مالِک خُدائ په خپل نُوم قسم کوم
چې زۀ به تا له ډېر زیات برکت درکړم. ځکه چې تا دا وکړل اؤ خپل
یکی یو زوئ دې هم زما نه بچ ونۀ ساتلو، ۱۷ زۀ دا وعده کوم چې زۀ
به تا له دومره ډېر اولاد درکړم لکه چې په آسمان کښې څومره ستوری
دی اؤ چې د سمندر په غاړه څومره شګې دی. ستا اولاد به خپلو
دُښمنانو له شکست ورکړی. ۱۸ ټول قومُونه به ما ته سوال کوی چې
هغوئ له داسې برکت ورکړم لکه چې ما ستا اولاد له برکت ورکړے
دے. ځکه چې تا زما حُکم ومنلو.“ ۱۹ اِبراهیم خپلو نوکرانو ته واپس
لاړو اؤ دوئ په یو ځائ بیرسبع ته لاړل، چې چرته اِبراهیم اوسېدو.

## د ناحور اولاد

۲۰ څهٔ موده وروستو اِبراهیم خبر شو چې د خپل ورور ناحور یې د
مَلِکه نه اتهٔ بچی پیدا شوی دی: ۲۱ مشرے عُوض، د هغهٔ ورور بُوز،
د ارام پلار قموایل، ۲۲-۲۳ کَسِد، حزو، فِلداس، اِدلاف اؤ بتوایل،
د رِبقه پلار. د اِبراهیم د ورور ناحور، د ښځې مَلِکه نه دا اتهٔ زامن
پیدا شول. ۲۴ د ناحور دویمې ښځې، رُومه نه، طِبح، جاحم، تخص
اؤ معکه پیدا شول.

## د بی‌بی ساره مرګ اؤ ښخېدل

# ۲۳

۱ ساره یو سل اووهٔویشت کاله ژوندۍ وه. ۲ هغه د
کنعان په وطن کښې په قریت اربع کښې په حق ورسېده
چې په حبرون مشهُور دے، اؤ اِبراهیم د ساره په غم غمژن شو اؤ
هغې پسې یې ژړل. ۳ اِبراهیم د مړی خوا نه پاڅېدو، حِتیانو له
ورَغلو اؤ وې وئیل چې، ۴ ”زهٔ د پردی وطن یم اؤ تاسو سره اوسېږم،
زما خپله زمکه نشته چې چرته زهٔ خپله ښځه په یو مُناسب ځائ
کښې ښخه کړم. لږه زمکه په ما خرڅه کړئ.“ ۵ هغوئ جواب
ورکړو چې، ۶ ”نېکه! زمُونږ خبره واوره، مُونږ تا ته د یو تکړه مشر
په سترګه ګورُو. زمُونږ د ادیرې د ټولو نه ښهٔ ځائ کښې خپل مړے
ښخ کړه، تا به هیڅ څوک د یو ځائ نه هم د خپل مړی ښخولو نه
نهٔ منع کوی.“ ۷ اِبراهیم پاڅېدو اؤ د هغه وطن خلقو یعنې حِتیانو
ته یې د عِزت نه سر ټیټ کړو. ۸ اؤ ورته یې ووئیل، ”کهٔ ستاسو دا

خوښه وى چې زۀ دلته خپل مړے ښخ کړم، نو د صحر زوئ عِفرون
ته ووايئ ۹ چې د خپل پټى په سر کښې د مکفيله غار په ما خرڅ
کړى. زۀ به يې پُوره قيمت ورکړم اؤ تاسو ټول به د دې ګواهان شئ.“
۱۰ - ۱۱ عِفرون هلته د ښار د دروازې سره نزدې ناست وو، چې کله
اِبراهيم دا عرض وکړو، نو هغۀ جواب ورکړو چې، ”صاحِبه! دا ټول
پټے سره د غار ستا په وړاندې دے. زما د خپلو خلقو په مخکښې
زۀ دا ستا د مړى د قبر د پاره درکوم.“ ۱۲ يو ځل بيا، اِبراهيم د هغه
وطن خلقو ته د عِزت نه ټيټ شو ۱۳ اؤ عِفرون ته يې ووئيل، ”د
دې ګواهانو په مخکښې، زۀ تا له د دې پټى پُوره قيمت درکوم،
چې خپله ښځه ښخه کړم. دا قيمت زما نه قبُول کړه.“ ۱۴ عِفرون
جواب ورکړو چې، ۱۵ ”صاحِبه! زما خبره واوره، د دې ځائ قيمت
صِرف څلور سوه د سپينو زرو سيکې به وى. په داسې وړُوکى قيمت
به مُونږ څۀ ټينګيږُو؟ خپل مړے ښخ کړه.“ ۱۶ اِبراهيم د عِفرون دا
خبره منظُوره کړه اؤ هغه سپين زر يې عِفرون ته وتلل چې د کُومو
په باره کښې يې د حِتيانو په مخکښې وئيلى وُو، د هغه وخت د
سوداګرو د وزن مُطابق، څلور سوه د سپينو زرو سيکې. ۱۷ نو داسې
اِبراهيم د عِفرون نه هغه د ممرئ سره نزدى مکفيله په علاقه کښې
هغه پټے واخستلو. پټے سره د هغه غار اؤ ګبرچاپيره چې څومره ونې
وې. ۱۸ د ښار په دروازه کښې د جرګې د ټولو سړو په مخکښې دا
زمکه د اِبراهيم شوه چرته چې حِتيان د دې ګواهان وُو. ۱۹ د دې
نه پس، اِبراهيم خپله ښځه ساره د مکفيله د پټى په غار کښې ښخه
کړه ۲۰ چې کُوم يې د حِتيانو نه اخستے وو.

## رِبقه د حضرت اِسحاق ښځه کېدل

# ٢٤

١ اِبراهیم اوس د ډېر عُمر وو. مالِک خُدائ هغهٔ له په هر
کار کښې برکت ورکړے وو. ٢ یوه ورځ، اِبراهیم خپل
مشر نوکر راوغوښتو اؤ هغهٔ ته یې ووئیل، ”زما سره یو پوخ لوظ وکړه،
٣ د مالِک خُدائ په نُوم زهٔ تا له قسم درکوم، د هغه خُدائ پاک چې
په آسمان اؤ زمکه بادشاهی کوی، چې تهٔ به زما زوئ اِسحاق د پاره
د دې ځائ د کنعان د وطن خلقو کښې ښځه نهٔ خوښوې. ٤ په ځائ
د دې، واپس هغه وطن ته لاړ شه چې چرته زهٔ پېدا شوے وم. اؤ زما
زوئ اِسحاق له زما په خپلوانو کښې ښځه وګوره.“ ٥ خو نوکر ترې
نه تپوس وکړو، ”کهٔ هغه پېغله چې کُومه زهٔ خوښه کړم، دې وطن ته
زما سره نهٔ راځی، نو زهٔ څهٔ اِسحاق هغه وطن له واپس ولېږم چې د
کُوم نه تهٔ راغلے یې؟“ ٦ اِبراهیم جواب ورکړو، ”نه، خیال کوه چې
تهٔ زما زوئ واپس هلته بونهٔ ځې. ٧ مالِک خُدائ هغه خُدائ پاک
چې د آسمانُونو بادشاه دے زهٔ د هغه وطن نه چې چرته زهٔ پېدا شوے
وم دلته راوستم، ما ته یې ووئیل اؤ تړون یې راسره وکړو چې هغه به
زما اولاد له دا زمکه ورکوی. چې کله تهٔ هلته ځې، نو مالِک خُدائ
به ستا نه مخکښې خپله یوه فرِښته زما د زوئ د پاره ښځه لټولو کښې
ستاسو مدد له راولېږی. ٨ کهٔ هغه ښځه تاسو سره د راتلو نه اِنکار
کوی، نو خبر دے تهٔ د تړون نه آزاد یې. خو زما زوئ به هلته نهٔ
بوځې.“ ٩ نو نوکر د اِبراهیم سره پوخ تړون وکړو چې هغه هر څهٔ به
وکړی چې هغهٔ ته یې د کولو د پاره وئیلی وُو. ١٠ د دې نه پس، هغه

نوکر د اِبراهيم لس اُوښان د ښو تُحفو سره بار کړل. بيا د شام شمال
په طرف هغه ښار ته روان شو، چرته چې د اِبراهيم ورور ناحور اوسېدو.
١١ کله چې هغه هلته ورسېدو، هغۀ د ښار نه بهر د چينې سره نزدې
اُوښان کښېنول. دا د مازيګر وخت وو، چې کله ښځې اوبو وړلو له
راووتلې. ١٢ نوکر دُعا وکړه: ”تۀ مالِک خُدائ، زما د نېک اِبراهيم
خُدائ پاک يې ما نن کامياب کړه اؤ زما د نېک سره خپله وعده پُوره
کړه. ١٣ زۀ دلته د هغه چينې سره يم چې چرته به د ښار پېغلې اوبۀ
وړلو له راځی. ١٤ چې کُومې جينۍ ته زۀ وايم چې لږ منګے راټيټ
کړه، چې اوبۀ وڅښم، کۀ هغه ووائی چې وڅښه اؤ زۀ به ستا اُوښانو
له هم اوبۀ راوړم، چې دا هم هغه وی چې تا خپل خِدمت کوُونکی
اِسحاق له خوښه کړې ده. کۀ داسې وشی، نو ما ته به پته ولګې چې
تا زما د نېک سره خپله وعده پُوره کړې ده.“ ١٥ د دُعا ختمولو نه
مخکښې، رِبقه چې د هغې په ولی منګے وو راووتله. هغه د بتوايل لُور
وه، چې هغه د اِبراهيم د ورور ناحور اؤ د هغۀ د ښځې مَلِکه زوئ وو.
١٦ هغه ډېره ښائسته جينۍ وه اؤ لا وادۀ شوې نۀ وه. هغه لاندې چينې
ته لاړه، منګے يې ډک کړو اؤ راوختله. ١٧ د اِبراهيم نوکر د مِلاوېدو
د پاره هغې له ورمنډه کړل اؤ ورته يې ووئيل، ”ستا د منګی نه ما له
لږې اوبۀ راکړه.“ ١٨ هغې ووئيل، ”وڅښه، صاحِبه!“ اؤ هغې زر د
خپل ولی نه منګے راټيټ کړو اؤ چې هغۀ اوبۀ څښلې نو منګے يې
ورته نيولے وو. ١٩ چې کله هغې اوبۀ ورکړلې، هغې ووئيل، ”زۀ به ستا
اُوښانو له هم اوبۀ راوړم تر هغه پورې چې تنده يې ماته شی.“ ٢٠ هغې
زر زر د څاروو د اوبو په ډېکۍ کښې منګے تشولو اؤ چينې ته به د

نورو اوبو د پاره په منډه تله، تر دې پورې چې ټولو اُوښانو ښهٔ وڅښلې.
٢١ د هغه سړی په هغې باندې نظر وو اؤ غلے ولاړ وو، چې معلُوم کړی
چې مالِک خُدائ هغهٔ له په سفر کښې کاميابی ورکړې ده کهٔ نه.
٢٢ چې کله اُوښانو اوبهٔ وڅښلې، هغه سړی د سرو زرو يوه قيمتی نتکئ
هغې ته ورپه پوزه کړه اؤ دوه درنې د سرو زرو کَړی يې ورپه لاس کړې.
٢٣ هغهٔ ووئيل، ”ما ته ووايه چې ستا پلار څوک دے، د هغهٔ په کور
کښې زمُونږ د شپې تېرولو ځائ شته؟“ ٢٤ هغې جواب ورکړو، ”زما
پلار بتواېل دے، چې د ناحور اؤ مَلِکه زوئ دے. ٢٥ مُونږ سره ډېر
بُوس اؤ واښهٔ شته اؤ ستاسو د پاتې کېدو د پاره حُجره هم شته.“ ٢٦ بيا
هغه سړی خپل سر ټيټ کړو اؤ د مالِک خُدائ عِبادت يې وکړو.
٢٧ هغهٔ ووئيل، ”د مالِک خُدائ ثناء دې وی، چې زما د نيک اِبراهيم
خُدائ پاک دے، چې هغهٔ په رښتيا سره زما د نيک سره خپله وعده
پُوره کړې ده. مالِک خُدائ زما د نيک خپلوانو ته زهٔ نيغ راوستلم.“
٢٨ جينئ کور ته منډه کړه اؤ خپلې مور اؤ نورو ټولو ښځو ته يې ټوله
قيصه تېره کړه. ٢٩ د رِبقې يو ورور وو چې نُوم يې لابن وو، هغهٔ بهر
د چينې طرف ته منډه کړه چې چرته د اِبراهيم نوکر وو. ٣٠ لابن د
خپلې خور په پوزه نتکئ اؤ د هغې په لاسُونو کَړې ليدلې وې. اؤ رِبقې
دا خبره کوله چې لابن واؤرېدل څهٔ چې هغه سړی وئيلی وُو. هغه د
اِبراهيم نوکر له ورَغلو چې هغه د خپلو اُوښانو سره د چينې سره ولاړ
وو، ٣١ اؤ لابن ورته ووئيل، ”زما سره کور ته لاړ شه. تهٔ هغه سړے
يې چې مالِک خُدائ برکت درکړے دے. تهٔ دلته بهر ولې ولاړ يې؟
ما په خپل کور کښې ستا د پاره ځائ تيار کړے دے اؤ هلته ستا د

اُوښانو د پاره هم ځائ شته." ۳۲ نو هغه سړے دننه کور ته لاړو اؤ
لابن د اُوښانانو نه بارُونه کُوز کړل اؤ بُوس اؤ واښهٔ يې ورته واچول.
بيا هغهٔ د اِبراهيم د نوکر اؤ د هغهٔ د سړو د پاره اوبهٔ راوړې چې خپلې
خپې ووينځی. ۳۳ چې ډوډی يې کله راوړه، هغه سړی ووئيل، "تر هغه
پورې به زهٔ خوراک نهٔ کوم چې تر کُومې پورې ما هغه څهٔ وئيلی نهٔ
وی چې څهٔ وئيل غواړم." لابن ووئيل، "ټيک ده ووايه." ۳٤ هغهٔ خبره
شروع کړه، "زهٔ د اِبراهيم نوکر يم. ۳٥ مالِک خُدائ زما نيک له ډير
زيات برکت ورکړے دے اؤ هغه يې ډير مالدار کړے دے. هغهٔ له
يې د ګډو اؤ چېلو رَمې، څاروی، سپين زر، سرهٔ زر، غُلامان اؤ وينځې،
اُوښان اؤ خرهٔ هم ورکړی دی. ۳٦ زما د نيک د ښځې ساره نه چې
کله هغه بُوډۍ وه د هغهٔ يو زوئ وشو اؤ زما نيک هغهٔ له خپل هر څهٔ
ورکړی دی. ۳۷ زما نيک زما نه دا پوخ لوظ اخستے دے چې د هغهٔ
حُکم به منم. هغهٔ ووئيل، د کنعان د وطن د پېغلو نه زما زوئ له ښځه
مهٔ خوښوه. ۳۸ خو زما د پلار خلقو، زما خپلوانو ته لاړ شه اؤ د هغهٔ
د پاره ښځه خوښه کړه. ۳۹ اؤ ما د خپل نيک نه تپوس وکړو، فرض
کړه کهٔ هغه ښځه زما سره نهٔ راځی نو بيا؟ ٤٠ هغهٔ جواب راکړو چې
مالِک خُدائ، چې د کُوم ما همېشه فرمانبرداری کړې ده، هغه به خپله
فرِښته تا ته درولېږی اؤ کاميابی به درکړی. تهٔ به زما د زوئ د پاره زما
د خپلو خلقو نه، زما د پلار د کورنۍ نه، يوه ښځه پېدا کړې. ٤١ ستا
د پاره صِرف يوه لار شته چې د تړون نه آزاد شې: هغه دا چې کهٔ تهٔ
زما خپلوانو ته لاړ شې اؤ هغوئ تا ته اِنکار وکړی، نو بيا به تهٔ آزاد يې.
٤٢ چې نن زهٔ چينې ته راغلم، ما مالِک خُدائ ته سوال وکړو، اے

مالِکه خُدایه، زما د نېک اِبراهیم خُدایه پاکه! ما له په سفر کښې
کامیابی راکړه. ٤٣ زۀ دلته د چینې سره یم، کله چې یوه جینۍ اوبو
وړلو له راشی، نو زۀ به ورته ووایم چې ما له د خپل منګی نه لږې اوبۀ
راکړی. ٤٤ کۀ هغه ما له اؤ زما اُوښانو له هم اوبۀ ورکول وغواړی،
چې دا هم هغه ښځه وی چې تا زما د نېک زوئ د پاره خوښه کړې
ده. ٤٥ د هغې نه مخکښې چې ما پټه په زړۀ کښې دُعا ختمه کړې
وه، رِبقه چې د هغې په ولی منګے وو راغله اؤ لاندې چینې ته لاړه.
ما هغې ته ووئیل چې، څښلو له لږې اوبۀ راکړه. ٤٦ هغې زر د خپل
ولی نه منګے راټیټ کړو اؤ وې وئیل، اوبۀ وڅښه اؤ زۀ به ستا اُوښانو
له هم اوبۀ ورکړم. نو ما هم اوبۀ وڅښلې اؤ اُوښانو له یې هم ورکړې.
٤٧ ما د هغې نه تپوس وکړو، ستا پلار څوک دے؟ نو هغې جواب
راکړو، زما پلار بتوایل دے چې د ناحور اؤ مَلِکه زوئ دے. بیا ما
هغې له نتکۍ ورپه پوزه کړه اؤ کَړی مې ورپه لاس کړې. ٤٨ ما خپل
سر ټیټ کړو اؤ د مالِک خُدائ عِبادت مې وکړو. ما د مالِک خُدائ
ثناء ووئیله، چې زما د نېک اِبراهیم خُدائ پاک دے، چې هغۀ زۀ
سیدها زما د نېک خپلوانو ته روان کړے وم، چرته چې ما د خپل نېک
د زوئ د پاره د هغۀ د ورور لُور ومُوندله. ٤٩ نو کۀ تۀ زما د نېک سره
خپله ذِمه واری پُوره کول غواړې اؤ ښۀ سلُوک ورسره کوې، نو ما ته
ووایه اؤ کۀ نۀ وی نو هم ووایه، بیا به زۀ فېصله وکړم چې ما له څۀ
کول په کار دی.“ ٥٠ لابن اؤ بتوایل جواب ورکړو، ”دا خبره د مالِک
خُدائ نه راپېښه ده اؤ مُونږ ورته ښۀ یا بد نۀ شُو وئیلے. ٥١ دا رِبقه ده،
د ځان سره یې بوځه. هغه دې ستا د نېک د زوئ ښځه شی، لکه

چې څنګه مالِک خُدائ په خپله وئیلی دی.“ ۵۲ چې کله د اِبراهیم
نوکر دا خبره واؤرېده، هغه ټيټ شو اؤ د مالِک خُدائ عِبادت يې
وکړو. ۵۳ بیا هغۀ ورله جامې، سپین زر اؤ د سرو زرو کالی راوویستل
اؤ رِبقې له يې ورکړل. هغۀ د هغې ورور اؤ مور له هم قیمتی تُحفې
ورکړې. ۵٤ د دې نه پس، د اِبراهیم نوکر اؤ د هغۀ سره نورو سړو
خوراک څښاک وکړو اؤ هلته يې شپه تېره کړه. چې کله هغوئ سحر
پاڅېدل، هغۀ ووئیل، ”ما خپل نېک له واپس ولېږه.“ ۵۵ خو د رِبقې
ورور اؤ د هغې مور ووئیل، ”کم از کم لسو ورځو له دې هغه زمُونږ
سره ایساره شی، نو بیا دې لاړه شی.“ ۵۶ خو هغۀ ووئیل، ”مُونږ مۀ
ایساروئ. مالِک خُدائ زما سفر کامیاب کړے دے، ما خپل نېک له
واپس ولېږئ.“ ۵۷ هغوئ جواب ورکړو، ”مُونږ به رِبقه راوغواړُو اؤ د
هغې نه به تپوس وکړُو چې هغه څۀ وائی.“ ۵۸ نو هغوئ رِبقه راوغوښته
اؤ تپوس يې ترې وکړو، ”تۀ د دې سړی سره تلل غواړې څۀ؟“ هغې
جواب ورکړو، ”اؤ زۀ به لاړه شم.“ ۵۹ نو هغوئ رِبقه اؤ د کور یوه
زَړه خِدمتګاره د اِبراهیم د نوکر اؤ د هغۀ د سړو سره ولېږل. ٦۰ اؤ
دوئ د رِبقې د پاره برکت وغوښتلو اؤ ورته يې ووئیل چې: ”خورې تۀ
دې د زرګُونو مور شې، ستا اولاد دې د خپلو دُښمنانو په ښارُونو بریالے
شی.“ ٦۱ بیا رِبقه اؤ د هغې نوکرانې تیارې شوې اؤ په اُوښانو سورې
شوې چې د اِبراهیم د نوکر سره لاړې شی اؤ دوئ ټول روان شول.
٦۲ اِسحاق د ”بیرلحی‌روئ“ نه راغلے وو. اؤ د کنعان صحرا کښې
ایسار وو. ٦۳ هغه ماښام په پټو کښې چکر لګولو له ووتلو اؤ څۀ ګوری
چې اُوښان راروان وُو. ٦٤ چې کله رِبقې اِسحاق ولیدلو، هغه د خپل

اُوښ نه کُوزه شوه ⁽٦٥⁾ اۆ د اِبراهيم نوکر نه يې تپوس وکړو، ”هغه سړے
چې په پټى کښې زمُونږ طرف ته راروان دے څوک دے؟“ نوکر جواب
ورکړو، ”هغه زما نېک دے.“ نو هغې څادر واخستلو اۆ خپل مخ يې
پټ کړو. ⁽٦٦⁾ نوکر هغه هر څۀ اِسحاق ته ووئيل چې څۀ يې کړى وُو.
⁽٦٧⁾ بيا اِسحاق رِبقه خپلې هغه خېمې له راوستله چې د هغۀ مور ساره
په کښې اوسېدلې وه اۆ هغه يې ښځه شوه. اِسحاق د رِبقه سره مينه
کوله، نو هغۀ ته د خپلې مور د مرګ نه پس آرام مِلاۆ شو.

## د حضرت اِبراهيم نور اولاد

**(د تاريخ اول کِتاب ۱: ٣٢-٣٣)**

٢٥ ⁽١⁾ بيا اِبراهيم بله ښځه وکړه، چې د هغې نُوم قطوره وو.
⁽٢⁾ د هغې نه يې زمران، يُقسان، مِدان، ميديان، اسباق
اۆ سُوخ پيدا شول. ⁽٣⁾ يُقسان د سِبا اۆ دَدان پلار وو اۆ د دَدان اولاد
اسورى، لطُوسى اۆ لومى وو. ⁽٤⁾ د ميديان زامن عيفاه، عِفر، حنوک،
ابيداع اۆ الدوعا وُو. دا ټول د قطوره اولاد وو. ⁽٥⁾ اِبراهيم چې څۀ هم
لرل هغه يې اِسحاق ته ورکړل، ⁽٦⁾ هغۀ په خپل ژوندُون کښې هغه
زامنو له تُحفې ورکړلې چې د هغۀ د نورو ښځو نه پيدا شوى وُو. بيا
هغۀ دا زامن د خپل زوئ اِسحاق نه لرې، د نَمرخاتۀ وطن ته ولېږل.

## د حضرت اِبراهيم مرګ اۆ ښخېدل

⁽٧⁾ چې اِبراهيم د يو سل پينځۀ اۆياۆ کالو عُمر ته ورسېدو، ⁽٨⁾ نو
اِبراهيم ساه ورکړه اۆ ښۀ په پوخ عُمر کښې په حق ورسېدو اۆ د ډېر

عُمر سړے وو. ۹ د هغهٔ زامنو اِسحاق اؤ اِسمٰعیل، د ممرئ سره
نزدی د ضُعر د زوئ عِفرون حِتی په پټی کښې، د مکفیله په غار
کښې ښخ کړو. ۱۰ دا هغه پټے وو چې اِبراهیم د حِتیانو نه اخستے
وو، اِبراهیم اؤ د هغهٔ ښځه ساره دواړه هلته ښخ وُو. ۱۱ د اِبراهیم د
مرګ نه پس، خُدائ پاک د هغهٔ زوئ اِسحاق له برکت ورکړو، چې
هغه "بیرلحی‌روئ" ته نزدې اوسېدو.

## د حضرت اِسمٰعیل اولاد

**(د تاریخ اول کِتاب ۱: ۲۸-۳۱)**

۱۲ دا د اِبراهیم د زوئ اِسمٰعیل اولاد دے، اِسمٰعیل د هاجِرې
مِصری زوئ وو څوک چې د ساره وینځه وه. ۱۳ دا د اِسمٰعیل زامن
وُو، چې په دې ترتیب سره پیدا شوی وُو: نبایوت، قیدار، ادبیئل،
مِبسام، ۱۴ مِشماع، دُومه، مسه، ۱۵ حدد، تیما، یطور، نفیس اؤ قِدمه.
۱۶ دوئ د دولسو قبیلو پلاران وُو اؤ د دوئ نومُونه د دوئ په کلو اؤ
د اوسېدو ځایُونو باندې ایښے شوی وُو. ۱۷ اِسمٰعیل د یو سل اووهٔ
دېرشو کالو وو چې ساه یې ورکړه اؤ په حق ورسېدو. ۱۸ د اِسمٰعیل
اولاد د حویله اؤ شُور علاقې په مېنځ کښې اوسیدل دا د اسُور په
لاره مِصر سره نزدی وو. دوئ د اِبراهیم د نور اولاد نه جُدا اوسېدل.

## د حضرت عیساؤ اؤ حضرت یعقُوب پیدا کېدل

۱۹ دا د اِبراهیم د زوئ اِسحاق قیصه ده. ۲۰ اِسحاق د څلوېښتو
کالو وو چې کله هغهٔ د رِبقې، د بتواېل لُور، د لابن خور سره وادهٔ

وکړو. دوئ د میسوپوتامیه ارامی وُو. ۲۱ اِسحاق مالِک خُدائ ته
د خپلې ښځې د پاره سوال وکړو، ځکه چې هغه شنډه وه. مالِک
خُدائ د هغهٔ آواز واؤرېدو اؤ رِبقه اُمیدواره شوه. ۲۲ د هغې جوړه
بچی پیدا کېدُونکی وُو اؤ د پیدا کېدو نه مخکښې دوئ د مور په
خېټه کښې په ضد شول. نو هغې د مالِک خُدائ نه تپوس وکړو،
”په ما داسې ولې کېږی؟“

۲۳ مالِک خُدائ هغې ته ووئیل،
”ستا په خېټه کښې دوه قومُونه دی،
ستا نه دوه پیدا کېدُونکی قومُونه به د یو بل خِلاف وی.
یو به د بل نه طاقتور وی،
مشر به د کشر خِدمتګار وی.“

۲۴ د هغې د بچو د پیدا کېدو وخت راغلو اؤ د هغې جوړه زامن
پیدا شول. ۲۵ هغه مشر د رنګه سُور وو اؤ د هغهٔ خرمن د ببرې
چُوغې په شان وه، نو د هغهٔ نُوم یې عیساؤ کېښودو. ۲۶ هغه دویم
د عیساؤ پُونده ټینګه نیولې وه، نو د هغهٔ نُوم یعقُوب شو. اِسحاق د
شپېتو کالو وو چې دوئ پیدا شول.

## د حضرت عیساؤ د خپلې مشرۍ حقُونه خرڅول

۲۷ هلکان لوئ شول اؤ عیساؤ یو تکړه ښکاری شو اؤ د هغهٔ بهر
ګرځېدل خوښ وُو، خو یعقُوب غلے سړے وو چې د کور نه به نهٔ
وتلو. ۲۸ عیساؤ په اِسحاق ګران وو، ځکه چې عیساؤ به کُوم ځناور
ښکار کړل نو اِسحاق د دې د خوړلو شوقین وو، خو په رِبقه یعقُوب

ګران وو. ۲۹ يوه ورځ چې کله يعقُوب د کورښو ښوروا پخوله، عيساؤ
د ښکار نه راغلو. هغه وږې وو ۳۰ اؤ يعقُوب ته يې ووئيل، ”زۀ د
لوږې نه مرم، ما له لږه دا د سُور رنګ ښوروا راکړه.“ نو ځکه د هغۀ
نُوم ادوم شو. ۳۱ يعقُوب جواب ورکړو، ”زۀ به دا تا له په دې شرط
درکړم کۀ تۀ ما له د خپلې مشرئ حقُونه راکوې.“ ۳۲ عيساؤ ووئيل،
”ټيک ده، زۀ مرم، بيا به زما دا مشرتوب ما له څۀ فائده راکړى؟“
۳۳ يعقُوب جواب ورکړو، ”اول زما سره دا لوظ وکړه چې تۀ به خپل
ټول حقُونه ما له راکوې.“ نو عيساؤ ورسره لوظ وکړو اؤ يعقُوب ته
يې خپل حقُونه ورکړل. ۳۴ بيا يعقُوب هغۀ له ډوډئ اؤ څۀ ښوروا
ورکړه. هغۀ خوراک څښاک وکړو اؤ بيا پاڅېدو اؤ لاړو. نو داسې
عيساؤ د خپلې مشرئ حقُونو ته سپک وکتل.

## حضرت اِسحاق اؤ ابىمِلِک

۲٦ ۱ د هغې نه وروستو، په هغه وطن کښې يو بل قحط راغلو
کُوم چې مخکښې د اِبراهيم په وخت کښې راغلے وو.
اِسحاق په جرار کښې، د فلسطين بادشاه ابىمِلِک له ورَغلو. ۲ مالِک
خُدائ اِسحاق ته راڅرګند شو اؤ ورته يې ووئيل، ”مِصر ته مۀ ځه،
په دې وطن کښې اوسېږه، کُوم ځائ چې زۀ درته ښايم. ۳ دلته
اوسېږه اؤ زۀ به ستا مل شم اؤ برکت به درکړم. زۀ دا ټوله علاقه تا
اؤ ستا اولاد له درکوم. ما چې کُومه وعده ستا پلار اِبراهيم سره کړې
ده زۀ به هغه پُوره کړم. ٤ زۀ به تا له دومره ډېر اولاد درکړم لکه چې
په آسمان کښې ستورى دى اؤ زۀ به هغوئ له دا ټوله علاقه ورکړم.

ټولو قومُونو ته به ستا د اولاد په وسيله برکت ملاوېږى. ٥ زۀ به تا
له برکت درکړم، ځکه چې اِبراهيم زما فرمانبردارى کړې ده اؤ زما
ټول قانُونُونه اؤ حُکمونه يې پُوره کړى دى.“ ٦ نو اِسحاق په جرار
کښې اوسېدو. ٧ کله چې د هغه ځائ خلقو د هغۀ د ښځې په باره
کښې تپوس وکړو، هغۀ ووئيل چې هغه زما خور ده. هغۀ دا اِقرار ونۀ
کړو چې هغه يې ښځه ده، هغه يرېدو چې هسې نه چې خلق يې مړ
کړى اؤ رِبقه به ترې نه بوځى، ځکه چې هغه ډېره ښائسته وه. ٨ د
اِسحاق هلته د ډېر وخت اوسېدو نه پس، ابی‌مِلِک بادشاه د کړکۍ نه
لاندې وکتل اؤ وې ليدل چې اِسحاق خپله ښځه رِبقه غاړه ويستله.
٩ ابی‌مِلِک اِسحاق راوغوښتلو اؤ ورته يې ووئيل، ”نو دا معلُومه شوه
چې هغه ستا ښځه ده، تا ولې وئيلى دى چې هغه ستا خور ده؟“ هغۀ
جواب ورکړو، ”زما خيال دا وو چې کۀ دا مې ووئيل چې هغه زما
ښځه ده نو زۀ به ووژلے شم.“ ١٠ ابی‌مِلِک ورته ووئيل، ”دا تا زمُونږ
سره څۀ کړى دى؟ زما د خلقو نه يو سړے په آسانۍ سره ستا د ښځې
سره څملاستے شو اؤ تا به مُونږ ګُناهګار کړى وُو.“ ١١ ابی‌مِلِک ټولو
خلقو له خبردارے ورکړو: ”کۀ څوک دې سړى يا د هغۀ ښځې له
په بد نيت لاس وروړى نو خامخا به وژلے شى.“ ١٢ چې کله هغه
هلته اوسېدو، اِسحاق هلته زمکه وکَرله اؤ په هغه کال يې چې څومره
کَرلى وُو د هغه نه يو په سل زيات فصل يې وشو، ځکه چې مالِک
خُدائ هغۀ له برکت ورکړو. ١٣ هغه مالدار کېدو اؤ لوئ سړے شو.
١٤ ځکه چې د هغۀ ډېر نوکران، چېلۍ اؤ څاروى اؤ د ګډو ډېرې رَمې
وې، خو په فلسطينيانو هغه بد لګېدو. ١٥ چې کُوم کُوهى د اِبراهيم په

ژوند د اِبراهیم نوکرانو کنستلی وُو نو فلسطینیانو هغه کُوهی بند کړل
اؤ د خاورو نه یې ډک کړل. ١٦ ابی‌ملِک اِسحاق ته ووئیل، ”زمُونږ
د وطن نه بهر شه. تهٔ زمُونږ نه زیات تکړه شوے یې.“ ١٧ نو اِسحاق
لاړو اؤ د جرار په مېدان کښې یې خېمه ولګوله، چې هلته د څهٔ وخت
د پاره ایسار شو. ١٨ هغهٔ یو ځل بیا هغه کُوهی وکنستل کُوم چې د
اِبراهیم په وخت کښې کنستلے شوی وُو اؤ فلسطینیانو د اِبراهیم د
مرګ نه پس بند کړی وُو. اِسحاق به هغه کُوهی ته هم هغه نومُونه
اخستل کُوم چې د هغهٔ پلار پرې ایښی وُو. ١٩ د اِسحاق نوکرانو په
مېدان کښې یو کُوهے کنستلو اؤ هلته یې د اوبو یوه چینه ومُوندله.
٢٠ د جرار شپُونکی د اِسحاق د شپُونکو سره په جګړه شول اؤ وې
وئیل چې، ”دا اوبهٔ زمُونږ دی.“ نو اِسحاق په هغه کُوهی ”عِسق“
نُوم کېښودو، ځکه چې هغوئ د هغهٔ سره جګړه وکړه. ٢١ د اِسحاق
نوکرانو یو بل کُوهے وکنستلو اؤ په هغه باندې هم جګړه وشوه، نو
په هغې یې ”سِتنه“ نُوم کېښودو. ٢٢ هغه د دې ځائ نه لاړو اؤ یو
بل کُوهے یې وکنستلو. اؤ په هغې باندې هیڅ لانجه جوړه نهٔ شوه،
نو هغهٔ په دې کُوهی باندې ”رحوبت“ نُوم کېښودو. هغهٔ ووئیل،
”مالِک خُدائ اوس زمُونږ د پاره یو ځائ جوړ کړے دے چې په دې
وطن کښې اوسېږُو اؤ مُونږ به دلته آباد شُو.“ ٢٣ اِسحاق د دې ځائ
نه بیرسبع ته لاړو. ٢٤ په هغه شپه مالِک خُدائ هغهٔ ته راڅرګند شو
اؤ ورته یې ووئیل، ”زهٔ ستا د پلار اِبراهیم خُدائ پاک یم. یرېږه مه،
زهٔ ستا مل یم. زهٔ به تا له برکت درکړم اؤ د خپل خِدمت کوُونکی
اِبراهیم سره زما د وعدې په ذریعه به تا له ډېر اولاد درکوم.“ ٢٥ اِسحاق

هلته يوه قُربانګاه جوړه کړه اؤ د مالِک خُدائ عِبادت يې وکړو. بيا
هغۀ هلته خپله خېمه ولګوله اؤ د هغۀ نوکرانو بل کُوهے وکنستلو.

## د حضرت اِسحاق اؤ ابی‌مِلِک په مېنځ کښې د آمن مُعاهده

٢٦ ابی‌مِلِک د جرار نه د خپل مُشير اخوزت سره اؤ د خپل لښکر
مشر فيکُل سره د اِسحاق سره مِلاوېدو د پاره راغلو. ٢٧ نو اِسحاق
ترې تپوس وکړو، ”تۀ اوس زما سره مِلاوېدو له ولې راغلے يئ،
چې تۀ مخکښې زما سره ډېر بد وې اؤ زۀ دې د خپل وطن نه
بهر کړم؟“ ٢٨ هغوئ جواب ورکړو چې، ”مُونږ ته صفا پته ولګېده
چې مالِک خُدائ ستا مل دے اؤ زمُونږ خيال دا دے چې زمُونږ
په مېنځ کښې يو پوخ تړون په کار دے. مُونږ ستا سره تړون کول
غواړُو. ٢٩ چې تۀ به مُونږ ته نُقصان نۀ رسوې، لکه چې ځنګه
مُونږ تا ته نُقصان نۀ دے رسولے. اؤ مُونږ هيڅ بد تا سره نۀ دی
کړی اؤ په آمن سره ژوند تېرولو ته مو پرېښودلے وې. اؤ بې‌شکه
چې مالِک خُدائ تا له برکت درکړے دے.“ ٣٠ اِسحاق هغوئ
له غټه مېلمستيا وکړه اؤ هغوئ خوراک څښاک وکړو. ٣١ هغوئ
سحر وختی پاڅېدل اؤ يو بل ته يې قسمُونه وکړل. اِسحاق هغوئ
رُخصت کړل اؤ هغوئ د هغۀ نه په سلامتئ سره لاړل. ٣٢ هم په
هغه ورځ د اِسحاق نوکران راغلل اؤ هغۀ ته يې د هغه کُوهی په
باره کښې ووئيل چې کُوم هغوئ کنستلے وو. هغوئ ووئيل، ”مُونږ
اوبۀ مُوندلې دی.“ ٣٣ هغۀ په هغه کُوهی ”سِبع“ نُوم کېښودو. اؤ
تر ننه پورې د هغه ښار نُوم بير سِبع دے.

## د حضرت عیساؤ د بل وطن ښځې

۳۴ چې کله عیساؤ د څلوېښتو کالو وو، هغهٔ دوه حِتی ښځې د
بیرئ لُور یهودِتهٔ اؤ د ایلون لُور بشامه وادهٔ کړې. ۳۵ هغوئ د اِسحاق
اؤ رِبقه ژوند تریخ کړو.

## د حضرت اِسحاق حضرت یعقُوب له برکت ورکول

۲۷ ۱ چې کله اِسحاق ضعیف شو اؤ نظر یې کار پرېښودو،
هغهٔ خپل مشر زوئ عیساؤ راوغوښتو اؤ هغهٔ ته یې
ووئیل، ”اے زما زویه!“ هغهٔ جواب ورکړو، ”جی زهٔ حاضر یم.“
۲ اِسحاق ورته ووئیل چې، ”ګوره! زهٔ ضعیف یم اؤ کېدے شی
چې زر وفات شم. ۳ خپل غشې اؤ لینده راواخله، بهر پټو ته لاړ
شه اؤ زما د پاره ښکار وکړه. ۴ ما له زما د خوښې مزېدار خوراک
پوخ کړه اؤ ما له یې راوړه. چې کله هغه زهٔ وخورم، نو زهٔ به تا له
زما د مرګ نه مخکښې خپل آخری برکت درکړم.“ ۵ چې کله
اِسحاق عیساؤ ته دا خبرې کولې، نو رِبقه اؤرېدلې. اؤ چې عیساؤ
پټو ته ښکار د پاره لاړو، ۶ نو رِبقې یعقُوب ته ووئیل، ”ګوره! ما
ستا د پلار نه د عیساؤ سره دا خبرې واؤرېدې چې، ۷ ما له د ښکار
غوښه راوړه اؤ ما له یې پخه کړه. چې کله هغه وخورم، نو د مرګ
نه مخکښې به د مالِک خُدائ په وړاندې خپل برکت تا له درکړم.“
۸ رِبقې ورته وئیل، ”اوس زما زویه! زما خبره واوره اؤ چې څهٔ درته
وایم هم هغه شان وکړه. ۹ رَمې ته لاړ شه اؤ دوه څاربهٔ د چېلۍ

بچی راونيسه، نو زۀ به ترې مزېدار خوراک پوخ کړم کُوم چې ستا د
پلار ډېر خوښ دے. ۱۰ هغه تۀ خپل پلار له يوسه چې يې وخوری،
نو د مرګ نه مخکښې به هغه تا له خپل برکت درکړی.“ ۱۱ خو
يعقُوب خپلې مور ته ووئيل، ”تا ته پته ده چې د عيساؤ په څرمن
ويښتۀ شته خو زما په څرمن وېښتۀ نشته. ۱۲ کېدے شی چې زما
پلار ما له لاس راوړی اؤ هغۀ ته پته ولګی چې زۀ يې دهوکه کوم،
نو زۀ به په خپل ځان د برکت په ځائ لعنت راوړم.“ ۱۳ د هغۀ
مور ورته ووئيل، ”زما زويه! ستا لعنت دې په ما شی، بس هغه څۀ
وکړه چې څنګه زۀ درته وايم، لاړ شه اؤ ما له د چېلئ بچی راوله.“
۱۴ نو هغه لاړو اؤ هغه يې راونيول اؤ خپلې مور له يې راوستل اؤ د
هغۀ مور هغه مزېدار خوراک پوخ کړو کُوم چې د هغۀ د پلار ډېر
خوښ وو. ۱۵ بيا هغې عيساؤ له هغه خاص جامې راواخستلې، چې
کُومې هغې ورله په کور کښې ساتلې وې اؤ خپل کشر زوئ يعقُوب
ته يې ورواغوستلې. ۱۶ هغې د هغه چېلئ بچو څرمنې د هغۀ لاسُونو
اؤ د هغۀ څټ ته هم ورواغوستلې چرته چې وېښتۀ نۀ وُو. ۱۷ رِبقې
هغۀ له هغه مزېدار خوراک ورکړو اؤ چې کُومه ډوډئ يې پخه کړې
وه هغه يې هم ورکړه. ۱۸ بيا يعقُوب خپل پلار له ورَغلو اؤ ورته يې
ووئيل، ”زما پلاره!“ هغۀ جواب ورکړو، ”ښه، تۀ زما کُوم زوئ يې؟“
۱۹ يعقُوب جواب ورکړو، ”زۀ ستا مشر زوئ عيساؤ يم، ما هم هغه
شان کړی دی چې څنګه تا ما ته ووئيل. اوس لږ کښېنه اؤ د ښکار
غوښه وخوره چې کُومه ما درله راوړې ده، نو تۀ به ما له خپل برکت
راکړې.“ ۲۰ اِسحاق ورته ووئيل، ”زما زويه! دومره زر تا ښکار څنګه

وکړو؟“ یعقُوب جواب ورکړو، ”مالِک خُدائ، ستا خُدائ پاک زۀ
کامیاب کړم.“ ۲۱ اِسحاق یعقُوب ته ووئیل، ”زما زویه! لږ رانزدې
شه چې تا له لاس دروړم. تۀ په رښتیا عیساؤ یې څۀ؟“ ۲۲ یعقُوب
خپل پلار ته ورنزدې شو، هغۀ له یې لاس ورووړو اؤ وې وئیل چې،
”ستا آواز د یعقُوب د آواز په شان دے، خو ستا لاسُونه د عیساؤ د
لاسُونو په شان دی.“ ۲۳ هغۀ یعقُوب ونۀ پیژندلو، ځکه چې د هغۀ
لاسُونه د عیساؤ په شان د ویښتو نه ډک وُو. یعقُوب هغۀ له د برکت
په ورکولو وو، ۲۴ خو چې بیا یې ترې نه تپوس وکړو، ”تۀ په رښتیا
عیساؤ یې؟“ هغۀ جواب ورکړو، ”اؤ زۀ عیساؤ یم کنه.“ ۲۵ اِسحاق
ووئیل، ”ما له د ښکار غوښه لږه رانزدې کړه. چې زۀ هغه وخورم،
زۀ به تا له خپل برکت درکړم.“ یعقُوب ورله هغه راوړه اؤ هغۀ ورله
څۀ شراب هم څښلو له راوړل. ۲۶ بیا د هغۀ پلار هغۀ ته ووئیل، ”زما
زویه! رانزدې شه اؤ ښُکل مې کړه.“ ۲۷ چې هغه ښُکلولو له ورته
راغلو په اِسحاق د هغۀ د جامو بُوئ ولګېدو. نو هغۀ خپل برکت
ورکړو. هغۀ ووئیل، ”آه! زما د زوئ وږمه د پټو د بُوئ په شان ده
کُومې له چې مالِک خُدائ برکت ورکړے دے. ۲۸ خُدائ پاک دې
تا له د آسمان نه پرخه درکړی اؤ ستا زمکه دې شنه کړی، هغه دې
تا له ډېره زیاته غله اؤ د انګُورو شراب درکړی، ۲۹ قومُونه دې ستا
خِدمتګاران شی اؤ خلق دې ستا په مخکښې ټیټ شی. تۀ دې په
خپلو خلقو حکومت وکړې اؤ ستا د مور اولاد دې تا ته ټیټ شی.
چې په تا څوک لعنت وائی په هغوئ دې لعنت وی اؤ چې څوک
تا له برکت غواړی په هغوئ دې برکت وی.“

## د حضرت عيساؤ د حضرت اِسحاق نه برکت غوښتل

۳۰ چې کله اِسحاق خپل برکت ورکول ختم کړل، نو چې څنګه
يعقُوب لاړو، نو د هغۀ وررور عيساؤ د ښکار نه راغلو. ۳۱ هغۀ
هم مزېدار خوراک پوخ کړو اؤ هغه يې خپل پلار له راوړو. هغۀ
ووئيل، ”پلاره! لږ راپاڅه اؤ د ښکار غوښه وخوره چې کُومه ما
تا له راوړې ده، نو تۀ به ما له خپل برکت راکړې.“ ۳۲ اِسحاق
تپوس وکړو، ”تۀ څوک يې؟“ هغۀ جواب ورکړو، ”ستا مشر
زوئ عيساؤ يم.“ ۳۳ اِسحاق ويرېدو اؤ ټول رپېدلو اؤ هغۀ تپوس
وکړو، ”نو بيا هغه څوک وو، چې ښکار يې وکړو اؤ هغه غوښه
يې ما له راوړه؟ ستا د راتلو نه لږ مخکښې ما هغه وخوړه. ما
هغۀ له خپل آخرى برکت ورکړو، نو دا د هغۀ د هميشه د پاره
دے.“ ۳۴ چې کله عيساؤ دا واؤرېدل، هغۀ ډېر په چغو چغو
وژړل اؤ وې وئيل، ”اے پلاره، ما له هم خپل برکت راکړه!“
۳۵ اِسحاق جواب ورکړو، ”ستا وررور راغلو اؤ دهوکه يې کړم.
هغۀ ستا برکت وړے دے.“ ۳۶ عيساؤ ووئيل، ”په دې کښې هيڅ
شک نشته د هغۀ نُوم يعقُوب دے. دا دويم ځل دے چې هغۀ
زما ځائ په چل نيولے دے، اول يې زما د مشرئ حق واخستو
اؤ اوس يې زما برکت هم واخستو. تا زما د پاره برکت نۀ دے
پرېښے څۀ؟“ ۳۷ اِسحاق جواب وکړو، ”ما هغه په تا اِختيارمن
کړے دے اؤ ما د هغۀ ټول خپلوان د هغۀ نوکران کړی دی. ما
هغۀ له غله اؤ د انګُورو شراب ورکړی دی. زما زويه! اوس داسې

هيڅ هم نشته چې ستا د پاره يې زۀ وکړم.“ ۳۸ عيساؤ خپل پلار
ته سوال زاری کوله: ”پلاره! تا سره صِرف يو برکت وو څۀ؟
پلاره! ما له هم برکت راکړه.“ هغۀ ډېره زياته ژړا شروع کړه.
۳۹ بيا اِسحاق هغۀ ته ووئيل،

”ستا د پاره به د آسمان نه پرخه نۀ وی،
ستا د پاره به زمکه شنه نۀ وی.
۴۰ تۀ به د خپلې تُورې په زور ژوند تېروې،
خو د خپل ورور به تۀ غُلام يې.
چې کله تۀ باغی شې،
نو د هغۀ پړی به وشلوې.“

۴۱ عيساؤ د يعقُوب سره کينه ساتله، ځکه چې د هغۀ پلار،
يعقُوب له هغه برکت ورکړے وو. هغۀ د خپل ځان سره ووئيل،
”زما د پلار مرګ نزدې دے چې کله زما پلار وفات شی، نو
بيا به زۀ يعقُوب ووژنم.“ ۴۲ خو رِبقه د خپل مشر زوئ عيساؤ
د دې خبرې نه خبر شوه، نو هغې يعقُوب راوغوښتلو اؤ ورته يې
ووئيل، ”دا خبره واوره! ستا ورور عيساؤ بدل اخستل غواړی اؤ تا
وژل غواړی. ۴۳ نو زما زويه! چې څۀ زۀ وايم هم هغه شان وکړه.
سمدستی لابن له وتښته چې په حاران کښې دے، ۴۴ اؤ د هغۀ
سره د څۀ وخت د پاره پاتې شه، چې ستا د ورور غُصه سړه شی
۴۵ اؤ چې د هغۀ هغه څۀ هېر شی چې تا ورسره کړی دی. بيا به
زۀ څوک درولېږم چې تا واپس راولی. زۀ دې خپل دواړه زامن په
يوه ورځ ولې بايلم؟“

## د حضرت اِسحاق د حضرت یعقُوب لابن له لیږل

۴۶ رِبقې اِسحاق ته ووئیل، "زهٔ د عیساؤ د بل وطن د ښځو په وجه
په خپل ژوند کښې تنګه یم. کهٔ یعقُوب هم د دې وطن د حِتیٔ ښځو
نه د یوې حِتیٔ ښځې سره وادهٔ وکړو، نو زما د پاره به مرګ ښهٔ وی."

**۲۸**

۱ اِسحاق یعقُوب راوغوښتلو، په مخه ښه یې ورته ووئیل
اؤ هغهٔ له یې حُکم ورکړو، "د یوې کنعانیٔ جینیٔ سره
وادهٔ ونهٔ کړې. ۲ سمدستی میسوپوتامیه ته، د خپل نیکهٔ بتوایل کور
ته لاړ شه اؤ هلته د خپل ماما لابن د لُوڼو نه یوې سره وادهٔ وکړه.
۳ قادر خُدائ پاک دې ستا وادهٔ بختور کړی اؤ ډېر اولاد دې
درکړی، نو تهٔ به د ډېرو قومُونو پلار شې، ۴ هغه دې تا اؤ ستا اولاد
له برکت درکړی لکه څنګه چې هغهٔ اِبراهیم له برکت ورکړے وو اؤ
دا وطن دې ستا شی، چې په کُوم کښې تهٔ مُسافر وې اؤ چې کُوم
خُدائ پاک اِبراهیم له ورکړے وو." ۵ نو څکه اِسحاق یعقُوب په
میسوپوتامیه کښې، لابن له ولیږلو، چې هغه د بتوایل ارامی زوئ وو
اؤ د رِبقې ورور وو، کومه چې د یعقُوب اؤ عیساؤ مور وه.

## د حضرت عیساؤ بلې ښځې سره وادهٔ کول

۶ عیساؤ ته دا پته ولګېده چې اِسحاق یعقُوب له برکت ورکړے
وو اؤ د ښځې لټولو د پاره یې هغه میسوپوتامیه ته لیږلے وو. هغهٔ ته دا
هم پته وه چې کله اِسحاق هغهٔ له برکت ورکړو اؤ یعقُوب له یې حُکم
ورکړو چې د یوې کنعانیٔ ښځې سره به وادهٔ نهٔ کوی. ۷ هغهٔ ته پته

ولګېده چې يعقُوب د خپل پلار اؤ مور خبره منلې وه اؤ ميسوپوتاميه
ته تلے وو. ۸ نو عيساؤ پوهه شو چې د هغۀ د پلار اِسحاق کنعانى
ښځې خوښې نۀ دى. ۹ نو هغه د اِبراهيم زوئ اِسمٰعيل له لاړو اؤ
د هغۀ لُور مَهلت سره يې وادۀ وکړو، چې هغه د نبايوت خور وه.

## د حضرت يعقُوب په بيت‌ايل کښې خوب ليدل

۱۰ يعقُوب د بيرسبع نه لاړو اؤ د حاران په طرف روان شو. ۱۱ نمر
په پرېوتو وو چې هغه يو خاص ځائ ته راغلو اؤ په هغه شپه هلته پاتې
شو. هغه د اُودۀ کېدو د پاره څملاستو اؤ خپل سر يې په يو کاڼي
کېښودو. ۱۲ هغۀ په خوب کښې وليدل چې يوه پوړۍ د زمکې نه
آسمان پورې ختلې ده اؤ دا يې هم وليدل چې د خُدائ پاک فرِښتې
په دې باندې بره لاندې، ختلې اؤ راکُوزېدلې. ۱۳ اؤ ګوره! هغۀ
په خوب کښې وليدل چې مالِک خُدائ د هغۀ سره ولاړ وو. هغۀ
ووئيل، "زۀ مالِک خُدائ يم، د اِبراهيم اؤ د اِسحاق خُدائ پاک يم،
زۀ به تا اؤ ستا اولاد له دا زمکه ورکوم چې په کُومه تۀ ملاست يې.
۱۴ هغوئ به د زمکې د شګو په شان زيات شى. دوئ به خپله علاقه
په هر طرف خوره کړى، ستا اؤ ستا د اولاد په وجه به زۀ د دُنيا ټولو
قومُونو له برکت ورکړم. ۱۵ ياد ساته! زۀ به ستا مل يم اؤ چې چرته
هم ځې نو زۀ به ستا حِفاظت کوم اؤ زۀ به تا واپس دې زمکې ته
راولم. زۀ به تا تر هغې پورې نۀ پرېږدم چې ما تا سره خپله وعده پُوره
کړې نۀ وى." ۱۶ يعقُوب د خوب نه پاڅېدو اؤ وې وئيل، "بې‌شکه
چې مالِک خُدائ دلته دے، هغه په دې ځائ کښې دے، خو ما ته

پته نۀ وه.“ ۱۷ هغه یرېدو اؤ د ځان سره یې ووئیل، ”دا ځائ خو د
یرې نه ډک دے! دا به خامخا د خُدائ پاک کور وی، دا به خامخا
د آسمان دروازه وی.“ ۱۸ چې کله یعقُوب بل سحر پاڅېدو، هغه
کاڼے یې راواخستلو چې په کُوم یې سر ایښے وو اؤ د یو یادګار په
توګه یې ودرولو. بیا هغۀ په دې باندې تېل واچول چې خُدائ پاک
ته وقف شی. ۱۹ هغۀ په هغه ځائ بیت‌ایل نُوم کېښودو. دا ښار
مخکښې د لُوز په نُوم مشهُور وو. ۲۰ بیا یعقُوب د خُدائ پاک سره
وعده وکړه: ”کۀ تۀ زما مل یې اؤ په دې سفر کښې زما حِفاظت
کوې اؤ ما له خوړلو له ډوډۍ راکوې اؤ اغوستلو له جامې راکوې،
۲۱ اؤ کۀ زۀ په حِفاظت سره بیا د خپل پلار کور ته راشم، نو تۀ به
زما خُدائ پاک یې. ۲۲ دا د یادګار کاڼے چې کُوم ما ودرولے دے،
دا به هغه ځائ وی چې چرته به ستا عِبادت کېږی اؤ چې تۀ ما له
څۀ راکوې د هغې لسمه برخه به زۀ خامخا تا له درکوم.“

## د حضرت یعقُوب د لابن کور ته رسېدل

**۲۹** ۱ بیا یعقُوب په خپل سفر روان وو اؤ د نَمرخاتۀ په طرف
د خلقو وطن ته لاړو. ۲ چې څنګه هغۀ وکتل نو هغۀ په
مېدان کښې یو کُوهے ولیدو اؤ وې لیدل چې درې رَمې ورسره پرتې
وې. هغه رَمو به د دې کُوهی نه اوبۀ څښلې اؤ د هغه کُوهی په خُله
یوه غټه تیږه پرته وه. ۳ اؤ چې کله به ټولې رَمې هلته راغونډې شوې،
نو شپانو به هغه تیږه لرې کوله اؤ اوبۀ به یې ورکولې. بیا به هغوئ
هغه تیږه واپس په خپل ځائ د کُوهی په خُله کېښودله. ۴ یعقُوب

د شپانو نه تپوس وکړو، "زما ورُونړو! تاسو د کُوم ځائ يئ؟" هغوئ
جواب ورکړو، "مُونږ د حاران يُو." ۵ هغهٔ ترې تپوس وکړو، "تاسو
د ناحور نمسے، لابن پيژنئ؟" هغوئ ورته ووئيل، "اؤ مُونږ يې پيژنُو."
۶ هغهٔ ترې تپوس وکړو، "هغه څنګه دے؟" هغوئ جواب ورکړو،
"هغه ښهٔ دے، ګوره! دلته د هغهٔ لُور راحيل د خپلو رَمو سره راروانه
ده." ۷ يعقُوب ووئيل، "ګوره تر اوسه پورې نمر اُوچت ولاړ دے
اؤ د رَمو د راغونډولو وخت لا نهٔ دے، تاسو ولې اوبهٔ نهٔ ورکوئ اؤ
واپس يې څرولو له نهٔ بوځئ؟" ۸ هغوئ جواب ورکړو، "مُونږ داسې
تر هغې پورې نهٔ شُو کولے چې ټولې رَمې راغونډې نهٔ وى. اؤ چې
کله هغه تيږه لرې کړے شى، نو بيا به مُونږ رَمو له اوبهٔ ورکوُو."
۹ يعقُوب لا د هغوئ سره خبرې کولې چې راحيل د خپل پلار د
رَمې سره راورسيدله، ځکه چې هغه شپُونکې وه. ۱۰ چې کله يعقُوب
خپله د ماما لُور راحيل د هغې د پلار د رَمې سره وليده، نو هغه
کُوهى له ورَغلو، د کُوهى د خُلې نه يې تيږه لرې کړه اؤ د لابن رَمو
له يې اوبهٔ ورکړې. ۱۱ بيا يعقُوب، هغه ښُکله کړه اؤ د خوشحالئ
نه په ژړا شو، ۱۲ هغهٔ راحيل ته ووئيل، "زهٔ ستا د پلار رِشته‌دار، د
رِبقې زوئ يم." هغې منډه کړه چې خپل پلار ته ووائى، ۱۳ اؤ چې
کله لابن د خپل خورئى يعقُوب په حقله واؤريدل، نو هغهٔ مِلاويدو
له ورمنډه کړه، هغهٔ ته غاړه وتلو اؤ ښُکل يې کړو اؤ هغه يې کور ته
دننه راوستلو. يعقُوب لابن ته هغه هر څهٔ ووئيل چې څهٔ شوى وُو.
۱۴ لابن ووئيل، "په رښتيا سره، تهٔ زما خپله وينه يې." يعقُوب هلته
پُوره مياشت ايسار شو.

## د حضرت یعقُوب دوه ودُونه کول

۱۵ لابن یعقُوب ته ووئیل، ”تا له صِرف زما د خپلوالئ په وجه زما
خِدمت کول نۀ دی په کار. ما ته ووایه، چې تۀ به څومره مزدُوری
غواړې؟“ ۱۶ نو د لابن دوه لُوڼه وې، د مشرې نُوم لِیاه اؤ د کشرې
راحیل وو. ۱۷ د لِیاه سترګې ښُکلې وې، خو راحیل د بدن نه ښُکلې
وه. ۱۸ یعقُوب د راحیل سره مینه کوله، نو ځکه هغۀ ووئیل، ”زۀ به
ستا د کشرې لُور راحیل د پاره ستا اووۀ کاله خِدمت کوم.“ ۱۹ لابن
جواب ورکړو، ”هغه چې بل چا له ورکوم د هغې نه دا ښۀ ده چې
تا له یې درکړم، دلته زما سره اوسېږه.“ ۲۰ نو یعقُوب د راحیل د پاره
اووۀ کاله خِدمت وکړو اؤ هغه وخت په هغۀ باندې صِرف د یو څو
ورځو په شان تېر شو، ځکه چې هغۀ د راحیل سره مینه کوله. ۲۱ بیا
یعقُوب لابن ته ووئیل، ”هغه وخت پُوره شوے دے، ستا لُور راکړه
چې وادۀ یې کړم.“ ۲۲ نو لابن د وادۀ ډوډئ وکړه اؤ ټول خلق یې
راوغوښتل. ۲۳ خو په هغه شپه، د راحیل په ځائ هغۀ لِیاه یعقُوب
له بوتله اؤ یعقُوب د هغې سره څملاستو. ۲۴ لابن خپله وینځه زِلفه
خپلې لُور لِیاه له د خِدمتګارۍ په توګه ورکړه. ۲۵ چې کله سحر
شو، یعقُوب ته پته ولګېده چې دا خو لِیاه ده. هغه لابن له ورَغلو
اؤ ورته یې ووئیل، ”دا تا زما سره څۀ کړی دی؟ ما خو د راحیل
د پاره خِدمت کړے دے. تا زۀ ولې دهوکه کړے یم؟“ ۲۶ لابن
جواب ورکړو، ”دلته دا رِواج نۀ دے چې کشره لُور دې د مشرې
نه مخکښې وادۀ شی. ۲۷ صبر وکړه چې د وادۀ اوومه تېره شی، نو

زۀ به راحيل هم تا له درکړم، خو کۀ تۀ زما نور اووۀ کاله خِدمت
وکړې.“ ۲۸ يعقُوب راضى شو اؤ چې کله د وادۀ اووۀ ورځې پوره
شوې، لابن هغۀ له خپله لُور راحيل هم ورکړه چې ښځه يې شى.
۲۹ لابن خپله وينځه بِلهاه خپلې لُور راحيل له ورکړه چې خِدمتګاره
يې شى. ۳۰ يعقُوب د راحيل سره هم څملاستو اؤ هغۀ د هغې سره
د لِياه نه زياته مينه کوله. بيا هغۀ د لابن نور اووۀ کاله خِدمت وکړو.

## د حضرت يعقُوب بچى پيدا کېدل

۳۱ چې کله مالِک خُدائ دا وليدل چې د لِياه سره مينه نۀ کېدله،
نو مالِک خُدائ هغې له اولاد ورکړو، خو راحيل شنډه پاتې شوه.
۳۲ لِياه اُميدواره شوه اؤ يو زوئ يې پېدا شو. هغې ووئيل، ”مالِک
خُدائ زۀ په تکليف کښې ليدلې يم اؤ اوس به زما خاوند زما سره
مينه کوى.“ نو د هغۀ نُوم يې روبين کېښودو. ۳۳ هغه بيا اُميدواره
شوه اؤ يو بل زوئ يې پېدا شو. نو هغې ووئيل، ”مالِک خُدائ ما
له دا زوئ هم راکړے دے، ځکه چې هغۀ ته پته وه چې زما نه
کرکه کېږى.“ نو د هغۀ نُوم يې شمعُون کېښودو. ۳۴ هغه يو ځل بيا
اُميدواره شوه اؤ د هغې يو بل زوئ وشو. هغې ووئيل، ”زما د خاوند
زړۀ به اوس په ما پورې نور هم تړلے وى، ځکه چې زما نه د هغۀ
درې زامن پېدا شول.“ نو د هغۀ نُوم يې ليوى کېښودو. ۳۵ بيا هغه
يو ځل بيا اُميدواره شوه اؤ يو بل زوئ يې پېدا شو. هغې ووئيل، ”دا
ځل به زۀ د مالِک خُدائ ثناء ووايم.“ نو هغې د هغۀ نُوم يهُوداه
کېښودو. بيا د هغې نور بچى پېدا نۀ شول.

# ۳۰

۱ خو د راحيل نه د يعقُوب هيڅ بچى پېدا شوى نۀ
وُو. نو په راحيل خپله خور بده لګېده اؤ يعقُوب ته يې
ووئيل، ”زۀ غواړم چې زما نه دې هم بچى وى ګنى زۀ به مړه شم.“
۲ يعقُوب راحيل ته غُصه شو اؤ وې وئيل، ”زۀ څۀ خُدائ پاک خو
نۀ يم چې تا له د بچو نِعمت نۀ درکوى.“ ۳ هغې ووئيل، ”زما
وينځه بِلهاه بوځه، د هغې سره څمله، نو د هغې به زما د پاره بچى
پېدا شى. اؤ د هغې په وجه به زما کور آباد شى.“ ۴ نو هغې بِلهاه
خپل خاوند له ورکړه اؤ هغه د هغې سره څملاستو. ۵ بِلهاه اُميدواره
شوه اؤ د يعقُوب يو زوئ ترې پېدا شو. ۶ راحيل ووئيل، ”خُدائ
پاک زما په حق کښې فېصله کړې ده. هغۀ زما سوال اؤرېدلے دے
اؤ ما له يې يو زوئ راکړے دے“ نو د هغۀ نُوم يې دان کېښودو.
۷ بِلهاه يو ځل بيا اُميدواره شوه اؤ د يعقُوب ترې دويم زوئ وشو.
۸ راحيل ووئيل، ”ما د خپلې خور سره لويه مُقابله کړې ده. خو
ما ګټلې ده“ نو د هغۀ نُوم يې نفتالى کېښودو. ۹ چې کله لِياه
ته دا پته ولګېده چې د هغې به نور بچى نۀ کېږى، نو هغې خپله
وينځه زِلفه يعقُوب له ورکړه چې ښځه يې شى. ۱۰ بيا د زِلفه نه د
يعقُوب يو زوئ وشو. ۱۱ لِياه ووئيل، ”زۀ بختوره يم“ نو د هغۀ نُوم
يې جاد کېښودو. ۱۲ د زِلفه نه د يعقُوب يو بل زوئ وشو، ۱۳ اؤ
لِياه ووئيل، ”زۀ څومره خوشحاله يم! اوس به ښځې ما ته خوشحاله
وائى“ نو هغې د هغۀ نُوم اشير کېښودو. ۱۴ د غنمو د لَو په وخت
روبين پټو ته لاړو اؤ هلته يې هغه بُوټى ومُوندل د کُومو په ذريعه چې
د زنانه حمل لګېدلو اؤ هغه يې خپلې مور لِياه له راوړل. راحيل لِياه

ته ووئیل، ”ما له خو ستا د زوئ بُوټی لږ راکړه.“ ۱۵ لِیاه جواب
ورکړو، ”دا څۀ وړه خبره ده چې زما خاوند دې رانه قبضه کړے
دے؟ اؤ اوس تۀ وائې چې ما له هغه د حمل بُوټی راکړه کوم چې
ستا زوئ راوړی دی.“ راحیل ووئیل، ”کۀ تۀ ما له ستا د زوئ هغه
بُوټی راکړې، نو تۀ نن شپه د یعقُوب سره څملاستے شې.“ ۱۶ چې
کله یعقُوب ماښام د پټو نه راغلو، لِیاه بهر مِلاوېدو له هغۀ له ورغله
اؤ وې وئیل، ”تۀ به خامخا نن زما سره څملې، ځکه چې ما د خپل
زوئ د حمل بُوټی ستا په سر ورکړی دی.“ نو په هغه شپه د هغې
سره څملاستو. ۱۷ خُدائ پاک د لِیاه سوال واؤرېدو اؤ هغه اُمیدواره
شوه اؤ د یعقُوب ترې پینځم زوئ وشو. ۱۸ لِیاه ووئیل، ”خُدائ
پاک ما له خپل اجر راکړے دے، ځکه چې ما خپله وینځه خپل
خاوند له ورکړه“ نو هغې په خپل زوئ یساکار نُوم کېښودو. ۱۹ لِیاه
بیا اُمیدواره شوه اؤ د یعقُوب ترې شپږم زوئ وشو. ۲۰ هغې ووئیل،
”خُدائ پاک ما له یوه ښُکلې تُحفه راکړې ده. اوس به زما خاوند
زما قدر کوی، ځکه چې زما نه د هغۀ شپږ زامن پېدا شوی دی“
نو هغې د هغۀ نُوم زبولون کېښودو. ۲۱ وروستو د هغې یوه لُور پېدا
شوه، چې د هغې نُوم یې دینه کېښودو. ۲۲ بیا خُدائ پاک راحیل
رایاده کړه، هغۀ د هغې سوال قبُول کړو اؤ هغې له یې هم بچی
ورکړل. ۲۳ هغه اُمیدواره شوه اؤ یو زوئ یې پېدا شو. هغې ووئیل،
”خُدائ پاک ما له یو زوئ راکړو نو زۀ یې د پېغور نه خلاصه کړم.
۲۴ نو هغې د هغۀ نُوم یُوسف کېښودو. مالِک خُدائ دې ما له یو
بل زوئ هم راکړی.“

## د حضرت یعقُوب رَمې زیاتېدل

۲۵ د یُوسف د پېدا کېدو نه پس، یعقُوب لابن ته ووئیل، ”ما له
اِجازت راکړه، چې زۀ خپل کور اؤ خپل وطن ته واپس لاړ شم.
۲۶ ما له زما ښځې اؤ زامن راکړه چې ما ستا خِدمت کولو کښې
گټلې دی اؤ زۀ به لاړ شم. ځکه چې تا ته پته ده چې ما ستا څومره
ښۀ خِدمت کړے دے.“ ۲۷ لابن هغۀ ته ووئیل، ”کۀ زۀ ستا په
نظر کښې ښۀ یم نو یوه خبره به وکړم: ما ته غیبانه پته لگېدلې ده
چې هم ستا په وجه مالِک خُدائ ما له برکت راکړے دے. ۲۸ چې
تۀ څومره مزدُوری غواړې نو ووایه اؤ زۀ به یې درکړم.“ ۲۹ یعقُوب
جواب ورکړو، ”تا ته په خپله پته ده چې ما ستا څومره خِدمت
کړے دے اؤ ستا رَمې زما سره څومره زیاتې شوې دی. ۳۰ ځکه
چې تا زما د راتلو نه مخکښې لږ څۀ لرل اؤ اوس ډېر زیات شول
اؤ چې ما چرته هم ستا رَمې بوتلې دی مالِک خُدائ تا له برکت
درکړے دے. اوس هغه وخت راغلے دے چې زۀ د خپلې کورنئ
خیال وساتم.“ ۳۱ لابن ترې تپوس وکړو، ”زۀ تا له څۀ درکړم؟“
یعقُوب جواب ورکړو، ”زۀ درنه هیڅ مزدُوری نۀ غواړم. زۀ به بیا
ستا رَمې څروم اؤ ساتم کۀ تۀ زما د پاره یو کار وکړې: ۳۲ نن به
زۀ ستا په ټولو رَمو کښې وگرځم اؤ هر تور گډُورے اؤ ټولې ټکی
ټکی اؤ برَگې چېلئ به راوباسم. بس دا ټوله مزدُوری ده چې زۀ یې
غواړم. ۳۳ په راتلُونکی وخت کښې به تا ته په آسانئ سره پته ولگې
کۀ زۀ رښتُونے سړے یم. چې کله تۀ بیا د دې کتلو له راشې، کۀ

زما سره توره ګډه، ټکی ټکی یا برَګې چېلۍ نۀ وی، نو تۀ به پوهه
شې چې پټې کړے شوې دی." ۳۴ لابن جواب ورکړو، "ټیک ده.
مُونږ به هم ستا په خبره کار کوُو." ۳۵ خو په هغه ورځ لابن هغه
چېلی چې کرښې پرې وې یا برَګ وُو هغه یې بېل کړل اؤ هغه ټولې
چېلۍ چې ټکی ټکی اؤ برَګې وې اؤ تورې ګډې یې هم ترې لرې
کړې. اؤ هغۀ دا د خپلو زامنو په حواله کړې، ۳۶ اؤ بیا د دې رَمې
سره د یعقُوب نه د دریو ورځو د مزل برابر لرې لاړو. یعقُوب د لابن
پاتې رَمې ساتلې. ۳۷ یعقُوب د سپېدار، بادام اؤ چِنار د ونو شنې
څانګې راماتې کړې اؤ پوستکی یې ترې لرې کړل نو په دې څانګو
باندې سپینې کرښې راووتلې. ۳۸ هغۀ دا څانګې د رَمو په مخکښې
د اوبو په ډیګو کښې کېښودې. هغۀ دا هلته پرېښودې، ځکه چې
کله به څاروی اوبو څښلو له راتلل نو هلته به مال کېدل. ۳۹ نو چې
دا د څانګو په مخکښې مال شوې نو هغوئ د کرښو والا، ټکی
ټکی اؤ برَګ بچی راوړل. ۴۰ یعقُوب ګډې د چېلو نه بېلې ساتلې
اؤ هغۀ د هغوئ مخُونه د لابن د کرښو والا اؤ تورو څاروو ته کړل.
نو هغۀ خپله رَمه جوړه کړه اؤ دا یې د لابن د رَمې نه جُدا کړه.
۴۱ چې کله تکړه څاروی مال کېدل، یعقُوب د هغوئ په مخکښې
د اوبو په هغه ډیګو کښې څانګې کېښودې، نو د هغه څانګو په
خوا کښې به څاروی مال کېدل. ۴۲ خو هغۀ د کمزورو څاروو په
مخکښې هغه څانګې کېنۀ ښودلې. نو هغه ټول کمزوری څاروی
د لابن شول اؤ تکړه ټول د یعقُوب شول. ۴۳ نو یعقُوب ډېر مالدار
شولو. د هغۀ ډېرې رَمې نوکران، اُوښان اؤ خرۀ وُو.

## د حضرت یعقُوب د لابن نه تښتېدل

۳۱
۱ نو یعقُوب واؤرېدل چې د لابن زامن وائی، ”زمُونږ د
پلار سره چې څۀ هم وُو نو هغه یعقُوب د خپل ځان سره
وړی دی. د هغۀ سره چې څومره دولت دے هغه ټول زمُونږ د پلار
وو.“ ۲ هغۀ ته دا پته هم ولګېده چې لابن اوس دومره ورسره ښۀ
نۀ دے لکه چې هغه څومره مخکښې وو. ۳ بیا مالِک خُدائ هغۀ
ته ووئیل، ”واپس د خپل پلار نیکۀ وطن اؤ خپلوانو له لاړ شه. زۀ به
ستا مل یم.“ ۴ نو یعقُوب راحیل اؤ لِیاه راوغوښتلې چې د هغۀ سره
په پټی کښې مِلاؤ شی چرته چې د هغۀ رَمې وې. ۵ هغۀ هغوئ ته
ووئیل، ”ما ته پته لګېدلې ده چې ستاسو پلار زما سره دومره ښۀ نۀ
دے لکه چې څومره مخکښې وو، خو زما د پلار خُدائ پاک زما
مل دے. ۶ تاسو دواړو ته پته ده چې ما د خپل ټول طاقت سره
ستاسو د پلار خِدمت وکړو. ۷ هغۀ زۀ دهوکه کړم اؤ لس ځل یې
زما مزدُوری بدله کړې ده. خو خُدائ پاک هغه ما ته څۀ نُقصان
رسولو ته پرې نۀ ښودلو. ۸ چې کله هم لابن وئیلی دی، برَګې
چېلۍ به ستا مزدُوری وی، ټولو رَمو برَګ بچی راوړل. چې کله هغۀ
ووئیل، د کرښو والا چېلۍ به ستا مزدُوری وی، نو ټولو رَمو د کرښو
والا بچی راوړل. ۹ خُدائ پاک ستاسو د پلار نه رَمې اخستې دی
اؤ هغه یې ما له راکړی دی. ۱۰ د شاروو د وار راوړو په وخت کښې
ما یو خوب ولیدو اؤ ما وکتل چې کُوم چېلی چې چېلۍ مال کوی
هغه د کرښو والا، ټکی ټکی اؤ برَګ وُو. ۱۱ د خُدائ پاک فرِښتې

ما ته په خوب کښې ووئيل، يعقُوبه! ما جواب ورکړو، زهٔ حاضر يم.
۱۲ هغې ووئيل، وګوره، هغه ټول چېلى کُوم چې چېلى مال کوى هغه
د کرښو والا ټکى ټکى اؤ برَګ دى. زهٔ داسې ځکه کوم چې لابن
تا سره څهٔ کوى نو ما ته د هغه هر څهٔ پته ده. ۱۳ زهٔ خُدائ پاک يم
چې په بيت‌ايل کښې تا ته راڅرګند شوے وم، چې هلته تا يو کاڼے
د يادګار په توګه وقف کړو اؤ په هغې دې تېل واچول اؤ هلته تا زما
سره يو لوظ وکړو. اوس تهٔ هغه وطن ته واپس لاړ شه چرته چې تهٔ
پيدا شوے يې.“ ۱۴ راحيل اؤ لِياه يعقُوب ته ووئيل، ”مُونږ ته زمُونږ
د پلار په ميراث کښې هيڅ هم پاتې نهٔ دى. ۱۵ هغه مُونږ په پردو
کښې شمېرى. هغهٔ مُونږه خرڅې کړى يُو اؤ زمُونږ په سر هغهٔ چې
څومره روپۍ اخستې وې هغه ټولې يې ختمې کړى دى. ۱۶ هغه ټول
دولت کُوم چې خُدائ پاک زمُونږ د پلار نه اخستے دے هغه زمُونږ
اؤ زمُونږ د بچو دے. چې تا ته خُدائ پاک څهٔ وئيلى دى هم هغسې
وکړه.“ ۱۷-۱۸ نو يعقُوب واپس خپل پلار ته د تلو تيارى وکړه چې
د هغهٔ پلار د کنعان په وطن کښې وو. هغهٔ خپل زامن اؤ د هغوئ
ښځې په اُوښانو سورې کړې اؤ خپلې ټولې رَمې يې د خپل ځان نه
مخکښې روانې کړې، اؤ سره د هغه هر څهٔ چې هغهٔ په ميسوپوتاميه
کښې ګټلى وُو. ۱۹ لابن د خپلو ګډو نه ورۍ کلولو د پاره تلے وو اؤ
چې هغه نهٔ وو نو راحيل د خپل پلار د کور بُتان پټ کړل. ۲۰ يعقُوب
لابن دهوکه کړو ځکه چې هغه يې د خپل تګ نه خبر نهٔ کړو. ۲۱ د
هغهٔ سره چې څهٔ وُو هغه يې راواخستل اؤ په تېزئ سره لاړو. هغه
د فرات د سيند نه پورې وتلو اؤ د غرُونو وطن جِلعاد ته روان شو.

## د لابن په حضرت یعقُوب پسې تلل

۲۲ درېَ ورځې وروستو لابن خبر شو چې یعقُوب تښتېدلے دے.
۲۳ نو هغهٔ خپل سړی ځان سره کړل اؤ اووهٔ ورځې په یعقُوب پسې وُو
چې د غرُونو وطن جِلعاد سره یې را ایسار کړو. ۲٤ په هغه شپه خُدائ
پاک لابن ته په خوب کښې راغلو اؤ هغهٔ ته یې ووئیل، ”خیال کوه چې
یعقُوب ته هیڅ هم ونهٔ وائې.“ ۲۵ لابن یعقُوب د جِلعاد په غرُونو کښې
ګېر کړو، چرته چې یعقُوب خېمه لګولې وه. لابن هم د خپلوانو سره
هلته خېمه ولګوله. ۲٦ لابن یعقُوب ته ووئیل، ”تا ولې زهٔ دهوکه کړم
اؤ زما لُوڼه دې داسې بوتلې لکه د تُورې په زور دې نیولې وی؟ ۲۷ تا
ولې زهٔ دهوکه کړم اؤ زهٔ دې خبر هم نهٔ کړم اؤ وتښتېدلې؟ کهٔ تا ما ته
وئیلی وے، نو ما به تهٔ په خپله مخه په خوشحالئ سره اؤ د سندرو اؤ د
رباب، منګی سره رُخصت کړے وې. ۲۸ تا دې ته هم پرې نهٔ ښودم
چې ما خپل نمسی اؤ لُوڼه ښُکل کړے وے اؤ دوئ ته مې په مخه ښه
وئیلی وے. دا دې د کم عقلئ کار کړے دے. ۲۹ زهٔ تا ته د نُقصان
رسولو زور لرم، خو تېره شپه زما د پلار خُدائ پاک ما له خبردارے راکړو
چې تا ته هیڅ هم ونهٔ وایم. ۳۰ ما ته پته وه چې تهٔ ځې ځکه چې تهٔ
واپس کور له تلو ته ډېر بېصبره وې، خو زما د کور هغه بُتان دې ولې
پټ کړل؟“ ۳۱ یعقُوب جواب ورکړو، ”زهٔ یرېدم، زما خیال دا وو چې
تهٔ خپلې لُوڼه زما نه په زور بوځې. ۳۲ خو کهٔ تا دلته د چا سره هم ستا
بُتان پیدا کړل، نو هغه به ژوندے نهٔ شی پرېښودلے. دلته زمُونږ د خپلوانو
په مخکښې یې وګوره، چې ستا څهٔ څیز هم وی نو خپل څیز یوسه.“

یعقُوب ته پته نۀ وه چې د لابن بُتان راحیل پټ کړی وُو. ۳۳ لابن لاړو
اؤ د یعقُوب خېمه یې ولټوله، بیا هغه د لِیاه خېمې اؤ د هغه دوه وینځو
خېمې ته لاړو، خو هغۀ خپل بُتان ونۀ مُوندل. بیا هغه د راحیل خېمې
ته لاړو. ۳۴ راحیل د کور هغه بُتان راخستی وُو اؤ هغه یې د اُوښ د زین
په کڅوړه کښې کېښودلی وُو اؤ په هغې باندې ناسته وه. لابن هغه ټوله
خېمه ولټوله، خو هغه یې ونۀ مُوندل. ۳۵ راحیل خپل پلار ته ووئیل،
"پلاره! ما ته مۀ غُصه کېږه، خو چې تۀ دلته یې ستا په مخکښې زۀ نۀ
شم پاڅېدلے، په ما د ښځو بیماری راغلې ده." لابن لټُون وکړو خو د
خپل کور هغه بُتان یې پېدا نۀ کړل. ۳۶ بیا یعقُوب غُصه شو، "ما څۀ
بد کړی دی؟ زما ګُناه څۀ ده چې تۀ داسې تېز په ما پسې راورسېدې؟
۳۷ اوس چې زما سره څۀ دی هغه ټول دې ولټول، تا د خپل کور کُوم
یو څیز مُوندلے دے چې هغه ستا وی؟ دا دلته بهر ښکاره کېږده چې
زما اؤ ستا خپلوان یې وګوری اؤ دوئ به فېصله وکړی چې په مُونږ کښې
څوک په حقه دے. ۳۸ زۀ ستا سره د شلو کالو نه یم، ستا ګډو اؤ ستا
چېلو په یو کال هم بچے نۀ دے ضائع کړے اؤ ما یو ګډ هم ستا د رَمو
نه نۀ دے خوړلے. ۳۹ چې کله هم یو ځنګلی ځناور ستا ګډه خوړلې
ده، ما هغه تاوان په خپله درکړے دے. تا هر هغه څیز زما نه غوښتے
دے چې چا د ورځې یا شپې پټ کړے وی. ۴۰ ډېر ځل زۀ د ورځې
ګرمئ سوے یم اؤ د شپې یخنئ وچ کړے یم. اؤ زما خوب تښتېدلے
وو. ۴۱ د شلو کالو نه زۀ ستا په کور کښې یم. څوارلس کاله ما ستا
دوه لُوڼو اؤ شپږ کاله ستا د رَمو د پاره، ستا خِدمت کړے دے. اؤ بیا
هم، تا لس ځل زما مزدُوری بدله کړه. ۴۲ کۀ زما د پلار خُدائ پاک،

کُوم چې د اِبراهیم اؤ اِسحاق خُدائ پاک دے، زما مل نۀ وے، نو تا
به زۀ مخکښې خالی لاسُونه لېږلے وے. خو خُدائ پاک زما تکلیف
اؤ کُوم خِدمت چې ما کړے دے هغه لیدلے دے اؤ ځکه خُدائ پاک
تېره شپه تۀ ملامته کړې."

## د حضرت یعقُوب اؤ لابن په مېنځ کښې مُعاهده

۴۳ بیا لابن یعقُوب له جواب ورکړو، "دا ځوانې ښځې زما لُوڼه
دی، د دوئ بچی زما دی اؤ دا رَمې زما دی. چې تۀ دلته څۀ هم
ګورې هغه زما دی. خو زۀ خپلې لُوڼه اؤ د هغوئ بچی نۀ شم ساتلے،
۴۴ نو زۀ تا سره یو تړون کولو ته تیار یم. راځه چې داسې څۀ وکړُو
چې زمُونږ دا تړون پرې مُونږ ته رایادېږی." ۴۵ نو یعقُوب یوه تیږه
راواخستله اؤ هغه یې د یو یادګار په توګه ودروله. ۴۶ هغۀ خپلو سړو
ته ووئیل چې څۀ کاڼی راټول کړئ نو هغوئ کاڼی راټول کړل اؤ یو
ډېرے یې ترې نه جوړ کړو. بیا هغوئ د هغه کاڼو د ډېری سره ډوډئ
وخوړله. ۴۷ لابن په دې یجرشاهدوتها نُوم کېښودو، خو یعقُوب پرې
جِلعاد نُوم کېښودو. ۴۸ لابن یعقُوب ته ووئیل، "دا د کاڼو ډېرے به
زمُونږ د دواړو د پاره یو یادګار وی." نو ځکه د هغه ځائ نُوم جِلعاد
شو. ۴۹ لابن دا هم ووئیل، "مالِک خُدائ دې په مُونږ نظر وساتی
چې کله مُونږ د یو بل نه جُدا یُو." نو د هغه ځائ نُوم مصفاه هم
شو. ۵۰ لابن ووئیل، "کۀ تۀ زما د لُوڼو سره بد سلُوک کوې یا نورې
ښځې وادۀ کوې، کۀ ما ته پته هم نۀ وی، یاد لره چې خُدائ پاک
مُونږ ګوری. ۵۱ دا هغه کاڼی دی چې ما زمُونږ په مېنځ کښې ډېرے

کړی دی اؤ دا هغه یادګاری تیږه ده. ۵۲ دا ډېرے اؤ دا یادګاری تیږه
دواړه یادګارُونه دی. زۀ به کله هم په تا حمله کولو د پاره د دې نه نۀ
درتېرېږم اؤ تۀ هم په ما حمله کولو د پاره د دې یادګاری تیږې نه مۀ
راتېرېږه. ۵۳ د اِبراهیم خُدائ پاک اؤ د ناحور خُدائ پاک به په مُونږ
نظر وکړی چې مُونږ کُومه مُعاهده کړې ده چې د هغې خیال ساتُو.“
بیا، یعقُوب د هغه خُدائ پاک په نُوم د کُوم چې د هغۀ پلار اِسحاق
عِبادت کولو پوخ لوظ وکړو چې دا وعده به پُوره کوی. ۵۴ هغۀ یو
ځناور حلال کړو اؤ دا یې په غر باندې د قُربانئ په توګه پېش کړو اؤ
یعقُوب ډوډئ له د هغۀ خپلوان راوغوښتل، دوئ ډوډئ وخوړه اؤ بیا
یې په غر باندې شپه تېره کړه. ۵۵ بل سحر وختی لابن خپل نمسی اؤ
لُوڼه ښُکل کړل اؤ په مخه ښه یې ورته ووئیل اؤ واپس کور ته روان شو.

## د حضرت یعقُوب اؤ د حضرت عیساؤ مِلاوېدل

۳۲
۱ چې یعقُوب خنګه خپل وطن ته لاړو، د خُدائ پاک
څۀ فرِښتې ورسره مِلاؤ شوې. ۲ چې هغه یې ولیدلې،
نو وې وئیل، ”دا د خُدائ پاک لښکر دے.“ نو په هغه ځائ یې
محنایم نُوم کېښودو. ۳ یعقُوب د خپل ځان نه مخکښې د ادوم په
وطن کښې د شعیر په علاقه کښې خپل ورور ته پېغام وړُونکی ولېږل.
۴ هغۀ ورته ووئیل چې زما نېک عیساؤ ته دا پېغام ورسوئ: ”زۀ ستا
تابعدار خِدمتګار یعقُوب یم، چې د ډېر وخت نه د لابن سره د یو
مُسافر په شان دېره یم، ۵ زۀ غوَیی، خرۀ، ګډې، چېلئ اؤ نوکران
لرم. نېکه! زۀ تا ته خبر درلېږم، د دې د پاره چې ستا په نظر کښې

ښهٔ راشم.“ ۶ کله چې هغه پېغام وړُونکى يعقُوب ته واپس راغلل،
هغوئ ووئيل، ”مُونږ ستا ورور عيساؤ له لاړُو اؤ هغه د مخکښې نه
تا سره مِلاوېدو د پاره راروان دے. څلور سوه کسان ورسره دى.“
۷ يعقُوب سخت وېرېدو اؤ پرېشانه شو. د هغهٔ سره چې کُوم خلق
اؤ رَمې، غواګانې اؤ اُوښان وُو هغه يې په دوه ډلو کښې تقسيم کړل.
۸ د هغهٔ خيال دا وو، ”کهٔ عيساؤ راشى اؤ هغه وړومبۍ ډله ختمه
کړى نو هغه بله ډله چې کُومه پاتې وى هغه به وتښتى.“ ۹ بيا
يعقُوب دُعا وکړه، ”زما د نيکهٔ اِبراهيم خُدايه پاکه اؤ زما د پلار
اِسحاق خُدايه پاکه! زما سوال واوره، مالِکه خُدايه! تا ما ته ووئيل
چې خپل وطن اؤ خپلوانو ته لاړ شه اؤ تهٔ به زما د پاره هر څهٔ سم
کړې. ۱۰ تا چې خپل خِدمت کوُونکى ته، کُومه مِهربانى اؤ وفادارى
ښودلې ده زهٔ د هغې قابِل نهٔ يم، زهٔ چې د اُردن سيند نه پورېوتم نو
زما سره هيڅ هم نهٔ وُو صِرف يوه امسا وه اؤ اوس زما نه دوه ډلې
جوړې شوې دى. ۱۱ زهٔ تا ته سوال کوم چې ما د خپل ورور عيساؤ
نه بچ کړه. زهٔ يرېږم هسې نه چې هغه په مُونږ حمله وکړى نو مُونږ
به سره د ښځو اؤ ماشُومانو ټول تباه کړى. ۱۲ هغه وعده راياده کړه
چې تا زما سره کړې وه چې زما د پاره به هر څهٔ سم کړې اؤ ما له
به دومره اولاد راکړې چې څوک به يې شمېرلے نهٔ شى، دومره ډېر
لکه چې د سمندر په غاړه شګې دى.“ ۱۳-۱۵ هلته د شپې تېرولو نه
پس، يعقُوب د خپلو څاروو نه د خپل ورور عيساؤ د پاره تُحفې خوښې
کړې: دوه سوه چېلۍ اؤ شل چېلى، دوه سوه ګډې اؤ شل ګډان،
دېرش هغه اُوښې چې پئ ورکوى د بچو سره، څلوېښت غواګانې اؤ

لس غوَیی، شل خرې اؤ لس خرۀ. ۱۶ هغۀ دا په دوه ډلو کښې تقسیم
کړل اؤ د خپلو نوکرانو نه يې يو يو په هره ډله مشران مُقرر کړل. هغۀ
ورته ووئيل، "زما نه مخکښې لاړ شئ اؤ د مخکښې ډلې اؤ ورپسې
راروانې ډلې په مېنځ کښې فاصله وساتئ." ۱۷ هغۀ وړومبی نوکر له
حُکم ورکړو، "زما ورور عيساؤ چې درسره ملاوېږی اؤ تپوس کوی
چې، ستا نېک څوک دے؟ تۀ چرته ځې؟ ستا نه مخکښې دا ځناور
د چا دی؟ ۱۸ نو ته ورته وايه چې دا ستا د خِدمت‌گار يعقُوب دی.
هغه دا خپل نېک عيساؤ له په تُحفه کښې لېږی. اؤ يعقُوب په خپله
په مُونږ پسې راروان دے." ۱۹ هغۀ دويم اؤ دريم له هم دغه شان
حُکم ورکړو اؤ هغه ټولو له چې کُوم د ډلو مشران وُو: "تاسو به
خامخا داسې وايئ چې کله تاسو د عيساؤ سره مِلاوېږئ. ۲۰ تاسو به
خامخا وايئ چې ستا خِدمت‌گار يعقُوب په خپله په مُونږ پسې راروان
دے." د يعقُوب خيال دا وو چې، "زۀ به د دې تُحفو سره د هغۀ
غُصه سړه کړم اؤ چې کله ورسره مخامخ شم کېدے شی چې هغه
ما ته په خير راغلے ووائی." ۲۱ هغۀ هغه تُحفې د ځان نه مخکښې
ولېږلې اؤ هغه شپه په محنايم کښې پاتې شو.

## د حضرت يعقُوب په فنی‌ايل کښې کُشتی کول

۲۲ هم په هغه شپه يعقُوب پاڅېدو، هغۀ خپلې دوه نِکاح کړې ښځې،
د هغۀ دوه نورې ښځې اؤ خپل يولس زامن روان کړل اؤ د يبوق په سيند
کښې هغه ځائ کښې پورې وتل چرته چې اوبۀ کمې وی. ۲۳ هغۀ
هغوئ روان کړل اؤ پورې يې ويستل، د هغۀ سره چې څۀ وُو هغه يې

هم پورې ولېږل، ۲۴ خو هغه یواځې پاتې شو. بیا یو سړے راغلو اؤ د
هغۀ سره یې د سحر د رڼا پورې کُشتی وکړه. ۲۵ چې کله هغه سړی ته
پته ولګېده چې مُقابله یې نۀ شوه ګټلے، نو هغۀ یعقُوب په پټُون ووهلو
اؤ پټُون یې د بند نه ووتلو. ۲۶ هغه سړی ووئیل، ”د سحر رڼا شوه، ما
پرېږده چې لاړ شم.“ یعقُوب ورته ووئیل، ”زۀ به تا کله هم نۀ پرېږدم،
چې تر څو پورې دې ما له برکت نۀ وی راکړے.“ ۲۷ هغه سړی ترې
تپوس وکړو، ”ستا څۀ نُوم دے؟“ نو هغۀ ورته ووئیل، ”یعقُوب.“
۲۸ هغه سړی ورته ووئیل، ”د نن نه پس به ستا نُوم یعقُوب نۀ وی. تا
د خُدائ پاک اؤ د اِنسان سره مُقابله کړې ده اؤ تا ګټلې ده، د اوس نه
به ستا نُوم اِسرائیل وی.“ ۲۹ یعقُوب ورته ووئیل، ”اوس تۀ ما ته خپل
نُوم وښایه.“ خو هغۀ ورته ووئیل، ”تۀ ولې زما د نُوم تپوس کوې؟“
بیا هغۀ یعقُوب له برکت ورکړو. ۳۰ یعقُوب ووئیل، ”ما خُدائ پاک
مخامخ لیدلے دے اؤ بیا هم لا ژوندے پاتې یم“ نو په هغه ځائ یې
فنی‌ایل نُوم کېښودو. ۳۱ نمر راختلو چې یعقُوب د فنی‌ایل نه تلو اؤ د
خپل پټُون په وجه ګُډ ګُډ روان وو. ۳۲ تر نن ورځې پورې د اِسرائیل
اولاد هغه پله نۀ خوری کُومه چې د پټُون په بند پورې وی، ځکه چې
د پټُون د بند هم په دې ځائ هغه سړی یعقُوب وهلے وو.

## د حضرت یعقُوب د حضرت عیساؤ سره مِلاوېدل

# ۳۳

۱ یعقُوب چې وکتل نو عیساؤ یې ولیدو اؤ څۀ ګوری
چې څلور سوه کسان ورسره راروان وُو. نو هغۀ خپل
بچی په لِیاه، راحیل اؤ په هغه دوه نورو ښځو باندې تقسیم کړل.

۲ هغهٔ نورې ښځې اؤ د هغوئ بچی مخکښې کړل، بيا يې لِياه اؤ
د هغې بچی کړل اؤ راحيل اؤ يُوسف يې وروستو کړل. ۳ يعقُوب د
دوئ نه مخکښې لاړو اؤ چې څنګه خپل ورور ته ورسېدو، نو ټيټ شو
اؤ اووهٔ ځل يې تندې په زمکه ولګولو. ۴ خو عيساؤ مِلاوېدو د پاره
هغهٔ له ورمنډه کړل اؤ د هغهٔ نه يې لاسُونه تاؤ کړل، غاړه يې ويستلو
اؤ ښُکل يې کړو. دوئ دواړو وژړل. ۵ چې کله عيساؤ وکتل اؤ هغه
ښځې اؤ ماشُومان يې وليدل، نو هغهٔ تپوس وکړو، ”دا ستا سره څوک
دی؟“ يعقُوب ورته ووئيل، ”صاحِبه! خُدائ پاک په ما ډېر مهربان دے
اؤ دا بچی يې راکړی دی.“ ۶ بيا هغه نورې ښځې اؤ د هغوئ بچی
رامخکښی شول اؤ ورته ټيټ شول، ۷ بيا لِياه اؤ د هغې بچی راغلل
اؤ په آخِر کښې يُوسف اؤ راحيل راغلل اؤ ورته ټيت شول. ۸ عيساؤ
ترې تپوس وکړو، ”د هغې بلې ډلې سره چې زهٔ مِلاؤ شوم هغه دې د
څهٔ مقصد د پاره راوستلې ده؟“ يعقُوب ورته ووئيل، ”د دې د پاره چې
زما نېک راسره ښهٔ شی.“ ۹ خو عيساؤ ووئيل، ”زما وروره! زما سره
هر څهٔ ډېر دی، چې ستا سره هم څهٔ دی هغه د ځان د پاره وساته.“
۱۰ يعقُوب ووئيل، ”نه، زهٔ تا ته سوال کوم، کهٔ تهٔ په ما مهربان يې،
نو زما د لاسُونو نه دا تُحفه قبُوله کړه. چې ستا مخ ته مې وکتل دا
داسې شوه لکه چې د خُدائ پاک مخ ته مې کتلی وی، اوس تهٔ زما
سره ډېر ښهٔ يې. ۱۱ زهٔ تا ته سوال کوم چې دا تُحفه زما نه قبُوله کړه
کُومه چې ما تا له راوړې ده، خُدائ پاک په ما مهربان دے اؤ چې د
څهٔ څيز هم ضرُورت وو هغه يې راکړے دے.“ يعقُوب په هغهٔ زور
راوړو نو هغه يې قبُوله کړه. ۱۲ عيساؤ ووئيل، ”ځئ چې په خپل سفر

باندې ځُو. زۀ به ستاسو سره ځم.“ ۱۳ يعقُوب ووئيل، ”زما نېکه! تا
ته پته ده چې ماشُومان کمزورى دى، په کار دى چې زۀ د دې ګډو
اؤ څاروو اؤ د دوئ د بچو خيال وساتم. کۀ دا مُونږ يوه ورځ هم تېز
بوځُو، نو ټول څاروى به مړۀ شى. ۱۴ زۀ خپل نېک ته سوال کوم چې
د خپل خِدمتګار نه مخکښې لاړ شى اؤ نېکه! زۀ به په مزه مزه د
څاروو اؤ د هغوئ د بچو په قدم په تا پسې درځم اؤ په ادوم کښې به
درسره مِلاؤ شم.“ ۱۵ عيساؤ ووئيل، ”زۀ به تا سره زما خپل څۀ کسان
پرېږدم.“ خو يعقُوب ورته ووئيل، ”د دې هيڅ حاجت نشته، زۀ صِرف
دا غواړم چې ستا په نظر کښې ښۀ راشم.“ ۱۶ نو هم په هغه ورځ عيساؤ
په خپله مخه ادوم ته واپس شو. ۱۷ خو يعقُوب سُکات ته لاړو، چرته
چې هغۀ د خپل ځان د پاره کور اؤ د څاروو د پاره شپولُونه جوړ کړل.
نو د هغه ځائ نُوم سُکات شو. ۱۸ د ميسوپوتاميه نه په واپسى کښې
يعقُوب د کنعان په وطن کښې شِکم ښار ته په سلامتى سره ورسېدو
اؤ د ښار سره نزدې يې په يو پټى کښې خپلې خېمې ولګولې. ۱۹ هغۀ
د هغه پټى دا حِصه د شِکم پلار همور د اولاد نه د سپينو زرو په سلو
سيکو واخستله. ۲۰ هغۀ هلته يوه قُربانګاه جوړه کړه اؤ ايل نُوم يې پرې
کېښودو کُوم چې د اِسرائيلو خُدائ پاک دے.

## د دينه بې عِزتى کېدل

**۳۴**
۱ يوه ورځ، د يعقُوب اؤ لِياه لُور دينه، د کنعانى ښځو
سره مِلاوېدو د پاره ووتله. ۲ همور حِوى د هغې علاقې
مَلک وو. د هغۀ زوئ شِکم هغه وليده، نو هغه يې بوتله اؤ د هغې

بې عِزتى يې وکړه. ۳ خو د يعقُوب لُور دينه د هغۀ نه زړۀ يوړو
اؤ هغه په هغې مئين شو اؤ هغۀ د هغې سره خوږې خبرې وکړې.
٤ نو شِکم خپل پلار همور ته ووئيل، ”دا جينۍ ما ته وادۀ کړه.“
٥ يعقُوب خبر شو چې د هغۀ د لُور بې عِزتى شوې ده، خو د هغۀ
زامن د خپلو ښاروو سره په پټو کښې وُو نو ځکه هغۀ د هغوئ د راتلو
نه مخکښې څۀ ونۀ وئيل. ٦ د شِکم پلار همور ووتلو چې د يعقُوب
سره د دې مسئلې په حقله خبرې وکړى، ۷ د يعقُوب زامن د پټو نه
واپس راروان وُو چې کله هغوئ خبر شول چې شِکم د يعقُوب د لُور
بې عِزتى کړې ده نو هغوئ خفه شول اؤ سخت غُصه شول ځکه
چې دا د اِسرائيليانو د برداشت نه بهر غلط کار وو. ۸ همور هغۀ ته
ووئيل، ”زما زوئ شِکم ستا په لُور مئين شوے دے، زۀ تا ته سوال
کوم چې هغه پرېږده چې وادۀ يې کړى. ۹ زمُونږ سره خپلولى وکړئ،
خپلې لُونړه مُونږ له راکړئ اؤ زمُونږ لُونړه تاسو وکړئ. ۱۰ نو تاسو دلته
زمُونږ سره په دې وطن کښې اوسېدے شئ، چې تاسو چرته اوسېدل
غواړئ دا وطن ستاسو په وړاندې دے، په آزادۍ سره کاروبار کوئ
اؤ خپل جائيدادُونه جوړ کړئ.“ ۱۱ بيا شِکم د دينه پلار اؤ ورُونړو ته
ووئيل، ”کۀ تاسو زما سره دا ښېګړه کول غواړئ، نو چې تاسو څۀ
هم غواړئ زۀ به يې درکړم. ۱۲ ما ته ووايئ، چې تاسو څومره مهر
هم غواړئ زۀ به يې درکړم، خو تاسو اِجازت راکړئ چې دا جينۍ
زۀ وادۀ کړم.“ ۱۳ شِکم د هغوئ د خور دينه بې عِزتى کړې وه، نو
ځکه د يعقُوب زامنو شِکم اؤ د هغۀ پلار همور ته په چل سره جواب
ورکړو. ۱٤ دوئ ورته ووئيل، ”مُونږ خپله خور داسې سړى ته نۀ شُو

ورکولے چې هغه سُنت نۀ وی، دا به زمُونږ د پاره د شرم خبره وی.
۱۵ مُونږ به دا صِرف په یو شرط درکړُو چې تاسو زمُونږ په شان شئ
اؤ تاسو ټول نران سُنت کړئ. ۱٦ بیا به مُونږ تاسو له خپلې لُوڼه درکړُو
اؤ ستاسو لُوڼه به خپلو ځانُونو له وکړُو. مُونږ به ستاسو سره اوسېږُو اؤ
یو قوم به شُو. ۱۷ کۀ تاسو ته زمُونږ شرطونه منظُور نۀ وی اؤ سُنت
نۀ شئ، نو مُونږ به خپله خور بوځُو اؤ لاړ به شُو.“ ۱۸ د همور اؤ د
هغۀ د زوئ شِکم دا خبرې خوښې شوې، ۱۹ اؤ هغه ځوان په دې
کار کولو کښې سستی ونۀ کړه، ځکه چې هغه د یعقُوب په لُور مئین
وو. هغه د پلار په کورنئ کښې د ټولو نه عِزتمند سړے وو. ۲۰ همور
اؤ د هغۀ زوئ شِکم د ښار د دروازې سره نزدې د جرګې ځائ ته
لاړل. اؤ د ښار خلقو سره یې خبره وکړه چې: ۲۱ ”دا د خېر خلق
دی، دوئ دې زمُونږ سره په دې وطن کښې اوسېږی اؤ کاروبار دې
کوی. دا وطن د دوئ د پاره هم ښۀ لوئ دے. مُونږ به د دوئ لُوڼه
وکړُو اؤ خپلې لُوڼه به دوئ له ورکړو. ۲۲ خو دا خلق به صِرف په یو
شرط زمُونږ سره اوسېږی اؤ یو قوم به شُو چې مُونږ خپل ټول نران سُنت
کړُو، لکه چې دوئ هم سُنت شوی دی. ۲۳ د دوئ ټول ښاروی اؤ
د نور هر څۀ دې زمُونږ نۀ شی څۀ؟ راځئ چې جوړه ورسره وکړُو نو
دوئ به زمُونږ سره اوسېږی.“ ۲٤ د ښار ټول خلق د همور اؤ شِکم په
خبره باندې راضی شول اؤ ټول نران سُنت شول. ۲۵ په دریمه ورځ
چې د سُنت کېدو په وجه ټول سړی خوږېدل، د یعقُوب دوه زامنو،
د دینه سکه ورُوڼو، شمعُون اؤ لیوی، خپلې تُورې راواخستلې، ښار
ته دننه په آسانئ سره راغلل اؤ ټول سړی یې ووژل. ۲٦ دوئ همور اؤ

د هغهٔ زوئ شِکم په تُوره ووژل. بیا دوئ دینه د شِکم د کور نه بوتله
اؤ لاړل. ۲۷ د دې قتلِ‌عام نه پس د یعقُوب نورو زامنو ښار لُوټ کړو
چې د خپلې خور د بې‌عِزتئ بدل واخلی. ۲۸ دوئ رَمې څاروی، خرهٔ
اؤ په ښار اؤ پټو کښې چې څهٔ هم وُو هغه یې یوړل. ۲۹ دوئ مال
دولت یوړو، ټولې ښځې اؤ ماشُومان یې ونیول اؤ د کورُونو نه یې هر
څهٔ لُوټ کړل. ۳۰ یعقُوب، شمعُون اؤ لیوی ته ووئیل، ”تاسو زهٔ په
تکلیف کښې اچولے یم، اوس به کنعانیان، فرزیان اؤ د دې وطن هر
یو کس زما نه نفرت کوی. زما سره دومره سړی نشته، کهٔ دوئ ټول
زما خِلاف یو ځائ شی اؤ په ما حمله وکړی نو زمُونږ ټوله کورنئ به
تباه شی.“ ۳۱ خو هغوئ ووئیل، ”مُونږ دا نهٔ شُو زغملے چې زمُونږ
خور سره دې د کنجرې په شان سلُوک وشی.“

## د حضرت یعقُوب واپس بیت‌ایل ته راتلل

# ۳۵

۱ څهٔ موده وروستو خُدائ پاک یعقُوب ته ووئیل، ”پاڅه
اؤ سمدستی بیت‌ایل ته لاړ شه اؤ هلته اوسېږه. هلته ما
ته یوه قُربان‌ګاه جوړه کړه. زهٔ هغه خُدائ پاک یم چې تا ته راڅرګند
شوے وم چې کله تهٔ د خپل ورور عیساؤ نه تښتېدلی.“ ۲ نو یعقُوب
خپلې کورنئ ته اؤ هغه ټولو ته چې د هغهٔ سره وُو ووئیل، ”تاسو سره
چې کُوم پردی بُتان دی هغه وغورزوئ، خپل ځانُونه پاک کړئ اؤ صفا
جامې واغوندئ. ۳ مُونږ به د دې ځائ نه بیت‌ایل ته ځُو، هلته به زهٔ
خُدائ پاک ته یوه قُربان‌ګاه جوړه کړم چا چې په تکلیف کښې زما
سوال اؤرېدلے دے اؤ چې زهٔ چرته هم تلے یم نو هغه زما مل وو.“

۴ نو هغوئ هغه ټول پردی بُتان چې د دوئ سره وُو اؤ د دوئ په غوږُونو
کښې چې کُومې والۍ وې، هغه يې يعقُوب له ورکړل. هغهٔ دا شِکم ته
نزدې د څېړۍ د ونې لاندې ښخ کړل. ۵ چې کله يعقُوب اؤ د هغهٔ
زامن په سفر روان وُو، نو د ګېرچاپېره ښارُونو په خلقو باندې د خُدائ
پاک سخته يره راغله، نو هيڅ څوک ورپسې نۀ شول. ۶ يعقُوب د
خپلو ټولو خلقو سره لُوز ته راغلو، کُوم چې د کنعان په وطن کښې په
بيت‌اېل مشهُور دے. ۷ هغهٔ هلته يوه قُربان‌ګاه جوړه کړه اؤ په هغه
ځائ يې ”د بيت‌اېل خُدائ پاک“ نُوم کېښودو، ځکه چې خُدائ پاک
هغهٔ ته هلته راڅرګند شوے وو کله چې هغه د خپل ورور نه تښتېدلو.
۸ د رِبقه خِدمت‌ګاره دبوره مړه شوه اؤ بيت‌اېل ته نزدې د څېړۍ د ونې
لاندې ښخه شوه. نو ځکه د دې نُوم ”د ژړا څېړۍ“ شو. ۹ چې کله
يعقُوب د ميسوپوتاميه نه راواپس شو، خُدائ پاک يعقُوب ته بيا راڅرګند
شو اؤ هغهٔ له يې برکت ورکړو. ۱۰ خُدائ پاک هغهٔ ته ووئيل، ”ستا
نُوم يعقُوب دے، خو د نن نه پس ستا نُوم اِسرائيل شو.“ نو د هغهٔ نُوم
يې اِسرائيل کېښودو. ۱۱ اؤ خُدائ پاک هغهٔ ته ووئيل، ”زۀ قادر خُدائ
پاک يم. تۀ ډېر اولاد پيدا کړه. قومُونه به ستا د اولاد نه جوړيږی اؤ ستا
په اولاد کښې به بادشاهان جوړيږی. ۱۲ زۀ به هغه وطن تا له درکړم کُوم
چې ما اِبراهيم اؤ اِسحاق له ورکړے وو اؤ ستا نه پس به دا وطن ستا
اولاد له هم ورکوم.“ ۱۳ بيا خُدائ پاک د هغهٔ نه لاړو. ۱۴ چرته چې
خُدائ پاک د هغهٔ سره خبرې کړې وې، نو يعقُوب يو يادګاری کاڼے
ودرولو اؤ وقف يې کړو، شراب اؤ تېل يې پرې واچول. ۱۵ هغهٔ په هغه
ځائ بيت‌اېل نُوم کېښودو.

## د راحيل مرګ

۱۶ بيا يعقُوب اؤ د هغهٔ کورنئ د بيت‌ايل نه کډه وکړه اؤ چې
کله دوئ د اِفرات نه لږ غونډې لرې وُو، د راحيل د ماشُوم د پيدا
کېدو وخت راغلو اؤ هغه په سخت درد کښې وه. ۱۷ چې کله
هغه په سخت درد کښې وه د هغې ماشُوم پيدا شو، دايئې هغې
ته ووئيل، ”راحيل! يرېږه مه، اوس ستا بل زوئ هم شته.“ ۱۸ هغه
مړه کېدله اؤ د هغې ساه په وتلو وه. نو هغې په خپل زوئ بِن اَونی
نُوم کېښودو، خو يعقُوب پرې بنيامين نُوم کېښودو. ۱۹ چې راحيل
په حق ورسېده، نو هغه د اِفرات د لار په غاړه ښخه کړے شوه،
چې هغه ځائ اوس د بيت‌لحم په نُوم يادېږی. ۲۰ يعقُوب هلته
يو يادګاری کاڼے ودرولو اؤ دا تر نن ورځې پورې د راحيل د قبر
نښه ده. ۲۱ يعقُوب بيا کډه يوړه اؤ د عدر د څوکيداری د برج بل
طرف ته يې خېمه ولګوله.

## د حضرت يعقُوب زامن

**(د تاريخ اول کِتاب ۲: ۱-۲)**

۲۲ چې کله يعقُوب په هغه وطن کښې اوسېدو، روبين لاړو اؤ د
خپل پلار د بلې ښځې بِلهاه سره څملاستو، يعقُوب د دې نه خبر
شو اؤ غُصه شو. د يعقُوب دولس زامن وُو. ۲۳ دا د لِياه زامن دی:
روبين د يعقُوب مشر زوئ، شمعُون، ليوی، يهُوداه، يساکار اؤ زبولون.
۲۴ د راحيل زامن يُوسف اؤ بنيامين وُو. ۲۵ د راحيل د وينځې بِلهاه

زامن، دان اؤ نفتالى وُو. ۲٦ د لِياه د وينځې زِلفه زامن جاد اؤ اشير
وُو. دا د يعقُوب زامن دى چې په ميسوپوتاميه کښې پيدا شوى وُو.

## د حضرت اِسحاق وفات کېدل

۲۷ يعقُوب واپس خپل پلار اِسحاق ته، حبرون سره نزدې ممرې
ته راغلو، دا هغه ځائ دې چرته چې اِبراهيم اؤ اِسحاق اوسېدلى
وُو. ۲۸ د اِسحاق ټول عُمر يو سل اتيا کاله وو ۲۹ اؤ اِسحاق ساه
ورکړه اؤ ښۀ په پوخ عُمر کښې وفات شو اؤ هغه خپلو زامنو عيساؤ
اؤ يعقُوب ښخ کړو.

## د حضرت عيساؤ اولاد

(د تاريخ اول کِتاب ۱: ۳٤-۳۷)

۳٦

۱ دا د عيساؤ اولاد دے، چې د ادوم په نُوم هم يادېدو.
۲ عيساؤ کنعانى جينکۍ وادۀ کړې: د حِتى ايلون لُور
عده، د صبعون حِوى د عنه د زوئ لُور، اُهليبامه، ۳ اؤ د اِسمٰعيل
لُور د نبايوت خور، بشامه. ٤ د عده نه اليفز پيدا شو، د بشامه نه
رُعوايل پيدا شو، ۵ اؤ اُهليبامه نه يعوس، يعلام اؤ قورح پيدا شول،
د عيساؤ دا ټول زامن د کنعان په وطن کښې پيدا شوى وُو. ٦ بيا
عيساؤ د خپلو ښځو، خپلو زامنو، لُوڼو اؤ د خپل کور ټولو خلقو سره
اؤ خپلو ټولو څاروو اؤ د هغه هر څۀ سره چې هغۀ په کنعان کښې
ګټلى وُو، روان شو اؤ د خپل ورور يعقُوب نه بل وطن ته لاړو. ۷ هغه
ځکه لاړو چې په کُوم ځائ کښې هغه اؤ يعقُوب اوسېدل هلته يې

ګُزاره نه کېدله، د هغوئ څاروى ډېر زيات وُو اؤ نور دوئ په يو ځائ اوسېدلے نۀ شول. ^(۸) نو عيساؤ د غرُونو وطن ادوم کښې اوسېدو. ^(۹) دا د ادوميانو د پلار نيکۀ، د عيساؤ اولاد دے. ^(۱۰-۱۳) د عيساؤ د ښځې عده نه يو زوئ، اليفز پېدا شو. اؤ د اليفز پينځۀ زامن وُو: تيمان، اومر، صفو، جعتام اؤ قنز. اؤ د بلې ښځې، تمنت نه د هغۀ يو بل زوئ عماليق وو. د عيساؤ د ښځې بشامه نه د هغۀ يو زوئ رُعوايل پېدا شو اؤ د رُعوايل څلور زامن وُو: نحت، زارح، سمه اؤ مِزه. ^(۱۴) د عنه لُور د صبعون نمسئ چې د عيساؤ ښځه وه د هغې نوم اُهليبامه وو د هغې د عيساؤ نه دا درى زامن پېدا شول: يعوس، يعلام اؤ قورح. ^(۱۵) دا د عيساؤ اولاد نه جوړې شوې قبيلې دى. د عيساؤ مشر زوئ اليفز د دې قبيلو پلار نيکۀ وو: تيمان، اومر، صفو، قنز، ^(۱۶) قورح، جعتام اؤ عماليق. دا ټول د عيساؤ د ښځې عده اولاد دے. ^(۱۷) د عيساؤ زوئ رُعوايل د دې قبيلو پلار نيکۀ وو: نحت، زارح، سمه اؤ مِزه. دا ټول د عيساؤ د ښځې بشامه اولاد وو. ^(۱۸) دا قبيلې د عيساؤ د ښځې اُهليبامه اولاد دے چې هغه د عنه لُور وه: يعوس، يعلام اؤ قورح. ^(۱۹) دا ټولې قبيلې د عيساؤ په اولاد کښې راځى.

## د شعير اولاد

**(د تاريخ اول کِتاب ۱: ۳۸-۴۲)**

^(۲۰-۲۱) د ادوم د وطن اصلى اوسېدُونکى په قبيلو کښې تقسيم وُو چې د دوئ نسب‌نامه د حورى، شعير دې اولاد ته ځى: لوطان، سوبل، صبعون، عنه، ديسون، ايصر اؤ ديسان. ^(۲۲) لوطان د حورى

اؤ هيمان قومُونو پلار نيکۀ وو. د لوطان د خور تمنت نُوم وو.
۲۳ سوبل د علوان، منحات، عيبال، سفو اؤ د اونام قومُونو پلار نيکۀ
وو. ۲٤ د صبعون دوه زامن آيه اؤ عنه وُو. دا هغه عنه دے چې
کله هغۀ د خپل پلار خرۀ څرول نو په صحرا کښې يې ګرمې چينې
ومُوندلې. ۲۵-۲٦ عنه د ديسون پلار وو، هغه د حمدان، اشبان،
يتران اؤ کِران قومُونو پلار نيکۀ وو. د عنه يوه لُور وه چې د هغې
نُوم هم اُهليبامه وو. ۲۷ ايصر د بِلهان، زعوان اؤ عقان قومُونو پلار
نيکۀ وو. ۲۸ ديسان د عُوض اؤ اِران قومُونو پلار نيکۀ وو. ۲۹-۳۰ دا
د ادوم په وطن کښې حورى قبيلې دى: لوطان، سوبل، صبعون،
عنه، ديسون، ايصر اؤ ديسان.

## د ادوم بادشاهان

**(د تاريخ اول کِتاب ۱: ٤۳-٥٤)**

۳۱-۳۹ د دې نه مخکښې په بنى اِسرائيلو هيچا هم بادشاهى نۀ
وه کړې اؤ دې بادشاهانو د ادوم په وطن بادشاهى وکړه: د دِنهابا
نه د بعور زوئ بالع، د بصرا نه د زارح زوئ يوباب، د تيمان د
علاقې نه حشيم اؤ د عويت نه د بدد زوئ هدد. هدد د موآب په
وطن کښې په يو جنګ کښې ميديانو ته شکستورکړے وو: د
مُسرقه نه شمله، د سيند د غاړې رحوبوت نه شاؤل، د عکبور زوئ
بعل حنان، د پاؤُ نه حدد، د هغۀ ښځه مهيطب‌اېل، د مطرِد لُور
اؤ ميضاهاب نمسى وه. ٤۰-٤۳ عيساؤ د دې ادومى قبيلو پلار نيکۀ
وو: تمنت، علوه، يتيت، اُهليبامه، ايله، فينون، قنز، تيمان، مِبصار،

مجدِاېل اؤ عِرام. يوه علاقه به د هم هغه قبيلې په نُوم مشهُوره وه
چې چرته به هغه قبيله اوسېده.

## حضرت يُوسف اؤ د هغهٔ ورُوڼه

**۳۷**

۱ يعقُوب د کنعان په وطن کښې اوسېدو، چرته چې
د هغهٔ پلار د مُسافر په توګه اوسېدلے وو، ۲ اؤ دا د
يُوسف د کورنۍ قيصه ده. د اوولسو کالو ځوان ځلمی، يُوسف، د
ورُوڼو سره ګډې اؤ چېلۍ څرولې، چې هغوئ د هغهٔ د پلار د نورو
ښځو، زِلفه اؤ بِلهاه زامن وُو. هغهٔ خپل پلار د هغه غلطو کارُونو نه
خبر کړو کُوم چې د هغهٔ ورُوڼو کول.
۳ يعقُوب د يُوسف سره د نورو ټولو زامنو نه زياته مينه کوله، ځکه
چې هغه د هغهٔ د سپين سر زوئ وو. يعقُوب د هغهٔ د پاره د اُوږدو
لستُوڼو والا يوه ښُکلې چُوغه جوړه کړه. ۴ چې کله د هغهٔ ورُوڼو دا
وليدل چې د هغوئ پلار د يُوسف سره د هغوئ نه زياته مينه کوی،
نو په هغوئ باندې هغه دومره بد لګېدو چې هغوئ به د هغهٔ سره په
سمه خُله خبرې هم نهٔ کولې. ۵ يو ځل يُوسف خوب وليدو نو چې
هغهٔ خپل ورُوڼه د دې نه خبر کړل، نو د هغوئ کينه د يُوسف سره
نوره هم زياته شوه. ۶ هغهٔ ووئيل، ”ما چې کُوم خوب ليدلے دے
هغه واورئ. ۷ مُونږ ټولو په پټی کښې د غنمو ګېډۍ تړلې، ناڅاپه
زما ګېډۍ پاڅېدله اؤ نېغه ودرېدله. ستاسو ګېډۍ زما د ګېډۍ نه
ګېرچاپېره تاؤ شولې اؤ هغې ته ټيټې شولې.“ ۸ د هغهٔ ورُوڼو ترې
تپوس وکړو، ”ستا څهٔ خيال دے تهٔ به بادشاه جوړېږې اؤ په مُونږ

به بادشاهی کوې څۀ؟“ نو د یُوسف د خوبُونو او چې هغۀ د وړُونو
په باره کښې څۀ وئیلی وُو په دې وجه، د هغوئ ورسره کینه نوره
هم زیاته شوه. ⁹ بیا یُوسف یو بل خوب ولیدو او خپلو وړُونړو ته یې
ووئیل، ”ما یو بل خوب لیدلے دے، چې په هغې کښې ما نمر او
سپوږمۍ ولیدل او یولس ستوری هم چې ما ته ټیټېدل.“ ¹⁰ هغۀ دا
خوب خپل پلار ته هم ووئیلو او پلار هغه ورټلو: ”دا څنګه خوب
دے چې تا لیدلے دے؟ ستا خیال دا دے چې ستا مور، ستا وړُونړه
او زۀ، مُونږ به راځُو او تا ته به په زمکه پرېوځُو؟“ ¹¹ یُوسف په وړُونړو
بد لګېدو، خو د هغۀ پلار دا ټوله خبره په ذهن کښې کېښودله.

## د حضرت یُوسف خرڅېدل او مِصر ته بوتلل

¹² یوه ورځ چې کله د یُوسف وړُونړه د خپل پلار رَمې څرولو له شِکم
ته تلی وُو، ¹³ یعقُوب یُوسف ته ووئیل، ”زۀ غواړم چې تۀ شِکم ته لاړ
شې، چرته چې ستا وړُونړه رَمه څروی.“ یُوسف ورته ووئیل، ”زۀ تیار
یم.“ ¹⁴ د هغۀ پلار ووئیل، ”لاړ شه او وګوره کۀ رَمه او ستا وړُونړه
په خیر وی، بیا واپس راشه او ما خبر کړه.“ نو د هغۀ پلار هغه د
حبرون مېدان نه ولېږلو او یُوسف شِکم ته ورسېدو ¹⁵ او هلته د څران
په ځائ کښې اخوا دېخوا ګرځېدو چې کله یو سړی هغه ولیدو نو
تپوس یې ترې وکړو، ”تۀ څۀ لټوې؟“ ¹⁶ هغۀ ورته ووئیل، ”زۀ خپل
وړُونړه لټوم، ما ته ووایه چې هغوئ خپله رَمه چرته څروی.“ ¹⁷ هغه
سړی ورته ووئیل، ”هغوئ خو تلی دی. د هغوئ نه ما واورېدل چې
دوئ دُوتین ته ځی.“ نو یُوسف په خپلو وړُونړو پسې لاړو او هغوئ یې

په دُوتين کښې ومُوندل. ۱۸ هغوئ هغه د لرې نه وليدو اؤ د رسېدو نه
مخکښې يې د هغۀ خِلاف منصُوبه جوړه کړه اؤ د هغۀ د وژلو فېصله
يې وکړه. ۱۹ هغوئ يو بل ته ووئيل، ”ګورئ! د خوبُونو اُستاذ راروان
دے. ۲۰ نو اوس راځئ، چې وې وژنُو اؤ په يو وچ کُوهی کښې يې
وغورزوو. مُونږ به وايُو چې هغه يو ځنګلی ځناور خوړلے دے. بيا
به مُونږ وګورُو چې د هغۀ د خوبُونو څۀ نتيجه راوځی.“ ۲۱ روبين د
هغوئ خبرې واؤرېدې اؤ د هغۀ د بچ کولو کوشش يې وکړو. هغۀ
ووئيل، ”يُوسف به نۀ مړ کوُو.“ ۲۲ هغۀ ووئيل، ”هغه په دې صحرا
کښې دې کُوهی ته وغورزوئ، خو د هغۀ وينه مۀ تويَوئ.“ هغۀ دا
خبره د دې د پاره وکړه، چې د دوئ نه يې بچ کړی اؤ هغه واپس
خپل پلار له ولېږی. ۲۳ کله چې يُوسف خپلو ورُوڼو له راغلو، هغوئ
د هغۀ نه د اُوږدو لستُوڼو والا ښُکلې چُوغه راوويسته. ۲۴ بيا هغوئ
هغه اُوچت کړو اؤ هغه وچ کُوهی ته يې وغورزولو. ۲۵ چې کله
دوئ ډوډۍ ته ناست وُو، نو هغوئ د اِسمٰعيليانو يو کاروان وليدو
چې هغوئ د جِلعاد نه مِصر ته په سفر روان وُو. د هغوئ په اُوښانو
خوشبُودارې مصالحې اؤ عطر بار وُو. ۲۶ يهُوداه خپلو ورُوڼو ته ووئيل،
”زمُونږ د ورور وژل اؤ د هغۀ مرګ پټول به مُونږ له څۀ فائده راکړی؟
۲۷ راځئ چې هغه په دې اِسمٰعيليانو خرڅ کړُو. مُونږ به هغۀ له څۀ
ضرر نۀ رسوُو، آخِر بيا هم، هغه زمُونږ ورور دے اؤ زمُونږ خپله وينه
ده.“ د هغۀ ورُوڼه په دې راضی شول، ۲۸ اؤ چې کله څۀ سوداګر
هلته تېرېدل، د هغۀ ورُوڼو يُوسف د کُوهی نه بهر راوويستلُو اؤ هغه
يې د سپينو زرو په شلو سيکو په اِسمٰعيليانو باندې خرڅ کړو، نو

هغوئ مِصر ته بوتلو. ۲۹ چې کله روبين واپس کُوهى ته راغلو اؤ وې
ليدل چې يُوسف هلته نۀ وو، نو هغۀ د خفګان په وجه خپلې جامې
وشلولې. ۳۰ هغه واپس ورُونړو ته راغلو اؤ ورته يې ووئيل، ”هلک خو
هلته نشته! زۀ څۀ وکړم؟“ ۳۱ بيا هغوئ يو چېلے حلال کړو اؤ د
يُوسف چُوغه يې په وينه کښې ډُوبه کړه. ۳۲ هغوئ هغه چُوغه خپل
پلار له يوړه اؤ وې وئيل، ”مُونږ دا ومُوندله. دا وګوره چې دا ستا د
زوئ ده کۀ نۀ ده؟“ ۳۳ هغۀ دا وپېژندله اؤ وې وئيل، ”اؤ، دا چُوغه
هم زما د زوئ ده! څۀ ځنګلى ځناورو هغه خوړلے دے. زما زوئ
يُوسف به په رښتيا سره ټوټې ټوټې شوے وى.“ ۳۴ يعقُوب د خفګان
نه خپلې جامې وشلولې اؤ د ټاټ جامې يې واغوستلې. د زوئ په غم
کښې هغه ډېرې ورځې غمژن وو. ۳۵ ټول زامن اؤ لُونړه تسلىٰ ورکولو
له ورله راغلل، خو په هغۀ دې تسلىٰ اثر ونۀ کړو اؤ وې وئيل، ”زۀ به
د خپل زوئ په غم کښې تر مرګه پورې ژاړم.“ نو هغه د خپل زوئ
يُوسف په غم کښې غمژن وو. ۳۶ په دې دوران کښې، سوداګرو
يُوسف په مِصر کښې، د فِرعون په يو آفسر، فوطيفار باندې خرڅ
کړو، چې هغه د محل د فوجيانو مشر وو.

## يهُوداه اؤ تامار

۳۸
۱ هم هغه وخت يهُوداه خپل ورُونړه پرېښودل، لاړو اؤ
د حيره نُومې يو سړى سره اوسېدو، چې هغه د عدولام
د ښار وو. ۲ هلته يهُوداه د يوې کنعانىٰ جينىٰ سره مِلاؤ شو چې د
هغې د پلار نُوم سُوع وو. يهُوداه هغه وادۀ کړه اؤ ورسره څملاستو،

۳ د هغې يو زوئ وشو، چې هغۀ پرې عير نُوم کېښودو. ۴ هغه بيا
اُميدواره شوه اؤ يو بل زوئ يې پيدا شو اؤ هغې پرې اونان نُوم کېښودو.
۵ د هغې يو بل زوئ وشو اؤ د هغۀ نُوم يې سيله کېښودو. يهُوداه په
کزيب کښې وو چې کله دا ماشُوم پيدا شو. ۶ يهُوداه د خپل مشر
زوئ د پاره ښځه وکړه چې د هغې نُوم تامار وو. ۷ د عير سلُوک د
مالِک خُدائ په نظر کښې ډېر خراب وو اؤ هغه ترې ناراضا شو، نو
مالِک خُدائ هغه مړ کړو. ۸ بيا يهُوداه د عير ورور اونان ته ووئيل،
”لاړ شه اؤ د خپلې کونډې ورندارې سره څمله. د هغې د خاوند د
ورور په توګه د هغې سره خپله ذِمه وارى پُوره کړه، نو داسې ستا د
ورور به هم اولاد وى.“ ۹ خو اونان ته پته ولګېده چې هغه بچى به
د اونان خپل نۀ وى، نو چې کله به هغه د خپلې کونډې ورندارې
سره څملاستو نو هغۀ به د نر اوبۀ په زمکه څڅولې، چې داسې به
د هغۀ د ورور بچى نۀ وى. ۱۰ هغۀ چې څۀ کول مالِک خُدائ ترې
نه په دې ناراضا شو اؤ مالِک خُدائ هغه هم ووژلو. ۱۱ بيا يهُوداه
خپلې اينږور تامار ته ووئيل، ”د خپل پلار کور ته لاړه شه اؤ تر هغې
پورې کونډه پاتې شه چې زما زوئ سيله لوئ شوے نۀ وى.“ هغۀ
دا ځکه ووئيل چې هغه يرېدو چې سيله به ووژلے شى، لکه چې د
هغۀ خپل ورُونه هم وژلے شوى وُو. نو تامار لاړه اؤ د خپل پلار په
کور کښې اوسېده. ۱۲ څۀ وخت وروستو د يهُوداه ښځه مړه شوه.
چې کله په هغۀ د غم ورځې تېرې شوې، هغه اؤ د هغۀ ملګرې د
عدولام حيره، تمنت ته لاړل، چرته چې د هغۀ د ګډو وړى کلېدلې.
۱۳ تامار ته چا ووئيل چې د هغې سخر ګډو کلولو له تمنت ته ځى.

۱۴ نو هغې د کونډتوب جامې وويستلې چې هغې اغوستې وې اؤ مخ
يې په څادر پټ کړو اؤ د تمنت په لاره د عينيم ښار سره نزدې ورته
کښېناسته. ځکه چې هغې ته ښه پته وه چې د يهُوداه وړُوکے زوئ لوئ
شوے وو اؤ تر اوسه پورې يې ودېدو له نۀ وه ورکړې. ۱۵ چې کله يهُوداه
هغه وليده، نو خيال يې دا وو چې ګنې کنجره ده، ځکه چې هغې خپل
مخ پټ کړے وو. ۱۶ هغه د لار په غاړه هغې له ورَغلو اؤ وې وئيل، ”زۀ
تا سره څملاستل غواړم.“ هغۀ ته پته نۀ وه چې هغه يې اينږور ده. هغې
ووئيل، ”تۀ به ما له څۀ راکړې؟“ ۱۷ هغۀ جواب ورکړو، ”زۀ به تا له د
خپلې رَمې نه يوه چېلۍ درولېږم.“ هغې ووئيل، ”ټيک ده، خو تۀ ما له په
ضمانت کښې څۀ راکړه چې د ځان سره يې تر هغې پورې کېږدم چې تا
چېلۍ نۀ وى رالېږلې.“ ۱۸ هغۀ ترې تپوس وکړو، ”زۀ په ضمانت کښې
څۀ درسره کېږدم؟“ هغې ورته ووئيل، ”ستا په غاړه کښې خپل مُهر سره
د مزى اؤ ستا په لاس کښې دا لخته.“ هغۀ دا څيزُونه هغې له ورکړل.
بيا دوئ څملاستل اؤ هغه اُميدواره شوه. ۱۹ تامار کور ته لاړه، څادر يې
لرې کړو اؤ د کنډتوب جامې يې بيا واغوستلې. ۲۰ وروستو يهُوداه خپل
ملګرے حيره د چېلۍ سره ورولېږلو چې د ضمانت څيزُونه د هغه ښځې
نه واپس راوړى، خو حيره هغه ونۀ مُونده. ۲۱ هغۀ په عينيم کښې د څۀ
کسانو نه تپوس وکړو، ”هغه کنجره چرته ده چې د لارې په غاړه ناسته
وه؟“ هغوئ جواب ورکړو، ”دلته خو کنجره نۀ وه.“ ۲۲ هغه يهُوداه ته
واپس راغلو اؤ وې وئيل، ”ما هغه ونۀ مُوندله. د هغه ځائ خلقو ووئيل
چې په هغه ځائ کښې کله هم کنجره نۀ وه.“ ۲۳ يهُوداه ووئيل، ”پرېږده
چې هغه څيزُونه هغه د ځان سره وساتى. مُونږ نۀ غواړُو چې خلق راپورې

وخاندی. ما هغې له د مزدُورۍ ورکولو کوشش وکړو، خو تا هغه ونۀ
مُوندله.“ ۲۴ تقریباً درې میاشتې وروستو یهُوداه ته چا ووئیل، ”ستا اينږور
تامار کنجرتوب کولو اؤ اوس هغه اُمیدواره ده.“ یهُوداه ووئیل، ”هغه بهر
راوباسئ اؤ په اور کښې یې وسوزوئ.“ ۲۵ چې هغه بهر راوویستلے شوه،
هغې خپل سخر له خبر ورولیږلو: ”زۀ د هغه سړی نه اُمیدواره یم چې دا
څیزُونه د چا وی. دې ته وګورئ چې دا مُهر سره د مزی اؤ دا لخته د
چا دی.“ ۲۶ یهُوداه دا وپیژندل اؤ وې وئیل، ”هغه په حقه ده. زۀ د هغې
سره په خپله ذِمه وارۍ کښې ناکام شوے یم. ځکه چې ما هغه خپل
زوئ سیله ته وادۀ نۀ کړه.“ اؤ یهُوداه د هغې سره بیا شپه تېره نۀ کړه.
۲۷ چې کله د هغې د بچی پیدا کېدو وخت راغلو، دا پته ولګېده چې د
هغې جوړه بچی پیدا کېدُونکی دی. ۲۸ چې کله هغه په تکلیف کښې
وه، یو ماشُوم لاس رابهر کړو، دایئ یې لاس راونیولو، سُور تار یې ترې
تاؤ کړو اؤ وې وئیل، ”دا وړومبے پیدا شوے دے.“ ۲۹ خو هغۀ خپل
لاس واپس راښکلو اؤ د هغۀ ورور وړومبے پیدا شو. بیا هغه دایئ ووئیل،
”تا څنګه د ځان د پاره د راوتلو لار جوړه کړې ده!“ نو د هغۀ نُوم فرص
شو. ۳۰ بیا د هغۀ ورور پیدا شو چې د هغۀ د لاس نه سُور تار تاؤ وو اؤ
د هغۀ نُوم زارح شو.

## حضرت یُوسف اؤ د فوطیفار ښځه

# ۳۹

۱ کله چې اِسمٰعیلیانو یُوسف مِصر ته بوتلو، هغه یې
فوطیفار نُومې د فِرعون په یو آفسر باندې خرڅ کړو،
چې هغه د محل د څوکیدارانو مشر وو. ۲ مالِک خُدائ د یُوسف

مل وو اؤ هغه يې کامياب کړو. هغه د خپل مِصری نېک په کور
کښې اوسېدو، ۳ چې هغۀ وليدل چې مالِک خُدائ د يُوسف مل
دے اؤ هغه يې په هر کار کښې کامياب کړے دے. ۴ نو فوطيفار
د هغۀ نه خوشحال وو اؤ هغه يې خپل ذاتی خِدمتګار اؤ د خپل
کور مشر يې جوړ کړو اؤ خپل هر څۀ يې هغۀ ته وسپارل. ۵ هم
د هغه وخت نه، هم د يُوسف په وجه مالِک خُدائ د دې مِصری
کورنۍ له برکت ورکړے وو اؤ ورسره هغه هر څيز له يې برکت
ورکړو چې د هغۀ په کور اؤ په پټو کښې وُو. ۶ فوطيفار چې څۀ
هم لرل هغه يې يُوسف له ورکړل چې خيال يې ساتی اؤ په خپله
يې د خوراک نه بغېر د يو څيز فکر هم نۀ کولو. نو يُوسف ښائسته
بدن لرلو اؤ ښُکلےځوان وو، ۷ اؤ څۀ موده وروستو د هغۀ د نېک
ښځې يُوسف ته د شوق په سترګه کتل اؤ ورته يې ووئيل، ”راشه
اؤ ما سره څمله.“ ۸ هغۀ اِنکار وکړو اؤ ورته يې ووئيل، ”ګوره!
زما نېک په خپله په دې کور کښې د يو څيز فکر هم نۀ کوی،
ځکه چې زۀ دلته يم. هغۀ زۀ په خپل هر څيز مشر جوړ کړے يم.
۹ زۀ په دې کور کښې د هغۀ هومره اِختيار لرم اؤ هغۀ ستا نه بغېر
زما نه هيڅ څيز هم نۀ دے منع کړے. نو بيا زۀ داسې غلط کار
څنګه وکړم چې د خُدائ پاک ګُناهګار شم؟“ ۱۰ اګرچې هغې به
هره ورځ يُوسف ته وئيل، خو هغۀ د هغې نۀ خبره منله چې ورسره
څملی اؤ نۀ ورنزدې کېدو. ۱۱ خو يو ورځ چې کله يُوسف د کار د
پاره کور ته ننوتو، په کور کښې يو خِدمتګار هم نۀ وو. ۱۲ هغې
هغه د قميص نه ونيوو اؤ ورته يې ووئيل، ”راشه! ما سره څمله.“

خو هغۀ بهر منډه کړل اؤ وتښتېدو اؤ د هغۀ قميص د هغې په لاس
کښې پاتې شو. ۱۳ کله چې هغې وليدل چې د هغۀ نه قميص پاتې
شو اؤ د کور نه يې بهر منډه کړل، ۱۴ هغې د کور خِدمت‌ګاران
راوغوښتل اؤ وې وئيل، "دا وګورئ! زما خاوند چې کور ته کُوم
عبرانے راوستلے دے هغه مُونږ شرموی. هغه زما کوټې ته راننوتو اؤ
ما ته يې د لاس راچولو کوشش وکړو، خو ما په زوره زوره چغې
ووهلې. ۱۵ نو زما چغو سره هغۀ بهر منډه کړل اؤ قميص يې زما
سره پرېښودو." ۱۶ هغې دا قميص د يُوسف د نېک کور ته راتلو
پورې وساتلو. ۱۷ بيا هغې هغۀ ته هم هغه شان قيصه تېره کړه: "تا
چې کُوم عبرانے نوکر دلته راوستلے دے هغه زما کوټې ته راننوتو اؤ
لاس يې راواچولو. ۱۸ خو چې کله ما چغې ووهلې، هغۀ بهر منډه
کړل اؤ خپل قميص يې زما سره پرېښودو." ۱۹ چې کله د يُوسف
نېک دا قيصه واؤرېده کومه چې خپلې ښځې ورته بيان کړه، نو هغه
د غُصې نه تک سُور شو. ۲۰ نو يُوسف يې ونيولو اؤ په هغه قېدخانه
کښې يې بند کړو چرته به چې د بادشاه قېديان قېد کولے شول اؤ
هغه هلته په قېدخانه کښې وو. ۲۱ خو مالِک خُدائ د يُوسف مل
وو نو رحم يې پرې وکړو اؤ هغه د قېدخانې د آفسر په نظر کښې
ښۀ راغلو. ۲۲ هغۀ يُوسف د نورو ټولو قېديانو مشر جوړ کړو اؤ چې
په قېدخانه کښې څۀ هم کېدل د هر څۀ ذِمه واری يې ورکړه. ۲۳ د
قېدخانې آفسر د هغه يو څيز فکر هم نۀ کولو چې يُوسف له يې
کُومه ذِمه واری ورکړې وه، ځکه چې مالِک خُدائ د يُوسف مل
وو اؤ هغه يې په هر کار کښې کامياب کولو.

## حضرت يُوسف د قېديانو د خوبُونو تعبير ښودل

**٤٠** ١ څۀ موده وروستو د مِصر د بادشاه ساقى اؤ مشر نانبائى داسې څۀ غلط کار وکړو چې بادشاه وربانديې خفه شو. ٢ فِرعون دې دواړو آفسرانو ته سخت غُصه شو ٣ اؤ دوئ يې د څوکيدارانو د مشر په کور کښې قېد کړل، هم په هغه ځائ کښې چې چرته يُوسف قېد وو. ٤ دوئ ډېر وخت په قېدخانه کښې تېر کړو اؤ د څوکيدارانو مشر يُوسف ته حواله کړل چې د دوئ خِدمت کوى. ٥ يوه شپه په قېدخانه کښې د مِصر د بادشاه ساقى اؤ مشر نانبائى دواړو خوب وليدو اؤ د هر يو خوب خپل خپل مطلب وو. ٦ چې کله يُوسف هغوئ له سحر ورَغلو، هغۀ دوئ پرېشانه وليدل. ٧ هغۀ د هغوئ نه تپوس وکړو، "تاسو ولې نن پرېشانه ښکارئ؟" ٨ هغوئ ورته ووئيل، "مُونږ دواړو يو يو خوب ليدلے دے اؤ دلته داسې هيڅ څوک هم نشته چې تعبير يې وکړى." يُوسف ورته ووئيل چې، "دا خو خُدائ پاک دے چې هغه د خوبُونو د تعبير عِلم ورکوى، تاسو ما ته خپل خوبُونه ووايئ." ٩ نو ساقى ووئيل، "زما په خوب کښې زما په مخکښې د انګُورو بُوټے وو، ١٠ د دې درې څانګې وې. چې څنګه د دې نه پاڼې راووتلې، غُوټۍ راخرګندې شوې اؤ انګُور پاخۀ شول. ١١ ما د فِرعون پيالۍ په لاس کښې نيولې وه، نو ما انګُور راواخستل اؤ دا مې په پياله کښې نچوړ کړل اؤ هغۀ له مې ورکړل." ١٢ يُوسف ووئيل، "د دې تعبير دا دے: دا درې څانګې درې ورځې دى.

۱۳ په دې درېو ورځو کښې به بادشاه تا آزاد کړى اَؤ په خپل
ځائ به دې کښېنوى. تۀ به هغۀ له پيالئ ورکړې اَؤ د مخکښې
په شان به د هغۀ ساقى يې. ۱٤ خو چې کله ستا د پاره هر څۀ
سم شى نو ما مۀ هېروه اَؤ په ما ډېره مِهربانى وکړه فِرعون ته زما
ذِکر وکړه اَؤ د دې قېدخانې نه خلاصېدلو کښې زما مدد وکړه.
۱۵ ځکه چې زۀ د عبرانيانو د وطن نه راتښتولے شوے وم اَؤ ما دلته
په مِصر کښې داسې هيڅ کار نۀ دے کړے چې په دې قېدخانه
کښې بندى شم.“ ۱٦ چې کله مشر نانبائى پوهه شو چې د ساقى
د خوب تعبير ښۀ وو، هغۀ هم يُوسف ته ووئيل، ”ما هم خوب
ليدلے دے، ما په سر د ډوډئ درې ټوکرئ راوانې کړې وې.
۱۷ د ټولو سر ته ټوکرئ کښې د فِرعون د پاره هر قِسم ډوډئ وې
اَؤ مارغانو دا خوړلې.“ ۱۸ يُوسف جواب ورکړو، ”د دې تعبير دا
دے: هغه درې ټوکرئ درې ورځې دى. ۱۹ په درېو ورځو کښې
به فِرعون ستا نه سر لرې کړى. بيا به تا په يوه ونه کښې راځوړند
کړى اَؤ مارغان به ستا غوښه وخورى.“ ۲۰ په دريمه ورځ دا د
فِرعون د پيدايښت ورځ وه، هغۀ خپلو ټولو درباريانو له يوه لويه
ډوډئ وکړه، هغۀ خپل ساقى اَؤ مشر نانبائى رابهر کړل اَؤ د خپلو
درباريانو په مخکښې يې حاضر کړل. ۲۱ فِرعون، ساقى بيا په
خپل وړومبى ځائ کښېنولو اَؤ ساقى پيالئ فِرعون له په لاس کښې
ورکړه، ۲۲ خو هغه مشر نانبائى يې راځوړند کړو. دا ټول هم هغه
شان وشول لکه څنګه چې يُوسف وئيلى وُو. ۲۳ خو ساقى يُوسف
راياد نۀ کړو. اَؤ هېر يې کړو.

## د حضرت یُوسف د فِرعون د خوبُونو تعبیر کول

**٤١**

(١) پُوره دوه کاله تېر شوی وُو چې د مِصر فِرعون خوب
ولیدو چې هغه د نیل دریاب په غاړه ولاړ وو، (٢) چې
کله اووهٔ ښې ښائسته اؤ څربې غواګانې د دریاب نه راوختلې اؤ په
واښو کښې په څرېدلو شروع شوې. (٣) اووهٔ نورې غواګانې هم
راوختلې، دا کمزورې اؤ نرۍ وې. دا راغلې اؤ د دریاب په غاړه د
نورو غواګانو سره ودرېدلې، (٤) هغه نرو اؤ کمزورو غواګانو، ښائسته
اؤ څربې غواګانې وخوړلې. بیا فِرعون راویښ شو. (٥) هغه بیا اُودهٔ شو
اؤ یو بل خوب یې ولیدو. هغهٔ د غلې اووهٔ ډک اؤ پاخهٔ وږی ولیدل،
چې په یو ډنډر باندې راشوی وُو. (٦) بیا هغهٔ یو بل ډنډر ولیدو چې
په دې باندې اووهٔ نور وږی راشوی وُو چې نری وُو اؤ ګرمې هوا وچ
کړی وُو، (٧) اؤ د غلې هغه نرو وږو هغه ډک اؤ پاخهٔ وږی تېر کړل.
فِرعون راویښ شو اؤ پوهه شو چې هغهٔ خوب لیدلو. (٨) سحر هغه
پرېشان وو، نو هغهٔ د مِصر ټول نجومیان اؤ هوښیار خلق راوغوښتل.
هغهٔ ورته خپل خوبُونه ووئیل، خو هیچا هم هغهٔ ته د دې تعبیر نهٔ
شو ښودلے. (٩) بیا ساقی فِرعون ته ووئیل، "صاحِبه! نن زهٔ دا خبره
څرګندوم چې زما نه غلطی شوې ده. (١٠) یو ځل چې فِرعون خپلو
خِدمتګارانو ته غُصه شو نو زهٔ اؤ مشر نانبائی یې د څوکیدارانو مشر
د کور په قېدخانه کښې قېد کړُو. (١١) یوه شپه مُونږ دواړو یو یو خوب
ولیدو اؤ د هغه خوبُونو بېل بېل مطلبُونه وُو. (١٢) یو ځوان عبرانے هلته
زمُونږ سره وو چې هغه د څوکیدارانو د مشر خِدمتګار وو. مُونږ

هغۀ ته خپل خوبُونه ووئیل اؤ هغۀ مُونږ ته د دې تعبیرُونه وښودل.
۱۳ چې څنګه هغۀ وئیلی وُو هم هغه شان وشول: تا زۀ بیا په خپل
ځائ کښېنولم، خو نانبائی دې راځوړند کړو." ۱۴ فِرعون یُوسف
راوغوښتو اؤ هغه فوراً د قېدخانې نه راوستلے شو. چې هغۀ د سر
اؤ ګیرې وېښتۀ کل کړل اؤ جامې یې بدلې کړې، نو هغه فِرعون ته
پېش شو. ۱۵ فِرعون یُوسف ته ووئیل، "ما یو خوب لیدلے دے اؤ
هیڅ څوک هم د دې تعبیر نۀ شی ښودلے. ما ته چا وئیلی دی چې
تۀ په خوبُونو پوهېږې اؤ تعبیر یې ښودلے شې." ۱۶ یُوسف جواب
ورکړو، "صاحِبه! زۀ دا نۀ شم کولے، خو خُدائ پاک دې ښۀ تعبیر
درکړی." ۱۷ فِرعون یُوسف ته ووئیل، "ما خوب ولیدلو چې زۀ د نیل
دریاب په غاړه ولاړ وم، ۱۸ چې کله اووۀ ښائسته اؤ څربې غواګانې
د دریاب نه راوختلې اؤ په واښو کښې په څرېدلو شروع شوې. ۱۹ بیا
اووۀ نورې غواګانې راوختلې چې نرۍ اؤ کمزورې وې. ما په مِصر
کښې دومره ډېرې بې‌کاره غواګانې چرته هم نۀ دی لیدلې. ۲۰ بیا
دې کمزورو غواګانو هغه څربې غواګانې وخوړلې، ۲۱ خو هیچا به
داسې نۀ وې وئیلی چې هغه یې خوړلې دی، ځکه چې هم هغه
شان کمزورې معلُومېدې لکه چې څنګه مخکښې وې. بیا زۀ راوېښ
شوم. ۲۲ ما دا خوب هم ولیدو چې په یو ډنډر باندې د غلې اووۀ
ډک اؤ پاخۀ وږی راشوی وُو، ۲۳ بیا د غلې اووۀ نور وږی راوشول،
چې دا نری اؤ د صحرا هوا سوزولی وُو، ۲۴ اؤ د غلې اووۀ نرو وږو
هغه ډک وږی تېر کړل. ما دا خوبُونه نجومیانو ته ووئیل، خو هیچا
ما ته د دې تعبیر نۀ شو ښودلے."

٢٥ يُوسف فِرعون ته ووئيل، ”صاحِبه! د دې دواړو خوبُونو هم
يو مطلب دے، خُدائ پاک تا ته وښودل چې هغه به په راتلُونکې
وخت کښې څۀ کوى. ٢٦ دا اووۀ څربې غواګانې اووۀ کالونه دى
اؤ دا د غلې اووۀ ډک وږى هم اووۀ کالونه دى، د دې دواړو هم يو
مطلب دے. ٢٧ هغه اووۀ نرۍ غواګانې چې کُومې وروستو راوختلې
اؤ هغه اووۀ د غلې نرى وږى کُوم چې ګرمې هوا وچ کړل د قحط
اووۀ کالونه دى. ٢٨ لکه څنګه چې ما تا ته ووئيل، خُدائ پاک تا ته
ښودلى دى چې هغه به په راتلُونکى وخت کښې څۀ کوى. ٢٩ اووۀ
کاله به د ټول مِصر په وطن کښې ښۀ ډېر پېداوار کېږى. ٣٠ د هغې
نه پس به اووۀ کاله د قحط وى اؤ هغه ټول آباد کالونه به مو هېر
شى، ځکه چې قحط به وطن تباه کړى. ٣١ آباد وخت به مو بېخى
هېر شى، ځکه چې ورپسې کُوم قحط راځى هغه به ډېر سخت وى.
٣٢ ستا د دوه ځل خوبُونو مطلب دا دے چې دا د خُدائ پاک فېصله
ده اؤ زر به خُدائ پاک داسې وکړى. ٣٣ اوس تاسو يو هوښيار اؤ ښۀ
پوهه سړے ولټوئ اؤ هغه د مِصر د وطن مشر مُقرر کړئ. ٣٤ تاسو
له نور آفسران هم مُقررول په کار دى اؤ د آبادۍ په دې اووۀ کالونو
کښې د فصلُونو پينځمه حِصه اخلئ. ٣٥ نو هغوئ له حُکم ورکړئ
چې راروان ښۀ کالونه دى چې د خوراک ټول څيزُونه راغونډ کړى
اؤ هغوئ له اِختيار ورکړئ چې په ښارُونو کښې غله جمع کړى اؤ
د هغې حِفاظت وکړى. ٣٦ هغه خوراک به د دې وطن د پاره يوه
ذخيره وى، د قحط د هغو اووۀ کالونو د پاره کُوم چې د مِصر په
وطن راروان دى. نو داسې خلق به د لوږې نه نۀ مرى.“

## د حضرت یُوسف مشر مُقررېدل

۳۷ د فِرعون اؤ د هغۀ د درباریانو په نظر کښې دا منصُوبه ښۀ
راغله، ۳۸ اؤ فِرعون هغوئ ته ووئیل، "مُونږ ته به هیڅ کله هم
د یُوسف نه ښۀ سړے مِلاؤ نۀ شی، یو داسې سړے چې په هغۀ
کښې د خُدائ پاک رُوح وی." ۳۹ فِرعون یُوسف ته ووئیل،
"خُدائ پاک تا ته هر څۀ ښودلی دی، دا څرګنده خبره ده چې
ستا نه لوئ هوښیار اؤ ښه پوهه لرُونکے کس بل نشته. ۴۰ زۀ به تا
د خپل وطن مشر جوړ کړم اؤ زما ټول خلق به ستا حُکم منی. تۀ
به ما پسې دویم اِختیارمن سړے یې. ۴۱ زۀ اوس تا په ټول مِصر
مشر مُقرروم." ۴۲ فِرعون خپله ګوته د لاس نه وویستله چې په
هغې د بادشاهئ مُهر لګېدلے وو اؤ یُوسف ته یې ورپه ګوته کړه.
هغۀ ته یې د ریښمو یوه ښائسته چُوغه ورواغوستله اؤ د سرو زرو
هار یې ورپه غاړه کړو. ۴۳ هغۀ له یې د ګرځېدو د پاره هغه دویمه
د اسُونو بادشاهی ګاډئ ورکړه اؤ عِزت ورکوُونکی فوجیان د هغۀ
نه مخکښې روان وُو اؤ چغې یې وهلې چې، "لار پرېږدئ! مشر
راروان دے." نو یُوسف په ټول مِصر مشر مُقرر شو. ۴۴ بادشاه
هغۀ ته ووئیل، "زۀ فِرعون یم. اؤ ستا د اِجازت نه بغېر به په ټول
مِصر کښې هیڅ څوک هم لاس خپه نۀ شی ښوزولے." ۴۵-۴۶ په
هغۀ یې د مِصریانو نُوم "صافنت فعینح" کېښودو اؤ هغۀ ته یې یوه
ښځه آسِناته په نِکاح کړه، چې هغه د اُون د یو اِمام فوطیفرع لُور
وه. یُوسف د دېرشو کالو وو چې هغۀ د مِصر د فِرعون خِدمت

کول شروع کړل. هغه د فِرعون د دربار نه لاړو اؤ د مِصر ټول
وطن يې وکتلو، ٤٧ د آبادئ په هغو اووۀ کالونو کښې هغه وطن
ډېره زياته غله وکړه، ٤٨ هغه هر څۀ يُوسف راغونډ کړل اؤ په
ښارُونو کښې يې ذخيره کړل. هغۀ په هر ښار کښې د ګېرچاپېره
پټو نه خوراک راجمع کړو. ٤٩ دا غله دومره زياته وه چې يُوسف
يې تلل پرېښودل. دا د سمندر په غاړه د شګو په شان ډېره وه.
٥٠ د قحط د کالونو نه مخکښې د يُوسف د آسِناتھ نه دوه زامن
پيدا شول. ٥١ هغۀ ووئيل، ”خُدائ پاک زما ټولې سختئ اؤ زما
د پلار ټوله کورنئ زما نه هېره کړې ده“ نو يُوسف په خپل مشر
زوئ منشه نُوم کېښودو. ٥٢ هغۀ دا هم ووئيل، ”خُدائ پاک زما
د تکليف په وطن کښې ما له بچی راکړی دی“ نو هغۀ په خپل
دويم زوئ اِفرائيم نُوم کېښودو. ٥٣ د مِصر د وطن د آبادئ هغه
اووۀ کالونه ختم شول، ٥٤ اؤ د قحط اووۀ کالونه شروع شول هم
هغه شان لکه چې څنګه يُوسف وئيلی وُو. په نورو ټولو وطنُونو
کښې قحط وو، خو د مِصر په ټول وطن کښې خوراک وو. ٥٥ چې
کله مِصريان ډېر زيات وږی شول، دوئ فِرعون ته د خوراک د
پاره فرياد وکړو. نو هغۀ هغوئ له حُکم ورکړو چې يُوسف ته لاړ
شئ اؤ هم هغسې وکړئ چې څنګه هغه تاسو ته وائی. ٥٦ قحط
سخت شو اؤ په ټول وطن کښې خور شو، نو يُوسف ټول ګودامُونه
کولاؤ کړل اؤ په مِصريانو به يې غله خرڅوله. ٥٧ د يُوسف نه غله
اخستلو د پاره د ټولې دُنيا نه خلق مِصر ته راتلل، ځکه چې قحط
په هر ځائ کښې ډېر سخت وو.

## د حضرت يُوسف د ورُوڼو غلې پسې مِصر ته تلل

# ٤٢

١ چې کله يعقُوب خبر شو چې په مِصر کښې غله
شته، هغهٔ خپلو زامنو ته ووئيل چې، ”ولې يو بل ته
ګورئ؟ ٢ ګورئ! ما اؤرېدلی دی چې په مِصر کښې غله شته، هلته
لاړ شئ اؤ لږه واخلئ چې ژوندی پاتې شُو اؤ د لوږې نه مړهٔ نهٔ شُو.“
٣ نو د يُوسف لس مېرنی ورُوڼه د غلې اخستلو د پاره مِصر ته لاړل،
٤ خو يعقُوب د يُوسف سکه ورور بنيامين د هغوئ سره ونهٔ لېږلو،
ځکه چې هغه په دې يرېدو چې څهٔ نُقصان به ورته ورسېږی. ٥ نو
د يعقُوب زامن د نورو خلقو سره غلې اخستلو د پاره راغلل ځکه
چې د کنعان په وطن کښې قحط وو. ٦ يُوسف د مِصر د وطن د
مشر په توګه د ټولې دُنيا په خلقو باندې غله خرخوله. نو د يُوسف
ورُوڼه راغلل اؤ د هغهٔ په مخکښې ټيټ شول اؤ خپل سرُونه يې ورته
په زمکه ولګول. ٧ يُوسف خپل ورُوڼه وليدل، هغهٔ دوئ وپېژندل،
خو ځان يې داسې کړو لکه چې هډو دوئ پيژنی نه. اؤ د هغوئ
سره يې سختې خبرې کولې، ”تاسو د کُوم ځائ نه راغلی يئ؟“
هغوئ ورته ووئيل، ”صاحِبه! مُونږ د خوراک اخستلو د پاره د کنعان
نه راغلی يُو.“ ٨ يُوسف خپل ورُوڼه وپېژندل، خو هغوئ هغه ونهٔ
پيژندو. ٩ هغهٔ ته هغه خوبُونه راياد شول کُوم يې چې د هغوئ په باره
کښې ليدلی وُو اؤ ورته يې ووئيل، ”تاسو جاسُوسان يئ، تاسو زمُونږ
د وطن کمزوری معلُومولو له راغلی يئ.“ ١٠ هغوئ جواب ورکړو،
”نه، صاحِبه! مُونږ ستا خِدمتګاران د خوراک د پاره راغلی يُو.

١١ مُونږ ټول د يو سړى زامن يُو. صاحِبه! مُونږ جاسُوسان نۀ يُو، مُونږ
صحيح خلق يُو.“ ١٢ يُوسف ورته ووئيل، ”نه، تاسو زمُونږ د وطن
کمزورى معلُومولو له راغلى يئ.“ ١٣ هغوئ ورته ووئيل، ”صاحِبه!
مُونږ دولس ورُونه وُو. د کنعان په وطن کښې د يو سړى زامن يُو. يو
ورور مو مړ دے اؤ کشرے ورور مو اوس د خپل پلار سره دے.“
١٤ يُوسف ورته ووئيل، ”هم دغه شان ده لکه چې څنګه ما ووئيل
تاسو جاسُوسان يئ. ١٥ زۀ دا معلُومول غواړم چې په رښتيا سره تاسو
څوک يئ: زۀ د فِرعون په سر قسم کوم چې تاسو به تر هغې پورې
لاړ نۀ شئ چې ستاسو کشرے ورور دلته راغلے نۀ وى. ١٦ ستاسو
نه يو کس ورولېږئ اؤ هغه راولئ. تاسو باقى نور به په قېدخانه کښې
واچولې شئ چې ستاسو دا خبره معلُومه کړے شى چې تاسو رښتيا
وايئ کۀ نۀ. ګنى، د فِرعون په سر مې قسم دے چې تاسو په رښتيا
جاسُوسان يئ.“ ١٧ بيا درې ورځې يې هغوئ ټول په قېدخانه کښې
بند کړل. ١٨ په دريمه ورځ يُوسف هغوئ ته ووئيل، ”زۀ د خُدائ
پاک نه يرېږم اؤ زۀ به تاسو په يو شرط ژوندى پرېږدم، ١٩ چې دا ثابِته
شى چې تاسو رښتونى يئ، ستاسو نه به يو کس په قېدخانه کښې
بند وى، باقى نور ټول تلے شئ اؤ چې کُومه غله تاسو اخستې ده
هغه خپلو قحط وهلو خلقو له يوسئ. ٢٠ خو تاسو به خامخا خپل
کشرے ورور ما له راروليئ. د دې نه به دا ثابِته شى چې تاسو رښتيا
وايئ اؤ زۀ به تاسو نۀ وژنم.“ نو هغوئ دې ته راضى شول. ٢١ اؤ يو
بل ته يې ووئيل، ”دا اوس چې مُونږ کړېږُو دا د هغې نتيجه ده چې
مُونږ د خپل ورور سره څۀ کړى وُو، هغه چې په کُوم لوئ مُصيبت

کښې وو مُونږ ولیدلو چې کله هغۀ مِنت زاری کوله، خو مُونږ وانۀ
ورېدله. دا ځکه اوس مُونږ په دې تکلیف کښې راګیر یُو.“ ٢٢ روبین
ووئیل، ”ما تاسو ته وئیل چې هلک له تکلیف مۀ ورکوئ، خو تاسو
وانۀ ورېدل. اؤ اوس به زمُونږ نه د هغۀ د وینې حِساب غوښتې شی.“
٢٣ هغوئ ته پته ونۀ لګېده چې يُوسف د دوئ په خبرو پوهېږی،
ځکه چې هغۀ د هغوئ سره د یو تُرجمان په ذریعه خبرې کولې.
٢٤ يُوسف د هغوئ نه لاړو اؤ په ژړا شو. چې کله هغۀ د ژړا نه پس
خبرې کولے شوې نو راواپس شو، شمعُون یې رابېل کړو اؤ د هغوئ
په مخکښې یې وتړلو.

## د حضرت يُوسف د ورُوڼو واپس کنعان ته تلل

٢٥ يُوسف حُکم ورکړو چې د هغۀ د ورُوڼو بوجۍ د غلې نه ډکې
کړئ، د هر یو کس روپۍ واپس د هغۀ په بوجۍ کښې کېږدئ اؤ
هغوئ له د سفر د پاره خوراک هم ورکړئ. اؤ هم دغه شان یې
ورسره وکړل. ٢٦ د هغۀ ورُوڼو چې کُومه غله اخستې وه د هغې نه
یې خپل خرُونه بار کړل اؤ بیا دوئ لاړل. ٢٧ چې کله په سرائې
کښې یو کس خپله بوجۍ کولاؤ کړه چې خپل خرۀ له خوراک
ورکړی نو د بوجۍ په خُله کښې یې روپۍ ولیدلې. ٢٨ هغۀ خپل
ورُوڼه راوغوښتل، ”دېخوا ګورئ! ما ته یې خپلې روپۍ واپس کړې
دی، دا دی زما په بوجۍ کښې!“ د هغوئ ساه ډُوبه شوه اؤ ویرېدل
اؤ هغوئ د یو بل نه پوښتنه وکړه، ”دا خُدائ پاک زمُونږ سره څۀ
کوی؟“ ٢٩ چې کله دوئ په کنعان کښې خپل پلار یعقُوب له

راغلل، هغوئ هغۀ ته هر څۀ ووئيل چې د هغوئ سره شوی وُو:
۳۰ ”د مِصر مشر زمُونږ سره سختې خبرې کولې اؤ هغۀ په مُونږ
اِلزام ولګولو چې مُونږ د هغۀ په وطن کښې جاسُوسی کوُو. ۳۱ مُونږ
ورته ووئيل چې مُونږ جاسُوسان نۀ يُو مُونږ صحيح خلق يُو. ۳۲ مُونږ
ټول دولس ورُونړه د يو پلار زامن وُو. يو ورور مو مړ دے اؤ کشرے
ورور مو د پلار سره په کنعان کښې دے. ۳۳ هغه سړی مُونږ ته
ووئيل، يو کس زما سره پاتې شئ نو ما ته به پته ولګې چې تاسو
صحيح خلق يئ، اؤ باقی نور به خپلو نهَرو کورَنو له غله يوسئ اؤ
لاړ شئ. ۳٤ خپل کشرے ورور ما ته راولئ. بيا به ما ته پته ولګې
چې تاسو جاسُوسان نۀ يئ اؤ صحيح خلق يئ، زۀ به تاسو له خپل
ورور درواپس کړم اؤ بيا تاسو دلته پاتې شئ اؤ سوداګری کوئ.“
۳۵ نو چې کله هغوئ خپلې بوجۍ تشولې نو هر يو کس د رُوپو
کڅوړې ومُوندلې، اؤ چې روپۍ يې وليدلې، نو هغوئ اؤ د هغوئ
پلار ويرېدل. ۳٦ خپل پلار يعقُوب هغوئ ته ووئيل، ”تاسو ما د
ټولو زامنو نه خلاصول غواړئ څۀ؟ يُوسف لاړو، شمعُون لاړو،
اؤ اوس به تاسو بنيامين هم بوځئ! دا ټول تکليفُونه په ما راغلی
دی.“ ۳۷ روبين خپل پلار ته ووئيل، ”کۀ بنيامين ما واپس تا له
رانۀ وستلو، نو تۀ زما دوه زامن ووژنه. بنيامين زما په حواله کړه اؤ
زۀ به يې واپس تا له راولم.“ ۳۸ خو يعقُوب ووئيل، ”زما زوئ به
ستاسو سره نۀ ځی، د هغۀ ورور مړ دے اؤ هغه يکی يواځې پاتې
دے. په لار کښې به په هغۀ څۀ وشی. زۀ ضعيف سړے يم اؤ چې
تاسو ما په کُوم غم آخته کوئ نو ما سپين ګيرے به قبر ته ولېږئ.“

## مِصر ته دويم سفر

٤٣ ⁽¹⁾ نو په کنعان کښې قحط نور هم سخت شو،
⁽²⁾ اؤ چې کله د يعقُوب کورنئ ټوله غله وخوړله
کُومه چې د مِصر نه راوړلے شوې وه، يعقُوب خپلو زامنو ته ووئيل،
"بيا لاړ شئ اؤ زمُونږ د پاره لږه نوره غله راوړئ." ⁽³⁾ يهُوداه هغۀ ته
ووئيل، "هغه سړى مُونږ ته په ټينګه خبردارے راکړے دے چې مُونږ
د ځان سره خپل ورور نۀ وى راوستلے مُونږ د هغۀ په دربار کښې نۀ
شُو حاضرېدلے. ⁽⁴⁾ کۀ تۀ زمُونږ سره زمُونږ ورور لېږل غواړې، نو مُونږ
به لاړ شُو اؤ ستا د پاره به خوراک واخلُو. ⁽⁵⁾ اؤ کۀ تۀ نۀ غواړې، نو
مُونږ به نۀ ځُو، ځکه چې هغه سړى مُونږ ته وئيلى دى چې زمُونږ سره
خپل ورور نۀ وى نو مُونږ د هغۀ په دربار کښې نۀ شُو حاضرېدلے."
⁽⁶⁾ يعقُوب ورته ووئيل، "تاسو زۀ په دومره سخت تکليف کښې ولې
آخته کړے يم چې هغه سړى ته مو ووئيل چې زمُونږ بل ورور هم
شته؟" ⁽⁷⁾ هغوئ جواب ورکړو، "هغه سړى زمُونږ اؤ زمُونږ د کورنئ
په باره کښې تپوسُونه کول چې، ستاسو پلار تر اوسه پورې ژوندے
دے څۀ؟ ستاسو بل ورور شته څۀ؟ مُونږ خو صِرف د هغۀ د تپوسُونو
جواب ورکولو. مُونږ ته څۀ پته وه چې هغه به مُونږ ته وائى چې تاسو
د ځان سره خپل ورور هم راولئ؟" ⁽⁸⁾ يهُوداه خپل پلار ته ووئيل،
"دا هلک ما سره ولېږه اؤ مُونږ به سمدستى لاړ شُو. هسې نه چې
زمُونږ ماشُومان اؤ مُونږ د لوږې نه مړۀ شُو. ⁽⁹⁾ زۀ به په خپله د هغۀ
حِفاظت کوم اؤ تۀ د هغۀ ذِمه وارى زما په غاړه کولے شې. کۀ زۀ

دا تا له واپس روغ اؤ سلامت رانۀ ولم، نو زۀ به همېشه تا ته ملامته
یم. ١٠ کۀ مُونږ دومره وخت ضائع کړے نۀ وے، نو مُونږ هلته تلي
شُوُو اؤ تر اوسه پورې دوه ځل واپس هم راتلے شُوُو.“ ١١ خپل پلار
هغوئ ته ووئیل، ”کۀ هم دغه شان کېږی، نو د دې وطن د ټولو نه
ښۀ څیزُونه په خپلو بوجو کښې کېږدئ اؤ هغه مشر له یې په تُحفه
کښې یوسئ: لږ عطر، شات، خوشبُودارې مصالحې، پسته اؤ بادام.
١٢ د خپل ځان سره یو په دوه روپۍ هم یوسئ، ځکه چې کُومې
روپۍ ستاسو د بوجو په خُلو کښې واپس کړے شوے وې هغه به
یې خامخا ستاسو نه واپس اخلی. کېدے شی چې په غلطۍ سره
داسې شوی وی. ١٣ خپل ورور روان کړئ اؤ سمدستی هغه سړی
له واپس ورشئ. ١٤ قادر خُدائ پاک دې هغه سړے په تاسو مِهربانه
کړی، نو هغه به بنیامین تاسو له درکړی اؤ هغه بل ورور به هم تاسو
ته واپس کړی. کۀ زما بچی خامخا مړۀ کېږی، نو مړۀ دې شی.“
١٥ نو هغه کسانو هغه تُحفې اؤ یو په دوه روپۍ واخستلې اؤ مِصر ته
د بنیامین سره روان شول. اؤ هلته د یُوسف په حضُور کښې پېش
شول. ١٦ چې کله یُوسف بنیامین د هغوئ سره ولیدلو، نو هغۀ د خپل
کور مشر خِدمتګار ته ووئیل، ”دا سړی زما کور ته بوځه. د غرمې
ډوډۍ به دوئ زما سره خوری، نو یو څاروے حلال کړه اؤ تیار یې
کړه.“ ١٧ نو خِدمتګار هم هغه شان وکړل چې څنګه ورته حُکم
شوے وو اؤ هغه کسان یې د یُوسف کور ته بوتلل.

١٨ چې کله یې هغوئ کور ته راروان کړی وُو، هغوئ ویرېدل
اؤ فکر یې کولو چې، ”مُونږ ته په وړومبی ځل چې کُومې روپۍ

واپس کړے شوې وې د هغې په وجه یې دلته راروان کړی یُو.
دوئ به ناڅاپې په مُونږ حمله وکړی، زمُونږ خرۀ به بوځی اؤ
مُونږ به خپل غُلامان کړی." ۱۹ نو د کور د دروازې سره هغوئ
مشر خِدمتګار ته ووئیل، ۲۰ "اے صاحِبه! مُونږ دلته یو ځل
مخکښې د خوراک اخستلو د پاره راغلی وُو. ۲۱ مُونږ چې کله
سرائی ته ورسېدو، مُونږ خپلې بوجۍ کولاؤ کړې، نو هر یو کس
خپلې ټولې روپۍ د خپلې خپلې بوجۍ په خُله کښې ومُوندلې.
مُونږ هغه د ځان سره واپس راوړې دی. ۲۲ مُونږ د ځان سره د
نور خوراک اخستلو د پاره نورې روپۍ هم راوړې دی. مُونږ ته
پته نشته چې هغه روپۍ زمُونږ په بوجو کښې چا واپس ایښې
وې." ۲۳ د خِدمتګارانو مشر ورته ووئیل، "خبر به شی، مۀ
یرېږئ. ستاسو اؤ ستاسو د پلار خُدائ پاک درله هغه روپۍ ستاسو
په بوجو کښې ایښې وې. ستاسو روپۍ ما ته مِلاؤ شوې." بیا
هغۀ شمعُون هغوئ له راوستلو. ۲۴ هغه خِدمتګار دوئ دننه
کور ته بوتلل اؤ هغوئ له یې د خپو وینځلو د پاره اوبۀ ورکړې
اؤ د هغوئ خرُونو ته یې واښۀ واچول. ۲۵ هغوئ خپلې تُحفې
تیارې کړې چې یُوسف ته یې پیش کړی چې کله هغه د غرمې
راورسېږی، ځکه چې هغوئ ته وئیلی شوی وُو چې هغوئ به
د هغۀ سره ډوډۍ خوری. ۲۶ چې کله یُوسف کور ته راغلو،
هغوئ تُحفې دننه کور ته هغۀ له یوړې اؤ د هغۀ په مخکښې
زمکې ته ټیټ شول. ۲۷ هغۀ د هغوئ نه د خبر خبریت پوښتنه
وکړه اؤ بیا یې ورته ووئیل، "تاسو ما ته د خپل ضعیف پلار

په باره کښې وئیلی وُو، هغه څنګه دے؟ هغه ژوندے دے؟“
۲۸ هغوئ ورته ووئیل، ”زمُونږ پلار ستاسو خِدمتګار تر اوسه
پورې ژوندے دے او روغ جوړ دے.“ او هغوئ د هغۀ په
مخکښې خپل سرُونه ټيټ کړل. ۲۹ چې کله يُوسف د خپلې
مور زوئ، خپل سکه ورور بنیامین ولیدو، هغۀ ووئیل، ”نو دا
ستاسو کشرے ورور دے، چې تاسو د هغۀ په باره کښې ما ته
وئیلی وُو؟ زما زویه! خُدائ پاک دې په تا مِهربانه شی.“ ۳۰ بيا
يُوسف فوراً لاړو، ځکه چې د خپل ورور په ليدو د هغۀ زړۀ نرم
شو. او د ژړا نه يې سترګې ډکې شوې، نو هغه خپلې کوټې ته
لاړو او وې ژړل. ۳۱ د هغې نه پس چې کله هغۀ مخ ووينځلو،
هغه بهر راغلو او خپل زړۀ يې کلک کړو، هغۀ حُکم وکړو چې
ډوډۍ راوړئ. ۳۲ يُوسف په يو دسترخوان ډوډۍ ته ناست وو او
په بل باندې د هغۀ ورُوڼه ناست وُو. او چې کُومو مِصريانو هلته
ډوډۍ خوړله، هغوئ ته يې په بل ځائ کښې ډوډۍ کېښودله،
ځکه چې هغوئ د عبرانيانو سره ډوډۍ خوړل حرام ګڼل. ۳۳ د
هغۀ ورُوڼه په دسترخوان ناست وُو، د هغوئ د عُمر په حِساب
سره د مشر نه کشر پورې يُوسف ته مخامخ کښېنولے شوی
وُو. چې کله هغوئ ته پته ولګېده چې هغوئ څنګه کښېنولے
شوی دی، نو دوئ په حېرانتيا سره يو بل ته کتل. ۳٤ د يُوسف
د دسترخوان نه هغوئ له ډوډۍ ورکولے شوه او د بنیامین د
نورو نه يو په پينځۀ زياته مېلمستيا وشوله. نو هغوئ د يُوسف
سره خوړل څښل وکړل او ښۀ په سُر کښې شول.

## د سپينو زرو جام ورکېدل

٤٤ ١ يُوسف د خپل کور مشر خِدمت‌گار له حُکم ورکړو
چې، ”د هغه کسانو بوجۍ د غلې نه دومره ډکې کړئ
چې هغوئ څومره وړلے شی اؤ د هر يو کس روپۍ د هغۀ د بوجۍ
په خُله کښې کېږدئ. ٢ زما د سپينو زرو جام د کشر ورور د بوجۍ
په خُله کښې کېږده اؤ ورسره هغه د غلې روپۍ هم کېږده.“ نو هم
هغه شان يې وکړل چې څنګه ورته وئيلے شوی وُو. ٣ بل سحر
وختی، د هغۀ ورُوڼه د خپلو خرُونو سره په خپله مخه لاړل. ٤ چې
کله دوئ د ښار نه لرې غوندې لرې لاړل، نو يُوسف د خپل کور مشر
خِدمت‌گار ته ووئيل، ”په هغه کسانو پسې زر لاړ شه. چې کله تۀ
هغوئ ته ورسېږې نو د هغوئ نه تپوس وکړه چې، تاسو د ښو په بدل
کښې بد ولې کړی دی؟ ٥ تاسو زما د نيک د سپينو زرو جام ولې
پټ کړے دے؟ دا هغه جام دے چې په کُوم کښې هغه څښی اؤ
د فال د پاره يې استعمالوی. دا تاسو غلط کار کړے دے.“ ٦ چې
کله خِدمت‌گار هغوئ له ورورسېدلو، هم هغه خبرې يې ورته وکړې.
٧ هغوئ هغۀ ته ووئيل، ”صاحِبه! داسې خبرې تۀ ولې کوې؟ مُونږ
قسم کوُو چې مُونږ داسې کار نۀ دے کړے. ٨ تاسو ته پته ده چې
مُونږ د کنعان د وطن نه هغه روپۍ تاسو له واپس راوړې چې مُونږ د
بوجو په خُلو کښې ومُوندلې. نو بيا مُونږ څنګه ستا د نيک د کور
نه سرۀ زر يا سپين زر پټ کړُو؟ ٩ صاحِبه! کۀ په مُونږ کښې د چا
سره هغه ومُوندلے شو، نو هغه به مړ کړے شی اؤ مُونږ نور ټول به

د خپل نېک غُلامان شُو.“ ۱۰ هغه ووئیل، ”ټیک ده، خو د چا سره
چې جام ومُوندلے شی نو صِرف هغه به زما غُلام شی اؤ نور خلاص
یئ تلے شئ.“ ۱۱ نو هغوئ زر زر خپلې بوجئ زمکې ته راکُوزې
کړې اؤ هر یو کس خپله بوجئ کولاؤ کړه. ۱۲ د یُوسف خِدمت‌گار
هغوئ د مشر ورور نه واخله تر کشر پورې ټول ښهٔ ولټول اؤ جام د
بنیامین په بوجئ کښې راووتلو. ۱۳ د هغه ورُوڼو د خفگان نه خپلې
جامې وشلولې، خرُونه یې بار کړل اؤ ښار ته واپس شول. ۱٤ چې کله
یهُوداه اؤ د هغهٔ ورُوڼه د یُوسف کور ته راغلل، نو هغه تر اوسه پورې
هلته وو. اؤ هغوئ د هغهٔ په مخکښې په زمکه پرېوتل، ۱۵ اؤ یُوسف
ورته ووئیل، ”تاسو څهٔ کړی دی؟ تاسو ته پته نهٔ وه چې زما په شان
سړے په فال څیزُونه معلُوموی؟“ ۱٦ یهُوداه ورته ووئیل، ”صاحِبه!
مُونږ تا ته څهٔ ووایُو؟ مُونږ څهٔ وئیلے شُو؟ مُونږ د خپل ځان صفائی
څنگه پیش کړُو؟ خُدائ پاک زمُونږ غلطی راښکاره کړې ده. اوس
به مونږ ټول سره د هغه وروره چې جام ورسره نیولے شوے دے ستا
غُلامان شُو.“ ۱۷ یُوسف ورته ووئیل، ”نه! زهٔ به هیڅ کله هم داسې
ونهٔ کړم، هم هغه یو به زما غُلام وی چې د چا سره جام راوتلے وو.
باقی نور په خېر سره خپل پلار ته واپس تلے شئ.“

## د یهُوداه د بنیامین د پاره مِنت زاری کول

۱۸ یهُوداه یُوسف ته ورنزدې شو اؤ ورته یې ووئیل، ”اے نېکه!
زهٔ تا ته سوال کوم چې خپل خِدمت‌گار له اِجازت ورکړه، زهٔ به د
خپل نېک په غوږ کښې یوه خبره وکړم. ما ته مهٔ غُصه کېږه، تهٔ د

فِرعون برابر طاقت لرې. ۱۹ نېکه! تا زمُونږ نه تپوس وکړو چې ستاسو
پلار یا بل ورور هم شته؟ ۲۰ نو مُونږ درته ووئیل چې زمُونږ پلار شته
چې ضعیف سړے دے اؤ زمُونږ یو کشر ورور هم شته چې د هغۀ
په بُوډاتوب کښې پیدا شوے دے. د دې هلک ورور مړ دے اؤ دا
د مور یکې یو ژوندے بچے دے. خپل پلار ورسره ډېره مینه کوی.
۲۱ صاحِبه! تا مُونږ ته ووئیل چې هغه دلته راولئ، چې تۀ هغه وګورې،
۲۲ اؤ مُونږ ووئیل چې هغه هلک د خپل پلار نه نۀ شی جُدا کېدے،
کۀ هغه جُدا شی، نو د هغۀ پلار به مړ شی. ۲۳ بیا تا ووئیل چې
کۀ تاسو سره خپل کشرے ورور نۀ وی راغلے نو تاسو زما په دربار
کښې نۀ شئ حاضرېدلے. ۲٤ کله چې مُونږ واپس خپل پلار له لاړُو،
صاحِبه! چې تا څۀ وئیلی وُو هغه خبرې مو هغۀ ته وکړې. ۲۵ هغۀ
مُونږ ته ووئیل چې بیا لاړ شئ اؤ لږه نوره غله واخلئ. ۲٦ مُونږ ورته
ووئیل چې مُونږ تر هغې پورې نۀ شُو تلے، چې خپل کشرے ورور
راسره نۀ وی نو مُونږ د هغه سړی په دربار کښې نۀ شُو حاضرېدلے.
مُونږ صِرف په دې یو شرط تلے شُو کۀ کشرے ورور هم زمُونږ سره
لاړ شی. ۲۷ زمُونږ پلار مُونږ ته ووئیل، تاسو ته پته ده چې زما د ښځې
راحیل نه زما صِرف دوه زامن پیدا شوی دی. ۲۸ هغه یو خو زما نه
مخکښې تلے دے. هغه به خامخا ځنګلی ځناورو ټوټې ټوټې کړے
وی، ځکه چې ما بیا نۀ دے لیدلے. ۲۹ کۀ تاسو اوس دا هم زما نه
بوځئ اؤ په هغۀ څۀ وشی اؤ تاسو چې په کُوم غم ما آخته کوئ نو
ما سپین ګیرے به قبر ته ولېږئ، زۀ ضعیف سړے یم.“ ۳۰-۳۱ یهُوداه
خبرې کولې، ”اؤ اوس صاحِبه! کۀ د دې هلک نه بغیر واپس خپل

پلار ته لاړ شم، چې څنګه هغه ما وګورى اؤ هلک زما سره نۀ وى،
نو هغه به مړ شى. د هغۀ ژوند د دې هلک په ژوند پورې تړلے دے،
هغه ډېر ضعيف سړے دے اؤ چې مُونږ يې په کُوم غم آخته کړُو
د هغې نه به مړ شى. ۳۲ بله خبره دا ده چې، ما خپل پلار له خپل
ځان په ضمانت کښې ورکړے دے. ما هغۀ ته وئيلى دى چې کۀ
دا هلک مې واپس هغۀ له رانۀ وستلو، نو زۀ به همېشه د پاره هغۀ ته
ملامته يم. ۳۳ اؤ اوس صاحِبه! د دې هلک په ځائ به زۀ ستا غُلام
شم، دا پرېږده چې واپس د خپلو ورُوڼو سره لاړ شى. ۳٤ چې دا هلک
زما سره نۀ وى نو زۀ څنګه واپس خپل پلار له لاړ شم؟ داسې غم
چې زما په پلار راشى نو هغه زۀ نۀ شم زغملے.“

## د حضرت يُوسف په ورُوڼو ځان پېژندل

٤٥ ۱ بيا يُوسف د خپلو خِدمتګارانو په مخکښې زړۀ
نۀ شو کلک کولے، نو هغۀ ټولو مِصريانو له حُکم
ورکړو چې د هغۀ نه لاړ شى. چې کله يُوسف په خپلو ورُوڼو ځان
پېژندلو د هغۀ سره نور هيڅ څوک هم نۀ وُو. ۲ هغۀ دومره په چغو
چغو وژړل چې مِصريانو هم دا ژړا واؤرېده اؤ دا خبر د فِرعون محل
ته ورسېدو. ۳ يُوسف خپلو ورُوڼو ته ووئيل، ”زۀ يُوسف يم. ولې زما
پلار لا ژوندے دے؟“ خو چې د هغۀ ورُوڼو دا واؤرېدل، هغوئ دومره
ويرېدل چې هغوئ خبرې هم نۀ شوې کولے. ٤ بيا يُوسف هغوئ ته
ووئيل، ”ما ته لږ رانزدې شئ.“ اؤ هغوئ ورنزدې شول اؤ هغۀ ورته
ووئيل، ”زۀ ستاسو ورور يُوسف يم، کُوم چې تاسو په مِصر کښې خرڅ

کړے وو. ۵ اوس مهٔ خفه کېږئ اؤ مهٔ خپل ځانُونه ملامته کوئ چې
تاسو دلته زهٔ خرڅ کړم. بې‌شکه زهٔ خُدائ پاک ستاسو نه مخکښې
ولېږلم چې د خلقو ژوند بچ کړم. ۶ دا خو په زمکه د قحط صِرف
دویم کال دے، پینځه نور کالونه به هم وی چې کَرل اؤ رېبل به په
کښې نهٔ کېږی. ۷ خُدائ پاک زهٔ ستاسو نه مخکښې دلته رالېږلے
یم چې تاسو په دُنیا کښې داسې په عجیبه طریقه بچ شئ اؤ چې دا
خبره یقینی وی چې تاسو اؤ ستاسو اولاد ژوندے پاتې شی. ۸ نو
دا تاسو نهٔ وئ، خُدائ پاک وو چې هغهٔ زهٔ دلته راولېږلم. هغهٔ زهٔ د
فِرعون د ټولو نه لوئ وزیر، د هغهٔ د دربار مشر اؤ په ټول مِصر مشر
جوړ کړے یم. ۹ اوس زر زر واپس زما پلار له لاړ شئ اؤ هغهٔ ته
ووایئ چې ستا زوئ یُوسف داسې وائی: خُدائ پاک زهٔ په ټول مِصر
مشر جوړ کړے یم، زر زر ما ته راشه. ۱۰ تاسو به د جشن په علاقه
کښې اوسېږئ، چرته چې به تهٔ، ستاسو بچی، نمسی، ستاسو ګډې،
چېلۍ، څاروی اؤ ستاسو هر څهٔ به ما ته نزدې وی. ۱۱ کهٔ تاسو په
جشن کښې یئ نو زهٔ به ستاسو خیال ساتم. د قحط پینځهٔ کالونه
خو لا پاتې دی، اؤ زهٔ دا نهٔ غواړم چې تاسو، ستاسو کورنۍ اؤ ستاسو
څاروی دې د لوږې نه مړهٔ شی. ۱۲ اؤ ګورئ، اوس بنیامین اؤ تاسو
هم ما وینئ چې زهٔ په رښتیا یُوسف یم چې ستاسو سره خبرې کوم.
۱۳ زما پلار ته ووایئ چې ما ته دلته په مِصر کښې څومره عِزت مِلاؤ
شوے دے اؤ هغه هر څهٔ ورته ووایئ چې تاسو لیدلی دی. اؤ زر زر
یې دلته راولئ.“ ۱۴ هغهٔ د خپل ورور بنیامین نه لاسُونه تاؤ کړل اؤ
وې ژړل، بنیامین هم وژړل چې هغه یې غاړه ویستلو. ۱۵ بیا په ژړا ژړا

کښې، هغۀ خپل ټول ورُوڼه غاړه ویستل اؤ ښُکل یې کړل. د هغې نه
پس د هغۀ ورُوڼو ورسره خبرې اترې شروع کړې. ۱۶ چې کله دا خبر
محل ته ورسېدو چې د یُوسف ورُوڼه راغلی دی، نو فِرعون اؤ د هغۀ
درباریان خوشحال شول. ۱۷ فِرعون یُوسف ته ووئیل، ”خپلو ورُوڼو
ته ووایه چې خپل څاروی بار کړی اؤ د کنعان وطن ته دې واپس لاړ
شی. ۱۸ هغوئ دې خپل پلار اؤ خپلې کورنئ دلته راولی اؤ دلته دې
واپس راشی. زۀ به دوئ له په مِصر کښې د ټولو نه ښۀ زمکه ورکړم
اؤ هغوئ به د هغې زمکې نه ښۀ ډېره ګټه واخلی. ۱۹ هغوئ ته دا هم
ووایه چې د مِصر نه خپل ځان سره ګاډئ بوځی چې په کښې خپلې
ښځې، ماشُومان اؤ خپل پلار د ځان سره راولی. ۲۰ د هغوئ نه چې
کُوم مالُونه اؤ سامانونه پاتې شی د هغې غم دې نۀ کوی، ځکه چې
په مِصر کښې د ټولو نه ښۀ زمکه به د هغوئ وی.“ ۲۱ د یعقُوب
زامنو هم هغه شان وکړل چې څنګه فِرعون حُکم کړے وو نو یُوسف
هغوئ له ګاډئ اؤ د سفر د پاره خوراک هم ورکړو. ۲۲ هغۀ هر یو له
د جامو نوې جوړې هم ورکړې، خو هغۀ بنیامین له درې سوه د سپینو
زرو سیکې اؤ پینځۀ جوړه نوې جامې ورکړې. ۲۳ هغۀ خپل پلار له د
مِصر په ښۀ سامانُونو بار لس خرې اؤ لس د غلې بار خرې، ډوډئ اؤ
د سفر د پاره خوراک هم ورولېږلو. ۲۴ هغۀ خپل ورُوڼه رُخصت کړل
اؤ چې هغوئ څنګه روان شول هغۀ هغوئ ته ووئیل، ”په لاره کښې
بحث مۀ کوئ.“ ۲۵ دوئ د مِصر نه روان شول اؤ د کنعان په وطن
کښې خپل پلار اؤ کور ته لاړل. ۲۶ هغوئ هغۀ ته ووئیل چې، ”یُوسف
ژوندے دے. هغه د ټول مِصر مشر دے.“ یعقُوب حق حېران شو اؤ

د هغوئ په خبرو يې يقين نۀ راتلو. ۲۷ خو چې کله هغوئ ورته هغه
هر څۀ ووئيل کُوم چې يُوسف هغوئ ته وئيلی وُو اؤ چې هغه ګاډی
يې هم وليدلې کُومې چې يُوسف رالېږلې وې چې هغه به په کښې
مِصر ته بوځی، نو د هغوئ پلار يعقُوب کښې ساه راغله. ۲۸ هغۀ
ووئيل، ”زما زوئ يُوسف ژوندے دے! بس هم دغه مې غوښتل! زۀ
ورځم چې د مرګ نه مخکښې يې ووينم.“

## د حضرت يعقُوب د کورنۍ مِصر ته تلل

٤٦ ۱ يعقُوب د خپل هر څۀ سره په خپل سفر روان شو اؤ
بيرسبع ته راغلو، هلته يې د خپل پلار اِسحاق خُدائ
پاک ته قُربانۍ پيش کړې. ۲ د شپې خُدائ پاک په خوب کښې
د هغۀ سره خبرې وکړې اؤ ورته يې ووئيل، ”يعقُوبه، يعقُوبه!“ هغۀ
ورته ووئيل، ”اؤ، زۀ حاضر يم.“ ۳ ورته يې ووئيل، ”زۀ ستا د پلار
خُدائ پاک يم. مِصر ته تلو نه مۀ يرېږه، زۀ به هلته ستا د اولاد نه
يو لوئ قوم جوړوم. ٤ زۀ ستا سره مِصر ته تلو کښې مل يم اؤ زۀ
به ستا اولاد واپس دې وطن ته راولم. چې تۀ وفات شې نو يُوسف
به تا کفن دفن کړی.“ ٥ نو يعقُوب د بيرسبع نه روان شو. د هغۀ
زامنو، هغه، خپل واړۀ بچی اؤ خپلې ښځې يې په هغه ګاډو کښې
کښېنولې کُومې چې فِرعون رالېږلې وې. ٦ هغوئ خپل څاروی اؤ
هغه هر څۀ کُوم چې دوئ په کنعان کښې ګټلی وُو، روان کړل اؤ
مِصر ته لاړل. يعقُوب د ځان سره خپل ټول اولاد روان کړو: ۷ خپل
زامن، نمسی، خپلې لُوڼه اؤ نمسی. ۸ دا د يعقُوب د اولاد نومُونه

دی کُوم چې د هغۀ سره مِصر ته لاړل، خپل مشر زوئ روبين ورسره
وو ٩ اؤ د روبين زامن: حنوک، فلو، حصرون اؤ کرمی. ١٠ شمعُون
اؤ د هغۀ زامن: يموايل، يمين، اُهد، يکين، صحر اؤ شاؤل د کنعانۍ
ښځې زوئ. ١١ ليوی اؤ د هغۀ زامن: جيرسون، قُهات اؤ مراری.
١٢ يهُوداه اؤ د هغۀ زامن: سيله، فرص اؤ زارح. د يهُوداه نور زامن،
عير اؤ اونان د کنعان په وطن کښې مړۀ وُو. د فرص زامن حصرون اؤ
حمُول وُو. ١٣ يساکار اؤ د هغۀ زامن: تولع، فووه، يوب اؤ سِمرون.
١٤ زبولون اؤ د هغۀ زامن: سرد، ايلون اؤ يحلی‌ايل. ١٥ دا د يعقُوب
هغه زامن دی کُوم چې د هغۀ د ښځې لِياه نه په ميسوپوتاميه کښې
پېدا شوی وُو، د هغۀ د لُور دينه نه بغېر. د لِياه نه د هغۀ ټول اولاد په
شمېر کښې درې دېرش کسان وُو. ١٦ جاد اؤ د هغۀ زامن: صفيان،
حجی، سونی، اصبان، عيری، ارودی اؤ اريلی. ١٧ اشير اؤ د هغۀ
زامن: يمنه، اسواه، اِسوی، بريعاه اؤ د هغوئ خور سِره. د بريعاه
زامن حِبر اؤ ملکی‌ايل وُو. ١٨ دا شپاړس تنه، د زِلفه نه د يعقُوب اولاد
دے، هغه وينځه کُومه چې لابن خپلې لُور لِياه له ورکړې وه. ١٩ د
يعقُوب د ښځې راحيل نه د يعقُوب دوه زامن پېدا شول: يُوسف اؤ
بنيامين. ٢٠ په مِصر کښې، د اون د يو اِمام فوطيفرع د لُور آسِناتھ نه،
د يُوسف دوه زامن، منشه اؤ اِفرائيم پېدا شول. ٢١ د بنيامين زامن،
بالع، بکر، اشبيل، جيرا، نعمان، احی، رَوس، مُفيم، حُفيم اؤ ارد
وُو. ٢٢ دا څوارلس تنه، د راحيل نه د يعقُوب اولاد دے. ٢٣ دان اؤ
د هغۀ زوئ حشيم. ٢٤ نفتالی اؤ د هغۀ زامن: يحصی‌ايل، جونی،
يصر اؤ سليم. ٢٥ دا اووۀ تنه، د بِلهاه نه د يعقُوب اولاد دے، دا

هغه وینځه وه کُومه چې لابن خپلې لُور راحیل له ورکړې وه. ٢٦ په
خپله د یعقُوب د اولاد ټول شمېر شپږ شپېته وو کُوم چې مِصر ته
لاړل، دا د هغهٔ د زامنو د ښځو نه بغېر دی. ٢٧ د یُوسف دوه زامن
په مِصر کښې پیدا شوی وُو، کُوم چې هلته لاړل د یعقُوب د کورنۍ
هغه ټول کسان په شمېر کښې اؤیا تنه وُو.

## حضرت یعقُوب اؤ د هغهٔ کورنۍ په مِصر کښې

٢٨ یعقُوب یهُوداه د ځان نه مخکښې یُوسف ته ولېږلو چې د جشن
په علاقه کښې د یعقُوب سره مِلاؤ شی. چې کله هغوئ د جشن
علاقې ته ورسېدل، ٢٩ نو یُوسف په خپله بادشاهی ګاډۍ کښې سور
شو اؤ د خپل پلار سره مِلاوېدو د پاره جشن ته لاړو. چې کله هغوئ
مِلاوېدل، نو یُوسف د خپل پلار نه لاسُونه تاؤ کړل اؤ غاړه یې ویستلو
اؤ ډېر وخت یې وژړل. ٣٠ یعقُوب یُوسف ته ووئیل، ”چې تهٔ ژوندے
یې اؤ زما ستا سره مُلاقات وشولو، نو کهٔ اوس مړ شم نو خیر دے.“
٣١ بیا یُوسف خپلو ورُوڼو اؤ د خپل پلار د کورنۍ باقی نورو کسانو ته
ووئیل، ”زهٔ ځم چې فِرعون اؤ نور کسانو ته ووایم چې زما ورُوڼه اؤ
زما د پلار ټوله کورنۍ، چې د کنعان په وطن کښې وُو، ما له راغلی
دی. ٣٢ زهٔ به هغهٔ ته ووایم چې تاسو شپانهٔ یئ اؤ څاروی ساتئ اؤ
تاسو خپلې رَمې اؤ څاروی اؤ چې تاسو څهٔ هم لرل هغه تاسو راوړی
دی. ٣٣ چې کله فِرعون تاسو راوغواړی اؤ تپوس درنه کوی چې
ستاسو کسب څهٔ دے، ٣٤ نو هغهٔ ته ووایئ چې تاسو د وړُوکوالی نه
تر اوسه پورې څاروی ساتئ، لکه څنګه چې ستاسو پلار نیکهٔ ساتل.

نو داسې هغه به تاسو د جشن په علاقه کښې اوسېدو ته پرېږدى.“
يُوسف داسې ځکه ووئيل چې مِصريانو شپانو ته په سپک نظر کتل.

## ٤٧

۱ نو يُوسف د هغوئ نه پينځهٔ ورُونه روان کړل اؤ
فِرعون له ورغلل. هغهٔ فِرعون ته ووئيل، ”زما پلار
اؤ زما ورُونه د خپلو رَمو، څاروو اؤ چې څهٔ يې هم لرل د هغې سره
د کنعان د وطن نه راغلى دى. دوئ اوس د جشن په علاقه کښې
دى.“ ۲ هغهٔ بيا خپل ورُونه د فِرعون سره مِلاؤ کړل. ۳ فِرعون د
هغوئ نه تپوس وکړو، ”ستاسو کسب څهٔ دے؟“ هغوئ ورته ووئيل،
”صاحِبه! مُونږ شپانهٔ يُو، لکه چې څنګه زمُونږ پلار نيکهٔ وُو.“ ٤ ”مُونږ
دې وطن ته د اوسېدو د پاره راغلى يُو، ځکه چې د کنعان په وطن
کښې ډېر سخت قحط دے اؤ زمُونږ د څاروو د څرېدلو ځائ نشته.
صاحِبه! مُونږ تا ته سوال کوُو، مُونږ له اِجازت راکړه چې د جشن په
علاقه کښې اوسېږُو.“ ۵ فِرعون يُوسف ته ووئيل، ”اوس ستا پلار
اؤ ستا ورُونه راغلى دى، ٦ نو د ټول مِصر زمکه د دوئ شوه. دوئ
پرېږده چې د جشن په علاقه کښې اوسېږى چې د دې وطن د ټولو
نه ښهٔ ځائ دے. اؤ کهٔ په دوئ کښې تکړه کسان وى، نو هغوئ
زما په خپلو څاروو مشران مُقرر کړه.“ ۷ بيا يُوسف خپل پلار يعقُوب
راوستلو اؤ د فِرعون سره يې مِلاؤ کړو. يعقُوب فِرعون ته د برکت د
پاره دُعا وکړه، ۸ اؤ فِرعون د هغهٔ نه تپوس وکړو، ”تهٔ به د څو کالو
يې؟“ ۹ يعقُوب جواب ورکړو، ”يو ځائ بل ځائ اوسېدو کښې
زما يو سل دېرش کاله تېر شوى دى. زما عُمر لږ اؤ سخت دے، دا
زما د پلار نيکهٔ د اُوږدو عُمرونو په شان نهٔ دے.“ ۱۰ يعقُوب فِرعون

ته د برکت دُعا وکړه اؤ د هغۀ نه لاړو. ۱۱ بیا یُوسف خپل پلار اؤ
خپلو ورُوڼو له رعمسیس ته نزدې د مِصر د ټولو نه ښۀ زمکه ورکړه،
لکه څنګه چې فِرعون حُکم کړے وو. ۱۲ یُوسف خپل پلار، ورُوڼو
اؤ ټولو خپلوانو له، د هغوئ د کورَنو په مُطابق خوراک ورکولو.

## قحط

۱۳ قحط دومره سخت وو چې هیچرته هم ډوډۍ نۀ مِلاوېدله اؤ د
مِصر اؤ د کنعان د وطن خلق د لوږې نه کمزوری شول. ۱٤ چې خلقو
به ترې نه غله اخستله، نو یُوسف هغه ټولې روپۍ جمع کولې اؤ هغه
روپۍ به يې د فِرعون په خزانه کښې کېښودلې. ۱٥ چې کله په مِصر
اؤ د کنعان په وطن کښې ټولې روپۍ ختمې شوې، مِصریان یُوسف له
راغلل اؤ ورته يې ووئیل، ”مُونږ له ډوډۍ راکړه! تۀ اوس مُونږ دې ته
پرېږدې چې ستا په مخکښې مړۀ شُو! ځکه چې زمُونږ سره ټولې روپۍ
ختمې شوې دی.“ ۱٦ یُوسف ورته ووئیل، ”خپل څاروی راولئ، کۀ
ستاسو سره ټولې روپۍ ختمې شوې وی نو د څاروو په بدل کښې به زۀ
تاسو له خوراک درکړم.“ ۱٧ نو هغوئ خپل څاروی یُوسف له راوستل
اؤ هغۀ په دې کال کښې د هغوئ د اسُونو، ګډو، چېلو، څاروو اؤ خرو
په بدل کښې خوراک ورکولو. ۱۸ ورپسې کال هغوئ هغۀ له راغلل اؤ
ورته يې ووئیل، ”صاحِبه! مُونږ به دا حقیقت ستا نه نۀ پټوُو، چې زمُونږ
سره ټولې روپۍ ختمې شوې اؤ زمُونږ څاروی هم ستا شول. زمُونږ سره
زمُونږ د زمکو اؤ زمُونږ د ځانُونو نه بغېر هیڅ هم پاتې نۀ دی. ۱۹ نو تۀ
مُونږ دې ته پرېږدې چې ستا په مخکښې مړۀ شُو! زمُونږ زمکه شاړه

کېدو ته مۀ پرېږده. د خوراک په بدل کښې مُونږ اؤ زمُونږ زمکه واخله.
مُونږ به د فِرعون نوکران شُو اؤ زمُونږ زمکه به د هغۀ شی. مُونږ له غله
راکړه چې ژوندی پاتې شُو اؤ تُخم راکړه چې خپله زمکه وکرُو.“ ۲۰ نو
یُوسف د مِصر ټوله زمکه د فِرعون د پاره واخستله. هر یو مِصری خپله
زمکه د مجبُورئ نه خرڅه کړه، ځکه چې قحط ډېر سخت وو، اؤ
هغه ټوله زمکه د فِرعون شوه. ۲۱ یُوسف د مِصر د یو سر نه تر بل سَره
پورې خلق غُلامان کړل. ۲۲ خو صِرف هغه زمکه یې وانۀ خستله کُومه
زمکه چې د اِمامانو وه. هغوئ د پاره دا ضرُوری نۀ وه چې خپله زمکه
خرڅه کړی، ځکه چې فِرعون هغوئ له د اوسېدو د پاره وظیفه ورکوله.
۲۳ نو یُوسف هغه خلقو ته ووئیل، ”تاسو ته پته ده چې ما تاسو اؤ ستاسو
زمکې هم د فِرعون د پاره اخستې دی. د خپلې خپلې زمکې کَرلو د
پاره دا تُخم واخلئ. ۲۴ د رېبلو په وخت کښې پینځمه حِصه فِرعون له
ورکوئ. باقی نور تُخم تاسو د کَرلو د پاره اؤ د خپلو ځانُونو، کورَنو اؤ د
خپلو وړو ماشُومانو د پاره د خوراک په توګه اِستعمالولے شئ.“ ۲۵ هغوئ
ورته ووئیل، ”تا زمُونږ ژوند بچ کړے دے، صاحِبه! تۀ په مُونږ مهربان
یې اؤ مُونږ به د فِرعون غُلامان یُو.“ ۲۶ نو یُوسف د مِصر وطن د پاره دا
یو قانُون جوړ کړو چې د فصل پینځمه حِصه به د فِرعون وی. دا قانُون
تر اوسه پورې شته دے. خو صِرف د اِمامانو زمکې د فِرعون نۀ شوې.

## د حضرت یعقُوب وصیت

۲۷ بنی اِسرائیل په مِصر کښې د جشن په علاقه کښې اوسېدل،
چرته چې هغوئ مالدار شول اؤ ډېر اولاد یې پیدا شو. ۲۸ یعقُوب په

مِصر کښې اوولس کاله اوسېدو، نو د یعقُوب ټول عُمر یو سل اووۀ
 څلوېښت کاله وو. ۲۹ چې کله د هغۀ د مرګ وخت رانزدې شو، نو
هغۀ خپل زوئ یُوسف راوغوښتلو اؤ هغۀ ته یې ووئیل، ”کۀ زۀ رښتیا
په تا ګران یم، نو تۀ زما سره پوخ لوظ وکړه چې تۀ به ما په مِصر
کښې نۀ ښخوې. ۳۰ زۀ هلته ښخېدل غواړم چرته چې زما پلار نیکۀ
ښخ دی. ما د مِصر نه یوسه اؤ هلته مې ښخ کړه چرته چې هغوئ
ښخ دی.“ یُوسف ورته ووئیل، ”زۀ به هم دغه شان وکړم چې څنګه
تا ووئیل.“ ۳۱ یعقُوب ورته ووئیل، ”زما سره لوظ وکړه چې تۀ به هم
دغه شان وکړې.“ نو یُوسف ورسره لوظ وکړو. اؤ یعقُوب په خپل
کټ باندې سر ټیټ کړو اؤ شُکر یې ادا کړو.

## د حضرت یعقُوب د اِفرائیم اؤ منشه د پاره
## د خُدائ پاک نه برکت غوښتل

**۴۸** ۱ څۀ موده وروستو یُوسف خبر شو چې د هغۀ پلار
بیمار دے. نو هغۀ خپل دوه زامن، منشه اؤ اِفرائیم
روان کړل اؤ د خپل پلار پوښتنې له ورَغلو. ۲ چې یعقُوب خبر شو
چې خپل زوئ یې پوښتنې له راغلے دے، هغۀ خپل ځان تکړه کړو اؤ
په کټ کښې نېغ کښېناستو. ۳ یعقُوب یُوسف ته ووئیل چې، ”قادر
خُدائ پاک د کنعان د وطن په لُوز کښې ما ته راڅرګند شو اؤ برکت
یې راکړو.“ ۴ هغۀ ما ته ووئیل، ”زۀ به تا له ډېر اولاد درکړم، نو داسې
ستا د اولاد نه به ډېر قومُونه جوړ شی. زۀ به ستا اولاد له دا وطن ورکوم
چې همېشه د پاره د هغوئ شی.“ ۵ ”نو اوس یُوسفه! چې ستا کُوم

دوه زامن زما د راتلو نه مخکښې په مِصر کښې پېدا شوی دی، دوئ
هم زما بچی دی، اِفرائيم اؤ منشه زما د خپلو بچو روبين اؤ شمعُون
په شان دی. ۶ خو کۀ ستا نور زامن پېدا کېږی، نو هغوئ به زما نۀ
شی ګڼلے، هغوئ به د اِفرائيم اؤ د منشه نه ميراث اخلی. ۷ زۀ داسې
ستا د مور راحيل په خاطر کوم. چې کله زۀ د ميسوپوتاميه نه واپس
راتلم، نو هغه اِفرات ته نزدې د کنعان په وطن کښې زما د ډېر غم سره
وفات شوه. ما هغه د اِفرات د لارې په غاړه ښخه کړه.“ اِفرات اوس
د بيت‌لحم په نُوم مشهُور دے. ۸ چې کله يعقُوب د يُوسف زامن
وليدل، هغۀ تپوس وکړو، ”دا څوک دی؟“ ۹ نو يُوسف خپل پلار
ته ووئيل، ”دا زما زامن دی، کُوم چې خُدائ پاک ما له دلته په مِصر
کښې راکړی دی.“ يعقُوب ووئيل، ”دوئ ما له راوله چې د دوئ د
پاره برکت وغواړم.“ ۱۰ د ډېر عُمر په وجه د يعقُوب نظر کمزورے
شوے وو اؤ د هغۀ نظر سم نۀ لګېدو. يُوسف هغۀ له زامن راوستل اؤ
هغوئ يې غاړه ويستل اؤ ښُکل يې کړل. ۱۱ يعقُوب يُوسف ته ووئيل،
”ما هيڅ کله هم دا ګُمان نۀ وو کړے چې زۀ به بيا تا ووينم اؤ اوس
خُدائ پاک راباندې ستا بچی هم وليدل.“ ۱۲ بيا يُوسف هغوئ د هغۀ
د غېږ نه واخستل اؤ د هغۀ په مخکښې يې د عِزت نه سر زمکې ته
ټيټ کړو. ۱۳ يُوسف اِفرائيم د يعقُوب ګڅ طرف ته اؤ منشه د هغۀ
ښی طرف ته نزدې راوستل. ۱۴ نو يعقُوب خپل لاسُونه اُوږدۀ کړل اؤ
خپل ښے لاس يې د اِفرائيم په سر کېښودو، اګرچې هغه کشر وو اؤ
خپل ګڅ لاس يې د منشه په سر کېښودو، چې هغه مشر وو. ۱۵ بيا
هغۀ يُوسف د پاره برکت وغوښتلو اؤ وې وئيل:

”د کُوم خُدائ پاک چې زما پلار نیکۀ اِبراهیم اؤ اِسحاق
خِدمت کړے دے هغه دې، دې هلکانو له برکت ورکړی!
کُوم خُدائ پاک چې تر ننه پورې ټول عُمر زما ساتنه کړې ده!
۱۶ هغه فرِښته دې دوئ له برکت ورکړی، چې هغې زۀ د هرې
بدئ نه بچ ساتلے یم!
د دې هلکانو په ذریعه دې زما اؤ زما د پلار نیکۀ اِسحاق اؤ
اِبراهیم نُوم ژوندے وساتلے شی!
اؤ په زمکه دې د دوئ ډېر اولاد پیدا شی!“
۱۷ چې کله یُوسف دا ولیدل چې د هغۀ پلار خپل ښې لاس د
اِفرائیم په سر ایښے دے، هغه په دې خفه شو، نو هغۀ د خپل پلار
لاس اُوچت کړو اؤ د اِفرائیم د سر نه یې د منشه سر له یوړو. ۱۸ اؤ
یُوسف خپل پلار ته ووئیل، ”داسې نه، زما پلاره! دا مشر دے. خپل
ښے لاس دۀ له په سر کېږده.“ ۱۹ د هغۀ پلار اِنکار وکړو اؤ وې
وئیل، ”ما ته پته شته، زما زویه! ما ته پته ده چې د منشه اولاد به هم
یو لوئ قوم شی. خو خپل کشر ورور به د هغۀ نه لوئ وی اؤ د هغۀ
د اولاد نه به ډېر لوئ قومُونه جوړ شی.“ ۲۰ نو هغۀ هغوئ له په هغه
ورځ برکت ورکړو، وې وئیل، ”اِسرائیلیان به ستاسو نومُونه استعمالوی
چې کله هغوئ د برکت نُوم اخلی. هغوئ به وائی، خُدائ پاک
دې تاسو د اِفرائیم اؤ منشه په شان کړی.“ نو داسې یعقُوب اِفرائیم
د منشه نه مخکښې کړو. ۲۱ بیا یعقُوب یُوسف ته ووئیل، ”گوره!
زۀ مرګ ته نزدې یم، خو خُدائ پاک به ستا مل وی اؤ تا به واپس
د خپل پلار نیکۀ وطن ته بوځی. ۲۲ د شِکم هغه آباده علاقه چې ما

د اموريانو نه د تُورې اۆ ليندې په زور اخستې ده زۀ هغه ستا ورُونړو
له نۀ ورکوم بلکه تا له يې درکوم."

## د حضرت يعقُوب د خپلو زامنو سره آخرى خبرې کول

# ٤٩

۱ يعقُوب خپل زامن راوغوښتل اۆ ورته يې ووئيل،
"راغونډ شئ اۆ زۀ به تاسو ته ووايم چې په راتلُونکى
وخت کښې به په تاسو څۀ کيږى:

۲ راټول شئ اۆ واورئ، اے د يعقُوب زامنو!
د خپل پلار اِسرائيل خبره واورئ.

۳ روبين، زما مشر زوئ يې! تۀ زما د طاقت وړومبۍ مېوه يې
اۆ زما د ځوانۍ وړومبے بچے،
په عِزت اۆ طاقت کښې زما د ټولو زامنو نه زيات يې.

٤ تۀ د جوشناک سېلاب په شان يې،
خو تۀ به د ټولو نه عِزتمند نۀ يې،
دا ځکه چې تۀ زما د بلې ښځې سره څملاستې
اۆ د خپل پلار کټ دې پليت کړو.

٥ شمعُون اۆ ليوى په بدو کښې ورُونړه دى.
بد عملى کولو د پاره د خپلو تُورو نه کار اخلى.

٦ د دوئ په پټو خبرو کښې به زۀ نۀ شريکېږم،
اۆ نۀ به د دوئ په ډله کښې حِصه اخلم،
ځکه چې په غُصه کښې دوئ خلق ووژل
اۆ دوئ هسې د خوند د پاره غوايان ګُډ کړل.

٧ لعنت دې د دوئ په قهر وى، ځکه چې هغه قهر ډېر
سخت وو،
اؤ لعنت دې د دوئ په غضب وى، ځکه چې دا غضب
بې‌رحمه وو.
زۀ به د دوئ اولاد د اِسرائيل په ټول وطن کښې خوارۀ وارۀ کړم.
زۀ به دوئ د اِسرائيليانو نورو قبيلو سره ګډوډ کړم.
٨ يهُوداه! ستا ورُونړه به ستا صِفت کوى.
تۀ به خپل دُښمنان د مرئ نه رانيسې.
ستا ورُونړه به ستا په مخکښې ټيټ شى.
٩ يهُوداه! تۀ د زمرى بچے يې،
چې ښکار ووژنى اؤ خپل غار ته راستُون شى،
غزېږى اؤ څملى.
هيڅ څوک هم دا زړۀ نۀ شى کولے چې هغه راپاڅوى.
١٠ يهُوداه به د مشرئ جنډا نيسى،
اؤ د هغۀ اولاد به هميشه حکومت کوى.
قومُونه به هغۀ له قلنګ راوړى،
اؤ د هغۀ په مخکښې به د تابعدارئ سره ټيټېږى.
١١ هغه خپل کُوچے د انګُور په بُوټى پورې تړى،
د ټولو نه ښۀ بُوټى پورې.
هغه خپلې جامې د انګُور په سُور رس کښې وينځى.
١٢ د هغۀ سترګې د شرابو نه سرې دى،
د هغۀ غاښُونه د پيو نه سپين دى.

١٣ زبولون به د سيند په غاړه اوسېږی.
د هغهٔ د سيند غاړه به د کشتو د پاره محفوظ ځائ وی.
د هغهٔ علاقه به د صدون پورې ورسېږی.
١٤ يساکار لکه تکړه خر دے چې د دوه بارُونو په مېنځ
کښې اُوږد اُوږد څملی.
١٥ خو هغهٔ ته پته وی چې د آرام ځائ ښهٔ وی
اؤ چې هغه وطن خوندَور وو.
نو هغه خپله ملا بار وړلو له راښکته کړی
اؤ د نوکر په شان کار ترې اخستے شی.
١٦ دان به د خپلو خلقو بادشاه وی.
هغوئ به هم د اِسرائيليانو د نورو قبيلو په شان وی.
١٧ دان به د سړک د غاړې مار وی،
د لارې يو خطرناک مار،
چې هغه اس په پُونده وچيچی،
نو سور کس ترې په شا پرېوزی.
١٨ اے مالِکه خُدايه! زهٔ ستا د خلاصُون په اِنتظار يم.
١٩ د ډاکوانو يوه ډله به په جاد حمله وکړی،
خو هغه به راوګرځی اؤ په هغوئ پسې به شی.
٢٠ د اشير زمکه به ډېر ښهٔ خوراک پيدا کړی.
هغه به د بادشاهانو د پاره ښهٔ مزېدار خوراک تيار کړی.
٢١ نفتالی هوسۍ ده چې په آزادۍ سره منډې وهی،
اؤ هغه ښُکلی بچی راوړی.

۲۲ یُوسف یوه مېوه داره ځانګه ده،
په سپرلی کښې د مېوې نه ډکه ځانګه، د هغهٔ ځانګې په
دېوال خپژی.
۲۳ د هغهٔ غُصه ناک دُښمنان په هغهٔ باندې سخته حمله کوی
اؤ د خپلو غشو اؤ لیندو سره په هغهٔ پسې وی.
۲٤ خو چې هغه لینده راکاږی نو د هغهٔ لاسُونه نهٔ رپېږی،
اؤ د هغهٔ متې مضبُوطې جوړې شوې دی،
د یعقُوب د قادر خُدائ پاک په قُدرت سره،
د هغه شپُون په نامه، چې د اِسرائیلیانو ساتُونکے دے.
۲۵ هغه ستا د پلار خُدائ پاک دے چې هغه ستا مدد کوی،
هغه قادر خُدائ پاک چې تا له برکت درکوی.
د بره آسمان د بارانُونو
اؤ د زمکې د لاندې د چینو برکت درکړی،
برکتُونه د ډېرو څاروو اؤ د اولادُونو،
۲٦ ستا د خپل پلار برکتُونه
همېشه د پاره د زړو غرُونو د برکت نه ښهٔ دی،
ښهٔ څیزُونه د نهٔ ختمېدُونکو غرُونو نه.
دا ټول برکتُونه دې د یُوسف په سر وی، د
هغهٔ په تندی، چې د خپلو ورُوڼو مشر دے.
۲۷ بنیامین د یو شلوُونکی شرمخ په شان دے.
چې په سحر کښې ښکار خوری اؤ په ماښام کښې څهٔ چې
پاتې وی هغه ویشی.“

٢٨ دا د اِسرائیلیانو دولس قبیلې دی اؤ دا هغه وصیت دے کُوم
چې خپل پلار ورته د برکت ورکولو په وخت وکړو اؤ هر زوئ له یې
خپل خپل مُناسب برکت ورکړو.

## د حضرت یعقُوب مرګ اؤ ښخېدل

٢٩ - ٣٠ نو یعقُوب خپلو زامنو ته وصیت کولو، "زۀ مرګ ته نزدې
یم. ما د خپل پلار نیکۀ سره، د کنعان په وطن کښې، د ممرئ
سره نزدې په مکفیله کښې، د حِتی عِفرون د پټی په غار کښې ښخ
کړئ. هغه غار اؤ پټے اِبراهیم د عِفرون نه د قبرستان د پاره اخستے
وو. ٣١ دا هم هغه ځائ دے چرته چې هغوئ اِبراهیم اؤ د هغۀ ښځه
ساره ښخ کړی وُو، دا هم هغه ځائ دے چرته چې هغوئ اِسحاق
اؤ د هغۀ ښځه رِبقه ښخه کړې وه، اؤ دا هغه ځائ دے چرته چې
ما لِیاه ښخه کړې ده. ٣٢ هغه پټے اؤ هغه غار د حِتیانو نه اخستے
شوے وو. ما هم هلته ښخ کړئ." ٣٣ چې کله یعقُوب خپلو زامنو ته
وصیت ختم کړو، هغه بیا خملاستو، ساه یې ورکړه اؤ په حق ورسېدو.

# ٥٠

١ یُوسف په خپل پلار باندې ورپرېوتو، ژړل یې اؤ ښُکلولو
یې. ٢ بیا یُوسف خپلو خِدمت کوُونکو حکیمانو له
حُکم ورکړو چې د هغۀ د پلار د لاش وچولو بندُوبست وکړی چې
خراب نۀ شی. ٣ د مړی خرابېدو نه په بچ کولو باندې څلوېښت
ورځې ولګېدلې. مِصریان اوُیا ورځې د هغۀ په غم غمژن وُو. ٤ چې
کله د غم وخت تېر شو، یُوسف د فِرعون درباریانو ته ووئیل، "کۀ
تاسو ما سره ښۀ کوئ نو زۀ تاسو ته عرض کوم چې فِرعون ته داسې

وواېږ چې: ⁽⁵⁾ چې کله زما پلار مړ کېدو، هغۀ زما نه قسم اخستے
وو چې زۀ به هغه د کنعان په وطن کښې په هغه قبر کښې ښخوم
کُوم چې هغۀ کنستلے وو. نو مِهربانی وکړه، ما پرېږده چې زۀ خپل
پلار هلته ښخ کړم اؤ زۀ به بیا واپس راشم.“ ⁽⁶⁾ فِرعون ورته ووئیل،
”لاړ شه! اؤ خپل پلار هغسې ښخ کړه، چې څنګه هغۀ ستا نه قسم
اخستے وو.“ ⁽⁷⁾ نو یُوسف خپل پلار ښخولو له یوړو. د فِرعون ټول
درباریان، د هغۀ د دربار مشران اؤ د مِصر ټول مشران د یُوسف سره
لاړل. ⁽⁸⁾ د هغۀ کورنی، د هغۀ ورُوڼه اؤ د هغۀ پلار د کورنۍ باقی
ټول خلق د هغۀ سره لاړل. صِرف د هغوئ واړۀ ماشُومان، د هغوئ
ګډې، چېلۍ اؤ څاروی د جشن په علاقه کښې پاتې شول. ⁽⁹⁾ په
ګاډو کښې خلق اؤ په اسُونو سوارۀ خلق هم د هغۀ سره لاړل، دا
یوه لویه قافله وه. ⁽¹⁰⁾ چې کله دوئ د اُردن پورې غاړه هغه درمن
ته راغلل چې په اتد کښې دے، نو دوئ هلته تر ډېره وخته پورې
ویر وکړو اؤ یُوسف تر اووۀ ورځو پورې غم ژړا وکړه. ⁽¹¹⁾ چې کله
د کنعان د وطن اوسېدُونکو خلقو دا ولیدل چې هغه خلق د اتد په
درمن کښې غم ژړا کوی، نو هغوئ ووئیل چې، ”دا مِصریان څومره
سخت غم ژړا کوی!“ نو ځکه د هغه ځائ نُوم د مِصریانو د غم ژړا
مېدان شو. ⁽¹²⁾ نو د یعقُوب زامنو هم هغه شان وکړل چې څنګه هغۀ
ورته وصیت کړے وو، ⁽¹³⁾ هغوئ د هغۀ لاش د کنعان وطن ته یوړو
اؤ هغه یې د مکفیله په غار کښې ښخ کړو، چې د ممرئ سره نزدې
وو، په هغه پټی کښې کُوم چې اِبراهیم د حِتی عِفرون نه د قبرستان
د پاره اخستے وو. ⁽¹⁴⁾ چې کله یُوسف خپل پلار ښخ کړو، نو هغه

د خپلو ورُوڼو سره اؤ د هغه ټولو کسانو سره کُوم چې د هغهٔ سره د جنازې د پاره تلی وُو، مِصر ته راواپس شول.

## د حضرت يُوسف خپل ورُوڼه معاف کول

١٥ چې کله د يُوسف ورُونو دا وليدل چې د هغوئ پلار په حق رسېدلے دے نو هغوئ ووئيل، "کۀ يُوسف تر اوسه پورې زمُونږ سره کينه لرى اؤ چې کُوم بد مُونږ ورسره کړى دى کۀ د هغې زمُونږ نه بدل اخستل غواړى، نو بيا به څۀ کېږى؟" ١٦ نو هغوئ يُوسف له خبر ولېږلو اؤ وې وئيل، "زمُونږ پلار د مرګ نه مخکښې، ١٧ مُونږ ته ووئيل، يُوسف ته به داسې ووايئ: مُونږ تا ته سوال کوُو چې ستا ورُوڼو کُوم غلط کار اؤ بد تا سره کړى دى، هغه معاف کړه. اوس درته دا سوال کوُو چې مُونږ، ستا د پلار خُدائ پاک خِدمتګارانو چې کُوم غلط کار کړے دے، هغه مُونږ ته معاف کړه." چې کله دا پېغام يُوسف ته مِلاؤ شو نو هغهٔ وژړل. ١٨ بيا د هغهٔ ورُوڼه په خپله راغلل اؤ د هغهٔ په مخکښې ټيټ شول. هغوئ ورته ووئيل، "ګوره! مُونږ ستا غُلامان حاضر يُو." ١٩ خو يُوسف هغوئ ته ووئيل، "يرېږئ مۀ، ولې زۀ خُدائ پاک يم څۀ؟ ٢٠ تاسو زما خِلاف د بدو منصُوبه جوړه کړه، خو خُدائ پاک دا په نېکئ بدله کړه، چې د ډېرو خلقو ژوند بچ شى چې کُوم نن ژوندى پاتې دى. ٢١ اوس تاسو مۀ يرېږئ. زۀ به ستاسو اؤ ستاسو د بچو خيال ساتم." نو هغوئ له يې په نرمو خبرو تسلى ورکړه.

## د حضرت يُوسف مرګ

۲۲ يُوسف د خپل پلار د کورنئ سره په مِصر کښې اوسېدو، هغه
د يو سل لسو کالو وو چې په حق ورسېدو. ۲۳ هغه د اِفرائيم بچې
اؤ نمسى ليدلو پورې ژوندے وو. هغۀ د منشه د زوئ ماکير بچې
هم په کورنئ کښې وليدل. ۲٤ هغۀ خپلو ورُوڼو ته ووئيل، ”زۀ مرګِ
حال يم، خو خُدائ پاک به په رښتيا سره ستاسو خيال وساتى اؤ
د دې وطن نه به مو هغه وطن له بوځى د کُوم چې هغۀ د اِبراهيم،
اِسحاق اؤ د يعقُوب سره پخه وعده کړې وه.“ ۲۵ بيا يُوسف د خپلو
خلقو نه قسم واخستلو، هغۀ ووئيل، ”زما سره دا وعده وکړئ چې
کله تاسو خُدائ پاک هغه وطن ته بوځى، نو تاسو به زما هډُوکى د
ځان سره وړئ.“ ۲۶ نو يُوسف د يو سل لسو کالو په عُمر کښې په
مِصر کښې په حق ورسېدو. هغوئ د هغۀ د لاش وچولو بندُوبست
وکړو چې خراب نۀ شى اؤ په تابُوت کښې يې کېښودو.

# د هِجرت کِتاب

## د بنی اِسرائيلو سره په مِصر کښې ظلم کېدل

۱ ۱ د يعقُوب د زامنو نومُونه دا دی چا چې خپلې خپلې کورنۍ
د ځان سره کړې اؤ مِصر ته لاړل: ۲ روبين، شمعُون، ليوی،
يهُوداه، ۳ يساکار، زبولون، بنيامين، ۴ دان، نفتالی، جاد اؤ اشير.
۵ د يعقُوب ټول زامن اؤ نمسی په شمېر کښې اؤيا کسان وُو. يُوسف
د مخکښې نه په مِصر کښې وو. ۶ يُوسف د هغهٔ ټول ورُونړه اؤ هغه
ټول نسل يو يو مړ کېدلو، ۷ خو د هغوئ د اولاد د بنی اِسرائيلو ډېر
بچی پېدا شول اؤ ډېر زيات اؤ طاقتور شول اؤ ټول وطن د هغوئ نه
ډک شو. ۸ بيا په مِصر يو نوے بادشاه راغلو چې هغهٔ ته د يُوسف
په باره کښې هيڅ معلُومات نهٔ وُو. ۹ هغهٔ خپلو خلقو ته ووئيل،
”گورئ! دا بنی اِسرائيل ډېر زيات اؤ تکړه شول اؤ دوئ زمُونږ د پاره
خطرناک دی. ۱۰ راځئ! چې د دوئ سره يو چل وکړُو گنی دوئ

به زيات شی اؤ كۀ زمُونږ اؤ د دوئ په مېنځ كښې جنګ راشی نو
دوئ به زمُونږ خِلاف زمُونږ دُښمنان را يو ځائ كړی اؤ كېدے شی
چې د دې وطن نه وتښتی. مُونږ له داسې څۀ كول په كار دی چې
دوئ نور زيات نۀ شی.“ ۱۱ نو مِصريانو په اِسرائيليانو باندې مشران
مُقرر كړل چې په زور يې ترې نه كار اخستو. اِسرائيليانو د فِرعون
د پاره د پِتوم اؤ رعمسيس ښارُونو نه ګودامُونو جوړ كړل. ۱۲ خو
چې هغوئ ورباندې څومره ظلم زياتے كولو نو دومره په وطن كښې
خورېدل. مِصريان د هغوئ نه ويرېدل اؤ د بنی اِسرائيلو سره يې كينه
شروع كړه ۱۳-۱۴ اؤ مِصريانو په دوئ باندې ظلم زياتے كولو اؤ د
دوئ ژوند يې تريخ كړو. هغوئ په دوئ باندې د خَښتې، ختې اؤ په
خپلو پټو كښې كار كولو اؤ په دوئ باندې يې هيڅ رحم نۀ كولو.
۱۵ بيا د مِصر بادشاه سِفره اؤ فوعه، هغو دوه داينو ته ووئيل كُومو به
چې د عبرانيانو ښځو مدد كولو، ۱۶ ”چې كله تاسو د عبرانيانو ښځو
د بچی د پيدا كېدو په وخت مدد كوئ اؤ هغوئ د بچی د زېږيدلو په
ځائ ناستې ووينئ نو كۀ هغه پيدا كېدُونكے زوئ وی نو وې وژنئ،
خو كۀ هغه لُور وی نو ژوندئ يې پرېږدئ.“ ۱۷ خو داينې د خُدائ
پاک نه يرېدلې اؤ د بادشاه حُكم يې ونۀ منلو اؤ هغوئ نران ماشُومان
ژوندی پرېښودل. ۱۸ نو بادشاه داينې راوغوښتلې اؤ د هغوئ نه يې
تپوس وكړو، ”تاسو ولې داسې كوئ؟ تاسو نران بچی ولې ژوندی
پرېږدئ؟“ ۱۹ هغوئ هغۀ ته ووئيل، ”عبرانۍ ښځې د مِصريانو ښځو
په شان نۀ دی، د دوئ په آسانۍ سره بچی پيدا كېږی اؤ هلته زمُونږ
د رسېدو نه مخكښې د دوئ ماشُومان پيدا كېږی.“ ۲۰-۲۱ داينې د

خُدائ پاک نه يرېدلې نو خُدائ پاک د هغوئ سره ښۀ وو اؤ د هغوئ
کورُونه يې ودان کړل. اؤ اِسرائيليان زياتېدل اؤ طاقتور شول. ۲۲ په
آخِر کښې بادشاه خپلو ټولو خلقو له حُکم ورکړو چې: ”د عبرانيانو
هر يو پېدا شوے بچے راوړئ اؤ د نيل درياب کښې يې وغورزوئ،
خو جينکۍ به ژوندۍ پرېږدئ.“

## د حضرت مُوسیٰ پېدايښت

**۲** ۱ په دې دوران کښې د ليوی قبيلې يو سړی په خپله قبيله
کښې يوه ښځه وکړه، ۲ اؤ د هغې نه د هغۀ يو زوئ وشو.
هغې وليدل چې دا ښۀ ښکلے ماشُوم وو، نو هغې دا درې مياشتې پټ
وساتلو. ۳ خو چې کله هغې دا نور نۀ شو پټولے، هغې د لُوښو نه جوړه
شوې يوه ټوکرۍ راواخستله اؤ په دې يې تارکول ولګول چې اوبۀ په
کښې دننه نۀ ځی. هغې ماشُوم په دې کښې کښېنولو اؤ دا يې بيا د
درياب په غاړه په لُوښو کښې کېښوده. ۴ د ماشُوم خور لږه لرې ولاړه
وه اؤ کتل يې چې په هغۀ به څۀ کېږی. ۵ د فِرعون لُور لمبېدلو له د
درياب غاړې له راغله، د هغې خِدمتګارانې د درياب په غاړه روانې
وې نو ناڅاپه هغې په لُوښو کښې هغه ټوکرۍ وليده اؤ يوه خِدمتګاره
يې ورولېږله چې را يې وړی. ۶ د فِرعون لُور دا کولاؤ کړه اؤ يو ماشُوم
يې وليدو. هغۀ ژړل اؤ د هغې ورباندې زړۀ وسوزېدلو. هغې ووئيل، ”دا
ماشُوم عبرانے دے.“ ۷ بيا د هغۀ خور د فِرعون د لُور نه تپوس وکړو،
”زۀ يو عبرانۍ ښځه راوغواړم څۀ چې دې ماشُوم له تے ورکوی؟“
۸ هغې ورته ووئيل، ”اؤ لاړه شه.“ نو هغه جينۍ لاړه اؤ د ماشُوم خپله

مور يې راوستله. ⁹ شهزادګۍ دې ښځې ته ووئيل، ”دا ماشُوم واخله اؤ زما د پاره تے ورکوه اؤ زۀ به تا له مزدُوری درکوم.“ نو هغې ماشُوم يوړو اؤ هغۀ له يې تے ورکولو. ¹⁰ کله چې دا ماشُوم لږ لوئ شو نو هغې دا ماشُوم د بادشاه لُور له ورکړو اؤ د بادشاه لُور ماشُوم خپل زوئ جوړ کړو. هغې د خپل ځان سره ووئيل، ”ما دا د اوبو نه راويستلے دے!“ نو مُوسىٰ نُوم يې ورباندې کېښودو.

## د حضرت مُوسىٰ ميديان ته تښتېدل

¹¹ چې کله مُوسىٰ لوئ شو نو هغه خپلو خلقو عبرانيانو له لاړو اؤ هغۀ وليدل چې د هغوئ نه سخت کار اخستلے شو. هغۀ دا هم وليدل چې يو مِصری يو عبرانے وهلو، دا د مُوسىٰ د خپلو خلقو نه يو کس وو. ¹² مُوسىٰ اخوا دېخوا وکتل اؤ چې کله هغۀ ته پته ولګېده چې هيڅ څوک يې هم نۀ ګوری، نو هغه مِصرے يې ووژلو اؤ د هغۀ لاش يې په شګو کښې پټ کړو. ¹³ بله ورځ هغه بهر لاړو اؤ وې ليدل چې دوه عبرانيان په خپلو کښې په جګړه وُو. هغۀ هغه يو ته ووئيل کُوم چې په غلطه وو، ”تۀ ولې خپل عبرانے وهې؟“ ¹⁴ هغه سړی ورته ووئيل، ”تۀ چا په مُونږ مشر کړے يې اؤ په مونږ يې قاضی جوړ کړے يې؟ تۀ ما هم وژنې څۀ لکه چې هغه مِصرے دې وژلے وو؟“ نو مُوسىٰ ويرېدو اؤ د خپل ځان سره يې ووئيل، ”ښه نو لکه چې ما څۀ کړی دی د هغې خلقو ته پته لګېدلې ده!“ ¹⁵-¹⁶ چې کله فِرعون خبر شو چې څۀ شوی وُو، نو هغۀ د مُوسىٰ د وژلو کوشش وکړو، خو مُوسىٰ وتښتېدو اؤ لاړو اؤ د ميديان په وطن کښې اوسېدو. يوه ورځ چې کله مُوسىٰ د يو کُوهی سره ناست

وو، د میدیان د اِمام یترو اووهٔ لُوڼه راغلې، چې اوبهٔ راوخېژوی اؤ د خپل
پلار ګډو اؤ چېلو د پاره ښانګُونه ترې نه ډک کړی. ⑰ خو څهٔ شپانو د
یترو لُوڼه وشړلې. نو مُوسیٰ د هغوئ د بچ کولو د پاره ورَغلو اؤ د هغوئ
څاروو له یې اوبهٔ ورکړې. ⑱ چې کله دوئ خپل پلار له راغلې، هغهٔ
ترې تپوس وکړو، ”تاسو ولې نن ډېر زر راغلئ؟“ ⑲ هغوئ ورته ووئیل،
”یو مِصری مُونږ د شپانو نه بچ کړُو اؤ هغهٔ مُونږ له اوبهٔ هم راوخېژولې
اؤ زمُونږ څاروو له یې ورکړې.“ ⑳ هغهٔ د خپلو لُوڼو نه تپوس وکړو،
”هغه چرته دے؟ تاسو هغه سړے بهر ولې پرېښودو؟ لاړې شئ اؤ هغه
راوغواړئ چې مُونږ سره ډوډۍ وخوری.“ ㉑ نو مُوسیٰ هلته اوسېدو ته
راضی شو اؤ یترو هغهٔ ته خپله لُور صفوره وادهٔ کړه، ㉒ د هغې نه یې
یو زوئ وشو. مُوسیٰ د خپل ځان سره ووئیل، ”زهٔ په دې وطن کښې
مُسافر یم“ نو په هغهٔ یې جیرسوم نُوم کېښودو. ㉓ ډېره موده پس چې
د مِصر بادشاه مړ شو، خو بنی اِسرائیلو د غُلامۍ په وجه فریاد کولو نو
هغوئ په چغو وژړل، ”خُدایه پاکه! زمُونږ مدد وکړه!“ ㉔ نو خُدائ پاک
د دوئ ژړا واؤرېدله. هغهٔ د هغوئ فریاد واؤرېدو اؤ د اِبراهیم اِسحاق اؤ
یعقُوب سره خپل هغه تړون یې رایاد کړو. ㉕ هغهٔ د بنی اِسرائیلو تکلیف
ولیدو اؤ ورباندې خفه شو.

## د خُدائ پاک حضرت مُوسیٰ غوښتل

**۳** ① د مُوسیٰ سخر یترو د میدیان اِمام وو. یوه ورځ چې کله
مُوسیٰ د هغهٔ ګډې اؤ چېلۍ څرولې، هغهٔ رَمه د بیابان نه
واړوله اؤ د خُدائ پاک غر سینا ته راغلو. ② هلته هغهٔ ته د مالِک

خُدائ هغه فرِښته د اور لمبې په شان د بُوټى د مېنځ نه راښکاره شوه.
چې د مُوسىٰ پرې ځنګه نظر پرېوتو نو په دې ليدو حېران شو چې په
بُوټى اور لګېدلے وو خو دا نۀ سوزېدله! ۳ هغۀ د ځان سره ووئيل
چې، ”عجيبه خبره ده. دا بُوټے ولې نۀ سوزېږى؟ زۀ به نزدې ورشم
چې وې ګورم.“ ۴ چې کله مالِک خُدائ وليدل چې مُوسىٰ نزدې
رازروان وو، هغۀ د بُوټى مېنځ نه ورته آواز ورکړو اؤ ورته يې ووئيل،
”مُوسىٰ! مُوسىٰ!“ هغۀ ورته ووئيل، ”جى زۀ حاضر يم.“ ۵ خُدائ
پاک ورته ووئيل، ”نور نزدې مۀ راځه. پيزار وباسه، ځکه چې تۀ په
پاکه زمکه ولاړ يې. ۶ زۀ ستا د پلار نيکۀ خُدائ پاک يم، د اِبراهيم،
د اِسحاق اؤ د يعقُوب خُدائ پاک يم.“ نو مُوسىٰ خپل مخ پټ کړو،
ځکه چې هغه خُدائ پاک ته کتلو نه وېرېدو. ۷ بيا خُدائ پاک
ورته ووئيل، ”ما وليدل چې زما د خلقو سره په مِصر کښې څومره
ظلم کېدلو، ما د هغوئ فرياد اؤرېدلے دے چې هغوئ د سخت کار
اخستُونکو مشرانو نه خلاص شى. ما ته د هغوئ د تکليفُونو ټوله پته
ده، ۸ نو زۀ لاندې راغلے يم چې هغوئ د مِصريانو نه خلاص کړم
اؤ چې هغوئ د مِصر نه بهر يو ښۀ، کولاؤ اؤ زرخېز وطن ته بوځم،
چرته چې اوس کنعانيان، حِتيان، اموريان، فرزيان، حِويان اؤ يبوسيان
اوسېږى. ۹ ګوره، ما د خپلو خلقو ژړا اؤرېدلې ده اؤ زۀ دا هم ګورم
چې مِصريان په دوئ ظلم کوى. ۱۰ اوس زۀ تا فِرعون له لېږم نو تۀ
به زما خلق بنى اِسرائيل د مِصر نه بهر بوځې.“ ۱۱ خو مُوسىٰ خُدائ
پاک ته ووئيل، ”زۀ څوک يم چې فِرعون له ورشم اؤ بنى اِسرائيل
د مِصر نه بهر بوځم؟“ ۱۲ خُدائ پاک ورته ووئيل، ”په رښتيا سره

زۀ به ستا مل یم اؤ چې تۀ کله دا خلق د مِصر نه بهر بوځې، نو تۀ به په دې غر باندې زما عِبادت وکړې. هغه به د دې ثبُوت وی چې تۀ ما لېږلے یې.“ ۱۳ خو مُوسىٰ ورته ووئیل، ”چې کله زۀ بنی اِسرائیلو له ورشم اؤ ورته ووایم، چې زۀ ستاسو د پلار نیکۀ خُدائ پاک تاسو ته رالېږلے یم، هغوئ به زما نه تپوس وکړی چې د هغۀ څۀ نُوم دے؟ نو زۀ هغوئ ته څۀ ووایم؟“ ۱٤ خُدائ پاک ورته ووئیل، ”زۀ یم چې هم زۀ یم. تۀ به خامخا هغوئ ته داسې ووائې: زۀ هغۀ تاسو ته رالېږلے یم چې هغه په خپله خپل ځان ته وائی چې، زۀ یم. ۱۵ بنی اِسرائیلو ته ووایه چې ما مالِک خُدائ د هغوئ د پلار نیکۀ خُدائ پاک د اِبراهیم، اِسحاق اؤ د یعقُوب خُدائ پاک، تۀ هغوئ ته ورلېږلے یې. دا د همېشه د پاره زما نُوم دے، راتلُونکی نسلُونه به ما په دې نُوم یادوی. ۱٦ لاړ شه اؤ د بنی اِسرائیلو مشران په یو ځائ راغونډ کړه اؤ هغوئ ته ووایه چې زۀ مالِک خُدائ، د هغوئ د پلار نیکۀ خُدائ پاک، د اِبراهیم، اِسحاق اؤ یعقُوب خُدائ پاک، تا ته راښکاره شوم. هغوئ ته ووایه چې زۀ دوئ له راغلے یم اؤ ما لیدلی دی چې مِصریانو د دوئ سره څۀ کول. ۱۷ ما دا فېصله کړې ده چې زۀ به دوئ د مِصر نه بهر بوځم چې په کُوم ځائ کښې په دوئ ظلم کېږی اؤ زۀ به دوئ هغه زرخېز وطن ته بوځم، چې هغه د کنعانیانو، حِتیانو، اموریانو، فرزیانو، حِویانو اؤ د یبوسیانو وطن دے. ۱۸ زما خلق به ستا خبره واوری. نو تۀ د اِسرائیلیانو مشران د مِصر بادشاه له بوځه اؤ هغۀ ته ووایه چې، مالِک خُدائ د عبرانیانو خُدائ پاک، مُونږ ته په خپله ځان ښکاره کړو. اوس تۀ مُونږ په صحرا کښې

د دریو ورځو سفر ته پرېږده چې مالِک خُدائ، زمُونږ خُدائ پاک ته
قُربانی پېش کړُو. ⑲ ما ته پته ده چې د مِصر بادشاه به تاسو تلو ته
پرې نۀ ږدی تر څو چې هغه مجبُور کړے شوے نۀ وی. ⑳ خو زۀ
به د خپل قُدرت نه کار واخلم اؤ زۀ به هلته د عجیبه عجیبه کارُونو
کولو په ذریعه مِصریانو له سزا ورکړم. اؤ د هغې نه پس به هغه تاسو
تلو ته پرېږدی. ㉑ زۀ به په مِصریانو ستاسو قدر وکړم نو چې کله زما
خلق ځی، دوئ به خالی لاسُونه نه ځی. ㉒ هره یوه اِسرائیلۍ ښځه
به خپلو مِصریانو ګاونډیانو کره لاړه شی اؤ هرې مِصرۍ ښځې له
چې په خپل کور کښې اوسېږی. جامې، د سرو زرو اؤ سپینو زرو
کالی به ترې نه وغواړی. اِسرائیلیان به دا څیزُونه خپلو زامنو اؤ لُوڼو
ته ورواغُوندی. اؤ مِصریان به لُوټ کړی."

## د خُدائ پاک حضرت مُوسیٰ له لوئ طاقت ورکول

**٤** ① بیا مُوسیٰ مالِک خُدائ له جواب ورکړو، "خو ګوره! کۀ
بنی اِسرائیل په ما یقین ونۀ کړی اؤ زما خبرې ته غوږ ونۀ
نیسی نو زۀ څۀ وکړم کۀ هغوئ ووائی چې تۀ ما ته راښکاره شوے نۀ
یې؟" ② مالِک خُدائ ورته ووئیل، "دا ستا په لاس کښې څۀ دی؟"
هغۀ ورته ووئیل، "دا امسا ده." ③ مالِک خُدائ ورته ووئیل، "دا په
زمکه وغورزوه." چې کله مُوسیٰ دا په زمکه وروغورزوله، نو یو مار
ترې جوړ شو اؤ مُوسیٰ ترې نه منډه کړه. ④ نو بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ
ته ووئیل، "ورتېټ شه اؤ د لکۍ نه یې کلک راونیسه." نو مُوسیٰ
ورتېټ شو اؤ را وې نیولو اؤ بیا ترې نه امسا جوړه شوه. ⑤ مالِک

خُدائ ورته ووئيل، ”هم داسې وکړه چې د بنی اِسرائيلو يقين راشی
چې مالِک خُدائ د دوئ د پلار نيکۀ خُدائ پاک، د اِبراهيم، اِسحاق
اؤ د يعقُوب خُدائ پاک تا ته راڅرګند شوے دے.“ ٦ مالِک خُدائ
مُوسیٰ ته بيا ووئيل، ”خپل لاس ځُوغې ته دننه کړه.“ نو مُوسیٰ لاس
دننه کړو. اؤ چې کله هغۀ لاس رابهر کړو، نو د هغۀ لاس د ځرمنې
په بيمارئ پټ شوے وو، داسې سپين لکه واؤره. ٧ بيا مالِک خُدائ
ووئيل، ”لاس په ځُوغه کښې بيا دننه کړه.“ نو هغۀ لاس دننه کړو
اؤ چې کله هغۀ دا ځل رابهر کړو، نو هم هغه شان روغ جوړ شو
لکه څنګه چې يې نور بدن وو. ٨ مالِک خُدائ ورته ووئيل، ”کۀ
هغوئ په تا يقين ونۀ کړی يا د هغوئ په اولنئ مُعجزه باندې يقين
رانۀ شی، نو په دې بله به د دوئ يقين راشی. ٩ کۀ د دې دواړو
معجزو باوجُود هم هغوئ په تا يقين ونۀ کړی اؤ کۀ هغوئ ستا د
خبرې اؤرېدو نه اِنکار وکړی، نو لږې اوبۀ د نيل درياب نه راواخله اؤ
په وچه زمکه يې توئ کړه. نو د اوبو نه به وينه جوړه شی.“ ١٠ خو
مُوسیٰ مالِک خُدائ ته ووئيل، ”اے زما مالِکه خُدايه! ما مۀ لېږه.
زۀ مخکښې هم په خبرو کولو کښې ښۀ نۀ وم. خو تر سره د خبرو
کولو نه پس زۀ هم هغه شان يم اؤ په خبرو کښې تکړه نۀ يم اؤ هم
مې ژبه نښلی.“ ١١ مالِک خُدائ هغۀ ته ووئيل، ”بنيادم له ژبه څوک
ورکوی؟ ګونګول اؤ کڼول څوک کوی؟ نظر ورکول يا ړوندول څوک
کوی؟ دا زۀ، مالِک خُدائ کوم. ١٢ نو اوس لاړ شه! زۀ به ستا د
خُلې نه خبرې کوم اؤ زۀ به تا ته وښايم چې څۀ به وائې.“ ١٣ خو
مُوسیٰ ورته ووئيل، ”اے زما مالِکه خُدايه! زۀ تا ته سوال کوم چې

بل ځوک وروليږه.“ ⑭ نو په دې باندې مالِک خُدائ مُوسىٰ ته غُصه شو اؤ وې وئيل، ”ستا ورور هارُون، ليوی خو شته دے، ما ته پته ده چې هغه په خبرو کولو کښې تکړه دے. ګوره! اوس هغه ستا سره مِلاوېدو له راروان دے اؤ هغه به ستا په ليدو په زړۀ کښې خوشحاله شی. ⑮ تۀ به هغۀ ته هغه خبرې وښائې چې کُومې به کوی. زۀ به ستاسو دواړو په خبرو کښې مدد وکړم اؤ زۀ به تاسو دواړو ته ووايم چې څۀ به کوئ. ⑯ هغه به ستا د خبرې کوُونکے وی اؤ ستا په ځائ به خلقو ته خبرې کوی. نو تۀ به د هغۀ د پاره د خُدائ پاک په شان يې اؤ ورته به ښائې چې څۀ به وائی. ⑰ خپل ځان سره دا امسا يوسه، چې د دې سره به تۀ مُعجزې ښکارندې کړې.“

## د حضرت مُوسىٰ مِصر ته واپس کېدل

⑱ بيا مُوسىٰ واپس خپل سخر يترو له لاړو اؤ هغۀ ته يې ووئيل، ”ما له اِجازت راکړه چې واپس مِصر ته لاړ شم چې وګورم چې زما خپلوان ژوندی دی اؤ کۀ نه.“ يترو مُوسىٰ ته ووئيل، ”په خير لاړ شه.“ ⑲ چې کله مُوسىٰ په ميديان کښې وو مالِک خُدائ هغۀ ته ووئيل، ”مِصر ته واپس لاړ شه، ځکه چې کُومو خلقو تۀ وژلې هغه ټول مړۀ دی.“ ⑳ نو مُوسىٰ خپله ښځه اؤ زوئ واخستل اؤ په يو خر باندې يې سوارۀ کړل اؤ د دوئ سره مِصر ته روان شو، هغه امسا يې هم يوړه چې خُدائ پاک ورته ښودلې وه. ㉑ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته بيا ووئيل، ”اوس چې تۀ واپس مِصر ته روان يې، ګوره! چې د فِرعون په مخکښې هغه ټولې مُعجزې ښکارندې کړې د کُومو چې ما طاقت

درکړے دے. خو زهٔ به د هغهٔ زړهٔ سخت کړم اؤ هغه به زما خلق تلو ته پرې نهٔ ږدی. ۲۲ بيا تهٔ هغهٔ ته ووايه چې مالِک خُدائ وائی چې، اِسرائيليان ما ته د يو مشر زوئ په شان دی. ۲۳ ما تا ته ووئيل چې زما زوئ پرېږده چې لاړ شی، چې هغه زما عِبادت وکړی، خو تا اِنکار وکړو. نو زهٔ به ستا مشر زوئ ووژنم." ۲٤ د مِصر په لاره په يو سرائی کښې مالِک خُدائ مُوسیٰ له د دې د پاره راغلو چې هغه ووژنی. ۲۵ - ۲٦ نو د هغهٔ ښځې، صفورې، يو تېرهٔ کاڼے راواخستلو، هغې خپل زوئ دې سره سُنت کړو اؤ د سُنت تيکه يې د مُوسیٰ خپو له وروړله. نو د سُنت د وينې د رِواج په وجه هغې مُوسیٰ ته ووئيل، "تهٔ زما د پاره د وينې خاوند يې." نو مالِک خُدائ د مُوسیٰ ژوند بچ کړو. ۲۷ بيا مالِک خُدائ هارُون ته ووئيل، "د مُوسیٰ سره مِلاوېدو له صحرا ته لاړ شه." نو هغه د هغهٔ سره د خُدائ پاک په غرهٔ کښې مِلاوېدو له لاړو، اؤ چې کله هغه د هغهٔ سره مِلاؤ شو، نو هغه يې ښُکل کړو. ۲۸ بيا مُوسیٰ هارُون ته هغه هر څهٔ ووئيل چې مالِک خُدائ د وئيلو د پاره لېږلے وو، هغهٔ د هغه معجزو په باره کښې هم هغهٔ ته ووئيل د کُومو چې مالِک خُدائ د کولو حُکم ورکړے وو. ۲۹ نو مُوسیٰ اؤ هارُون مِصر ته لاړل اؤ د اِسرائيليانو ټول مشران يې په يو ځائ راغونډ کړل. ۳۰ هارُون هغوئ ته هر څهٔ ووئيل چې مالِک خُدائ مُوسیٰ ته وئيلی وُو اؤ د خلقو په مخکښې يې هغه ټولې مُعجزې وکړې. ۳۱ نو د هغوئ يقين وشو اؤ چې کله هغوئ واؤرېدل چې مالِک خُدائ هغوئ له راغلے وو اؤ چې کُوم ظلم په هغوئ کېدلو هغه يې ليدلے وو، نو دوئ سجده وکړه اؤ د مالِک خُدائ عِبادت يې وکړو.

## د حضرت مُوسیٰ اؤ حضرت هارُون د مِصر بادشاه په مخکښې ودرېدل

**۵**
۱ د دې نه پس مُوسیٰ اؤ هارُون د فِرعون دربار ته لاړل اؤ هغۀ
ته يې ووئيل، ”مالِک خُدائ د اِسرائيليانو خُدائ پاک وائی چې
زما خلق تلو ته پرېږده چې دوئ زما د عِزت د پاره په صحرا کښې اختر
وکړی.“ ۲ خو فِرعون ترې تپوس وکړو، ”دا مالِک خُدائ څوک دے؟
زۀ ولې د هغۀ خبره ومنم اؤ اِسرائيليان تلو ته پرېږدم؟ نۀ زۀ مالِک خُدائ
پېژنم، اؤ نۀ به اِسرائيليان تلو ته پرېږدم.“ ۳ مُوسیٰ اؤ هارُون ورته ووئيل، ”د
عبرانيانو خُدائ پاک مُونږ ته په خپله راڅرګند شوے دے. مُونږ پرېږده چې
په صحرا کښې درې ورځې سفر وکړُو چې مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک
ته قُربانۍ پېش کړُو. کۀ مُونږ داسې ونۀ کړل، نو هغه به مُونږ په بيمارۍ يا
په جنګ ووژنی.“ ۴ فِرعون مُوسیٰ اؤ هارُون ته ووئيل، ”تاسو ولې دا خلق
د خپل کار نه وباسئ؟ پرېږدئ چې هم دغه کار کوی! ۵ ګورئ! تاسو
خلق د مِصريانو نه ډېر زيات شوی يئ. اؤ اوس تاسو دا هم غواړئ چې
دوئ کار بس کړی!“ ۶ هم په هغه ورځ فِرعون د دوئ سختو مِصريانو
مشرانو اؤ اِسرائيليانو آفسرانو له حُکم ورکړو چې: ۷ ”خَښتې جوړولو د
پاره دې خلقو له بُوس ورکول بند کړئ. دوئ لېږئ چې په خپله يې ځان
له راغونډوی ۸ اؤ هم هغه هومره خَښتې ترې نه غواړئ چې څومره يې
مخکښې جوړلې، تاسو پرې يوه هم مۀ کموئ. دوئ خو کار نۀ کوی،
نو ځکه دوئ هر وخت مِنتُونه کوی چې زۀ دوئ پرېږدم چې لاړ شی
اؤ خپل خُدائ پاک ته قُربانۍ پېش کړی. ۹ په دې خلقو د مخکښې

نه نور هم سخت کار کوئ اؤ په داسې کار يې آخته کړئ چې د دې دروغو خبرو اؤرېدو وخت هم ورسره نۀ وی.“ ۱۰ د هغوئ نه سخت کار اخستُونکی مشران اؤ د دوئ آفسران بهر لاړل اؤ اِسرائيليانو ته يې ووئيل، ”فِرعون وئيلی دی چې هغه به تاسو له نور بُوس نۀ درکوی. ۱۱ هغه وائی چې تاسو ځئ اؤ چې چرته هم تاسو د خپلو ځانُونو د پاره بُوس راپېدا کولے شئ نو پيدا يې کړئ، خو د خښتو د جوړولو په شمېر کښې به کمے نۀ راولئ.“ ۱۲ نو خلق د مِصر ټول وطن کښې خوارۀ شول چې بُوس راجمع کړی. ۱۳ د هغوئ سختو مشرانو په دوئ زور راوړلو چې هره ورځ هم هغه هومره خَښتې جوړوی چې څومره يې مخکښې جوړولې چې کله هغوئ ته بُوس مِلاوېدل. ۱۴ د هغوئ سختو مِصريانو مشرانو اِسرائيليان آفسران وهل، کُوم چې هغوئ د دې کار مشران مُقرر کړی وُو. ورته يې وئيل، ”تاسو ولې هم هغه هومره خَښتې نۀ جوړوئ لکه چې څومره تاسو مخکښې جوړولې؟“ ۱۵ نو د بنی اِسرائيلو آفسران راغلل اؤ فِرعون ته يې فرياد وکړو، ”بادشاه سلامت! زمُونږ سره داسې ولې کېږی؟ ۱٦ مُونږ له بُوس نۀ راکوی، خو بيا هم هغوئ د خښتو جوړولو حُکم راکوی اؤ ګوره! مُونږ وهلے هم شُو. خو دا ستا د خپلو خلقو غلطی ده.“ ۱۷ فِرعون ورته ووئيل، ”تاسو ناراسته يئ اؤ کار کول نۀ غواړئ، نو دا ځکه تاسو مِنت کوئ چې زۀ تاسو تلو ته پرېږدم چې مالِک خُدائ ته قُربانئ پېش کړئ. ۱۸ اوس واپس کار له لاړ شئ، تاسو له به هغوئ لږ بُوس هم نۀ درکوی، خو اوس به خامخا هم هغه هومره خَښتې جوړوئ.“ ۱۹ د بنی اِسرائيلو آفسرانو ته پته ولګېده چې دوئ په بد حالت کښې دی، چې کله هغوئ ته ووئيلے شول چې دوئ به هره ورځ هم هغه هومره خَښتې جوړوی

چې څومره يې مخکښې جوړولې. ⑳ چې څنګه دوئ د فِرعون د دربار
نه راووتل، نو دوئ د مُوسىٰ اؤ هارُون سره مِلاؤ شول، ځکه چې هغوئ
د دوئ اِنتظار کولو. ㉑ دوئ مُوسىٰ اؤ هارُون ته ووئيل، ”مالِک خُدائ
دې تاسو ته په قهر شی اؤ سزا دې درکړی ځکه چې تاسو د فِرعون اؤ د
هغهٔ د درباريانو په زړُونو کښې نفرت پېدا کړے دے. تاسو هغهٔ له زمُونږ
د قتل بهانه ورکړې ده.“

## د حضرت مُوسىٰ مالِک خُدائ ته شکايت کول

㉒ بيا مُوسىٰ مالِک خُدائ ته واپس وګرځېدو اؤ ورته يې ووئيل،
”مالِکه خُدايه! تهٔ د دې خلقو سره ولې بد سلُوک کوې؟ تا زهٔ ولې
دلته رالېږلے يم؟ ㉓ ما چې کله هم د فِرعون سره ستا په نُوم خبرې
کړې دی، نو هغهٔ د دوئ سره بد سلُوک کړے دے. اؤ تا د خپلو
خلقو مدد نهٔ دے کړے!“

٦ ① بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”اوس به تهٔ وګورې چې
زهٔ د فِرعون سره څهٔ کوم. زهٔ به خپل زور سره هغه دې ته
مجبُور کړم چې زما خلق تلو ته پرېږدی، زهٔ به د خپل لوئ طاقت نه
کار واخلم چې فِرعون هغوئ د هغهٔ د وطن نه وشړی.“

## د خُدائ پاک حضرت مُوسىٰ راغوښتل

② خُدائ پاک مُوسىٰ ته ووئيل، ”زهٔ مالِک خُدائ يم. ③ زهٔ د
قادر خُدائ پاک په توګه اِبراهيم، اِسحاق اؤ يعقُوب ته راڅرګند شوم،
خو ما خپل ځان په هغوئ باندې د خپل پاک نُوم ”مالِک خُدائ“ په

توګه ونۀ پيژندلو. ٤ ما د هغوئ سره د کنعان وطن ورکولو تړون هم
وکړو، هغه وطن په کُوم کښې چې دوئ د مُسافرو په شان اوسېدلی
وُو. ٥ اوس ما د بنی اِسرائيلو فرياد اؤرېدلے دے ځکه چې مِصريان
د دوئ نه د غُلامانو په شان کار اخلی. زۀ به د دوئ سره خپل تړون
پُوره کوم. ٦ نو بنی اِسرائيلو ته ووايه چې زۀ هغوئ ته وايم چې زۀ
مالِک خُدائ يم، زۀ به تاسو بچ کړم اؤ زۀ به تاسو د مِصريانو د غُلامئ
نه آزاد کړم. زۀ به د خپل لوئ طاقت نه کار واخلم اؤ مِصريانو له
به سخته سزا ورکړم اؤ زۀ به تاسو خلاص کړم. ٧ زۀ به تاسو خپل
خلق جوړ کړم اؤ زۀ به ستاسو خُدائ پاک يم. تاسو ته به پته ولګي
چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم چې کله زۀ تاسو په مِصر
کښې د غُلامئ نه آزاد کړم. ٨ زۀ به تاسو هغه وطن ته راولم چې د
کُوم ما اِبراهيم، اِسحاق اؤ يعقُوب له د ورکولو پوخ لوظ کړے وو،
دا وطن به ستاسو ميراث وی. زۀ مالِک خُدائ يم.“ ٩ مُوسىٰ بنی
اِسرائيلو ته دا ووئيل خو دوئ د هغۀ خبره وانۀ ورېدله، ځکه چې د
هغوئ د سختې غُلامئ په وجه دوئ خپل زړُونه بائيللی وُو. ١٠ بيا
مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ١١ ”لاړ شه اؤ د مِصر بادشاه فِرعون
ته ووايه چې هغه دې بنی اِسرائيل د دې وطن نه تلو ته پرېږدی.“
١٢ خو مُوسىٰ ورته ووئيل، ”بنی اِسرائيل چې زما خبره نۀ اوری، نو
فِرعون به يې څنګه واوری؟ زۀ خو په خبرو کولو کښې تکړه نۀ يم.“
١٣ مالِک خُدائ مُوسىٰ اؤ هارُون له حُکم ورکړو چې: ”بنی اِسرائيلو
اؤ د مِصر بادشاه ته ووايئ چې ما تاسو له حُکم درکړے دے چې
بنی اِسرائيل د مِصر نه بهر بوځئ.“

## د حضرت مُوسیٰ اؤ حضرت هارُون نسب‌نامه

۱۴ د یعقُوب د مشر زوئ، روبین څلور زامن وُو: حنوک، فلو، حصرون اؤ کرمی، دا د هغه قبیلو پلار نیکهٔ وُو چې په دې نُومونو یادیږی. ۱۵ د شمعُون شپږ زامن وُو: یموئیل، یمین، اُهد، یکین، صحر اؤ شاؤل د کنعانی ښځې زوئ، دا د هغه قبیلو پلار نیکهٔ وُو چې په دې نُومونو یادیږی. ۱۶ د لیوی درې زامن وُو: جیرسون، قُهات اؤ مراری، دا د هغه قبیلو پلار نیکهٔ وُو چې په دې نُومونو یادیږی. د لیوی ټول عُمر یو سل اووهٔ دیرش کاله وو. ۱۷ د جیرسون دوه زامن وُو: لِبنی اؤ سِمعی اؤ د هغوئ ډېر اولاد وو. ۱۸ د قُهات څلور زامن وُو: عُمرام، اِضهار، حبرون اؤ عُزئیل. د قُهات ټول عُمر یو سل درې دیرش کاله وو. ۱۹ د مراری دوه زامن وُو: محلی اؤ موشی. دا د لیویانو قبیلې اؤ اولاد دے. ۲۰ عُمرام د خپل پلار، خور یوکبد وادهٔ کړه، چې د هغې نه یې هارُون اؤ مُوسیٰ پیدا شول. د عُمرام ټول عُمر یو سل اووهٔ دیرش کاله وو. ۲۱ د اِضهار درې زامن وُو: قورح، نفج اؤ زِکری. ۲۲ د عُزئیل هم درې زامن وُو: میسائیل، الصفن اؤ ستری. ۲۳ هارُون د عمیناداب لُور الیسبع وادهٔ کړه چې هغه د نحشون خور وه، د هغې نه یې ندب، ابیهُو، اِلعازار اؤ اِتمر پیدا شول. ۲۴ د قورح درې زامن وُو: اسیر، القنه اؤ ابیاسف، دوئ د قورح قبیلو پلار نیکهٔ وُو. ۲۵ د هارُون زوئ، اِلعازار، د فوطئیل د لُونړو نه یوه لُور وادهٔ کړه، چې د هغې نه یې فینحاس پیدا شو. دا د لیوی قبیلې د قومُونو اؤ کورَنو مشران وُو. ۲۶ هارُون اؤ مُوسیٰ هغه

کسان وُو چا ته چې مالِک خُدائ ووئيل چې، ”د بنی اِسرائيلو قبيلې
د مِصر نه بهر بوځئ.“ ۲۷ دا هغه کسان وُو چا چې د مِصر بادشاه
ته ووئيل چې بنی اِسرائيل د مِصر نه بهر تلو ته پرېږده.

## د مالِک خُدائ حضرت مُوسیٰ اؤ حضرت هارُون له حُکم ورکول

۲۸ چې کله مالِک خُدائ د مِصر په وطن کښې مُوسیٰ ته ووئيل
چې، ۲۹ ”زۀ مالِک خُدائ يم. چې زۀ تا ته څۀ وايم هغه هر څۀ د
مِصر بادشاه فِرعون ته ووايه.“ ۳۰ خو مُوسیٰ مالِک خُدائ ته ووئيل،
”تا ته پته ده چې زۀ په خبرو کولو کښې تکړه نۀ يم، نو فِرعون به
زما خبره څنګه واوری؟“

٧
۱ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ”ګوره! زۀ تا فِرعون ته د
خُدائ په شان جوړوم اؤ ستا ورور هارُون به ستا د پېغمبر په
توګه د هغۀ سره خبرې کوی. ۲ چې څنګه ما حُکم درکړے دے
هارُون ته هغه هر څۀ ووايه اؤ هغه به فِرعون ته ووائی چې بنی اِسرائيل
د هغۀ د وطن نه تلو ته پرېږدی. ۳-۴ زۀ به د فِرعون زړۀ سخت
کړم، کۀ زۀ هر څومره زياتې نښې اؤ مُعجزې په مِصر کښې ښکاره
کړم خو هغه به ستا خبره وانۀ وری. بيا به زۀ د مِصريانو خِلاف د
خپل لوئ طاقت نه کار واخلم اؤ دوئ له به سخته سزا ورکړم. اؤ
زۀ به د خپل قوم خلق، بنی اِسرائيل د مِصر وطن نه وباسم. ۵ نو
مِصريانو ته به پته ولګې چې زۀ مالِک خُدائ يم، چې کله زۀ د دوئ
خِلاف خپل لاس اُوچت کړم نو بنی اِسرائيل به د هغوئ د وطن نه بهر

بوځم.“ ⁽⁶⁾ مُوسىٰ اؤ هارُون هم هغسې وکړل، لکه څنګه چې مالِک
خُدائ حُکم ورکړے وو. ⁽⁷⁾ په هغه وخت چې کله دوئ فِرعون سره
خبرې وکړې، مُوسىٰ د اتيا کالو وو اؤ هارُون د درې اتياؤ کالو وو.

## د حضرت هارُون امسا

⁽⁸⁾ مالِک خُدائ مُوسىٰ اؤ هارُون ته ووئيل، ⁽⁹⁾ ”کله چې فِرعون
تاسو ته ووائى چې تاسو يوه مُعجزه ښکاره کړئ، نو هارُون ته ووايه
چې خپله امسا راواخلى اؤ د فِرعون په مخکښې يې وغورزوى، نو يو
مار به ترې نه جوړ شى.“ ⁽¹⁰⁾ نو مُوسىٰ اؤ هارُون فِرعون له لاړل اؤ
هغسې يې وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. هارُون
خپله امسا د فِرعون اؤ د هغۀ د درباريانو په مخکښې وغورزوله، نو
يو مار ترې نه جوړ شو. ⁽¹¹⁾ نو فِرعون هم خپل د غيب عِلم لرُونکى
خلق اؤ جادُوګران راوغوښتل اؤ هغوئ هم د جادُو په ذريعه هم دغسې
وکړل. ⁽¹²⁾ هغوئ خپلې امساګانې وغورزولې اؤ د امساګانو نه ماران
جوړ شول. خو د هارُون امسا د هغوئ امساګانې تيرې کړې. ⁽¹³⁾ خو
د فِرعون زړۀ تر اوسه پورې سخت وو، لکه څنګه چې مالِک خُدائ
وئيلى وُو، هغۀ به د مُوسىٰ اؤ هارُون خبره نۀ اؤرېدله.

## په مِصر اول آفت: د نيل درياب د اوبو نه وينه جوړېدل

⁽¹⁴⁾ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”د فِرعون زړۀ سخت دے،
هغه خلق تلو ته نۀ پرېږدى. ⁽¹⁵⁾ په سحر کښې فِرعون له لاړ شه چې
کله هغه د نيل درياب ته کُوزېږى. د خپل ځان سره هغه امسا هم

یوسه چې مار ترې نه جوړ شوے وو اؤ د دریاب په غاړه هغۀ ته ودرېږه. ۱٦ بیا فِرعون ته ووایه چې مالِک خُدائ د عبرانیانو خُدائ پاک، زۀ رالېږلے یم چې تا ته ووایم چې د هغۀ خلق تلو ته پرېږده چې دوئ په صحرا کښې د هغۀ عِبادت وکړی. خو ګوره! تا تر اوسه پورې دا خبره ونۀ منله. ۱۷ نو اوس، بادشاه سلامت! مالِک خُدائ به یو داسې کار وکړی چې تا ته پته ولګي چې هغه په رښتیا مالِک خُدائ دے. ګوره! زما په لاس کښې چې کُومه امسا ده زۀ د دریاب اوبۀ په دې وهم اؤ د اوبو نه به وینه جوړه شی. ۱۸ کبان به مړۀ شی اؤ د دریاب اوبۀ به دومره سخت بُوئ شروع کړی چې مِصریان به ترې اوبۀ نۀ شی څښلے.“ ۱۹ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”هارُون ته ووایه چې خپله امسا راواخلی اؤ د مِصر ټولو اوبو په طرف یعنی دریابُونو، نِهرونو اؤ ډنډُونو د پاسه ونیسی. نو د اوبو نه به وینه جوړه شی اؤ د مِصر په ټوله زمکه به وینه وی، داسې د لرګی په لوښو اؤ د خټې په منګو کښې به هم وی.“ ۲۰ نو مُوسیٰ اؤ هارُون هم هغسې وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو. د فِرعون اؤ د هغۀ درباریانو په مخکښې، هارُون خپله امسا اُوچته کړه اؤ د دریاب اوبۀ یې پرې ووهلې اؤ د دریاب د ټولو اوبو نه وینه جوړه شوه. ۲۱ په دریاب کښې کبان مړۀ شول اؤ دومره سخا بُوئ یې کولو چې مِصریانو د دریاب نه اوبۀ نۀ شوې څښلے. اؤ د مِصر په ټول وطن کښې وینه وه. ۲۲ بیا د فِرعون جادُوګرانو د خپل جادُو په ذریعه هم دغه شان وکړل اؤ د فِرعون زړۀ هم هغه شان سخت وو. لکه څنګه چې مالِک خُدائ وئیلی وُو، هغۀ د مُوسیٰ اؤ هارُون

د خبرې اؤرېدو نه اِنکار وکړو. ۲۳ فِرعون راوګرځېدو اؤ خپل محل ته لاړو، دا خبره يې زړۀ ته ښکته نۀ کړه. ۲۴ ټولو مِصريانو د څښلو د اوبو د پاره د درياب غاړه وکنستله، ځکه چې هغوئ د درياب اوبۀ نۀ شوې څښلے. ۲۵ چې مالِک خُدائ په درياب آفت راوستلے وو نو اووۀ ورځې د هغې نه پس تېرې شوې.

## په مِصر دويم آفت: چيندخې

**۸** ۱ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، "فِرعون له ورشه اؤ هغۀ ته ووايه چې مالِک خُدائ وائی، زما خلق تلو ته پرېږده چې دوئ زما عِبادت وکړی. ۲ کۀ تا اِنکار وکړو، نو زۀ تا خبروم، چې زۀ به ستا په ټول وطن داسې آفت راولم چې په چيندخو به يې پټ کړم. ۳ د نيل درياب به د بې‌شمېره چيندخو نه ډک وی. دا به ستا محل، ستا د څملاستو کوټې اؤ کټ ته، ستا د درباريانو اؤ د خلقو کورُونو ته اؤ ستاسو تنورُونو اؤ د اوړو ښانکُونو ته به هم دروخېژی. ۴ چيندخې به په تا، ستا په خلقو اؤ ستا په ټولو درباريانو دروخېژی." ۵ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، "هارُون ته ووايه چې خپله امسا د دريابُونو، نِهرونو اؤ ډنډُونو د پاسه ونيسه اؤ چيندخې به د مِصر په وطن وروخېژوی." ۶ نو هارُون دا د ټولو اوبو د پاسه ونيوله اؤ چيندخې راوختلې اؤ ټول وطن يې پټ کړو. ۷ خو جادُوګرانو د جادُو نه کار واخستلو اؤ دوئ هم چيندخې جوړې کړې اؤ د مِصر وطن ته يې راوړلې. ۸ نو فِرعون مُوسیٰ اؤ هارُون راوغوښتل اؤ ورته يې ووئيل، "مالِک خُدائ ته سوال وکړئ چې دا چيندخې لرې

کړی، نو زۀ به ستاسو خلق تلو ته پرېږدم، نو دوئ به مالِک خُدائ
ته قُربانئ پيش کړی.“ ٩ مُوسىٰ ورته ووئيل، ”بادشاه سلامت! تۀ
صِرف وخت مُقرر کړه چې زۀ ستا، ستا درباريانو اؤ ستا د خلقو
د پاره سوال وکړم. چې تۀ اؤ ستاسو کورُونه د چيندخو نه خلاص
شی اؤ د نيل درياب نه بغېر به هيچرته هم پاتې نۀ شی.“ ١٠ فِرعون
ورته ووئيل، ”سبا زما د پاره سوال وکړه.“ مُوسىٰ ورته ووئيل، ”زۀ
به هم دغسې وکړم لکه څنګه چې تا ووئيل نو بيا به تا ته پته ولګې
چې د مالِک خُدائ زمُونږ د خُدائ پاک په شان بل هيڅ څوک هم
نشته. ١١ تۀ، ستا درباريان اؤ ستا خلق به د چيندخو نه خلاص شی
اؤ د نيل درياب نه بغېر به هيچرته هم پاتې نۀ شی.“ ١٢ بيا مُوسىٰ
اؤ هارُون د فِرعون د دربار نه لاړل. چې کله مُوسىٰ مالِک خُدائ ته
سوال وکړو چې هغه چيندخې لرې کړی کُومې چې هغۀ په فِرعون
راوستلې وې، ١٣ نو مالِک خُدائ هم هغه شان وکړل چې څنګه
مُوسىٰ وئيلی وُو اؤ په کورُونو، صِحنُونو اؤ په پټو کښې چيندخې مړې
شوې. ١٤ مِصريانو دا راغونډې کړې اؤ لوئ ډېری يې ترې ودرول
اؤ ټول وطن سخا بُوئ کولو. ١٥ فِرعون چې کله دا وليدل چې خېر
شو، نو هغۀ بيا خپل زړۀ سخت کړو، لکه څنګه چې مالِک خُدائ
وئيلی وُو، چې فِرعون به د مُوسىٰ اؤ هارُون خبره نۀ اوری.

## په مِصر دريم آفت: ماشی

١٦ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”هارُون ته ووايه چې زمکه
په خپله امسا ووهه، نو د ټول مِصر د وطن خاورې نه به ماشی

جوړ شی." ⑰ نو هارُون زمکه په خپله امسا ووهله اؤ د مِصر د وطن د ټولې خاورې نه ماشی جوړ شول، چې ټول خلق اؤ ځناور يې پټ کړل. ⑱ جادُوګرانو هم زمکه ووهله چې د خپل جادُو نه کار واخلی چې ماشی راولی، خو دوئ ناکام شول. نو ماشی په بنيادمو اؤ ځناورو پورې نښتی وُو، ⑲ بيا جادُوګرانو فِرعون ته ووئيل، "دا د خُدائ پاک کار دے!" خو د فِرعون زړۀ سخت وو، لکه څنګه چې مالِک خُدائ وئيلی وُو، چې فِرعون به د مُوسىٰ اؤ هارُون خبره نۀ اوری.

## په مِصر څلورم آفت: مچان

⑳ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، "سبا سحر وختی لاړ شه اؤ د فِرعون سره مِلاؤ شه چې کله هغه درياب ته ځی نو هغۀ ته ووايه چې مالِک خُدائ وائی، زما خلق تلو ته پرېږده چې دوئ زما عِبادت وکړی. ㉑ کۀ تۀ زما خلق تلو ته پرې نۀ ږدې، نو زۀ به په تا، ستا په درباريانو اؤ ستا په خلقو بې‌شمېره مچان درولېږم، د مِصريانو کورُونه به د مچانو نه ډک وی اؤ زمکه به ورباندې پټه وی. ㉒ خو په هغه ورځ به زۀ د جشن علاقه بچ کړم، چرته چې زما خلق اوسېږی، نو هلته به مچان بېخی نۀ وی. زۀ چې داسې وکړم نو تا ته به پته ولګې چې زۀ مالِک خُدائ، په دې وطن کښې حاضر يم. ㉓ اؤ زۀ به د خپلو خلقو اؤ ستا د خلقو په مېنځ کښې فرق راولم. دا نښه به سبا ښکاره شی." ㉔ مالِک خُدائ هم داسې وکړل اؤ بې‌شمېره مچان د فِرعون محل ته اؤ د هغۀ د

درباريانو کورُونو ته رانوتل. د بې‌شمېره مچانو په وجه د مِصر ټول وطن وران شو. ٢٥ نو فِرعون مُوسىٰ اؤ هارُون راوغوښتل اؤ ورته يې ووئيل، ”لاړ شئ اؤ هم په دې وطن کښې خپل خُدائ پاک ته قُربانى پېش کړئ.“ ٢٦ خو مُوسىٰ ورته ووئيل، ”داسې کول به ټيک نۀ وى، چې کُوم ځناور مُونږ قُربانى کوُو اؤ مُونږ يې مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته پېش کوُو د هغې په وجه به مِصريان نفرت کوى. کۀ د دې ځناورو د حلالولو په وجه مِصريان زمُونږ نه نفرت وکړى نو چې چرته هغوئ مُونږ ووينى، نو مونږ به سنګسار کړى. ٢٧ مُونږ به خامخا په صحرا کښې درې ورځې سفر کوُو چې مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته په صحرا کښې قُربانى پېش کړُو، لکه څنګه چې هغۀ مُونږ له حُکم راکړے دے.“ ٢٨ نو فِرعون ووئيل، ”زۀ به تاسو تلو ته پرېږدم چې مالِک خُدائ، خپل خُدائ پاک ته په صحرا کښې قُربانى پېش کړئ، خو تاسو ډېر لرې مۀ ځئ. زما د پاره سوال وکړه.“ ٢٩ مُوسىٰ ورته ووئيل، ”چې څنګه زۀ لاړ شم، نو زۀ به مالِک خُدائ ته سوال وکړم چې سبا ستا، ستا د درباريانو اؤ ستا د خلقو نه مچان لاړ شى. خو چې بيا تۀ مُونږ له دهوکه رانۀ کړې اؤ چې خلق د تلو نه ايسار نۀ کړې چې مالِک خُدائ ته قُربانى وکړى.“ ٣٠ مُوسىٰ د فِرعون د دربار نه لاړو اؤ مالِک خُدائ ته يې سوال وکړو، ٣١ نو مالِک خُدائ د مُوسىٰ سوال قبُول کړو. مچان د فِرعون، د هغۀ د درباريانو اؤ د هغۀ د خلقو نه لاړل، يو مچ هم پاتې نۀ شو. ٣٢ خو دا ځل هم فِرعون زړۀ سخت کړو اؤ بيا يې خلق تلو ته نۀ پرې ښودل.

## په مِصر پينځم آفت: د ځناورو مړۀ کېدل

۹ ۱ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ”فِرعون له لاړ شه اؤ
ورته ووايه چې مالِک خُدائ، د عبرانيانو خُدائ پاک وائی،
چې زما خلق تلو ته پرېږده چې زما عِبادت وکړی. ۲ خو کۀ تۀ اِنکار
کوې اؤ هغوئ بيا هم تلو ته نۀ پرېږدی، ۳ نو ګوره! زۀ به ستا په ټولو
ځناورو، ستا په اسُونو، خرُونو، اُوښانو، څاروو، ګډو اؤ چېلو سخته
بيماری درولېږم. ۴ زۀ به د اِسرائيليانو اؤ د مِصريانو د څاروو په مېنځ
کښې فرق راولم اؤ د اِسرائيليانو يو څاروے به هم نۀ مری. ۵ ما
مالِک خُدائ سبا وخت مُقرر کړے دے، زۀ به په دې وطن کښې
داسې وکړم.“ ۶ بله ورځ مالِک خُدائ هم هغسې وکړل لکه څنګه
چې مالِک خُدائ وئيلی وُو، د مِصريانو ټول څاروی مړۀ شول، خو د
بنی اِسرائيلو يو څاروے هم مړ نۀ شو. ۷ فِرعون تپوس وکړو چې څۀ
شوی وُو اؤ هغۀ ته ووئيلے شول چې د اِسرائيليانو يو څاروے هم مړ
نۀ شو. خو د هغۀ زړۀ سخت وو اؤ هغۀ به خلق تلو ته نۀ پرېښودل.

## په مِصر شپږم آفت: دانې

۸ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ اؤ هارُون ته ووئيل، ”د بټۍ نه يو څو
لَپې ايرې راواخلئ، دا به مُوسیٰ د فِرعون په مخکښې د آسمان طرف
ته لړه کړی. ۹ دا به د دُوړې په شان د مِصر په ټول وطن کښې
خورې شی اؤ په هر ځائ کښې به دا دانې راوخېژوی چې په خلقو
اؤ ځناورو به سخا شی.“ ۱۰ نو هغوئ ايرې راواخستلې اؤ د فِرعون

په مخکښې ودرېدل، مُوسىٰ دا د آسمان طرف ته لړه کړې، نو په خلقو اؤ ځناورو باندې دانې راوختلې اؤ سخا شوې. ⑪ جادُوګران د دې قابِل نۀ وُو چې د مُوسىٰ په مخکښې ولاړ وے، ځکه چې د نورو ټولو مِصريانو په شان دوئ هم په دانو پټ وُو. ⑫ خو مالِک خُدائ د فِرعون زړۀ سخت کړو، لکه څنګه چې هغۀ وئیلی وُو، چې فِرعون به د مُوسىٰ اؤ هارُون خبره نۀ اوری.

## په مِصر اووُم آفت:ږلۍ

⑬ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، "سحر وختی پاڅه اؤ د فِرعون په مخکښې ودرېږه اؤ هغۀ ته ووايه چې مالِک خُدائ، د عبرانيانو خُدائ پاک وائی، چې زما خلق تلو ته پرېږده چې دوئ زما عِبادت وکړی. ⑭ دا ځل به زۀ نۀ صِرف ستا درباريانو اؤ ستا خلقو له سزا ورکوم، بلکه دغه شان تا له به هم سزا درکوم، نو تا ته به پته ولګې چې په ټوله دُنيا کښې زما په شان بل هيڅ څوک هم نشته. ⑮ کۀ ما خپل لاس اُوچت کړے وے اؤ تۀ اؤ ستا خلق مې په بيمارو وهلے وے، نو تاسو به د دُنيا نه ورک شوی وئ. ⑯ خو ما تاسو د دې د پاره ژوندی پرېښودلی يئ چې خپل طاقت درته وښايم اؤ چې زما نُوم په ټوله دُنيا کښې خور شی. ⑰ خو تر اوسه پورې تۀ مغرُور يې اؤ زما خلق تلو ته نۀ پرېږدی. ⑱ ګوره! سبا دا وخت به زۀ درته ږلۍ ووروم، چې داسې ږلۍ به کله د مِصر په تاريخ کښې هم نۀ وی شوې.
⑲ اوس خپل څاروی راولئ اؤ چې په پټو کښې ستاسو نور څۀ هم وی هغه محفوظ ځائ ته راوړئ. ږلۍ به په بهر پاتې خلقو اؤ ځناورو

باندې وورېږی اؤ ټول به مړۀ شی." ⑳ د فِرعون کُوم درباریان چې د مالِک خُدائ د خبرې نه ویرېدل نو هغوئ خپل نوکران اؤ څاروی په منډه باندې کورُونو ته بوتلل. ㉑ خو چا چې د مالِک خُدائ خبرو ته غوږ کښې نۀ ښودلو نو هغوئ خپل نوکران اؤ څاروی بهر په پټو کښې پرېښودل. ㉒ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، "خپل لاس کښې امسا آسمان ته اُوږده کړه، نو د مِصر په ټول وطن، خلقو، څناورو اؤ په پټو کښې په ټولو بُوټو به ږلۍ وورېږی." ㉓-㉔ نو مُوسیٰ خپله امسا آسمان ته اُوږده کړه اؤ مالِک خُدائ تندر اؤ ږلۍ راولېږله اؤ برېښنا زمکه ووهله. مالِک خُدائ د ږلۍ یو لوئ طوفان اؤ آسمانی بجلی راولېږله. د مِصر په ټول تاریخ کښې هم داسې خراب طوفان کله هم نۀ وو تېر شوے. ㉕ د مِصر په وطن کښې بهر چې څۀ هم وُو هغه ټول ږلۍ ووهل، سره د ټولو خلقو اؤ څناورو. ږلۍ په پټو کښې ټول بُوټی وغورزول اؤ ټولې ونې یې ماتې کړلې. ㉖ خو صِرف د جشن په علاقه کښې، چرته چې بنی اِسرائیل اوسېدل، هلته لږه ږلۍ هم نۀ وه ورېدلې. ㉗ فِرعون مُوسیٰ اؤ هارُون راوغوښتل اؤ ورته یې ووئیل، "دا ځل زما نه ګُناه شوې ده، مالِک خُدائ صادق دے اؤ زۀ اؤ زما خلق بد عمله یُو. ㉘ مالِک خُدائ ته سوال وکړه! نور مُونږ دې ږلۍ اؤ تندرُونو ته نۀ شُو ټینګېدے. زۀ به تاسو تلو ته پرېږدم، تاسو به دلته نور نۀ ایسارېږئ." ㉙ مُوسیٰ هغۀ ته ووئیل، "زۀ چې څنګه د ښار نه لاړ شم، نو زۀ به د دُعا د پاره خپل لاسُونه مالِک خُدائ ته پورته کړم. نو تندر به بس شی اؤ نوره ږلۍ به نۀ ورېږی، نو داسې تا ته به پته ولګي چې زمکه د مالِک خُدائ ده. ㉚ خو ما ته پته ده چې تۀ

اؤ ستا درباریان اوس هم د مالِک خُدائ، خُدائ پاک نه نۀ یرېږئ."
۳۱ سُنډ اؤ اوربشې تباه شول، ځکه چې اوربشې پخې وې اؤ د سُنډو
بُوټی غوټۍ شوی وُو. ۳۲ خو د غنمو فصل خراب نۀ شو، ځکه چې
دا وروستو پخېږی. ۳۳ مُوسیٰ د فِرعون نه لاړو اؤ د ښار نه بهر ووتلو
اؤ خپل لاسُونه یې مالِک خُدائ ته پورته کړل. تندرُونه،ږلۍ اؤ باران
هر څۀ ودرېدل. ۳٤ چې کله فِرعون ته پته ولګېده چې طوفان ختم
شو، نو هغۀ بیا ګُناه وکړه. هغۀ اؤ د هغۀ درباریانو خپل زړُونه سخت
کړل ۳۵ اؤ لکه چې څنګه مالِک خُدائ د مُوسیٰ په ذریعه مخکښې
وئیلی وُو، فِرعون بنی اِسرائیل تلو ته نۀ پرېښودل.

## په مِصر اتم آفت: د قحطۍ ملخان

**۱۰** ۱ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، "فِرعون له لاړ شه. ما
د هغۀ اؤ د هغۀ د درباریانو زړُونه سخت کړی دی، چې زۀ
په دوئ کښې خپلې دا مُعجزې ښکارندې کړم ۲ اؤ چې تاسو خپلو
زامنو اؤ نمسو ته وئیلی شئ چې کله ما مُعجزې ښکارندې کړې نو ما د
مِصریانو نه څنګه کم عقل جوړ کړل. تاسو ټولو ته به پته ولګې چې زۀ
مالِک خُدائ یم." ۳ نو مُوسیٰ اؤ هارُون فِرعون له لاړل اؤ هغۀ ته یې
ووئیل، "مالِک خُدائ، د عبرانیانو خُدائ پاک وائی چې، تۀ به تر کُومې
پورې زما د منلو نه اِنکار کوې؟ زما خلق تلو ته پرېږده، چې هغوئ زما
عِبادت وکړی. ٤ کۀ تۀ هم دغه شان اِنکار کوې، نو ګوره! سبا به زۀ
ستا په وطن د قحطۍ ملخان درولېږم. ٥ دا به دومره زیات وی چې د
زمکې مخ به پټ کړی اؤ هیڅ څوک به هم زمکه نۀ شی کتلے. دا به

هغه هر څۀ وخوری کُوم چې بڑلیِ نۀ دی تباه کړی، دغه شان هغه ونې به هم وخوری چې بیا راشنې کیږی. ۶ د قحطیِ مُلخانو نه به ستاسو کورُونه، ستا د ټولو درباریانو اؤ ستا د ټولو خلقو کورُونه ډک شی. دا به د هغه هر څۀ نه بد تر وی چې کُوم ستا پلار نیکۀ په تاریخ کښې لیدلی دی.“ بیا مُوسیٰ راوګرځېدو اؤ د فِرعون نه لاړو. ۷ د فِرعون درباریانو هغۀ ته ووئیل، ”دا سړے به تر کُومې پورې مُونږ له تکلیف راکوی؟ دا خلق تلو ته پرېږده، نو چې دوئ د مالِک خُدائ، خپل خُدائ پاک عِبادت وکړی. تا ته پته نۀ لګي چې مِصر تباه شو؟“ ۸ نو مُوسیٰ اؤ هارُون واپس فِرعون له راوستے شول، نو هغۀ دوئ ته ووئیل، ”تاسو لاړ شئ اؤ د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک عِبادت وکړئ. خو څوک څوک به ځی؟“ ۹ نو مُوسیٰ ورته ووئیل، ”مُونږ به ټول سره د خپلو ځوانانو اؤ زړو ځُو. مُونږ به د ځان سره خپل زامن، لُونړه، ګډې، چېلیِ اؤ خپل څاروی هم بوځُو، ځکه چې مُونږ به د مالِک خُدائ په درناوی کښې اختر کوُو.“ ۱۰ فِرعون ووئیل، ”زما دې په مالِک خُدائ قسم وی چې زۀ به تاسو هیڅ کله نۀ پرېږدم چې خپلې ښځې اؤ بچی هم بوځئ! ګورئ، تاسو د څۀ غلط کار منصُوبه جوړوئ. ۱۱ نه هیڅ کله هم نه! کۀ تاسو د مالِک خُدائ عِبادت کول غواړئ نو صِرف سړی تلے شی.“ نو مُوسیٰ اؤ هارُون د فِرعون د دربار نه وشړلے شول. ۱۲ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”خپل لاس اُوږد کړه چې د مِصر په وطن د قحطیِ ملخان راشی. چې د قحطیِ ملخان راشی نو هر یو شین بُوټے به وخوری، هر هغه څیز چې د بڑلیِ نه بچ پاتې وی.“ ۱۳ نو مُوسیٰ خپله امسا اُوږده کړه اؤ مالِک خُدائ د نَمرخاتۀ طرف نه په هغه وطن

باد راولېږلو چې په هغه ټوله شپه اؤ ټوله ورځ وچلېدو. چې کله سحر شو نو دې باد د قحطۍ ملخان راوړی وُو. ۱۴ د قحطۍ دې مُلخانو د مِصر ټول وطن نیولے وو. دا د قحطۍ مُلخانو د ټولو نه غټ لښکر وو چې نۀ د دې نه مخکښې لیدلے شوے وو اؤ نۀ به بیا کله ولیدلے شی. ۱۵ دوئ د زمکې ټول مخ پټ کړو چې د دوئ په وجه وطن تک تور شو، دوئ هغه هر څۀ وخوړل کُوم چې د ږلۍ نه پاتې وُو، سره د هغه مېوې چې په ونو کښې وې. د مِصر ټول وطن په ونو اؤ بُوټو کښې هیڅ یو شین څیز پاتې نۀ شو. ۱۶ نو فِرعون سمدستی مُوسیٰ اؤ هارُون راوغوښتل اؤ ورته یې ووئیل، ”ما د مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ پاک اؤ ستاسو خِلاف گُناه کړې ده. ۱۷ نو اوس دا یو ځل زما گُناه معاف کړه اؤ مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته سوال وکړه چې دا د مرگ آفت زما نه لرې کړی.“ ۱۸ مُوسیٰ د فِرعون نه لاړو اؤ مالِک خُدائ ته یې سوال وکړو. ۱۹ اؤ مالِک خُدائ هغه د نَمرخاتۀ باد په یو زورَور نمرپرېواتۀ باد بدل کړو، چې ټول د قحطۍ ملخان یې اُوچت کړل اؤ سُور دریاب ته یې یوړل. د مِصر په وطن کښې یو د قحطۍ ملخ هم پاتې نۀ شو. ۲۰ خو مالِک خُدائ د فِرعون زړۀ سخت کړو اؤ بنی اِسرائیل یې تلو ته نۀ پرېښودل.

## په مِصر نهم آفت: توره تیارۀ

۲۱ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”خپل لاس آسمان طرف ته اُوږد کړه، نو د مِصر په ټول وطن به تیارۀ راشی، داسې تکه توره تیارۀ چې چا ته هیڅ هم نۀ ښکاری.“ ۲۲ مُوسیٰ خپل لاس آسمان طرف

ته اُوړد کړو اؤ درېِ ورځې په ټول مِصر تکه توره تيارهٔ وه. ۲۳ مِصريانو
تر دريو ورځو پورې يو بل نهٔ شو ليدلے اؤ هيڅ څوک هم د خپل
خپل ځائ نه ونهٔ ښوزېدل، خو چې په کُوم ځائ کښې بنی اِسرائيل
اوسېدل هلته رڼا وه. ۲۴ فِرعون مُوسیٰ راوغوښتلو اؤ ورته يې ووئيل،
”تاسو لاړ شئ چې د مالِک خُدائ عِبادت وکړئ، هم دغه شان
ستاسو ښځې اؤ بچی هم درسره تلے شی. خو ستاسو ګډې، چېلی
اؤ څاروی به خامخا دلته پاتې کېږی.“ ۲۵ خو مُوسیٰ ورته ووئيل،
”تهٔ به مُونږ له څاروی راکوې چې مُونږ يې د قُربانيانو اؤ سوزېدُونکې
نذرانې په توګه مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته پېش کړُو. ۲۶ مُونږ
به خپل څاروی د ځان سره بوځُو، يو څاروے به هم نهٔ پاتې کېږی.
مُونږ به په خپله څاروی خوښوُو چې دې سره د مالِک خُدائ د خپل
خُدائ پاک عِبادت وکړُو. چې مُونږ هلته رسېدلی نهٔ يُو مُونږ ته پته نهٔ
لګې چې د کُومو څاروو قُربانیٔ هغهٔ ته پېش کړُو.“ ۲۷ مالِک خُدائ
د فِرعون زړهٔ سخت کړو اؤ دوئ يې تلو ته پرې نهٔ ښودل. ۲۸ هغهٔ
مُوسیٰ ته ووئيل، ”د مخې نه مې ورک شه! نور چې زما وړاندی رانهٔ
شې! په کُومه ورځ چې زما مخې ته راغلې نو مړ به شې.“ ۲۹ مُوسیٰ
ورته ووئيل، ”ټيک ده تا ښهٔ ووئيل، تهٔ به بيا ما کله هم ونهٔ وينې.“

## په مِصر لسم آفت: مرګ

**۱۱** ۱ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ”زهٔ به د مِصر په
فِرعون اؤ د هغهٔ په خلقو يو آخری آفت راولم. د هغې نه
پس به هغه تاسو د دې ځائ نه تلو ته پرېږدی. په رښتيا سره، هغه به

تاسو ټول د دې ځائ نه وباسی. ۲ خلقو ته ووايه چې هر يو سړے د خپل ګاونډی نه اؤ هره يوه ښځه به د خپلې ګاونډۍ نه د سپينو زرو اؤ سرو زرو کالی وغواړی.“ ۳ مالِک خُدائ بنی اِسرائيل د مِصريانو په نظر کښې درانهٔ کړی دی. د دې نه علاوه، په خپله مُوسىٰ هم د مِصر په وطن کښې د فِرعون د درباريانو اؤ د ټولو خلقو په مخکښې يو عِزتمند سړے ګڼلے شو. ۴ مُوسىٰ بيا فِرعون ته ووئيل، ”مالِک خُدائ وائی چې تقريباً نيمه شپه به زهٔ د مِصر نه تېر شم، ۵ د مِصر په وطن کښې هر يو مشر زوئ به مړ شی، د فِرعون د مشر زوئ نه واخله کُوم چې په تخت کښېنی د وينځې هغه مشر زوئ پورې کُوم چې مېچنې ته ناست وی اؤ د څاروو ټول وړومبی پېدا شوی بچی به هم مړهٔ شی. ۶ د مِصر په ټول وطن کښې به داسې په زوره ژړا وی، چې نهٔ به مخکښې کله شوې وی اؤ نهٔ به وشی. ۷ خو چې چرته بنی اِسرائيل اوسېږی نو هلته به خبر وی، دوئ اؤ د دوئ په څاروو پسې به يو سپے قدر هم ونهٔ غپېږی. نو تا ته به پته ولګې چې زهٔ، مالِک خُدائ د مِصريانو اؤ اِسرائيليانو په مېنځ کښې فرق راولم.“ ۸ مُوسىٰ خپله خبره ختموله اؤ وې وئيل، ”ستا ټول درباريان به ما له راشی اؤ زما په مخکښې به ټيټ شی اؤ دوئ به زما مِنت وکړی چې خپل ټول خلق روان کړه اؤ لاړ شه. د دې نه پس به زهٔ لاړ شم.“ نو مُوسىٰ د قهره تک سُور وو چې د فِرعون نه لاړو. ۹ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”فِرعون به ستا خبره ځکه وانهٔ وری، چې زهٔ د مِصر په وطن کښې نورې مُعجزې هم وکړم.“ ۱۰ مُوسىٰ اؤ هارُون د فِرعون په مخکښې دا ټولې مُعجزې وکړې، خو مالِک

خُدائ به د فِرعون زړهٔ سختولو اؤ هغهٔ به بنی اِسرائيل د هغهٔ د وطن نه تلو ته نهٔ پرېښودل.

## د فسحې اختر

**۱۲** ۱ مالِک خُدائ د مِصر په وطن کښې مُوسیٰ اؤ هارُون ته ووئيل: ۲ "دا مياشت به ستاسو د پاره د کال اولنۍ مياشت وی. ۳ د اِسرائيليانو ټول قوم ته دا ووايئ: د دې مياشتې په لسمه ورځ به هر سړے د خپلې کورنۍ د پاره يو ګډُورے يا د چېلۍ بچے راولی. ۴ اؤ کهٔ چرې د چا په کورنۍ کښې د ټول څاروی خوړولو والا کسان کم وی، نو هغه دې د خپل ګاونډی سره چې د هغهٔ د کور په خوا کښې اوسېږی، په شريکه د کسانو د شمېر په مُطابق ګډُورے يا د چېلۍ بچے راولی اؤ هر يو کس ته دې د خوراک په مُطابق حِصه مِلاؤ شی. ۵ تاسو به يو ګډُورے يا د چېلۍ بچے خوښ کړئ، خو دا دې خامخا د يو کال نر وی چې هيڅ عيب په کښې نهٔ وی. ۶ نو د دې مياشتې د څوارلسمې ورځې په ماښام، د اِسرائيليانو ټول قوم به دا څاروی حلال کړی. ۷ خلق دې د هغه وينې نه لږه وينه واخلی اؤ د دروازو په چوکاټُونو اؤ پاسنی دُرشل باندې دې ولګوی د کورُونو په هغه چوکاټُونو چرته چې هغوئ دا څاروی خوری. ۸ په هغه شپه دې غوښه په اور وريته کړے شی اؤ د ترخو بُوټو اؤ د پتيرې ډوډۍ سره دې وخوړلے شی. ۹ د دې څاروی نه څهٔ کچه اؤ يا يشېدلې څيز مهٔ خورئ، بلکه دا ټول وريت کړئ اؤ سره د سر، خپو اؤ دننی ټولو اندامُونه يې وخورئ. ۱۰ تر سحره پورې

په دې کښې هيڅ هم باقی مۀ پرېږدئ، خو کۀ پاتې شی نو هغه وسوزوئ. ⑪ دا به تاسو زر زر خورئ، ځکه چې تاسو به د سفر د پاره ملا تړئ، ستاسو په خپو به پېزار وی اؤ ستاسو په لاسُونو کښې به امساګانې وی. دا زما يعنې د مالِک خُدائ په درناوی کښې د فسحې اختر دے. ⑫ په هغه شپه به زۀ د مِصر وطن نه تېرېږم اؤ هر وړومبے پيدا شوے نر اِنسان اؤ حيوان به ووژنم اؤ د مِصر ټولو خُدايانو له به سزا ورکړم، زۀ مالِک خُدائ يم. ⑬ په چوکاټُونو د وينې نښه به ما ته هغه کورُونه په نښه کوی چې تاسو په کښې اوسېږئ. چې کله زۀ مِصريان هلاکوم اؤ زۀ دې وينې ته ګورم، نو د څۀ نُقصان رسولو نه بغېر به ستاسو نه تېر شم. ⑭ تاسو په دې ورځ خامخا اختر کوئ چې تاسو ته هغه څۀ درياديږی چې ما مالِک خُدائ څۀ کړے دے. دا اختر په راتلُونکی وختُونو کښې همېشه د پاره کوئ.“

## د پتيرې ډوډۍ اختر

⑮ مالِک خُدائ ووئيل، ”تاسو به اووۀ ورځې خميره شوې پخه ډوډۍ نۀ خورئ صِرف پتيره ډوډۍ به خورئ. په وړومبۍ ورځ به تاسو د خپلو کورُونو نه ټوله خميره لرې کړئ، ځکه چې کۀ په دې اووۀ ورځو کښې څوک خميره شوې پخه ډوډۍ وخوری، نو هغه کس به د اِسرائيليانو نه نۀ شی ګڼلے. ⑯ په وړومبۍ ورځ اؤ بيا په اوومه ورځ به تاسو زما د عِبادت د پاره يو ځائ کېږئ. په دغه ورځو کښې به بل يو کار هم نۀ کوئ خو د ځان د پاره صِرف خوراک تيارولے شئ. ⑰ د پتيرې ډوډۍ اختر کوئ، ځکه چې دا هغه ورځ ده

چې ما تاسو د مِصر نه قبيله په قبيله راوويستلئ. تاسو به په راتلُونکې وختُونو کښې همېشه په دې ورځ اختر کوئ. ⑱ د وړومبۍ مياشتې د څوارلسمې ورځې د ماښام نه واخله د يويشتمې ورځې تر ماښامه پورې، خمبيره شوې ډوډۍ مۀ خورئ. ⑲-⑳ چې اووۀ ورځې ستاسو په کورُونو کښې خمبيره پيدا نۀ شى، کۀ څوک هم خمبيره ډوډۍ وخورى کۀ هغه د دې وطن وى يا مُسافر وى، نو هغه کس به نور د اِسرائيليانو نه نۀ شى گڼلے."

## د فسحې اختر په اول ځل کول

㉑ مُوسىٰ د اِسرائيليانو ټول مشران راوغوښتل اَؤ هغوئ ته يې ووئيل، "په تاسو کښې دې هر يو کس يو گډُورے يا د چېلۍ بچے خوښ کړى اَؤ حلال يې کړئ، نو چې ستاسو کورنۍ د فسحې اختر وکړى. ㉒ د وېلنى يوه گېډۍ راواخلئ، دا د وينې په لُوښى کښې ډُوبه کړئ اَؤ دا وينه د خپلو کورُونو د دروازو په چوکاټُونو اَؤ په پاسنو دُرشلو باندې ولگوئ. په تاسو کښې دې يو کس هم د خپل کور نه تر سحره پورې نۀ وځى. ㉓ چې کله مالِک خُدائ د مِصر نه تېرېږى اَؤ مِصريان هلاکوى، نو هغه به د دروازو په چوکاټُونو اَؤ پاسنو دُرشلو باندې هغه وينه وگورى اَؤ د مرگ فرِښته به ستاسو کورُونو ته پرې نۀ ږدى چې راننوځى اَؤ تاسو ووژنى. ㉔ تاسو اَؤ ستاسو اولاد به خامخا همېشه د پاره دا اصُول منئ. ㉕ چې کله تاسو هغه وطن ته ورننوځئ چې مالِک خُدائ د هغې درکولو وعده کړې ده، نو تاسو دا اختر هر کال کوئ. ㉖ چې ستاسو اولاد ستاسو نه تپوس کوى چې د دې

اختر څۀ مطلب دے؟ ۲۷ تاسو به ورته وايئ چې دا د مالِک خُدائ په درناوی کښې د فسحې اختر قُربانی ده، ځکه چې هغه په مِصر کښې د بنی اِسرائيلو د کورُونو د پاسه تېر شو. هغۀ مِصريان هلاک کړل، خو مُونږ يې بچ کړُو.“ بنی اِسرائيلو خپل سرُونه ټيټ کړل اؤ د مالِک خُدائ عِبادت يې وکړو. ۲۸ بيا بنی اِسرائيل لاړل اؤ هغه شان يې وکړل چې څنګه مالِک خُدائ مُوسیٰ اؤ هارُون له حُکم ورکړے وو.

## د آخری آفت رارسېدل

۲۹ په نيمه شپه کښې مالِک خُدائ د مِصر په وطن کښې ټول وړومبی پيدا شوی زامن ووژل، د فِرعون د زوئ نه واخله کُوم چې په تخت کښېناستو، د هغه قېدی د زوئ پورې چې په قېدخانې کښې وو، د څاروو ټول وړومبی پيدا شوی بچی هم ووژلے شول. ۳۰ په هغه شپه فِرعون، د هغۀ درباريان اؤ نور ټول مِصريان راويښ شول. په ټول مِصر کښې په چغو چغو ژړا کېدله، ځکه چې يو کور هم داسې نۀ وو چې مړے په کښې نۀ وو شوے. ۳۱ هم په هغه شپه بادشاه مُوسیٰ اؤ هارُون راوغوښتل اؤ ورته يې ووئيل، ”تاسو دواړه اؤ ټول بنی اِسرائيل پاڅئ! زما د وطن نه ووځئ، لکه څنګه چې تاسو وئيل، نو لاړ شئ اؤ د مالِک خُدائ عِبادت وکړئ. ۳۲ خپلې ګلې، چېلۍ اؤ څاروی د ځان سره بوځئ اؤ لاړ شئ. اؤ زما د برکت د پاره هم دُعا وکړئ.“ ۳۳ مِصريانو په بنی اِسرائيلو زور راوړو چې زر زر د هغه وطن نه ووځی، دوئ ووئيل، ”کۀ تاسو لاړ نۀ شئ نو مُونږ به ټول مړۀ شُو.“ ۳۴ نو خلقو د پتيرې پيړو ښانکُونه ډک کړل اؤ په څادرو کښې يې وتړل اؤ د ځان سره يې

يوړل. ۳۵ بنی اِسرائيلو هم هغسې کړی وُو چې څنګه مُوسىٰ ورته وئيلی
وُو اؤ د مِصريانو نه يې د سرو زرو اؤ سپينو زرو کالی اؤ جامې غوښتلی
وُو. ۳۶ مالِک خُدائ په مِصريانو د دې خلقو قدر وکړو اؤ چې دوئ څۀ
غوښتل هغوئ ورکړل. نو داسې بنی اِسرائيلو د مِصريانو دولت لُوټ کړو.

## د بنی اِسرائيلو د مِصر نه تلل

۳۷ بنی اِسرائيلو د رعمسيس نه سُکات پورې پيدل مزل وکړو. د ښځو
اؤ ماشُومانو نه بغېر دا تقريباً شپږ لاکهه سړی وُو. ۳۸ سره د ډېرو ګلهو،
چېلو اؤ څاروو، نور هم ډېر خلق ورسره لاړل. ۳۹ دوئ د هغه پيړو نه
پتيره ډوډئ پخې کړې چې کُومې يې د مِصر نه ځان سره راوړې وې،
ځکه چې دوئ د مِصر نه ناڅاپې ويستلے شوی وُو اؤ دومره وخت ورته
مِلاؤ نۀ شو چې د ځان د پاره خمبيره ډوډئ يا نور خوراک تيار کړی.
۴۰ بنی اِسرائيل په مِصر کښې څلور سوه دېرش کاله اوسېدل. ۴۱ هم
په هغه ورځ څلور سوه دېرش کاله پُوره شول، چې د مالِک خُدائ
د خلقو ټولې قبيلې د مِصر نه ووتلې. ۴۲ دا هغه شپه وه چې د مالِک
خُدائ په دوئ نظر وو چې دوئ يې د مِصر نه راوويستل، نو دغه شپه
د همېشه د پاره مالِک خُدائ ته وقف ده ځکه چې په هغه شپه به په
راتلُونکی وخت کښې بنی اِسرائيل بېدار اوسېږی.

## د فسحې اختر په باره کښې اصُول

۴۳ مالِک خُدائ مُوسىٰ اؤ هارُون ته ووئيل، ”دا د فسحې اختر
اصُول دی: د بل وطن يو کس به هم د فسحې اختر خوراک

نهٔ خوری، ٤٤ خو چې کُوم غُلام تاسو په بیعه اخستے وی دا
خوراک خوړلے شی خو تاسو به مخکښې هغه سُنت کوئ.
٤٥ مُسافر یا مزدُور به دا نهٔ شی خوړلے. ٤٦ دا ټول خوراک به
په هغه کور کښې خوړلے شی چې په کُوم کښې دا تیار شوے
وی، چې غوښه بهر راونهٔ باسئ اؤ چې یو هډُوکے هم مات
نهٔ کړئ. ٤٧ د اِسرائیلیانو ټول قوم به دا اختر کوی، ٤٨ خو
چې کُوم سړے سُنت شوے نهٔ وی هغه به دا نهٔ خوری. کهٔ
په تاسو کښې د بل وطن څوک اوسېږی اؤ د مالِک خُدائ په
درناوی کښې د فسحې اختر کول غواړی، نو اول به خامخا د
هغهٔ د کور ټول نران سُنت کولے شی. بیا به هغه د یو پېدائشی
اِسرائیلی په شان گڼلے شی اؤ په دې اختر کښې تاسو سره
برخه اخستے شی. ٤٩ د هغه وطن او د بل وطن خلقو د پاره
به یو شان قانُون وی کوم چې ستاسو سره اوسېږی.“ ٥٠ ټولو
بنی اِسرائیلو فرمانبرداری وکړه اؤ هم هغه شان یې وکړل چې
څنګه مالِک خُدائ مُوسیٰ اؤ هارُون له حُکم ورکړے وو.
٥١ هم په هغه ورځ مالِک خُدائ د بنی اِسرائیلو قبیلې د مِصر
د وطن نه راوویستلې.

## د اول پېدا شوو نرانو وقف کول

**١٣** ١ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ٢ ”ټول وړومبی
پېدا شوی نران ما ته وقف کړه. د هرې بنی اِسرائیلی
ښځې مشر ماشُوم اؤ هر یو وړومبے نر څاروے زما دے.“

## د پتيرې ډوډۍ اختر

۳ مُوسیٰ خلقو ته ووئيل، "دا ورځ ياده ساتئ، په کُومه ورځ چې تاسو د مِصر نه راووتلئ، چرته چې تاسو غُلامان وئ، دا هغه ورځ ده چې مالِک خُدائ تاسو د خپل لوئ طاقت سره راوويستلئ، خمبيره ډوډۍ به نۀ خورئ، ۴ د وړومبی مياشتې په دې ورځ چې د ابيب مياشت ده تاسو د مِصر نه روان يئ. ۵ مالِک خُدائ ستاسو د پلار نيکۀ سره پوخ لوظ کړے دے چې تاسو له به د کنعانيانو، حِتيانو، اموريانو، حِويانو اؤ د يبوسيانو وطن درکوی. چې کله تاسو هغه زرخېز وطن ته بوځی، نو د کال په وړومبی مياشت کښې دا اختر کوئ. ۶ اووۀ ورځې به تاسو پتيره ډوډۍ خورئ اؤ په اوومه ورځ د مالِک خُدائ د درناوی د پاره اختر وکړئ. ۷ اووۀ ورځې به تاسو خمبيره ډوډۍ نۀ خورئ، چې خمبيره ډوډۍ هيچرته هم ستاسو په وطن کښې پېدا نۀ شی. ۸ چې کله اختر شروع کېږی، خپلو زامنو ته ووايئ چې دا هر څۀ تاسو ځکه کوئ چې کله تاسو د مِصر نه تلئ نو مالِک خُدائ ستاسو د پاره څۀ کړی وُو. ۹ چې کله تاسو دا اختر کوئ نو دا به تاسو ته هغه څۀ داسې درپادوی لکه چې يوه نښه تاسو په خپل لاس يا تندی باندې تړلی وی، نو د مالِک خُدائ کلام به ستاسو په ژبه باندې وی، ځکه چې مالِک خُدائ د خپل لوئ طاقت سره تاسو د مِصر نه راوويستلئ. ۱۰ نو تاسو هر کال دا اختر په خپل مُقرر وخت باندې کوئ.

## وړومبی پېدا شوی نران

۱۱ مالِک خُدائ به تاسو د کنعانيانو وطن ته راولی، د کُوم چې هغهٔ د ستاسو پلار نيکهٔ له د ورکولو پوخ لوظ کړے دے. چې کله هغه وطن تاسو له درکړی، ۱۲ نو تاسو خامخا هر وړومبے پېدا شوے نر مالِک خُدائ ته پېش کوئ. ستاسو هر يو وړومبے پېدا شوے نر څاروے به د مالِک خُدائ وی، ۱۳ خو تاسو به د هغهٔ نه هر يو نر خر واپس اخلئ اؤ د هغهٔ په بدل کښې به يو ګډُورے پېش کوئ. خو کهٔ تاسو هغه خر واپس اخستل نهٔ غواړئ، نو څټ يې مات کړئ. تاسو به هر يو خپل وړومبے پېدا شوے نر بچے په بدل کښې خامخا واپس اخلئ. ۱۴ په راتلُونکی وخت کښې چې کله ستاسو زامن تپوس کوی چې د دې رسمُونو څهٔ مطلب دے، نو تاسو به ورته وايئ چې مالِک خُدائ په خپل لوئ طاقت سره مُونږ د مِصر نه راوويستلُو، چې هلته مُونږ غُلامان وُو. ۱۵ چې کله د مِصر فِرعون خپل زړهٔ سخت کړو اؤ مُونږ يې تلو ته نهٔ پرېښودلُو، نو مالِک خُدائ د مِصر په وطن کښې هر يو وړومبے پېدا شوے نر اِنسان اؤ حېوان ووژلو. نو دا ځکه مُونږ هر يو نر څاروے مالِک خُدائ ته قُربانی کوُو اؤ خپل وړومبی پېدا شوی زامن په بدل کښې واپس اخلُو. ۱٦ دا اختر به يو يادګار وی، داسې لکه چې مُونږ يوه نښه په خپل لاس يا تندی باندې تړلې وی، دا به مُونږ ته هغه څهٔ رايادوی چې مالِک خُدائ په خپل لوئ طاقت سره مُونږ د مِصر نه راوويستلُو.“

## د ورېځې ستن اؤ د اور ستن

١٧ چې کله د مِصر فِرعون خلق تلو ته پرېښودل، نو خُدائ پاک دوئ
په هغه لار بونهٔ تلل کُومه چې د درياب په غاړه فلسطين ته تلې وه، اګرچې
دا لار لنډه وه. خُدائ پاک ووئيل، ”زهٔ دا نهٔ غواړم چې دا خلق پښېمانه
شى اؤ مِصر ته راواپس شى چې هغوئ ته دا پته ولګې چې په هغوئ جنګ
راروان دے.“ ١٨ نو هغهٔ دا خلق د صحرا په کږه وږه لار د سُور درياب په
طرف بوتلل. بنى اِسرائيلو د جنګ د پاره قطارُونه جوړ کړى وُو. ١٩ مُوسىٰ
د يُوسف هډُوکى د خپل ځان سره يوړل، لکه څنګه چې يُوسف د بنى
اِسرائيلو نه د دې د وړلو پوخ لوظ اخستے وو. يُوسف وئيلى وُو، ”خُدائ
پاک به په رښتيا سره ستاسو مدد له راشى، تاسو خامخا زما هډُوکى د
دې ځائ نه د خپل ځان سره يوسئ.“ ٢٠ بنى اِسرائيل د سُکات نه لاړل
اؤ د صحرا په غاړه ايتام کښې يې خېمې ولګولې. ٢١ د ورځې به مالِک
خُدائ د ورېځې په ستن کښې د لار ښودلو د پاره د دوئ نه مخکښې تلو
اؤ د شپې د اور په ستن کښې مخکښې تلو چې دوئ ته رڼا وى اؤ چې
دوئ د شپې، ورځې مزل کوى. ٢٢ د ورځې به هر وخت د ورېځې ستن
د خلقو نه مخکښې وه اؤ د شپې به د اور ستن د هغوئ نه مخکښې وه.

## د سُور درياب نه پورېوتل

١٤ ١ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ٢ ”بنى اِسرائيلو ته
ووايه چې واپس راوګرځى اؤ فى‌هخيروت ته مخامخ، د
مجدال اؤ د درياب په مېنځ کښې بعل صفون ته نزدې خېمې ولګوى.

۳ د فِرعون به دا خيال وى چې بنى اِسرائيل په وطن کښې سرګردانه
ګرځى اؤ په صحرا کښې راګېر دى. ٤ زۀ به د فِرعون زړۀ سخت
کړم اؤ هغه به په دوئ پسې وى، خو زۀ به د فِرعون اؤ د هغۀ په ټول
لښکر فتح ومُومم نو داسې به زما عِزت وشى، اؤ مِصريانو ته به پته
ولګې چې زۀ مالِک خُدائ يم.“ نو بنى اِسرائيلو فرمانبردارى وکړه.
۵ چې کله فِرعون خبر شو چې بنى اِسرائيل تښتېدلى دى، نو هغۀ
اؤ د هغۀ درباريانو خپلې ارادې بدلې کړې اؤ وې وئيل، ”مُونږ دا څۀ
کړى دى؟ مُونږ اِسرائيليان تښتېدلو ته پرېښودل، زمُونږ غُلامان زمُونږ
د لاس نه لاړل!“ ٦ نو فِرعون خپلې جنګى ګاډئ تيارې کړې اؤ
خپل لښکر يې د ځان سره روان کړو. ۷ هغه د خپلو ټولو جنګى
ګاډو سره روان شو، شپږ سوه په کښې ښې ښې جنګى ګاډئ وې
چې آفسران ورسره وُو. ۸ مالِک خُدائ د فِرعون زړۀ سخت کړو اؤ
هغه په بنى اِسرائيلو پسې روان شو اؤ بنى اِسرائيل زړَور روان وُو. ۹ د
مِصريانو لښکر، سره د ټولو اسُونو، جنګى ګاډو اؤ په اسُونو سوارۀ
کسان په دوئ پسې وُو اؤ هلته ور ورسېدل چرته يې د درياب سره
فىهخيروت اؤ بعل صفون ته نزدې خېمې لګولې وې. ۱۰ چې څنګه
فِرعون ورلنډ شو، چې بنى اِسرائيلو وکتل، نو وې ليدل چې مِصريان
په دوئ پسې راروان وُو، بنى اِسرائيل ډېر سخت وېرېدل اؤ مالِک
خُدائ ته يې فرياد وکړو. ۱۱ دوئ مُوسىٰ ته ووئيل، ”په مِصر کښې
اديرې نۀ وې څۀ؟ چې تا دې صحرا ته د مړ کېدو د پاره راوستلى
يُو؟ ګوره! دا تا څۀ کړى دى چې مُونږ دې د مِصر نه راوويستلُو.
۱۲ مُونږ تا ته مخکښې په مِصر کښې نۀ وُو وئيلى چې داسې به کېږى؟

مُونږ تا ته وئيلی وُو چې مُونږ پرېږده چې د مِصريانو غُلامی کوُو. چې
په دې صحرا کښې د مړۀ کېدو نه به ښۀ وې چې مُونږ د مِصريانو
غُلامی کولے.“ ١٣ مُوسیٰ ورته په جواب کښې ووئيل، ”يربږئ مه!
کلک شئ، تاسو به وګورئ چې مالِک خُدائ ستاسو د بچ کولو د
پاره نن څۀ کوی، ځکه چې نن تاسو کُوم مِصريان وينئ هغوئ به
هيڅ کله هم بيا ونۀ وينئ. ١٤ مالِک خُدائ به ستاسو د پاره جګړه
وکړی، تاسو غلی کښېنئ.“ ١٥ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ”تۀ
ولې ما ته ژاړې؟ بنی اِسرائيلو ته ووايه چې وړاندې لاړ شی. ١٦ خپله
امسا پورته کړه اؤ د درياب د پاسه يې ونيسه. اوبۀ به په مېنځ بېلې
شی اؤ بنی اِسرائيل به د درياب په مېنځ کښې په وچه زمکه پورې
وځی. ١٧ زۀ به د مِصريانو زړُونه دومره سخت کړم چې هغوئ په
تاسو پسې درشی، نو په فِرعون، د هغۀ په لښکر، جنګی ګاډو اؤ د
هغۀ په اسُونو سوارو کسانو فتح مُوندلو په وجه به زما عِزت وشی.
١٨ چې کله زۀ هغوئ له ماتے ورکړم، نو مِصريانو ته به پته ولګې
چې زۀ مالِک خُدائ يم.“ ١٩ د مالِک خُدائ فرِښته، کُومه چې د
اِسرائيليانو د لښکر نه مخکښې روانه وه، اوس د دوئ شاته لاړه.
د وريځې ستن هم حرکت وکړو تر دې پورې ٢٠ چې د مِصريانو اؤ
اِسرائيليانو په مېنځ کښې شوه. وريځې به مِصريانو ته تيارۀ جوړوله،
خو د اِسرائيليانو لښکر ته به يې رڼا راوستله، نو دا لښکرې په ټوله شپه
کښې يو بل ته نزدې نۀ شوې راتلے. ٢١ نو مُوسیٰ د درياب د پاسه
خپل لاس اُوږد کړو اؤ مالِک خُدائ د نَمرخاتۀ په زورَوره هوا درياب
وروستو بوتلو. هوا ټوله شپه وچلېدله اؤ درياب يې په وچه زمکه بدل

کړو. اوبۀ په مېنځ بېلې شوې، ۲۲ اؤ بنی اِسرائيل په وچه زمکه د
درياب نه پورېوتل، د دوئ ښی اؤ ګڅ طرف ته د اوبو دېوالُونه وُو.
۲۳ مِصريان ورپسې وُو اؤ د خپلو ټولو اسُونو، جنګی ګاډو اؤ په اسُونو
سوارو کسانو سره په دوئ پسې درياب ته ورکُوز شول. ۲۴ د سحر
د رڼا نه مخکښې مالِک خُدائ د اور اؤ ورېځې ستن نه لاندې د
مِصريانو لښکر ته وکتل اؤ هغوئ يې د وارخطايئ په وجه تښتېدو ته
جوړ کړل. ۲۵ مالِک خُدائ د هغوئ د جنګی ګاډو پايې ونښلولې،
نو هغه په سختئ سره چلېدلې. مِصريانو ووئيل، "مالِک خُدائ زمُونږ
خِلاف د اِسرائيليانو د پاره جګړه کوی. راځئ چې د اِسرائيليانو نه
وتښتُو." ۲۶ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، "خپل لاس د درياب د
پاسه اُوږد کړه، نو اوبۀ به په مِصريانو، د هغوئ په جنګی ګاډو اؤ په
اسُونو سوارو کسانو واپس راشی." ۲۷ نو مُوسیٰ خپل لاس د درياب
د پاسه اُوږد کړو اؤ د سحر د رڼا په وخت اوبۀ خپل صحيح ځائ له
واپس راغلې. مِصريانو د اوبو نه د تښتېدو کوشش وکړو، خو مالِک
خُدائ هغوئ د درياب مېنځ ته ورګوزار کړل. ۲۸ اوبۀ واپس راغلې
اؤ جنګی ګاډئ، په اسُونو سوارۀ کسان اؤ د مِصريانو ټول لښکر اوبو
ډُوب کړو کُوم چې د درياب پورې په اِسرائيليانو پسې وُو، اؤ يو هم
پکښې بچ پاتې نۀ شو. ۲۹ خو بنی اِسرائيل په وچه زمکه د درياب
نه پورېوتل اؤ د دوئ ښی اؤ ګڅ طرف ته د اوبو دېوالُونه وُو. ۳۰ نو،
په هغه ورځ مالِک خُدائ اِسرائيليان د مِصريانو د زور نه بچ کړل اؤ
اِسرائيليانو هغوئ وليدل چې د درياب په غاړه مړۀ پراتۀ وُو. ۳۱ چې
کله اِسرائيليانو د مالِک خُدائ هغه لوئ قُدرت وليدو کُوم چې هغۀ

د مِصريانو خِلاف ښودلے وو، نو دوئ د مالِک خُدائ نه ويرېدل، اؤ په مالِک خُدائ اؤ د هغۀ په خِدمت کوُونکی مُوسیٰ يې ايمان راوړو.

## د حضرت مُوسیٰ حمدوثناء وئيل

**۱۵** ۱ بيا مُوسیٰ اؤ بنی اِسرائيلو مالِک خُدائ ته دا حمدوثناء ووئيل:

”زۀ به مالِک خُدائ د پاره حمدوثناء ووايم، ځکه چې هغۀ د جلال نه ډکه فتح مُوندلې ده،

هغۀ اسُونه اؤ په اسُونو سوارۀ کسان درياب ته غورزولی دی.

۲ مالِک خُدائ زما طاقت دے اؤ زما حمدوثناء د هغۀ د پاره ده،

اؤ هغه ذات دے چې زۀ يې بچ کړے يم،

هغه زما خُدائ پاک دے اؤ زۀ به د هغۀ ثناء وايم،

هغه زما د پلار خُدائ پاک دے اؤ زۀ به د هغۀ لوئی بيان کړم.

۳ مالِک خُدائ د جنګيالی په شان دے،

د هغۀ نُوم مالِک خُدائ دے.

۴ هغۀ درياب کښې د فِرعون جنګی ګاډې اؤ لښکر ډُوب کړو

د هغۀ ښۀ ښۀ مشران په سُور درياب کښې ډُوب شول.

۵ ژور درياب هغوئ ډُوب کړل،

هغوئ د کاڼی په شان لاندې بېخ ته لاړل.

۶ مالِکه خُدايه! ستا په ښی لاس کښې د جلال نه ډک طاقت شته،

مالِکه خُدايه! ستا ښے لاس دُښمنان ټوټې ټوټې کوی.

۷ د خپل لوئ جلال سره تا خپل دُښمنان د خپو لاندې کړل،
تا د اور په شان خپل قهر ورولېږلو اؤ هغوئ دې د بُوسو په
شان وسوزول.
۸ تا درياب پُو کړو اؤ اوبۀ اُوچتې راغونډې شوې،
سېلابُونه د دېوال په شان نېغ ودرېدل،
اؤ د درياب په بېخ کښې اوبۀ کلکې شوې.
۹ دُښمن لافې وهلې، چې زۀ به په هغوئ پسې يم اؤ زۀ به
وروړسېږم،
زۀ به د هغوئ غنيمت ووېشم اؤ خپل ځان به په دې ښۀ موړ کړم.
زۀ به خپله تُوره راوباسم اؤ زۀ به هغوئ تباه کړم.
۱۰ خو تا پُوکے ورکړو اؤ درياب هغوئ ډُوب کړل،
مِصريان په زورَورو اوبو کښې د سيکې په شان ډُوب شول.
۱۱ اے مالِکه خُدايه! ستا په شان نور خُدايان څوک دی؟
ستا په شان څوک دی چې ټولو نه لوئ اؤ مُقدس دی؟
ستا جلال د يرې نه ډک دے، ځکه چې داسې عجيبه عجيبه
کارُونه کوې.
۱۲ تا خپل ښے لاس اُوږد کړو،
اؤ زمکې دُښمنان ژوندی تېر کړل.
۱۳ تۀ په خپله وعده ولاړ وې اؤ تا هغه خلقو ته لار ښودله کُوم
چې تا بچ کړی دی،
تۀ به په خپل طاقت سره هغوئ، تر خپل مُقدس ځائ پورې ورسوې.
۱۴ قومُونو واؤرېدل اؤ په لړزان شول،

د فلسطين اوسېدُونکی په دردُونو آخته شول.
۱۵ د ادوم مشران ويرېدل،
د موآب مشران په لړزان آخته شول،
د کنعان ټولو اوسېدُونکو خپله حوصله بائيلله.
۱۶ سخته يره اؤ هيبت په هغوئ باندې پرېوتو،
هغوئ ستا د لاس طاقت وليدو
اؤ هغوئ د تيږې په شان غلی شول،
تر دې پورې مالِکه خُدايه! چې ستا قوم تېر شولو،
چې هغه خلق تېر شول کُوم چې تا بچ کول.
۱۷ تهٔ خپل خلق دننه راولې اؤ هغوئ په خپل غرهٔ آبادوې،
هغه ځائ اے مالِکه خُدايه! چې تا د خپل ځان د پاره خوښ کړے دے،
هغه پاک ځائ ته، اے مالِکه خُدايه! چې تا په خپله ودان کړے دے.
۱۸ مالِک خُدائ به تل تر تله بادشاهی کوی.“

## د بی‌بی مريم حمدوثناء وئيل

۱۹ چې کله د فِرعون اسُونه، د هغهٔ جنگی گاډی اؤ د هغهٔ په اسُونو
سوارهٔ کسان درياب ته ورکُوز شول، مالِک خُدائ د درياب اوبهٔ واپس
په هغوئ باندې راوستلې، خو بنی اِسرائيل د درياب په مېنځ کښې
په وچه زمکه تېر شول. ۲۰ بيا د هارُون خور مريم، کُومه چې پيغمبره
وه، هغې خپل تمبل راواخستلو، اؤ ټولې ښځې د خپلو تمبلُونو سره په

ګډېدو په هغې پسې لاړلې. ۲۱ نو مريم هغوئ ته دا حمدوثناء ووئيل: ”مالِک خُدائ ته حمدوثناء ووايئ، ځکه چې هغهٔ لويه فتح مُوندلې ده، هغهٔ اسُونه اؤ په اسُونو سوارهٔ کسان درياب ته غورزولی دی.“

## ترخې اوبهٔ

۲۲ بيا مُوسیٰ اِسرائيليانو له حُکم ورکړو چې د سُور درياب نه روان شی، نو دوئ د شُور صحرا ته لاړل. دوئ په صحرا کښې درې ورځې مزل وکړو خو اوبهٔ يې ونهٔ مُوندلې. ۲۳ چې کله دوئ ماره ته راغلل، نو دوئ د ماره اوبهٔ نهٔ شوې څښلے ځکه چې د دې ځائ اوبهٔ ترخې وې. نو د دې ځائ نُوم ماره ايښودلے شوے وو. ۲۴ نو خلق مُوسیٰ ته وغورېدل اؤ ورته يې ووئيل، ”مُونږ به څهٔ څښُو؟“ ۲۵ مُوسیٰ مالِک خُدائ ته سوال وکړو، نو مالِک خُدائ هغهٔ ته د لرګی يوه ټُکړه وښودله، هغهٔ دا اوبو ته وغورزوله اؤ اوبهٔ خوَږې شوې. مالِک خُدائ هلته د هغوئ د پاره حُکمونه اؤ يو قانُون جوړ کړو اؤ هلته يې په هغوئ باندې آزمېښت وکړو. ۲۶ ورته يې ووئيل، ”کهٔ تاسو د مالِک خُدائ، د خپل خُدائ پاک خبره په غور سره واورئ اؤ هغه څهٔ کوئ کُوم چې د هغهٔ په نظر کښې صحيح دی اؤ د هغهٔ قانُون ته پام کوئ اؤ د هغهٔ ټول حُکمونه پُوره کوئ، نو زهٔ به په تاسو داسې هيڅ بيماری نهٔ راولم چې کُومې ما په مِصريانو راوستلې وې، ځکه چې زهٔ مالِک خُدائ يم اؤ زهٔ شِفاء درکوُونکے يم.“ ۲۷ بيا دوئ ايليم ته راغلل، چې هلته د اوبو دولس چينې اؤ د اؤيا کهجُورو ونې وې، اؤ هلته هغوئ د اوبو په خوا خېمې ولګولې.

## من اؤ مړَزان

# ١٦

١ د بنی اِسرائیلو ټول قوم د ایلیم نه په سفر روان شو اؤ
د دویمې میاشتې په پینځلسمه ورځ دوئ د سین بیابان
ته راغلل، دا د هغوئ د مِصر نه راوتلو نه پس وُو، کُوم چې د ایلیم اؤ
سینا په مینځ کښې دے. ٢ هلته په بیابان کښې دوئ ټول د مُوسیٰ
اؤ هارُون خِلاف وغورځېدل ٣ اؤ بنی اِسرائیلو هغوئ ته ووئیل، ”کاش!
چې مُونږ مالِک خُدائ د مِصر په وطن کښې وژلی وے. هلته د غوښې
لوښو ته کښېناستے خو شُو کنه چې مُونږ په مړه خېټه ډوډئ خوړلے.
تاسو مُونږ دلته دې بیابان ته د دې د پاره راوستلی يُو چې دا ټول خلق
د لوږې نه ووژنئ.“ ٤ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”ګوره! اوس
به زۀ ستاسو ټولو د پاره د آسمان نه يو خوراک د باران په شان وورُوم.
دا خلق دې هره ورځ بهر ځی اؤ د ځان د پاره دې هم هغه هومره
راټولوی چې بس يې وی. نو داسې به زۀ دوئ معلُوم کړم چې زما
په کلام عمل کوی اؤ کۀ نه. ٥ خو په شپږمه ورځ به دوئ د هغې
يو په دوه راوړی چې څومره هره ورځ راټولوی اؤ پخوی يې.“ ٦ نو
مُوسیٰ اؤ هارُون ټولو بنی اِسرائیلو ته ووئیل، ”تاسو ته به نن ماښام پته
ولګې چې هغه مالِک خُدائ وو چا چې د مِصر نه راوویستلئ. ٧ په
سحر کښې به تاسو د مالِک خُدائ سپین جلال ووینئ. مالِک خُدائ
د خپل ځان خِلاف ستاسو غورځېدل اؤرېدلی دی. مُونږ هيڅ نۀ يُو چې
تاسو زمُونږ خِلاف غورځېږئ.“ ٨ بیا مُوسیٰ ووئیل، ”هغه به مالِک
خُدائ وی چې په ماښام کښې تاسو له د خوړلو د پاره غوښه درکړی

اؤ په سحر کښې په مړه خېټه ډوډۍ درکړی، ځکه چې مالِک خُدائ
د خپل ځان خِلاف ستاسو غورېدل اؤرېدلی دی. مُونږ هيڅ هم نۀ يُو
چې تاسو زمُونږ خِلاف غورېږئ، دا په حقيقت کښې تاسو د مالِک
خُدائ خِلاف غورېږئ.“ ۹ مُوسىٰ هارُون ته ووئيل، ”د بنی اِسرائيلو
ټول قوم ته ووايه چې راشی اؤ د مالِک خُدائ په حضُور کښې ودرېږی،
ځکه چې مالِک خُدائ د دوئ غورېدل اؤرېدلی دی.“ ۱۰ چې هارُون
څنګه د بنی اِسرائيلو ټول قوم ته دا خبره وکړه اؤ چې هغوئ بيابان ته
وکتل، ناڅاپی د مالِک خُدائ سپين جلال په ورېځو کښې راښکاره
شو. ۱۱ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ۱۲ ”ما د بنی اِسرائيلو غورېدل
اؤرېدلی دی. هغوئ ته ووايه چې په ماښام کښې به هغوئ ته د خوړلو
د پاره غوښه مِلاؤ شی اؤ سحر کښې به په ډوډۍ ماړۀ شی. نو هغوئ
ته به پته ولګی چې زۀ مالِک خُدائ، د هغوئ خُدائ پاک يم.“
۱۳ په ماښام کښې د مړزانو يو لوئ سېل راغلو اؤ چرته چې خېمې وې
هلته کښېناستو اؤ په سحر کښې د خېمو ګېرچاپېره پرخه ورېدلې وه.
۱٤ چې کله پرخه وچه شوه، نو د بيابان مخ په وړو وړو سپينو څيزُونو
باندې پټ شولو. ۱۵ چې کله بنی اِسرائيلو دا وليدل، نو هغوئ نۀ
پېژندل چې دا څۀ شے دے اؤ د يو بل نه يې تپوسُونه کول، ”دا څۀ
دی؟“ مُوسىٰ دوئ ته ووئيل، ”دا هغه ډوډۍ ده چې مالِک خُدائ
تاسو له د خوړلو د پاره درکړې ده. ۱٦ مالِک خُدائ حُکم کړے دے
چې ستاسو هر يو کس به دومره راټولوی چې څومره خوړلے شی،
تقريباً دوه کيلو د خپلې کورنۍ د هر يو کس د پاره.“ ۱۷ بنی اِسرائيلو
هم دغه شان وکړل، چا ډېره اؤ چا لږه راټوله کړه. ۱۸ چې کله دوئ

اندازه واخستله، چا چې ډېره راټوله کړې وه د هغۀ سره ډېره زياته نۀ وه اؤ چا چې لږه راټوله کړې وه د هغۀ سره کمه نۀ وه. هر يو کس د خپل ضرُورت په مُطابق راټوله کړې وه. ۱۹ مُوسىٰ دوئ ته ووئيل، ”تر سحره پورې به هيڅ څوک هم په دې کښې څۀ نۀ پرېږدى.“ ۲۰ خو بعضې کسانو د مُوسىٰ خبره وانۀ ورېدله اؤ لږه يې ترې نه پرېښوده. اؤ بل سحر په کښې چينجى شوى وُو اؤ سخا بُوئ ترې نه تلو، نو مُوسىٰ دوئ ته په قهر شو. ۲۱ هر سحر هر يو کس به د خپل ضرُورت په مُطابق راټولوله، اؤ چې نمر به ګرم شو، نو څۀ هم چې په زمکه پاتې وُو نو هغه به ويلې شول. ۲۲ په شپږمه ورځ دوئ يو په دوه ډوډۍ راټوله کړه، څلور کيلو د هر يو کس د پاره. د قوم ټول مشران راغلل اؤ مُوسىٰ ته يې د دې په باره کښې ووئيل، ۲۳ نو هغۀ دوئ ته ووئيل، ”مالِک خُدائ حُکم کړے دے چې سبا د سبت مُقدسه د آرام ورځ ده کُومه چې مالِک خُدائ ته وقف ده، چې تاسو څۀ پخول غواړئ هغه نن پاخۀ کړئ اؤ چې څۀ يشول غواړئ نو وې يشوئ. چې څۀ پاتې شى نو هغه د سبا د پاره پرېږدئ.“ ۲۴ چې څنګه مُوسىٰ حُکم کړے وو، چې څۀ پاتې وه نو هغه يې د بلې ورځې پورې پرېښودله، خو دا سخا نۀ شوه اؤ نۀ په کښې چينجى وشول. ۲۵ مُوسىٰ ووئيل، ”دا نن وخورئ، ځکه چې نن د سبت يعنې د آرام ورځ ده، دا ورځ مالِک خُدائ ته وقف شوې ده اؤ تاسو به بهر په زمکه هيڅ هم ونۀ مُومئ. ۲۶ تاسو به شپږ ورځې خوراک راټولوئ، خو اوومه ورځ د سبت ورځ ده، هيڅ خوراک به په کښې نۀ وى چې تاسو يې راټول کړئ.“ ۲۷ په اوومه ورځ څۀ خلق د خوراک راټولولو د پاره بهر لاړل،

خو هغوئ هيڅ هم ونۀ مُوندل. ۲۸ نو مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل،
”تر کُومې پورې به تاسو زما حُکمونه اؤ شريعت ماتوئ؟ ۲۹ ياد ساتئ
چې ما مالِک خُدائ، تاسو له د سبت ورځ درکړې ده، نو په شپږمه
ورځ به زۀ د همېشه د پاره تاسو له د دوه ورځو خوراک هم درکوم.
په اوومه ورځ هر يو کس چې چرته هم وى هلته به ايسارېږى اؤ د
خپل کور نه به بهر نۀ وځى.“ ۳۰ نو هغوئ په اوومه ورځ آرام وکړو.
۳۱ د اِسرائيليانو قوم په دې خوراک من نُوم کېښودو. دا د دنيا د تُخم
په شان واړۀ وُو اؤ رنګ يې سپين وو اؤ خوند يې داسې وو لکه ډوډئ
چې په شاتو کښې پخه شوې وى. ۳۲ مُوسىٰ ووئيل، ”مالِک خُدائ
حُکم کړے دے چې تاسو څۀ من د خپلو نسلُونو د پاره وساتئ، نو
هغوئ به دا ډوډئ وګورى کُومه چې هغۀ مُونږ له په بيابان کښې د
خوړلو د پاره راکړې ده کله چې هغۀ مُونږ د مِصر وطن نه راوويستلُو.“
۳۳ مُوسىٰ هارُون ته ووئيل، ”يو لوښے واخله اؤ د دوه کيلو برابر من په
کښې واچوه اؤ د مالِک خُدائ په حضُور کښې يې کېږده چې زمُونږ
د راتلُونکو نسلُونو د پاره وساتلے شى.“ ۳۴ چې څنګه مالِک خُدائ
مُوسىٰ له حُکم ورکړے وو، هارُون هغه د تړون په صندُوق کښې د
کاڼى تختو ته مخامخ کېښودو، چې بچ وساتلے شى. ۳۵ بنى اِسرائيلو
څلوېښت کاله من خوړل، تر دې پورې چې هغوئ د کنعان وطن ته
ورسېدل اؤ هلته دېره شول. ۳٦ (په هغه ورځو کښې به اومر اؤ ايفه
د څيزُونو تَللو د پاره اِستعمالېدل لکه څنګه چې نن سبا کيلو يا من
اِستعمالېږى، يو اومر د ايفه لسمه حِصه ده لکه څنګه چې کيلو د من
څلوېښتمه يا پنځوسمه حِصه ده.)

## د ګټې نه اوبۀ راوتل

**(د شمېر کِتاب ٢٠: ١-١٣)**

١٧ ١ د بنی اِسرائيلو ټول قوم د سين بيابان نه په سفر روان
شولو اؤ د مالِک خُدائ په حُکم يې د يو ځائ نه بل
ځائ ته کډه وړله. دوئ په رفيديم کښې خېمې ولګولې، خو هلته
د دې خلقو د پاره د څښلو اوبۀ نۀ وې. ٢ نو په دې وجه خلق
د مُوسیٰ سره په جګړه شول اؤ وې وئيل، ”مُونږ له د څښلو اوبۀ
راکړه.“ مُوسیٰ دوئ ته ووئيل، ”تاسو ولې ما سره په جګړه يئ؟
تاسو ولې مالِک خُدائ په آزمېښت کښې اچوئ؟“ ٣ خو خلق ډېر
تږی وُو اؤ په مُوسیٰ وغورېدل. دوئ ووئيل، ”تا مُونږ ولې د مِصر نه
راوويستلُو؟ د دې د پاره چې مُونږ، زمُونږ بچی اؤ زمُونږ څاروی د
تندې نه ووژنې؟“ ٤ نو مُوسیٰ مالِک خُدائ ته مِنت زاری وکړه اؤ
وې وئيل، ”زۀ دې خلقو سره څۀ وکړم؟ دوئ خو زما سنګسارولو ته
تيار دی.“ ٥ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ”د ځان سره د اِسرائيليانو
يو څو مشران روان کړه اؤ د خلقو په وړاندې ځه. د ځان سره هغه
امسا هم يوسه په کُومه چې تا د نيل درياب وهلے وو. ٦ اؤ ګوره!
زۀ به په سينا کښې په يو ګټ باندې ستا په وړاندې ولاړ يم. تۀ هغه
ګټ په امسا ووهه اؤ د هغه ګټ نه به د خلقو د پاره د څښلو اوبۀ
راووځی.“ نو مُوسیٰ د اِسرائيليانو د مشرانو په مخکښې هم دغه شان
وکړل. ٧ نو هغۀ په دغه ځائ مسه (يعنې آزمېښت) اؤ مريبه (يعنې
جګړه) نُوم کېښودو، ځکه چې بنی اِسرائيل په جګړه شول اؤ مالِک

خُدائ يې په آزمېښت کښې واچولو چې وې وئيل، ”مالِک خُدائ زمُونږ مل دے کۀ نۀ دے؟“

## د عماليقيانو سره جنګ کېدل

۸ بيا عماليقيان راغلل اؤ په رفيديم کښې يې په اِسرائيليانو باندې حمله وکړه. ۹ مُوسىٰ يشوَع ته ووئيل، ”يو څو سړى خوښ کړه اؤ لاړ شه، سبا د عماليقيانو سره جنګ وکړه. زۀ به د غر په سر ودرېږم اؤ د خُدائ پاک طاقت لرُونکې امسا به زما په لاس کښې وى.“
۱۰ يشوَع هم هغه شان وکړل چې څنګه ورته مُوسىٰ وئيلى وُو اؤ عماليقيانو سره يې جنګ وکړو اؤ مُوسىٰ، هارُون اؤ حُور د غرۀ سر ته لاړل. ۱۱ تر کُومې پورې چې مُوسىٰ لاسُونه پورته نيولى وُو، اِسرائيليان په ګټه کښې وُو، خو چې کله هغۀ لاسُونه لاندې کړل، نو عماليقيان په ګټه کښې شول. ۱۲ چې کله د مُوسىٰ لاسُونه ستړى شول، نو هارُون اؤ حُور ورله د کښېناستو د پاره يو کاڼے راوړو اؤ هغوئ د هغۀ يو څنګ اؤ بل څنګ ته ولاړ وُو اؤ د هغۀ لاسُونه يې پورته نيولى وُو اؤ د نمرپرېواتو پورې د هغۀ لاسُونه نېغ وُو. ۱۳ نو داسې يشوَع عماليقيانو له پُوره شکست ورکړو. ۱۴ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”دا فتح د ياد ساتلو د پاره د ځان سره وليکه. يشوَع ته دا واوروه چې زۀ به عماليقيان بيخى تباه کړم.“ ۱۵ مُوسىٰ يوه قُربان‌ګاه جوړه کړه اؤ په هغې يې ”مالِک خُدائ زما د فتحې جنډا ده“ نُوم کېښودو.
۱۶ نو ځکه هغۀ ووئيل، ”د مالِک خُدائ جنډا اُوچته ونيسئ! مالِک خُدائ به د همېشه د پاره د عماليقيانو خِلاف جنګ جارى ساتى.“

## د يترو حضرت مُوسىٰ سره مِلاوېدل

**١٨** ١ د مُوسىٰ سخر يترو، څوک چې د ميديان اِمام وو،
هغهٔ د هغه هر څهٔ په باره کښې واؤرېدل چې خُدائ
پاک د مُوسىٰ اؤ د خپلو خلقو اِسرائيليانو د پاره کړې وُو اؤ چې
مالِک خُدائ هغوئ څنګه د مِصر نه راويستلى وُو. ٢ نو يترو مُوسىٰ
له راغلو، د مُوسىٰ ښځه صفوره يې هم د ځان سره راوستله، کُومه
چې مُوسىٰ د خپلې سخرانې کره پرېښې وه، ٣ اؤ ورسره د هغې دوه
زامن جيرسوم اؤ اِلعازار هم وُو. مُوسىٰ وئيلى وُو، ”زهٔ په پردى وطن
کښې مُسافر يم.“ نو ځکه هغهٔ په يو زوئ جيرسوم نُوم کېښودو.
٤ هغهٔ دا هم وئيلى وُو، ”زما د پلار خُدائ پاک زما مل وو اؤ زهٔ
يې د مِصر د فِرعون نه بچ کړم چې هغهٔ زهٔ وژلم.“ نو ځکه هغهٔ په
بل زوئ اِلعازار نُوم کېښودو. ٥ يترو د مُوسىٰ د ښځې اؤ د هغې د
دوه زامنو سره بيابان ته راغلو چرته چې مُوسىٰ د خُدائ پاک غرهٔ ته
نزدې اوسېدو. ٦ هغهٔ مُوسىٰ له خبر ورولېږلو چې زهٔ ستا د ښځې
اؤ د دوه زامنو سره در روان يم، ٧ نو مُوسىٰ هغهٔ سره مِلاوېدو د
پاره بهر لاړو، د هغهٔ په مخکښې د عِزت نه ټيټ شو اؤ ښُکل يې
کړو. هغوئ د يو بل د خبر خبريت پوښتنه وکړه اؤ بيا د مُوسىٰ
خېمې ته دننه راغلل. ٨ مُوسىٰ يترو ته هغه هر څهٔ ووئيل کُوم چې
مالِک خُدائ د اِسرائيليانو په خاطر په فِرعون اؤ د مِصر په خلقو کړى
وُو. هغهٔ ته يې د هغه تکليفُونو په باره کښې هم ووئيل کُوم چې په
لاره کښې دوئ ته پېښ شوى وُو اؤ دا هم چې مالِک خُدائ دوئ

ځنګه بچ کړى وُو. ۹ چې کله يترو دا هر څۀ واؤرېدل، نو هغه ډېر
خوشحاله شو ۱۰ اؤ وې وئيل، "د مالِک خُدائ ثناء دې وى، چې
هغۀ تاسو د فِرعون اؤ د مِصر د خلقو نه بچ کړئ! د مالِک خُدائ
ثناء دې وى، چې هغۀ خپل خلق د غُلامئ نه بچ کړل! ۱۱ اوس ما
ته پته ولګېده چې مالِک خُدائ د نورو ټولو خُدايانو نه لوئ دے،
ځکه چې هغۀ خپل خلق د مِصريانو نه بچ کړل کله چې مِصريانو
دوئ ته سپک کتل." ۱۲ بيا يترو يوه پُوره سوزېدُونکې قُربانى پېش
کړه اؤ ورسره نورې قُربانئ هم راوړلې چې د خُدائ پاک په حضُور
کښې يې پېش کړى، هارُون اؤ د اِسرائيليانو نور ټول مشران د يترو
سره د خُدائ پاک حضُور ته لاړل، چې د عِبادت په شکل کښې
د قُربانئ دغه ډوډئ وخورى.

## د قاضيانو مُقرر کېدل

**(د ګردان کِتاب ۱: ۹-۱۸)**

۱۳ په بله ورځ مُوسىٰ د خلقو لانجې فېصله کولو ته کښېناستو اؤ د
سحر نه تر ماښامه پورې خلق ترې نه راتاؤ وُو. ۱۴ چې کله يترو هغه هر
څۀ وليدل کُوم چې مُوسىٰ کول، نو هغۀ ترې تپوس وکړو، "دا څۀ دى
چې تۀ يې د خلقو د پاره کوې؟ تۀ دا کار يواځې ولې کوې، چې د سحر
نه تر ماښامه پورې خلق د مشورې د پاره درنه راتاؤ وى؟" ۱۵ مُوسىٰ خپل
سخر ته ووئيل، "زۀ به خامخا داسې کوم ځکه چې خلق د خُدائ پاک
رضا معلُومولو د پاره ما له راځى. ۱۶ چې کله د دوو کسانو په مېنځ کښې
لانجه وى، نو هغوئ ما له راشى اؤ زۀ بيا دا ګورم چې کُوم يو په حقه

دے او کُوم په ناحقه دے اؤ زهٔ دوئ ته د خُدائ پاک حُکمونه اؤ شريعت
ښايم.“ ۱۷ يترو ورته ووئيل، ”تهٔ دا کار په صحيح طريقه نهٔ کوې. ۱۸ تهٔ
اؤ دا خلق به ځانُونه ستړى کړئ. دا کار ستا د پاره ډېر مُشکل دے، تهٔ
دا کار يواځې نهٔ شې کولے. ۱۹ زما خبره واؤره زهٔ به تا له يوه ښهٔ مشوره
درکړم اؤ خُدائ پاک به ستا مل وى. ستا د پاره به دا ښهٔ وى چې تهٔ د
خلقو لانجې راوړې اؤ د خُدائ پاک په حضُور کښې يې پېش کوې.
۲۰ تهٔ به دوئ ته د خُدائ پاک حُکمونه اؤ شريعت ښائې اؤ تهٔ به دوئ ته
د ژوند د تېرولو طريقه اؤ هغه څهٔ ښائې چې دوئ به يې کوى. ۲۱ د دې
نه علاوه، تهٔ يو څو قابِل کسان هم خوښ کړه اؤ هغوئ په لسو، پنځوسو،
سوُونو اؤ زرګُونو کسانو باندې مشران مُقرر کړه. هغوئ دې داسې سړى
وى چې د خُدائ پاک نه يرېږى، چې اعتبارى وى اؤ رشوت خوارهٔ نهٔ وى.
۲۲ هغوئ دې همېشه د قاضيانو په شان د خلقو خِدمت کوى. هغوئ به
ټولې سختې لانجې تا له راوړى، خو وړې لانجې به هغوئ په خپله فېصله
کوى، نو ستا د پاره به آسانى جوړه شى اؤ بوج به درنه کم شى. ۲۳ کهٔ
تهٔ هم هغه شان کوې چې څنګه خُدائ پاک حُکم درکړے دے، نو تهٔ
به دومره زيات ستړے کېږې هم نه اؤ ټول خلق به په خېر سره خپل خپل
کور ته ځى.“ ۲۴ مُوسىٰ د يترو مشوره ومنله ۲۵ نو هغهٔ د ټولو اِسرائيليانو
نه قابِل خلق خوښ کړل. اؤ هغوئ يې په لسو، پنځوسو، سوُونو اؤ زرګُونو
کسانو مشران مُقرر کړل. ۲۶ هغوئ به په پخه توګه د قاضيانو په شان د
خلقو خِدمت کولو، هغوئ به ټولې سختې لانجې مُوسىٰ له راوړې خو
وړې لانجې به هغوئ په خپله فېصله کولې. ۲۷ بيا مُوسىٰ يترو رُخصت
کړو اؤ يترو خپل وطن ته واپس لاړو.

## د بنی اِسرائيلو سينا غرۀ ته رسېدل

**۱۹** ۱ - ۲ بنی اِسرائيل د رفيديم نه روان شول اؤ چې کله دوئ
د مِصر نه راوتلی ؤُو، د هغې نه پس د دريمې مياشتې په
اوله ورځ د سينا بيابان ته راغلل. دوئ هلته د سينا غرۀ په لمن کښې
خېمې ولګولې، ۳ اؤ مُوسیٰ خُدائ پاک له غرۀ ته وروختلو. مالِک
خُدائ د غرۀ نه هغۀ ته آواز وکړو اؤ ورته يې ووئيل چې بنی اِسرائيلو
يعنې د يعقُوب اولاد ته داسې ووايه! ۴ "تاسو په خپله هغه څۀ وليدل
چې ما د مِصريانو سره وکړل اؤ تاسو مې داسې بوتللئ لکه چې باز
خپل بچی په وزرو کښې وړی اؤ دلته مې خپل ځان له راوستلئ.
۵ اوس، کۀ تاسو زما فرمانبرداری وکړئ اؤ زما په تړون باندې ټينګ
ودرېږئ، نو بيا به تاسو په ټولو خلقو کښې زما خپل خاص خلق يئ،
هسې خو ټوله زمکه زما ده. ۶ تاسو به زما د پاره مُقدسه ډله يئ
اؤ د اِمامانو په توګه به زما خِدمت کوئ. مُوسیٰ! تۀ به دا خبره بنی
اِسرائيلو ته ورسوې." ۷ نو مُوسیٰ کُوز شو اؤ د قوم مشران يې راغونډ
کړل اؤ کُوم حُکم چې مالِک خُدائ هغۀ ته کړے وو هغه ټولې خبرې
يې هغوئ ته بيان کړې. ۸ نو ټولو خلقو په يوه خُله جواب ورکړو،
"مالِک خُدائ چې څۀ هم وئيلی دی مُونږ به هم هغه شان کوُو."
بيا مُوسیٰ واپس د هغوئ جواب مالِک خُدائ ته ورسولو، ۹ مالِک
خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، "زۀ به په تکه توره وريځ کښې تا له راشم،
چې کُومې خبرې زۀ ستا سره کوم نو خلق به زما خبرې واوری نو
داسې به هغوئ د همېشه د پاره په تا يقين کوی." چې خلقو کُوم

جواب ورکړے وو نو مُوسیٰ هغه مالِک خُدائ ته ووئیلو، ⑩ اؤ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”خلقو له ورشه اؤ هغوئ ته ووایه چې هغوئ دې نن اؤ سبا خپل ځانُونه د عِبادت د پاره پاک کړی. هغوئ دې خامخا خپلې جامې ووينځی. ⑪ اؤ په دریمه ورځ دې تیار اوسېږی. په هغه ورځ به زۀ د ټولو خلقو په موجودګی کښې د سینا غرۀ ته راکُوز شم. ⑫ د غرۀ نه ګېرچاپېره حدُونه مُقرر کړه چې خلق به ترې نه نۀ رااوړی اؤ هغوئ ته ووایه چې نۀ غرۀ ته راوخېژی اؤ نۀ یې لمنې ته ورنزدې شی. خو کۀ څوک غرۀ ته ورشی، نو هغه به خامخا ووژلے شی، ⑬ هیڅ څوک به هم نۀ ورځی، خو کۀ څوک ورشی نو هغه به سنګسارولے شی یا به په غشو ویشتلے شی. هغه کۀ اِنسان وی یا حېوان وی خامخا به وژلے شی. خو چې کله بیګل په اُوږد آواز وغږولے شی، نو بیا به خلق غرۀ ته راوخېژی.“ ⑭ بیا مُوسیٰ د غرۀ نه راکُوز شو اؤ خلقو ته یې ووئیل چې د عِبادت د پاره خپل ځانُونه پاک کړئ. نو هغوئ خپلې جامې ووينځلې، ⑮ اؤ مُوسیٰ هغوئ ته ووئیل، ”د دریمې ورځې د پاره ځانُونه تیار کړئ اؤ په دې دوران کښې د ښځو سره مۀ څملئ.“ ⑯ د دریمې ورځې په سحر تندرُونه اؤ برېښناګانې شوې، په غرۀ باندې تکه توره ورېځ راښکاره شوه اؤ د بیګل اُوچت آواز واؤرېدلے شو. اؤ د خېمو په ځائ کښې چې څومره خلق وُو هغوئ ټول د یرې نه په لړزان شول. ⑰ مُوسیٰ هغه خلق د خېمو د ځائ نه د خُدائ پاک حضُور ته بوتلل اؤ هغوئ د غرۀ په لمن کښې ودرېدل. ⑱ د سینا ټول غر د ورېځ په شان په لُوګی کښې پټ وو، ځکه چې مالِک خُدائ په دې باندې په اور کښې راکُوز

شوے وو. دا لُوګړے د بټی د لُوګی په شان بره ختلو اؤ ټول غر سخت
ولړزېدلو. ⑲ د بیګل آواز نور هم اُوږدېدلو اؤ زیاتېدلو. مُوسیٰ خبرې
کولې اؤ خُدائ پاک هغۀ له د تندر د آواز په شان جواب ورکولو.
⑳ مالِک خُدائ د سینا د غرۀ سر ته راکُوز شو اؤ مُوسیٰ یې د غرۀ
سر ته راوغوښتلو. نو مُوسیٰ وروختلو ㉑ اؤ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته
ووئیل، "ښکته لاړ شه اؤ خلقو له خبردارے ورکړه چې زما کتلو د
پاره د حدُونو نه راوا نۀ وړی، خو کۀ چرې راوختل، نو ډېر کسان به
د هغوئ نه مړۀ شی. ㉒ کۀ اِمامان هم ما ته نزدې راځی نو هغوئ
دې هم غُسل وکړی، ګنی زۀ مالِک خُدائ به هغوئ له سزا ورکړم."
㉓ مُوسیٰ مالِک خُدائ ته ووئیل، "خلق د سینا غرۀ ته نۀ شی راختلے،
ځکه چې تا مُونږ له خبردارے راکړے دے چې د دې نه ګېرچاپېره
حدُونه مُقرر کړُو اؤ غر مُقدس وګڼو." ㉔ مالِک خُدائ هغۀ ته ووئیل،
"ښکته لاړ شه اؤ هارُون هم د ځان سره راوخېژوه. خو چې اِمامان
اؤ خلق ما ته د راتلو د پاره د حدُونو نه راوا نۀ وړی، ګنی زۀ، مالِک
خُدائ به هغوئ له سزا ورکړم." ㉕ نو بیا مُوسیٰ خلقو له ورکُوز شو
اؤ چې مالِک خُدائ څۀ وئیلی وُو هغه یې ورته ووئیل.

## د شریعت لس حُکمونه

**(د ګردان کِتاب ۵: ۱-۲۱)**

# ۲۰

① بیا خُدائ پاک کلام وکړو اؤ هغه ټولې خبرې دا دی:
② "زۀ مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ پاک یم چا چې تاسو
د مِصر د وطن نه راوویستلئ، کُوم چې د غُلامیٔ وطن وو. ③ زما

نه بغېر د نورو خُدایانو عِبادت مۀ کوئ. ۴ د خپلو ځانُونو د پاره
بُتان مۀ جوړوئ، د داسې یو څیز په شکل هم نه چې هغه پاس په
آسمان کښې وی یا په زمکه وی یا کۀ هغه د زمکې لاندې په اوبو
کښې وی. ۵ یو بُت ته هم چې سجده ونۀ لګوئ اؤ نۀ یې عِبادت
وکړئ، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ پاک یو غیرتی
خُدائ یم. زۀ هغه خلقو اؤ د هغو اولادُونو له د دریم اؤ څلورم نسل
پورې سزا ورکوم څوک چې زما نه کرکه کوی. ۶ خو زۀ د هغه
خلقو زرګُونو نسلُونو ته خپله نۀ بدلېدُونکې مینه ښایم څوک چې
زما سره مینه لری اؤ زما حُکمونه منی. ۷ زما نُوم د غلطو مقصدُونو
د پاره مۀ اِستعمالوئ، ځکه چې زۀ، مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ
پاک به هغه چا له سزا ورکوم څوک چې زما نُوم بېفائدی اخلی.
۸ د سبت ورځ یاده لرئ اؤ دا مُقدسه ګڼئ. ۹ په شپږو ورځو کښې
تاسو خپل کار روزګار کوئ، ۱۰ خو اوومه ورځ د آرام ورځ ده چې
ما ته وقف ده. په هغه ورځ به هیڅ څوک کار روزګار نۀ کوی، نۀ
تاسو، نۀ ستاسو بچی، نۀ ستاسو غُلامان، نۀ ستاسو څاروی اؤ نۀ هغه
مُسافر کُوم چې ستاسو سره اوسېږی. ۱۱ په شپږو ورځو کښې ما یعنې
مالِک خُدائ زمکه، آسمان، سمندر اؤ په دې کښې چې هر څۀ هم
دی جوړ کړل، خو په اوومه ورځ ما آرام وکړو. نو دا ځکه ما مالِک
خُدائ د سبت ورځې له برکت ورکړو اؤ مُقدسه مې کړه. ۱۲ د خپل
پلار اؤ خپلې مور عِزت کوئ، نو تاسو به په هغه وطن کښې یو اُوږد
عُمر تېر کړئ کُوم چې درکوم. ۱۳ قتل مۀ کوئ. ۱۴ زنا مۀ کوئ.
۱۵ غلا مۀ کوئ. ۱۶ د چا خِلاف د دروغو ګواهی مۀ ورکوئ. ۱۷ د

خپل ګاونډی د کور خواهِش مهٔ کوئ، د هغهٔ د ښځې، د هغهٔ د نوکرانو، د هغهٔ د څاروو، خرُونو اؤ د هغه یو شی خواهِش هم مهٔ کوئ کُوم چې ستاسو د ګاونډی وی.“

## د خلقو وېره

**(د ګردان کِتاب ۵: ۲۲-۳۳)**

۱۸ چې کله خلقو د تندرُونو اؤ د بیګل آواز واؤرېدو اؤ برېښناګانې اؤ د غرهٔ لُوګی یې ولیدل، هغوئ د یرې نه ولړزېدل اؤ لرې ودرېدل. ۱۹ هغوئ مُوسیٰ ته ووئیل، ”کهٔ تهٔ زمُونږ سره خبرې کوې نو مُونږ به ورته غوږ ونیسُو، خو کهٔ خُدائ پاک زمُونږ سره خبرې وکړې نو مُونږ یرېږُو چې مړهٔ به شُو.“ ۲۰ مُوسیٰ ورته ووئیل، ”یرېږئ مه، خُدائ پاک خو صِرف دې له راغلے دے چې تاسو وآزمائ او خپله یره ستاسو په زړونو کښې واچوی چې تاسو ګُناه نهٔ کوئ.“ ۲۱ خو خلق هم هغه شان لرې ولاړ وُو اؤ صِرف مُوسیٰ هغه تکې تورې تیارې له نزدې ورَغلو چرته چې خُدائ پاک وو.

## د قُربانګاه په باره کښې قانُون

۲۲ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم وکړو چې بنی اِسرائیلو ته ووائی: ”تاسو ولیدل چې ما مالِک خُدائ ستاسو سره د آسمان نه ښَنګه خبرې کړې دی. ۲۳ د خپلو ځانُونو د پاره د سپینو زرو یا د سرو زرو بُتان مهٔ جوړوئ چې زما په ځائ د هغوئ عِبادت وکړئ. ۲۴ زما د پاره د خاورې نه یوه قُربانګاه جوړه کړئ اؤ په دې باندې خپل ګډان،

چېلې اؤ غوَيان د پُوره سوزېدُونکې قربانو اؤ د سلامتىٰ د قربانو په توګه حلالوئ. چې د خپل عِبادت د پاره کُوم ځائ زۀ درته وښايم نو هغه ځائ ته به زۀ تاسو له درځم اؤ برکت به درکوم. ۲۵ کۀ تاسو زما د پاره د کاڼو نه يوه قُربان‌ګاه جوړوئ، نو هغه د تراشلى شوى کاڼو نه مۀ جوړوئ، ځکه چې کله تاسو په هغه کاڼو آوزار لګوئ، نو هغه به ناپاکه کړئ. ۲۶ زما د پاره داسې قُربان‌ګاه مۀ جوړوئ چې تاسو بره په پوړو ورخېژئ، ګنى ستاسو د سَتر اندامُونه به بربنډ شى.“

## د غُلامانو سره سلُوک

(د ګردان کِتاب ۱۵: ۱۲-۱۸)

۲۱ ۱ ”د بنى اِسرائيلو د پاره دا قانُون مُقرر کړه: ۲ کۀ تاسو يو عبرانے غُلام واخلئ، هغه به شپږ کاله ستاسو خِدمت کوى. اؤ په اووُم کال به بغېر د څۀ څيز درکولو نه آزاد شى. ۳ چې کله هغه د وادۀ نه مخکښې ستاسو غُلام شوے وى، نو د آزادېدو په وخت به د ځان سره ښځه نۀ بوځى، خو چې کله هغه ستاسو غُلام کېدلو اؤ وادۀ يې کړے وو، نو هغه خپله ښځه د ځان سره بوتلے شى. ۴ کۀ مالِک ورله وادۀ وکړى اؤ د هغۀ زامن يا لُوڼه پيدا شى، نو هغه ښځه اؤ د هغۀ بچى به د مالِک وى اؤ هغه سړے چې آزاد کړے شى نو هغه يواځې تلے شى. ۵ خو کۀ غُلام صفا ووائى چې زۀ د خپل مالِک سره، خپلې ښځې اؤ خپلو بچو سره مينه لرم اؤ آزادېدل نۀ غواړم، ۶ نو خپل مالِک به هغه د قاضيانو ځائ ته بوځى. هلته به يې د دروازې يا چوکاټ په مخکښې ودروى اؤ په ستن دې

د هغهٔ په غوږ کښې سُورے وکړی. نو ټول عُمر به يې غُلام وی. ۷ کهٔ يو سړے خپله لُور د وينځې په توګه خرڅه کړی، نو هغه به د نرانو غُلامانو په شان نهٔ شی آزادولے. ۸ کهٔ هغه په يو داسې کس خرڅه کړے شی چې هغه يې د ښځه کولو اِراده لری، خو د هغهٔ دا خوښه نهٔ وی، نو خپل پلار به دا واپس اخلی، د هغې مالِک دا په پردو خلقو نهٔ شی خرڅولے، ځکه چې هغهٔ د دې سره ټګی کړې ده. ۹ کهٔ يو سړے د خپل زوئ د پاره وينځه واخلی، نو هغه به د هغې سره د لُور په شان سلُوک کوی. ۱۰ کهٔ يو سړے دويمه ښځه وکړی، نو هغه به خامخا د خپلې وړومبۍ ښځې د مخکښې په شان د هغې د خوراک، جامو اؤ د وادهٔ د حقُونو خيال ساتی. ۱۱ کهٔ هغه ورسره دا درې ذِمه وارئ نهٔ پُوره کوی، نو هغه به يې خامخا بغېر د څهٔ قيمت نه آزاده کړی.

## د بدو عملُونو په حقله قانُون

۱۲ چې څوک يو کس ووهی اؤ هغه وهلے شوے کس مړ شی نو هغه وهُونکے به خامخا وژلے شی. ۱۳ خو کهٔ دا د خُدائ پاک نه راپېښه شوې وی اؤ هغهٔ دا د قصده نهٔ وی وژلے، نو هغه به د پناه د پاره يو داسې ځائ ته وتښتی چې کُوم درته زهٔ ښايم اؤ هلته به په پناه کښې وی. ۱۴ خو کهٔ يو کس غُصه شی اؤ د قصده بل څوک قتل کړی، نو هغه به خامخا وژلے شی، تر دې پورې کهٔ هغه زما قُربان‌ګاه ته هم د پناه د پاره تښتېدلے وی. ۱۵ چې څوک هم خپل پلار يا خپله مور ووهی نو هغه به خامخا وژلے شی. ۱۶ کهٔ څوک يو کس اغوا کړی او بيا يې

خرڅ کړی یا يې د ځان سره وساتی، نو هغه اغواکار به خامخا وژلے شی. ⑰ هر څوک چې د خپل پلار یا د خپلې مور بې عِزتی وکړی نو هغه به خامخا وژلے شی. ⑱-⑲ کۀ په جګړه کښې يو کس بل کس په کاڼی یا په سُوک ووهی اؤ مړ نۀ شی، نو وهُونکی له دې سزا نۀ شی ورکولے. چې کُوم وهلے شوے وی اؤ د کټ نه د پاڅېدو نۀ وی، خو وروستو بیا هغه د پاڅېدو اؤ د امسا په مدد سره د بهر ګرځېدو جوګه شی، نو چا چې وهلے وی نو هغه به ورله د بې‌روزګاره پاتې کېدلو مزدُوری ورکوی اؤ تر هغه پورې به د هغۀ خیال ساتی چې پُوره روغ شوے نۀ وی. ⑳ کۀ يو کس خپله وینځه یا خپل غُلام په کوتک ووهی اؤ هغه هم په هغه ځائ مړ شی، نو مالِک له به يې خامخا سزا ورکولے شی. ㉑ خو کۀ وهلے شوے کس یوه یا دوه ورځې ژوندے وی، نو مالِک له به يې سزا نۀ شی ورکولے، ځکه چې هغه يې خپل تاوان وو نو دا سزا يې بس ده. ㉒ کۀ څۀ کسان په جګړه وی اؤ یوه اُمیدواره ښځه ووهی اؤ چې د هغې اولاد وغورزېږی، خو بل ځائ يې زخمی نۀ وی، نو چا چې هغه وهلی وی هغه به دومره جُرمانه کېږی چې څومره جُرمانه د هغې ښځې خاوند غواړی اؤ چې قاضیان ووائی چې دا جُرمانه صحیح ده. ㉓ خو کۀ هغه ښځه په خپله هم زخمی وی، نو سزا به د ژوند په بدل کښې ژوند وی، ㉔ د سترګې په بدل کښې سترګه، د غاښ په بدل کښې غاښ، د لاس په بدل کښې لاس، د خپې په بدل کښې خپه، ㉕ د سوزولو په بدل کښې سوزول، د زخم په بدل کښې زخم، د کوږو په بدل کښې کوږې وهل دی. ㉖ کۀ يو کس د خپل غُلام یا خپلې وینځې په وهلو سره سترګه وباسی، نو د

سترګې په بدل کښې به هغه غُلام يا وينځه آزادولے شى. ۲۷ کۀ هغه د خپل غُلام يا وينځې غاښ مات کړى، نو د غاښ په بدل کښې به هغه غُلام يا وينځه آزادولے شى.

## د مالِکانو ذِمه وارى

۲۸ کۀ يو غوَيے څوک په ښکر ووهى اؤ هغه مړ شى، نو هغه غوَيے به خامخا سنګسارولے شى اؤ د دې غوښه به نۀ شى خوړلے، خو د غوَيى مالِک خلاص دے. ۲۹ خو کۀ دې غوَيى مخکښې هم خلق وهل اؤ مالِک له يې خبردارے ورکړے شوے وى اؤ هغۀ دا غوَيے تړلے نۀ وى ساتلے اؤ دا څوک ووهى اؤ مړ شى، نو غوَيے به سنګسارولے شى اؤ مالِک به يې هم وژلے شى. ۳۰ خو کۀ د مالِک نه د خپل ژوند بچ کولو تاوان وغوښتلے شى، نو هغه به پُوره تاوان ورکوى. ۳۱ کۀ يو غوَيے هلک يا جينۍ ووژنى، نو هم دغه شان فېصله به پرې کېږى. ۳۲ کۀ غوَيے يو غُلام يا وينځه ووژنى، نو د غوَيى مالِک به د هغه غُلام يا وينځې مالِک له د سپينو زرو دېرش سيکې ورکوى اؤ غوَيے به هم سنګسارولے شى. ۳۳ کۀ يو کس يوه کنده کولاؤ پرېږدى يا کنده وکنى اؤ دا پټه نۀ کړى اؤ يو غوَيے يا خر ورغورزېږى، ۳۴ نو هغه کس به خامخا د دې څناور مالِک ته تاوان ورکوى. هغه به يې مالِک ته د دې قيمت ورکړى اؤ هغه مړ څناور به د هغۀ شى. ۳۵ کۀ د يو کس غوَيے د بل چا غوَيے ووهى اؤ هغه مړ شى، نو هغوئ دواړه دې هغه ژوندے غوَيے خرڅ کړى اؤ هغه پيسې دې په خپلو کښې تقسيم کړى، اؤ هغه مړ څناور دې هم په خپلو کښې تقسيم کړى.

۳۶ خو کۀ دا پته لګېدلې وی چې دې غوَیی مخکښې هم وهل کول اؤ مالِک دا تړلے نۀ ساتلو، نو هغه به د غوَیی په تاوان کښې هغه بل کس له ژوندے غوَیے ورکوی اؤ هغه مړ ځناور به د هغۀ شی.

## د تاوان په حقله قانُون

# ۲۲

۱ کۀ يو کس يوه غوا يا ګډه پټه کړی اؤ حلاله يې کړی يا يې خرڅه کړی، هغه به خامخا د يوې غوا په بدل کښې پينځۀ غواګانې ورکوی اؤ د يوې ګډې په بدل کښې به څلور ګډې ورکوی. ۲-۴ هغۀ چې څۀ پټ کړی وی نو خامخا به د هغې تاوان ورکوی. کۀ هغه هيڅ هم نۀ لری، نو هغۀ چې څۀ پټ کړی وی د هغې په تاوان کښې به هغه د غُلام په توګه خرڅولے شی. چې کُوم ځناور يې پټ کړے وی، کۀ هغه غوا، خر اؤ يا ګډه وی او د هغۀ سره ژوندې ومُوندلے شی نو هغه به د دې يو په دوه ورکوی. کۀ يو غل د يو کور کنډر کولو په وخت د شپې ونيولے شی اؤ د وهلو په وجه مړ شی، چا چې هغه وژلے وی نو هغه به د دې خُون ذِمه وار نۀ وی. خو کۀ دا کار د ورځې شوے وی، نو هغه به د دې خُون ذِمه وار وی. ۵ کۀ يو کس خپل څاروی په يو پټی يا د انګُورو په باغ کښې څروی اؤ دا خوشې لاړ شی اؤ د بل چا په پټی کښې فصل وخوری، نو هغه به خامخا په تاوان کښې د خپل پټی يا د انګُورو باغ نه د ټولو نه ښۀ پيداوار ورکوی. ۶ کۀ څوک په خپل پټی کښې اور ولګوی اؤ اور د واښو په ذريعه د بل چا پټی ته ورسېږی اؤ د هغۀ ګېډۍ شوے، رېبلے شوے، يا داسې

فصل وسوزوی چې ولاړ وی، چا چې دا اور لګولے وی هغه به يې پُوره تاوان ورکوی. ⁽٧⁾ کۀ يو کس د بل چا پېسې يا قيمتی څيزُونه د امانت په توګه د هغۀ د پاره کېږدی اؤ د هغۀ د کور نه غلا وشی اؤ هغه غل ونيولے شی نو يو په دوه به ترې نه اخستلے شی. ⁽٨⁾ خو کۀ غل ونۀ نيولے شی، نو د چا سره چې امانت پروت وو هغه به خامخا د قاضيانو په مخکښې حاضر شی اؤ هلته به قسم وکړی چې د دغه پردے مال دۀ پخپله نۀ دے پټ کړے. ⁽٩⁾ د مال اؤ سامان هر قِسم لانجې، کۀ هغه د څاروو، خرُونو، ګډو، جامو، يا د بل ورک شوی څيز په باره کښې وی، چې دوه کسان په کښې دعوىٰ لری هغوئ دې خپلې لانجې د قاضيانو په مخکښې پېش کوی. هغوئ چې چا ته پړ ووائی نو هغه به هغه بل ته يو په دوه ورکوی. ⁽١٠⁾ کۀ يو کس بل کس له خپل خر، غوا، ګډه يا بل څاروے امانت ورکړی اؤ هغه مړ يا زخمی شی يا په داسې وخت کښې وتښتولے شی چې هيڅ څوک يې هم ونۀ وينی، ⁽١١⁾ نو هغه کس به ورته د مالِک خُدائ په نُوم قسم کوی چې د هغه بل کس څناور يې نۀ دے پټ کړے. کۀ هغه څناور چا نۀ وی پټ کړے، نو هغه مالِک دې دا قسم ومنی اؤ تاوان ورکولو ته ضرُورت نشته، ⁽١٢⁾ خو کۀ څناور چا پټ کړے وی، نو هغه کس به خامخا مالِک ته د هغې تاوان ورکوی. ⁽١٣⁾ خو کۀ هغه څنګلی څناور وژلے وی، نو هغه کس به د هغې پاتې حِصه د ثبُوت د پاره راوړی، نو هغۀ له د هغه څناور د تاوان ورکولو ضرُورت نشته کُوم چې څنګلی څناورو وژلے وی. ⁽١٤⁾ کۀ يو کس د بل کس نه يو څاروے وغواړی اؤ هغه په داسې

وخت کښې زخمی یا مړ شی چې مالِک یې موجُود نۀ وی، نو هغه به یې خامخا تاوان ورکوی. ⑮ خو کۀ دا کار په داسې وخت کښې شوے وی چې مالِک یې حاضر وی، نو هغۀ ته د تاوان ورکولو ضرُورت نشته. کۀ څناور یې په مزدُورئ راوستلے وی، نو هغه به صِرف د مزدُورئ پېسې په تاوان کښې ورکوی.

## اِخلاقی اؤ مذهبی قانُون

⑯ کۀ یو سړے یوه پېغله دهوکه کړی چې هغه کوژدن شوې هم نۀ وی اؤ د هغې سره څملی، هغه دې خامخا د هغې حق مهر ورکړی نو ښځه به یې شی. ⑰ خو کۀ پلار یې هغۀ له د ورکولو نه اِنکار وکړی، نو هغه به خامخا د هغې پېغلې پلار له د حق مهر برابر قیمت ورکوی. ⑱ کُومه ښځه چې کوډې کوی هغه ژوندئ مۀ پرېږدئ. ⑲ هغه کس به خامخا وژلے شی کُوم چې د څناور سره زنا وکړی. ⑳ څوک چې د مالِک خُدائ نه بغېر بل خُدائ ته قُربانی پېش کوی هغه دې ختم کړے شی. ㉑ د یو مُسافر سره بد سلُوک یا زیاتے مۀ کوئ، هغه رایاد کړئ چې تاسو په خپله د مِصر په وطن کښې مُسافر وئ. ㉒ د کونډې یا یتیم سره بد سلُوک مۀ کوئ. ㉓ کۀ تاسو د هغوئ سره بد سلُوک وکړو اؤ چې کله هغوئ ما مالِک خُدائ ته د مدد د پاره فریاد وکړی نو زۀ به د هغوئ فریاد اورم، ㉔ اؤ زۀ به په قهر شم اؤ تاسو به په جنګ ووژنم. ستاسو ښځې به کونډې شی اؤ ستاسو بچی به یتیمان شی. ㉕ کۀ تاسو زما د خلقو نه یو کس له قرض ورکړئ چې هغه غریب وی، د هغۀ سره د یو قرض ورکوُونکی

په شان عمل مۀ کوئ اؤ سُود ترې نه مۀ غواړئ. ۲۶ کۀ تاسو د قرض په ضمانت کښې د چا نه چُوغه واخلئ، دا به تاسو د نمرپرېواتو نه مخکښې هغۀ له واپس ورکوئ، ۲۷ ځکه چې د هغۀ سره د ځان پټولو د پاره دا یکی یوه چُوغه وه، د دې نه بغېر هغه په څۀ کښې اُودۀ شی؟ چې کله هغه ما ته سوال زاری وکړی، زۀ به د هغۀ فریاد اورم ځکه چې زۀ رحیم یم. ۲۸ د خُدائ پاک په حق کښې بدې ردې مۀ وایئ اؤ د خپل قوم مشرانو ته ښېرې مۀ کوئ. ۲۹ خپله غله، د انګُورو شراب اؤ خپل د زیتُونو تېل ما ته ښۀ په وخت پېش کوئ. تاسو خپل مشری زامن ما له راکړئ. ۳۰ تاسو د خپلو څاروو اؤ د خپلو ګډو وړومبی پیدا شوی بچی ما ته وقف کړئ. هر یو وړومبے پیدا شوے نر بچے به اووۀ ورځې د خپلې مور سره ایسارېږی اؤ په اتمه ورځ به هغه ما ته پېش کوئ. ۳۱ تاسو به زما مُقدس خلق یئ، نو د داسې ځناور غوښه مۀ خورئ چې هغه ځنګلی ځناور وژلے وی، هغه سپو ته اچوئ.“

## عدل اؤ اِنصاف

**۲۳** ۱ ”د دروغو خبر مۀ خوروئ اؤ د دروغو ګواهئ په ذریعه د یو مُجرم کس مدد مۀ کوئ. ۲ د ډېرو خلقو په بد عمل کښې یا د قانُون ماتولو په ګواهئ کښې ملګرتیا مۀ کوئ اؤ بې اِنصافی مۀ کوئ. ۳ په یوه مُقدمه کښې د یو غریب سړی ناجائزه طرفداری مۀ کوئ. ۴ کۀ تاسو د خپل دُښمن غوا یا خر ووینئ چې لار یې غلطه کړې وی، نو هغۀ له یې خامخا واپس ورولئ. ۵ کۀ

د هغهٔ خر ووينئ چې د بار لاندې پرېوتلے وی، نو د خر په پاڅولو کښې د هغهٔ مدد وکړئ، اؤ ځان پرې مهٔ ناغرضه کوئ. ۶ چې کله يو غريب سړے په عدالت کښې حاضر شی نو د هغهٔ سره بې اِنصافی مهٔ کوئ. ۷ د دروغو الزام مهٔ لګوئ اؤ يو صادق اؤ بې ګُناه سړے مهٔ وژنئ، ځکه چې څوک داسې بد عمل وکړی نو زهٔ به هغه نهٔ پرې ږدم. ۸ رشوت مهٔ اخلئ، ځکه چې رشوت بينا خلق ړندوی اؤ حق نهٔ ګوری اؤ رشوت د صادقانو په خبرو کښې هم چالاکی پيدا کوی. ۹ د يو مُسافر سره بد سلُوک مهٔ کوئ، تاسو ته پته ده چې د يو مُسافر په زړهٔ څهٔ تېرېږی، ځکه چې تاسو هم د مِصر په وطن کښې مُسافر وئ.

## د سبت ورځې د پاره قانُون

۱۰ شپږ کاله خپله زمکه کَرئ اؤ فصل ترې نه رېبئ. ۱۱ خو په اوؤم کال يې شاړه پرېږدئ اؤ چې څهٔ په کښې شوی وی هغه ترې نه مهٔ رېبئ، چې څهٔ په کښې پاتې وی نو هغه به غريبانان خلق اؤ ځنګلی ځناور وخوری. د انګُورو اؤ زيتُونو د باغُونو سره هم دغه شان وکړئ. ۱۲ په هفته کښې شپږ ورځې کار کوئ، خو په اوومه ورځ کار مهٔ کوئ، د دې د پاره چې ستاسو غُلامان اؤ هغه مُسافر چې ستاسو د پاره کار کوی اؤ داسې ستاسو څاروی به هم آرام وکړی. ۱۳ چې ما مالِک خُدائ تاسو ته څهٔ وئيلی دی په هغې عمل کوئ. د نورو خُدايانو په نُوم سوال مهٔ کوئ، اؤ نهٔ چې د هغوئ نُوم د ستاسو د خُلې نه واؤرېدلے شی.

## درېِ اخترونه

**(د هِجرت کِتاب ۳۴: ۱۸-۲۶، د ګردان کِتاب ۱۶: ۱-۱۷)**

۱۴ زما د درناوی د پاره په کال کښې درې ځله اختر کوئ. ۱۵ چې ما
ښنګه حُکم درکړے دے هم هغه شان د ابیب په میاشت کښې، تاسو د
پتیرې ډوډئ اختر کوئ، دا هغه میاشت ده چې تاسو په کښې د مِصر نه
راووتلئ. د دې اختر په اووۀ ورځو کښې تاسو پتیره ډوډئ خورئ. اؤ هیڅ
څوک به هم زما په حضُور کښې خالی لاسُونه نۀ حاضرېږی. ۱۶ چې کله
تاسو خپل فصلُونه رېبل شروع کوئ، نو د لَو کولو اختر کوئ په خپلو پټو
کښې چې تاسو کُوم تُخم کَرلے وی نو د هغه فصل وړومبے پېداوار پېش
کوئ اؤ چې کله تاسو خپل فصل د پټو نه راټول کړئ نو په خزان کښې د
فصل راټولولو اختر کوئ. ۱۷ هر کال په دې درېو اخترُونو کښې دې خامخا
ستاسو ټول نران مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک عِبادت له راځی. ۱۸ چې
کله تاسو یو ځناور قُربانی کوئ اؤ د هغۀ وینه ما ته پېش کوئ نو خمبیره
ډوډئ ورسره مۀ پېش کوئ. په دې اخترُونو کښې چې کُوم ځناور ما ته
قُربانی شی د هغوئ وازګه دې د سحر پورې نۀ شی پرېښودلے. ۱۹ هر کال
د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک، کور ته د خپلې زمکې نه رېبلے شوې
وړومبۍ غله راوړئ. د چېلی بچے د خپلې مور په پیو کښې مۀ پخوئ.

## لار ښودنه اؤ وعدې

۲۰ ګورئ! زۀ به ستاسو نه وړاندې یوه فرِښته درولېږم چې په لار
کښې ستاسو حِفاظت کوی اؤ هغه ځائ ته مو راولی کُوم چې ما

تيار کړے دے. ۲۱ هغې ته پام کوئ اؤ د هغې خبرې ته غوږ نيسئ. د هغې خِلاف بغاوت مۀ کوئ، ځکه چې هغې له مې پُوره اِختيار ورکړے دے اؤ هغه به ستاسو بغاوت معاف نۀ کړی. ۲۲ خو کۀ تاسو په رښتيا سره د هغې خبره ومنئ اؤ هغه هر څۀ وکړئ چې ما حُکم درکړے دے، نو زۀ به ستاسو د دُښمنانو سخت دُښمن يم. ۲۳ زما فرِښته به ستاسو په وړاندې روانه وی اؤ تاسو به د اموريانو، حِتيانو، فرزيانو، کنعانيانو، حِويانو اؤ د يبوسيانو وطن ته بوځی اؤ زۀ به هغوئ تباه کړم. ۲۴ د هغوئ خُدايانو ته سجده مۀ لګوئ اؤ مۀ يې عِبادت کوئ اؤ د هغوئ طريقې مۀ خپلوئ اؤ د هغوئ بُتان مات کړئ اؤ د هغوئ د کاڼو مُقدسې ستنې وغورزوئ. ۲۵ کۀ تاسو زما، مالِک خُدائ د ستاسو خُدائ پاک عِبادت کوئ، نو زۀ به ستاسو په خوراک اؤ اوبو کښې برکت واچوم اؤ د ټولو بيماريانو نه به مو بچ وساتم. ۲۶ ستاسو په وطن کښې به د يوې ښځې هم بچی نۀ ضائع کيږی اؤ يوه ښځه به هم شنډه نۀ وی. زۀ به تاسو له اُوږد عُمر درکړم. ۲۷ زۀ به په هغه خلقو خپله يره ورولېږم چې کُوم ستاسو مُخالفت کوی، زۀ به هغه خلق په وارخطايئ آخته کړم د کُومو خلقو سره چې تاسو جګړه کوئ اؤ زۀ به ستاسو ټول دُښمنان ستاسو نه وزغلوم. ۲۸ زۀ به ستاسو په دُښمنانو وارخطائی ورولېږم، چې تاسو مخ په وړاندې ځئ نو زۀ به حِويان، کنعانيان اؤ حِتيان ستاسو د مخې نۀ لرې کړم. ۲۹ زۀ به هغوئ په يو کال کښې نۀ وباسم، کۀ ما داسې وکړل، نو زمکه به ويجاړه شی اؤ هلته به ډېر زيات ځنګلی ځناور وی. ۳۰ خو زۀ به هغوئ رو رو وباسم، تر دې پورې چې تاسو زيات شئ اؤ هغه زمکه ستاسو خپله

شی. ۳۱ زۀ به ستاسو د زمکې سرحدُونه د سُور درياب نه واخله د
مديتران درياب پورې اؤ د بيابان نه د فرات درياب پورې خوارۀ کړم.
زۀ به د هغې زمکې اوسېدُونکی ستاسو په لاس کښې درکړم اؤ چې
تاسو مخ په وړاندې ځئ نو هغوئ به وشړئ. ۳۲ د هغوئ يا د هغوئ
د خُدايانو سره تړون مۀ کوئ. ۳۳ هغوئ خپل وطن کښې اوسېدو ته
مۀ پرېږدئ، کۀ تاسو پرېښودل نو هغوئ به تاسو دهوکه کړی اؤ زما
خِلاف گُناه کولو ته به مو جوړ کړی. کۀ تاسو د هغوئ د خُدايانو
عِبادت وکړئ نو دا به ستاسو د پاره يو دام جوړ شی.“

## پوخ تړون کول

# ۲٤

۱ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”ما له غرۀ ته، تۀ اؤ
هارُون، ندب، ابيهُو اؤ د اِسرائيليانو اؤيا مشران راوخېژئ،
اؤ چې لږه فاصله پاتې وی نو تاسو ما ته سجده وکړئ. ۲ صِرف تۀ
ما له راشه اؤ هغه نور به ما له نزدې نۀ راځی. نور کسان به ستا سره
غرۀ ته نۀ راخېژی.“ ۳ مُوسىٰ راغلو اؤ خلقو ته يې د مالِک خُدائ
ټولې خبرې اؤ ټول اصُول بيان کړل اؤ ټولو خلقو په يو آواز جواب
ورکړو، ”څنگه چې مالِک خُدائ وئيلی دی نو مُونږ به هم هغه شان
کوُو.“ ٤ مُوسىٰ د مالِک خُدائ هغه ټولې خبرې وليکلې. بل سحر
وختی د غرۀ په لمن کښې هغۀ يوه قُربانگاه جوړه کړه اؤ د اِسرائيليانو
د دولسو قبيلو په مُطابق يې د هرې يوې د پاره دولس تيږې ودرولې.
۵ بيا هغۀ د بنی اِسرائيلو څۀ ځلمی مُقرر کړل اؤ هغوئ مالِک خُدائ
ته سوزېدُونکې قُربانۍ اؤ څۀ څاروی د سلامتۍ قُربانۍ په توگه پېش

کړل. ۶ مُوسیٰ د ځناورو هغه نیمه وینه واخستله اؤ په ښانکُونو کښې
یې واچوله، اؤ هغه نوره نیمه یې په قُربان‌گاه وشیندله. ۷ بیا هغهٔ د
تړون کِتاب راواخستلو اؤ حاضرو خلقو ته یې واورولو. هغوئ ووئیل،
"مُونږ به د مالِک خُدائ فرمانبرداری کوُو اؤ د هغهٔ په ټولو خبرو به
عمل کوُو." ۸ بیا مُوسیٰ هغه وینه راواخستله چې په ښانکُونو کښې
وه اؤ په خلقو یې وشیندله. هغهٔ ووئیل، "گورئ! دا وینه د تړون د
پوخوالی د پاره ده کُوم چې مالِک خُدائ ستاسو سره کړے دے چې
کله هغهٔ دا ټول حُکمونه درکول." ۹ مُوسیٰ، هارُون، ندب، ابیهُو
اؤ د اِسرائیلیانو هغه اؤیا مشران غرهٔ ته وختل. ۱۰ اؤ هغه خُدائ پاک
یې ولیدلو چې اِسرائیلیانو یې عِبادت کولو. د هغهٔ د خپو لاندې لکه
د آسمان په شان د یاقُوتو شین فرش وو. ۱۱ د خُدائ پاک د لاس نه
د بنی اِسرائیلو هغو مشرانو ته ضرر ونهٔ رسېدلو، هغوئ خُدائ پاک
ولیدلو اؤ بیا هغوئ خوراک څښاک وکړو.

## حضرت مُوسیٰ د سینا په غرهٔ باندې

۱۲ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، "ما له غرهٔ ته راوخېژه اؤ چې کله
تهٔ هلته یې نو زهٔ به تا له د کاڼو دوه تختې درکړم چې په هغو باندې
ما ټول اصُول اؤ حُکمونه لیکلی دی چې تهٔ به دا خلقو ته بیانوی."
۱۳ مُوسیٰ د خپل مدد کوُونکی یشوَع سره روان شو اؤ مُوسیٰ د خُدائ
پاک غرهٔ ته بره ختلو. ۱۴ مُوسیٰ مشرانو ته ووئیل، "تاسو مُونږ ته دلته
تر هغې پورې اِنتظار کوئ چې مُونږ واپس نهٔ یُو راغلی. هارُون اؤ
حُور به ستاسو سره وی، اؤ کهٔ د چا څهٔ لانجه وی نو هغوئ له دې

ورځی.“ ۱۵ چې مُوسیٰ بره وختلو نو وريځې غر پټ کړو. ۱۶-۱۷ د
مالِک خُدائ سپين جلال په غرۀ باندې خور شو. بنی اِسرائيلو ته د
مالِک خُدائ جلال داسې ښکارېدو لکه چې د غرۀ په سر باندې اور
بل وی. شپږ ورځې وريځې غر پټ کړے وو اؤ په اوومه ورځ مالِک
خُدائ د وريځې د مېنځ نه مُوسیٰ ته آواز وکړو. ۱۸ چې مُوسیٰ بره
غرۀ ته ورختلو نو د وريځې مېنځ ته ورننوتلو اؤ څلوېښت ورځې اؤ
څلوېښت شپې په غرۀ کښې ايسار شو.

## مُقدسه خېمه

**(د هِجرت کِتاب ۳۵: ٤-۹)**

**۲۵**
۱ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ۲ ”بنی اِسرائيلو ته ووايه
چې ما ته يوه نذرانه پېش کړی. چې څوک د زړۀ نه ما ته
څۀ نذرانه پېش کول غواړی تۀ يې ترې نه اخله. ۳ دا هغه نذرانې دی
چې کُومې به ترې نه تۀ اخلې: سرۀ زر، سپين زر اؤ زېړ، ٤ مهينه لټه،
د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ وړی، د چېلو د وړی کپړه،
۵ سره رنګ شوې د ګډو خرمن، ښۀ څرمن، د کيکر لرګے، ۶ د ډيوو
د پاره تېل، د غوړولو د تېلو د پاره مصالحې اؤ د خوشبويۍ مصالحې،
۷ سُليمانی کاڼی اؤ نور قيمتی کاڼی چې د مشر اِمام په مُقدس واسکټ
باندې چې پېش بند ورته وائی اؤ د هغۀ د سينې جېب باندې ولګولے
شی. ۸ اؤ خلق به زما د پاره يوه مُقدسه خېمه جوړه کړی، نو زۀ به د
هغوئ په مېنځ کښې اوسېږم. ۹ دا مُقدسه خېمه اؤ د هغې ټول سامان
د هغې نقشې په مُطابق جوړ کړئ. کُومه چې زۀ درته ښايم.

## د تړون صندُوق

**(د هِجرت کِتاب ۳۷: ۱-۹)**

۱۰ هغوئ به زما د پاره د کیکر د لرګی نه یو صندُوق جوړ
کړی، چې پینځۀ‌ځلویښت اِنچې اُوږد وی، اووۀ‌ویشت اِنچې پلن
اؤ اووۀویشت اِنچې لوړ وی. ۱۱ دننه اؤ بهر ورباندې د سُوچه سرو
زرو پترے وخښژوه اؤ د دې د سر نه ګېرچاپېره د سرو زرو غاړه
شان تاؤ کړه. ۱۲ وړلو د پاره ورله د سرو زرو څلور ګول کړَی
جوړې کړه اؤ دا ورله په څلورو خپو پورې ولګوه، چې دوه کړَی
یو خوا وی اؤ دوه بل خوا وی. ۱۳ وړلو د پاره ورله د کیکر لرګی
نه بازوګان جوړ کړه اؤ د سرو زرو پترې ورباندې وخښژوه ۱۴ اؤ
دا بازوګان د صندُوق د وړولو د پاره په کړو کښې دواړو طرفُونو
ته وردننه کړه. ۱۵ هغه بازوګان به په هغه کړو کښې پرېږدئ
اؤ وباسئ به يې ترینه نه. ۱۶ بیا د تړون په صندُوق کښې هغه
د کاڼو دوه تختې کېږده کُومې چې زۀ درکوم، په کُومو باندې
چې حُکمونه لیکلی دی. ۱۷ د سُوچه سرو زرو یو سر ورله جوړ
کړه چرته به چې کفاره ادا کېږی، چې پینځۀ څلویښت اِنچې
اُوږد وی اؤ اووۀ ویشت اِنچې پلن وی. ۱۸ د ټکېدلو شوو سرو
زرو نه دوه د وزرو والا مخلُوق ورله جوړ کړه، ۱۹ یو ورباندې
په یو سر کښې اؤ بل په بل سر کښې جوړ کړه نو چې دواړه د
تړون صندُوق د کفارې د سر سره یوه ټُکړه شی. ۲۰ د وزرو والا
مخلُوق دې د تړون صندُوق د کفارې په تخت باندې یو بل ته

مخامخ وی اؤ د هغوئ خورې وزرې دې د صندُوق د کفارې تخت پټې کړی اؤ مخُونه به يې لاندې وی. ۲۱ د کاڼی چې کُومې دوه تختې زۀ درکوم هغه د تړون په صندُوق کښې کېږده اؤ هغه د کفارې تخت د صندُوق د پاسه کېږده. ۲۲ زۀ به ستا سره هلته مُلاقات وکړم اؤ د دې دوه وزرو والا مخلُوق په مېنځ کښې چې د کفارې صندُوق د سر د پاسه دی زۀ به تا له د بنی اِسرائيلو د پاره خپل حُکمونه درکړم.

## د پیش کېدُونکې ډوډۍ مېز

**(د هِجرت کِتاب ۳۷: ۱۰-۱٦)**

۲۳ د کيکر لرګی نه يو مېز جوړ کړه، چې شپږ دېرش اِنچې اُوږد وی، اتلس اِنچې پلن اؤ اووۀويشت اِنچې لوړ وی. ۲٤ په دې د سُوچه سرو زرو پترے وخېژوه اؤ د دې نه ګېرچاپېره د سرو زرو غاړه شان تاؤ کړه. ۲۵ ګېرچاپېره درې اِنچې پلنه يوه ژۍ ورله جوړه کړه اؤ ژۍ نه ګېرچاپېره د سرو زرو غاړه تاؤ کړه. ۲٦ د دې وړلو د پاره د سرو زرو څلور ګول کَړۍ جوړې کړه اؤ دا په هغه څلورو ګوټُونو کښې ولګوه، چرته چې خپې دی. ۲۷ دا کَړۍ به د ژۍ سره نزدې ولګولے شی چې هغه بازوګان ونيسی چې د کُومو په ذريعه دا مېز وړلے شی. ۲۸ دا بازوګان د کيکر لرګی نه جوړ کړه اؤ په دې باندې د سرو زرو پترې وخېژوه. ۲۹ د سُوچه سرو زرو نه رکېبۍ اؤ لُوښی جوړ کړه اؤ دغه شان د نذرانو توېَولو د پاره منګی اؤ جامُونه هم جوړ کړه. ۳۰ دا مېز به د تړون صندُوق په مخکښې

کېښودلے شی اؤ ما ته پېش کړے شوې مُقدسه ډوډۍ به د همېشه د پاره په مېز پرته وی.

## ډیوټ

**(د هِجرت کِتاب ۳۷: ۱۷-۲٤)**

۳۱ د سُوچه سرو زرو نه یو ډیوټ جوړ کړه. د دې بېخ اؤ د دې ډنډا د ټکېدلے شوو سرو زرو نه جوړ کړه، د دې د ښۀ ښکارېدلو د پاره ګلُونه، سره د غُوټو اؤ پاڼو جوړ کړه، چې د دې سره یوه ټُکړه شی. ۳۲ د ډیوټ د اړخُونو نه دې شپږ څانګې وتلې وی، چې درې په یو طرف وی اؤ درې په بل طرف وی. ۳۳ د دې شپږ واړو څانګو به درې درې د ښۀ ښکارېدو ګلُونه وی، دا به سره د غُوټو اؤ پاڼو د بادام د ګلُونو په شان جوړ وی. ۳٤ د ډیوټ د ډنډې به د ښۀ ښکارېدو څلور ګلُونه وی، دا به سره د غُوټو اؤ د پاڼو د بادام د ګلُونو په شان وی. ۳۵ د دې درې واړو څانګو د هرې یوې لاندې به یوه غُوټۍ وی. ۳٦ دا غوټۍ، څانګې اؤ دا ډیوټ به د ټکېدلے شوو سُوچه سرو زرو د یوې ټُکړې نه جوړ وی. ۳۷ د ډیوټ د پاره اووۀ ډیوې جوړې کړه اؤ هغه داسې کېږده چې د ډیوټ مخامخ ځلېږی. ۳۸ د هغې سرپوښونه اؤ مجمعې د سُوچه سرو زرو وی. ۳۹ پینځۀدېرش کیلو سُوچه سرۀ زر په دې ډیوټ اؤ د دې په ټول سامان جوړولو کښې اِستعمال کړه. ٤۰ ګوره چې دا د هغې نقشې په مُطابق جوړ کړې چې کُومه ما درته په غرۀ باندې ښودلې ده."

## د مالِک خُدائ د حضُور خېمه

**(د هِجرت کِتاب ۳٦: ۸-۳۸)**

۲٦ ۱ اؤ مالِک خُدائ ووئيل، "د مُقدسې خېمې يعنې زما د
حضُور خېمې دننه برخه د مهينې لټې د لسو پړدو نه جوړه
کړه چې دا د آسمانى رنګ، بانجانى اؤ د سُور رنګ د وړى نه تياره
وى. په دې باندې په ګُلکارى کښې د وزرو والا مخلُوق جوړ کړه.
۲ هره يوه پړده په برابر ناپ جوړه کړه چې څوارلس ګزه اُوږده وى
اؤ دوه ګزه پلنه وى. ۳ پينځۀ پړدې په يو ځائ وګنډه. اؤ هغه نورې
پينځۀ پړدې هم په يو ځائ وګنډه. ٤ په هره يوه جوړه کښې، د پړدې
په بهرنى غاړه د آسمانى رنګ د کپړې کړَى جوړې کړه. ۵ د وړومبى
جوړې په وړومبى پړده پنځوس کړَى اؤ پنځوس کړَى د دويمې جوړې
په آخرى پړده جوړ کړه چې دا کړَى يو بل ته مخامخ وى. ٦ پنځوس
د سرو زرو کُنډې جوړې کړه اؤ هغه پړدې د يوې بلې سره مِلاؤ کړه
نو ټوله مُقدسه خېمه به يوه شى. ۷ د خېمې پټولو د پاره د چېلو د
وړو نه جوړې شوې يولس پړدې واخله. ۸ دا ټولې په يو ناپ جوړې
کړه، چې پينځلس ګزه اُوږدې اؤ دوه ګزه پلنې وى. ۹ پينځۀ پړدې
په يو ځائ وګنډه اؤ هغه نورې شپږ هم يو ځائ وګنډه. شپږمه پړده د
خېمې په مخکښينى حِصه باندې غبرګه کړه. ۱۰ د يوې جوړې د آخرى
پړدې په غاړه پنځوس کړَى جوړې کړه اؤ د هغه بلې جوړې په غاړه
هم پنځوس کړَى جوړې کړه. ۱۱ د زېړو پنځوس کُنډې جوړې کړه
اؤ هغه په کړو کښې واچوه چې هغه دوه جوړې مِلاؤ کړى نو داسې

به دا د خېمې سره يو ځائ شى. ۱۲ هغه زياته شوې نيمه برخه به د
خېمې شا ته ځوړنده وى. ۱۳ د پړدو دواړو طرفُونو ته چې په اُوږدوالى
کښې کُوم نيم گز زيات شوے دے هغه به راځوړند وى چې خېمه پټه
کړى. ۱۴ دوه نورې پړدې هم جوړې کړه: يوه پړده د گډو د څرمنې نه
چې سُور رنگ ورکړے شوے وى اؤ بله د ښې څرمنې نه جوړه کړه،
چې د پاس نه پرې خېمه پټه کړے شى. ۱۵ خېمې له د ودرولو د پاره
د کيکر د لرگى نه چوکاټُونه جوړ کړه. ۱۶ چې هر يو چوکاټ پينځلس
فُټه اُوږد وى اؤ اووۀ ويشت اِنچې پلن وى، ۱۷ په ښېخ کښې ورله دوه
يو شان تختې هم جوړې کړه چې چوکاټُونه ونښلوى. د ټولو چوکاټُونو
دې دا تختې وى. ۱۸ د خېمې جنُوب طرف د پاره شل چوکاټُونه جوړ
کړه ۱۹ اؤ څلوېښت د سپينو زرو خپې چې ورلاندې شى، چې د هر يو
چوکاټ لاندې دوه دوه وى چې هغه دوه وړاندينۍ حِصې ونيسى. ۲۰ د
خېمې د شمال په طرف هم شل چوکاټُونه جوړ کړه ۲۱ اؤ څلوېښت د
سپينو زرو خپې جوړې کړه، چې د هر يو چوکاټ لاندې دوه دوه وى.
۲۲ د خېمې شا د پاره چې د نمرپرېواتۀ په طرف دے، شپږ چوکاټُونه
جوړ کړه، ۲۳ اؤ دوه چوکاټُونه د خېمې د گوټُونو د پاره جوړ کړه. ۲۴ د
گوټُونو دا چوکاټُونه به په ښېخ کښې مِلاؤ وى اؤ د لاندې نه واخله تر
سره پورې به نښتې وى. دا دوه چوکاټُونه به هم دغه شان جوړولے شى
چې د کُومو نه دوه گوټُونه جوړولے شى. ۲۵ نو اتۀ چوکاټُونه اؤ شپاړس
د سپينو زرو خپې به وى، چې د هر چوکاټ لاندې به دوه دوه وى.
۲۶ د کيکر لرگى نه پينځلس لاړى جوړ کړه، پينځۀ د خېمې د هغو
چوکاټُونو د پاره چې په يو طرف باندې وى، ۲۷ پينځۀ د هغه چوکاټُونو

د پاره چې په بل طرف باندې وى اؤ پينځۀ د هغه چوکاټُونو د پاره چې نَمرخاتۀ طرف شا ته په آخِر سر کښې وى. ۲۸ د چوکاټُونو تير به د يو سر نه تر بل سره پورې پُوره رسېدلے وى. ۲۹ په چوکاټُونو د سرو زرو پترى وخېژوه اؤ د سرو زرو کَړۍ ورله جوړې کړه چې لاړى ونيسى، په لاړو به هم د سرو زرو پترى خېژولے شى. ۳۰ دا خېمه د هغه نقشې په مُطابق ودروه کُومه چې ما تا ته په غرۀ ښودلې وه. ۳۱ د مهينې لټې نه يوه پړده جوړه کړه چې د آسمانى رنګ، بانجانى اؤ د سُور رنګ وړۍ نه تياره شوې وى. په دې باندې په ګُلکارۍ کښې د وزرو والا مخلُوق جوړ کړه. ۳۲ دا د کيکر لرګى په څلورو ستنو باندې، په کُنډو کښې راځوړنده کړه په کُومو ستنو چې د سرو زرو پترى خېژولے شوى وى اؤ د سپينو زرو په څلورو خپو باندې به ولاړې وى. ۳۳ دا پړده د خېمې په چت کښې د کُنډو په قطار کښې ځوړنده کړه اؤ د پړدې نه شا ته د تړون صندُوق کېږده چې په هغې کښې د کاڼو دوه تختې دى. دا پړده به مُقدس ځائ د زيات مُقدس ځائ نه جُدا کوى. ۳٤ د تړون صندُوق د کفارې په تخت بند کړه. ۳۵ د زيات مُقدس ځائ نه بهر د خېمې ښى طرف ته مېز اؤ ګڅ طرف ته يې هغه ډيوټ کېږده. ۳٦ د خېمې د ننوتلو دروازې د پاره د مهينې لټې نه يوه پړده جوړه کړه چې د آسمانى رنګ، بانجانى اؤ د سُور رنګ وړۍ نه تياره شوې وى اؤ چې دا په ګُلکارۍ باندې ښائسته کړے شوے وى. ۳۷ د دې پړدې د پاره د سرو زرو کُنډې جوړې کړه اؤ د کيکر لرګى نه پينځۀ ستنې جوړې کړه چې د سرو زرو پترى ورباندې خېژولے شوى وى، اؤ د دې ستنو د پاره پينځۀ د زېړو خپې جوړې کړه.

## قُربان‌ګاه

(د هِجرت کِتاب ۳۸: ۱-۷)

**۲۷** ① د کيکر لرګی نه يوه قُربان‌ګاه جوړه کړه. هغه به
څلورګوټه وی، چې اووۀ نيم فُټه اُوږده وی، اووۀ نيم
فُټه پلنه اؤ څلور نيم فُټه لوړه وی. ② د دې د پاره د څلورو ګوټُونو د
پاسه د ښکرو په شان څيزُونه جوړ کړه چې د قُربان‌ګاه سره يو ځائ
شی اؤ په دې هر څۀ باندې به د زيړو پترى وخېژولے شی. ③ د ايرو
د لرې کولو د پاره لوښی، بېلچې، جامُونه، درې غاښی اؤ د ګرمې
ايرې د پاره لُوښی جوړ کړه. دا ټول سامان د زيړو نه جوړ کړه. ④ اؤ
تۀ د زيړو يوه جالئ هم جوړه کړه اؤ د هغې په ګوټُونو باندې د وړلو
د پاره څلور د زيړو کَړی ولګوه. ⑤ دا جالئ د قُربان‌ګاه د ژئ لاندې
کېږده نو چې د قُربان‌ګاه مېنځ ته ورسېږی. ⑥ د وړلو د پاره د کيکر
لرګی نه ورله بازوګان جوړ کړه اؤ د زيړو پترىورباندې وخېژوه،
⑦ نو د قُربان‌ګاه دواړو طرفُونو ته چې کُومې کَړی دی په هغې کښې
بازوګان ولګوه. ⑧ قُربان‌ګاه د تختو نه جوړه کړه اؤ تشه يې پرېږده،
هم د هغې نقشې په مُطابق چې ما درته په غرۀ باندې ښودلې وه.

## د مالِک خُدائ د حضُور خېمې دربار جوړېدل

(د هِجرت کِتاب ۳۸: ۹-۲۰)

⑨ د مهينې لتې د پړدو نه زما د حضُور خېمې د پاره دربار جوړ
کړه چې د جنُوب طرف يې پنځوس ګزه اُوږد وی، ⑩ دا به د زيړو

د شلو ستنو په ذریعه د زېړو په شلو خپو کښې، د سپینو زرو کُنډو
اؤ د سپینو زرو سیخُونو په مدد سره ټینګولے شی. ⑪ د دربار شمال
طرف ته دې هم دغه شان وکړے شی. ⑫ په نمرپرېواتهٔ طرف به
د لسو ستنو اؤ لسو خپو سره پینځهٔ ویشت ګزه اُوږدې پړدې وی.
⑬ نَمرخاتهٔ طرف به هم دربار پینځهٔ ویشت ګزه اُوږد وی، چې هلته
دروازه هم ده. ⑭ - ⑮ د دروازې په دواړه طرف د درې ستنو اؤ درې
خپو سره اووهٔ نیم ګزه پړدې به هم وی. ⑯ یوائې دروازې له دې
لس ګزه اُوږده پړده وی چې د مهینې لټې نه جوړه وی چې د آسمانی
رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ وړی نه تیاره شوې وی اؤ په ګُلکاری
باندې ښائسته کړے شوے وی. دا دې د څلورو ستنو اؤ څلورو
خپو په ذریعه ټینګه کړے شی. ⑰ د دربار ګېرچاپېره ټولې ستنې به
د سپینو زرو د سیخُونو سره نښلولے شی اؤ د هغې کُنډې به د سپینو
زرو وی اؤ خپې به یې زېړو نه جوړولے شی. ⑱ دا دربار به پنځوس
ګزه اُوږد وی اؤ پینځهٔ ویشت ګزه پلن وی اؤ دوه نیم ګزه لوړ وی.
د دې پړدې به د مهینې لټې نه اؤ خپې به یې د زېړو نه جوړې وی.
⑲ په خېمه کښې چې څومره سامان اِستعمالېږی اؤ د خېمې اؤ دربار
د پاره ټول موږی به د زېړو نه جوړولے شی.

## د ډیوې خیال ساتل

**(د لیویانو کِتاب ۲۴: ۱-۴)**

⑳ بنی اِسرائیلو له حُکم ورکړه چې د ډیوې د پاره د زیتُونو سُوچه
تېل درله راوړی، چې دا هره شپه بله وساتلے شی. ㉑ هارُون اؤ د

هغۀ زامن دې هغه ډيوه زما د حضُور په خېمه کښې د پړدې نه بهر ولګوی چې د تړون صندُوق ته مخامخ ده. دا به هلته زما په حضُور کښې د ماښام نه واخله تر سحره پورې بلېږی. بنی اِسرائيل اۇ د هغوئ اولاد به همېشه د پاره دا حُکم منی.

## د اِمامانو خاص لِباس

**(د هِجرت کِتاب ۳۹: ۱-۷)**

# ۲۸

(۱) خپل ورور هارُون اۇ د هغۀ زامن، ندب، ابيهُو، اِلعازار
اۇ اِتمر ځان له راوله. هغوئ د بنی اِسرائيلو د مېنځ نه
رابېل کړه، چې د اِمامانو په توګه زما خِدمت کوی. (۲) د خپل ورور
هارُون د پاره د اِمامانو جامې جوړې کړه، چې هغۀ ته عِزت اۇ ښائست
مِلاؤ شی. (۳) ټول ماهِر خلق راوغواړه کُومو له چې ما مهارت ورکړے
دے اۇ هغوئ ته ووايه چې د هارُون جامې جوړې کړی، نو چې هغه
د يو اِمام په توګه زما خِدمت ته وقف شی. (٤) هغوئ ته ووايه چې
يو د سينې جېب، يو پېش بند، يوه چُوغه، يو قميص چې ګلکاری
ورباندې شوې وی، يو پټکے اۇ يو کمربند جوړ کړی. هغوئ به د
اِمامانو دا جامې ستا ورور هارُون اۇ د هغۀ زامنو له جوړوی، چې
دوئ د اِمامانو په توګه زما خِدمت وکړی. (٥) هغه ماهِر خلق به د
آسمانی رنګ، بانجانی اۇ سُور رنګ وړئ، د سرو زرو تار اۇ د مهينې
لټې نه کار اخلی. (٦) هغوئ به پېش بند د آسمانی رنګ، بانجانی اۇ
سُور رنګ وړئ، د سرو زرو تار اۇ د مهينې لټې نه جوړوی، چې په
ګُلکارئ باندې ښائسته کړے شوے وی. (۷) دواړو طرفُونو ته دې

ورباندې د ولى پټى لګېدلې وى، چې د دې په ذريعه تړلے شى.
⁸ يو ښۀ ګلکارى شوے کمربند چې هم د هغه سامان نه جوړ وى
هغه دې د پېش بند سره ونښلولے شى نو چې ورسره يو ځائ شى.
⁹ دوه سُليمانى کانى واخله اؤ په هغې باندې د يعقُوب د دولسو
زامنو نومُونه پاخۀ وليکه، ¹⁰ د هغوئ د پېدايښت په مُطابق چې شپږ
نومُونه په يو کانى اؤ شپږ په بل کانى باندې وى. ¹¹ په هغه دوؤ
کانو باندې د يعقُوب د زامنو نومُونه د يو ماهِر زرګر په ذريعه وليکه
اؤ دا کانى په سرو زرو کښې کېر کړه. ¹² دا د پېش بند د ولى په
پټو باندې ولګوه چې د بنى اِسرائيلو د دولسو قبيلو نُمائندګى کوى.
نو داسې هارُون به د هغوئ نومُونه ګرځوى، نو زۀ، مالِک خُدائ
به خپل خلق همېشه د پاره ياد ساتم. ¹³ د سرو زرو دوه نور څيزُونه
جوړ کړه چې دا کانى په کښې ګېرولے شى ¹⁴ اؤ دوه د سُوچه سرو
زرو زنځيرُونه جوړ کړه چې د تارُونو په شان تاؤ شوى وى اؤ د سرو
زرو په دې څيزُونو پورې يې ونښلوه.

## د مشر اِمام د سينې جېب

**(د هِجرت کِتاب ۳۹: ۸-۲۱)**

¹⁵ د مشر اِمام د پاره يو د سينې جېب جوړ کړه چې د خُدائ پاک
رضا معلُومولو د پاره يې استعمالوى. دا به هم د هغه سامان نه جوړ
وى د کُوم نه چې پېش بند جوړ دے اؤ هم هغه شان ګلکارى به
ورباندې شوې وى. ¹⁶ دا به څلورګوټه اؤ دوه غبرګه وى، نهۀ اِنچې به
اُوږد اؤ نهۀ اِنچې پلن وى. ¹⁷ په هغه څلور قطاره قيمتى کانى ولګوه،

په اول قطار کښې ياقُوت، يو زېړ ياقُوت اؤ يو لعل ولګوه، ۱۸ په دويم قطار کښې يو زمرُد، يو شين ياقُوت اؤ يوه هيره ولګوه، ۱۹ په دريم قطار کښې يوه فېروزه، يو عقيق اؤ يو بانجانی ياقُوت ولګوه، ۲۰ اؤ په څلورم قطار کښې يو شين بخن ياقُوت، يو سُليمانی کاڼے اؤ يو يشم ولګوه. دا به په سرو زرو کښې ګېر شوی وی. ۲۱ په دې دولسو کاڼو په هر يو کاڼی باندې دې د يعقُوب د يو زوئ نُوم ليکلے وی، چې د بنی اِسرائيلو د دولسو قبيلو نُمائندګی وشی. ۲۲ د سينې جېب د پاره د سُوچه سرو زرو زنځيرُونه جوړ کړه، چې د تارُونو په شان تاؤ شوی وی. ۲۳ د سرو زرو دوه کَړئ جوړې کړه اؤ د سينې جېب په برنو ګوټُونو پورې يې ونښلوه، ۲۴ اؤ د سرو زرو هغه دوه زنځيرُونه په هغه کړو پورې وتړه. ۲۵ د زنځيرُونو دوه سرُونه په هغه دوه څيزُونو پورې وتړه چې په هغه کښې کاڼی ګېر کړے شوی دی اؤ دا د پېش بند د ولی په پټو باندې مخکښې طرف ته ونښلوه. ۲۶ بيا دوه د سرو زرو کَړئ جوړې کړه اؤ دا د سينې جېب لاندې ګوټُونو دننه غاړې ته د پېش بند څنګ پورې ونښلوه. ۲۷ دوه د سرو زرو نورې کَړئ هم جوړې کړه اؤ دا په لاندينئ حِصه پورې د پېش بند د ولی دوه پټو په مخکښې ونښلوه چې ګنډ ته نزدې وی اؤ په ګُلکاری ښائسته کړے شوی کمربند د پاسه وی. ۲۸ د سينې د جېب کَړئ د پېش بند کړو پورې د آسمانی رنګ مزی سره وتړه، نو چې د سينې جېب په کمربند باندې پروت وی اؤ ترې نه لرې نۀ شی. ۲۹ نو چې کله هارُون مُقدس ځائ ته ورننوځی، هغه به د سينې جېب د ځان سره وړی چې په کُوم باندې د بنی اِسرائيلو د دولسو قبيلو نومُونه ليکلے

شوی دی، نو زۀ مالِک خُدائ به خپل خلق همېشه د پاره ياد ساتم.
۳۰ د اُوريم اؤ تميم کانی د سينې په جېب کښې کېږده، چې کله
هارُون زما پاک حضُور ته راځی نو هغه به د ځان سره دا راوړی. په
داسې وختُونو کښې به هغه خامخا د سينې جېب اغوندی، چې د
بنی اِسرائيلو د پاره د مالِک خُدائ رضا معلُوموی.

## د اِمامانو نور لِباس

**(د هِجرت کِتاب ۳۹: ۲۲-۳۱)**

۳۱ چې کُومه چُوغه د پېش بند لاندې اغوستلے کېږی هغه به ټوله
د آسمانی رنګ د وړی نه جوړولے شی. ۳۲ په هغې کښې به د سر
د پاره يو سُورے وی، چې غاړه يې مضبُوطه ګنډلے شوی وی چې
ونۀ شلېږی. ۳۳-۳٤ د دې په لاندې پينځه باندې د آسمانی رنګ،
بانجانی اؤ د سُور رنګ تار انار جوړ کړه اؤ د هر انار په مېنځ کښې
دې د سرو زرو ټلی وی. ۳۵ چې کله هارُون د اِمام په توګه خِدمت
کوی نو هغه به دا چُوغه اغوندی. چې کله هغه زما په حضُور کښې
مُقدس ځائ ته ننوځی يا ترې نه وځی، نو د ټلو آواز به اؤرېدلے شی
اؤ هغه به نۀ مړ کېږی. ۳٦ د سُوچه سرو زرو نه يوه نښه جوړه کړه
اؤ په هغې باندې وليکه: "مالِک خُدائ ته وقف شوے". ۳۷ دا د
يو آسمانی رنګ مزی سره د پټکی مخې ته وتړه. ۳۸ هارُون به دا
په خپل تندی باندې وتړی، نو زۀ مالِک خُدائ به هغه نذرانې قبلوم
چې بنی اِسرائيل يې ما ته وقف کوی، کۀ خلق د دې په پېش کولو
کښې څۀ غلطی هم کوی. ۳۹ د هارُون د پاره د مهينې لټې نه يو

قمیص جوړ کړه اؤ د مهینې لټې نه ورله پټکې جوړ کړه اؤ یو کمربند
هم جوړ کړه چې ګلکاری وربانديې شوې وی. ۴۰ د هارُون د زامنو
د پاره قمیصُونه، کمربند اؤ ټوپۍ جوړې کړه، چې هغوئ ته عِزت
اؤ ښائست مِلاؤ شی. ۴۱ دا جامې خپل ورور هارُون اؤ د هغۀ زامنو
ته ورواغونده. بیا هغوئ مُقرر کړه اؤ هغوئ ما ته وقف کولو د پاره
د زیتُونو په تېلو غوړ کړه، نو داسې به هغوئ د اِمامانو په توګه زما
خِدمت وکړی. ۴۲ هغوئ له د لټې نه جانګی جوړ کړه، چې د ملا
نه د سپینو پورې رسېږی، نو چې د هغوئ د سَتر ځایُونه بربنډ نۀ شی.
۴۳ هارُون اؤ د هغۀ زامن به خامخا همېشه د پاره دا اغوندی چې کله
هغوئ زما په حضُور کښې خېمې ته ننوځی یا چې په مُقدس ځائ
کښې د اِمامانو په توګه خِدمت کوی اؤ قُربانګاه ته ورنزدې کېږی،
ګنی د سَتر ځایُونو بربنډولو په وجه به ګُناهګار شی اؤ وبه وژلے شی.
د هارُون اؤ د هغۀ د اولاد د پاره به دا حُکم د همېشه د پاره وی.

## د حضرت هارُون اؤ د هغۀ زامن د اِمامانو په توګه مُقرر کېدل

**(د لیویانو کِتاب ۸: ۱-۳۶)**

**۲۹**
۱ هارُون اؤ د هغۀ زامن د اِمامانو په توګه زما په خِدمت
کښې وقف کولو د پاره داسې وکړه چې یو څخَے اؤ
دوه ګډان راونیسه چې هیڅ عېب په کښې نۀ وی. ۲ د غنمو د ټولو
نه ښۀ اوړۀ واخله، خو چې خمبیره په کښې نۀ وی اؤ درې قِسمه
ډوډۍ ترې نه پخې کړه چې د څۀ سره د زیتُونو تېل ګډ وی، څۀ
سپورې وی اؤ څۀ په تېلو غوړې وی. ۳ دا په شکور کښې کېږده

اؤ چې کله هغه څخہ اؤ هغه دوه ګډان ما ته قُربانى کړې نو دا هم ورسره راوړه. ۴ هارُون اؤ د هغۀ زامن زما د حضُور خېمې دروازې ته راوله اؤ هغوئ له غُسل وکړه. ۵ بيا هارُون ته د اِمامانو دا لِباس ورواغونده: قميص اؤ چُوغه چې کُومه د پيش بند لاندې اغوستلے کېږى، پيش بند اؤ د سينې جېب د ښۀ ګلکارى شوى کمربند سره وتړه. ۶ هغۀ ته پټکے ورپه سر کړه اؤ په دې باندې د سرو زرو پټۍ وتړه چې هغه نښه ورباندې لګېدلې وى. ۷ بيا د زيتُونو تېل واخله اؤ د مُقررولو د نښې په طور د هغۀ سر غوړ کړه. ۸ د هغۀ زامن راوله اؤ قميصُونه ورواغونده، ۹ هغوئ ته دا کمربند وتړه اؤ ټوپۍ ورپه سر کړه. نو تۀ به هارُون اؤ د هغۀ زامن مُقرر کړې. هغوئ اؤ د هغوئ اولاد به د اِمامانو په توګه همېشه د پاره زما خِدمت کوى. ۱۰ هغه څخے زما د حضُور خېمې مخې ته راوله اؤ هارُون اؤ د هغۀ زامنو ته ووايه چې خپل لاسُونه د هغې په سر کېږدى. ۱۱ څخے د خېمې په دروازه کښې زما په حضُور کښې حلال کړه. ۱۲ د خپلې ګوتې سره د څخى څۀ وينه واخله اؤ د قُربان‌ګاه د څلورو ښکرو په شان څيزُونو پورې يې وسُولوه. بيا هغه پاتې وينه د قُربان‌ګاه په بېخ کښې توئ کړه. ۱۳ بيا، هغه ټوله وازګه واخله کُومه چې په کولمو پرته وى، د اينې ښۀ حِصه اؤ دواړه ګردې سره د هغه وازګې چې ورباندې پرته وى اؤ د يوې نذرانې په توګه يې په قُربان‌ګاه باندې ما ته وسوزوه. ۱۴ خو د څخى غوښه، څرمن اؤ د هغۀ سُوټې د خېمو نه بهر وسوزوه. دا د اِمامانو د ګُناه معاف کېدلو د پاره يوه نذرانه ده. ۱۵ د هغه ګډانو نه يو ګډ راونيسه اؤ هارُون اؤ د هغۀ زامنو ته ووايه چې خپل لاسُونه

د هغۀ په سر باندې کېږدى. ۱۶ هغه حلال کړه اؤ وينه يې واخله
اؤ د قُربانګاه څلورو واړو طرفُونو ته يې وشينده. ۱۷ ګډه ټوټې ټوټې
کړه، د هغۀ کولمې اؤ وروستو خپې ووينځه اؤ دا د ګډه سر اؤ د نورو
ټوټو سره کېږده. ۱۸ ټول ګډه په قُربانګاه باندې وسوزوه، دا مالِک
خُدائ ته په اور سوزېدُونکې نذرانه ده. د دې خوشبوئى په هغۀ ښۀ
لګې. ۱۹ هغه بل ګډه هارُون اؤ د هغۀ زامنو له راوله اؤ هغوئ دې
خپل لاسُونه د هغې په سر کېږدى. ۲۰ ګډه حلال کړه اؤ څۀ وينه يې
واخله اؤ دا د هارُون اؤ د هغۀ د زامنو د ښى غوږُونو په نرمو ځايُونو
پورې، د هغوئ د ښى لاسُونو په غټو ګوتو پورې اؤ د هغوئ د ښى
خپو په غټو ګوتو پورې ولګوه. بيا هغه پاتې وينه د قُربانګاه څلورو
واړو طرفُونو ته وشينده. ۲۱ څۀ وينه واخله چې کُومه په قُربانګاه
باندې پرته وى اؤ څۀ د غوړولو تېل واخله اؤ دا د هارُون اؤ د هغۀ په
جامو اؤ د هغۀ زامنو اؤ د هغوئ په جامو باندې وشينده. نو هغه، د
هغۀ زامن اؤ د هغوئ جامې به ما ته وقف شى. ۲۲ د ګډه وازګه، لم،
هغه وازګه چې په کولمو پرته وى، د اينې ښۀ حِصه، دواړه ګردې
سره د هغه وازګې چې ورباندې وى اؤ ښے پتُون دا ټول پرې کړه.
۲۳ د ډوډۍ هغه شکور چې کُوم ما ته پيش کړے شوے دے، د هر
يو قِسمه ډوډۍ نه يوه يوه ډوډۍ راواخله. ۲۴ دا ټول د هارُون اؤ د
هغۀ د زامنو په لاسُونو کښې کېږده اؤ هغوئ ته ووايه چې دا ټول د
دې ښکاره کولو د پاره اُوچت کړى چې دا مالِک خُدائ ته د خاص
نذرانې په توګه وقف کوى. ۲۵ بيا دا د هغوئ د لاسُونو نه واخله اؤ
دا په قُربانګاه باندې د سوزېدُونکې نذرانې سره وسوزوه. د دې بُوئ

هم په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګي. ۲۶ تۀ به د دویم ګډ پوښتۍ وخورې، خو تۀ به وړومبے دا اُوچتې کړې چې ښکاره کړې چې دا غوښه ما ته وقف کېږی. ۲۷ کله چې اِمامان مُقررولے شی هغه د ګډ پوښتۍ اؤ پتُون کُوم چې د مُقررولو د پاره اِستعمالیږی هغه به اُوچت کړے شی اؤ د هارُون اؤ د هغۀ د زامنو د پاره به بېل کړے شی. ۲۸ دا زما نۀ بدلېدُونکے قانُون دے چې کله بنی اِسرائیل د سلامتۍ قُربانۍ پېش کوی، د ځناور پوښتۍ اؤ پتُون به د اِمامانو وی. دا زما د خلقو د طرف نه مالِک خُدائ ته نذرانه ده. ۲۹ د هارُون د اِمامت لِباس د هغۀ د مرګ نه پس به د هغۀ زامنو ته ملاویږی، ځکه چې کله هغوئ مُقررولے شی نو هغوئ به دا اغوندی. ۳۰ د هارُون کُوم زوئ چې د هغه په ځائ اِمام شی اؤ چې هغه زما د حضُور خېمې ته د خِدمت د پاره ننوځی نو هغه به دا لِباس اووۀ ورځې اغوندی. ۳۱ د ګډ هغه غوښه واخله کُومه چې د هارُون اؤ د هغۀ د زامنو په مُقررولو کښې اِستعمال شوې وی اؤ په یو پاک ځائ کښې یې اویشوه. ۳۲ هارُون اؤ د هغۀ زامن به هغه غوښه زما د حضُور خېمې په دروازه کښې د هغه ډوډۍ سره خوری کُومه چې په شکور کښې پاتې وی. ۳۳ د مُقرر کېدلو په وخت کښې چې د کفارې د رسم ادا کولو د پاره څۀ اِستعمال شوی وُو هغوئ به هغه خوری. صِرف اِمامان به دا خوراک خوری ځکه چې دا خوراک مُقدس دے. ۳۴ کۀ څۀ غوښه یا څۀ ډوډۍ تر سحره پورې پاتې شی، نو هغه به سوزولے شی، هغه به نۀ شی خوړلے، ځکه چې مُقدسه ده. ۳۵ د هارُون اؤ د هغۀ د زامنو د مُقرر کېدلو رسمُونه دې اووۀ ورځې کولے شی هم هغه شان

چې ښنګه ما حُکم درکړے دے. ۳۶ هره ورځ خامخا يو څخے د
نذرانې په توګه قُربانى کوئ، نو چې د ګُناه کفاره ادا کېږى. دا به
قُربان‌ګاه پاکه کړى. د مُقدس کولو د پاره يې د زيتُونو په تېلو غوړه
کړئ. ۳۷ هره ورځ تر اووهٔ ورځو پورې تهٔ کفاره ادا کوه. نو قُربان‌ګاه
به بېخى مُقدسه شى اؤ هر څوک يا هر څيز چې د هغې سره ولګې
نو هغه به هم مُقدس شى.

## د هرې ورځې نذرانې

**(د شمېر کِتاب ۲۸: ۱-۸)**

۳۸ په راتلُونکى ټولو وختُونو کښې هره ورځ، د دوه يو کالن ګډُورو
قُربانى ما ته په قُربان‌ګاه باندې پېش کوه. ۳۹ يو ګډُورے د سحر په
وخت کښې د قُربانۍ په توګه پېش کوه اؤ بل په ماښام کښې. ۴۰ د
وړومبى ګډُورى سره يو کيلو د غنمو ښهٔ اوړهٔ پېش کړه چې د زيتُونو
يو ليټر سُوچه تېل ورسره ګډ وى. اؤ يو ليټر د انګُورو شراب د نذرانې
په توګه پېش کړه. ۴۱ دويم ګډُورے په ماښام کښې قُربانى کړه اؤ د
سحر په شان هم هغه هومره اوړو سره، د زيتُونو تېلو اؤ د انګُورو شرابو
سره يې پېش کړه. دا مالِک خُدائ ته په اور سوزېدُونکې نذرانه ده
اؤ د دې بُوئ په هغهٔ ښهٔ لګې. ۴۲ په راتلُونکى ټولو وختُونو کښې،
دا سوزېدُونکې نذرانه زما د حضُور خېمې د دروازې په خُله کښې
به پېش کولے شى. چې هلته به تاسو د مالِک خُدائ سره مُلاقات
وکړئ اؤ تا سره به خبرې وکړى. ۴۳ هلته به بنى اِسرائيل زما سره
مُلاقات وکړى اؤ زما د حضُور سپين جلال به هغه ځائ مُقدس

کړی. ۴۴ زۀ به خېمه اؤ قُربان‌ګاه مُقدس کړم اؤ زۀ به هارُون اؤ د
هغۀ زامن رابېل کړم چې د اِمامانو په توګه زما خِدمت وکړی. ۴۵ زۀ
به د بنی اِسرائيلو په مېنځ کښې اوسېږم اؤ زۀ به د هغوئ خُدائ پاک
يم. ۴۶ هغوئ ته به پته ولګې چې زۀ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ
پاک يم چا چې هغوئ د مِصر د وطن نه راوويستل چې زۀ د هغوئ
په مېنځ کښې اوسېږم. زۀ مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک يم.

## د خوشبويۍ قُربان‌ګاه

**(د هِجرت کِتاب ۳۷: ۲۵-۲۸)**

# ۳۰

۱ د خوشبويۍ سوزولو د پاره، د کيکر د لرګی نه يوه
قُربان‌ګاه جوړه کړه. ۲ دا به څلورګوټه وی، چې اتلس
اِنچې اُوږده، اتلس اِنچې پلنه اؤ يو ګز اُوچته وی. د ښکرو په شان
څلور ګوټُونه ورله جوړ کړه چې ورسره يو ځائ شی. ۳ د هغې په
چت، څلورو واړو طرفُونو اؤ د هغې د ښکرو په شان څيزُونو باندې
د سُوچه سرو زرو پترى وخېژوه اؤ ګېرچاپېره ترې نه د سرو زرو غاړه
شان تاؤ کړه. ۴ د وړلو د پاره دوه د سرو زرو ګول کَړی ورله جوړې
کړه اؤ لاندې يې دواړو طرفُونو ته د غاړې سره وتړه چې هغه بازوګان
ونيسی چې د کُومو په ذريعه دا وړلے شی. ۵ بازوګان د کيکر د
لرګی نه جوړ کړه اؤ په دې باندې د سرو زرو پترى وخېژوه. ۶ دا
قُربان‌ګاه د هغې پردې نه بهر کېږده کُومه چې د تړون د صندُوق
مخې ته ځوړنده ده. دا هغه ځائ دے چې چرته به زۀ ستا سره
مُلاقات وکړم. ۷ هر سحر وختی چې هارُون کله د ډيوو تيارولو له

راځی، هغه به په دې باندې خوشبويي سوزوی. ۸ چې کله هغه په ماښام کښې ډيوې بلوی نو هم دغه شان به کوی. دا د خوشبويي نذرانه به په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې جاری ساتلے شی. ۹ په دې قُربان‌ګاه باندې حرامه خوشبوئی مۀ پيش کوئ اؤ د يو ځناور نذرانه، يا د غلې نذرانه مۀ پيش کوئ اؤ يا د څښلو څۀ نذرانه هم په دې مۀ تويَوئ. ۱۰ په کال کښې يو ځل به هارُون د قُربان‌ګاه د کفارې رسم ادا کوی چې کله د ګُناه د پاره قربان شوی ځناور وينه د قُربان‌ګاه د ښکرو په شان څيزُونو باندې تويَولے شی نو دا پاکيږی. په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې به دا د کفارې رسم هر کال ادا کيږی. دا قُربان‌ګاه به پُوره مُقدسه وی، ځکه چې دا ما مالِک خُدائ ته وقف ده.“

## د مالِک خُدائ د حضُور خېمې د پاره د کفارې محصُول

۱۱ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ۱۲ ”کله چې تۀ د بنی اِسرائيلو مردُم شماری کوې، هر يو سړے به ما له د خپل ژوند قيمت راکوی، چې کله مردُم شماری کيږی، نو هيڅ بلا به ورباندې نۀ راځی. ۱۳ هر يو کس چې په دې مردُم شماری کښې شامِليږی نو هغه به خامخا د منلے شوی معيار په مُطابق هغه مُقرر شوے قيمت ورکوی. هر يو کس به دا مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه ورکوی. ۱۴ هر يو کس به په دې مردُم شماری کښې شميرلے شی، د هر يو کس عُمر چې شل کاله يا د شلو کالو نه زيات وی، نو هغه به دا قيمت ورکوی. ۱۵ چې کله هغوئ مالِک خُدائ ته د خپل ژوند قيمت ادا کوی نو مالدار اؤ غريب به يو برابر ورکوی. ۱۶ د بنی اِسرائيلو نه د کفارې دا

پيسې راټولوه اؤ زما د حضُور په خېمه يې خرچ کوه. دا محصُول به د هغوئ د ژوند قيمت وی اؤ زۀ، مالِک خُدائ به هغوئ ياد ساتم اؤ د هغوئ حِفاظت به کوم.“

## د زېړو ښانک

۱۷ اؤ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل ۱۸ ”د وينځلو د پاره د زېړو يو ښانک جوړ کړه چې بېخ يې هم د زېړو وی. دا د خېمې اؤ د قُربان‌گاه په مېنځ کښې کېږده اؤ په هغې کښې اوبۀ واچوه. ۱۹ هارُون اؤ د هغۀ زامن به په دې اوبو خپل لاسُونه اؤ خپې وينځی ۲۰ د هغې نه مخکښې چې هغوئ خېمې ته ننوځی يا چې قُربان‌گاه ته د خوراک نذرانه پېش کولو د پاره نزدې کېږی. نو هغوئ به نه مړۀ کېږی. ۲۱ هغوئ دې خامخا خپل لاسُونه اؤ خپې وينځی، چې مړۀ نۀ شی. دا يو قانُون دے چې هغوئ اؤ د هغوئ اولاد به هميشه د پاره په دې عمل کوی.“

## د غوړولو تېل

۲۲ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ۲۳ ”دا ښې مصالحې واخله: شپږ کيلو اوبۀ شوې خوشبوداره ژاوله، درې کيلو خوشبوداره دارچينی، درې کيلو خوشبودار درړے، ۲۴ اؤ شپږ کيلو د سناد د پاڼو مصالحه، دا ټول به د منلے شوی معيار په مُطابق تَللے شوی وی. څلور ليټره د زيتُونو تېل هم ورسره مِلاؤ کړه، ۲۵ اؤ د غوړولو مُقدس تېل ترې نه جوړ کړه، داسې يې مِلاؤ کړه لکه چې د عطرو والا دا کار کړے

وی. ۲۶ په دې باندې دا څیزُونه غوړ کړه، زما د حضُور خېمه، د
تړون صندُوق، ۲۷ مېز اؤ د هغې ټول سامان، ډیوټ اؤ د هغې سامان،
د خوشبویۍ سوزولو قُربان‌ګاه، ۲۸ د سوزېدُونکې نذرانې قُربان‌ګاه،
ورسره د هغې ټول سامان، اؤ د وینځلو ښانک اؤ د دې بېخ هم په
تیلو غوړ کړه. ۲۹ په دې طریقه دا څیزُونه وقف کړه اؤ دا به بېخي
مُقدس شی اؤ هر څوک یا هر څیز چې د دې سره ولګې نو هغه به
هم مُقدس شی. ۳۰ بیا هارُون اؤ د هغۀ د زامنو سرونه په تیلو غوړ
کړه اؤ زما په خِدمت کښې یې د اِمامانو په توګه مُقرر کړه. ۳۱ بنی
اِسرائیلو ته ووایه چې دا مُقدس تېل به په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې
زما په خِدمت کښې اِستعمالېږی. ۳۲ دا به د یو عام سړی په بدن
باندې نۀ شی تویَولے اؤ تاسو به د دې په شان خوشبویۍ نۀ جوړوئ.
دا مُقدس دی اؤ تاسو به خامخا دا مُقدس ګڼئ. ۳۳ کۀ هر څوک
د دې په شان خوشبوئی جوړه کړی یا یې څوک د یو اِمام نه بغېر
په بل چا پورې ولګوی نو هغه به نور زما د خلقو نۀ شی ګڼلے.“

## خوشبوئی

۳۴ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”د دې خوشبودارو مصالحو یوه
یوه برابره حِصه واخله: ژاوله، صدف، کنډ اؤ سُوچه لوبان. ۳۵ د دې
نه عطر جوړ کړه، دا داسې مِلاؤ کړه لکه چې یو د عطرو والا دا کار
کړے وی. مالګه په کښې مِلاؤ کړه چې سُوچه اؤ مُقدس وی. ۳۶ اؤ
د دې څۀ حِصه مېده مېده کړه، دا زما د حضُور خېمې ته یوسه اؤ
دا د تړون صندُوق مخې ته کېږده، هلته به زۀ تا سره مُلاقات وکړم.

دا پُوره مُقدس وګڼئ. ۳۷ د خپلو ځانُونو د پاره داسې خوشبوئی مه جوړوئ چې دا څیزُونه په کښې په دې طریقه اِستعمال شوی وی. دا یو مُقدس څیز اؤ دا مالِک خُدائ ته وقف وګڼئ. ۳۸ کۀ څوک داسې یو څیز هم جوړ کړی اؤ د عطرو په توګه یې اِستعمال کړی نو هغه به نور زما د خلقو نۀ شی ګڼلے.“

## د مالِک خُدائ حضُور خېمې جوړولو هُنر مند کسان

**(د هِجرت کِتاب ۳۰:۳۵ - ۱:۳٦)**

# ۳۱

۱ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ۲ ”ګوره! ما د یهُوداه قبیلې، بضلی‌ایل غوره کړے دے، چې د اوری زوئ اؤ د حُور نمسے دے، ۳ اؤ ما هغه د خپل رُوح نه ډک کړے دے. ما هغۀ له پوهه، هُنر اؤ د هر قِسم هُنر په کار کښې قابلیت ورکړے دے. ٤ د سرو زرو، سپینو زرو اؤ د زېړو ښائسته کار کولو، ۵ قیمتی کاڼی پرې کولو اؤ تیارولو، د لرګی کار کولو، اؤ د هر قِسم د هُنر کار د پاره. ٦ اؤ ګوره، ما اهلیاب هم خوښ کړے دے چې د اخیسمک زوئ دے اؤ د دان د قبیلې نه دے، چې هغوئ یو ځائ کار وکړی. ما نورو ټولو هُنر مندو له هم لوئ قابلیت ورکړے دے، چې هغوئ هغه څۀ جوړ کړی چې ما حُکم ورکړے دے: ۷ زما د حضُور خېمه، د تړون صندُوق اؤ د کفارې تخت چې ورباندې پروت دے، د خېمې نور ټول سامان، ۸ مېز اؤ د هغې سامان، د سُوچه سرو زرو ډیوټ اؤ د هغې ټول سامان، د خوشبویۍ د سوزولو قُربان‌ګاه، ۹ د سوزېدُونکې نذرانې قُربان‌ګاه اؤ د هغې ټول سامان،

د وينځلو ښانک اؤ د هغې ېښخ، ۱۰ د هارُون اؤ د هغهٔ د زامنو د پاره د اِمامانو ښائسته لِباس چې کله هغوئ د اِمامانو په توګه خِدمت کوى نو دا دې استعمالوى، ۱۱ د غوړولو تېل اؤ د مُقدس ځائ د پاره خوشبويى. دا ټيزُونه دې هم هغه شان جوړ کړى چې څنګه ما تا ته حُکم کړے دے.“

## سبت، د آرام کولو ورځ

۱۲ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ له حُکم ورکړو، ۱۳ چې بنى اِسرائيلو ته ووايه، ”تاسو د سبت، يعنې د آرام کولو ورځ منئ، دا به په راتلُونکى ټولو وختُونو کښې زما اؤ ستاسو په مېنځ کښې يوه نښه وى، چې تاسو ته پته ولګې چې ما مالِک خُدائ تاسو خپل خلق جوړ کړئ. ۱۴ تاسو خامخا د سبت ورځ منئ، ځکه چې دا ستاسو د پاره مُقدسه ده. چې څوک هم دا نهٔ منى اؤ په هغه ورځ کار کوى، نو هغه دې ووژلے شى. اؤ څوک چې په هغه ورځ باندې کار کوى نو هغه به د اِسرائيليانو نه نهٔ شى ګڼلے. ۱۵ ستاسو سره د خپل کار کولو د پاره شپږ ورځې شته، خو اوومه ورځ د سبت يعنې د آرام ورځ ده، هغه ما مالِک خُدائ ته وقف شوې ده. هر څوک چې څهٔ قِسم کار هم په هغه ورځ وکړى نو هغه دې ووژلے شى. ۱۶ بنى اِسرائيل دې دا ورځ د تړون د يوې نښې په توګه همېشه د پاره منى. ۱۷ دا به همېشه د پاره زما اؤ بنى اِسرائيلو په مېنځ کښې يوه نښه وى، ځکه چې ما مالِک خُدائ په شپږ ورځو کښې آسمان اؤ زمکه جوړ کړل اؤ په اوومه ورځ ما کار بس کړو اؤ آرام مې وکړو.“ ۱۸ چې کله خُدائ

پاک د سينا په غرۀ باندې د مُوسىٰ سره خبرې خلاصې کړې، نو هغۀ له يې هغه د کاڼى دوه تختې ورکړې چې په کُومو باندې خُدائ پاک په خپله حُکمونه ليکلى وُو.

## د سرو زرو څخے

**(د ګردان کِتاب ۹: ۶-۲۹)**

**۳۲** ۱ چې کله خلقو وليدل چې مُوسىٰ د غرۀ نه راکُوز نۀ شو اؤ ډېر وخت يې هلته تېر کړو، نو هغوئ په هارُون راغونډ شول اؤ هغۀ ته يې ووئيل، "مُونږ نۀ پوهېږُو چې په دې سړى، مُوسىٰ څۀ وشول، چې مُونږ يې د مِصر نه راوويستلُو، مُونږ له خُدايان جوړ کړه چې زمُونږ لارښودنه کوى." ۲ هارُون هغوئ ته ووئيل، "د خپلو ښځو، زامنو اؤ د خپلو لُوڼو نه د سرو زرو والۍ راوباسئ اؤ ما له يې راوړئ." ۳ نو ټولو خلقو خپلې د سرو زرو والۍ راوويستلې اؤ هارُون له يې راوړې. ۴ هغۀ د هغوئ والۍ واخستلې، ويلې يې کړې اؤ د څخى په شکل يې يو بُت ترې نه جوړ کړو. هغوئ ووئيل، "اے اِسرائيليانو! دا زمُونږ خُدائ دے چې مُونږ يې د مِصر د وطن نه راوويستلُو." ۵ بيا هارُون د سرو زرو څخى په مخکښې يوه قُربان‌ګاه جوړه کړه اؤ اِعلان يې وکړو، "سبا به د مالِک خُدائ د پاره اختر وى." ۶ بل سحر وختى هغوئ څۀ ځناور راوستل چې د سوزېدُونکې نذرانې په توګه يې قربان کړى اؤ چې نور د خوړلو د سلامتۍ نذرانې په توګه پيش کړى. هغه خلق د خوړولو اؤ څښلو د پاره کښېناستل اؤ بيا هغوئ پاڅېدل، د مستۍ اؤ عياشۍ سره ګډېدل.

۷ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، "سمدستی واپس لاندې کُوز شه، ځکه چې ستا هغه خلق د ګُناه په وجه خراب شوی دی، چې تا د مِصر نه راویستلی دی. ۸ چې په کُومه لاره ما هغوئ له د عمل کولو حُکم ورکړے وو هغوئ زر د هغې نه بې لارې شوی دی، هغوئ د ویلې شوی سرو زرو نه څخرے جوړ کړے دے، د هغهٔ عِبادت یې کړے دے اؤ قُربانی یې ورته پیش کړی دی. هغوئ وائی چې هغه یې خُدائ دے چا چې د مِصر د وطن نه راویستلی دی. ۹ ما ته پته ده چې هغوئ څومره ضدی خلق دی. ۱۰ اوس، تهٔ ما مهٔ منعې کوه. زهٔ هغوئ ته په قهر یم اؤ هغوئ تباه کوم. بیا به زهٔ تا اؤ ستا د اولاد نه یو لوئ قوم جوړ کړم." ۱۱ خو مُوسیٰ مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک ته سوال کولو اؤ ورته یې ووئیل، "مالِکه خُدایه، تهٔ ولې خپلو خلقو ته دومره په قهر یې، چې هغوئ دې د خپل لوئ طاقت اؤ خپل لوئ قُدرت سره د مِصر د وطن نه راوویستل؟ ۱۲ مِصریانو ته دې د پېغور کولو موقع مِلاؤ شی څهٔ چې ووائی چې تا خپل خلق د مِصر نه د دې د پاره راوویستل چې په غرُونو کښې یې ووژنې اؤ هغوئ بېخی تباه کړې؟ خپل قهر بس کړه، خپله فېصله بدله کړه اؤ په خپلو خلقو دا تباهی مهٔ راوله. ۱۳ خپل خِدمت کوُونکی اِبراهیم، اِسحاق اؤ یعقُوب رایاد کړه، تا چې د هغوئ سره کُوم پوخ لوظ کړے دے هغه رایاد کړه چې هغوئ له به دومره ډېر اولاد ورکړې چې په آسمان کښې څومره ستوری دی اؤ چې د هغوئ اولاد له به هغه ټول وطن ورکوې چې تا وعده کړې ده چې هغه به همېشه د پاره د هغوئ وی." ۱۴ نو خُدائ پاک خپله فېصله بدله کړه اؤ په

خپلو خلقو يې هغه تباهى رانهٔ وستله د کُومې په باره کښې چې هغهٔ وئيلى وُو. ۱۵ مُوسىٰ واپس د غرهٔ نه راکُوز شو، د ځان سره يې هغه د کاڼو دواړه تختې راوړې چې په دواړو مخونو يې حُکمونه ليکلے شوى وُو. ۱۶ خُدائ پاک په خپله هغه تختې تيارې کړې وې اؤ حُکمونه يې ورباندې ليکلى وُو. ۱۷ چې خلقو چغې وهلې نو يشوَع د خلقو شور واؤريدو اؤ مُوسىٰ ته يې ووئيل، ”په خېمو کښې د جنګړې شور دے.“ ۱۸ مُوسىٰ ووئيل، ”دا نهٔ د فتحې اؤ نهٔ د شکست آواز معلُومېږى، زهٔ چې څهٔ اورم دا د هغوئ د سندرو آواز دے.“ ۱۹ چې کله مُوسىٰ خېمو ته ښهٔ رانزدې شو اؤ هغه څخے اؤ د خلقو ګډېدل يې وليدل، نو سخت په قهر شو. هغهٔ چې کُومې تختې روانې کړې وې هغه يې هلته د غرهٔ په لمن کښې وغورزولې اؤ ماتې يې کړې. ۲۰ هغوئ چې کُوم څخے جوړ کړے وو هغه يې راواخستلو، په اور يې ويلې کړو اؤ د اوړو په شان يې مېده مېده کړو اؤ په اوبو کښې يې واچولو. بيا هغهٔ دا په بنى اِسرائيلو باندې وڅښلو. ۲۱ هغهٔ هارُون ته ووئيل، ”دې خلقو درباندې څهٔ کړى دى، چې په دومره سخته ګُناه دې آخته کړى دى؟“ ۲۲ هارُون ورته ووئيل، ”زما نيکه! ما ته مهٔ په قهر کېږه، تا ته پته ده چې دا خلق څومره بدکاره دى. ۲۳ هغوئ ما ته ووئيل چې مُونږ ته پته نشته چې په دې سړى، مُوسىٰ باندې څهٔ شوى دى، چې مُونږ يې د مِصر وطن نه راوويستلُو، راځئ، چې خُدايان جوړ کړُو چې مُونږ ته لارښودنه کوى. ۲۴ ما هغوئ ته ووئيل چې ما له خپل د سرو زرو کالى راوړئ اؤ چې د چا سره وُو نو هغه يې راوويستل اؤ ما له يې راکړل. ما هغه کالى په اور کښې واچول اؤ

دا ښخښے ترې نه پخپله جوړ شو.“ ﴿۲۵﴾ مُوسیٰ ولیدل چې هارُون هغه خلق خپلې خوښې ته پرېښی وُو اؤ د قابُو نه یې وتلی وُو اؤ د خپلو دُښمنانو په مخکښې یې خپل ځانُونه شرمولی وُو. ﴿۲۶﴾ مُوسیٰ د خېمو ځائ د دروازې په خُله کښې ودرېدلو اؤ آواز یې وکړو، ”هر څوک چې د مالِک خُدائ سره وی، ما له دې راشی!“ نو ټول لیویان هغهٔ ته راغونډ شول، ﴿۲۷﴾ نو هغهٔ ورته ووئیل، ”مالِک خُدائ، د اِسرائیلیانو خُدائ پاک تاسو هر یو کس ته دا حُکم کوی چې خپله تُوره راوباسئ اؤ د خېمو د یو سر نه تر بل سره پورې ځئ اؤ هر یو کس دې خپل ورُونه، خپل دوستان اؤ خپل ګاونډیان ووژنی.“ ﴿۲۸﴾ لیویانو د مُوسیٰ خبره ومنله اؤ تقریباً درې زره کسان یې په هغه ورځ ووژل. ﴿۲۹﴾ مُوسیٰ لیویانو ته ووئیل، ”نن تاسو خپل ځانُونه د مالِک خُدائ په خِدمت کښې د اِمامانو په توګه وقف کړی دی، چې تاسو خپل زامن اؤ ورُونه ووژل، نو مالِک خُدائ تاسو له خپل برکت درکړے دے.“ ﴿۳۰﴾ په ورپسې ورځ مُوسیٰ خلقو ته ووئیل، ”تاسو یوه لویه ګُناه کړې ده. خو زهٔ به یو ځل بیا مالِک خُدائ له غرهٔ ته وخېژم، کېدے شی چې زهٔ ستاسو د ګُناه کفاره ادا کړم.“ ﴿۳۱﴾ نو مُوسیٰ واپس مالِک خُدائ ته ورَغلو اؤ وې وئیل، ”افسوس! دې خلقو یوه لویه ګُناه کړې ده. هغوئ د سرو زرو نه خُدائ جوړ کړے دے اؤ د هغهٔ عِبادت یې کړے دے. ﴿۳۲﴾ اوس زهٔ تا ته سوال کوم چې د هغوئ ګُناه معاف کړه، خو کهٔ تا داسې ونهٔ کړل، نو بیا تهٔ زما نُوم د هغه کِتاب نه وران کړه چې په هغه کښې دې د خپلو خلقو نومُونه لیکلی دی.“ ﴿۳۳﴾ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”زهٔ به د خپل کِتاب نه د هغوئ نومُونه وران کړم

چا چې زما خِلاف گُناه کړې ده. ۳۴ اوس لاړ شه، خلق هغه ځائ ته
بوځه چې ما درته ښودلے دے. اؤ گوره! زما فِرښته به ستا لارښودنه
کوی، خو هغه وخت راروان دے چې زۀ به دې خلقو له د هغوئ د
گُناه سزا ورکړم.“ ۳۵ نو مالِک خُدائ په هغه خلقو يو وبا راولېږله،
ځکه چې د هغوئ په وجه هارُون د سرو زرو شخے جوړ کړے وو.

## د مالِک خُدائ د سينا غرۀ نه د تلو حُکم ورکول

# ۳۳

۱ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”تۀ اؤ دا خلق
چې تا د مِصر د وطن نه راوويستل، د دې ځائ نه
لاړ شئ اؤ هغه زمکې ته لاړ شئ د کُومې چې ما اِبراهيم، اِسحاق
اؤ يعقُوب اؤ د هغوئ اولاد له د ورکولو لوظ کړے دے. ۲ زۀ
به ستاسو نه مخکښې يوه فِرښته ولېږم اؤ زۀ به کنعانيان، اموريان،
حِتيان، فرزيان، حِويان اؤ يبوسيان وشړم. ۳ تاسو هغه زرخېزې
زمکې له ورروان يئ. خو زۀ به په خپله ستاسو سره نۀ ځم، ځکه
چې تاسو ضدی خلق يئ اؤ کېدے شی چې زۀ تاسو په لاره کښې
تباه کړم.“ ۴ چې کله خلقو دا واؤرېدل، نو هغوئ په ژړا شروع
وکړه اؤ هغوئ نور کالی اچول بند کړل. ۵ ځکه چې مالِک خُدائ
مُوسىٰ ته وئيلې وُو چې هغوئ ته ووايه چې، ”تاسو ضدی خلق يئ.
کۀ زۀ د يو ساعت د پاره هم ستاسو سره تلے وے، نو ما به تاسو
تباه کړی وئ. اوس خپل کالی لرې کړئ، نو زۀ به فېصله وکړم
چې ستاسو سره څۀ چل وکړم.“ ۶ چې کله بنی اِسرائيل د سينا
غرۀ نه لاړل، نو هغوئ نور کالی اچول بس کړل.

## د مالِک خُدائ د حضُور خېمه

۷ چې کله به هم اِسرائيليانو خېمې ودرولې، نو مُوسىٰ به مُقدسه
خېمه وړله اؤ د خېمو د ځائ نه لرې لرې به يې ودروله. اؤ هغې ته
به يې د مالِک خُدائ د حضُور خېمه نُوم اخستلو اؤ چې چا به هم
د مالِک خُدائ رضا معلُومول غوښتل نو هغه به ورتللو. ۸ چې کله
به هم مُوسىٰ هلته تَللو، نو خلق به پاڅېدل اؤ د خپلو خېمو په خُله
کښې ودرېدل اؤ مُوسىٰ ته به يې تر هغې پورې کتل چې ورننه به
وتلو. ۹ څنګه چې به مُوسىٰ دننه تلو نو د وريځې ستن به لاندې
راتلله اؤ د خېمې د دروازې په خُله کښې به ودرېدله اؤ مالِک خُدائ
به د وريځې نه د مُوسىٰ سره خبرې کولې. ۱۰ چې څنګه به خلقو د
خېمې د دروازې په خُله کښې د وريځې ستن وليدله، نو هر يو کس
به پاڅېدلو اؤ د خپلې خپلې خېمې د دروازې په خُله کښې به يې
سجده کوله. ۱۱ مالِک خُدائ به د مُوسىٰ سره مخامخ خبرې کولې،
لکه چې يو کس يې د خپل ملګرى سره کوى. بيا به مُوسىٰ خېمو ته
واپس راتلو. خو هغه ځلمے، د نون زوئ، يشوَع چې د هغهٔ مددګار
وو، هغه به په خېمه کښې ايسارېدلو.

## د حضرت مُوسىٰ د مالِک خُدائ سره خبرې کول

۱۲ مُوسىٰ مالِک خُدائ ته ووئيل، "ګوره، تا ما ته وئيلى دى چې
دا خلق به هغه زمکې ته بوځم، خو تا ما ته دا ونهٔ وئيل چې زما
سره به تهٔ څوک لېږې. تا ما ته وئيلى دى چې تا زهٔ ښهٔ پېژنم اؤ

ستا نه رضا یم. ۱۳ اوس زۀ تا ته سوال کوم، تۀ ما ته خپلې ارادې
وښايه چې زۀ ستا خِدمت وکړم اؤ تا رضا وساتم. دا هم ياد ساته
چې تا دا قوم خپل خلق ګڼلی دی." ۱۴ مالِک خُدائ ووئيل، "زۀ
به په خپله تا سره ځم اؤ زۀ به تا له آرام درکړم." ۱۵ مُوسیٰ ورته
ووئيل، "کۀ تۀ مُونږ سره نۀ ځې، نو مُونږ د دې ځائ نه مۀ بوځه.
۱۶ چې تۀ مُونږ سره نۀ ځې نو چا ته به څنګه پته ولګې چې تۀ
د خپلو خلقو اؤ زما نه رضا يې؟ تۀ چې مُونږ سره يې، نو چې د
زمکې په مخ څومره خلق دی د هغوئ نه به مُونږ بل شان شُو."
۱۷ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، "زۀ به هم هغه شان وکړم لکه
چې تا څنګه وئيلی دی، ځکه چې تا زۀ ښۀ پيژنم اؤ زۀ ستا نه
رضا يم." ۱۸ بيا مُوسیٰ ووئيل، "ما له اِجازت راکړه چې زۀ ستا د
حضُور سپين جلال ووينم." ۱۹ مالِک خُدائ ووئيل، "زما شان اؤ
شوکت به ستا په مخکښې تېر شی اؤ ستا په مخکښې به زۀ خپل
مُقدس نُوم واخلم کُوم چې مالِک خُدائ دے. زۀ مالِک خُدائ يم
اؤ څوک چې زۀ غوره کړم زۀ هغوئ ته خپل رحم اؤ ترس ښايم.
۲۰ تۀ به زما ديدار ونۀ کړې، ځکه چې دا نۀ شی کېدے چې څوک
ما وګوری اؤ ژوندی پاتې شی، ۲۱ خو ګوره، زما سره نزدې يو ځائ
دے، تۀ هلته په يو ګټ باندې ودرېدے شې. ۲۲ کله چې زما د
حضُور سپين جلال هلته تېرېږی، نو زۀ به تا د ګټ په يو چاؤد کښې
واچوم اؤ زۀ به تا په خپل لاس سره تر هغې پورې پټ کړم چې تېر
شم. ۲۳ بيا به زۀ خپل لاس لرې کړم اؤ تۀ به زما شا ووينې خو زما
مخ به نۀ ليدلے کېږی."

## د کاڼو نوې تختې

**(د ګردان کِتاب ١٠: ١-٥)**

# ٣٤

١ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”د اولنو په شان
دوه د کاڼی تختې جوړې کړه اؤ زۀ به په هغې باندې
هم هغه حُکمونه لیکم کُوم چې په اولنو تختو باندې وُو، کومې چې
تا ماتې کړې وې. ٢ سبا سحر تیار شه اؤ د سینا غرۀ ته راوخېژه اؤ
د غرۀ په سر ما ته حاضر شه. ٣ هیڅ څوک به تا سره نۀ راخېژی،
په ټول غرۀ باندې چې یو کس هم ونۀ لیدلے شی، اؤ نۀ چې د غرۀ
په لمن کښې ګډې یا څاروی وڅرېږی.“ ٤ نو مُوسیٰ د اولنو په
شان دوه د کاڼو نورې تختې جوړې کړې اؤ سحر وختی هغۀ دا د
سینا غرۀ ته د ځان سره وخېژولې، لکه څنګه چې مالِک خُدائ حُکم
ورکړے وو. ٥ اؤ مالِک خُدائ په وریځ کښې راکُوز شو اؤ د هغۀ
سره هلته ودرېدلو اؤ خپل مُقدس نُوم ”مالِک خُدائ“ یې واخستلو.
٦ مالِک خُدائ د هغۀ په مخکښې تېر شو اؤ دا آواز یې وکړو، ”زۀ،
مالِک خُدائ، هغه خُدائ پاک یم چې د رحم اؤ ترس نه ډک یم،
په آسانئ سره نۀ غُصه کېږم اؤ ډېره مینه اؤ وفاداری ښایم. ٧ زۀ د
خپلو خلقو د زرګُونو نسلُونو سره نۀ بدلېدُونکې مینه کوم اؤ زۀ بدی،
بغاوت اؤ ګُناه هم معاف کوم. خو زۀ مجرم نۀ معاف کوم خو کۀ
څوک جُرم وکړی نو زۀ به د هغوئ بچو، نمسو دریم اؤ څلورم نسل
له هم سزا ورکوم.“ ٨ مُوسیٰ سمدستی خپل سر زمکې ته ټیټ کړو
اؤ سجده یې وکړه. ٩ هغۀ ووئیل، ”اے مالِکه خُدایه! کۀ تۀ په

رښتيا زما نه رضا يې زۀ تا ته سوال کوم چې تۀ زمُونږ سره لاړ شه،
زمُونږ دا خلق ضديان دی، زمُونږ بدی اؤ ګُناه معاف کړه اؤ مُونږ د
خپلو خلقو په توګه قبُول کړه.“

## د تړون نوی کېدل

**(د هِجرت کِتاب ۲۳: ۱٤-۱۹، د ګردان کِتاب ۷: ۱-۵، ۱٦: ۱-۱۷)**

۱۰ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ”اوس زۀ د اِسرائيليانو د خلقو
سره يو تړون کوم. زۀ به د دوئ په مخ کښې داسې عجيبه عجيبه
کارُونه وکړم چې په ټوله دُنيا کښې به په يو ځائ کښې اؤ په يو قوم
کښې کله هم نۀ وی شوی. ټول خلق به وګوری چې زۀ، مالِک
خُدائ څۀ عجيبه کارُونه کولے شم، زۀ ستاسو د پاره لوئ لوئ کارُونه
کوُونکے يم. ۱۱ نن چې زۀ تاسو له کُوم قانُون درکوم هغه ومنئ.
چې تاسو مخ په وړاندې ځئ نو زۀ به اموريان، کنعانيان، حِويان،
فرزيان، حِتيان اؤ يبوسيان ستاسو د مخې نه لرې کړم. ۱۲ پام کوئ
چې د هغه زمکې د خلقو سره تړون ونۀ کړئ چې تاسو ور روان يئ،
ځکه چې دا به ستاسو د پاره يو دام جوړ شی. ۱۳ د هغوئ د قُربانۍ
ځايُونه وران کړئ، د هغوئ مُقدسې ستنې تباه کړئ اؤ هغوئ له د
اشيرې د بُت نښې راوغورزوئ. ۱٤ د بل خُدائ عِبادت مۀ کوئ،
ځکه چې د مالِک خُدائ نُوم غېرتی دے، هغه غېرتی خُدائ پاک
دے. ۱۵ د هغه زمکې د خلقو سره چې تړون ونۀ کړئ، ځکه چې
کله هغوئ د خپلو خُدايانو عِبادت کوی اؤ هغوئ ته قُربانۍ پېش
کوی، نو تاسو له به هم دعوت درکړی چې د هغوئ سره شريک

شئ، تاسو به په آزمېښت کښې پرېوزئ اؤ هغه خوراک وخورئ کُوم چې خپلو خُدايانو ته پېش کوى. ١٦ کېدے شى چې د هغوئ لُوڼه تاسو خپلو زامنو له وادۀ کړئ، نو د هغوئ په وجه به ستاسو زامن نافرمانه شى اؤ د هغوئ د خُدايانو عِبادت به شروع کړى. ١٧ د ويلې کړے شوى څيزُونو نه خُدايان مۀ جوړوئ اؤ مۀ يې عِبادت کوئ. ١٨ تاسو د پتيرې ډوډۍ اختر کوئ. لکه څنګه چې ما حُکم درکړے دے، د ابيب په مياشت کښې اووۀ ورځې پتيره ډوډۍ خورئ، ځکه چې دا هغه مياشت ده چې تاسو په کښې د مِصر نه راووتلئ. ١٩ هر يو مشر زوئ اؤ هر وړومبے پېدا شوے نر څاروے زما دے، ٢٠ خو تاسو به د هر وړومبنى پېدا شوى خر په بدل کښې يو ګډُورے پېش کوئ. خو کۀ تاسو دا واپس نۀ اخلئ، نو څټ يې مات کړئ. هر يو وړومبے پېدا شوے زوئ به په بيعه اخلئ. هيڅ څوک به زما په حضُور کښې خالى لاسُونه نۀ حاضرېږى. ٢١ ستاسو سره شپږ ورځې شته چې په هغې کښې خپل کار کولے شئ، خو په اوومه ورځ کار مۀ کوئ، د يوې اؤ د لَو په وخت هم تاسو په اوومه ورځ آرام کوئ. ٢٢ چې کله تاسو د غنمو وړومبنے فصل رېبل شروع کوئ نو د لَو کولو اختر کوئ اؤ په خزان کښې د فصل راټولولو اختر کوئ. ٢٣ په کال کښې درې ځل ستاسو ټول نران دې زما مالِک خُدائ، د اِسرائيليانو خُدائ پاک عِبادت له راځى. ٢٤ د هغې نه پس چې کله زۀ قومُونه ستاسو د مخې نه لرې کړم اؤ ستاسو علاقه زياته کړم، نو د دې درېو اخترُونو په دوران کښې به د هيچا دا طمع پېدا نۀ شى چې ستاسو زمکه ونيسى. ٢٥ کله چې تاسو ما ته يو ځناور قُربانى

کوئ نو خمبيره شوې ډوډۍ ورسره مۀ پېش کوئ. کُوم ځناور چې د فسحې په اختر کښې حلال شوی وی نو د هغې يوه برخه هم په ورپسې سحر پورې مۀ پرېږدئ. ۲٦ هر کال د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک کور ته د خپلې زمکې نه رېبلے شوې وړومبۍ غله راوړئ. د چېلۍ بچے د خپلې مور په پيو کښې مۀ پخوئ." ۲۷ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، "دا خبرې وليکه، ځکه چې د دې حُکمُونو په بُنياد باندې زۀ ستا اؤ د اِسرائيليانو سره يو تړون کوم." ۲۸ مُوسیٰ هلته د مالِک خُدائ سره څلوېښت ورځې اؤ شپې ايسار شو، هغۀ نۀ څۀ خوړل اؤ نۀ يې څۀ څښل. هغۀ په هغه تختو باندې د تړون خبرې يعنې لس حُکمونه وليکل.

## د حضرت مُوسیٰ د سينا غرۀ نه راکُوزېدل

۲۹ چې کله مُوسیٰ د لسو حُکمُونو د دوه تختو سره د سينا غرۀ نه راکُوز شو، نو د هغۀ مخ ځلېدلو ځکه چې هغۀ د مالِک خُدائ سره خبرې کړې وې، خو هغه ترې نه خبر نۀ وو. ۳۰ هارُون اؤ ټولو خلقو مُوسیٰ ته وکتل اؤ وې ليدل چې د هغۀ مخ ځلېدلو اؤ هغوئ مُوسیٰ له نزدې ورتلو نه ېرېدل. ۳۱ خو مُوسیٰ هغوئ راوغوښتل، نو هارُون اؤ د قوم مشران هغۀ له راغلل اؤ مُوسیٰ د هغوئ سره خبرې وکړې. ۳۲ د هغې نه پس، ټول بنی اِسرائيل د هغۀ نه راټول شول اؤ مُوسیٰ هغوئ له هغه ټول حُکمونه ورکړل کُوم چې مالِک خُدائ د سينا په غرۀ باندې ورکړی وُو. ۳۳ چې کله مُوسیٰ د هغوئ سره خبرې ختمې کړې، نو هغۀ په پړده باندې خپل مخ پټ کړو. ۳٤ چې کله

هم مُوسیٰ د مالِک خُدائ د حضُور خېمې ته ننوتلو، نو هغهٔ به پړده
لرې کوله. اؤ چې هغه به راووتلو، نو بنی اِسرائيلو ته به يې هغه هر
څهٔ وئيل چې هغهٔ له به يې د وئيلو حُکم ورکړے شوے وو، ۳۵ اؤ
هغوئ به دا ليدل چې د مُوسیٰ مخ ځلېږی. نو هغهٔ به په خپل مخ
واپس هغه پړده اچوله تر هغه وخت پورې چې بل ځل به هغه د مالِک
خُدائ سره خبرو کولو له تلو.

## د سبت ورځ د پاره اصُول

# ۳۵

۱ بيا مُوسیٰ د بنی اِسرائيلو ټول قوم راغونډ کړو اؤ
هغوئ ته يې ووئيل، "تاسو به د مالِک خُدائ په دې
حُکمُونو باندې عمل کوئ: ۲ د خپل کار د پاره ستاسو سره شپږ
ورځې شته، خو اوومه د سبت مُقدسه ورځ يعنې د آرام ورځ ده،
هغه ما مالِک خُدائ ته وقف شوې ده. هر څوک چې څهٔ قِسم کار
هم په هغه ورځ وکړی نو هغه دې ووژلے شی. ۳ د سبت په ورځ
په خپلو کورُونو کښې اور هم مهٔ بلوئ."

## د مُقدسې خېمې د پاره سامان راجمع کېدل

**(د هِجرت کِتاب ۲۵: ۱-۹)**

۴ مُوسیٰ د بنی اِسرائيلو ټول قوم ته ووئيل، "مالِک خُدائ د دې
حُکم کړے دے: ۵ مالِک خُدائ ته يوه نذرانه پېش کړئ. د چا
زړهٔ چې غواړی نو داسې څيزُونه په نذرانه کښې راوړلے شئ لکه سرهٔ
زر، سپين زر، يا زيړ، ۶ مهينه لټه، د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور

رنګ وړی، د چېلو د وړی نه جوړه شوې کپړا، ⁽⁷⁾ سره رنګ شوې د ګډو څرمن، ښه څرمن، د کیکر لرګی، ⁽⁸⁾ د ډیوو د پاره تېل، د غوړولو تېلو د پاره اؤ د خوشبویۍ د پاره مصالحې، ⁽⁹⁾ سُلیمانی کاڼی اؤ نور قیمتی کاڼی چې د مشر اِمام په پېش بند اؤ د هغۀ د سینې جېب باندې ولګولے شی.

## د مالِک خُدائ د حضُور خېمې د پاره سامان

**(د هِجرت کِتاب ۳۹: ۳۲-۴۳)**

⁽¹⁰⁾ د ستاسو ټول ماهِر خلق دې راشی اؤ هغه هر څۀ دې جوړ کړی د کُوم چې مالِک خُدائ حُکم درکړے دے: ⁽¹¹⁾ خېمه، د دې پړده اؤ د دې پاسنۍ پړده، د دې کُنډې، چوکاټُونه، د دې دُرشلې، ستنې اؤ د دې خپې، ⁽¹²⁾ د ټرون صندُوق، د دې بازوګان، د دې د کفارې تخت اؤ هغه پړده چې وربانډې پټېږی، ⁽¹³⁾ مېز اؤ د هغې ټول سامان، خُدائ پاک ته پېش کړے شوې ډوډۍ، ⁽¹⁴⁾ د رڼا د پاره ډیوټ اؤ د دې ټول سامان، ډیوې سره د تېلو، ⁽¹⁵⁾ د خوشبویۍ سوزولو د پاره قُربان‌ګاه اؤ د دې بازوګان، د غوړولو تېل، د خوشبویۍ مصالحه، خېمې ته د ننوتلو دروازې د پاره پړده، ⁽¹⁶⁾ قُربان‌ګاه چې په کُومه باندې نذرانې سوزولے شی، ورسره د دې د زېړو جالی، د دې بازوګان اؤ د دې ټول سامان، د وینځلو د پاره ښانک اؤ د دې بېخ، ⁽¹⁷⁾ د دربار د پاره پړدې، د دې ستنې اؤ خپې، دربار ته د ننوتلو د پاره پړده، ⁽¹⁸⁾ د خېمې اؤ د دربار د پړدو د پاره موړی اؤ رسی، ⁽¹⁹⁾ اؤ د اِمامانو ښائسته لِباس چې په مُقدس ځائ کښې د خِدمت په

وخت اغوستلے شی یعنې د هارُون اؤ د هغۀ د زامنو د پاره مُقدس لِباس چې د اِمامانو په توګه خِدمت کوی.“

## د خلقو نذرانې راوړل

(۲۰) د بنی اِسرائیلو ټول قوم د مُوسیٰ د حضُور نه لاړو، (۲۱) اؤ چې د چا زړۀ هم غوښتل نو هغوئ مالِک خُدائ ته یوه نذرانه راوړه چې د مالِک خُدائ د حضُور خېمه جوړه شی. هغوئ هغه هر څیز راوړو د کُوم چې په عِبادت کښې اؤ د اِمامانو د پاره مُقدس لِباس جوړولو کښې ضرُورت وو. (۲۲) چې د چا زړۀ هم غوښتل، ټولو نرانو اؤ ښځو ښائسته ستنې، والی، ګوتې، امېلُونه اؤ د هر قِسم د سرو زرو کالی راوړل اؤ مالِک خُدائ ته یې وقف کړل. (۲۳) هر یو کس چې د هغۀ سره مهینه لټه وه، د آسمانی رنګ، بانجانی، یا د سُور رنګ وړیَ، د چېلو د وړیَ نه جوړه کپړه، سره رنګ شوې د ګډو څرمن، یا ښه څرمن وه نو را یې وړل. (۲۴) د هر چا هم چې د سپینو زرو یا د زیړو د پیش کولو وس وو نو هغوئ د مالِک خُدائ د پاره خپلې نذرانې راوړې اؤ چې د چا سره د کیکر لرګی وُو چې هغه د څۀ کار د پاره هم اِستعمالېدلے شو نو را یې وړل. (۲۵) ټولو ماهِرو ښځو د مهینې لټې تار اؤ د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ وړیَ تار راوړلو چې هغوئ په خپله جوړ کړے وُو. (۲۶) ټولو ماهِرو ښځو چې د هغوئ زړۀ غوښتل د چېلو د وړیَ نه جوړه کپړه یې هم راوړه. (۲۷) مشرانو سُلیمانی کاڼی اؤ نور قیمتی کاڼی راوړل چې په پیش بند اؤ د سینې په جېب یې ولګوی. (۲۸) اؤ مصالحې اؤ د ډیوو د پاره تېل، د غوړولو تېل اؤ

د خوشبويۍ مصالحې يې هم راوړې. ۲۹ ټولو بنی اِسرائيلو، نرانو اؤ
ښځو چې د چا زړۀ هم غوښتل مالِک خُدائ ته يې د هغه کار د پاره
خپلې نذرانې راوړې چې مالِک خُدائ مُوسىٰ ته حُکم ورکړے وو.

## د حضرت مُوسىٰ ماهِر کسان مُقررول

**(د هِجرت کِتاب ۳۱: ۱-۱۱)**

۳۰ مُوسىٰ بنی اِسرائيلو ته ووئيل، "مالِک خُدائ د يهُوداه د قبيلې
بضلیايل غوره کړے دے، چې د اوری زوئ اؤ د حُور نمسے دے.
۳۱ هغه خُدائ پاک د خپل رُوح نه ډک کړے دے اؤ هغۀ له يې پوهه،
هُنر اؤ د هر قِسم هُنر په کار کښې قابليت ورکړے دے. ۳۲ د سرو زرو،
سپينو زرو اؤ زيړو ښائسته کار کولو د پاره، ۳۳ د قيمتی کاڼی پرې کولو
اؤ تيارولو، د لرګی کار کولو، اؤ د هر قِسم د هُنر کار د پاره. ۳۴ مالِک
خُدائ هغۀ له اؤ د دان قبيلې، د اخيسمک زوئ اهلياب له هم دا قابليت
ورکړے دے چې خپل د هُنر کارُونه نورو ته وښائی. ۳۵ هغۀ هغوئ له
په هر قِسم کار کښې مهارت ورکړے دے چې هغوئ د زرګرانو، د
ماهِرانو اؤ د مهينې لټې، د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ وړی،
اؤ د نورې کپړې د جوړونکی په توګه کار وکړی. هغوئ د هر قِسم
کار مهارت لرُونکی کاريګران اؤ د نوو څيزُونو جوړولو اُستاذان دی.

## ۳٦

۱ بضلیايل، اهلياب اؤ نور ټولو ماهِرو کسانو له مالِک
خُدائ مهارت اؤ پوهه ورکړې ده چې هغوئ هغه هر
څۀ د مالِک خُدائ د حُکم په مُطابق جوړ کړی چې په مُقدسه خېمه
کښې يې ضرُورت وی."

## د خلقو ډېرې زياتې نذرانې راوړل

۲ بيا مُوسىٰ بضلیايل، اهلياب اؤ نور ټول ماهِر کسان راوغوښتل
چا له چې مالِک خُدائ قابليت ورکړے وو اؤ چې د هغوئ زړۀ
غوښتل چې کار وکړی اؤ مُوسىٰ ورته ووئيل چې کار شروع کړئ.
۳ هغوئ د مُوسىٰ نه هغه ټولې نذرانې اخستلې کُومې چې بنی اِسرائيلو
د مُقدسې خېمې جوړولو د پاره راوړې وې. خو بنی اِسرائيلو به هر
سحر خپلې نذرانې مُوسىٰ له راوړلې. ٤ نو هغه ماهِر کسان د خپل
کار نه لاړل. ۵ اؤ مُوسىٰ ته يې ووئيل، "مالِک خُدائ چې د کُوم
کار کولو حُکم کړے دے خلق د هغه ضرُورت نه زياتې نذرانې
راوړی." ٦ نو مُوسىٰ اِعلان وکړو چې دا پيغام دې ټولو خېمو ته
ورسولے شی چې نور به هيڅ څوک د مُقدسې خېمې د پاره هيڅ هم
نۀ راوړی، نو خلق د نورو نذرانو راوړلو نه منع کړے شول. ۷ کُوم
سامان چې د مخکښې نه راوړلے شوے وو هغه د ټول کار ختمولو
نه ډېر زيات وو.

## د مالِک خُدائ د حضُور خېمې جوړېدل

**(د هِجرت کِتاب ۲٦: ۱-۳۷)**

۸ د ټولو نه تکړه کسانو د مالِک خُدائ د حضُور خېمه جوړه
کړه. هغوئ دا د مهينې لټې د لسو پردو نه جوړه کړه چې د آسمانی
رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ وړی نه جوړې وې اؤ په دې باندې
په ګُلکاری کښې د وزرو والا مخلُوق جوړ کړے شوی وُو. ۹ ټولې

پړدې په يو ناپ وې هره يوه څوارلس ګزه اُوږده اؤ دوه ګزه پلنه وه. ۱۰ هغوئ پينځۀ پړدې يو ځائ وګنډلې اؤ هغه نورې پينځۀ يې هم يو ځائ وګنډلې. ۱۱ هغوئ په هره جوړه کښې د پړدې په بهرنۍ غاړه د آسمانى رنګ د کپړې کړۍ جوړې کړې. ۱۲ هغوئ د وړومبۍ جوړې په وړومبۍ پړده پنځوس کړۍ اؤ پنځوس کړۍ د دويمې جوړې په آخرى پړده جوړې کړې چې دا کړۍ يو بل ته مخامخ وې. ۱۳ پنځوس د سرو زرو کُنډې يې جوړې کړې اؤ هغه پړدې يې د يوې بلې سره مِلاؤ کړې نو داسې ټوله مُقدسه خېمه يو ځائ شوه. ۱۴ بيا هغوئ د چېلو د وړۍ نه جوړې شوې يولس پړدې واخستلې اؤ د خېمې پټولو د پاره يې يوه پړده ترې نه جوړه کړه. ۱۵ هغوئ دا ټولې په يو ناپ جوړې کړې چې پينځلس ګزه اُوږدې اؤ دوه ګزه پلنې وې. ۱۶ هغوئ پينځۀ پړدې يو ځائ وګنډلې اؤ هغه نورې شپږ يې هم يو ځائ وګنډلې. ۱۷ د يوې جوړې د آخرى پړدې په غاړه يې پنځوس کړۍ جوړې کړلې اؤ د هغه بلې جوړې په غاړه يې هم پنځوس کړۍ جوړې کړلې. ۱۸ هغوئ د زېړو پنځوس کُنډې جوړې کړې اؤ هغه يې په کړو کښې واچولې چې هغه دوه جوړې يې سره مِلاؤ کړې نو داسې خېمه وتړلے شوه. ۱۹ هغوئ دوه نورې پړدې هم جوړې کړې، يوه پړده يې د ګډو د څرمنې نه چې سُور رنګ ورکړے شوے وو اؤ بله يې د ښې څرمنې نه جوړه کړه، چې د پاس نه پرې خېمه پټه کړے شى. ۲۰ هغوئ د خېمې د ودرولو د پاره د کيکر د لرګى چوکاټُونه جوړ کړل. ۲۱ هر يو چوکاټ پينځلس فُټه اُوږد وو اؤ اووۀويشت اِنچې پلن وو، ۲۲ سره د دوه يو شان تختو، چې دا چوکاټُونه په خپلو کښې ونښلوى. د

ټولو چوکاټُونو دا تختې وې. ۲۳ هغوئ د خېمې جنُوبى طرف د پاره شل چوکاټُونه جوړ کړل ۲۴ اؤ څلوېښت د سپينو زرو خپې چې ورلاندې شى، د هر يو چوکاټ لاندې دوه دوه خپې چې هغه دوه وړاندينى حِصې يې نيولې وې. ۲۵ هغوئ د خېمې شمالى طرف د پاره هم شل چوکاټُونه جوړ کړل ۲٦ اؤ څلوېښت د سپينو زرو خپې، چې د هر يو چوکاټ لاندې دوه دوه وې. ۲۷ د نمرپرېواتۀ په طرف خېمې شا ته هغوئ شپږ چوکاټُونه جوړ کړل ۲۸ اؤ دوه چوکاټُونه يې د خېمې د ګوټُونو د پاره هم جوړ کړل. ۲۹ د ګوټُونو دا چوکاټُونه په ښکته کښې مِلاؤ وُو اؤ د لاندې نه واخله تر سر پورې خپلو کښې انښتى وُو. دا دوه چوکاټُونه هم د ګوټُونو د دوه چوکاټُونو په شان جوړ شوى وُو. ۳۰ نو اتۀ چوکاټُونه اؤ شپاړس د سپينو زرو خپې وې، چې د هر چوکاټ لاندې دوه دوه وې. ۳۱ هغوئ د کيکر د لرګى نه پينځلس لاړى جوړ کړل، پينځۀ د خېمې د هغو چوکاټُونو د پاره چې په يو طرف باندې وُو، ۳۲ پينځۀ د هغو چوکاټُونو د پاره چې په بل طرف باندې وُو اؤ پينځۀ د هغه چوکاټُونو د پاره چې نَمرخاتۀ په طرف شا ته په آخِر سر کښې وُو. ۳۳ تير د يو سر نه تر بل سره پورې پُوره رسېدلے وو. ۳۴ هغوئ په چوکاټُونو د سرو زرو پترى خېژولې وُو اؤ د سرو زرو کَړى يې ورله جوړې کړې وې چې لاړى ونيسى، په لاړو باندې هم د سرو زرو پترى خېژولے شوى وُو. ۳۵ هغوئ د مهينې لټې نه يوه پړده جوړه کړه چې د آسمانى، بانجانى اؤ د سُور رنګ وړىَ نه تياره شوې وه اؤ په دې باندې يې په ګُلکارىَ کښې د وزرو والا مخلُوق جوړ کړے وو. ۳٦ هغوئ د کيکر د لرګى نه څلور

ستنې جوړې کړې چې پړده په کښې په کُنډو کښې راځوړنده شی، په دې ستنو باندې د سروزرو پترى خېژولے شوى وُو. بيا هغوئ څلور د سپينو زرو خپې ورله جوړې کړې چې ستنې ونيسى. ۳۷ هغوئ د خيمې د ننوتلو دروازې د پاره د مهينې لټې نه يوه پړده جوړه کړه چې د آسمانى، بانجانى اؤ د سُور رنګ وړى نه تياره شوې وه اؤ چې په ګُلکارى باندې ښائسته کړے شوې وه. ۳۸ د دې پړدې د پاره هغوئ پينځۀ ستنې جوړې کړې چې کُنډې په کښې لګېدلې وې، د دې په سرُونو اؤ سيخُونو د سرو زرو پترى خېژولے شوى وُو اؤ د دې ستنو د پاره يې پينځۀ د زېړو خپې جوړې کړې.

## د تړون صندُوق جوړول

**(د هِجرت کِتاب ۲۵: ۱۰-۲۲)**

**۳۷** ۱ بضلىاېل د کيکر د لرګى نه د تړون صندُوق جوړ کړو، چې پينځۀ څلوېښت اِنچې اُوږد وو اؤ اووۀ ويشت اِنچې پلن اؤ اووۀ ويشت اِنچې لوړ وو. ۲ دننه اؤ بهر يې ورباندې د سُوچه سرو زرو پترى وخېژول اؤ ګېرچاپېره يې ترې نه د سرو زرو غاړه شان تاؤ کړه. ۳ هغۀ ورله د وړلو د پاره څلور د سرو زرو کَړى جوړې کړې اؤ دا يې ورله په څلور خپو پورې ولګولې، چې دوه کَړى په يو خوا وې اؤ دوه په بل خوا وې. ۴ د وړلو د پاره يې ورله د کيکر د لرګى بازوګان جوړ کړل اؤ د سرو زرو پترى يې ورباندې وخېژول، ۵ اؤ دا يې د تړون صندُوق په کړو کښې دواړو طرفُونو ته وردننه کړې. ۶ هغۀ ورله د سُوچه سرو زرو يو د کفارې تخت جوړ

کړو، چې پېنځۀ ځلوېښت اِنچې اُوږد وو اؤ اووۀ ویشت اِنچې پلن
وو. ۷ د ټکیدلے شوو سرو زرو نه یې دوه د وزرو والا مخلُوق جوړ
کړل، ۸ یو یې ورباندې په یو سر کښې اؤ بل یې په بل سر کښې
جوړ کړو. هغۀ دا داسې جوړ کړل چې دواړه د صندُوق د کفارې د
سر سره یو ځائ شول. ۹ د وزرو والا مخلُوق د صندُوق د کفارې
په تخت باندې یو بل ته مخامخ وُو اؤ خورو وزرو یې د صندُوق سر
پټ کړے وو اؤ مخُونه یې لاندې وُو.

## د مُقدسې ډوډۍ د پاره مېز جوړول

**(د هِجرت کِتاب ۲۵: ۲۳-۳۰)**

۱۰ د کیکر د لرګی نه هغۀ یو مېز جوړ کړو، چې شپږ دېرش اِنچې
اُوږد وو، اتلس اِنچې پلن اؤ اووۀویشت اِنچې لوړ وو. ۱۱ په دې یې
د سُوچه سرو زرو پترې وخېژول اؤ ګېرچاپېره یې ورله د سرو زرو غاړه
شان تاؤ کړه. ۱۲ ګېرچاپېره یې درې اِنچې پلنه یوه ژۍ ورله جوړه
کړه اؤ د ژۍ نه ګېرچاپېره یې د سرو زرو غاړه تاؤ کړه. ۱۳ د وړلو د
پاره یې ورله د سرو زرو څلورګول کَړۍ جوړې کړې اؤ دا یې ورله په
څلورو ګوټُونو کښې ولګولې، چرته چې خپې وې. ۱۴ هغۀ دا کَړۍ
د ژۍ سره نزدې ولګولې چې هغه بازوګان ونیسی چې د کُومو په
ذریعه دا مېز وړلے شو. ۱۵ دا بازوګان یې د کیکر د لرګی نه جوړ
کړل اؤ په دې باندې یې د سرو زرو پترې وخېژول. ۱۶ هغۀ د مېز د
پاره د سُوچه سرو زرو نه دا لوښی جوړ کړل: جامُونه، کاسې، رکېبۍ
اؤ د څښلو نذرانو تویَولو د پاره منګی.

## د ډیوټ جوړېدل

**(د هِجرت کِتاب ۲۵: ۳۱-٤۰)**

۱۷ د سُوچه سرو زرو نه هغهٔ ډیوټ جوړ کړو. د دې بېخ اؤ ډنډا يې د ټکېدلے شوو سرو زرو نه جوړه کړه، د دې د ښهٔ ښکارېدلو ګلُونه، سره د غُوټو اؤ پاڼو، چې د دې سره یو ځائ شی. ۱۸ د دې د اړخُونو نه شپږ ځانګې وتلې وې، چې درې په یو طرف وې اؤ درې په بل طرف وې. ۱۹ د دې شپږ واړو ځانګو درې درې د ښهٔ ښکارېدو ګلُونه وُو دا سره د غُوټو اؤ پاڼو د بادام د ګلُونو په شان جوړ وُو. ۲۰ د ډیوټ د ډنډې د ښهٔ ښکارېدو د پاره څلور ګلُونه وُو، دا سره د غُوټو اؤ پاڼو د بادام د ګلُونو په شان وُو. ۲۱ د ځانګو د دې درې جوړو د هرې یوې لاندې یوه غُوټۍ وه. ۲۲ دا غُوټۍ، ځانګې اؤ ډیوټ د ټکېدلے شوو سُوچه سرو زرو د یوې ټُکړې نه جوړ وُو. ۲۳ د ډیوټ د پاره هغهٔ اووهٔ ډیوې جوړې کړې اؤ هغهٔ ورله د سُوچه سرو زرو نه ایره پاکوُونکې چمټې اؤ مجمعې جوړې کړې. ۲٤ هغهٔ پینځهٔدېرش کیلو سُوچه سرهٔ زر په ډیوټ اؤ د دې ټول سامان جوړولو کښې اِستعمال کړل.

## د خوشبويۍ قُربانګاه جوړېدل

**(د هِجرت کِتاب ۳۰: ۱-۵)**

۲۵ د خوشبويۍ سوزولو د پاره هغهٔ د کیکر د لرګی نه یوه قُربانګاه جوړه کړه. دا څلورګوټه وه، اتلس اِنچې اُوږده، اتلس اِنچې پلنه اؤ یو

ګز اُوچته وه. څلور د ښکرو په شان ګوټُونه يې ورله جوړ کړی وُو چې
د قُربانګاه سره يو ځائ شوی وُو. ۲۶ هغۀ د هغې په چت، څلورو
طرفُونو اؤ د هغې د ښکرو په شان څيزُونو باندې د سُوچه سرو زرو
پتری وخېژول اؤ ګېرچاپېره يې ترې نه د سرو زرو غاړه شان تاؤ کړه.
۲۷ د هغې د پاره يې دوه د سرو زرو کَړی جوړې کړې اؤ لاندې يې
دواړو طرفُونو ته د غاړې سره وتړلې چې هغه بازوګان ونيسی چې د
کُومو په ذريعه دا وړلے شوه. ۲۸ هغۀ دا بازوګان د کيکر د لرګی نه
جوړې کړې اؤ په دې باندې يې د سرو زرو پتری وخېژول.

## د غوړولو تېل اؤ خوشبوئی تيارول

**(د هِجرت کِتاب ۳۰: ۲۲-۳۸)**

۲۹ هغۀ د غوړولو مُقدس تېل اؤ سُوچه خوشبوئی هم جوړه کړه،
دا يې داسې مِلاؤ کړل لکه چې د عطرو والا دا کار کړے وی.

## د سوزېدُونکې نذرانې قُربانګاه جوړول

**(د هِجرت کِتاب ۲۷: ۱-۸)**

# ۳۸

۱ د سوزېدُونکې نذرانې د پاره، د کيکر د لرګی نه
هغۀ يوه قُربانګاه جوړه کړه. هغه څلورګوټه وه، چې
اووۀ نيم فُټه اُوږده وه، اووۀ نيم فُټه پلنه اؤ څلور نيم فُټه لوړه وه.
۲ هغۀ د څلورو ګوټُونو د پاره د ښکرو په شان څيزُونه جوړ کړل چې
د قُربانګاه سره يو ځائ کړل. هغۀ په دې هر څۀ باندې د زېړو پتری
خېژولی وُو. ۳ هغۀ د قُربانګاه د پاره دا ټول سامان هم جوړ کړو:

د ايرو د لرې کولو د پاره لوښی، بېلچې، جامُونه، درې غاښی اؤ د گرمې ايرې لرې کولو د پاره لُوښی. دا ټول سامان د زيړو نه جوړ وو. ۴ هغۀ د زيړو يوه جالئ جوړه کړه اؤ دا يې د قُربانگاه د ژی لاندې کېښوده، چې د قُربانگاه مېنځ ته رسېدلې وه. ۵ هغۀ څلور کَړئ جوړې کړې اؤ په څلورو گوټُونو يې ورله ولگولې. ۶ هغۀ د وړولو د پاره د کيکر د لرگی نه ورله څلور بازوگان جوړ کړل اؤ د زيړو پترې يې ورباندې وخېژول، ۷ اؤ د قُربانگاه دواړو طرفُونو ته چې کُومې کَړئ وې په هغو کښې يې ولگولې. قُربانگاه د لرگی تختو نه جوړه وه اؤ د مينځ نه تشه وه.

## د زيړو ښانک جوړول

**(د هِجرت کِتاب ۳۰: ۱۸)**

۸ هغۀ د زيړو ښانک اؤ د دې بېخ د هغه ښځې د زيړو د ائينو نه جوړ کړو کُومې چې د مالِک خُدائ د حضُور خېمې په دروازه کښې خِدمت کولو.

## د مالِک خُدائ د حضُور خېمې دربار

**(د هِجرت کِتاب ۲۷: ۹-۱۹)**

۹ هغۀ د مهينې لټې د پړدو نه د مالِک خُدائ د حضُور خېمې د پاره دربار جوړ کړو. د جنُوب په طرف پړدې پنځوس گزه اُوږدې وې، ۱۰ دا د زيړو شلو ستنو اؤ د زيړو په شلو خپو کښې، د سپينو زرو کُنډو اؤ د سپينو زرو سيخُونو په ذريعه ټينگې کړے شوې وې.

۱۱ دربار د شمال په طرف هم دومره وو. ۱۲ د نمرپربواتۀ طرف هم پینځۀ ویشت ګزه اُوږدې پردې وې، سره د لسو ستنو اؤ لسو خپو اؤ د کُنډو اؤ سیخُونو چې د سپینو زرو نه جوړ وُو. ۱۳ نَمرخاتۀ طرف، چرته چې دروازه وه، هلته هم دربار پینځۀ ویشت ګزه اُوږد وو. ۱۴ - ۱۵ د دروازې دواړو طرفُونو ته د درې ستنو اؤ درې خپو سره اووۀ نیم ګزه پردې وې. ۱۶ د دربار ګېرچاپېره ټولې پردې د مهینې لټې نه جوړې وې. ۱۷ د ستنو خپې د زېړو نه جوړې کړے شوې وې اؤ د دې کُنډې، سیخُونه اؤ د ستنو د پاسه سرُونه د سپینو زرو نه جوړ وُو. د دربار ګېرچاپېره ټولې ستنې د سپینو زرو سیخُونو سره نښلولے شوې وې. ۱۸ د دربار د دروازې پرده د مهینې لټې نه جوړه وه چې د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ وړۍ نه تیاره شوې وه. اؤ په ګُلکارۍ ښائسته کړے شوې وه. دا د دربار د پردو په شان، لس ګزه اُوږده اؤ دوه نیم ګزه اُوچته وه. ۱۹ دا د څلورو ستنو اؤ د زېړو څلورو خپو په ذریعه ټینګه کړے شوې وه، کُنډې، د ستنو پاسنی سرُونه اؤ سیخُونه یې د سپینو زرو نه جوړ وُو. ۲۰ د خیمې اؤ د دربار د پاره ګېرچاپېره ټول موړۍ د زېړو نه جوړ شوی وُو.

## د مالِک خُدائ د حضُور خیمې سامان

۲۱ دا د هغه څیزُونو تفصیل دے کُوم چې د مالِک خُدائ د حضُور په خیمه کښې اِستعمال شوې وو، چرته چې د کاڼو هغه دوه تختې ساتلے شوې وې چې لس حُکمونه ورباندې لیکلے شوی وُو. د تفصیل د تیارولو حُکم مُوسیٰ ورکړے وو اؤ د دې کار د پاره د لیویانو مشر اِتمر وو چې د

هارُون اِمام زوئ وو. ۲۲ د يهُوداه د قبيلې، بضلى‌ايل، چې د اورى زوئ
اؤ د حُور نمسے وو، هغه هر څۀ جوړ کړل چې مالِک خُدائ حُکم
کړے وو. ۲۳ د هغۀ مدد کوُونکے، د دان د قبيلې اهلياب د اخيسمک
زوئ وو، هغه زرګر وو، هغه ماهِر اؤ د مهينې لټې اؤ د آسمانى رنګ،
بانجانى اؤ د سُور رنګ وړى جوړوُونکے هم وو. ۲۴ مُقدسې خېمې د
پاره مالِک خُدائ ته وقف شوى ټول سرۀ زر يو زر کيلو وُو، چې د منلے
شوى معيار په مُطابق تَللے شوى وُو. ۲۵ د بنى اِسرائيلو د مردم‌شمارئ
په وخت چې کُوم سپين زر راجمع شوى وُو، هغه درې زره څلور سوه
اؤ دېرش کيلو وُو، ۲۶ کُوم سړى چې په مردم‌شمارئ کښې شامِل شوى
وُو هر يو کس د منلے شوى معيار په مُطابق هغه مُقرر شوے قيمت
ورکړو. په مردم‌شمارئ کښې شامِل شوى سړى شپږ لاکهه درې زره
پينځۀ سوه پنځوس وُو چې د هغوئ عُمر شل کاله يا د دې نه زيات
وو. ۲۷ درې زره اؤ څلور سوه کيلو سپين زر په کښې اِستعمال شوى
وُو د مُقدسې خېمې د سلو خپو اؤ د پردې د پاره، د هرې يوې خپې د
پاره څلور دېرش کيلو اِستعمال شوى وُو. ۲۸ د پاتې دېرش کيلو سپينو
زرو نه بضلى‌ايل سيځُونه، د ستنو د پاره کُنډې اؤ د ستنو پاسنى سرُونه
جوړ کړل. ۲۹ کُوم زيړ چې مالِک خُدائ ته وقف شوى وُو هغه دوه زره
څلور سوه اؤ پينځۀ ويشت کيلو وُو. ۳۰ هغۀ د دې نه د مالِک خُدائ د
حضُور خېمې د دروازې د پاره خپې، د زيړو قُربان‌ګاه سره د زيړو جالئ
اؤ د قُربان‌ګاه د پاره نور ټول سامان جوړ کړو، ۳۱ د دربار ګېرچاپېره اؤ
د دربار د دروازې د پاره خپې اؤ د خېمې د پاره اؤ ګېرچاپېره د دربار د
پاره ټول موږى يې ترې نه جوړ کړل.

## د اِمامانو د پاره لِباس جوړول

(د هِجرت کِتاب ۲۸: ۱-۱٤)

**۳۹** ۱ د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ وړیَ نه هغوئ ښائسته لِباس جوړ کړو کُوم به چې اِمامانو په مُقدس ځائ کښې د خِدمت کولو په وخت اغوستلو. هغوئ د هارُون د پاره د اِمامانو لِباس جوړ کړو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم کړے وو. ۲ هغوئ د مهينې لټې، د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ وړیَ، اؤ د سرو زرو تار نه پيش بند جوړ کړو. ۳ هغوئ د سرو زرو پاڼې وټکولې اؤ نری نری تارُونه يې ترې نه جوړ کړل چې په مهينه لټه اؤ د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ په وړیَ جوړولو کښې ترې نه کار اخستلے شو. ٤ هغوئ د پيش بند د پاره دواړو طرفو ته د ولی پټی لګولې وې، چې د دې په ذريعه تړلے شو. ۵ يو ښۀ ګلکاری شوے کمربند، چې هغه هم د هغه سامان نه جوړ وو، هغه د پيش بند سره نښلولے شوے وو اؤ ورسره يو ځائ شوے وو، هم هغه شان لکه څنګه چې مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم کړے وو. ٦ هغوئ سُليمانی کاڼی تيار کړل اؤ په سرو زرو کښې يې ګېر کړل، په دې باندې د يعقُوب د دولسو زامنو نومُونه د يو ماهِر زرګر په ذريعه ليکلے شوی وُو. ۷ هغوئ دا د پيش بند د ولی په پټو باندې ولګول چې د بنی اِسرائيلو د دولسو قبيلو نُمائندګی کوی، هم هغه شان لکه څنګه چې مالِک خُدائ مُوسیٰ له حُکم ورکړے وو.

## د سينې د جېب جوړول
**(د هِجرت کِتاب ۲۸: ۱۵-۳۰)**

۸ هغوئ هم د هغه سامان نه د سينې جېب جوړ کړو چې د کُوم نه پېش بند جوړ وو اؤ هم هغه شان ګلکارى وربانديې شوې وه. ۹ دا څلورګوټه اؤ دوه غبرږه وو، نهۀ اِنچې اُوږد اؤ نهۀ اِنچې پلن وو. ۱۰ هغوئ په دې باندې څلور قطاره قيمتى کاڼى ولګول: په اول قطار کښې ياقُوت، يو زېړ ياقُوت اؤ لعل، ۱۱ په دويم قطار کښې، يو زمرُد، يو شين ياقُوت اؤ يوه هيره، ۱۲ په دريم قطار کښې، يوه فېروزه، يو عقيق اؤ يو بانجانى ياقُوت، ۱۳ اؤ په څلورم قطار کښې يو شين بخن ياقُوت، يو سُليمانى کاڼے اؤ يو يشم کاڼے ولګولو. دا په سرو زرو کښې ګېر وُو. ۱۴ په دې دولسو کاڼو په هر يو کاڼى باندې د يعقُوب د يو زوئ نُوم ليکلے وو، چې د بنى اِسرائيلو د دولسو قبيلو نُمائندګى وشى. ۱۵ د سينې جېب د پاره هغوئ د سُوچه سرو زرو زنځيرُونه جوړ کړل، چې د تارُونو په شان تاؤ شوى وُو. ۱۶ هغوئ د کاڼو ګېرولو د پاره د سرو زرو دوه څيزُونه جوړ کړل اؤ د سرو زرو دوه کَړى اؤ دا دوه کَړى يې د سينې جېب په بره ګوټُونو پورې ونښلولې. ۱۷ هغوئ د سرو زرو هغه دوه زنځيرُونه په دوه کَړو پورې يې وتړل ۱۸ اؤ د زنځيرُونو نور دوه سرُونه يې په هغه دوه څيزُونو پورې وتړل چې په هغې کښې کاڼى ګېر کړے شوى وُو اؤ داسې يې دا د پېش بند د ولى په پټو پورې مخکښې ونښلول. ۱۹ هغوئ دوه د سرو زرو کَړى جوړې کړې اؤ دا يې د سينې جېب لاندې ګوټُونو

دننه غاړې ته د پيش بند خوا کښې ونښلولې. ۲۰ هغوئ د سرو زرو دوه نورې کَړئ هم جوړې کړې اؤ دا يې په لاندې حِصه پورې د پيش بند د ولی دوه پټو په مخکښې ونښلولې چې ګنډ ته نزدې وې اؤ په ګُلکاریٔ ښائسته کړے شوی کمربند د پاسه وې. ۲۱ هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم ورکړے وو، هغوئ د سينې د جېب کَړئ د پيش بند کړو پورې د آسمانی رنګ مزی سره وتړلې، نو چې داسې د سينې جېب په کمربند باندې پروت وی اؤ چې ترې نه لرې کېږی نه.

## د اِمامانو نور لِباس جوړيدل

**(د هِجرت کِتاب ۲۸: ۳۱-۴۳)**

۲۲ چې کُومه چُوغه د پيش بند لاندې اغوستلے کېږی هغه ټوله د آسمانی رنګ وړئ نه جوړه شوې وه. ۲۳ په هغې کښې د سر د پاره يو سُورے وو، چې غاړه يې مضبُوطه ګنډلے شوې وه چې ونۀ شلېږی. ۲۴-۲۶ د دې په لاندې غاړه باندې هغوئ د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ تار انار جوړ کړل اؤ د هر انار په مېنځ کښې د سرو زرو ټلئ وې، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ مُوسیٰ له حُکم ورکړے وو. ۲۷ هغوئ د هارُون اؤ د هغۀ د زامنو د پاره قميصُونه جوړ کړل، ۲۸ اؤ پټکے، ټوپئ اؤ د لټې جانګی، ۲۹ اؤ د مهينې لټې اؤ د آسمانی رنګ، بانجانی اؤ د سُور رنګ وړئ نه يې کمربند جوړ کړو چې ګلکاری ورباندې شوې وه، هم هغه شان لکه چې څنګه مالِک خُدائ مُوسیٰ له حُکم ورکړے وو. ۳۰ هغوئ د

سُوچه سرو زرو نه نښه جوړه کړه اؤ په دې باندې يې وليکل ”مالِک خُدائ ته وقف شوے“. ۳۱ هغوئ دا د يو آسمانی رنګ مزی سره د پټکی مخې ته وتړله، هم هغه شان څنګه چې مالِک خُدائ مُوسىٰ له حُکم ورکړے وو.

## د کار سر ته رسيدل

**(د هِجرت کِتاب ۳۵: ۱۰-۱۹)**

۳۲ د مالِک خُدائ د حضُور خېمې ټول کار په ښۀ توګه سر ته ورسېدو. بنی اِسرائيلو هر څۀ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ مُوسىٰ له حُکم ورکړے وو. ۳۳ هغوئ خېمه اؤ د هغې ټول سامان مُوسىٰ له راوړو، د دې کُنډې، چوکاټُونه، لاړې، ستنې اؤ د دې خپې، ۳٤ د ګډو څرمنې نه جوړه شوې پړده چې سُور رنګ ورکړے شوے وو، د ښې څرمنې نه جوړه پړده، د پټولو والا پړده، ۳۵ د تړون صندُوق چې د کاڼو تختې په کښې پرتې وې، د دې د وړلو د پاره بازوګان اؤ د دې د کفارې تخت هم، ۳٦ مېز اؤ د دې ټول سامان اؤ خُدائ پاک ته پېش کړے شوې ډوډۍ، ۳۷ د سُوچه سرو زرو ډيوټ، د دې ډيوې اؤ د دې ټول سامان اؤ د ډېوو د پاره تېل، ۳۸ د سرو زرو قُربان‌ګاه، د غوړولو تېل، د خوشبويۍ مصالحې، خېمې ته د ننوتلو دروازې د پاره پړده، ۳۹ د زېړو قُربان‌ګاه اؤ ورسره د دې د زېړو جالۍ، د دې د وړلو د پاره بازوګان اؤ د دې ټول سامان، د وينځلو د پاره ښانک اؤ د دې ببخ، ٤۰ د دربار د پاره پړدې اؤ د دې ستنې اؤ خپې، دربار ته د ننوتلو د پاره پړده اؤ د دې رسۍ، د خېمې د پاره

موړی، اؤ هغه ټول سامان چې په خېمه کښې اِستعمالېدلو، ۴۱ اؤ د
اِمامانو ښائسته لِباس چې په مُقدس ځائ کښې د خِدمت په وخت
اغوستلے شو. د هارُون اؤ د هغهٔ د زامنو د پاره مُقدس لِباس وو چې
کله هغوئ د اِمامانو په توګه خِدمت کولو. ۴۲ بنی اِسرائیلو ټول کار
هم هغه شان سر ته رسولے وو چې څنګه مالِک خُدائ مُوسیٰ له
حُکم ورکړے وو. ۴۳ مُوسیٰ هغه ټول کار ته وکتل اؤ وې لیدل چې
هغوئ دا په صحیح توګه هم هغه شان کړے وو څنګه چې مالِک
خُدائ حُکم کړے وو. نو مُوسیٰ د هغوئ د پاره برکت وغوښتلو.

## د مالِک خُدائ د حضُور خېمې ودرول اؤ وقف کول

**۴۰**

۱ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ۲ ”د اولنی میاشتې
په اوله ورځ مالِک خُدائ د حضُور خېمه ودروه. ۳ په
دې کښې د تړون صندُوق کېږده په کُوم کښې چې لس حُکمونه دی اؤ
د دې په مخکښې پړده ولګوه. ۴ هغه مېز دننه راوړه اؤ سامان ورباندې
کېږده. ډیوټ هم دننه راوړه اؤ ډیوې ورباندې کېږده. ۵ د تړون صندُوق
په مخکښې د سرو زرو قُربان‌ګاه کېږده کُومه چې د سوزېدُونکې خوشبوئی
د پاره ده اؤ د خېمې په دروازه باندې پړده ځوړنده کړه. ۶ د خېمې په
مخکښې د سوزېدُونکې نذرانې قُربان‌ګاه کېږده. ۷ د خېمې اؤ قُربان‌ګاه
په مېنځ کښې د وینځلو ښانک کېږده اؤ اوبهٔ په کښې واچوه. ۸ ګېرچاپېره
پړدې ودروه اؤ د دې په دروازه باندې پړده ځوړنده کړه. ۹ بیا د زیتُونو
په تېلو باندې غوړولو سره خېمه اؤ د دې ټول سامان وقف کړه اؤ داسې
به دا مُقدس شی. ۱۰ ورپسې، د غوړولو د تیلو په ذریعه د سوزېدُونکې

نذراني قُربان‌ګاه اؤ د دې ټول سامان وقف کړه اؤ قُربان‌ګاه به پُوره مُقدسه
شی. ۱۱ د وینځلو ښانک اؤ د دې بیخ هم په داسې طریقه وقف کړه.
۱۲ هارُون اؤ د هغهٔ زامن د خېمې دروازې ته راوله اؤ هغوئ ته ووایه چې
غُسل وکړی. ۱۳ هارُون ته مُقدسې جامې ورواغونده، سر یې په تیلو غوړ
کړه اؤ وقف یې کړه، نو هغه به د اِمام په توګه زما خِدمت کوی. ۱۴ د
هغهٔ زامن راوله اؤ هغوئ ته چُوغې ورواغونده. ۱۵ بیا د هغوئ سر په تیلو
غوړ کړه، هم هغه شان چې څنګه دې د هغوئ د پلار سر غور کړے
وو، نو چې د اِمامانو په توګه زما خِدمت وکړی. دا غوړول به هغوئ د
راتلُونکی ټولو وختُونو د پاره اِمامان جوړ کړی.“ ۱٦ مُوسیٰ هر څهٔ هم
هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۱۷ چې کله
هغوئ د مِصر نه راووتل نو د دویم کال د اولنۍ میاشتې اوله ورځ وه چې د
مالِک خُدائ د حضُور خېمه ودرولے شوه. ۱۸ مُوسیٰ د دې خېې لاندې
ولګولې، چوکاټُونه یې ودرول، لاړی یې ورسره ولګول اؤ د دې ستنې
یې ودرولې. ۱۹ هغهٔ په خېمه باندې د پټولو د پاره پړده خوره کړله اؤ د
پاسه یې پرې بله پړده هم واچوله، لکه څنګه چې مالِک خُدائ حُکم
ورکړے وو. ۲۰ بیا هغهٔ د کاڼو دوه تختې واخستلې اؤ د ترون په صندُوق
کښې یې کېښودلې. هغهٔ د صندُوق په کَړو کښې بازوګان واچول اؤ د
دې د کفارې تخت یې ورباندې کېښودو. ۲۱ بیا هغهٔ صندُوق خېمې ته
دننه راوړو اؤ پړده یې ځوړنده کړه. نو داسې هغهٔ صندُوق پټ کړو، هم
هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو.

۲۲ د پړدې نه بهر شمالی طرف ته یې، په خېمه کښې مېز کېښودو،
۲۳ اؤ په دې باندې یې مالِک خُدائ ته پېش کړے شوې ډوډۍ کېښوده،

هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۲۴ مېز ته مخامخ، جنُوب طرف ته، هغهٔ په خېمه کښې ډیوټ کېښودو، ۲۵ اؤ هغهٔ هلته د مالِک خُدائ په حضُور کښې ډیوې بلې کړې، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۲۶ پړدې ته مخامخ، هغهٔ په خېمه کښې د سرو زرو قُربان‌ګاه کېښوده، ۲۷ اؤ هغهٔ ورباندې د خوشبویۍ مصالحې وسوزولې، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۲۸ هغهٔ پړده د خېمې په دروازه کښې ځوړنده کړه، ۲۹ اؤ هلته پړدې ته مخامخ هغهٔ د سوزېدُونکې نذرانې قُربان‌ګاه کېښوده. اؤ په هغې باندې يې سوزېدُونکې نذرانې اؤ د غلې نذرانې پېش کړې، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۳۰ هغهٔ د وينځلو ښانک د خېمې اؤ قُربان‌ګاه په مېنځ کښې کېښودو اؤ اوبهٔ يې په کښې واچولې. ۳۱ مُوسیٰ، هارُون اؤ د هغهٔ زامنو هلته خپل لاسُونه اؤ خپې ووينځلې ۳۲ چې کله هغوئ دننه خېمې ته يا قُربان‌ګاه ته ورتلل، لکه څنګه چې مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۳۳ مُوسیٰ د خېمې اؤ قُربان‌ګاه نه ګېرچاپېره پړدې ودرولې اؤ دربار ته د ننوتلو په دروازه باندې يې پړده ځوړنده کړه. نو مُوسیٰ ټول کار سر ته ورسولو.

## د مالِک خُدائ د حضُور خېمې د پاسه وريځ

**(د شمېر کِتاب ۹: ۱۵-۲۳)**

۳۴ بيا وريځې خېمه پټه کړه اؤ خېمه د مالِک خُدائ د حضُور سپين جلال نه ډکه شوه. ۳۵ نو مُوسیٰ خېمې ته دننه نهٔ شو تلے. ۳۶ بنی اِسرائيلو صِرف په هغه وخت کښې په بل ځائ کښې کېمپ لګولو

چې کله به وريځ د خېمې نه پورته شوه. ۳۷ تر کُومې پورې چې به وريځ هلته وه، نو هغوئ به د سفر د پاره خېمې نۀ اُوچتولې. ۳۸ چې هغوئ کُوم ځائ ته هم سفر کولو نو د ورځې به يې د مالِک خُدائ د حضُور وريځ د خېمې د پاسه ليدله اؤ د شپې به يې په وريځو کښې بل شوے اور ليدلو.

# د ليويانو کِتاب

## سوزېدُونکې نذرانه

۱
۱ مالِک خُدائ د خپل حضُور خېمې نه مُوسىٰ ته آواز وکړو
اؤ دا اصُول يې ورته وښودل. ۲ هر کله چې بنى اِسرائيل
خپلې قُربانئ پېش کوى نو دا اصُول به ياد ساتى، چې کله يو کس
د يو ځناور قُربانى پېش کوى، نو هغه به د سوزېدُنکې نذرانې د پاره
ګډه يا چېلۍ راولى. ۳ کۀ هغه خپل څاروے د سوزېدُونکې نذرانې په
توګه پېش کوى، نو هغه دې د رمې نه يو نر څاروے راولى چې هيڅ
عېب په کښې نۀ وى. هغه دې دا د مالِک خُدائ د حضُور مُقدسې
خېمې د دروازې په خُلۀ کښې حاضر کړى، نو مالِک خُدائ به دا
قبُول کړى. ۴ هغه کس به خپل لاس ورله په سر کېږدى اؤ دا به
ترې نه په قُربانئ کښې قبُول کړے شى اؤ دا به د هغۀ د پاره کفاره
شى. ۵ هغه به هلته غوَيے حلال کړى اؤ د هارُون د کورنئ اِمامان

به مالِک خُدائ ته هغه وینه پېش کړی اؤ چې د خېمې د دروازې
په خُلۀ کښې کُومه قُربان‌ګاه ده د هغې څلورو واړو طرفُونو ته دې
وشیندی. ۶ بیا به د هغه څناور نه څرمن وباسی اؤ حِصې حِصې
به یې کړی، ۷ اؤ اِمامان به په قُربان‌ګاه باندې لرګی سم کېږدی اؤ
په لرګو به اور بل کړی. ۸ هغوئ به د څناور حِصې، سره د سر اؤ
وازګې په اور باندې کېږدی. ۹ د هغه څناور کولمې اؤ پتُونُونه دې
ووینځلې شی اؤ اِمام به دا هر څۀ په قُربان‌ګاه باندې وسوزوی، ځکه
چې په اور سوزېدُونکې د دې نذرانې بُوئ په مالِک خُدائ باندې
ښۀ لګې. ۱۰ کۀ هغه کس د ګډو یا د چېلو د رَمې نه څۀ پېش
کوی، نو هغه دې خامخا نر وی چې هیڅ عېب په کښې نۀ وی.
۱۱ هغه به دا د قُربان‌ګاه په شمالی طرف حلالوی اؤ د هغې وینه به
اِمامان د قُربان‌ګاه څلورو واړو طرفُونو ته وشیندی. ۱۲ چې کله هغه
کس دا حِصې حِصې کړی، نو اِمامان به د دې ټولې حِصې سره د
سر اؤ وازګې په اور باندې کېږدی. ۱۳ هغه کس به د دې کولمې اؤ
پتُونُونه په اوبو ووینځی اؤ اِمام به دا قُربانی مالِک خُدائ ته پېش کړی
اؤ په قُربان‌ګاه باندې به یې ټوله وسوزوی. په اور سوزېدُونکې د دې
نذرانې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګې. ۱۴ کۀ څوک یو مارغۀ
د سوزېدُونکې نذرانې په توګه پېش کوی، نو هغه دې یوه ګُوګُوشتکه
یا کونتره وی. ۱۵ اِمام به دا په قُربان‌ګاه باندې پېش کړی، د هغې
څټ به تاؤ کړی اؤ سر به یې په قُربان‌ګاه باندې وسوزوی اؤ د هغې
وینه دې د قُربان‌ګاه په اړخ باندې وڅڅولې شی. ۱۶ هغه دې د دې
ججُوره اؤ په ججُوره کښې چې څۀ وی هغه دې لرې کړی اؤ دا

دې د قُربان‌ګاه نَمرخاتهٔ طرف ته وغورزوی چرته چې ايرې اچولے
شی. ⑰ هغه دې دا مارغهٔ د وزرو نه ونيسی اؤ داسې دې په مېنځ
دوه ټوټې شی چې وزر ترې نه بېل نهٔ شی. اؤ هغه دې دا ټول په
قُربان‌ګاه باندې وسوزوی، په اور سوزېدُونکې د دې نذرانې بُوئ په
مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې.

## د غلې نذرانې

**۲** ① کله چې څوک مالِک خُدائ ته يوه د غلې نذرانه پېش
کوی، نو هغه دې ښهٔ اوړهٔ وی. د زيتُونو تېل اؤ خوشبودار
لوبان دې په کښې واچوی، ② د هارُون د کورنۍ اِمامانو ته دې
راوړی. اِمام به يو مُوټے د اوړو، د تېلو اؤ سره د ټولو لوبانو نه راواخلی
اؤ په قُربان‌ګاه به يې وسوزوی، دا به د يوې نښې په شان وی چې دا
ټوله مالِک خُدائ ته پېش کړې شوې ده. په اور سوزېدُونکې د دې
نذرانې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې. ③ د غلې د نذرانې نه
پاتې شوې برخه به د اِمامانو وی، دا به ډېره مُقدسه ګڼلے شی، ځکه
چې دا مالِک خُدائ ته په اور سوزېدُونکې نذرانې نه اخستے شوې
ده. ④ کهٔ دا نذرانه ډوډۍ وی چې په تنُور کښې پخه شوې وی،
نو دا دې د خمبيرې نه بغېر تياره شوې وی. دا دې د اوړو نه تيارې
شوې غټې ډوډۍ وی چې د زيتُونو تېل په کښې ګډ وی يا دې نرۍ
نرۍ ډوډۍ وی چې د زيتُونو تېلورباندې لګولے شوی وی. ⑤ کهٔ
هغه نذرانه ډوډۍ وی چې په تبخی باندې پخه شوې وی، دا به د
داسې اوړو نه تياره شوې وی چې د زيتُونو تېل په کښې ګډ وی خو

چې خمبيره په کښې نۀ وی. ۶ چې کله يې د يوې نذرانې په توګه
پېش کوئ نو دا چُوری کړئ اؤ نور تېل ورباندې واچوئ. ۷ کۀ هغه
نذرانه داسې ډوډۍ وی چې په تبخی باندې پخه شوې وی، نو هغه
دې د اوړو اؤ زيتُونو د تېلو نه تياره شوې وی. ۸ دا مالِک خُدائ
ته د غلې نذرانې په توګه راوړئ اؤ اِمام ته يې پېش کړئ اؤ هغه به
يې قُربان‌ګاه ته يوسی. ۹ اِمام به د نښې په توګه يوه برخه ترې نه
واخلی چې دا ټوله مالِک خُدائ ته پېش کړے شوې ده اؤ هغه به دا
په قُربان‌ګاه باندې وسوزوی. په اور سوزېدُونکې د دې نذرانې بُوئ
په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګې. ۱۰ د غلې د نذرانې نه پاتې شوې
برخه به د اِمامانو وی، دا به ډېره مُقدسه ګڼلے شی، ځکه چې دا
مالِک خُدائ ته په اور باندې سوزېدُونکې نذرانې نه اخستے شوې
ده. ۱۱ چې د غلې کُومې نذرانې تاسو مالِک خُدائ ته پېش کوئ
په يوه نذرانه کښې دې هم خمبيره نۀ وی، مالِک خُدائ ته په اور
سوزېدُونکې نذرانه کښې چې کله هم خمبيره يا شات وانۀ چوئ.
۱۲ تاسو چې هر کال لَو کوئ نو د خپل فصل وړومبۍ غله مالِک
خُدائ ته راوړئ، خو دا دې په قُربان‌ګاه باندې نۀ شی سوزولے.
۱۳ د غلې په هره نذرانه باندې مالګه اچوئ، ځکه چې مالګه د
خُدائ پاک اؤ ستاسو په مېنځ کښې د تړون نښه ده. (تاسو په خپلو
ټولو نذرانو خامخا مالګه اچوئ.) ۱۴ چې کله تاسو د خپل رېبلے
شوی فصل د وړومبۍ غلې نذرانه مالِک خُدائ ته راوړئ، نو وريتې
شوې دانې يا مېده شوی اوړۀ ورته پېش کوئ. ۱۵ د زيتُونو تېل په
کښې ورګډ کړئ اؤ لوبان ورباندې واچوئ. ۱۶ اِمام به لږ اوړۀ اؤ څۀ

تېل اؤ ورسره ټول لوبان هم وسوزی اؤ دا به مالِک خُدائ ته په اور
سوزېدُونکې نذرانې د نښې په توګه وی.

## د سلامتۍ نذرانې

۳ ۱ کله چې څوک خپل یو څاروے د سلامتۍ د نذرانې په
توګه پېش کوی، نو هغه دې یو داسې غوَیے یا غوا وی چې
هیڅ عېب په کښې نۀ وی. ۲ هغه کس به خپل لاس د هغه ځناور
په سر کېږدی اؤ د مالِک خُدائ د حضُور مُقدسې خېمې د دروازې
په خُلۀ کښې به یې حلال کړی. د هارُون د کورنۍ اِمامان به هغه
وینه د قُربانګاه څلورو واړو طرفُونو ته وشیندی ۳ اؤ هغه دې د هغه
ځناور دا حِصې مالِک خُدائ ته په اور سوزېدُونکې نذرانې په توګه
پېش کړی. په دې کښې به په کولمو باندې ټوله وازګه، ۴ پښتورګی
اؤ په هغې باندې چې څومره وازګه وی اؤ د اینې ښۀ حِصه هم وی.
۵ اِمامان به دا هر څۀ د سوزېدُونکې نذرانو سره په قُربانګاه باندې
وسوزوی. په اور سوزېدُونکې د دې نذرانې بُوئ په مالِک خُدائ
باندې ښۀ لګې. ۶ کۀ چرې د رَمې نه د سلامتۍ د نذرانې په توګه
څۀ پېش کولے شی، کۀ هغه نر وی یا ښځه، خو چې هیڅ عېب په
کښې نۀ وی. ۷ کۀ یو کس یو ګډُورے پېش کوی، ۸ نو هغه دې
خپل لاس ورله په سر کېږدی اؤ د خېمې مخې ته دې هغه حلال
کړی. اِمامان به د هغۀ وینه د قُربانګاه په څلورو واړو طرفُونو باندې
وشیندی ۹ اؤ مالِک خُدائ ته دې د هغه ځناور دا حِصې په اور
سوزېدُونکې نذرانې په توګه پېش کړی: د ټول لم وازګه چې د ملا

د هډوکی سره نزدې پرې کړے شوې وی، هغه ټوله وازګه چې په
کولمو پرته وی، ۱۰ پښتورګی اؤ هغه وازګه چې ورباندې پرته وی
اؤ د اینې ښۀ حِصه هم. ۱۱ بیا به اِمام دا هر څۀ په اور سوزېدُونکې
نذرانې په توګه مالِک خُدائ ته وسوزوی. ۱۲ کۀ یو کس چېلۍ پېش
کوی، ۱۳ هغه دې خپل لاس ورله په سر کېږدی اؤ د خیمې مخې
ته دې حلال کړی. اِمامان به د دې وینه د قُربان‌ګاه په څلورو واړو
طرفُونو باندې وشیندی ۱٤ اؤ مالِک خُدائ ته دې دا حِصې په اور
سوزېدُونکې نذرانې په توګه پېش کړی: هغه ټوله وازګه چې په کولمو
باندې پرته وی، ۱۵ پښتورګی اؤ هغه وازګه چې ورباندې پرته وی اؤ
د اینې ښۀ حِصه هم. ۱٦ اِمام به دا هر څۀ په اور سوزېدُونکې نذرانې
په توګه وسوزوی، دا به په مالِک خُدائ باندې یو ښۀ لګېدُونکے بُوئ
وی. د قُربانۍ ټوله وازګه د مالِک خُدائ ده. ۱۷ یو بنی اِسرائیلے به
هم وازګه اؤ وینه نۀ شی خوړلے، بنی اِسرائیل چې چرته هم اوسېږی
نو ټول به دا قانُون د همېشه د پاره منی.

## په غلطۍ سره د شوو ګُناهونو د پاره نذرانې

٤ ۱ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم وکړو ۲ چې بنی اِسرائیلو
ته ووایه چې کۀ څوک ګُناه وکړی اؤ په غلطۍ سره د
مالِک خُدائ حُکمونه مات کړی، نو هغه به دا قانُون منی. ۳ کۀ
چرې مشر اِمام ګُناه وکړی اؤ د هغې په ذریعه خلق ګُناهګار شی،
نو هغه به یو څخړے پېش کوی چې هیڅ عېب په کښې نۀ وی اؤ
د خپلې ګُناه د پاره به یې مالِک خُدائ ته قُربانی کړی. ٤ هغه به

ځخې د مُقدسې خېمې دروازې خُلې ته راولی، خپل لاس به ورله
په سر کېږدی، اؤ د مالِک خُدائ په حضُور کښې به يې هلته حلال
کړی. ۵ بيا به مشر اِمام د څخی لږه وینه واخلی اؤ خېمې ته به يې
دننه یوسی. ۶ هغه به خپله ګوته په وینه کښې ډُوبه کړی اؤ دا دې
اووهٔ ځله د مُقدسې پردې مخې ته وشیندی. ۷ بيا به هغه لږه وینه
په خېمه کښې د خوشبويۍ د قُربانګاه په ښکرو باندې ولګوی. هغه
به پاتې شوې وینه د سوزېدُونکې نذرانو قُربانګاه په بېخ کښې توئ
کړی، کُومه چې د خېمې د دروازې په خُلهٔ کښې ده. ۸ هغه به
د دې څخی نه ټوله وازګه واخلی، هغه وازګه کُومه چې په کولمو
باندې وی، ۹ پښتورګی اؤ کُومه وازګه چې ورباندې پرته وی اؤ د
ایني ښهٔ حِصه. ۱۰ اِمام به دا وازګه واخلی اؤ د سوزېدُونکې نذرانو په
قُربانګاه باندې به يې وسوزوی، هم هغه شان لکه چې کُوم عمل د
سلامتۍ د نذرانې د پاره حلال شوی ځناور وازګې سره کوی. ۱۱ خو
هغه به د دې څرمن، ټوله غوښه، سر، خپې، دننني اندامُونه سره د
کولمو، ۱۲ دا هر څهٔ به د خېمو نه بهر هغه پاک ځائ ته یوسی چرته
چې ايره غورزولے کېږی، نو هلته دې يې هغه د لرګو په اور باندې
وسوزوی. ۱۳ کهٔ چرې د اِسرائیلیانو ټول قوم ګُناه وکړی اؤ په غلطۍ
سره د مالِک خُدائ د حُکمُونو نه د يو حُکم ماتولو په وجه ګُناهګار
شی، ۱۴ بيا چې څنګه د ګُناه پته ورته ولګې، نو قوم به د ګُناه د
نذرانې په توګه يو ځخې راولی. هغوئ به دا د مالِک خُدائ د حضُور
مُقدسې خېمې ته راولی، ۱۵ د قوم مشران به د دې په سر خپل لاسُونه
کېږدی اؤ ځخې دې هلته حلال کړے شی. ۱۶ مشر اِمام به د څخی

لړه وينه واخلى اؤ خېمې ته به يې دننه يوسى، ۱۷ خپله ګوته دې په
وينه کښې ډُوبه کړى اؤ هغه دې اووۀ ځله د مالِک خُدائ په حضُور
کښې د پړدې په مخکښې وشيندى. ۱۸ هغه به لړه وينه د خوشبويۍ
د قُربان‌ګاه په ښکرُونو پورې ولګوى چې دا د مالِک خُدائ په حضُور
کښې دننه په خېمه کښې ده اؤ پاتې شوې وينه دې د سوزېدُونکې
نذرانې د قُربان‌ګاه په بېخ کښې توئ کړى، کُومه چې د خېمې د
دروازې په خُلۀ کښې ده. ۱۹ بيا به هغه د څخې ټوله وازګه واخلى
اؤ په قُربان‌ګاه به يې وسوزوى. ۲۰ هغه به د دې څخې سره هم هغه
شان وکړى لکه څنګه چې هغۀ د ګُناه د نذرانې د څخې سره کړى
وُو، نو داسې به اِمام د خلقو د ګُناه د پاره کفاره ادا کړى اؤ هغوئ
به معاف شى. ۲۱ بيا به هغه څخے د خېمو نه بهر يوسى اؤ وبه يې
سوزوى، لکه څنګه چې هغه د خپلې ګُناه د پاره پېش کړے شوے
څخے سوزوى. دا نذرانه د قوم د ګُناه د کفارې د پاره ده. ۲۲ کۀ يو
مشر ګُناه وکړى اؤ په غلطۍ سره د مالِک خُدائ د حُکمُونو نه د يو
حُکم ماتولو په وجه ګُناهګار شى، ۲۳ اؤ چې د خپلې ګُناه پته ورته
ولګى، نو هغه به د خپلې نذرانې په توګه يو چېلے راولى چې هېڅ
عېب په کښې نۀ وى. ۲۴ هغه به خپل لاس د چېلى په سر کېږدى اؤ
د قُربان‌ګاه هغه طرف ته به يې حلال کړى، چرته چې د سوزېدُونکې
نذرانې ځناور حلالولے شى. دا د ګُناه لرې کولو نذرانه ده. ۲۵ اِمام
به خپله ګوته د ځناور په وينه کښې ډُوبه کړى، دا دې د قُربان‌ګاه
په ښکرُونو پورې ولګوى اؤ پاتې شوې وينه دې د قُربان‌ګاه په بېخ
کښې توئ کړى. ۲۶ بيا به هغه د دې ټوله وازګه په قُربان‌ګاه باندې

وسوزوی، لکه څنګه چې هغه د سلامتۍ د نذرانې د پاره حلال
شوی ځناور وازګه سوزوی. داسې به اِمام د هغه مشر د پاره د ګُناه
کفاره ادا کړی اؤ هغه به معاف شی. ٢٧ کۀ يو عام کس ګُناه وکړی
اؤ په غلطۍ سره د مالِک خُدائ د حُکمُونو نه د يو حُکم ماتولو په
وجه ګُناهګار شی، ٢٨ نو چې څنګه د ګُناه پته ورته ولګي، نو هغه
به د خپلې نذرانې په توګه يوه چېلۍ راولی چې هيڅ عېب په کښې
نۀ وی. ٢٩ هغه به خپل لاس د دې په سر کېږدی اؤ د قُربانګاه په
هغه طرف به يې حلاله کړی، چرته چې د سوزېدُونکې نذرانې د پاره
ځناور حلالېږی. ٣٠ اِمام به خپله ګوته د دې ځناور په وينه کښې ډُوبه
کړی، دا به د قُربانګاه په ښکرُونو پورې ولګوی اؤ پاتې شوې وينه
به د قُربانګاه په بېخ کښې توئ کړی. ٣١ بيا به هغه ټوله وازګه ترې
نه لرې کړی، لکه څنګه چې د سلامتۍ د نذرانې د پاره حلال شوی
ځناور نه لرې کولے شی اؤ هغه به دا په قُربانګاه باندې وسوزوی
ځکه چې په مالِک خُدائ دا بُوئ ښۀ لګي. نو داسې به اِمام د هغه
کس د ګُناه کفاره ادا کړی اؤ هغه به معاف شی. ٣٢ کۀ يو کس د
ګُناه د نذرانې د پاره د ګډو نه څۀ راولی، نو هغه دې يوه ګډه وی
چې هيڅ عېب په کښې نۀ وی. ٣٣ هغه به خپل لاس د دې په سر
کېږدی اؤ د قُربانګاه په هغه طرف به يې حلاله کړی، چرته چې
د سوزېدُونکې نذرانې د پاره ځناور حلالېږی. ٣٤ اِمام به خپله ګوته
د ځناور په وينه کښې ډُوبه کړی، د قُربانګاه په ښکرُونو پورې دې
دا وينه ولګوی اؤ پاتې شوې وينه به هغه د دې په بېخ کښې توئ
کړی. ٣٥ بيا به هغه د دې ټوله وازګه لرې کړی، لکه څنګه چې د

سلامتۍ د نذرانې د پاره حلال شوی څناور نه وازګه لرې کېږی اؤ
هغه به په اور سوزېدُونکې نذرانو سره په قُربان‌ګاه باندې وسوزوی
کُوم چې مالِک خُدائ ته پېش کېږی. داسې به اِمام د هغه کس د
ګُناه د پاره کفاره ادا کړی اؤ هغه به معاف شی.

## د ګُناه د نذرانو ورکولو حالاتُونه

**٥** ١ په دې حالاتو کښې د ګُناه نذرانې ضرُوری ګڼلے کېږی: کۀ
څوک د ګواهۍ ورکولو د پاره عدالت ته وغوښتلے شی اؤ هغه
معلُومات نۀ ورکوی چې څۀ یې لیدلی یا اؤرېدلی وی، نو هغۀ ته دې
د خپلو بدو سزا مِلاؤ شی. ٢ کۀ څوک په غلطۍ سره یو حرام څیز له
لاس وروړی، لکه چې یو مړ مُردار څناور له، نو هغه ناپاک اؤ ګُناهګار
دے چې څنګه ورته پته ولګې چې هغۀ دا خطا کړې دی. ٣ کۀ څوک
په غلطۍ سره د یو اِنسان یو ناپاک څائ یا څیز له لاس وروړی، چې
دا څۀ څیز هم وی، نو هغه ناپاکه اؤ ګُناهګار دے چې څنګه ورته پته
ولګې چې هغۀ دا خطا کړې دی. ٤ کۀ څوک بغیر د سوچ کولو نه
قسم وخوری، چې دا قسم د هر څیز په باره کښې وی کۀ قسم ښۀ وی
اؤ یا بد وی، نو هغه ناپاکه اؤ ګُناهګار دے چې څنګه ورته پته ولګې
چې هغۀ څۀ کړی دی. ٥ کله چې یو کس ګُناه وکړی، نو هغه دې
خامخا د ګُناه اِقرار وکړی، ٦ اؤ د خپلې ګُناه په جُرمانه کښې به هغه
خامخا یوه ګډه یا چېلۍ مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه راولی. اِمام
به د هغه کس د ګُناه د پاره کفاره ادا کړی. ٧ کۀ هغه کس ګډه یا
چېلۍ نۀ شی اخستلے، نو هغه به د خپلې ګُناه د پاره په بدل کښې دوه

ګُوګُوشتکې یا دوه کونترې راوړی، یوه به د ګُناه د نذرانې د پاره اؤ یوه به
د سوزېدُونکې نذرانې د پاره وی. ۸ هغه به دا اِمام ته راوړی، نو وړومبی
به مارغۀ د ګُناه د نذرانې د پاره پېش کړی. د دې څټ به تاؤ کړی خو
چې سر ترې نه بېل نۀ شی ۹ اؤ څۀ وینه دې د قُربانګاه په یو طرف
باندې وشیندی، پاتې شوې وینه دې د قُربانګاه په بېخ کښې وڅڅولے
شی. دا د ګُناه د لرې کولو د پاره یوه نذرانه ده. ۱۰ بیا د اصُولو په مُطابق
هغه دویم مارغۀ دې د سوزېدُونکې نذرانې په توګه پېش کړی. داسې به
اِمام د هغه کس د ګُناه د پاره کفاره ادا کړی کُومه چې هغۀ کړې ده اؤ
هغه به معاف شی. ۱۱ کۀ هغه کس دوه ګُوګُوشتکې یا دوه کونترې هم
نۀ شی راوړلے، نو هغه به یو کیلو اوړۀ د ګُناه د نذرانې په توګه راوړی.
هغه دې په دې کښې د زیتُونو تېل یا خوشبوئی نۀ اچوی، ځکه چې دا
د ګُناه نذرانه ده. ۱۲ هغه کس به دا اِمام ته راوړی، اِمام به یو مُوټے ترې
نه د نښې په توګه واخلی چې دا ټول مالِک خُدائ ته پېش کړی شوی
دی اؤ په اور سوزېدُونکې نذرانې سره به یې په قُربانګاه باندې وسوزوی.
دا یوه داسې نذرانه ده چې ګُناه لرې کوی. ۱۳ داسې اِمام به د هغه کس
د ګُناه د پاره کفاره ادا کړی چې په دې مُختلفو ګُناهونو کښې یې کُومه
ګُناه هم کړې وی اؤ هغه به معاف شی. پاتې شوی اوړۀ به هم د غلې
نذرانې په شان د اِمام وی.

## د تاوان نذرانې

۱۴ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته دا اصُول وښودل. ۱۵ کۀ یو کس په
غلطۍ سره داسې ګُناه وکړی اؤ د هغه قیمت په ورکولو کښې ناکام

شی چې کُوم مالِک خُدائ ته پېش کول وُو، نو هغه به د تاوان د
نذرانې په توګه یو داسې ګډ یا چېلے مالِک خُدائ ته راولی چې هیڅ
عېب په کښې نۀ وی. د دې قیمت به د منلے شوی معیار په مُطابق
مُقررولے شی. ۱۶ هغه به خامخا هغه پېسې ورکوی چې د کُومو په
ورکولو کښې ناکام شوے وی اؤ شل فی‌صده زیاتې دې هم ورکړی.
هغه به دا پېسې اِمام ته ورکړی اؤ اِمام به د هغه کس د ګُناه د نذرانې
د پاره څناور پېش کړی اؤ هغه کس به معاف شی. ۱۷ کۀ څوک
یوه داسې ګُناه وکړی چې په غلطئ سره د مالِک خُدائ د حُکمُونو
نه یو حُکم مات کړی، نو هغه ګُناهګار دے اؤ جُرمانه به ورکوی.
۱۸ هغه به خامخا اِمام ته د تاوان د نذرانې په توګه یو ګډ یا چېلے
راولی چې هیڅ عېب په کښې نۀ وی. د دې قیمت به د منلے شوی
معیار په مُطابق مُقررولے شی. اِمام به د هغۀ د ګُناه د پاره کفاره ادا
کړی کُومه چې هغۀ په غلطئ سره کړې وی اؤ هغه به معاف کړې
شی. ۱۹ دا د هغې ګُناه د تاوان نذرانه ده کُومه چې هغۀ د مالِک
خُدائ خِلاف کړے وی.

۶ ۱ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته دا اصُول وښودل. ۲ کۀ څوک
د مالِک خُدائ خِلاف داسې ګُناه وکړی، لکه چې د یو
بنی اِسرائیلی امانت واپس ورنۀ کړی، یا د چا نه څۀ څیز پټ کړی،
یا څوک دهوکه کړی، نو یوه نذرانه به ورکړی، ۳ یا کۀ یو ورک
شوے څیز پیدا کړی اؤ د هغې په باره کښې دروغ ووائی اؤ داسې
قسم وخوری چې هغۀ دا نۀ دے مُوندلے. ۴-۵ کله چې یو کس
په داسې طریقه ګُناه وکړی، هغۀ چې څۀ څیز هم د غلا یا دهوکې

په طریقه اخستے وی نو هغه دې واپس ورکړی. په کُومه ورځ چې
هغه گُناهګار ثابت شی، نو هغه به خامخا د هغه څیز مالِک ته پُوره
تاوان ورکوی اؤ شل فی‌صده زیات به هم ورکوی. ⁶ هغه دې اِمام
ته یو داسې بې‌عیبه ګډه یا چیلے راولی چې مالِک خُدائ ته یې د
نذرانې په توګه پیش کړی. د دې قیمت به د منلے شوی معیار په
مُطابق مُقررولے شی. ⁷ اِمام به د هغه کس د گُناه د پاره کفاره ادا
کړی اؤ هغه به معاف شی.

## سوزېدُونکې نذرانې

⁸ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم وکړو ⁹ چې هارُون
اؤ د هغهٔ زامنو ته د سوزېدُونکې نذرانو د پاره دا اصُول
وښایه. یوه سوزېدُونکې نذرانه به ټوله شپه په قُربان‌ګاه باندې
پرېښودلے شی اؤ اور دې بل وساتلے شی. ¹⁰ بیا به اِمام خپله
د لټې چُوغه اؤ د لټې جانګی واغوندی، په قُربان‌ګاه باندې
د سوزېدُونکې نذرانې نه پاتې شوې ایرې به لرې کړی اؤ د
قُربان‌ګاه په څنګ کښې به یې واچوی. ¹¹ بیا دې جامې بدلې
کړی اؤ ایرې دې د خېمو نه بهر یو پاک ځائ ته یوسی. ¹² په
قُربان‌ګاه دې اور بل وساتلے شی خو چې مړ نهٔ شی. اِمام
به هر سحر په دې باندې لرګی بړدی، سوزېدُونکې نذرانه به
په دې سمه بړدی اؤ د سلامتیٔ د نذرانې وازګه دې ورباندې
سوزوی. ¹³ اور دې خامخا په قُربان‌ګاه بل وساتلے شی اؤ
چې کله هم مړ نهٔ شی.

## د غلې نذرانې

۱۴ دا د غلې نذرانې د پاره اصُول دى. د هارُون د کورنۍ يو اِمام
به د مالِک خُدائ په حضُور کښې د قُربان‌ګاه په مخکښې د غلې
نذرانه پېش کړى. ۱۵ بيا به هغه د ښو اوړو چې تېل ورسره ګډ وى
اؤ خوشبوئى ورباندې پرته وى د هغې نه دې يو مُوټے واخلى اؤ په
قُربان‌ګاه باندې به يې د يوې نښې په توګه وسوزوى چې دا ټوله
مالِک خُدائ ته پېش کړے شوې ده. د دې نذرانې بُوئ په مالِک
خُدائ ښهٔ لګى. ۱۶-۱۷ اِمامان به هغه پاتې شوې برخه وخورى.
د دې نه به پتيره ډوډۍ پخه کړے شى اؤ په مُقدس ځائ کښې،
د مالِک خُدائ د حضُور د خېمې په دربار کښې به وخوړلے شى.
دا مالِک خُدائ اِمامانو له په سوزېدُونکې نذرانه کښې د هغوئ د
برخې په توګه ورکړې ده. دا د ګُناه د نذرانې اؤ د تاوان د نذرانې
په شان ډېره مُقدسه ده. ۱۸ په راتلُونکى ټولو وختُونو کښې د هارُون
د اولاد هر يو نر کس مالِک خُدائ ته په اور سوزېدُونکې نذرانې نه
خپله برخه د همېشه د پاره خوړلے شى. کهٔ بل هر څوک هم دې
نذرانې له لاس وروړى نو د دې د پاکوالى په وجه به هغهٔ ته تکليف
ملاوېږى. ۱۹ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته دا اصُول وښودل. ۲۰ په کُومه
ورځ چې د هارُون د کورنۍ يو اِمام مُقررولے شى نو هغه به يو کيلو
ښهٔ اوړهٔ مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه پېش کوى د عامې غلې
د نذرانې په شان، نيم په سحر کښې اؤ نيم په ماښام کښې. ۲۱ دا
به په تېلو کښې ګډ شى، په تبخى به پاخهٔ کړے شى اؤ چُورى به

کړے شی اؤ د غلې د نذرانې په توګه به پیش کړے شی، د دې
بُوئ په مالِک خُدائ ښۀ لګې. ۲۲ په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې به
د هارُون د اولاد هر یو کس دا نذرانه تیاروی کُوم چې د مشر اِمام
په توګه خِدمت کوی. مالِک خُدائ ته د پیش کړے شوې قُربانۍ په
توګه دا به ټوله وسوزولے شی. ۲۳ د اِمام د غلې د نذرانې یوه برخه
به هم نۀ شی خوړلے، ټوله به خامخا سوزولے شی.

## د ګُناه نذرانې

۲۴ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم وکړو چې ۲۵ هارُون اؤ د هغۀ
زامنو ته د ګُناه د نذرانې د پاره دا اصُول وښایه. د ګُناه د نذرانې
څناور به د مالِک خُدائ په حضُور کښې حلالولے شی، چرته چې د
سوزېدُونکې نذرانې د پاره څناور حلالېږی. دا یوه ډېره مُقدسه نذرانه
ده. ۲۶ کُوم اِمام چې دا څناور قُربانی کوی هغه به دا په مُقدس ځائ
کښې وخوری چې هغه د مالِک خُدائ د حضُور د خېمې دربار دے.
۲۷ هر څوک یا هر څیز چې د دې څناور د غوښې سره ولګې نو هغوی
ته به د دې د پاکوالی په وجه تکلیف مِلاؤ شی. کۀ جامې د څناور په
وینه ولړلے شی، نو هغه به خامخا په مُقدس ځائ کښې وینځلے شی.
۲۸ د خاورې په کُوم لُوښی کښې چې غوښه یشولے شوې وی هغه
دې مات کړلے شی اؤ کۀ د زېړو لوښے اِستعمال شوے وی، نو هغه
دې ومږلے شی اؤ په اوبو کښې دې کنګال کړے شی. ۲۹ د اِمامانو
د کورَنو هر نر دا نذرانه خوړلے شی، دا ډېره مُقدسه ده. ۳۰ خو کۀ د
کُوم څناور وینه مُقدسې خېمې ته دننه راوړلے شی اؤ د ګُناه د کفارې

ادا کولو د پاره اِستعمال شی، نو هغه ځناور دې نۀ شی خوړلے چې د
کُوم نه وینه اخستے شوې وی، اؤ دا دې وسوزولے شی.

## د تاوان نذرانې

۷ ١ دا لاندې د تاوان د نذرانو د پاره اصُول دی، کُومې
چې ډېرې مُقدسې دی. ٢ د تاوان نذرانې د پاره ځناور به
هلته حلالېږی، چرته چې د سوزېدُونکې نذرانې ځناور حلالېږی اؤ د
دې وینه دې د قُربان‌ګاه په ټولو طرفُونو وشیندلے شی. ٣ د دې ټوله
وازګه دې په قُربان‌ګاه باندې پېش کړے شی: لم، هغه وازګه چې
په کولمو پرته وی، ٤ پښتورګی اؤ هغه وازګه چې ورباندې پرته وی
اؤ د اینې ښه حِصه هم. ٥ اِمام به هغه ټول مالِک خُدائ ته په اور
سوزېدُونکې نذرانې په توګه په قُربان‌ګاه وسوزوی. دا د تاوان نذرانه
ده. ٦ د اِمامانو د کورَنو هر نر کس دا خوړلے شی، خو دا به خامخا
په یو مُقدس ځائ کښې خوړلے شی، ځکه چې دا ډېره مُقدسه ده.
٧ د ګُناه نذرانې اؤ د تاوان نذرانې دواړو د پاره یو شان اصُول دی:
غوښه د هغه اِمام ده چې کفاره ادا کوی. ٨ اِمام چې د چا د پاره
سوزېدُونکې نذرانه پېش کوی نو د هغه ځناور څرمن به د هغه اِمام
وی. ٩ د غلې هره یوه نذرانه کُومه چې په تنُور کښې یا لوښی یا
په تبخی پخېږی هغه د اِمام ده چا چې خُدائ پاک ته دا پېش کړې
ده. ١٠ خو د غلې هغه ټولې نذرانې چې پخې شوې نۀ وی، کۀ په
تېلو غوړې وی یا سپورې وی، هغه د هارُون د کورنی د ټولو اِمامانو
دی اؤ یو برابر دې په هغوئ باندې وویشلے شی.

## د سلامتۍ نذرانې

⑪ دا د سلامتۍ د نذرانو د پاره اصُول دی کُومې چې مالِک خُدائ
ته پېش کولے شی. ⑫ کۀ یو کس دا نذرانه د شُکرانې په توګه خُدائ
پاک ته پېش کوی، چې کُوم څناور قُربانی کېږی د هغه سره دې په
یو ځائ د پتیرې ډوډۍ یوه نذرانه پېش کړی: داسې غټه ډوډۍ چې د
زیتُونو تېل ورسره ګډ شوی وی یا نرۍ پخې شوې ډوډۍ چې د زیتُونو
تېل وربانديې لګولے شوی وی یا د ښو اوړو نه پخه شوې داسې ډوډۍ
چې د زیتُونو تېل ورسره ګډ شوی وی. ⑬ د دې نه علاوه، هغه دې
خمبیره پخې شوې ډوډۍ هم پېش کړی. ⑭ هغه دې د هر قِسم ډوډۍ
یوه یوه حِصه د خاص برخې په توګه مالِک خُدائ ته پېش کړی، دا
د هغه اِمام دی کُوم چې د څناور وینه واخلی اؤ د قُربانګاه سره یې
وشیندی. ⑮ د سلامتۍ د نذرانې غوښه دې خامخا هم په هغه ورځ
وخوړلے شی چې په کُومه ورځ هغه قُربانی کېږی، تر بل سحر پورې
دې د هغې نه هیڅ څیز پاتې نۀ شی. ⑯ کۀ یو کس د قسم پُوره کولو
یا د خپلې رضاکارانه نذرانې په توګه، د سلامتۍ نذرانه راوړی، چې دا
په کُومه ورځ پېش کېږی نو په هغه ورځ دې خوړلے شی خو چې څۀ
پاتې وی نو هغه په بله ورځ خوړلے شی. ⑰ څۀ غوښه چې پاتې وی نو
هغه دې په دریمه ورځ وسوزولے شی. ⑱ کۀ د سلامتۍ نذرانې نه څۀ
په دریمه ورځ هم وخوړلے شی، نو خُدائ پاک به د هغه کس نذرانه
قبُوله نۀ کړی. دا نذرانه به د هغۀ په فائده کښې حِساب نۀ شی بلکه
ناپاکه به وګڼلے شی اؤ چې څوک هم دا وخوری نو هغۀ ته به د خپلو

بدو سزا مِلاؤ شی. ۱۹ کۀ چرې دا غوښه په يو ناپاک څيز پورې ولګي،
نو دا دې نۀ شی خوړلے، بلکه ودې سوزولے شی. چې څوک پاک
وی نو هغه دا پاتې شوې غوښه خوړلے شی، ۲۰ خو کۀ څوک پاک نۀ
وی اؤ د سلامتئ نذرانې غوښه وخوری کُومه چې مالِک خُدائ ته پېش
کړے شوې وی، نو هغه به نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی ګڼلے.
۲۱ کۀ يو کس ناپاک څيز له لاس وروړی، کۀ هغه ناپاکی د بنيادم يا د
ځناور وی اؤ د دې نذرانې غوښه وخوری، نو هغه به نور د خُدائ پاک
د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۲۲ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته دا اصُول وښودل
۲۳ کُوم چې د بنی اِسرائيلو د پاره دی: د څاروو، ګډو، يا د چېلو
وازګه مۀ خورئ. ۲۴ يو ځناور چې په خپل مرګ مړ وی يا کۀ ځنګلی
ځناورو وژلے وی د هغۀ وازګه به نۀ خورئ، خو هغه د څۀ بل مقصد
د پاره اِستعمالېدے شی. ۲۵ کۀ څوک د يو ځناور وازګه وخوری کُوم
چې مالِک خُدائ ته په اور سوزېدُونکې نذرانې په توګه پېش کېدے
شو نو هغه کس به نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۲۶ بنی
اِسرائيل چې چرته هم اوسېږی، هغوئ دې هيڅ کله هم د مارغانو يا د
ځناورو وينه نۀ خوری. ۲۷ هر څوک چې وينه وخوری نو هغه به نور د
خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۲۸ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته دا
اصُول وښودل ۲۹ کُوم چې د بنی اِسرائيلو د پاره دی: هر څوک چې
يوه د سلامتئ نذرانه پېش کوی نو د هغې يوه برخه به د خاص تُحفې
په توګه مالِک خُدائ ته پېش کوی، ۳۰ هغه دې دا په خپلو لاسُونو په
اور سوزېدُونکې نذرانې په توګه راوړی. هغه دې د هغه ځناور وازګه
سره د ځناور د سينې راوړی اؤ مالِک خُدائ ته دې د يو خاص تُحفې

په توګه پېش کړی. ۳۱ اِمام به وازګه په قُربان‌ګاه باندې وسوزوی، خو
هغه سینه به د اِمامانو وی. ۳۲ د ځناور وروستونے ښے پټُون به د یوې
برخې په توګه اِمام ته ورکولے شی، ۳۳ هغه اِمام له کُوم چې وینه اؤ د
سلامتئ نذرانې وازګه پېش کوی. ۳۴ د ځناور سینه یوه خاص تُحفه ده
اؤ ښے پټُون یوه خاص برخه ده چې مالِک خُدائ یې د بنی اِسرائیلو
نه اخلی اؤ اِمامانو له یې ورکوی. نو داسې بنی اِسرائیل به په راتلُونکی
ټولو وختُونو کښې دا اِمامانو ته ورکوی. ۳۵ دا مالِک خُدائ ته په اور
سوزېدُونکې نذرانې برخه ده چې هارُون اؤ د هغهٔ زامنو ته ورکړے شوه
چې په کُومه ورځ هغوئ د اِمامانو په توګه مُقرر شول. ۳۶ په هغه ورځ
مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو ته حُکم وکړو چې هغوئ ته د نذرانې دا برخه
ورکړی. دا یو اصُول دے چې په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې به یې بنی
اِسرائیل خامخا منی. ۳۷ دا اصُول د سوزېدُونکې نذرانو د پاره دی، د
غلې نذرانو د پاره، د ګُناه نذرانو، د تاوان نذرانو، د مُقررولو نذرانو اؤ
د سلامتئ د نذرانو د پاره دی. ۳۸ هلته په بیابان کښې د سینا په غرهٔ
باندې، مالِک خُدائ په هغه ورځ مُوسیٰ له دا حُکمونه ورکړل اؤ هغهٔ
بنی اِسرائیلو ته ووئیل چې خپلې نذرانې راوړئ.

## د حضرت هارُون اؤ د هغهٔ د زامنو مُقرر کېدل

(د هِجرت کِتاب ۲۹: ۱-۳۷)

۸ ۱ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ۲ ”هارُون اؤ د هغهٔ
زامن اؤ د اِمامانو لِباس، د غوړولو تېل، د ګُناه نذرانې د
پاره څخرے، د پتیرې ډوډئ ټوکرئ اؤ دوه ګډان راوله. ۳ اؤ زما

د حضُور مُقدسې خېمې د دروازې خُلې ته ټول قوم راوغواړه چې
هلته راغونډ شی.“ ⁽⁴⁾ مُوسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک
خُدائ حُکم ورکړے وو اؤ چې کله ټول قوم هلته راغونډ شو، ⁽⁵⁾ نو
مُوسیٰ هغوئ ته ووئیل، ”زۀ چې څۀ کوم مالِک خُدائ د دې حُکم
راکړے دے.“ ⁽⁶⁾ مُوسیٰ هارُون اؤ د هغۀ زامن مخکښې راوستل اؤ
هغوئ له یې په اوبو غُسل وکړو. ⁽⁷⁾ هغۀ هارُون ته هغه قمیص اؤ
چُوغهورواغوستله اؤ د ملا نه یې پټئ ورله تاؤ کړه. هغه پېش بند یې
ورواغوستلو اؤ په یو ښۀ ګلکاری شوی کمربند سره یې ونښلولو چې
د هغۀ د ملا نه تاؤ وو. ⁽⁸⁾ هغۀ ورله د سینې جېب ولګولو اؤ اُوریم اؤ
تمیم یې په کښې کېښودل. ⁽⁹⁾ هارُون ته یې پټکے ورپه سر کړو اؤ د
دې مخې ته یې د سرو زرو ګُل ولګولو چې دا د وقف کولو مُقدسه
نښه وه، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ هغۀ ته حُکم ورکړے
وو. ⁽¹⁰⁾ بیا مُوسیٰ د غوړولو تېل واخستل اؤ د مالِک خُدائ د حضُور
په مُقدسه خېمه اؤ چې په هغې کښې څۀ هم وُو په هغې باندې یې
ولګول، نو هغۀ دا هر څۀ مالِک خُدائ ته مخصُوص کړل. ⁽¹¹⁾ هغۀ
څۀ تېل اووۀ ځله په قُربان‌ګاه، د دې په سامان اؤ د وینځلو په ښانک
اؤ د دې په بېخ باندې وشیندل، د دې د پاره چې دا مالِک خُدائ
ته وقف کړی. ⁽¹²⁾ مُوسیٰ د هارُون په سر باندې د غوړولو د پاره څۀ
تېل واچول اؤ سر یې ورله غوړ کړو چې وقف شی. ⁽¹³⁾ بیا، مُوسیٰ د
هارُون زامن مخکښې راوستل اؤ قمیصُونه یې ورواغوستل، د هغوئ
د ملا نه یې پټئ تاؤ کړې اؤ ټوپئ یې ورپه سر کړې، هم هغه شان
چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ⁽¹⁴⁾ بیا مُوسیٰ د ګُناه د

نذرانې د پاره هغه څخرے راوستو اؤ هارُون اؤ د هغهٔ زامنو د دې په
سر باندې خپل لاسُونه کېښودل. ۱۵ مُوسىٰ دا حلال کړو اؤ څهٔ وينه
يې واخستله اؤ د خپلې گوتې سره يې د قُربانگاه په ښکرُونو پورې
ولگوله، د دې د پاره چې وقف يې کړى. بيا هغهٔ پاتې شوې وينه د
قُربانگاه په بېخ کښې توئ کړه. نو دا يې وقف کړه اؤ د دې کفاره
يې ادا کړه. ۱۶ مُوسىٰ په کولمو پرته ټوله وازگه، د اينې ښهٔ حِصه،
پښتورگى سره د هغه وازگې چې ورباندې پرتې وى، دا هر څهٔ يې
واخستل اؤ په قُربانگاه باندې يې وسوزول. ۱۷ خو هغهٔ څخرے، سره
د څرمنې، غوښې اؤ د کولمو يوړو اؤ د خېمو نه بهر يې وسوزولو،
هم هغه شان چې څنگه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ۱۸ بيا،
مُوسىٰ د سوزېدُونکې نذرانې د پاره گډ راوستلو اؤ هارُون اؤ د هغهٔ
زامنو خپل لاسُونه د دې په سر کېښودل. ۱۹ مُوسىٰ دا حلال کړو
اؤ د دې وينه يې د قُربانگاه په څلورو واړو طرفُونو باندې وشيندله.
۲۰-۲۱ هغهٔ دا گډ حِصې حِصې کړو اؤ د هغهٔ دننى اندامُونه اؤ پټُونُونه
يې په اوبو ووينځل اؤ سر، وازگه اؤ نور ټول پاتې شوے گډ يې په
قُربانگاه باندې وسوزولو، هم هغه شان چې څنگه مالِک خُدائ حُکم
ورکړے وو. دا سوزېدُونکې نذرانه يوه په اور تيارېدُونکې نذرانه وه
اؤ د دې بُوئ په مالِک خُدائ ښهٔ ولگېدو. ۲۲ بيا مُوسىٰ دويم گډ
راوستلو، کُوم چې د اِمامانو د مُقررولو د پاره وو اؤ هارُون اؤ د هغهٔ
زامنو خپل لاسُونه د دې په سر کېښودل. ۲۳ مُوسىٰ دا حلال کړو اؤ
څهٔ وينه يې واخستله اؤ د هارُون د ښى غوږ په نرم ځائ، د هغهٔ د
ښى لاس په غټه گوته اؤ د هغهٔ د ښى خپې په غټه گوته باندې يې

ولګوله. ٢٤ بیا هغهٔ د هارُون زامن مخکښې راوستل اؤ څهٔ وینه یې د
هغوئ د ښې غوږُونو په نرمو ځایُونو، د هغوئ د ښې لاسُونو په غټو
ګوتو اؤ د هغوئ د ښې خپو په غټو ګوتو پورې ولګوله. بیا مُوسیٰ
هغه پاتې شوې وینه د قُربان‌ګاه په څلورو واړو طرفُونو باندې وشیندله.
٢٥ هغهٔ وازګه، لم، هغه ټوله وازګه چې په دننی اندامُونه پرته وی،
د اینې ښهٔ حِصه، پښتورګی سره د هغه وازګې چې ورباندې پرته
وی اؤ ښے پتُون واخستلو. ٢٦ بیا هغهٔ د پتیرې ډوډۍ د ټوکرۍ نه
یوه ډوډۍ واخستله کُومه چې مالِک خُدائ ته وقف شوې وه، یوه
غوړه ډوډۍ اؤ یوه نرۍ ډوډۍ راواخستله اؤ د وازګې اؤ د ښی پتُون
د پاسه یې کېښودله. ٢٧ هغهٔ دا هر څهٔ د هارُون اؤ د هغهٔ د زامنو
په لاسُونو کښې کېښودل، نو هغوئ دا د یوې خاص تُحفې په توګه
مالِک خُدائ ته پیش کړل. ٢٨ مُوسیٰ دا هر څهٔ د هغوئ نه واخستل
اؤ په قُربان‌ګاه باندې یې، د سوزېدُونکې نذرانې د پاسه، د مُقررولو
نذرانې په توګه وسوزول. دا په اور سوزېدُونکې نذرانه وه اؤ د دې
بُوئ په مالِک خُدائ ښهٔ ولګېدو. ٢٩ بیا مُوسیٰ هغه سینه واخستله
اؤ مالِک خُدائ ته یې د یوې خاص تُحفې په توګه پیش کړه. دا د
مُوسیٰ د مُقررولو په ګډه کښې حِصه وه. مُوسیٰ هر څهٔ هم هغه شان
وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم ورکړے وو. ٣٠ مُوسیٰ د سر
غوړولو څهٔ تېل اؤ څهٔ وینه د قُربان‌ګاه نه واخستله اؤ په هارُون اؤ د
هغهٔ په زامنو اؤ د هغوئ په جامو یې وشیندله. داسې هغهٔ هغوئ اؤ
د هغوئ جامې مالِک خُدائ ته مخصُوصې کړې. ٣١ مُوسیٰ هارُون
اؤ د هغهٔ زامنو ته ووئیل، ”دا غوښه د مالِک خُدائ د حضُور خېمې

خُلې ته يوسئ، وې يشوئ اؤ د هغې ډوډۍ سره يې وخورئ کُومه
چې د مُقررولو نذرانې په ټوکرۍ کښې ده، هم هغه شان چې څنګه
مالِک خُدائ حُکم کړے دے. ۳۲ کُومه غوښه يا ډوډۍ چې پاتې
وى نو هغه وسوزوئ. ۳۳ اووهٔ ورځې به تاسو د خېمې د دروازې
خُلې نه نهٔ ځئ، چې ستاسو د مُقررولو رسمُونه پُوره شوى نهٔ وى.
۳۴ چې نن مُونږ څهٔ وکړل نو مالِک خُدائ مُونږ له د دې کولو
حُکم راکړے دے، چې ستاسو د ګُناه کفاره ادا کړُو. ۳۵ تاسو به
د مُقدسې خېمې د دروازې په خُلهٔ کښې اووهٔ شپې اؤ ورځې پاتے
کېږئ، هغه کار به کوئ د کُوم چې مالِک خُدائ حُکم کړے
دے. کهٔ تاسو داسې ونهٔ کړئ نو مړهٔ به شئ. ځکه چې دا هغه
څهٔ دى د کوم چې مالِک خُدائ ما له حُکم راکړے دے.“ ۳۶ نو
هارُون اؤ د هغهٔ زامنو هغه هر څهٔ وکړل لکه څنګه چې مالِک
خُدائ د مُوسىٰ په ذريعه حُکم ورکړے وو.

## حضرت هارُون قُربانۍ پېش کوى

**۹**
۱ د مُقررولو د رسمُونو نه پس په اتمه ورځ، هارُون د هغهٔ
زامن اؤ د اِسرائيليانو مشران مُوسىٰ راوغوښتل. ۲ هغهٔ هارُون
ته ووئيل، ”يو څخرے اؤ يو ګډ روان کړه چې هيڅ عېب په کښې نهٔ
وى اؤ مالِک خُدائ ته يې پېش کړه، څخرے د ګُناه د نذرانې د پاره
دے اؤ ګډ د سوزېدُونکې نذرانې د پاره دے. ۳ بيا بنى اِسرائيلو
ته ووايه چې د ګُناه د نذرانې د پاره يو چېلے، د يو کال څخرے اؤ
د يو کال ګډُورے بوځى چې هيڅ عېب په کښې نهٔ وى، دا به د

سوزېدُونکې نذرانې د پاره وی، ٤ اؤ يو غوَيے اؤ يو ګډ به د سلامتئ
د نذرانې د پاره وی. هغوئ به دا مالِک خُدائ ته قُربانی کړی، د
غلې نذرانه به هم وی چې تېل ورسره ګډ وی. هغوئ به خامخا
داسې کوی ځکه چې مالِک خُدائ به نن هغوئ ته څرګندېږی.“
٥ هغوئ هر څۀ د مُقدسې خېمې مخې ته راوړل چې څنګه مُوسىٰ
حُکم کړے وو اؤ د مالِک خُدائ د عِبادت د پاره ټول قوم هلته
راغونډ شو. ٦ مُوسىٰ ووئيل، ”مالِک خُدائ تاسو له حُکم درکړے
دے چې دا هر څۀ وکړئ، نو د هغۀ د حضُور سپين جلال به تاسو
ته ښکاره شی.“ ٧ بيا هغۀ هارُون ته ووئيل، ”قُربان‌ګاه ته لاړ شه اؤ
د ګُناه نذرانه اؤ سوزېدُونکې نذرانه پېش کړه چې ستا اؤ د خلقو د
پاره کفاره ادا شی. د خلقو د پاره نذرانه پېش کړه اؤ د هغوئ د پاره
کفاره ادا کړه، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے
دے.“ ٨ هارُون قُربان‌ګاه ته لاړو اؤ د خپل ځان د پاره يې يو سخے
د ګُناه د نذرانې په توګه حلال کړو. ٩ د هغۀ زامنو وينه راوړه اؤ
هغۀ خپله ګوته په دې کښې ډُوبه کړه، لږه يې د قُربان‌ګاه په ښکرو
پورې ولګوه اؤ پاتې شوې وينه يې د قُربان‌ګاه په بېخ کښې توئ کړه.
١٠ بيا هغۀ د ګُناه د نذرانې نه وازګه، پښتورګی اؤ د اينې ښۀ حِصه
په قُربان‌ګاه باندې وسوزول، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ
مُوسىٰ ته حُکم ورکړے وو. ١١ خو هغۀ غوښه اؤ څرمن د کېمپ نه
بهر وسوزوله. ١٢ هغه ځناور يې حلال کړو کُوم چې د هغۀ د خپلې
سوزېدُونکې نذرانې د پاره وو. د هغۀ زامنو هغۀ له وينه راوړه، نو هغۀ
د قُربان‌ګاه په څلورو واړو طرفُونو باندې وشيندله. ١٣ بيا هغوئ هغۀ

له د سوزېدُونکي نذرانې يوه يوه حِصه سره د سر ورکړه اؤ هغۀ دا په
قُربان‌گاه باندې وسوزول. ۱۴ بيا هغۀ دننني اندامُونه اؤ پښُونه ووينځل
اؤ په قُربان‌گاه باندې يې د پاتې شوې سوزېدُونکي نذرانې د پاسه
وسوزول. ۱۵ د هغې نه پس، هغۀ د خلقو نذرانې پېش کړې. چېلے
يې بوتلو کُوم چې د خلقو د گُناه د پاره پېش کولے شو، حلال اؤ
پېش يې کړو، هم هغه شان چې څنگه يې د خپلې گُناه د پاره پېش
کړے وو. ۱۶ هغۀ د سوزېدُونکي نذرانې د پاره څناور هم راوستلو
اؤ د اصُولو په مُطابق يې پېش کړو. ۱۷ هغۀ د غلې نذرانه پېش کړه،
هغۀ يو مُوټے اوړۀ واخستل اؤ په قُربان‌گاه باندې يې وسوزول. دا د
هرې ورځې سوزېدُونکي نذرانې نه علاوه وه. ۱۸ هغۀ غوَيے اؤ گډ د
خلقو د پاره د سلامتئ نذرانې په توگه حلال کړل. د هغۀ زامنو هغۀ
له وينه راوړه اؤ هغۀ د قُربان‌گاه په څلورو واړو طرفُونو باندې واچوله.
۱۹ هارُون د غوَيي اؤ گډ د وازگې والا حِصې واخستلې، ۲۰ د هغه
څناورو په سينو يې د پاسه کېښودلې اؤ هر څۀ يې قُربان‌گاه ته راوړل.
هغۀ وازگه په قُربان‌گاه باندې وسوزوله ۲۱ اؤ هغه سينې اؤ ښے پښُون
يې مالِک خُدائ ته د اِمامانو د پاره د خاص تُحفې په توگه پېش
کړې، څنگه چې مُوسىٰ حُکم کړے وو. ۲۲ چې کله هارُون ټولې
قُربانئ ختمې کړې، هغۀ خپل لاسُونه د خلقو طرف ته اُوږدۀ کړل
اؤ د هغوئ د پاره يې برکت وغوښتو اؤ بيا راکُوز شو. ۲۳ مُوسىٰ اؤ
هارُون د مالِک خُدائ مُقدسې خېمې ته دننه لاړل اؤ چې راووتل،
نو د خلقو د پاره يې برکت وغوښتلو اؤ د مالِک خُدائ سپين جلال
ټولو خلقو ته ښکاره شو. ۲۴ ناڅاپه مالِک خُدائ اور راولېږلو اؤ دې

اور په قُربانګاه باندې د وازګې والا حِصې اؤ سوزېدُونکې نذرانه
پُوره وسوزوله. چې خلقو دا وليدل، نو هغوئ ټولو چغې کړې اؤ
سجده يې وکړه.

## د دوه اِمامانو وژل کېدل

**۱۰** ۱ نو د هارُون زامنو ندب اؤ ابيهُو، هر يو خپله د اور بېلچه
واخستله اؤ ژوندى سکارۀ يې په کښې واچول، خوشبوئى
يې ورباندې واچوله اؤ دا يې مالِک خُدائ ته پېش کړل. خو دا اور
خُدائ پاک ته قبُول نۀ وو، ځکه چې مالِک خُدائ هغوئ له د دې د
پېش کولو حُکم نۀ وو ورکړے. ۲ نو ناڅاپه مالِک خُدائ اور راولېږلو
اؤ دې اور هلته د مالِک خُدائ په حضُور کښې هغوئ وسوزول اؤ
مړۀ شول. ۳ بيا مُوسىٰ هارُون ته ووئيل، ”د مالِک خُدائ مطلب
دا وو کله چې هغۀ ووئيل، هر څوک چې زما خِدمت کوى هغوئ
دې خامخا زما د پاکوالى عِزت کوى، زۀ به خپلو خلقو ته خپل
جلال ښرګند کړم.“ خو هارُون غلے پاتې شو. ۴ مُوسىٰ ميسائيل اؤ
الصفن، د عُزى‌ايل زامن راوغوښتل، عُزى‌ايل د هارُون ترۀ وو اؤ مُوسىٰ
هغوئ ته ووئيل، ”دلته راشئ اؤ د خپل ترۀ د زامنو مړى د مُقدسې
خېمې نه يوسئ اؤ د کېمپ نه بهر يې کېږدئ.“ ۵ نو هغوئ راغلل
اؤ مړى يې د جامو نه ونيول اؤ د خېمو نه بهر يې يوړل، هم هغه
شان چې څنګه مُوسىٰ حُکم ورکړے وو. ۶ بيا مُوسىٰ هارُون اؤ د
هغۀ زامنو اِلعازار اؤ اِتمر ته ووئيل، ”خپل وېښتۀ بېر مۀ ساتئ اؤ نۀ
چې خپلې جامې وشلوئ چې ښکاره کړئ چې په غم غمژن يئ. کۀ

تاسو داسې وکړل، نو مړۀ به شئ. اؤ مالِک خُدائ به ټول قوم ته په
قهر شی. خو نورو اِسرائیلیانو ته اِجازت دے چې په دې غم غمژن
شی کُوم مرګ چې د مالِک خُدائ د اور په وجه شوے دے. ۷ د
مُقدسې خېمې د دروازې د خُلې نه مۀ ځئ ګنی مړۀ به شئ، ځکه
چې تاسو د مالِک خُدائ په تېلو غوړ کړے شوی یئ." نو هغوئ
هم هغه شان وکړل چې څنګه مُوسیٰ وئیلی وُو.

## د اِمامانو د پاره اصُول

۸ نو مالِک خُدائ هارُون ته ووئیل، ۹ "د انګُورو یا د وربشو
شرابو څښلو نه پس تۀ اؤ ستا زامن زما د حضُور مُقدسې خېمې ته مۀ
ننوځئ، کۀ تاسو داسې وکړل، نو مړۀ به شئ. دا قانُون د همېشه د
پاره دے چې ستاسو ټول اولاد به پرې عمل کوی. ۱۰ تاسو خامخا
د هغه څیزُونو په مېنځ کښې فرق کوئ څۀ چې د خُدائ پاک دی
یا څۀ چې د عام اِستعمال د پاره دی اؤ د هغه څیزُونو په مېنځ کښې
چې کُوم پاک دی اؤ کُوم ناپاک دی. ۱۱ تاسو بنی اِسرائیلو ته هغه
ټول قانُون وښایئ کُوم چې ما د مُوسیٰ په ذریعه درکړے دے."
۱۲ مُوسیٰ هارُون اؤ د هغۀ دوه پاتې شوو زامنو، اِلعازار اؤ اِتمر ته
ووئیل، "د غلې هغه نذرانه واخلئ کُومه چې مالِک خُدائ ته په اور
سوزېدُونکې نذرانې نه پاتې شوې ده، پتیره ډوډۍ د دې سره پخه
کړئ اؤ د قُربانګاه په خوا کښې یې وخورئ، ځکه چې دا نذرانه
ډېره مُقدسه ده. ۱۳ دا په مُقدس ځائ کښې وخورئ، دا مالِک
خُدائ ته په اور سوزېدُونکې نذرانه کښې ستا اؤ ستا د زامنو حِصه

ده. دا هغه څۀ دی چې مالِک خُدائ ما ته حُکم کړے دے. ۱۴ خو
تاسو اؤ ستاسو کورنئ هغه سینه اؤ پتُون خوړلے شئ کُوم چې د
اِمامانو د پاره مالِک خُدائ ته د خاص تُحفې اؤ خاص برخې په توګه
پیش کیږی. دا تاسو په یو پاک ځائ کښې خوړلے شئ. دا نذرانې
تاسو اؤ ستاسو بچو له د بنی اِسرائیلو د سلامتئ د نذرانو د برخې نه
درکړے شوې دی چې ستاسو شی. ۱۵ هغه پتُون اؤ سینه به په هغه
وخت راوړے شی چې کله وازګه په اور سوزېدُونکې نذرانې په توګه
مالِک خُدائ ته پیش کیږی. دا برخې به همېشه د پاره ستاسو اؤ
ستاسو د بچو وی، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے
دے." ۱۶ مُوسیٰ د ګُناه نذرانې د چېلی په باره کښې تپوس وکړو اؤ
خبر شو چې هغه خو سوزولے شوے دے. په دې باندې هغه اِلعازار
اؤ اِتمر ته په قهر شو اؤ پوښتنه یې وکړه چې، ۱۷ "د ګُناه نذرانه تاسو
په مُقدس ځائ کښې ولې ونۀ خوړله؟ دا ډېره مُقدسه ده اؤ دا مالِک
خُدائ تاسو له د دې د پاره درکړې ده چې د کفارې ادا کولو په
ذریعه د مالِک خُدائ په نظر کښې د قوم ګناهُونه لرې شی. ۱۸ چې
د دې وینه مُقدسې خېمې ته وړلے شوې نۀ وې، نو تاسو له په کار
وُو چې هغه قُربانی مو هلته خوړلے، چې څنګه ما حُکم درکړے
وو." ۱۹ هارُون په جواب کښې ووئیل، "کۀ ما د ګُناه نذرانه خوړلے
وے، نو مالِک خُدائ به قبُوله کړے وے څۀ؟ خلقو نن په خپله د
ګُناه نذرانه مالِک خُدائ ته پیش کړه اؤ هغوئ خپله سوزېدُونکې
نذرانه هم راوړه، خو بیا هم دا مُصیبتُونه ما ته راپېښ شول." ۲۰ چې
کله مُوسیٰ دا واؤرېدل، نو د هغۀ تسلی وشوه.

## حلال اؤ حرام ځناور

**(د ګردان کِتاب ۱۴: ۳-۲۱)**

**۱۱** ۱ مالِک خُدائ مُوسىٰ اؤ هارُون ته دا اصُول وښودل
۲ کُوم چې د بنى اِسرائيلو د پاره وُو: تاسو په زمکه
ګرځېدُونکے هر هغه ځناور خوړلے شئ ۳ چې د هغې د خپو نُوکې
په مېنځ بېلې وى اؤ بيا بيا شخوند وهى، ۴-۶ خو تاسو دا ځناور
مۀ خورئ: اُوښ، ځنګلى سوه، يا عامه سوه. دا به ناپاک ګڼلے
شى، دا بيا بيا شخوند وهى، خو د دې نُوکې په مېنځ بېلې نۀ دى.
۷ خنزير مۀ خورئ. دا به خامخا ناپاک ګڼلے شى، د دې د خپو
نُوکُونه په مېنځ بېل وى، خو بيا بيا شخوند نۀ وهى. ۸ دا ځناور
مۀ خورئ يا چې مړۀ وى نو لاس به هم نۀ وروړئ، دا ناپاک دى.
۹ تاسو هغه هر قِسم کبان خوړلے شئ کُوم چې وزر اؤ په څرمن
پترى لرى، ۱۰ خو داسې د اوبو بل هر يو څيز چې وزر اؤ په څرمن
پترى نۀ لرى هغه نۀ شئ خوړلے. ۱۱ داسې څيزُونه به ستاسو د پاره
حرام وى. تاسو به هيڅ کله هم د دې غوښه نۀ خورئ يا کۀ مړۀ
وى نو لاس به هم نۀ وروړئ. ۱۲ تاسو هر هغه څيز مۀ خورئ کُوم
چې په اوبو کښې اوسېږى اؤ وزر اؤ په څرمن پترى نۀ لرى. ۱۳-۱۹ دا
هغه مارغان دى چې تاسو به ترې نه کرکه کوئ چې تاسو يې ونۀ
خورئ ځکه چې دا حرام دى: شاهين، ګونګا، باز، شهباز، باښه،
ګنجى، کارغۀ، شُترمُرغ، ايلى، زاڼې، ډينګ، ماهى خور مارغۀ،
سمندرى بطحه، مُلاچرچګک يا ښاپيرک. ۲۰ الوتُونکى حشرات

ناپاک دی، تاسو د دې نه کرکه وکړئ. ۲۱ خو بغېر د هغه نه چې
په خپو ګرځی اؤ ټوپُونه وهی. ۲۲ تاسو کړی، د قحطۍ ملخان اؤ
نور ملخان خوړلے شئ. ۲۳ خو نور ټول واړۀ څیزُونه چې وزر لری
اؤ په زمکه باندې په خپو ګرځی دا به ستاسو د پاره حرام وی.
۲۴ - ۲۸ دا ځناور ستاسو د پاره ناپاک دی هر څوک چې دې مړو
ځناورو ته لاس وروړی نو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی: ټول
نُوکُونه لرُونکی ځناور، خو د هغه نه بغېر چې نُوکُونه يې په مېنځ
بېل وی اؤ بیا بیا شخوند وهی اؤ ټول څلور خپې لرُونکی ځناور چې
پنجې لری. چې دا ځناور مړۀ وی اؤ هر څوک ورله لاس وروړی
یا يې یوسی نو هغه به خامخا خپلې جامې وینځی، خو هغه به بیا
هم تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۲۹ - ۳۰ ړنده مږه، عامه مږه، منږکان
اؤ سمسېره، کربوړے اؤ هر قِسم چرمښکې به خامخا ناپاک ګڼلے
شی. ۳۱ دا ستاسو د پاره ناپاک دی. چې دا مړۀ وی اؤ هر څوک
چې لاس وروړی نو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۳۲ اؤ یا کۀ
دا مړۀ وی اؤ په څۀ څیز باندې وغورزېږی، نو هغه به ناپاک وی.
هغه څیز کۀ د لرګی نه جوړ وی، کپړه، څرمن، یا بوجۍ وی، کۀ
هر څیز د پاره هم اِستعمالېږی. هغه څیز به په اوبو کښې غُوپه کړے
شی، خو دا به بیا هم تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۳۳ کۀ دا مړۀ
شوی ځناور د خاورو په لُوښی کښې وغورزېږی، په هغه کښې چې
هر څۀ وی نو هغه به ناپاک وی، نو تاسو هغه لوښے مات کړئ.
۳۴ هر هغه خوراک کُوم چې په عامه توګه خوړلے شی، خو کۀ په
دې خوراک باندې د هغه لُوښی نه اوبۀ توئ کړے شوے وی، نو

هغه خوراک به ناپاک وی اؤ په داسې لوښی کښې چې د څښلو څۀ
هم وی نو هغه به ناپاک وی. ۳۵ کۀ دا مړۀ شوی ځناور په هر څۀ
باندې راوغورزېږی نو هغه به ناپاک وی، کۀ هغه د ختې نغرے وی
یا د پخلی لوښے وی نو ماتولے به شی، ۳۶ خو چینه یا ډیګی به پاکه
وی، خو کۀ بل هر څوک دې مړو ځناورو له لاس وروړی نو هغه به
ناپاک وی. ۳۷ کۀ دا په هغه تُخم باندې وغورزېږی کُوم چې کَرلے
کېږی، نو تُخم به پاک وی. ۳۸ خو کۀ تُخم په اوبو کښې پستولے
شی اؤ دا قِسم مړ ځناور ورباندې راوغورزېږی، نو تُخم به ناپاک وی.
۳۹ کۀ یو حلال ځناور مړ شی، کۀ هر څوک هغه له لاس وروړی نو
هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۴۰ کۀ هر څوک د دې ځناور
څۀ غوښه وخوری، نو هغه به خامخا خپلې جامې وینځی، خو هغه
به بیا هم تر ماښامه پورې ناپاک وی، هر څوک چې دا مړۀ ځناور
یوسی نو هغه به خامخا خپلې جامې ووینځی، خو هغه به بیا هم تر
ماښامه پورې ناپاک وی. ۴۱ تاسو هغه ټول ځناور مۀ خورئ کُوم
چې په زمکه باندې ګرځی، ۴۲ لکه چې په خېټه باندې، یا په څلورو
خپو باندې اؤ یا په ډېرو خپو ګرځی. ۴۳ د دې په خوړلو باندې خپل
ځانُونه مۀ ناپاکه کوئ. ۴۴ زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم
اؤ تاسو خپل ځانُونه پاک اؤ مُقدس ساتئ، ځکه چې زۀ مُقدس یم.
۴۵ زۀ مالِک خُدائ یم چا چې تاسو د مِصر وطن نه راوویستلئ چې
زۀ ستاسو خُدائ پاک یم، تاسو خامخا مُقدس اوسئ، ځکه چې زۀ
مُقدس یم. ۴۶ نو دا د ځناورو اؤ مارغانو په باره کښې قانُون دے، د
هغه هر ژوندی څیز په باره کښې چې په اوبو کښې اوسېږی اؤ چې

په زمکه ګرځی. ۴۷ چې تاسو د پاک اؤ ناپاک اؤ د حلال اؤ حرام
په مېنځ کښې فرق وکړئ.

## د ماشُوم د پېدا کېدو نه پس د ښځې پاکوالے

**۱۲**

۱ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته دا اصُول وښودل ۲ کُوم
چې د بنی اِسرائیلو د پاره دی: د یو زوئ پېدا کېدو نه
پس ښځه تر اووۀ ورځو پورې ناپاکه وی، هم هغه شان چې څنګه د
میاشتنی بیمارئ په دوران کښې ناپاکه وی. ۳ په اتمه ورځ به ماشُوم
سُنت کړے شی. ۴ نو د وینې بندېدو نه پس پاکېدلو کښې درې
دېرش نورې ورځې لګې، هغه به داسې هیڅ څیز له لاس نۀ وروړی
چې کُوم پاک وی اؤ نۀ به مُقدسې خېمې ته ورننوځی چې تر کُومې
پورې د هغې د پاکوالی وخت پُوره شوے نۀ وی. ۵ د یوې لُور
پېدا کېدو نه پس ښځه تر څوارلسو ورځو پورې هم هغه شان ناپاکه
وی، چې څنګه د میاشتنی بیمارئ په دوران کښې ناپاکه وی. بیا به
د هغې د وینې بندېدو نه پس پاکېدلو کښې شپږ شپېته نورې ورځې
لګې. ۶ چې کله د هغې د ناپاکوالی وخت ختم شی نو هغه پاکه
شی، کۀ د هغې زوئ یا لُور پېدا شوې وی، نو هغه به اِمام ته د
مالِک خُدائ د حضُور مُقدسې خېمې خُلې ته د یو کال ګډُورے د
سوزېدُونکې نذرانې د پاره اؤ یوه کونتره یا یوه ګُوګُوشتکه د ګُناه د
نذرانې د پاره راوړی. ۷ اِمام به د هغې نذرانه مالِک خُدائ ته پېش
کړی اؤ د هغې د ناپاکئ د لرې کولو د پاره به کفاره ادا کړی اؤ د
وینې د بهېدو نه به هغه پاکه شی. دا هغه څۀ دی چې یوه ښځه به

يې د هلک يا د جينۍ د پيدا کېدو نه پس خامخا پېش کوى. ⑧ کۀ
هغه ښځه يو ګډُورے نۀ شى اخستلے، نو هغه به دوه ګُوګُوشتکې
يا دوه کونترې راوړى، يوه به د سوزېدُونکې نذرانې د پاره وى اؤ بله
د ګُناه د نذرانې د پاره وى اؤ اِمام به د هغې د ناپاکۍ لرې کولو د
پاره کفاره ادا کړى اؤ هغه به پاکه شى.

## د څرمنې د بيمارۍ په باره کښې قانُون

**۱۳** ① بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ اؤ هارُون ته دا اصُول وښودل.
② کۀ د چا په څرمن زخم وى يا پړسوب يا دانه وى
چې د دې دا يره وى چې د دې نه به لکه د جُذام بيمارى جوړه
شى، نو هغه به د هارُون د کورنۍ اِمام ته راوستلے شى. ③ اِمام به
زخم وګورى اؤ کۀ په دې کښې وېښتۀ سپين شوى وى اؤ زخم د
ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب ښکارېدو، نو دا د جُذام بيمارى ده اؤ اِمام
به اِعلان وکړى چې دا کس ناپاکه دے. ④ خو کۀ زخم سپين وى
اؤ د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب نۀ ښکارېږى اؤ وېښتۀ هم سپين شوى
نۀ وى، نو اِمام به هغه د اووۀ ورځو د پاره د نورو نه جُدا وساتى.
⑤ اِمام به په اوومه ورځ هغه بيا وګورى اؤ کۀ د هغۀ په خيال کښې
زخم هم هغه شان ښکارى اؤ خور شوے نۀ وى، نو هغه به يې د
نورو اووۀ ورځو د پاره جُدا وساتى. ⑥ اِمام به په اوومه ورځ هغه بيا
وګورى اؤ کۀ زخم وچ شوے وى اؤ خور شوے نۀ وى، نو هغه به
اِعلان وکړى چې دا پاک دے، دا بس صِرف زخم دے. نو هغه
کس دې خپلې جامې ووينځى اؤ هغه به پاک شى. ⑦ خو کۀ د اِمام

د کتلو نه پس زخم خورېږى اؤ اِمام اِعلان کړے وى چې دا پاک
دے نو هغه به خامخا د اِمام په مخکښې بيا حاضرېږى. ۸ اِمام به
هغه بيا وګورى اؤ کۀ دا خور شوے وى، نو اِمام به اِعلان وکړى
چې هغه ناپاک دے، دا د جُذام بيمارى ده. ۹ کۀ د چا د جُذام
بيمارى وى، نو اِمام له به راوستلے شى، ۱۰ اِمام به دے وګورى. کۀ
د هغۀ په څرمن زخم سپين وى کُوم چې وېښتۀ سپينوى اؤ د پيپ
نه ډک وى، ۱۱ دا د جُذام يوه بيمارى ده چې د ډېر وخت نه ده.
اِمام به اِعلان وکړى چې دا ناپاک دے، د هغۀ د نورو نه د جُدا
کولو ضرُورت نشته، ځکه چې هغه په ښکاره ناپاک دے. ۱۲ کۀ
د جُذام بيمارى خورېږى اؤ هغه کس يې د سر نه تر خپو پورې پټ
کړے وى، کُوم ځايُونه چې اِمام ته ښکارى، ۱۳ نو اِمام به هغه بيا
وګورى. کۀ هغۀ ته پته ولګي چې دا بيمارى د هغۀ د ټول وجود نه
ختمه شوى ده، نو هغه به اِعلان وکړى چې دا پاک دے. کۀ دې
بيمارئ سره د هغۀ ټول وجود شوے وى، نو هغه پاک دے. ۱۴ خو
چې د کُوم وخت نه کولاؤ زخم ښکاره شى، نو هغه به ناپاک وى.
۱۵ کله چې اِمام دا کولاؤ زخم وګورى، نو هغه به اِعلان وکړى
چې دا ناپاک دے. د کولاؤ زخم مطلب دا دے چې دا د جُذام
بيمارى ده اؤ هغه کس ناپاک دے. ۱۶ خو چې کله زخم روغ شى
اؤ بيا سپين شى، نو هغه کس به اِمام ته لاړ شى، ۱۷ هغه به يې بيا
وګورى. کۀ زخم سپين شوے وى، نو هغه پاک دے اؤ اِمام به
اِعلان وکړى چې دا پاک دے. ۱۸ کۀ په يو کس دانه وى چې روغه
شوى وى ۱۹ اؤ کۀ د دې نه پس پړسوب يا سُور بخن يا سپين بخن

داغ راښکاره شی چرته چې دانه وه، نو هغه به دا اِمام ته وښائی.
۲۰ اِمام به هغه وګوری اؤ کۀ دانه د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوبه ښکاری
اؤ وېښتۀ په کښې سپین شوی وی، نو هغه به اِعلان وکړی چې دا
ناپاک دے. دا د جُذام بیماری ده چې په دانه کښې شروع شوې
ده. ۲۱ خو کۀ اِمام دا وګوری اؤ پته ورته ولګي چې په دې کښې
وېښتۀ سپین شوی نۀ دی اؤ دا د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوبه نۀ وی،
خو چې دا وچه شوې وی، نو اِمام به هغه اووۀ ورځې د نورو نه جُدا
کړی. ۲۲ کۀ داغ خور شی، نو اِمام به اِعلان وکړی چې هغه ناپاک
دے، دا د بیمارئ یوه نښه ده. ۲۳ خو کۀ دا په خپل ځائ کښې
ایسار شی اؤ خور نۀ شی، نو دا د دانې نه پاتې شوې نښه ده اؤ اِمام
به اِعلان وکړی چې دا پاک دے. ۲۴ کۀ یو کس سوزېدلے وی، کۀ
دا کچه غوښه سپینه یا سره بخنه سپینه شی، ۲۵ اِمام به هغه وګوری.
کۀ په دانه کښې وېښتۀ سپین شوی وی اؤ دا د ګېرچاپېره څرمنې نه
ډُوبه ښکاری، دا د جُذام بیماری ده چې د سوزېدو په وجه شروع
شوې ده اؤ اِمام به اِعلان وکړی چې دا ناپاک دے. ۲۶ خو کۀ په
دې کښې وېښتۀ سپین شوی نۀ وی اؤ د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوبه
نۀ وی، خو چې وچه شوې وی، نو اِمام به هغه تر اووۀ ورځو پورې
د نورو نه جُدا کړی. ۲۷ اِمام به هغه په اوومه ورځ بیا وګوری اؤ کۀ
دا خورېږی، نو دا د جُذام بیماری ده اؤ اِمام به اِعلان وکړی چې دا
ناپاک دے. ۲۸ خو کۀ داغ په خپل ځائ ایسار شی اؤ خور نۀ شی
اؤ وچ شی، نو دا د جُذام بیماری نۀ ده. اِمام به اِعلان وکړی چې دا
پاک دے، ځکه چې داسې تش د سوزېدلی ځائ نښه وی. ۲۹ کله

چې د یو سړی یا ښځې په سر یا زنه باندې زخم وی، ۳۰ اِمام به دا
وګوری. کۀ چرې د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب ښکاری اؤ وېښتۀ په
کښې زیړ بخن اؤ نری ښکاری، نو دا د جُذام بیماری ده اؤ هغه به
اِعلان وکړی چې دا کس ناپاک دے. ۳۱ کۀ چرې اِمام هغه وګوری،
کۀ زخم د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب نۀ ښکاری، خو تر اوسه پورې
په کښې تور وېښتۀ نۀ وی نو هغه به دا د اووۀ ورځو د پاره د نورو
نه جُدا کړی. ۳۲ اِمام به په اوومه ورځ هغه زخم بیا وګوری اؤ کۀ
دا خور شوے نۀ وی اؤ په دې کښې زیړ بخن وېښتۀ نۀ وی اؤ د
ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب نۀ ښکاری، ۳۳ نو هغه کس به د زخم د
ځائ نه بغېر نور سر کل کړی. اِمام به یې بیا د نورو اووۀ ورځو د
پاره جُدا کړی. ۳٤ په اوومه ورځ به بیا اِمام هغه زخم وګوری اؤ کۀ
دا خور شوے نۀ وی اؤ د ګېرچاپېره څرمنې نه ډُوب نۀ ښکاری، نو
هغه به اِعلان وکړی چې دا پاک دے. هغه کس به خپلې جامې
ووینځی اؤ هغه به پاک شی. ۳۵ خو چې کله هغه اِعلان وکړی
چې دا پاک دے اؤ د هغې نه پس زخم خور شی، ۳٦ اِمام به هغه
بیا وګوری. کۀ زخم خور شوے وی، نو هغۀ ته ضرُورت نشته چې
زیړ بخن وېښتۀ وګوری، هغه کس ښکاره ناپاک دے. ۳۷ خو کۀ د
اِمام په خیال کښې زخم خور شوے نۀ وی اؤ تور وېښتۀ په کښې
شوی وی، نو زخم روغ شوے دے اؤ اِمام به اِعلان وکړی چې هغه
پاک دے. ۳۸ چې کله د یو سړی یا ښځې په څرمن سپینې دانې
وی، ۳۹ اِمام به هغه کس وګوری. کۀ داغُونه وچ اؤ سپین وی، نو
دا بس صِرف یوه ګرمکه ده چې په څرمن باندې راختلې ده، هغه

کس پاک دے. ۴۰-۴۱ کۀ د یو سړی مخکښېنی یا وروستنی د سر
وېښتۀ غورزېدلی وی، نو د دې په وجه هغه نۀ ناپاکه کېږی. ۴۲ خو
چې کُوم ځائ ګنجے وی کۀ په هغه باندې سپین یا سُور بخن سپین
زخم ښکاره شی، نو دا د جُذام بیماری ده. ۴۳ اِمام به هغه وګوری
اؤ کۀ زخم سُور بخن سپین وی، ۴۴ نو اِمام به اِعلان وکړی چې
هغه ناپاک دے، ځکه چې د هغۀ په سر باندې د جُذام بیماری ده.
۴۵ د کُوم کس چې د جُذام بیماری وی نو هغه به خامخا شلېدلې
جامې اغوندی، خپل وېښتۀ به ببر پرېږدی، خُله او پوزه دې پټه کړی
اؤ چغې دې وهی، ”زۀ ناپاک یم، زۀ ناپاک یم!“ ۴۶ چې تر کُومې
پورې د هغۀ دا بیماری وی نو هغه به ناپاک وی اؤ هغه به د خېمو
نه بهر، د نورو نه لرې اوسېږی.

## په جامو اؤ څرمن کښې د ناپاکۍ قانُون

۴۷-۴۸ چې کله په کپړو د وروستوالی پشم ولګې، کۀ هغه د وړی
یا د لټې وی یا کۀ په څرمن باندې وی یا په داسې څۀ څیز باندې
هم وی چې د څرمنې نه جوړ وی. ۴۹ کۀ دا پشم شین بخن یا سُور
بخن وی، دا یو خورېدُونکے پشم دے اؤ دا به خامخا اِمام ته ښودلے
شی. ۵۰ اِمام به یې وګوری اؤ هغه څیز به تر اووۀ ورځو پورې جُدا
کېږدی. ۵۱ هغه به دا په اوومه ورځ بیا وګوری اؤ کۀ پشم خور شوے
وی، نو هغه څیز ناپاک دے. ۵۲ اِمام به دا وسوزوی، ځکه چې دا
یو خورېدُونکے پشم دے کُوم چې به خامخا په اور ختمولے شی.
۵۳ خو، کۀ هغه دا وګوری اؤ اِمام ته پته ولګې چې پشم په هغه

ځیز باندې خور شوے نۀ دے، ٥٤ هغه به حُکم وکړی چې دا دې
ووینځلے شی اؤ د نورو اووۀ ورځو د پاره دې جُدا وساتې. ٥٥ بیا به
هغه دا وګوری اؤ کۀ پشم خپل رنګ نۀ وی بدل کړے اؤ خور شوے
هم نۀ وی، دا بیا هم ناپاک دے، خرابتیا کۀ د دې مخې ته وی یا
شا ته وی تاسو هغه ځیز وسوزوئ. ٥٦ خو چې بیا یې وګوری، چې
پشم وچ شوے وی، نو هغه دې د هغه کپړې یا څرمنې نه خرابه
شوې حِصه وشلوی. ٥٧ کۀ پشم بیا راڅرګند شی اؤ خورېږی، نو د
دې مالِک به دا ځیز وسوزوی. ٥٨ کۀ هغه دا ځیز ووینځی اؤ داغُونه
ورک شی، هغه به دا بیا ووینځی اؤ دا به پاک شی. ٥٩ نو دا قانُون
په کپړه باندې د پشم په باره کښې دے، کۀ هغه پشم په وړئ یا
په لټه وی، یا د لتې یا د وړئ په کپړه وی، یا د څرمنې جوړ شوی
ځیز باندې وی، نو د دې په بُنیاد به فېصله کولے شی چې دا پاک
دی اؤ کۀ ناپاک دی.

## د څرمنې د بیمارو نه پس پاکوالے

**١٤**
١ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل ٢ دا اصُول د هغه
کس د پاکوالی د پاره دی چې د جُذام د بیمارئ نه روغ
شوے وی. چې په کُومه ورځ اِعلان وشی چې هغه پاک دے، نو
هغه به اِمام له بوتلے شی، ٣ اؤ اِمام به هغه د خېمو نه بهر بوځی
اؤ وبه یې ګوری. کۀ هغه کس روغ شوے وی، ٤ نو اِمام به حُکم
وکړی چې دوه حلال مارغان دې د دِیار د لرګی د یوې ټُکړې
سره، یو د تک سُور تار اؤ د وېلنی بُوټی سره راوړلے شی. ٥ بیا به

اِمام حُکم وکړی چې یو مارغۀ دې د خاورې لوښی د پاسه حلال
کړلے شی چې د چینې تازه اوبۀ په کښې وی. ۶ هغه به ژوندے
مارغۀ د دِیار د لرګی، د تک سُور تار اؤ د وېلنی سره، د هغۀ مارغۀ
په وینه کښې ډُوب کړی کُوم چې حلال شوے وی. ۷ هغه به
اووۀ ځله هغه وینه په هغه سړی باندې وشیندی کُوم چې د جُذام د
بیمارئ نه پاکولے شی اؤ بیا به هغه اِعلان وکړی چې دا پاک دے.
هغه به ژوندے مارغۀ آزاد کړی چې په هوا کښې والُوځی. ۸ هغه
کس به خپلې جامې ووینځی، ټول وېښتۀ به کل کړی اؤ غُسل به
وکړی، نو پاک به شی. بیا هغه خېمو ته تلے شی، خو هغه به اووۀ
ورځې د خپلې خېمې نه بهر اوسېږی. ۹ په اوومه ورځ به هغه بیا
خپل سر، ږیره، ورُوځې اؤ د بدن نور ټول وېښتۀ کل کړی، هغه
به خپلې جامې ووینځی اؤ غُسل به وکړی، نو هغه به پاک شی.
۱۰ په اتمه ورځ به هغه دوه ګډُوری اؤ یوه ګډُورئ چې د یو کال
وی اؤ هیڅ عیب په کښې نۀ وی، درې کیلو اوړۀ چې د زیتُونو
تېل ورسره ګډ وی اؤ د لیټر دریمه حِصه د زیتُونو تېل دې راوړی.
۱۱ اِمام به هغه کس اؤ دا نذرانې د مالِک خُدائ د حضُور مُقدسې
خېمې د دروازې خُلې ته یوسی. ۱۲ بیا به اِمام یو هغه ګډُورے اؤ
سره د تېلو د لیټر دریمه حِصه یوسی اؤ دا به د تاوان د نذرانې په
توګه پیش کړی. هغه به دا د اِمام د پاره مالِک خُدائ ته د خاص
نذرانې په توګه پیش کړی. ۱۳ هغه به ګډُورے په هغه مُقدس ځائ
کښې حلال کړی چرته چې د ګُناه نذرانې اؤ د سوزېدُونکې نذرانې
د پاره ځناور حلالولے شی. دا ځکه چې د تاوان نذرانه، د ګُناه د

نذرانې په شان د اِمام ده اؤ ډېره مُقدسه ده. ١٤ اِمام به د ګډُوری
لږه وینه واخلی اؤ د هغه کس د ښی غوږ په نرم ځائ پورې، د
هغۀ د ښی لاس په غټی ګوتی پورې اؤ د هغۀ د ښی خپې په غټی
ګوتی پورې دې ولګوی د کُوم کس چې اِعلان کېږی چې دا پاک
دے. ١٥ اِمام به د زیتُونو لږ تېل واخلی اؤ د خپل ګڅ لاس په تلی
کښې به یې واچوی، ١٦ د خپل ښی لاس ګوته به په دې کښې
ډُوبه کړی اؤ لږ به هلته د مالِک خُدائ په حضُور کښې اووۀ ځله
وشیندی. ١٧ هغه به څۀ تېل چې د هغۀ د لاس په تلی کښې دی
اؤ څۀ د ګډُوری وینه واخلی اؤ د هغه کس د ښی غوږ په نرم ځائ
پورې، د هغۀ د ښی لاس په غټی ګوتی پورې اؤ د هغۀ د ښی خپې
په غټی ګوتی پورې ولګوی چې د کُوم کس اِعلان کېږی چې دا
پاک دے. ١٨ د هغۀ د لاس په تلی کښې کُوم پاتی شوی تېل دی
هغه به د دې کس په سر باندې ولګوی. نو د هغۀ د پاکوالی کفاره
به ادا کړی. ١٩ بیا به اِمام د ګُناه نذرانه پېش کړی اؤ د پاکوالی
کفاره به ادا کړی. د هغې نه پس، هغه به د سوزېدُونکې نذرانې د
پاره ځناور حلال کړی ٢٠ اؤ دا به د غلې نذرانې سره په قُربان‌ګاه
باندې پېش کړی. نو اِمام به د پاکوالی کفاره ادا کړی اؤ هغه کس
به پاک شی. ٢١ کۀ هغه غریب وی اؤ نور څۀ نۀ شی اخستلے، نو
د هغۀ د پاکوالی د کفارې ادا کولو د پاره دې هغه یو ګډُورے د
تاوان د نذرانې په توګه پېش کړی، دا به مالِک خُدائ ته د اِمام د
پاره یوه خاص تُحفه وی. هغه به صِرف یو کیلو اوړۀ چې د زیتُونو
تېل ورسره ګډ وی، دا د غلې د نذرانې د پاره اؤ د لیټر دریمه حِصه

د زیتُونو تېل راوړی. ۲۲ هغه به دوه ګُوګُوشتکې یا دوه کونترې هم
راوړی، یوه د ګُناه نذرانې د پاره اؤ یوه به د سوزېدُونکې نذرانې
د پاره وی. ۲۳ د هغۀ د پاکوالی په اتمه ورځ به هغه دا د مُقدسې
خیمې د دروازې په خُلۀ کښې اِمامانو ته راوړی. ۲۴ اِمام به ګډُورے
اؤ د زیتُونو تېل واخلی اؤ مالِک خُدائ ته به یې د یوې خاص تُحفې
په توګه د اِمام د پاره پېش کړی. ۲۵ هغه به ګډُورے حلال کړی
اؤ د دې څۀ وینه به واخلی اؤ د هغه کس د ښی غوږ په نرم ځائ
پورې، د ښی لاس په غټې ګوتې پورې اؤ د هغۀ د ښی خپې په
غټې ګوتې پورې ولګوی. ۲۶ اِمام به لږ تېل د خپل ګڅ لاس په
تلی کښې واچوی ۲۷ اؤ د خپل ښی لاس د یوې ګوتې سره به څۀ
تېل د مالِک خُدائ په حضُور کښې اووۀ ځله وشیندی. ۲۸ هغه به
څۀ تېل هم په هغه ځایُونو پورې ولګوی چې څنګه یې وینه لګولې
وه: د هغۀ د ښی غوږ په نرم ځائ پورې، د هغۀ د ښی لاس په
غټې ګوتې پورې اؤ د هغۀ د ښی خپې په غټې ګوتې پورې. ۲۹ د
هغۀ په تلی کښې چې کُوم پاتې شوی تېل دی هغه دې د هغه
کس په سر واچوی اؤ داسې به د پاکوالی کفاره ادا کړی. ۳۰ بیا
به هغه یوه ګُوګُوشتکه یا کونتره پېش کړی، ۳۱ دا به د ګُناه د
نذرانې په توګه اؤ هغه بله د غلې د نذرانې سره، د سوزېدُونکې
نذرانې په توګه پېش کړی. نو اِمام به د مالِک خُدائ په حضُور
کښې د هغه کس د پاکوالی کفاره ادا کړی. ۳۲ دا قانُون د هغه
چا د پاره دے چې د جُذام بیماری لری خو د خپل پاکوالی د
پاره عامې نذرانې نۀ شی اخستلے.

## په کورُونو کښې د وروستوالی پشم

۳۳ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ اؤ هارُون ته ووئیل ۳٤ - ۳۵ اؤ د هغه کورُونو
په باره کښې دا اصُول یې ورته وښودل چې خورېدُونکے پشم په کښې
وی. (دا اصُول د بنی اِسرائیلو د پاره وُو چې کله هغوئ د کنعان وطن
ته ننوتلی وے نو د هغې نه پس به پرې عمل کېدلے، کُوم وطن چې
مالِک خُدائ هغوئ له ورکولو چې خپل یې شی.) کۀ چا ته پته ولګې
چې مالِک خُدائ د هغۀ په کور پشم راوستلے دے، نو هغه به خامخا
ځی اؤ د دې په باره کښې به اِمام ته وائی. ۳٦ چې اِمام پشم کتلو له
ځی نو هغه به حُکم وکړی چې هر څۀ دې د هغه کور نه بهر وویستلے
شی، ګنی اِعلان به وشی چې په هغه کور کښې هر څۀ ناپاکه دی.
هغه به بیا هغه کور ته لاړ شی ۳۷ اؤ پشم به وګوری. کۀ په دې کښې
شین بخن یا سُور بخن داغُونه وی چې دېوال خرابوی، ۳۸ اِمام به د هغه
کور نه لاړ شی اؤ اووۀ ورځې به یې بند وساتی. ۳۹ په اوومه ورځ به هغه
واپس راشی اؤ بیا به یې وګوری. کۀ پشم خور شوے وی، ٤۰ هغه به
حُکم وکړی چې هغه کاڼی دې لرې کړے شی چې په کُومو باندې
پشم ښکاری اؤ د ښار نه بهر په یو ناپاک ځائ کښې دې وغورزولے
شی. ٤۱ بیا دې هغه دننه ټول دېوالُونه وتراشی اؤ هغه راغورزېدلې خاوره
دې د ښار نه بهر یو ناپاک ځائ ته یوړے شی. ٤۲ چې کُوم کاڼی
لرې کړے شوی وی نو د هغې په ځائ دې نور اِستعمال کړلے شی اؤ
دېوالُونه دې په نوې خټه باندې لېو کړلے شی. ٤۳ د کاڼو د لرې کولو اؤ
دېوالُونو د تراشلو اؤ لېولو نه پس کۀ بیا په هغه کور کښې پشم راښکاره

شی، ۴۴ نو اِمام به لاړ شی اؤ وبه یې ګوری. کۀ پښم خور شوے وی،
نو کور ناپاک دے. ۴۵ هغه کور دې خامخا وران کړلے شی اؤ د دې
کاڼی، لرګی اؤ د دې ټولې خاورې دې د ښار نه بهر یو ناپاک ځائ ته
یوړے شی. ۴۶ هر څوک چې هغه کور ته دننه لاړ شی کله چې هغه
تالا وی نو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۴۷ هر څوک چې په
دې کور کښې څملی یا په کښې خوراک وکړی نو خامخا به خپلې
جامې وینځی. ۴۸ کۀ کله اِمام د دې کتلو له راشی اؤ د کور د بیا لېولو
نه پس پښم راخرګند شوے نۀ وی، نو هغه به اِعلان وکړی چې کور
پاک دے، ځکه چې پښم ورک شوے دے. ۴۹ د کور د پاکولو د
پاره، هغه به دوه مارغان، د دِیار لرګے، یو تک سُور تار اؤ د وېلنی یوه
څانګه واخلی. ۵۰ هغه به یو مارغۀ د ختې یو لوښی د پاسه حلال کړی
چې د چینې تازه اوبۀ په کښې وی. ۵۱ بیا به هغه د دِیار لرګے، د وېلنی
څانګه، تک سُور تار اؤ هغه ژوندے مارغۀ واخلی اؤ دا به د هغه حلال
شوی مارغۀ په وینه کښې اؤ په تازه اوبو کښې ډُوب کړی. اؤ دا وینه
اؤ اوبو دې په کور باندې اووۀ ځله وشیندی. ۵۲ نو هغه به کور د مارغۀ
د وینې سره، د تازه اوبو اؤ ژوندی مارغۀ، د دِیار لرګی، د وېلنی اؤ د
سُور تار سره پاک کړی. ۵۳ بیا به هغه ژوندے مارغۀ آزاد کړی چې د
ښار نه بهر په هوا کښې والُوځی. نو داسې هغه به د کور د پاکوالی د
پاره کفاره ادا کړی اؤ دا به پاک شی. ۵۴ دا قانُون د جُذام بیمارئ اؤ
خارښت په باره کښې دے، ۵۵-۵۶ د زخمونو، پړسوب، یا دانو، اؤ یا
په جامو یا کورُونو کښې د پښم په باره کښې دے. ۵۷ کۀ یو څیز پاک
یا ناپاک وی نو په دې قانُون به فېصله کولے شی.

## د بدن ناپاکوالے

۱۵
۱ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ اؤ هارُون ته دا اصُول وښودل
۲ کُوم چې د بنی اِسرائیلو د پاره دی. کۀ د سړی د
ذکر نه څۀ اوبۀ ووځی، نو هغه اوبۀ ناپاکی دی، ۳ کۀ د هغۀ د
ذکر نه اوبۀ روانې وی یا بند وی نو هغه ناپاک وی. ۴ چې په
کُومه بستره هغه څملاستلے وی یا په بل څۀ باندې ناست وی نو
هغه به هم ناپاک وی. ۵ هر څوک چې د هغۀ بسترې له لاس
وروړی ۶ یا په هر څۀ باندې کښېنی په کُوم باندې چې هغه سړے
ناست وی نو هغه به جامې ووینځی اؤ غُسل به وکړی اؤ تر ماښامه
پورې به ناپاک وی. ۷ کۀ څوک هغه سړی له لاس وروړی چې
د کُوم نه اوبۀ ځی نو هغه به خامخا خپلې جامې ووینځی اؤ غُسل
به وکړی اؤ تر ماښامه پورې به ناپاکه وی. ۸ چې د کُوم سړی د
ذکر نه اوبۀ ځی کۀ هغه په یو پاک کس تُوکانې اوتُوکی، نو هغه
کس به خامخا جامې ووینځی اؤ غُسل به وکړی اؤ تر ماښامه پورې
به ناپاک وی. ۹ په کُوم زین باندې چې هغه سړے کښېنی چې د
کُوم د ذکر نه اوبۀ ځی نو هغه زین به ناپاک وی. ۱۰ هر څوک چې
هر هغه څیز له ګوتې وروړی چې په کُوم باندې هغه سړے ناست
وی نو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. کۀ څوک هر هغه څیز
یوسی چې په کُوم باندې هغه سړے ناست وی نو هغه به خامخا
خپلې جامې ووینځی اؤ غُسل به وکړی اؤ تر ماښامه پورې به ناپاک
وی. ۱۱ د کُوم سړی د ذکر نه چې اوبۀ ځی کۀ هغۀ خپل لاسُونه

نۀ وی وينځلی اؤ چا له ګوتې وروړی، نو هغه کس به خامخا خپلې
جامې ووينځی اؤ غُسل به وکړی، خو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک
وی. ۱۲ هغه سړے کۀ د خټو لوښی له لاس وروړی نو دا به ماتولے
شی اؤ کۀ د لرګی لوښی له لاس وروړی نو خامخا به وينځلے شی.
۱۳ د کُوم سړی چې د ذکر نه اوبۀ ځی اؤ هغه روغ شی نو د هغې
نه پس، هغه به خامخا اووۀ ورځې اِنتظار کوی اؤ بيا به خپلې جامې
ووينځی اؤ د چينې په تازه اوبو کښې به غُسل وکړی اؤ هغه به پاک
شی. ۱۴ په اتمه ورځ به هغه دوه ګُوګُوشتکې يا دوه کونترې د مالِک
خُدائ د حضُور مُقدسې خېمې د دروازې خُلې ته يوسی اؤ اِمام له
به يې ورکړی. ۱۵ اؤ اِمام به د دې نه يوه د ګُناه د نذرانې په توګه
اؤ بله د سوزېدُونکې نذرانې په توګه پېش کړی. چې د هغه سړی
د پاکوالی کفاره ادا کړی. ۱۶ کله چې د يو سړی نه منی ووځی،
نو هغه به خامخا خپل ټول بدن ووينځی اؤ هغه به تر ماښامه پورې
ناپاک وی. ۱۷ هر څيز چې د کپړې يا څرمنې نه جوړ وی اؤ منی
ورباندې پرېوزی نو خامخا به وينځلے شی اؤ تر ماښامه پورې به
ناپاک وی. ۱۸ د سړی اؤ ښځې د کوروالی کولو نه پس به خامخا
دواړه غُسل کوی اؤ هغوئ به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۱۹ چې
کله د يوې ښځې مياشتنئ بيماری وی، نو هغه به اووۀ ورځې ناپاکه
وی. هر څوک چې هغې له لاس وروړی نو هغه به تر ماښامه پورې
ناپاک وی. ۲۰ د مياشتنئ بيمارئ په دوران کښې چې هغه په هر
څيز باندې کښېنی يا څملی نو دا به ناپاک وی. ۲۱-۲۳ هر څوک
چې د هغې بسترې يا هر هغه څيز له لاس وروړی چې په کُوم

باندې ناسته وی نو هغه به خامخا خپلې جامې ووينځی اؤ غُسل به
وکړی اؤ تر ماښامه پورې به ناپاک وی. ۲٤ کۀ يو سړے د هغې
سره په داسې وخت کښې څملی چې مياشتنۍ بيماری يې وی، نو
هغه د هغې د ناپاکۍ په وجه ناپاک دے اؤ اووۀ ورځې به ناپاک
وی اؤ هغه بستره هم ناپاکه ده په کُومه باندې چې هغه څملی.
۲۵ کۀ د يوې ښځې د مياشتنۍ بيمارۍ نه بغير هم د ډېرو ورځو
پورې وينه بهېږی يا د مياشتنۍ بيمارۍ د ورځو نه اخوا هم د هغې
نه وينه جاری وی، نو تر کُومې پورې چې ترې نه وينه بهېږی هغه
ناپاکه ده، لکه چې څنګه د مياشتنۍ بيمارۍ په وخت کښې وی.
۲٦ په دې دوران کښې چې هغه په کُومه بستره څملی اؤ په څۀ څيز
باندې کښېنی نو دا ناپاک دی. ۲۷ هر څوک چې دې څيزُونو له
لاس وروړی نو هغه ناپاک دے اؤ خامخا به خپلې جامې ووينځی اؤ
غُسل به وکړی، هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۲۸ چې د هغې
نه وينه بهېدل بند شی نو هغه به خامخا اووۀ ورځې اِنتظار کوی اؤ
بيا به هغه پاکه شی. ۲۹ په اتمه ورځ به هغه دوه ګُوګُوشتکې يا دوه
کونترې د مالِک خُدائ د مُقدسې خېمې د دروازې په خُلۀ کښې
اِمام له يوسی. ۳۰ اِمام به د دې نه يوه د ګُناه د نذرانې په توګه اؤ
بله د سوزېدُونکې نذرانې په توګه پېش کړی، نو د هغې د پاره به
د پاکوالی کفاره ادا کړی. ۳۱ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل چې
بنی اِسرائيلو له خبردارے ورکړه چې څوک ناپاک وی هغه به لرې
اوسېږی، نو د مالِک خُدائ د حضُور مُقدسې خېمې بې عِزتی به نۀ
کېږی، کُومه چې د خېمو په مېنځ کښې ده. کۀ هغوئ بې عِزتی

وکړه، نو مړۀ به شی. ۳۲ دا اصُول د هغه سړی په باره کښې دی
چې د ذکر نه يې اوبۀ يا منی ځی، ۳۳ دا داسې ښځې په باره کښې
دی چې د هغې مياشتنۍ بيماری وی، يا د يو سړی په باره کښې
چې د يوې ښځې سره څملی کُومه چې ناپاکه وی.

## د معافۍ لويه ورځ

۱٦ ۱ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته د هارُون د دوؤ زامنو د مرګ نه
پس ووئيل چې کله هغوئ مالِک خُدائ ته هغه اور پيش
کړو کُوم چې خُدائ پاک ته قبُول نۀ وو. ۲ مالِک خُدائ ووئيل،
”خپل ورور هارُون ته ووايه چې هغه به صِرف په مُناسب وخت د
پردې شا ته زيات مُقدس ځائ ته ننوځی، ځکه چې زۀ به هلته په
وريځ کښې د تړون صندُوق د کفارې تخت د پاسه راښکاره کېږم.
کۀ هغۀ نافرمانی وکړه، نو هغه به ووژلے شی. ۳ هغه ډېر مُقدس
ځائ ته د هغې نه پس داخليدلے شی چې يو څخړے د ګُناه د نذرانې
د پاره اؤ يو ګډ د سوزېدُونکې نذرانې د پاره راولی.“ ٤ بيا مالِک
خُدائ دا اصُول وښودل: ډېر مُقدس ځائ ته ننوتلو نه مخکښې دې
هارُون خامخا غُسل وکړی اؤ د اِمامانو لِباس دې واغوندی: د لټې
چُوغه اؤ جانګی، پټۍ اؤ پټکے. ٥ د بنی اِسرائيلو قوم به هارُون له
د ګُناه د نذرانې د پاره دوه چېلی اؤ يو ګډ د سوزېدُونکې نذرانې د
پاره ورکړی. ٦ هغه به يو غوَيے د نذرانې په توګه پيش کړی چې
د هغۀ د خپلې ګُناه اؤ د هغۀ د کورنۍ کفاره ادا شی. ۷ بيا به هغه
دوه چېلی د مالِک خُدائ د مُقدسې خېمې د دروازې خُلې ته بوځی.

۸ هلته به هغه پچه واچوی، دوه تيرې به راواخلی، په يوه باندې به
"مالِک خُدائ د پاره" نښه واچوی اؤ په بله باندې "عزازيل د پاره"
نښه واچوی. ۹ هارُون به هغه چېلے حلال کړی چې د مالِک خُدائ
د پاره د پچې په ذريعه خوښ کړے شوے وی اؤ د گُناه د نذرانې
په توگه به يې پېش کړی. ۱۰ چې کُوم چېلے د عزازيل د پاره خوښ
کړے شوے وی هغه به مالِک خُدائ ته ژوندے پېش کېږی اؤ په
بيابان کښې به عزازيل ته وشړلے شی، چې د خلقو د گُناه کفاره ادا
شی. ۱۱ چې کله هارُون غوَيے د خپلې گُناه اؤ د خپلې کورنۍ د
گُناه د پاره د نذرانې په توگه قُربانی کړی، ۱۲ هغه به دوه مُوټی ښه
خوشبوئی اؤ د قُربان‌گاه نه يو ډک لوښے د بلو سکارو واخلی اؤ ډېر
مُقدس ځائ ته به يې دننه راوړی. ۱۳ هغه به هلته د مالِک خُدائ په
حضُور کښې خوشبوئی په اور باندې واچوی اؤ د خوشبويۍ لُوگے به
د ترُون د صندُوق د کفارې تخت پټ کړی نو هغه به دا ونۀ گوری
اؤ مړ به نۀ شی. ۱۴ هغه به د غوَيی لږه وينه واخلی اؤ د خپلې گوتې
سره به يې د صندُوق د کفارې تخت نَمرخاتۀ طرف ته وشيندی
اؤ بيا به لږه د ترُون صندُوق د کفارې تخت په مخکښې اووۀ ځله
وشيندی. ۱۵ د هغې نه پس، هغه به چېلے د خلقو د پاره د گُناه د
نذرانې په توگه حلال کړی، وينه به يې زيات مُقدس ځائ ته راوړی،
د صندُوق د کفارې په تخت اؤ په مخکښې به يې وشيندی، هم
هغه شان چې څنگه يې د غوَيی د وينې سره کړی وُو. ۱۶ نو هغه به
د زيات مُقدس ځائ د پاکوالی کفاره ادا کړی چې د بنی اِسرائيلو د
ناپاکۍ اؤ د ټولو گُناهونو نه پاک شی. هغه به د مُقدسې خېمې د پاره

خامخا داسې وکړی، ځکه چې هغه د کېمپ په مېنځ کښې ولاړه
ده، کُوم ځائ چې ناپاک دے. ۱۷ د هارُون د پاکوالی کفاره ادا
کولو د پاره زیات مُقدس ځائ ته ننوتلو نه واخله د هغهٔ د بهر راوتلو
پورې، هلته به په خېمه کښې هیڅ څوک نهٔ وی. چې په کُوم وخت
هغه د ځان، د خپلې کورنۍ اؤ د ټول قوم د پاره کفاره ادا کوی،
۱۸ بیا به هغه خامخا د سوزېدُونکې نذرانو د پاره بهر قُربان‌گاه ته لاړ
شی اؤ پاکه به یې کړی. هغه به لږه د غوَیی وینه اؤ لږه د چېلی وینه
واخلی اؤ د قُربان‌گاه په ټولو ښکرُونو پورې دې ولگوی. ۱۹ هغه دې
د خپلې گوتې سره لږه وینه اووهٔ ځله په قُربان‌گاه باندې وشیندی. نو
دا به د بنی اِسرائیلو د گُناهونو نه پاکه کړی اؤ مُقدسه به یې کړی.

## د گُناهونو د کفارې چېلے

۲۰ چې کله هارُون د زیات مُقدس ځائ، د مالِک خُدائ د حضُور
د ټولې مُقدسې خېمې اؤ د قُربان‌گاه د پاکوالی کفاره ادا کول ختم
کړی، نو هغه به مالِک خُدائ ته هغه ژوندے چېلے پیش کړی چې
د عزازیل د پاره خوښ شوے وو. ۲۱ خپل دواړه لاسُونه به د چېلی په
سر کېږدی اؤ د ټولو بدو عملُونو، گُناهونو اؤ بنی اِسرائیلو د سرکشو
اِقرار به وکړی اؤ دا به د چېلی په سر واچوی. بیا به یو مُقرر شوے
سړے دا چېلے بیابان ته بوځی. ۲۲ چېلے به د ځان سره د هغوئ ټول
گناهُونه په بیابان کښې یوې غېرابادې علاقې ته یوسی. ۲۳ هارُون به
مُقدسې خېمې ته ننوځی، زیات مُقدس ځائ ته د ننوتلو نه مخکښې
هغهٔ چې کُوم د اِمامانو لِباس اغوستے وو نو هغه به وباسی اؤ هلته به

یې پربږدی. ٢٤ هغه به په یو مُقدس ځائ کښې غُسل وکړی اؤ خپلې
جامې به واغوندی. د هغې نه پس، هغه به بهر لاړ شی اؤ د خپلو
گُناهونو اؤ د خلقو گُناهونو لرې کولو کفارې د پاره به سوزېدُونکې
نذرانه پېش کړی. ٢٥ د ځناور وازگه به په قُربان‌گاه باندې وسوزوی
چې د گُناه د نذرانې د پاره ده. ٢٦ کُوم سړی چې دا چېلے په بیابان
کښې عزازیل له بوتلے وی نو کېمپ ته واپس راتلو نه مخکښې هغه
به خپلې جامې ووینځی اؤ غُسل به وکړی. ٢٧ کُوم غوَیے اؤ چېلے
چې د گُناه د نذرانې د پاره اِستعمال شوی وُو چې وینه یې د گُناه د
کفارې ادا کولو د پاره زیات مُقدس ځائ ته راوړلے شوې وه، دا به د
کېمپ نه بهر وړلے شی اؤ سوزولے به شی. څرمن، غوښه اؤ کولمې
هر څهٔ به سوزولے شی. ٢٨ څوک چې دا وسوزوی نو کېمپ ته واپس
راتلو نه مخکښې هغه به خپلې جامې ووینځی اؤ غُسل به وکړی.

## د کفارې ورځ مناوول

٢٩ دا اصُول به د همېشه د پاره وی. د اوومې میاشتې په لسمه ورځ
بنی اِسرائیل اؤ د هغوئ سره مهاجر خلق به خامخا روژه نیسی اؤ هیڅ
کار به نهٔ کوی. ٣٠ په هغه ورځ به د هغوئ د ټولو گُناهونو نه د پاکوالی
کفاره ادا شی اؤ هغوئ به پاک شی. ٣١ چې په کُومه ورځ باندې هغوئ
روژه نیسی اؤ کار نهٔ کوی نو هغه به یوه ډېره مُقدسه ورځ وی. دا اصُول
به د همېشه د پاره وی. ٣٢ کُوم مشر اِمام چې د پلار په ځائ مُقرر
شوے وی، هغه به د پاکوالی کفاره ادا کړی. هغه به د اِمامانو لِباس
واغوندی ٣٣ اؤ د زیات مُقدس ځائ، د مالِک خُدائ د حضُور ټولې

مُقدسې خېمې، قُربانګاه، د اِمامانو اؤ د ټول قوم د پاکوالی کفاره به
ادا کړی. ۳۴ دا اصُول به د همېشه د پاره وی. په کال کښې یو ځل به
خامخا د بنی اِسرائیلو د ټولې ګُناه نه د پاکوالی د پاره کفاره ادا کېږی.
نو مُوسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو.

## د وینې خوړل حرام دی

۱۷ ۱ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم وکړو چې ۲ هارُون
د هغهٔ زامنو اؤ ټولو بنی اِسرائیلو ته دا اصُول وښائی.
۳-۴ کهٔ یو اِسرائیلے کس یو غوَیے، یو ګډُورے، یا یو چېلیٰ مالِک
خُدائ ته د نذرانې په توګه د مالِک خُدائ د حضُور مُقدسې خېمې د
دروازې خُلې نه بغېر په هر ځائ کښې حلال کړی نو هغهٔ به قانُون مات
کړے وی. هغهٔ وینه توئ کړې ده اؤ هغه به نور د خُدائ پاک د خلقو
نه نهٔ شی ګڼلے. ۵ د دې حُکم مطلب دا دے چې بنی اِسرائیلو کُوم
څناور په کولاؤ مېدان کښې حلالول نو هغوئ به یې ما مالِک خُدائ
ته راولی. هغوئ به دا د مُقدسې خېمې د دروازې په خُلهٔ کښې اِمام ته
راولی اؤ د سلامتیٰ د نذرانو په توګه به یې حلالوی. ۶ اِمام به هغه وینه
د مُقدسې خېمې د دروازې په خُلهٔ کښې د قُربانګاه په طرفُونو باندې
وشیندی اؤ د خوشبوئی جوړېدو د پاره دې وازګه وسوزوی، په مالِک
خُدائ باندې دا بُوئ ښهٔ لګې. ۷ بنی اِسرائیل دې د مالِک خُدائ سره
نوره بېوفائی نهٔ کوی چې خپل څناور د چېلو په شان ښکارېدُونکو پېریانو
ته قُربانی کړی. بنی اِسرائیل به په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې دا اصُول
خامخا منی. ۸ یو اِسرائیلے یا د پردی وطن هر یو کس چې د هغوئ

سره اوسېږی چې هغه یوه سوزېدُونکې نذرانه یا بله څۀ قُربانی پېش کوی
۹ اؤ د مُقدسې خېمې د دروازې خُلې ته یې مالِک خُدائ ته د پېش
کولو د پاره رانۀ وړی نو هغه کس به نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی
ګڼلے. ۱۰ هر یو اِسرائیلے یا د بل وطن کس چې د هغوئ سره اوسېږی
کۀ هغه غوښه خوری چې وینه لا په کښې وی، نو مالِک خُدائ به د
هغۀ خِلاف شی اؤ هغه به نور د هغۀ د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۱۱ د هر
ژوندی ځیز ژوند په وینه کښې دے اؤ دا ځکه مالِک خُدائ حُکم کړے
دے چې ټوله وینه به په قُربان‌ګاه توئ کړے شی چې د خلقو د ګُناه
کفاره ادا شی، دا وینه ده چې د ګُناهونو کفاره ادا کوی. ۱۲ دا ځکه
مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو ته وئیلی دی چې نۀ به هغوئ اؤ نۀ د هغوئ
سره مهاجر خلق هغه غوښه خوری چې وینه لا په کښې وی. ۱۳ هر یو
بنی اِسرائیلے یا د پردی وطن کس چې د هغوئ سره اوسېږی کۀ د یو
ځناور یا مارغۀ ښکار وکړی کُوم چې حلال وی، نو هغه به خامخا د
دې وینه په زمکه توئ کړی اؤ په خاوره به یې پټه کړی. ۱۴ د هر ژوندی
ځیز ژوند په وینه کښې دے، نو دا ځکه مالِک خُدائ بنی اِسرائیلو ته
وئیلی دی چې هغوئ به هغه غوښه نۀ خوری چې وینه لا په کښې وی
خو کۀ چا وخوړله نو هغه به نور د هغۀ د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ۱۵ هر
څوک، کۀ هغه بنی اِسرائیلے وی یا د پردی وطن کس، کۀ هغۀ د یو
داسې ځناور غوښه وخوړله چې هغه په خپل مرګ مړ وی یا ځنګلی
ځناورو وژلے وی نو هغه به خامخا خپلې جامې ووینځی، غُسل به وکړی
اؤ تر ماښامه پورې به هغه ناپاک وی خو بیا به پاک شی. ۱۶ کۀ هغۀ
داسې ونۀ کړل، نو هغۀ ته به د خپلو بدو سزا مِلاؤ شی.

## ناروا جنسی تعلُقات

**۱۸**
(۱) مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، (۲) بنی اِسرائیلو ته
ووایه چې: ”زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم.
(۳) تاسو هغه شان کارُونه مهٔ کوئ څنګه چې د مِصر د وطن خلقو
کول، چرته چې تاسو اوسېدلئ اؤ تاسو هغه شان کار هم مهٔ کوئ
څنګه چې د کنعان خلق یې کوی، چرته چې زهٔ تاسو بوځم.
(۴) تاسو به زما حُکمونه منئ اؤ زما په قانُون به عمل کوئ: زهٔ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم. (۵) تاسو زما په قانُون اؤ حُکمُونو عمل
کوئ، هر څوک چې پرې عمل کوی نو هغوئ به ژوندی وی: زهٔ
مالِک خُدائ یم. (۶) هیڅ څوک دې د خپلوانو سره زنا نهٔ کوی: زهٔ
مالِک خُدائ یم. (۷) د خپلې مور سره زنا کولو په وجه د خپل پلار
سپکاوے مهٔ کوئ، هغه ستاسو مور ده. د خپلې مور سره به هیڅ
کله داسې غلط کار نهٔ کوئ. (۸) د خپل پلار د نورو ښځو سره زنا
مهٔ کوئ، دا ستاسو د پلار سپکاوے دے. (۹) د خپلې سکه یا ناسکه
خور سره زنا مهٔ کوئ، کهٔ هغه ستاسو په کور کښې لویه شوې وی
یا په بل ځائ کښې. (۱۰) د خپلې نمسۍ سره زنا مهٔ کوئ، د هغې
سپکاوے ستاسو خپل سپکاوے دے. (۱۱) د خپلې ناسکه خور سره
زنا مهٔ کوئ، ځکه چې هغه ستاسو خور ده. (۱۲-۱۳) د خپلې ترور
سره زنا مهٔ کوئ، ځکه چې هغه ستاسو د پلار یا مور وینه ده. (۱۴) د
خپل ترهٔ د ښځې سره د زنا کولو په وجه د هغې سپکاوے مهٔ کوئ،
هغه ستاسو د ترهٔ ښځه ده. (۱۵) د خپلې اینږور سره زنا مهٔ کوئ، هغه

ستاسو د زوئ ښځه ده. ۱۶ د خپلې ورندارې سره زنا مۀ کوئ، دا
ستاسو د خپل ورور سپکاوے دے. ۱۷ چې تاسو د یوې ښځې سره
ځملئ نو د هغې د لُور یا د هغې د نمسئ سره هم زنا مۀ کوئ، ځکه
هغوئ ستاسو خپلوانې دی، دا به یو بد عمل وی. ۱۸ د خپلې ښینې
سره وادۀ مۀ کوئ چې کله د هغې خور یعنې ستاسو ښځه ژوندئ
وی. ۱۹ چې کله د یوې ښځې میاشتنئ بیماری وی نو د هغې سره
مۀ ځملئ ځکه چې هغه ناپاکه وی. ۲۰ د بل سړی د ښځې سره
مۀ ځملئ، د هغې په وجه به تاسو ناپاک شئ. ۲۱ د خپل اولاد یو
کس هم مولک بُت د پاره مۀ ورکوئ چې د هغۀ په عِبادت کښې
اِستعمال شی اؤ د خپل خُدائ پاک د نُوم سپکاوے مۀ کوئ: زۀ
مالِک خُدائ یم. ۲۲ یو نر دې هم د بل نر کس سره جنسی تعلُقات
نۀ ساتی، دا یو بد عمل دے. ۲۳ یو نر دې د یو ځناور سره زنا کولو
په وجه خپل ځان نۀ ناپاک کوی، یا یوه ښځه دې د یو ځناور سره د
زنا کولو کوشش نۀ کوی، دا یو ګنده عمل دے. ۲۴ د دې عملُونو په
وجه خپل ځانُونه مۀ ناپاکه کوئ، ځکه چې غېرو قومُونو داسې خپل
ځانُونه ناپاک کړل، هغه غېرقومُونه چې مالِک خُدائ به یې ستاسو
نه مخکښې وشړی. ۲۵ د هغوئ عملُونو هغه وطن ناپاک کړو اؤ
مالِک خُدائ هغه وطن له سزا ورکړه چې خپل اوسېدُونکی وشړی.
۲۶ - ۲۷ هغوئ دا ټول غلط کارُونه وکړل اؤ هغه وطن یې ناپاک کړو،
خو چې تاسو داسې ونۀ کړئ. کۀ هغه اِسرائیلے وی یا د پردی وطن
کس چې ستاسو سره اوسېږی، نو تاسو ټول به د مالِک خُدائ په
قانُون اؤ حُکمُونو عمل کوئ، ۲۸ نو هغه وطن به تاسو نۀ شړی، لکه

چې څنګه يې غېرقومُونه وشړل کُوم چې ستاسو نه مخکښې هلته
اوسېدل. ۲۹ تاسو ته پته ده چې هر څوک دا ګنده کارُونه وکړی نو
هغه به نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی ګڼلے.“ ۳۰ اؤ مالِک
خُدائ ووئيل، ”زۀ چې کُوم حُکمونه درکړم په هغې عمل کوئ اؤ د
هغه خلقو په رِواجُونو پسې مۀ ځئ کُوم چې ستاسو نه مخکښې په
هغه وطن کښې اوسېدل، اؤ د هغه غلطو کارُونو کولو په وجه خپل
ځانُونه مۀ ناپاکه کوئ. زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم.“

## اِخلاقی اؤ مذهبی قانُون

**۱۹** ۱ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل چې ۲ د بنی اِسرائيلو
قوم ته ووايه، ”مُقدس اوسئ، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ،
ستاسو خُدائ پاک مُقدس يم. ۳ ستاسو هر يو کس دې د خپل
مور اؤ پلار عِزت کوی اؤ د سبت ورځ مانځئ، چې څنګه ما حُکم
درکړے دے. زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ۴ زما نه
مۀ اوړئ اؤ د بُتانو عِبادت مۀ کوئ، مجسمې مۀ جوړوئ اؤ مۀ يې
عِبادت کوئ. زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ۵ کله چې
تاسو د سلامتئ نذرانې د پاره يو ځناور حلالوئ، ما چې کُوم اصُول
درته ښودلی دی د هغې خيال ساتئ اؤ زۀ به هغه نذرانه قبلوم.
۶ چې په کُومه ورځ ځناور حلال شی غوښه به يې هم په هغه ورځ
يا ورپسې ورځ باندې خوړلے شی. څۀ غوښه چې د دريمې ورځې
پورې پاتې وی نو هغه به خامخا سوزولے شی، ۷ ځکه چې دا
ناپاکه ده اؤ کۀ څوک دا وخوری، نو زۀ به هغه نذرانه قبُوله نۀ کړم.

۸ هر څوک چې دا وخوری نو ګُناه به د هغهٔ په غاړه وی ځکه
چې د هغه څهٔ سپکاوے یې کړے دے چې مالِک خُدائ، خُدائ
پاک ته وقف وُو، نو هغه به نور زما د خلقو نهٔ شی ګڼلے. ۹ کله
چې تاسو د خپلو پټو فصل ربېئ، نو فصل د پټو تر غاړو پورې مهٔ
ربېئ اؤ چې کُوم ورړی د لَو نه پاتی وی نو د هغې ربېلو له واپس مهٔ
ورځئ. ۱۰ خپلو د انګُورو باغُونو ته واپس مهٔ ورځئ چې هغه انګُور
راټول کړئ کُوم چې پاتې شوی وی یا غورزېدلی وی، دا غریبانانو اؤ
مُسافرو ته پرېږدئ. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم. ۱۱ غلا
مهٔ کوئ، دروغ مهٔ وایئ اؤ یو بل مهٔ دهوکه کوئ. ۱۲ زما په نُوم د
دروغو قسم مهٔ خورئ چې ستاسو د دې د پُوره کولو اِراده نهٔ وی،
دا به زما د نُوم سپکاوے وی. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
یم. ۱۳ خپل ګاونډی مهٔ دهوکه کوئ اؤ د هغهٔ نه غلا مهٔ کوئ. د
یو مزدُور مزدُوری تر سحره پورې مهٔ ایساروئ. ۱٤ یو کُوڼ کس ته
ښېرې مهٔ کوئ اؤ د یو ړُوند په مخ کښې داسې څهٔ څیز مهٔ ږدئ
چې په هغې باندې تیندک وخوری. زما نه ویرېږئ، زهٔ مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک یم. ۱۵ د عدالت په فېصلو کښې د بې اِنصافئ
نه کار مهٔ اخلئ، چې د یو غریب طرفداری وکړئ یا د مالدار کس
نه ویرېږئ: د خپل ګاونډی سره اِنصاف کوئ. ۱٦ د هیچا په باره
کښې دروغ مهٔ خوَروئ اؤ کله چې د چا د ژوند مُقدمه وی، کهٔ هغه
ستاسو د ګواهئ په وجه بچ کېدے شی نو ګواهی ورکړئ. زهٔ مالِک
خُدائ یم. ۱۷ د نورو خِلاف په زړهٔ کښې کینه مهٔ ساتئ، د هغوئ
سره خپل اِختلافات ختم کړئ، نو چې د هغوئ په وجه ګُناهګار

نهٔ شئ. ۱۸ د هیچا نه بدل مهٔ اخلئ یا د چا سره په زړهٔ کښې کینه
مهٔ ساتئ، د خپل ګاونډی سره هغه هومره مینه کوئ چې څومره د
خپل ځان سره کوئ. زهٔ مالِک خُدائ یم. ۱۹ زما په حُکمُونو عمل
کوئ. مُختلف قِسمه ځناور مهٔ پربږدئ چې یو بل مال کړی. په یو
پټی کښې دوه قِسمه تُخم مهٔ کَرئ. د دوه قِسمه تار نه جوړې شوې
جامې مهٔ اغوندئ. ۲۰ کهٔ یوه وینځه د یو سړی منلے شوی دویمه
ښځه وی اؤ اخستے شوې نهٔ وی چې آزاده شی، نو کهٔ یو بل سړے
د هغې سره څملی، هغوئ له به سزا ورکولے شی خو وژلے به نهٔ
شی، ځکه چې هغه یوه وینځه وی. ۲۱ هغه سړے به د مالِک خُدائ
د مُقدسې خېمې د دروازې خُلې ته د تاوان د نذرانې په توګه یو ګډ
راولی، ۲۲ اؤ اِمام به د دې سره د پاکوالی کفاره ادا کړی چې د هغه
سړی ګُناه لرې شی اؤ خُدائ پاک به هغه معاف کړی. ۲۳ کله چې
تاسو د کنعان وطن ته ورننوځئ اؤ د مېوې هر قِسم ونهٔ هم وکَرئ، نو
داسې وګڼئ چې هغه مېوه د دریو کالو پورې ناپاکه ده. په دې دوران
کښې به تاسو هغه نهٔ خورئ. ۲۴ په څلورم کال به ټولې مېوې ما
یعنې مالِک خُدائ ته په شُکرانه کښې وقف کړئ. ۲۵ خو په پینځم
کال هغه مېوې خوړے شئ. کهٔ تاسو دا هر څهٔ وکړل، نو ستاسو
ونې به زیاتې مېوې ونیسی. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم.
۲۶ داسې غوښه مهٔ خورئ چې وینه لا په کښې وی. فال مهٔ ګورئ
اؤ کوډې مهٔ کوئ. ۲۷ د خپل سر ګېرچاپېره لاندې ویښتهٔ مهٔ کلوئ
اؤ ګېره مهٔ لنډوئ. ۲۸ د مړی په غم کښې خپل بدن مهٔ غوڅوئ اؤ
مهٔ په کښې داغُونه جوړوئ. زهٔ مالِک خُدائ یم. ۲۹ د خپلو لُوڼو نه

د عِبادت‌خانې کنجرې جوړولو په وجه د هغوئ بې عِزتی مهٔ کوئ،
ګنی نورو خُدايانو ته به ورواوړئ اؤ هغه وطن به د بد عملی نه ډک
شی. ٣٠ د سبت ورځ مانځئ اؤ د هغه ځائ عِزت کوئ چې چرته
زما عِبادت کېږی. زهٔ مالِک خُدائ يم. ٣١ د هغه خلقو نصيحت
اؤرېدلو له مهٔ ورځئ چې د مړو د رُوحُونو مشورې ورکوی. کهٔ تاسو
داسې وکړل نو ناپاک به شئ. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
يم. ٣٢ د بُوډاګانو په مخکښې پاڅېږئ اؤ د مشرانو عِزت کوئ. زما
نه وېرېږئ، زهٔ مالِک خُدائ يم. ٣٣ د هغه مُسافرو سره بد سلُوک
مهٔ کوئ کُوم چې ستاسو په وطن کښې اوسېږی. ٣٤ د هغوئ سره
د يو بنی اِسرائيلی په شان سلُوک کوئ اؤ د هغوئ سره د خپل ځان
په شان مينه کوئ. ياد ساتئ! تاسو هم په يو وخت کښې د مِصر په
وطن کښې مُسافر وئ. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ٣٥ د
ناپ، تول، يا د مِقدار د غلطو حِسابُونو لګولو په وجه هيڅ څوک مهٔ
غولوئ. ٣٦ صحيح تلې، صحيح وزنُونه اؤ صحيح ناپونه اِستعمالوئ.
زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم اؤ ما تاسو د مِصر وطن نه
راوويستلئ. ٣٧ زما ټول قانُون اؤ حُکمونه منئ. زهٔ مالِک خُدائ يم.“

## د ګُناهونو د پاره سزاګانې

٢٠
١ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل چې ٢ بنی اِسرائيلو
ته ووايه، ”کهٔ ستاسو يو خپل کس يا يو مُسافر چې ستاسو
سره اوسېږی هغه د خپلو ماشُومانو نه يو ماشُوم مولک بُت ته پېش
کړی نو ټول قوم به هغه سنګسار کړی اؤ مړ به يې کړی. ٣ کهٔ

ځوک د خپلو ماشُومانو نه يو ماشُوم مولک بُت ته ورکړی اؤ زما
مُقدسه خېمه ناپاکه کړی اؤ زما د مُقدس نُوم سپکاوے وکړی، نو
زۀ به ترې نه مخ واړوم اؤ هغه به نور زما د خلقو نه نۀ شی ګڼلے.
٤ خو کۀ قوم په هغه کس باندې ځان ناجاڼه کړی چې څۀ يې کړی
وی اؤ هغه ونۀ وژنی، ٥ نو زۀ به په خپله د هغه کس نه، د هغۀ د
ټولې کورنئ نه اؤ د هغه ټولو نه مخ واړوم چې زما نافرمانی وکړی
اؤ د مولک بُت عِبادت وکړی. زۀ به هغوئ نور خپل خلق نه ګڼم.
٦ کۀ ځوک د هغه خلقو نصيحت اؤرېدلو له ورځی چې د مړو د
رُوحُونو مشورې ورکوی، نو زۀ به د هغۀ نه مخ واړوم اؤ زۀ به هغه
نور د خپلو خلقو نه نۀ ګڼم. ٧ خپل ځانُونه وقف کړئ اؤ مُقدس
اوسئ، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ٨ زما
قانُون ومنئ، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ يم اؤ تاسو مُقدس کوم.“
٩ مالِک خُدائ دا اصُول وښودل. کۀ ځوک خپل مور يا پلار ته
ښېرې وکړی نو هغه به وژلے شی، اؤ خُون به يې په خپله غاړه وی.
١٠ کۀ يو سړے د بل سړی د ښځې سره زنا وکړی نو دوئ دواړه
به وژلے شی. ١١ کۀ يو سړے د پلار د ښځې سره خملی اؤ د پلار
سپکاوے وکړی، نو هغه سړے اؤ ښځه دواړه به وژلے شی. د هغوئ
خُون په خپله غاړه دے. ١٢ کۀ يو سړے د خپلې اينږور سره خملی،
نو هغوئ دواړه دې ووژلے شی. هغوئ ډېر غلط کار کړے دے اؤ
خُون يې په خپله غاړه دے. ١٣ کۀ يو سړے د بل سړی سره جنسی
تعلُقات وساتی، هغوئ يو شرمناک کار کړے دے اؤ دواړه به ووژلے
شی. د هغوئ خُون په خپله غاړه دے. ١٤ کۀ يو سړے يوه ښځه اؤ

د هغې مور وادۀ کړی، نو هغوئ درې واړه به په اور کښې سوزولے
شی ځکه چې هغوئ ډېر بد عمل کړے دے، ستاسو په مېنځ کښې
به د داسې کار اِجازت نۀ وی. ۱۵ کۀ يو سړے د ځناور سره زنا
وکړی، نو هغه سړے اؤ ځناور به وژلے شی. ۱۶ کۀ يوه ښځه د ځناور
سره د غلط کار کولو کوشش وکړی، نو هغه اؤ ځناور به ووژلے شی.
د هغوئ خُون په خپله غاړه دے. ۱۷ کۀ يو سړے د خپلې سکه يا
ناسکه خور سره وادۀ وکړی اؤ هغوئ د يو بل سپکاوے وکړی، نو
دا يو د بې‌شرمئ کار دے اؤ هغوئ دې د خپلو خلقو نه وشړلے شی،
هغۀ د خپلې خور سپکاوے کړے دے اؤ هغوئ ته دې د خپلو بدو
سزا مِلاؤ شی. ۱۸ کۀ يو سړے د يوې ښځې سره د هغې د مياشتنئ
بيمارئ په دوران کښې څملی، نو هغوئ دواړه به د قوم نه شړلے
شی، ځکه چې هغوئ د پاکوالی په باره کښې اصُول مات کړی دی.
۱۹ کۀ يو سړے د خپلې مور خور سره يا د پلار خور سره څملی، نو
هغوئ ته دې خامخا د خپلو بدو سزا مِلاؤ شی. ۲۰ کۀ يو سړے د
خپلې ترۀ ښځې سره څملی، نو هغۀ د خپل ترۀ سپکاوے کوی، نو
ذِمه واری به د هغوئ په خپله غاړه وی، اؤ د هغوئ بچی به نۀ پېدا
کېږی. ۲۱ کۀ يو سړے خپله ورنداره وادۀ کړی اؤ ورور يې ژوندے
وی، نو هغوئ به بې اولاده مړۀ شی. هغۀ يو ناپاکه کار کړے دے اؤ
هغۀ د خپل ورور سپکاوے کړے دے. ۲۲ مالِک خُدائ ووئيل، "زما
ټول قانُون اؤ حُکمونه ومنئ، نو داسې د کنعان وطن نه به ونۀ شړلے
شئ کُوم وطن له چې زۀ تاسو راولم. ۲۳ د هغه خلقو په رِواجُونو
پسې مۀ ځئ کُوم چې هلته اوسېږی، هغه غېرقومُونه به ترې نه وباسم

نو تاسو به هغه وطن ته ورننوځئ. زهٔ د هغوئ د ټولو بدو عملُونو په
وجه د هغوئ نه کرکه کوم. ۲۴ خو ما ستاسو سره وعده کړې ده
چې هغه وطن ستاسو خپل شی چې زرخېز اؤ آباد وی اؤ هغه به زهٔ
تاسو له درکړم. زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم اؤ ما تاسو د
نورو قومُونو نه جُدا کړی يئ. ۲۵ نو تاسو خامخا د حلالو اؤ حرامو
ځناورو اؤ مارغانو په مېنځ کښې فرق وکړئ. حرام ځناور اؤ حرام
مارغان مهٔ خورئ. ما ورته ناپاک وئيلی دی اؤ چې تاسو دا وخورئ
نو ناپاک به شئ. ۲۶ تاسو به مُقدس شئ اؤ صِرف زما به شئ، ځکه
چې زهٔ مالِک خُدائ يم اؤ زهٔ مُقدس يم. ما تاسو د نورو قومُونو نه
جُدا کړی يئ تاسو صِرف زما اوسئ. ۲۷ هر يو سړے يا ښځه چې د
مړو يا د پېريانو مشورې ورکوی هغه دې سنګسار کړے شی چې مړهٔ
شی، څوک چې دا کار کوی نو هغه به د خپل خُون ذِمه وار وی.“

## د اِمامانو پاکوالے

۲۱ ۱ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم وکړو چې د هارُون
د کورنۍ اِمامانو ته ووايه، ”کله چې د هغوئ يو خپلوان
مړ شی نو د هغهٔ په جنازه کښې شريکېدو په وجه به اِمام خپل ځان
نهٔ ناپاک کوی، ۲ خو د دې نه بغېر چې هغه يې نزدې خپلوان وی
لکه مور، پلار، زوئ، لُور، ورور، ۳ يا پېغله خور چې د هغهٔ په
کور کښې اوسېږی. ۴ هغه دې د هغه چا په مرګ کښې خپل ځان
ناپاک نهٔ کړی چې د وادهٔ په ذريعه د هغهٔ خپلوان شوے وی. ۵ يو
اِمام به هم د خپل سر يوه حِصه هم نهٔ کلوی نهٔ به ږيره لنډوی اؤ نهٔ

به خپل بدن غوڅوی چې دا ښکاره کړی چې غم کوی. ٦ هغه به
مُقدس وی اؤ چې زما نُوم سپک نهٔ کړی. هغه ما ته په اور باندې
تیارېدُونکې نذرانه پېش کوی، نو هغه دې خامخا مُقدس وی. ٧ یو
اِمام به د کنجرې ښځې سره وادهٔ نهٔ کوی یا چې پېغله نهٔ وی اؤ یا
طلاقه شوې وی ځکه چې هغه مُقدس دے. ٨ خلق به خامخا اِمام
مُقدس گڼی، ځکه چې هغه ما ته په اور باندې تیارېدُونکې نذرانه
پېش کوی. زهٔ مالِک خُدائ یم، زهٔ مُقدس یم اؤ زهٔ خپل خلق مُقدس
کوم. ٩ کهٔ د یو اِمام لُور کنجره شی، هغه د خپل پلار سپکاوے
کوی، نو هغه به خامخا په اور کښې سوزولے شی. ١٠ د مشر اِمام
په سر باندې د غوړولو تېل اچولے شوی دی اؤ هغه پاک شوے دے
چې د اِمامانو لِباس واغوندی، نو هغه به خپل وېښتهٔ ببر نهٔ پرېږدی
نهٔ به شلېدلې جامې اغوندی چې دا ښکاره کړی چې هغه غم ژړا
کوی. ١١-١٢ هغه ما ته وقف شوے دے اؤ هغه به خپل ځان نهٔ
ناپاک کوی اؤ نهٔ به زما د مُقدسې خېمې بې عِزتی کوی چې هغه
پرېږدی اؤ هلته لاړ شی چې چرته مړے وی، تر دې پورې کهٔ هغه
یې خپل مور اؤ پلار هم وی. ١٣ هغه به یوه داسې جینۍ وادهٔ کوی
چې هیڅ کله یې زنا نهٔ وی کړی، ١٤ کونډه یا طلاقه شوې ښځه
یا یوه کنجره ښځه به نهٔ وادهٔ کوی. هغه دې صِرف د یوې داسې
جینۍ سره وادهٔ کوی چې زنا یې نهٔ وی کړی اؤ د خپلې قبیلې نه
یې وی. ١٥ گنی، د هغهٔ بچی به ناپاک وی، په کار دی چې هغوئ
پاک وی. زهٔ مالِک خُدائ یم اؤ ما هغه د اِمام په توگه غوره کړے
دے.“ ١٦ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم وکړو چې ١٧ هارُون ته ووایه،

”ستا د اولاد هغه یو کس به هم په اور تیارېدُونکې نذرانه ما ته نۀ
پېش کوی، کُوم چې په بدن کښې څۀ عېب لری. په دې خبرو به
په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې عمل کېږی. ۱۸ داسې یو سړے هم
دا نذرانه نۀ شی پېش کولے چې هغه په بدن کښې داسې عېب لری
لکه: څوک چې ړُوند، ګوډ، کوږ مخے یا معذُور وی، ۱۹ څوک
چې په لاس یا په خپه ګوډ وی، ۲۰ چې په ملا یې کُب وی یا ټیټ
قدے وی، څوک چې د سترګو یا د څرمنې څۀ بیماری لری، او یا
چې خصی وی. ۲۱ د هارُون د اولاد داسې یو اِمام هم ما ته په اور
تیارېدُونکې نذرانه نۀ شی پېش کولے چې په بدن کښې څۀ عېب
لری. ۲۲ خو داسې کس په اور باندې تیارېدُونکې نذرانه خوړلے شی
چې ما ته پېش کېږی، یعنې هغه دواړه نذرانې په اور تیارېدُونکې
مُقدسه نذرانه او په اور تیارېدُونکې ډېره مُقدسه نذرانه، ۲۳ خو ځکه
چې هغه په بدن کښې څۀ عېب لری، نو هغه دې مُقدسې پردې ته
او قُربان‌ګاه ته نزدې نۀ راځی. هغه دې دا مُقدس ځایُونه نۀ ناپاکه
کوی، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ یم او زۀ هغوئ مُقدس کوم.“
۲۴ نو دا هغه څۀ دی چې مُوسیٰ هارُون ته، د هارُون زامنو ته او ټولو
بنی اِسرائیلو ته ووئیل.

## خُدائ پاک ته قبلېدُونکې نذرانې

**۲۲**
۱ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل چې ۲ هارُون او د هغۀ
زامنو ته ووایه، ”تاسو زما د مُقدس نُوم سپکاوے مۀ کوئ او
د مُقدسو نذرانو اِحترام کوئ کُومې چې بنی اِسرائیل ما ته وقف کوی.

زۀ مالِک خُدائ یم. ۳ هغوئ ته ووایه چې کله ستاسو د اولاد یو کس
ناپاک وی اؤ مُقدسو نذرانو ته نزدې راځی کُومې چې بنی اِسرائیلو ما
ته وقف کړې وی، هغه دې بیا هیڅ کله په قُربانګاه کښې خِدمت ونۀ
کړی. په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې به په دې عمل کوئ. زۀ مالِک
خُدائ یم. ٤ د هارُون د اولاد یو کس هم دا مُقدسې نذرانې نۀ شی
خوړلے چې په هغۀ د جُذام بیماری وی یا د هغۀ د بدن نه څۀ وځی
چې تر څو پورې هغه پاک شوے نۀ وی. هر هغه اِمام ناپاک دے چې
هغه داسې څۀ څیز له لاس وروړی چې هغه د یو مړی سره د لګېدو په
وجه ناپاک وی یا د هغۀ د ذکر نه اوبۀ وځی ۵ یا کۀ هغه یو ناپاک
ځناور یا ناپاک کس له لاس وروړی. ٦ هر یو اِمام چې ناپاک شی نو
هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی، خو بیا به هم هغه مُقدسې نذرانې نۀ
شی خوړلے چې تر څو پورې یې غُسل نۀ وی کړے. ۷ چې کله نمر
پرېوزی نو هغه پاک دے اؤ بیا هغه مُقدسې نذرانې خوړلے شی، کُومې
چې د هغۀ خوراک دے. ۸ هغه به د داسې ځناور غوښه نۀ خوری
چې په خپل مرګ مړ وی یا ځنګلی ځناورو وژلے وی، په دې به هغه
ناپاک شی. زۀ مالِک خُدائ یم. ۹ ټول اِمامان به هغه اصُول منی کُوم
چې ما ښودلی دی. ګنی، هغوئ به ګُناهګار شی اؤ مړۀ به شی، ځکه
چې هغوئ مُقدسو اصُولو ته سپک کتلی دی. زۀ مالِک خُدائ یم اؤ زۀ
هغوئ مُقدس کوم. ۱۰ صِرف د اِمامانو د کورنۍ کس دا نذرانې خوړلے
شی، بل څوک یې نۀ شی خوړلے کۀ هغه د اِمام کره مېلمه وی یا یې
مزدُور وی. ۱۱ خو د اِمام غُلامان، چې هغه یې په پېسو اخستی وی یا
یې په خپل کور کښې پېدا شوی وی، نو هغوئ هغه خوراک خوړلے

شی کُوم چې اِمام ته ملاوېږی. ۱۲ کهٔ د اِمام لُور د یو داسې سړی سره
وادهٔ وکړی چې هغه اِمام نهٔ وی نو هغه ښځه به دا مُقدسې نذرانې نهٔ
شی خوړلے. ۱۳ خو کهٔ د هغهٔ لُور کونډه یا طلاقه شوې وی چې د هغې
بچی نهٔ وی اؤ هغه بېرته راغلې وی اؤ د پلار په کور کښې اوسېږی نو هغه
دا خوراک خوړلے شی چې کُوم یې پلار ته د اِمام په توګه مِلاؤ شوے
وی. صِرف د اِمامانو د کورنۍ کس دا خوراک خوړلے شی. ۱۴ کهٔ یو
کس د اِمامانو د کورنۍ نه نهٔ وی اؤ د مُقدسې نذرانې نه څهٔ په غلطۍ
سره وخوری، نو هغه به خامخا اِمام ته د دې پُوره قیمت اؤ شل فیصده
تاوان هم ورکوی. ۱۵ اِمامان به د دې نذرانو سپکاوے نهٔ کوی ۱۶ چا
ته چې د مُقدسو نذرانو د خوړلو اِجازت نهٔ وی نو هغه خلق به ورته نهٔ
شی پرېښودلے، کهٔ داسې وشی نو د دې په وجه به هغه کس ګُناهګار
شی اؤ سزا به ورته مِلاؤ شی. زهٔ مالِک خُدائ یم اؤ زهٔ نذرانې مُقدسې
کوم.“ ۱۷ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل چې، ۱۸ ”هارُون اؤ د هغهٔ
زامنو ته اؤ ټولو بنی اِسرائیلو ته دا اصُول وښایه. کله چې یو بنی اِسرائیلے
یا په بنی اِسرائیلو کښې اوسېدُونکے مُسافر یوه سوزېدُونکې نذرانه پېش
کوی، کهٔ هغه یوه منخته یا رضاکارانه نذرانه وی، نو په هغه څناور کښې
دې هیڅ عېب نهٔ وی. ۱۹ دا څناور به خامخا نر وی، ګډ یا چېلے چې
هیڅ عېب په کښې نهٔ وی د دې د پاره چې دا نذرانه ستاسو نه قبُوله
شی. ۲۰ کهٔ تاسو یو داسې څناور پېش کوئ چې څهٔ عېب په کښې
وی، نو مالِک خُدائ به دا نهٔ قبلوی. ۲۱ کله چې څوک مالِک خُدائ
ته د سلامتۍ نذرانه پېش کوی، کهٔ هغه یوه منخته یا رضاکارانه نذرانه
وی، نو په هغه څناور کښې به څهٔ عېب نهٔ وی دا د دې د پاره چې

قبُوله شی. ۲۲ مالِک خُدائ ته داسې ځناور مهٔ پېش کوئ چې ړُوند،
ګوډ، يا ناسُور شوے زخم په کښې وی، يا يې په ځرمن کښې پمنوالے
يا خارښت وی. داسې ځناور په قُربان‌ګاه باندې په اور تيارېدُونکې نذرانې
په توګه مهٔ پېش کوئ. ۲۳ د رضاکارانه نذرانې په توګه تاسو داسې ځناور
پېش کولے شئ چې هغه لنډ وی يا کهٔ هغه صحيح شکل نهٔ لری، خو
دا به په منخته کښې قبلېدُونکے نهٔ وی. ۲۴ مالِک خُدائ ته داسې ځناور
مهٔ پېش کوئ چې په ټکولو، پرې کولو، زخمی کولو يا ويستلو په وجه
خصی شوے وی. ستاسو په وطن کښې به د دې قِسم نذرانو اِجازت
نهٔ وی. ۲۵ په اور تيارېدُونکې نذرانې په توګه داسې ځناور مهٔ پېش کوئ
چې د يو پردی سړی نه اخستے شوے وی. داسې ځناور عيبژن ګڼلے
شی اؤ قبلېدُونکی نهٔ وی. ۲۶-۲۷ کله چې يو خخرے، ګډُورے يا د چېلۍ
بچړے پيدا شی، نو دا به اووهٔ ورځې د مور نه نهٔ شی لرې کولے، خو
د هغې نه پس دا به په اور تيارېدُونکې نذرانې په توګه قبلېدُونکے وی.
۲۸ يوه غوا اؤ د هغې خخرے يا ګډه اؤ د هغې ګډُورے يا يوه چېلۍ اؤ
د هغې بچړے په يوه ورځ مهٔ حلالوئ. ۲۹ کله چې تاسو مالِک خُدائ ته
د شُکرانې قُربانی پېش کوئ، نو په هغه اصُولو عمل کوئ نو داسې به
تاسو قبُول شئ، ۳۰ هم په هغه ورځ باندې دا وخورئ اؤ د دې هيڅ هم
بلې ورځې ته مهٔ پرېږدئ.“ ۳۱ مالِک خُدائ ووئيل، ”زما حُکمونه منئ،
زهٔ مالِک خُدائ يم. ۳۲ زما د مُقدس نُوم سپکاوے مهٔ کوئ، ټول بنی
اِسرائيل دې دا اِقرار وکړی چې زهٔ مُقدس يم. زهٔ مالِک خُدائ يم اؤ زهٔ
تاسو مُقدس کوم، ۳۳ اؤ ما تاسو د مِصر وطن نه راوويستلئ چې ستاسو
خُدائ پاک شم. زهٔ مالِک خُدائ يم.“

## مذهبی اخترونه

**۲۳**
١ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل چې، ٢ ”د مذهبی
اختروُنو د پاره بنی اِسرائیلو ته دا اصُول وښایه چې
کله هغوئ د عِبادت د پاره راغونډ شی. ٣ ستاسو سره شپږ ورځې
شته چې خپل کار په کښې کولے شئ، خو یاد ساتئ اوومه ورځ
د سبت ورځ ده، چې د آرام د پاره ده. په دې ورځ کار مۀ کوئ
اؤ د عِبادت د پاره راغونډېږئ. د سبت ورځ د مالِک خُدائ ده،
چې تاسو چرته هم اوسېږئ. ٤ د دې اختروُنو اِعلان په مُقرر شوو
وختُونو باندې کوئ.

## د فسحې کولو اختر

**(د شمېر کِتاب ۲۸: ۱٦-۲۵)**

٥ د فسحې کولو اختر، د مالِک خُدائ د درناوی د پاره کولے
شی، دا د اولنی میاشتې د څوارلسمې ورځې د نمر پرېواتو نه شروع
کېږی. ٦ په پینځلسمه ورځ د پتیرې ډوډۍ اختر شروع کېږی اؤ
اووۀ ورځې به تاسو خمبیره ډوډۍ نۀ خورئ. ٧ د دې ورځو په اوله
ورځ به تاسو د عِبادت د پاره راغونډېږئ اؤ هغه یو کار هم مۀ کوئ
چې تاسو یې هره ورځ کوئ. ٨ اووۀ ورځې مالِک خُدائ ته په اور
تیارېدُونکې نذرانې پېش کړئ. په اوومه ورځ به تاسو بیا د عِبادت د
پاره راغونډ شئ، خو هغه یو کار به هم نۀ کوئ کُوم چې تاسو هره
ورځ کوئ. ٩-١٠ کله چې تاسو هغه زمکې له ورشئ کُومه چې

مالِک خُدائ تاسو له درکوی اؤ تاسو خپل فصل وربېئ، نو وړومبے
ګېډه‌ے اِمام له وروړئ. ⑪ هغه به دا مالِک خُدائ ته د یوې خاص
نذرانې په توګه پېش کړی، نو تاسو به قبُول شئ. اِمام به دا په سبت
پسې ورځ باندې پېش کړی. ⑫ په کُومه ورځ چې تاسو د فصل
نذرانه پېش کوئ، نو د یو کال ګډُورے هم د سوزېدُونکې نذرانې په
توګه قُربانی کړئ چې هیڅ عیب په کښې نۀ وی. ⑬ تاسو د دې سره
دوه کیلو ښۀ اوړۀ چې د زیتُونو تېل ورسره ګډ وی په اور تیارېدُونکې
نذرانې په توګه پېش کړئ. د دې نذرانې خوشبوئی په مالِک خُدائ
باندې ښۀ لګې. تاسو د دې سره یو لیټر د انګُورو د شرابو نذرانه هم
پېش کړئ. ⑭ په هغه ورځ تاسو ډوډۍ، وریتې شوې اؤ کچه دانې
تر هغې پورې مۀ خورئ چې تر څو پورې تاسو دا نذرانه خُدائ پاک
ته نۀ وی راوړې. په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې ستاسو ټول اولاد
به دا اصُول منی.

## د لَو کولو اختر

**(د شمېر کِتاب ۲۸: ۲٦-۳۱)**

⑮ سبت پسې ورځې نه پُوره اووۀ هفتې وشمېرئ یعنې د هغه ورځ
نه په کُومه ورځ چې تاسو د خپل فصل ګېډه‌ے مالِک خُدائ ته د پېش
کېدو د پاره راوړئ. ⑯ د اوۀم سبت د ورځې نه پس، په پنځوسمه
ورځ، مالِک خُدائ ته د نوی فصل یوه بله نذرانه پېش کړئ. ⑰ هره
یوه کورنۍ دې دوه دوه ډوډۍ راوړی اؤ دا دې مالِک خُدائ ته د خاص
تُحفې په توګه پېش کړی. هره یوه ډوډۍ دې خمبیره شوې د دوه کیلو

ښو اوړو نه پخه شوې وی اؤ دا به مالِک خُدائ ته د وړومبی ریبلے
شوی فصل د نذرانې په توګه پیش کیږی. ⑱ اؤ قوم دې د دې ډوډۍ
سره اووۀ یو کالن ګډُوری، یو غوَیے اؤ دوه ګډان پیش کړی، چې هیڅ
عیب په کښې نۀ وی. دا به د سوزېدُونکې نذرانې په توګه، سره د غلې
د نذرانې اؤ د انګُورو د شرابو د نذرانې سره مالِک خُدائ ته پیش کیږی.
د دې نذرانې خوشبوئی په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګې. ⑲ یو چیلے
د ګُناه د نذرانې په توګه اؤ دوه یو کالن ګډُوری د سلامتۍ د نذرانې په
توګه هم پیش کړئ. ⑳ اِمام به ډوډۍ د دوه ګډُورو سره د اِمامانو د پاره
د خاص تُحفې په توګه هم پیش کړی. دا نذرانې مُقدسې دی. ㉑ په
هغه ورځ هغه یو کار هم مۀ کوئ چې تاسو یې هره ورځ کوئ اؤ د
عِبادت د پاره راغونډېږئ. ستاسو اولاد چې چرته هم اوسېږی دا اصُول
دې په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې منی. ㉒ کله چې تاسو د خپلو پټو
فصل ریبئ، نو فصل د پټو تر غاړو پورې مۀ ریبئ اؤ چې کُوم وږی پاتی
شی نو د هغې ریبلو له واپس مۀ ورځئ، دا د غریبانانو خلقو اؤ مُسافرو
د پاره پرېږدئ. زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم.

## د نوی کال اختر

**(د شمېر کِتاب ۲۹: ۱-۶)**

㉓ - ㉔ د اوومې میاشتې په وړومبۍ ورځ د آرام خاص ورځ مانځئ
اؤ چې کله بیګل وغږېږی نو د عِبادت د پاره راغونډ شئ. ㉕ مالِک
خُدائ ته یوه په اور تیارېدُونکې نذرانه پیش کړئ اؤ هغه یو کار هم
مۀ کوئ چې تاسو یې هره ورځ کوئ.

## د کفارې ورځ

**(د شمېر کِتاب ۲۹: ۷-۱۱)**

۲۶ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل چې: ۲۷ د دې اوومې میاشتې لسمه ورځ د کفارې ده، دا به ستاسو د پاره یوه مُقدسه اجتماع وی: تاسو به روژه نیسئ اؤ مالِک خُدائ ته په اور تیارېدُونکې نذرانه پېش کوئ، ۲۸ په هغه ورځ هیڅ کار مهٔ کوئ، ځکه چې هغه د کفارې ورځ ده اؤ د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک وړاندې ستاسو کفاره ادا کېږی. ۲۹ هر څوک چې هم په هغه ورځ څهٔ وخوری نو هغه به نور د خُدائ پاک د خلقو نه نهٔ شی ګڼلے. ۳۰ اؤ کهٔ هر چا هم په هغه ورځ څهٔ کار وکړو، نو زهٔ به په خپله هغه تباه کړم. ۳۱ ستاسو اولاد چې چرته هم اوسېږی دا اصُول د هغوئ د پاره دی. ۳۲ د هغې میاشتې د نهمې ورځې د نمر پرېواتو نه د لسمې ورځې د نمر پرېواتو پورې دا خاص ورځ مانځئ، په دې دوران کښې تاسو روژه نیسئ.

## د جُونګړو اختر

**(د شمېر کِتاب ۲۹: ۱۲-۴۰)**

۳۳ - ۳۴ د جُونګړو اختر د اوومې میاشتې په پینځلسمه ورځ شروع کېږی اؤ دا به اووهٔ ورځې وی. ۳۵ د دې ورځو په وړومبۍ ورځ د عِبادت د پاره راغونډ شئ اؤ هغه یو کار هم مهٔ کوئ چې تاسو یې هره ورځ کوئ. ۳۶ اووهٔ ورځې تاسو هره ورځ یوه په اور تیارېدُونکې نذرانه پېش کوئ. په اتمه ورځ بیا د عِبادت د پاره راغونډ شئ اؤ په

اور تیارېدُونکي نذرانه پېش کړئ. دا د عِبادت ورځ ده اؤ چې هیڅ
کار په کښې ونۀ کړئ. ۳۷ دا مذهبی اخترونه دی چې تاسو يې د
مالِک خُدائ په درناوی کښې کوئ چې د عِبادت د پاره په یو ځائ
راغونډېږئ اؤ په اور تیارېدُونکي نذرانې، سوزېدُونکي نذرانې، د غلې
نذرانې، قُربانی اؤ د انګُورو د شرابو نذرانې په کښې پېش کوئ، چې
په خپله خپله ورځ پېش کېږی. ۳۸ دا اخترونه د عامو سبت د ورځو
نه علاوه دی اؤ دا نذرانې ستاسو د عامو تُحفو نه علاوه دی، ستاسو
د منختې پُوره کېدلو نذرانو اؤ ستاسو د هغه رضاکارانه نذرانو نه
چې تاسو يې مالِک خُدائ له ورکوئ. ۳۹ کله چې تاسو د خپلو پټو
نه فصل ورېبئ، نو اووۀ ورځې دا اختر کوئ، چې د اوومې میاشتې
په پینځلسمه ورځ باندې شروع کېږی. اوله ورځ اؤ اتمه ورځ به د
آرام کولو خاص ورځې وی. ۴۰ په هغه ورځ د خپلو ونو نه ډېره ښۀ
مېوه وشُوکوئ، د کهجُورو څانګې اؤ د پاڼو والا د ونو څانګې اؤ
د سیند د غاړې نه د خاروَلو ونې واخلئ اؤ د مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک په درناوی کښې اختر وکړئ. ۴۱ دا اووۀ ورځې کوئ.
ستاسو اولاد به دا اصُول په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې منی. ۴۲ ټول
اِسرائیلیان به اووۀ ورځې په جُونګړو کښې اوسېږی، ۴۳ چې ستاسو
اولاد ته دا پته ولګې چې مالِک خُدائ بنی اِسرائیل دې ته جوړ کړل
چې په جُونګړو کښې اوسېږی چې کله يې هغوئ د مِصر وطن نه
راوویستل. هغه مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک دے. ۴۴ نو داسې
مُوسیٰ بنی اِسرائیلو ته دا اصُول وښودل چې د مالِک خُدائ په درناوی
کښې مذهبی اخترونه وکړی."

## د ډیوو ساتنه کول

**(د هِجرت کِتاب ۲۷: ۲۰-۲۱)**

**۲٤**
١ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل چې، ٢ ”بنی
اِسرائیلو له حُکم ورکړه چې د ډیوو د پاره ډېر ښۀ سُوچه
د زیتُونو تېل راوړی کُومې چې په مُقدسه خېمه کښې دی، نو چې
هر وخت رڼا وی. ٣ هارُون به هر ماښام دا ډیوې بلوی اؤ تر سحره
پورې به یې بلې ساتی، چې د مالِک خُدائ په حضُور کښې د پړدې
نه بهر د تړون صندُوق ته مخامخ دی، دا ډیوټ په زیات مُقدس ځائ
کښې دے. دا اصُول دې په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې منلے شی.
٤ هارُون به د هغه ډیوو خیال ساتی کُومې چې د سُوچه سرو زرو
په ډیوټ باندې دی اؤ دې ته به پام کوی چې دا د مالِک خُدائ په
حضُور کښې هر وخت بلېږی.

## خُدائ پاک ته پیش کړے شوې ډوډۍ

٥ دولس کیلو ښۀ اوړۀ واخله اؤ دولس ډوډۍ ترې نه پخې کړه.
٦ په دوه ډېرو کښې یې په هغه مېز باندې کېږده چې د سُوچه سرو
زرو پترې ورباندې خېژولے شوے دے، کُوم چې د مالِک خُدائ
په حضُور کښې دے اؤ چې په هر ډیری کښې شپږ شپږ ډوډۍ
وی. ٧ په هر ډیری باندې څۀ سُوچه لوبان واچوه، دا به مالِک
خُدائ ته په اور تیارېدُونکې نذرانې د یوې نښې په شان وی چې د
ډوډۍ په ځائ پیش کېږی. ٨ د هر سبت په ورځ په راتلُونکی ټولو

وختُونو کښې، ډوډۍ دې خامخا د مالِک خُدائ په حضُور کښې
کېښودلے شی. د بنی اِسرائیلو همېشه د پاره دا تړون دے. ۹ دا
ډوډۍ د هارُون اؤ د هغهٔ د اولاد ده اؤ هغوئ به دا په مُقدس ځائ
کښې خوری، ځکه چې دا د اِمامانو د پاره مالِک خُدائ ته په اور
تیارېدُونکې نذرانې یوه ډېره مُقدسه برخه ده."

## د خُدائ پاک اؤ د مخلُوق د اِحترام په باره کښې قانُون

۱۰-۱۱ یو سړے وو چې د هغهٔ پلار مِصرے اؤ مور یې بنی اِسرائیلۍ
وه چې د هغې نُوم سلومیت وو اؤ د دان د قبیلې د دِبری لُور وه.
دې سړی په خېمو کښې د یو بنی اِسرائیلی سره جګړه وکړه. هغهٔ
په کنځلو کښې د خُدائ پاک د نُوم بې عِزتی وکړه، نو هغوئ هغه
مُوسیٰ له بوتلو، ۱۲ هغه یې قېد کړو اؤ مالِک خُدائ ته یې اِنتظار
کولو چې هغوئ ته وښائی چې د هغهٔ سره څهٔ وکړی. ۱۳ مالِک
خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل چې، ۱۴ "دا سړے د خېمو نه بهر بوځئ. هر
چا چې د هغهٔ کنځل اؤرېدلی وی نو هغه به خپل لاس د هغه سړی
په سر د ګواهۍ ورکولو د پاره کېږدی اؤ بیا به ټول قوم هغه سنګسار
کړی. ۱۵ بیا بنی اِسرائیلو ته ووایه چې هر څوک هم خُدائ پاک ته
کنځل وکړی نو هغهٔ ته به خامخا د خپلو بدو سزا مِلاؤ شی ۱۶ اؤ وبه
وژلے شی. هر یو بنی اِسرائیلے یا د پردی وطن کس چې ستاسو سره
اوسېږی چې هغه مالِک خُدائ ته کنځل وکړی نو ټول قوم به هغه
ووژنی. ۱۷ هر څوک چې قتل وکړی نو هغه به وژلے شی، ۱۸ اؤ هر
څوک چې د بل چا یو ځناور ووژنی نو تاوان به یې خامخا ورکوی.

دا اصُول د ژوند په بدل کښې د ژوند والا دى. ١٩ کۀ څوک يو
بل کس زخمى کړى، هغۀ چې څۀ هم کړى وى نو هم هغه شان
عمل به ورسره کېږى. ٢٠ کۀ هغه يو هډُوکے مات کړى، نو د هغۀ
يو هډُوکے به ماتولے شى، کۀ هغه يوه سترګه وباسى نو د هغۀ يوه
سترګه به ويستلے شى، کۀ هغه يو غاښ مات کړى، نو د هغۀ يو
غاښ به ماتولے شى. هغه چې څنګه هم بل کس زخمى کړى نو
په بدل کښې به د هغۀ سره هم هغه عمل کېږى. ٢١ هر څوک چې
يو ځناور ووژنى نو تاوان به يې ورکوى، خو هر څوک چې يو اِنسان
ووژنى نو هغه به ووژلے شى. ٢٢ دا قانُون ستاسو د ټولو د پاره دے،
کۀ هغه اِسرائيلے وى يا د پردى وطن کس چې ستاسو سره اوسېږى،
ځکه چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم.“ ٢٣ کله چې
مُوسىٰ بنى اِسرائيلو ته دا ووئيل، نو هغوئ هغه سړے د خېمو نه بهر
بوتلو چا چې کنځل کړى وُو اؤ سنګسار يې کړو. نو بنى اِسرائيلو هم
هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ مُوسىٰ له حُکم ورکړے وو.

## اوؤم کال

**(د ګردان کِتاب ١٥: ١-١١)**

**٢٥**
١ بيا مالِک خُدائ د سينا په غرۀ باندې مُوسىٰ ته
ووئيل اؤ حُکم يې ورکړو چې، ٢ ”بنى اِسرائيلو ته
دا اصُول وښايه. کله چې تاسو هغه وطن ته ورننوځئ چې مالِک
خُدائ يې تاسو له درکوى، د مالِک خُدائ د درناوى د پاره په هر
اوؤم کال تاسو هغه زمکه مۀ کَرئ. ٣ شپږ کاله به تاسو خپل پټى

وکَرئ، په باغُونو کښې به د انګُورو څانګې پرې کړئ اؤ فصلُونه
به راغونډ کړئ. ۴ خو په اوؤم کال دې زمکه شاړه پاتې شی. دا
به مالِک خُدائ ته وقف شوے کال وی. خپل پټی مۀ کَرئ اؤ په
خپلو باغُونو کښې د انګُورو څانګې مۀ پرې کوئ. ۵ هغه فصل
مۀ رېبئ چې د کَرلو نه بغېر په خپله راشین کېږی اؤ د خپلو باغُونو
نه هغه انګُور مۀ راټولوئ چې څانګې یې کهنچې شوی نۀ وی، دا
هغه کال دے چې زمکه به په کښې پُوره آرام کوی. ۶ کۀ په هغه
کال کښې زمکه کَرلے شوے هم نۀ وی، خو د هغې نه به ستاسو
د پاره، ستاسو غُلامانو، مزدُورانو اؤ د مُسافرو د پاره چې ستاسو سره
اوسېږی، خوراک مِلاؤ شی، ۷ داسې ستاسو څاروو د پاره اؤ ستاسو
په پټو کښې د ځنګلی ځناورو د پاره هم. زمکه چې هر څۀ راشنۀ
کړی نو هغه خوړلے شی.

## د واپس ورکولو کال

۸ اووۀ ځلې اووۀ کالونه وشمېرئ چې یو کم پنځوس کاله
جوړېږی. ۹ نو د اوومې میاشتې په لسمه ورځ یعنې د کفارې په
ورځ به په ټول وطن کښې بیګل وغږولے شی. ۱۰ نو تاسو پنځوسم
کال خاص وګڼئ اؤ د وطن ټولو خلقو ته د آزادئ اِعلان وکړئ. په
دې کال هغه هر څۀ هم چې خرڅ شوی وی نو هغه به اصلی مالِک
یا د هغۀ اولاد ته واپس ملاوېږی اؤ هر څوک چې د غُلام په توګه
خرڅ شوے وی نو هغه به خپلې کورنۍ ته واپس شی. ۱۱ تاسو به
خپل پټی نۀ کَرئ نۀ به هغه فصل رېبئ چې په خپله راشین شوے

وی اؤ نۀ به په باغُونو کښې هغه انګُور راټولوئ چې څانګې یې پرې
کړے شوې نۀ وی. ۱۲ هغه ټول کال به ستاسو د پاره مُقدس وی،
تاسو به صِرف هغه څۀ خورئ چې پټو په خپله راشنۀ کړی وی.
۱۳ په دې کال هغه هر څۀ چې خرڅ شوی وی نو هغه به واپس خپل
اصلی مالِک ته مِلاؤ شی. ۱٤ کله چې تاسو په خپل بنی اِسرائیلی
باندې زمکه خرڅوئ یا یې ترې نه اخلئ، نو یو بل له دهوکه مۀ
ورکوئ. ۱۵ قیمت به یې د کالونو د شمېر په مُطابق مُقرروَلے شی
چې په هغه زمکه کښې د واپس ورکولو کال نه مخکښې څومره
فصل کېږی. ۱٦ کۀ چرې پاتې شوی کالونه ډېر وی، نو قیمت به
یې اُوچت وی، خو کۀ صِرف یو څو کالونه پاتې وی، نو قیمت به
یې کم وی، ځکه چې څۀ هم خرڅېږی نو هغه د فصلُونو د هغه
شمېر په مُطابق به وی چې په هغه زمکه کښې پیدا کېږی. ۱۷ خپل
بنی اِسرائیلیان مۀ دهوکه کوئ، خو د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ
پاک نه ویرېږئ. ځکه چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم.

## د اوؤم کال د پاره د خُدائ پاک د خوراک بندُوبست کول

۱۸ د مالِک خُدائ ټول قانُون اؤ حُکمونه منئ، نو تاسو به هغه
وطن کښې په آمن سره اوسېږئ. ۱۹ هغه زمکه به فصلُونه پیدا کوی
اؤ د خوراک هغه هر څۀ به درته ملاوېږی چې تاسو یې غواړئ اؤ
په آمن کښې به ژوند کوئ. ۲۰ خو کېدے شی چې ستاسو نه یو
کس تپوس وکړی چې پټی ونۀ کَرلے شی اؤ فصلُونه راغونډ نۀ شی
نو په اوؤم کال به څۀ خورو. ۲۱ مالِک خُدائ به په شپږم کال هغه

زمکې له برکت ورکړی نو هغه زمکه به د دوه کالونو د پاره ښهٔ ډېر خوراک پيدا کړی. ۲۲ کله چې تاسو په اتم کال خپل پټی کَرئ، نو چې په شپږم کال تاسو څهٔ رېبلی وی هغه به تر اوسه پورې خورئ اؤ په نهم کال به هم تاسو هغه څهٔ خورئ کُوم چې تاسو په اتم کال کَرئ اؤ رېبئ.

## د جائيداد واپس ورکول

۲۳ تاسو خپله زمکه د همېشه د پاره مهٔ خرڅوئ، ځکه چې زمکه ستاسو نهٔ ده، د خُدائ پاک ده اؤ تاسو د مُسافرو په شان يئ چا ته چې دا اِجازت وی چې صِرف کښه ترې نه واخلی. ۲۴ کله چې زمکه خرڅېږی، نو د دې د اصلی مالِک د واپس اخستلو حق به خامخا منلے شی. ۲۵ کهٔ يو بنی اِسرائيلے غريب شی اؤ زمکې خرڅولو ته مجبُور شی، نو د هغهٔ د ټولو نه نزدې خپلوان به زمکه واپس اخلی. ۲۶ کهٔ د چا خپلوان نهٔ وی چې دا واپس واخلی نو کېدے شی وروستو مالدار شی اؤ ډېرې پيسې ولری چې دا واپس واخلی. ۲۷ نو په داسې حال کښې به خامخا هغه سړی له قيمت ورکوی چا چې اخستے وی، دا قيمت به د واپس ورکولو کال پورې د پاتې کالونو د پاره وی، تر هغې پورې چې هغهٔ ته خپله زمکه واپس شی. ۲۸ خو کهٔ د هغهٔ سره ډېرې پيسې نهٔ وی چې زمکه واپس واخلی نو دا به د واپس اخستلو نه ورستوکال پورې د هغه سړی په قبضه کښې وی. په هغه کال دې دا خپل اصلی مالِک ته واپس شی. ۲۹ کهٔ څوک په يو دېوال لرُونکی ښار کښې کور خرڅ کړی، نو

هغه د دې د خرڅېدو د تاریخ نه واخله په هغه وړومبی ټول کال د
واپس اخستلو حق لری. ۳۰ خو کهٔ هغه یې په یو کال کښې واپس
وانهٔ خلی نو د واپس اخستلو حق د هغهٔ د لاس نه لاړ شی اؤ هغه
کور به د اخستُونکی اؤ د هغهٔ د اولاد د همېشه د پاره وی، دا به
د واپس اخستلو په کال نهٔ واپس کېږی. ۳۱ خو چې کُوم کورُونه
په بېدېواله کلو کښې دی نو په هغو باندې به د پټو په شان کار
کېږی، د دې اصلی مالِک دا حق لری چې دا واپس واخلی اؤ دا
به د واپس اخستلو په کال کښې واپس کولے شی. ۳۲ خو، لیویان
هر وخت دا حق لری چې په ښارُونو کښې خپل هغه جائیداد واپس
واخلی چې هغوئ ته حواله شوے وی. ۳۳ کهٔ چرې یو لیوے په
ښارُونو کښې یو کور خرڅ کړی اؤ واپس وانهٔ خستلے شی، نو د
واپس اخستلو په کال کښې به دا خامخا واپس اخستلے شی، ځکه
چې د لیویانو په خپلو ښارُونو کښې چې کُوم کورُونه دی دا د بنی
اِسرائیلو په مېنځ کښې د هغوئ د همېشه د پاره جائیداد دے. ۳۴ خو
د لیویانو د ښارُونو نه ګېرچاپېره مېدان به هیڅ کله نهٔ خرڅېږی، دا
د همېشه د پاره د هغوئ دے.

## غریبانانو خلقو له قرض ورکول

۳۵ کهٔ ستاسو سره یو نزدې اوسېدُونکے بنی اِسرائیلے دومره غریب
شې چې خپل ځان نهٔ شی ساتلے، نو تاسو خامخا د هغهٔ مدد کوئ
لکه څنګه چې تاسو د پردی وطن کس سره مدد کوئ، نو چې هغه
ستاسو سره نزدې پاتې شی. ۳٦ د هغوئ نه هیڅ سُود مهٔ اخلئ، د

خُدائ پاک نه ویرېږئ اؤ خپل بنی اِسرائیلے هم هغه شان ستاسو
سره نزدې اوسېدو ته پرېږدئ. ۳۷ تاسو چې کُومې پیسې هغوئ له په
قرض ورکړئ نو د هغې سُود ترې نه مهٔ اخلئ اؤ چې کُوم خوراک
وربائدې خرڅ کړئ د هغې ګټه ترې نه مهٔ اخلئ. ۳۸ دا د مالِک
خُدائ ستاسو د خُدائ پاک حُکم دے، چا چې تاسو د مِصر د
وطن نه راوویستلئ چې د کنعان زمکه تاسو له درکړی اؤ چې د
ستاسو خُدائ پاک وی.

## د غُلامانو آزادول

۳۹ کهٔ ستاسو سره یو نزدې اوسېدُونکے بنی اِسرائیلے دومره
غریب شی چې هغه خپل ځان په تاسو باندې د یو غُلام په توګه
خرڅ کړی، نو د هغهٔ نه به د یو غُلام کار نهٔ اخلئ. ۴۰ هغه
به ستاسو سره د یو مزدُور په شان وی اؤ د بل واپس ورکولو تر
کال پورې به ستاسو خِدمت کوی. ۴۱ په هغه وخت به هغه اؤ
د هغهٔ بچی ستاسو نه لاړ شی اؤ خپلې کورنۍ اؤ د خپل پلار
نیکهٔ جائیداد ته به راستُون شی. ۴۲ بنی اِسرائیل د مالِک خُدائ
غُلامان دی اؤ هغوئ یې د مِصر وطن نه راوویستل، هغوئ دې
د غُلامانو په توګه نهٔ خرڅېږی. ۴۳ د هغوئ سره ظلم مهٔ کوئ
اؤ د خُدائ پاک نه ویرېږئ. ۴۴ کهٔ تاسو ته د غُلامانو ضرُورت
وی، نو د خواؤشا قومُونو نه غُلامان اخستلے شئ. ۴۵ تاسو د هغه
مُسافرو اولاد هم اخستلے شئ کُوم چې ستاسو سره اوسېږی. کُوم
چې ستاسو په وطن کښې پیدا شوی وی نو هغه به ستاسو میراث

شی، ٤٦ اؤ هغوئ خپلو بچو ته د میراث په توګه پرېښودلے شئ،
تر څو چې هغوئ ژوندی وی نو ستاسو د بچو خِدمت به کوی.
خو چې تاسو د خپل بنی اِسرائیلی سره ظلم ونۀ کړئ. ٤٧ فرض
کړئ یو مُسافر چې ستاسو سره اوسېږی اؤ هغه مالدار شی، خو
ستاسو بنی اِسرائیلے غریب شی اؤ خپل ځان په هغه مُسافر یا د
هغۀ د کورنۍ په یو کس باندې خرڅ کړی. ٤٨ د هغۀ د خرڅېدو
نه پس، هغه بیا هم دا حق لری چې واپس واخستلے شی. د هغۀ
یو ورور ٤٩ یا د هغۀ ترۀ، د ترۀ زوئ یا د هغۀ بل یو نزدې خپلوان
هغه واپس اخستلے شی. یا کۀ هغه په خپله مالداره شی، نو هغه
خپله آزادی په خپله اخستلے شی. ٥٠ چا چې هغه اخستے وی د
هغۀ سره به خامخا مشوره کوی اؤ هغوئ به د خرڅېدو د وخت
نه واخله د واپس اخستلو نه وروستو کال پورې کالونه وشمېری
اؤ چې کُومې پیسې یو مزدُور ته ورکولے کېږی د هغه په بُنیاد به
د هغۀ د خلاصېدو قیمت مُقرر شی. ٥١-٥٢ د پاتی شوو کالونو
د شمېر په مُطابق به هغه خامخا د خرڅېدو د قیمت یوه حِصه
ورکوی، ٥٣ لکه چې هغه د کال په بُنیاد باندې مزدُور کړے
شوے وو. د هغۀ مالِک به د هغۀ سره ظلم نۀ کوی. ٥٤ کۀ هغه
په داسې څۀ طریقه آزاد نۀ کړے شی، نو هغه اؤ د هغۀ بچی
به په واپس ورکولو پسې کال باندې خامخا آزاد وی. ٥٥ یو بنی
اِسرائیلے به همېشه د پاره غُلام نۀ وی، ځکه چې بنی اِسرائیل د
مالِک خُدائ غُلامان دی. هغۀ هغوئ د مِصر وطن نه راوویستل،
هغه مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک دے.“

## د فرمانبردارۍ د پاره برکتُونه

**(د ګردان کِتاب ٧: ١٢-٢٤، ٢٨: ١-١٤)**

**٢٦** ١ مالِک خُدائ ووئيل، ”بُتان، مجسمې، د کاڼو ستنې،
يا داسې کاڼی مۀ جوړوئ چې عِبادت يې کېږی اۆ ورته
سجده وکړئ. زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم. ٢ زما د
سبت ورځ منئ اۆ د هغه ځائ درناوے کوئ چرته چې زما عِبادت
کېږی. زۀ مالِک خُدائ يم. ٣ کۀ تاسو زما د قانُون په مُطابق ژوند
تېروئ اۆ زما حُکمُونو ته غاړه کېږدئ، ٤ نو زۀ به په صحيح وخت
باران وروم، هغه زمکه به فصلُونه پېدا کړی اۆ ونې به مېوې ونيسی.
٥ ستاسو فصلُونه به دومره ډېر وی چې د انګُورو د راټولولو وخت
پورې به تاسو غوبل کوئ اۆ تر هغه پورې به انګُور راټولوئ چې د
غلې کَرلو وخت راورسېږی. د خوراک د پاره تاسو ته به هغه هر څۀ
ملاوېږی چې تاسو يې غواړئ اۆ په خپل وطن کښې به تاسو په آمن
ژوند کوئ. ٦ زۀ به تاسو له ستاسو په وطن کښې آرام درکړم اۆ تاسو
به بغېر د يرې نه خوب کوئ. زۀ به د هغه وطن خطرناک ځناور لرې
کړم اۆ هلته به نور جنګ نۀ وی. ٧ تاسو به په خپلو دُښمنانو بريالی
شئ اۆ تاسو به هغوئ په جنګ کښې ووژنئ، ٨ ستاسو پينځۀ کسان
به سلو له شکست ورکړی اۆ سل کسان به لسو زرو له شکست
ورکړی. ستاسو دُښمنان به په جګړه کښې شکست وخوری. ٩ زۀ
به په تاسو نظر وکړم اۆ ډېر اولاد به درکړم، زۀ به هغه تړون پُوره کړم
چې ما ستاسو سره کړے دے. ١٠ ستاسو سره به دومره ډېره غله وی

چې تاسو به هغه زَړه غله د دې د پاره وغورزوئ چې د نوی فصل
د پاره ځائ پېدا شی. ۱۱ زۀ به ستاسو په مېنځ کښې زما په مُقدسه
خېمه کښې اوسېږم اؤ زۀ به ستاسو نه کله هم نفرت ونۀ کړم. ۱۲ زۀ
به ستاسو مل یم، زۀ به ستاسو خُدائ پاک یم اؤ تاسو به زما خلق
یئ. ۱۳ زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم، چا چې د مِصریانو
د غُلامۍ نه آزاد کړئ اؤ د هغوئ وطن نه یې راوویستلئ. ما هغه
طاقت ختم کړو چې تاسو یې ټیټ کړی وئ اؤ د دې جوګه مې
کړئ چې په اُوچتو سترګو ګرځئ.“

## د سرکشۍ سزا

**(د ګردان کِتاب ۲۸: ۱۵-٦۸)**

۱٤ مالِک خُدائ ووئیل، ”کۀ تاسو زما حُکمونه ونۀ منل، نو
تاسو ته به سزا مِلاؤ شی. ۱۵ کۀ تاسو زما د حُکمُونو منلو نه
اِنکار وکړئ اؤ زما د حُکمُونو نه کرکه وکړئ اؤ زما تړون مات
کړئ، ۱٦ نو زۀ به تاسو له سزا درکړم. زۀ به په تاسو آفتُونه راولم
یعنې لا عِلاجه بیمارۍ اؤ تبې چې تاسو به ړاندۀ کړی اؤ ستاسو
ژوند به لنډ تنګ کړم. تاسو به تُخم وکَرئ، خو هیڅ ګټه به درنۀ
کړی، ځکه چې ستاسو دُښمنان به په تاسو غالِب شی اؤ چې
تاسو څۀ کَرلی وی نو هغوئ به یې وخوری. ۱۷ زۀ به ستاسو نه
مخ واړوم، نو تاسو به شکست وخورئ اؤ هغه خلق چې ستاسو
نه نفرت کوی هغوئ به په تاسو حکومت وکړی، تاسو به دومره
ویرېږئ چې څوک درپسې نۀ وی بیا به هم منډې وهئ. ۱۸ کۀ

د دې هر څۀ نه پس بيا هم ما ته غوږ ونۀ نيسئ، نو د ستاسو د
نافرمانئ په وجه زۀ به ستاسو سزا اووۀ چنده زياته کړم. ۱۹ زۀ به
ستاسو غرُور مات کړم، باران به نۀ وريږى اؤ ستاسو زمکه به وچه
شى اؤ د کاڼى په شان به سخته شى. ۲۰ ستاسو ټول محنت به
تاسو له هيڅ فائده درنۀ کړى، ځکه چې ستاسو زمکه به فصلُونه
نۀ کوى اؤ ستاسو ونې به مېوه نۀ نيسى. ۲۱ کۀ تاسو بيا هم زما
مُخالفت کوئ اؤ زما د منلو نه اِنکار کوئ، نو زۀ به ستاسو سزا
اووۀ چنده زياته کړم. ۲۲ زۀ به ستاسو مېنځ ته خطرناک ځناور
درولېږم اؤ دا به ستاسو ماشُومان ووژنى، ستاسو څاروى به تباه کړى
اؤ ستاسو شمېر به دومره کم کړم چې سړکُونه به مو خوشى پاتى
شى. ۲۳ کۀ د دې هر څۀ نه پس هم زما خبرې ته غوږ ونۀ نيسئ
اؤ بيا هم زما مُخالفت کوئ، ۲٤ نو زۀ به هم ستاسو خِلاف شم
اؤ زۀ به تاسو له د مخکښې نه اووۀ چنده زياته سزا درکړم. ۲۵ زۀ
به په تاسو يو جنګ راولم، زما د ټړون د ماتولو سزا به درکړم اؤ
کۀ تاسو په خپلو ښارُونو کښې د آمن د پاره راغونډ شئ، نو زۀ
به په تاسو لا عِلاجه بيمارئ راولېږم اؤ تاسو به زۀ ستاسو دُښمنانو
ته حواله کړم نو هغوئ به په تاسو حکومت وکړى. ۲٦ زۀ به په
تاسو خوراک بند کړم، نو د لسو کورَنو اوړۀ به يو ښانک کښې
يو ځائ تيارولے شى. هغوئ سره به خوراک ختم شى اؤ چې
کله تاسو هر څۀ وخورئ، نو بيا به هم وږى يئ. ۲۷ کۀ د دې
هر څۀ نه پس هم زما خبرې ته غوږ ونۀ نيسئ اؤ زما د منلو نه
اِنکار وکړى، ۲۸ نو زما قهر به ستاسو خِلاف شى اؤ بيا به زۀ

ستاسو سزا د مخکښې نه اووهٔ چنده زیاته کړم. ۲۹ ستاسو لوږه
به دومره زیاته شی چې خپل بچی به وخورئ. ۳۰ په غرُونو چې
ستاسو کُومې عِبادت‌خانې دی هغه به تباه کړم، ستاسو د خوشبویۍ
قُربان‌گاه به ختمه کړم اؤ ستاسو مړی به د ستاسو په بې‌ساه بُتانو
باندې وروغورزوم. زهٔ به ستاسو نه نفرت وکړم. ۳۱ زهٔ به ستاسو
د ښارُونو نه کنډرې جوړې کړم، ستاسو د عِبادت ځایُونه به تباه
کړم اؤ ستاسو قُربانی به قبُولې نهٔ کړم. ۳۲ زهٔ به ستاسو وطن داسې
تباه کړم چې کُوم دُښمنان دا وطن ونیسی نو هغوئ به په دې
تباهۍ باندې غمژن شی. ۳۳ زهٔ به په تاسو جنګ راولم اؤ په پردو
وطنُونو کښې به مو خوارهٔ وارهٔ کړم. ستاسو وطن به خوشې پاتې
شی اؤ ستاسو ښارونه به وران وېجاړ شی. ۳۴-۳۵ نو زمکه به د
پُوره آرام د کالونو نه ښهٔ خوند واخلی چې تاسو یې ورته پرېږدئ،
دا به خوشی پرته وی اؤ آرام به وکړی اؤ تاسو به د خپلو دُښمنانو
په وطن کښې اوسېږئ. ۳٦ د ستاسو کُوم کسان چې په پردی
وطن کښې وی هغوئ به دومره ویروم چې د هوا په وجه د پاڼې
د معمُولی کش نه به هم تښتی. تاسو به داسې منډې وهئ لکه
څوک چې په جنګ کښې په تاسو پسې وی اؤ ستاسو سره به
نزدې هیڅ دُښمن نهٔ وی خو تاسو به بیا هم غورزېږئ. ۳۷ کله چې
هیڅ څوک هم په تاسو پسې نهٔ وی نو تاسو به په یو بل باندې
غورزېږئ اؤ تاسو به د دې جوګه نهٔ یئ چې د دُښمن په مخکښې
ودرېږئ. ۳۸ ستاسو د دُښمنانو وطن به تاسو ژوندی تېر کړی، تاسو
به پردی وطن کښې مړهٔ شئ. ۳۹ ستاسو کُوم کسان چې ستاسو

د دُښمنانو په وطن کښې ژوندى پاتې وى هغوئ به خراب‌تُراب
شى، ستاسو خپلې گُناه اؤ ستاسو د پلارنيکۀ د گُناه په وجه به
داسې وشى. د راتلُونکى وخت د پاره اُميد ۴۰ خو ستاسو اولاد
به د خپلو گُناهونو اؤ د هغوئ د پلارنيکۀ د گُناهونو اِقرار وکړى،
چې هغوئ زما سره بې وفائى کړې ده اؤ زما خِلاف يې سرکشى
کړې ده، ۴۱ اؤ زۀ يې د خپل ځان خِلاف کړم اؤ چې هغوئ د
دُښمنانو وطن ته ولېږم. کۀ بيا ستاسو د اولاد سخت زړُونه نرم
شى اؤ د خپلې گُناه اؤ سرکشئ سزا ورته مِلاؤ شى، ۴۲ نو زۀ به
د يعقُوب، اِسحاق اؤ اِبراهيم سره خپل کړے تړون راياد کړم اؤ
زۀ به خپل هغه تړون بيا تازه کړم چې خپلو خلقو له هغه وطن
ورکړم. ۴۳ اول خو به هغه وطن خامخا د هغې د خلقو نه خالى
کېږى، چې دا د پُوره آرام نه ښۀ خوند واخلى اؤ هغوئ ته به زما
د قانُون اؤ حُکمُونو نۀ منلو په وجه پُوره سزا مِلاؤ شى. ۴۴ خو بيا
هم، چې هغوئ لا د خپلو دُښمنانو په وطن کښې وى، نو زۀ به
يې نۀ رد کوم، نۀ به ترې نفرت کوم اؤ نۀ به يې بېخى تباه کوم.
هسې نه چې د هغوئ سره زما تړون مات شى، زۀ مالِک خُدائ
د هغوئ خُدائ پاک يم. ۴۵ زۀ به هغه تړون بيا تازه کړم چې ما
د هغوئ د پلارنيکۀ سره کړے وو کله چې ما ټولو قومُونو ته خپل
طاقت وښودلو چې خپل خلق مې د مِصر وطن نه راوويستل، چې
زۀ مالِک خُدائ، د هغوئ خُدائ پاک اوسم.“ ۴۶ دا ټول هغه
قانُون اؤ حُکمونه دى چې مالِک خُدائ مُوسىٰ له د سينا په غرۀ
باندې د اِسرائيليانو د پاره ورکړل.

## د مالِک خُدائ د تُحفو په باره کښې قانُون

٢٧ ١ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل چې، ٢ ”بنی
اِسرائيلو ته دا اصُول وښايه. کله چې د يو خاص منختې
په پُوره کېدو کښې يو کس مالِک خُدائ ته وقف کېږى، نو هغه به
د دې قيمت په ورکولو سره آزاد کړے شى، ٣-٧ کُوم چې د منلے
شوى معيار په مُطابق وى: بالِغ نارينه چې عُمر يې د شلو کالو نه تر
شپېتو کالو پورې وى: پنځوس د سپينو زرو سيکې. بالِغه ښځه: دېرش
د سپينو زرو سيکې. نارينه ځوان، چې عُمر يې د پينځو نه واخله شلو
کالو پورې وى: شل د سپينو زرو سيکې. ځوانه ښځه: لس د سپينو
زرو سيکې. ماشُوم چې عُمر يې د پينځو کالو نه کم وى: پينځهٔ د
سپينو زرو سيکې. ماشُومه: درې د سپينو زرو سيکې. هغه نارينه چې
عُمر يې د شپېتو کالو نه زيات وى: پينځلس د سپينو زرو سيکې.
هغه ښځه چې عُمر يې د شپېتو کالو نه زيات وى: لس د سپينو زرو
سيکې. ٨ کهٔ يو کس منخته منلې وى اؤ ډېر غريب وى چې هغه
معيارى قيمت نهٔ شى ورکولے، نو هغه کس دې اِمام ته راولى اؤ اِمام
به کم قيمت مُقرر کړى، چې د هغه کس د وس مُطابق وى. ٩ کهٔ
هغه منخته يو ځناور وى چې مالِک خُدائ ته د يوې نذرانې په توګه
د قبلېدو قابِل وى، نو داسې تُحفه چې مالِک خُدائ ته پېش کېږى
هغه مُقدسه ده، ١٠ اؤ کهٔ يو کس منخته ومنى نو هغه ځناور په بل
ځناور نهٔ شى بدلېدلے. کهٔ چرې هغه بدل کړى، نو داوړه ځناور
به د مالِک خُدائ وى. ١١ خو کهٔ هغه ځناور حرام وى، کُوم چې

مالِک خُدائ ته د نذرانې په توګه د قبلېدو قابِل نۀ وی، نو هغه کس
به هغه ځناور اِمام ته بوځی. ١٢ اِمام به د دې ښۀوالی اؤ بدوالی په
مُطابق قیمت مُقرر کړی اؤ دا به آخری قیمت وی. ١٣ کۀ هغه کس
دا واپس اخستل غواړی، نو هغه به د دې قیمت سره شل فی‌صده
زیات ورکړی. ١٤ کله چې یو کس خپل کور مالِک خُدائ ته وقف
کوی، نو اِمام به د دې د ښۀوالی یا بدوالی په مُطابق د دې قیمت
مُقرر کړی اؤ دا به آخری قیمت وی. ١٥ کۀ هغه کس چا چې دا
کور وقف کړے وی اؤ دا واپس اخستل غواړی، نو هغه به خامخا
د دې قیمت سره شل فی‌صده زیات ورکړی. ١٦ کۀ څوک د خپلې
زمکې څۀ حِصه مالِک خُدائ ته وقف کوی، نو د دې قیمت به د
هغه تُخم په مُطابق مُقررولے شی چې څومره په کښې کَرل په کار
وی، دا قیمت به د سپینو زرو لس سیکې د شلو کیلو اوربشو د پاره
وی. ١٧ کۀ هغه کس دا زمکه د واپس اخستلو کال باندې وقف
کړی، نو د دې زمکې قیمت به پُوره ورکولے شی. ١٨ خو کۀ چرې
هغه کس خپله زمکه د دې نه وروستو وقف کړی، اِمام به د هغې
بیعه د هغو کلونو د شمېر په مطابق حساب کړی چې د واپس اخستلو
تر راتلُونکی کال پورې پاتې وی او د کالونو د کمی په وجه به کمه
بیعه مقرر کړی. ١٩ چا چې دا زمکه وقف کړې وی کۀ هغه کس
دا واپس اخستل وغواړی، نو هغه به خامخا د دې قیمت سره شل
فی‌صده زیات ورکوی. ٢٠ کۀ هغه کس دا زمکه د مالِک خُدائ نه
واپس اخستلو نه مخکښې په بل چا باندې خرڅه کړی، نو د هغۀ
حق نۀ جوړېږی چې دا واپس واخلی. ٢١ د واپس اخستلو پسې کال

به هغه پټې د همېشه د پاره د مالِک خُدائ شی، دا به د اِمامانو وی.
۲۲ کهٔ څوک مالِک خُدائ ته یو پټے وقف کوی چې هغهٔ اخستے
وی، ۲۳ اِمام به د واپس اخستلو پسې کال پورې د کالونو د شمېر
په مُطابق د دې د قیمت اندازه ولګوی اؤ هغه کس به خامخا هم
په هغه ورځ د دې قیمت ورکړی، دا پیسې به د مالِک خُدائ شی.
۲٤ د واپس اخستلو په کال به دا پټې واپس د دې اصلی مالِک یا
د هغهٔ اولاد ته ملاوېږی. ۲۵ ټول قیمتُونه به د منلے شوی معیار په
مُطابق مُقررولے شی. ۲٦ په څناور کښې د ټولو نه وړومبی پیدا شوی
بچی د مالِک خُدائ وی، نو هیڅ څوک دا هغهٔ ته د یوې رضاکارانه
نذرانې په توګه نهٔ شی پېش کولے. یو څخړے، ګډُورے یا یو د چېلی
بچے دا د مالِک خُدائ وی، ۲۷ خو وړومبے پیدا شوے یو حرام
څناور د معیاری قیمت سره شل فی‌صده زیات ورکولو باندې واپس
اخستلے شی. کهٔ دا واپس وانهٔ خستلے شی، نو دا دې په چا باندې
په معیاری قیمت خرڅ کړے شی. ۲۸ کُوم څیز چې مالِک خُدائ ته
بغیر د څهٔ شرط نه وقف شوے وی، نو هیڅ څوک به دا نهٔ خرڅولے
شی اؤ نهٔ به یې واپس اخستلے شی، کهٔ هغه بنیادم، څناور، یا زمکه
وی، دا به د همېشه د پاره د مالِک خُدائ وی. ۲۹ کهٔ په چا باندې
د مرګ فېصله شوې وی نو هغه به خامخا وژلے شی اؤ واپس به نهٔ
شی اخستلے. ۳۰ د زمکې د ټول پیداوار لسمه حِصه د مالِک خُدائ
ده، کهٔ هغه غله وی یا مېوه وی. ۳۱ کهٔ یو کس دا واپس اخستل
غواړی، نو هغه به خامخا د منلے شوی قیمت سره شل فی‌صده
زیات ورکوی. ۳۲ هر یو لسم څاروے د مالِک خُدائ دے. کله چې

ځناور شمېرلے شی، نو هر یو لسم به د مالِک خُدائ وی. ۳۳ مالِک
دې ځناورو له داسې ترتیب نۀ ورکوی چې خراب ځناور ترې خوښ
کړے شی اؤ بدلولے را بدلولے یې هم نۀ شی. کۀ هغۀ یو ځناور په
بل ځناور بدل کړو، نو بیا به دواړه د مالِک خُدائ وی اؤ واپس به
نۀ شی اخستلے.“ ۳٤ دا هغه حُکمونه دی چې مالِک خُدائ مُوسیٰ
له د سینا په غرۀ باندې د بنی اِسرائیلو د پاره ورکړل.

# د شمېر کِتاب

## د بنی اِسرائیلو اوله مردم‌شماری

۱ ① د دویم کال د دویمې میاشتې په وړومبۍ ورځ د بنی
اِسرائیلو د مِصر وطن پرېښودُو نه پس، د سینا په بیابان کښې
مالِک خُدائ د خپل حضُور په مُقدسه خېمه کښې مُوسیٰ ته ووئیل،
② ”تهٔ اؤ هارُون د ټولو بنی اِسرائیلو د قبیلو اؤ کورَنو مردم‌شماری
وکړئ. د هغه ټولو سړو نومُونه ولیکئ ③ چې عُمر یې شل کاله یا د
دې نه زیات وی اؤ چې جنګ کولے شی. ④ د هرې قبیلې نه یو یو
مشر راوغواړه چې ستا مدد وکړی.“ ⑤-⑯ دا هغه سړی دی چې
د خپلو قبیلو مشران دی، کُوم چې ستاسو د ملګرتیا د پاره د قوم نه
خوښ کړے شوی دی: د روبین د قبیلې نه الیصور د شدِیُور زوئ، د
شمعُون د قبیلې نه سلومی‌ایل د صوری‌شدی زوئ، د یهُوداه د قبیلې
نه نحشون د عمیناداب زوئ، د یساکار د قبیلې نه نتنی‌ایل د ضُعر

زوئ، د زبولون د قبيلې نه اِلياب د حيلون زوئ، د اِفرائيم د قبيلې نه
اليسمع د عميهود زوئ، د منشه د قبيلې نه ګملی‌اېل د فداهصور زوئ،
د بنيامين د قبيلې نه اِبِدان د جدعونی زوئ، د دان د قبيلې نه اخيعزر
د عمی‌شدی زوئ، د آشر د قبيلې نه فجعی‌اېل د عکران زوئ، د جاد
د قبيلې نه اِلياساف د دعواېل زوئ، د نفتالی قبيلې نه اخيرع د عينان
زوئ. ١٧ د دې دولسو سړو د مدد سره مُوسیٰ اؤ هارُون، ١٨ د دويمې
مياشتې په اوله ورځ د بنی اِسرائيلو ټول قوم راغونډ کړو اؤ د ټولو خلقو
نومُونه يې د قبيلو اؤ کورَنو په مُطابق وليکل. د هغه ټولو سړو نومُونه
وليکلے شول اؤ وشمېرلے شول چې عُمر يې شل کاله يا د دې نه زيات
وُو، ١٩ هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو. د سينا
په بيابان کښې، مُوسیٰ خلق وشمېرل. ٢٠-٤٦ هغه ټول سړی چې عُمر
يې شل کاله يا د شلو کالو نه زيات وو اؤ چې جنګ يې کولے شو نو د
هغوئ نومُونه د قبيلو اؤ کورَنو په مُطابق وليکلے شول، شروع د روبين
د قبيلې نه وشوه، چې د يعقُوب مشر زوئ وو. ټول شمېر دا دے: د
روبين اولاد شپږ څلوېښت زره اؤ پينځهٔ سوه کسان وُو، د شمعُون اولاد
يو کم شپېتهٔ زره اؤ درې سوه کسان وُو، د جاد اولاد پينځهٔ څلوېښت
زره شپږ سوه اؤ پنځوس کسان وُو، د يهُوداه اولاد څلور اؤيا زره اؤ شپږ
سوه کسان وُو، د يساکار اولاد څلور پنځوس زره اؤ څلور سوه کسان
وُو، د زبولون اولاد اووهٔ پنځوس زره اؤ څلور سوه کسان وُو، د اِفرائيم
اولاد څلوېښت زره اؤ پينځهٔ سوه کسان وُو، د منشه اولاد دوه دېرش
زره اؤ دوه سوه کسان وُو، د بنيامين اولاد پينځهٔ دېرش زره اؤ څلور
سوه کسان وُو، د دان اولاد دوه شپېتهٔ زره اؤ اووهٔ سوه کسان وُو، د

آشر اولاد يو څلوېښت زره اؤ پينځۀ سوه کسان وُو، د نفتالى اولاد
درې پنځوس زره اؤ څلور سوه کسان وُو. دا ټول په شمېر کښې شپږ
لاکهه درې زره اؤ پينځۀ سوه پنځوس کسان وُو. ۴۷ د ليويانو نومُونه د
نورو قبيلو سره نۀ وُو ليکلے شوى، ۴۸ ځکه چې مالِک خُدائ مُوسىٰ
ته وئيلې وُو چې، ۴۹ "کله چې تۀ د هغه سړو مردُم شمارى کوې چې
جنګ کولے شى، نو د ليوى قبيله په کښې مۀ شامِلوه. ۵۰ خو ليويان
زما د حضُور مُقدسې خېمې اؤ د دې د ټول سامان مشران مُقرر کړه.
هغوئ به خېمه اؤ د دې سامان وړى، خِدمت به کوى اؤ د دې نه
ګېرچاپېره به خېمې لګوى. ۵۱ هر کله چې تاسو خېمې بل ځائ ته
وړئ نو ليويان به مُقدسه خېمه راټولوى اؤ په هر يو نوى ځائ کښې
به يې لګوى. بل هر څوک چې مُقدسې خېمې ته ورنزدې شى نو وبه
وژلے شى. ۵۲ اؤ نور بنى اِسرائيل به ډله په ډله خېمې ودروى، هر يو
سړے به د خپلې ډلې سره وى اؤ د خپلې جنډې لاندې به وى. ۵۳ خو
ليويان به د مُقدسې خېمې د حِفاظت د پاره د دې نه ګېرچاپېره خېمې
ولګوى، چې څوک نزدې رانۀ شى، هسې نه چې د بنى اِسرائيلو قوم
ته زۀ په قهر شم." ۵۴ نو بنى اِسرائيلو هم هغه شان وکړل څنګه چې
مالِک خُدائ مُوسىٰ ته حُکم کړے وو.

## د خېمو د پاره قبيلو ته خپل خپل ځائيُونه ښودل کېدل

۲
۱ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ اؤ هارُون ته دا اصُول وښودل:
۲ کله چې بنى اِسرائيل کېمپ جوړوى، نو هر سړے به
د خپل لښکر د جنډې لاندې خېمه ودروى. خېمې به د مُقدسې

خېمې نه ګېرچاپېره لګولے شى. ۳-۹ نَمرخاتۀ طرف ته، چې
څوک د يهُوداه د لښکر د جنډې لاندې وى نو هغوئ به په خپلو
ډلو کښې خېمې ودروى، د هغوئ د قبيلو د مشرانو نومُونه دا دى:
د يهُوداه قبيلې مشر نحشون زوئ د عميناداب، د ډلې شمېر څلور
اوۀيا زره اؤ شپږ سوه کسان دى، د يساکار قبيلې مشر نتنى‌اېل زوئ
د ضُعر، د ډلې شمېر څلور پنځوس زره اؤ څلور سوه کسان دى، د
زبولون قبيلې مشر اِلياب زوئ د حيلون، د ډلې شمېر اووۀ پنځوس
زره اؤ څلور سوه کسان دى. دا ټول په شمېر کښې يو لاکھ شپږ
اتيا زره اؤ څلور سوه کسان دى. د يهُوداه لښکر به مخکښې روان
وى. ۱۰-۱۶ جنُوب طرف ته، څوک چې د روبين د لښکر د جنډې
لاندې وى نو هغوئ به په خپلو ډلو کښې خېمې ودروى، د هغوئ
د قبيلو د مشرانو نومُونه دا دى: د روبين قبيلې مشر اليصور زوئ د
شدِيُور، د ډلې شمېر شپږ څلوېښت زره اؤ پينځۀ سوه کسان دى، د
شمعُون قبيلې مشر سلومى‌اېل زوئ د صورى‌شدى، د ډلې شمېر يو
کم شپېتۀ زره اؤ درې سوه کسان دى، د جاد قبيلې مشر اِلياساف
زوئ د دعواېل، د ډلې شمېر پينځۀ څلوېښت زره شپږ سوه پنځوس
کسان دى. دا ټول په شمېر کښې يو لاکھ يو پنځوس زره څلور سوه
پنځوس کسان دى. دويم به د روبين لښکر روان وى. ۱۷ بيا دې د
اولنو دوه لښکرو اؤ د وروستنو دوه لښکرو په مېنځ کښې ليويان روان
شى چې مُقدسه خېمه يوسى. هر يو لښکر به هم په هغه ترتيب روان
وى چې څنګه خېمې ودروى، هر يو به په خپل خپل ځائ د خپلې
جنډې لاندې وى. ۱۸-۲۴ نمرپرېواتۀ طرف ته، څوک چې د اِفرائيم

د لښکر د جنډې لاندې وی نو هغوئ به په خپلو ډلو کښې خېمې
ودروی، د هغوئ د قبيلو د مشرانو نومُونه دا دی: د اِفرائيم قبيلې مشر
اليسمع زوئ د عميهود، د ډلې شمېر څلوېښت زره اَؤ پينځۀ سوه کسان
دی، د منشه قبيلې مشر گملی‌ايل زوئ د فداهصور، د ډلې شمېر دوه
دېرش زره اَؤ دوه سوه کسان دی، د بنيامين قبيلې مشر اِبدان زوئ د
جدعونی، د ډلې شمېر پينځۀ دېرش زره اَؤ څلور سوه کسان دی. دا
ټول په شمېر کښې يو لاکھ اتۀ زره اَؤ سل کسان دی. دريم به د اِفرائيم
لښکر روان وی. ۲۵ - ۳۱ شمال طرف ته، څوک چې د دان د لښکر د
جنډې لاندې وی نو هغوئ به په خپلو قبيلو کښې خېمې ودروی، د
هغوئ د قبيلو د مشرانو نومُونه دا دی: د دان قبيلې مشر اخيعزر زوئ
د عمی‌شدی، د ډلې شمېر دوه شپېتۀ زره اَؤ اووۀ سوه کسان دی، د
آشر قبيلې مشر فجعی‌ايل زوئ د عکران، د ډلې شمېر يو څلوېښت زره
اَؤ پينځۀ سوه کسان دی، د نفتالی قبيلې مشر اخيرع زوئ د عينان، د
ډلې شمېر درې پنځوس زره اَؤ څلور سوه کسان دی. دا ټول په شمېر
کښې يو لاکھ اووۀ پنځوس زره اَؤ شپږ سوه کسان دی په آخِر کښې
به د دان لښکر روان وی. ۳۲ د بنی اِسرائيلو د ټولو لښکرو شمېر شپږ
لاکھ درې زره پينځۀ سوه اَؤ پنځوس کسان وُو چې ډله په ډله د هغوئ
نومُونه وليکلے شول. ۳۳ هم هغه شان چې څنگه مالِک خُدائ مُوسىٰ
ته حُکم کړے وو، ليويان د نورو بنی اِسرائيلو سره يو ځائ ونۀ شمېرلے
شول. ۳۴ نو بنی اِسرائيلو هم هغه شان وکړل چې څنگه مالِک خُدائ
مُوسىٰ ته حُکم کړے وو. هغوئ هر يو د خپلې جنډې لاندې خېمې
ودرولې اَؤ هر يو د خپلې قبيلې سره روان وو.

## د حضرت هارُون زامن

۳ ① دا د هارُون اؤ د مُوسیٰ د کورنۍ د هغه وخت خبره ده
کله چې مالِک خُدائ د سينا په غرۀ باندې د مُوسیٰ سره
خبرې وکړې-. ② د هارُون څلور زامن وُو: ندب چې د ټولو مشر
وو، ابيهُو، اِلعازر اؤ اِتمر. ③ د هغوئ سرونه غوړ کړے شول اؤ د
اِمامانو په توګه مُقرر کړے شول، ④ خو ندب اؤ ابيهُو هغه وخت
ووژلے شول چې کله هغوئ د سينا په بيابان کښې مالِک خُدائ ته
هغه اور پېش کولو چې د هغې اِجازت نۀ وو. د هغوئ هيڅ اولاد نۀ
وو، نو اِلعازر اؤ اِتمر د خپل پلار هارُون په ژوندُون کښې د اِمامانو
په توګه خِدمت کولو.

## د ليويانو ذِمه وارى

⑤ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ⑥ ”د ليويانو قبيله نزدې راوله
اؤ هغوئ د هارُون اِمام د پاره خِدمتګاران مُقرر کړه. ⑦ هغوئ به
زما د حضُور په مُقدسه خېمه کار کوى اؤ د اِمامانو اؤ د ټول قوم د
پاره به ذِمه وارى پُوره کوى. ⑧ هغوئ به د مُقدسې خېمې د ټول
سامان خيال ساتى اؤ د نورو بنى اِسرائيلو د پاره به ذِمه وارى پُوره
کوى. ⑨ ليويان د هارُون اؤ د هغۀ د زامنو د خِدمت د پاره وقف
شوى دى. ⑩ تۀ به هارُون اؤ د هغۀ زامن مُقرر کړې چې د اِمامانو
په توګه ذِمه وارى پُوره کړى، بل هر څوک چې مُقدسې خېمې ته
د ورنزدې کېدلو کوشش وکړى نو هغه به ووژلے شى.“ ⑪ نو مالِک

خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ۱۲-۱۳ ”لیویان دې اوس زما شی. کله چې
ما د مِصریانو وړومبی پېدا شوی نران ووژل، نو د اِسرائیلیانو د هرې
کورنئ مشر زوئ اؤ وړومبے پېدا شوے څناور وقف کړے شول چې
زما شی. خو د بنی اِسرائیلو د مشرانو زامنو په ځائ لیویان به زما
شی. زۀ مالِک خُدائ یم.“

## د لیویانو مردُم شماری

۱٤ مالِک خُدائ د سینا په بیابان کښې مُوسیٰ ته حُکم وکړو
۱٥ چې د لیویانو د قبیلو اؤ کورَنو نومُونه ولیکی، هغه هر یو نر دې
وشمېری چې عُمر یې د یوې میاشتې یا د دې نه زیات وی، ۱٦ اؤ
مُوسیٰ د مالِک خُدائ د حُکم په مُطابق د هغوئ نومُونه ولیکل.
۱۷-۲۰ د لیوی درې زامن وُو: جیرسون، قُهات اؤ مراری، هغوئ د
هغه قبیلو پلارنیکۀ وُو کومې قبیلې چې د هغوئ په نومُونو یادېږی.
د جیرسون دوه زامن وُو: لِبنی اؤ سِمعی، د قُهات څلور زامن وُو:
عُمرام، اِضهار، حبرون، عُزئیل، اؤ د مراری دوه زامن وُو: محلی
اؤ موشی. هغوئ د هغو قبیلو پلارنیکۀ وُو چې د هغوئ په نومُونو
یادېږی. ۲۱ لِبنی اؤ سِمعی دواړه د جیرسون قبیلې وې. ۲۲ هغه ټول
نران په شمېر کښې اووۀ زره اؤ پینځۀ سوه کسان وُو چې عُمر یې
یوه میاشت یا د دې نه زیات وو. ۲۳ جیرسونیانو نمرپرېواتۀ طرف ته
د مُقدسې خېمې نه وروستو خېمې ودرولې، ۲٤ سره د اِلیاساف چې
د لاایل زوئ اؤ د قبیلې مشر وو. ۲٥ هغوئ د مُقدسې خېمې دننئ
پردې، پاسنئ پردې، د ننوتلو دروازې د پردې د خیال ساتلو ذِمه وار

وُو، ۲۶ د هغه پړدو چې د خېمې د دربار اؤ د قُربان‌ګاه نه ګېرچاپېره وې اؤ دربار ته د ننوتلو د دروازې پړدې. هغوئ د هغه ټول خِدمت ذِمه وار وُو چې د دې څيزُونو سره يې تعلُق لرلو. ۲۷ عُمرام، اِضهار، حبرون اؤ عُزئيل څلور واړه کورنۍ د قُهات د قبيلې نه وې. ۲۸ د هغه ټولو نرانو شمېر اتۀ زره اؤ شپږ سوه کسان وو چې د هغوئ عُمر يوه مياشت يا د دې نه زيات وو. ۲۹ قُهاتيانو د مُقدسې خېمې جنُوبى طرف ته خېمې ودرولې، ۳۰ د اِلياساف سره چې د عُزئيل زوئ اؤ د قبيلې مشر وو. ۳۱ د هغوئ ذِمه وارى د دې څيزُونو خيال ساتل وُو: د تړون صندُوق، مېز، ډيوټ، قُربان‌ګاه، د هغه لوښو چې اِمامان يې په مُقدس ځائ کښې استعمالوى اؤ زيات مُقدس ځائ ته د ننوتلو پړده. هغوئ د هغه ټول خِدمت ذِمه وار وُو چې د دې څيزُونو سره يې تعلُق لرلو. ۳۲ د ليويانو مشر د هارُون اِمام زوئ اِلعازر وو. د هغۀ مشرى په هغه کسانو باندې وه چې کُومو په مُقدس ځائ کښې کار کولو. ۳۳ د محلى اؤ موشى دواړه کورنۍ د مرارى د قبيلې نه وې. ۳۴ د هغه ټولو نرانو شمېر شپږ زره اؤ دوه سوه کسان وو چې د هغوئ عُمر يوه مياشت يا د دې نه زيات وو. ۳۵ مراريانو د مُقدسې خېمې شمالى طرف ته خېمې ودرولې، د صورى‌اېل سره چې د ابى‌خېل زوئ اؤ د قبيلې مشر وو. ۳۶ هغوئ د مُقدسې خېمې د چوکاټُونو، دُرشلو، ستنو، خپو اؤ د دې په نورو ټولو څيزُونو ذِمه وار مُقرر شول. هغوئ د هغه ټول خِدمت ذِمه وار وُو چې د دې څيزُونو سره يې تعلُق لرلو. ۳۷ هغوئ د ستنو، خپو، موږو اؤ د دربار د بهرنۍ رسو د خيال ساتلو ذِمه وار وُو. ۳۸ مُوسىٰ، هارُون اؤ د هغۀ زامنو نَمرخاتۀ

طرف ته د مُقدسې خېمې په مخکښې خېمې ودرولې. هغوئ د هغه
خِدمت ذِمه وار وُو چې د بنی اِسرائیلو د پاره په مُقدس ځائ کښې
کېدلو. بل هر چا چې د دې د کولو کوشش کړے وے نو هغه به
وژلے شو. ۳۹ د مالِک خُدائ په حُکم باندې چې مُوسیٰ اؤ هارُون
د لیویانو کُوم شمېر وکړو هغه ټول نران دوه ویشت زره وُو چې د
هغوئ عُمر یوه میاشت یا د دې نه زیات وو.

## د لیویانو د مشرانو زامنو په ځائ مُقرر کېدل

۴۰ - ۴۱ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”د اِسرائیلیانو ټول مشران
زامن زما دی. نو د بنی اِسرائیلو د هر مشر زوئ نُوم ولیکه، چې عُمر
یې یوه میاشت یا د دې نه زیات وی. خو د هغوئ په ځائ زهٔ دا د
دعوې سره وایم چې ټول لیویان زما دی! زهٔ مالِک خُدائ یم. زهٔ دا
هم وایم چې د ټولو وړومبو پېدا شوو څاروو په ځائ د لیویانو څاروی
زما دی.“ ۴۲ مُوسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ
حُکم کړے وو اؤ د بنی اِسرائیلو ټول مشران زامن یې وشمېرل ۴۳ چې
د هغوئ عُمر یوه میاشت یا د دې نه زیات وو، هغوئ ټول په شمېر
کښې دوه ویشت زره دوه سوه اؤ درې اؤیا کسان وُو. ۴۴ بیا مالِک
خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ۴۵ ”اوس د بنی اِسرائیلو د ټولو مشرانو زامنو
په ځائ لیویان وقف کړه چې زما شی اؤ د بنی اِسرائیلو د وړومبو پېدا
شوو څاروو په ځائ د لیویانو څاروی وقف کړه. زهٔ مالِک خُدائ یم.
۴۶ خو د بنی اِسرائیلو مشران زامن د لیویانو نه دوه سوه اؤ درې اؤیا
کسان زیات دی، نو تهٔ به هغه زیات زامن واپس اخلې. ۴۷ د هر یو

د پاره د منلے شوی معیار په مُطابق پينځۀ د سپينو زرو سيکې ورکړه،
۴۸ اؤ دا پيسې هارُون اؤ د هغۀ زامنو ته ورکړه.“ ۴۹-۵۰ مُوسیٰ هم
هغه شان وکړل اؤ د سپينو زرو سيکې يې واخستلې چې يو زر درې
سوه اؤ پينځۀ شپېته وې ۵۱ اؤ د مالِک خُدائ د فرمان په مُطابق يې
هغه هارُون اؤ د هغۀ زامنو له ورکړې.

## د قُهات د قبيلې د ليويانو ذِمه وارئ

۴

۱ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل چې، ۲ ”د ليويانو
مردم‌شماری وکړه چې هغوئ قُهاتيان دی. هغوئ دې قبيله
په قبيله اؤ کورنئ په کورنئ وشمېرلے شی، ۳ اؤ د هغه ټولو سړو
نومُونه دې وليکلے شی چې د هغوئ عُمر د دېرشو کالو نه تر پنځوسو
کالو پورې وی اؤ چې د مالِک خُدائ د حضُور په مُقدسه خېمه
کښې کار کولے شی. ۴ د هغوئ خِدمت به د ډېرو مُقدسو څيزُونو
خيال ساتل وی.“ ۵ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته دا اصُول وښودل: ”کله
چې د کيمپ د وړلو وخت شی، نو هارُون اؤ د هغۀ زامن به مُقدسې
خېمې ته ننوځی، د تړون صندُوق په مخکښې پړده به راکُوزه کړی اؤ
د تړون صندُوق به ورباندې پټ کړی. ۶ هغوئ به په دې باندې د
څرمنې يوه ښۀ ټوټه واچوی، د آسمانی رنګ کپړه به د پاسه ورباندې
خوره کړی اؤ د وړلو د پاره به بازوګان وردننه کړی. ۷ هغوئ به په
مېز باندې د آسمانی رنګ کپړه خوره کړی چې په کُوم مېز باندې
د مالِک خُدائ ډوډئ وی اؤ په دې به لوښی، د خوشبوئ جامُونه،
د نذرانو جامُونه اؤ د ښبلو نذرانو د پاره منګی کېږدی. په مېز به

همېشه ډوډۍ پرته وی. ^٨^ هغوئ به په دې هر څۀ باندې يوه سره
کپړه خوره کړی، د څرمنې يوه ښه ټوټه دې ورباندې واچوی اؤ د
وړلو د پاره به بازوګان وردننه کړی. ^٩^ هغوئ به د آسمانی رنګ يوه
کپړه واخلی اؤ ډيوټ، ډيوې، سرپوښونه، مجمعې اؤ د زيتُونو تېلو ټول
لوښی به ورباندې پټ کړی. ^١٠^ هغوئ به دا اؤ د دې ټول څيزُونه د
څرمنې په يوه ښۀ ټوټه کښې تاؤ کړی اؤ په وړُونکی چوکاټ باندې
به يې کېږدی چې په کُوم باندې وړلے شی. ^١١^ بيا به هغوئ د سرو
زرو په قُربانګاه باندې د آسمانی رنګ کپړه خوره کړی، د څرمنې
يوه ښه ټوټه به ورباندې واچوی اؤ د وړلو د پاره بازوګان به وردننه
کړی. ^١٢^ هغوئ به په مُقدس ځائ کښې هغه ټول لوښی واخلی چې
په خِدمت کښې اِستعمالېږی، د آسمانی رنګ په يوه کپړه کښې به
يې تاؤ کړی، د څرمنې يوه ښۀ ټوټه به ورباندې واچوی اؤ په وړُونکی
چوکاټ باندې به يې کېږدی. ^١٣^ هغوئ به د قُربانګاه نه ايره لرې
کړې اؤ په قُربانګاه به د بانجانی رنګ کپړه خوره کړی. ^١٤^ هغوئ
به په دې باندې هغه ټول سامان کېږدی چې د قُربانګاه په خِدمت
کښې اِستعمالېږی. لکه د اور لوښی، د غوښې د پاره درې غاښې،
بېلچې اؤ ښانکُونه. بيا به هغوئ په دې باندې د څرمنې يوه ښۀ ټوټه
واچوی، د وړلو د پاره به بازوګان وردننه کړی. ^١٥^ کله چې د خېمو
د وړلو وخت راشی اؤ هارُون اؤ د هغۀ زامن دا اؤ د دې ټول سامان
راونغاړی نو قُهاتيان به د مُقدس سامان وړلو د پاره راشی. قُهاتيان به
مُقدس سامان له ګوتې نۀ وروړی، ګنی مړۀ به شی. دا هغه څيزُونه
دی چې د هغې د وړلو ذِمه واری د قُهاتيانو ده، په کُوم وخت کښې

چې مالِک خُدائ د حضُور خېمه وړلے شی. ۱۶ د هارُون اِمام زوئ اِلعازر به د ټولې مُقدسې خېمې اؤ د ډيوو د پاره د تېلو، د خوشبويۍ، د غلې نذرانو، د غوړولو تېلو اؤ په خېمه کښې د نورو ټولو څيزُونو ذِمه وار وی کُوم چې مالِک خُدائ ته وقف شوی دی.“ ۱۷ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ اؤ هارُون ته ووئيل چې، ۱۸ ”قُهاتيان مۀ پرېږدئ ۱۹ چې ډېرو مُقدسو څيزُونو ته نزدې راشی هسې نه چې مړۀ شی. د هغوئ د بچ کېدو د خاطره هارُون اؤ د هغۀ زامن به دننه ځی اؤ هر سړی ته به خپل کار حواله کوی چې څۀ څيز به وړی. ۲۰ خو کۀ قُهاتيان مُقدسې خېمې ته دننه لاړل اؤ اِمامان يې وليدل چې د مُقدسو څيزُونو د وړلو تيارے کوی، نو دوئ به مړۀ شی.“

## د جيرسونيانو د قبيلې ذِمه وارۍ

۲۱ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل چې، ۲۲ ”د هغه ليويانو مردمشماری وکړه چې جيرسونيان دی، هغوئ دې قبيله په قبيله اؤ کورنۍ په کورنۍ وشمېرلے شی، ۲۳ اؤ د هغه ټولو سړو نومُونه دې وليکلے شی چې عُمر يې د دېرشو کالو نه تر پنځوسو کالو پورې وی اؤ چې د مالِک خُدائ د حضُور په مُقدسه خېمه کښې کار کولے شی. ۲۴ هغوئ به د دې سامان د وړلو ذِمه وار وی: ۲۵ مُقدسه خېمه، د دې دننه اؤ بهر پړده، د دې د پاسه د ښې څرمنې ټوټه، د مُقدسې خېمې پړده، ۲۶ د مُقدسې خېمې اؤ قُربانګاه نه ګېرچاپېره د دربار پړدې اؤ رسۍ، دربار ته د ننوتلو د دروازې پړدې اؤ هغه ټول سامان چې د دې په ودرولو کښې اِستعمالېږی. هغوئ به هغه ټولې

ذِمه وارئ سر ته رسوى چې د دې څيزُونو سره تعلُق لرى. ۲۷ مُوسىٰ اؤ هارُون به هغه هر څۀ وګورى چې جيرسونيانو سر ته رسولې وى اؤ هغه هر څۀ يې راوړى وى چې هارُون اؤ د هغۀ زامنو ورته حواله کړى وى. ۲۸ په مُقدسه خېمه کښې د جيرسونيانو ذِمه وارئ دا دى: هغوئ به دا د هارُون اِمام زوئ اِتمر د ښودنې لاندې تر سره کوى."

## د مراريانو قبيلې ذِمه وارئ

۲۹ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل چې، "د هغه ليويانو مردُم شمارى وکړه چې د مراريانو ډلې دى، هغوئ قبيله په قبيله اؤ کورنئ په کورنئ وشمېره، ۳۰ اؤ د هغه ټولو سړو نومُونه وليکه چې د هغوئ عُمر د دېرشو نه تر پنځوسو کالو پورې وى اؤ چې د مالِک خُدائ د حضُور په خېمه کښې کار کولے شى. ۳۱ هغوئ به د مُقدسې خېمې د چوکاټُونو، دُرشلو، ستنو اؤ د خپو وړلو ذِمه وار وى، ۳۲ اؤ د ستنو، خپو، موړو اؤ د خېمې د ګېرچاپېره د دربار د پړدو رسو، سره د هغه ټول سامان د وړلو ذِمه وار وى چې د دې په ودرولو کښې اِستعمالېږى. هر يو سړے به د هغه څيزُونو ذِمه وار وى کُوم چې ورته حواله شوى وى. ۳۳ دا د مراريانو د مُقدسې خېمې د خِدمت ذِمه وارئ دى: هغوئ به د هارُون اِمام زوئ اِتمر د ښودنې لاندې دا کار تر سره کوى."

## د ليويانو مردُم شمارى

۳٤ - ٤۸ مُوسىٰ، هارُون اؤ د بنى اِسرائيلو نورو مشرانو د مالِک خُدائ حُکم ومنلو اؤ ليويان يې قبيله په قبيله اؤ کورنئ په کورنئ وشمېرل،

چې معلُوم کړی چې څومره سړی شته چې عُمر يې د دېرشو کالو نه
تر پنځوسو کالو پورې وی اؤ چې په مُقدسه خېمه کښې کار کولے
شی. دوه زره اووۀ سوه اؤ پنځوس ڤهاتيان وُو، دوه زره شپږ سوه اؤ
دېرش جيرسونيان وُو اؤ درې زره اؤ دوه سوه مراريان وُو. دا ټول په
شمېر کښې اتۀ زره پينځۀ سوه اؤ اتيا کسان وُو. ۴۹ هر يو سړے د
هغه حُکم په مُطابق وشمېرلے شو چې مالِک خُدائ مُوسیٰ ته کړے
وو، اؤ د هغه حُکم په مُطابق چې مالِک خُدائ مُوسیٰ له ورکړے وو
نو هر يو ته د وړلو اؤ خِدمت کولو ذِمه وارئ حواله شوې.

## ناپاکه خلق

**۵** ۱ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ۲ "بنی اِسرائيلو له
حُکم ورکړه چې هر هغه څوک چې د جُذام بيماری لری
يا يې د بدن د يو ځائ نه اوبۀ ځی اؤ هر څوک چې د مړی سره
د لګېدلو په وجه ناپاک شوے وی نو هغوئ دې هغه د خېمو نه
وشړی. ۳ نر يا ښځه چې ناپاکه وی نو هغوئ بهر ولېږه، چې
خېمې پليتې نۀ کړی، چرته چې زۀ د خپلو خلقو په مېنځ کښې
اوسېږم." ٤ بنی اِسرائيلو هم هغه شان وکړل اؤ داسې خلق يې د
خېمو نه بهر کړل.

## د جُرم په وجه جُرمانه کېدل

٥ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل چې، ٦ "بنی اِسرائيلو ته دا
اصُول وښايه. کله چې يو نر يا ښځه د چا خِلاف جُرم وکړی نو هغه

د مالِک خُدائ نافرمانی کوی نو هغه کس به قصُوروار وی، ۷ هغه دې خامخا د خپلې ګُناه اِقرار وکړی اؤ چې د چا خِلاف يې جُرم کړے وی نو هغه کس له دې پُوره تاوان ورکړی اؤ شل فی‌صده دې زيات هم ورکړی. ۸ کهٔ د مظلُوم کس نزدې خپلوان نهٔ وی چې د جُرم تاوان ورته مِلاؤ شی، نو د جُرم تاوان به د مالِک خُدائ په نُوم اِمام له ورکړے شی، د دې سره به د مُجرم د کفارې د پاره يو ګډ هم وی. ۹ بنی اِسرائيل چې هره يوه خاص برخه مالِک خُدائ ته پيش کوی نو هغه به د اِمام وی. ۱۰ هر يو اِمام هغه ټولې نذرانې د ځان د پاره ساتلے شی چې کُومې ورکړے شوی وی.

## يو شکمن خاوند

۱۱ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم وکړو ۱۲-۱۴ چې بنی اِسرائيلو ته دا اصُول وښائی: کهٔ يو سړے شکمن شی چې خپلې ښځې ورسره بې وفائی کړې ده اؤ د بل سړی سره يې زنا کړې ده اؤ د خپل ځان بې عِزتی يې کړې ده، خو کهٔ د خاوند يقين پوخ نهٔ وی، او کېدے شی چې د هغهٔ ښځې دا خبره پټه ساتلې وی، ګواه هم نهٔ وی اؤ په دې کار پورې نيولے شوې هم نهٔ وی، يا داسې وشی چې يو خاوند په خپله ښځه باندې هسې شکمن شی، کهٔ هغې بې وفائی هم نهٔ وی کړې. ۱۵ په داسې دواړو حالتُونو کښې سړے به خپله ښځه اِمام له بوځی. هغه به يو کيلو د اوربشو اوړهٔ هم يوسی، خو هغه به په دې باندې د زيتُونو تېل نهٔ اچوی اؤ نهٔ به ورباندې خوشبوئی اچوی، ځکه چې دا نذرانه د شکمن خاوند د طرف نه

ده، دا د دې د پاره پېش کېږی چې حقيقت څرګند شی. ⁽¹⁶⁾ اِمام به هغه ښځه وړاندې راولی اؤ د مالِک خُدائ د قُربان‌ګاه په مخکښې به يې ودروی. ⁽¹⁷⁾ هغه به په کنډول کښې څۀ مُقدسې اوبۀ واچوی اؤ د مالِک خُدائ د حضُور مُقدسې خېمې د دربار نه به لږه خاوره واخلی اؤ په اوبو کښې به يې واچوی چې ترخې شی. ⁽¹⁸⁾ بيا به هغه د ښځې وېښتۀ خوارۀ کړی اؤ د اوړو نذرانه به د هغې په لاس کښې کېږدی. اِمام به هغه جام په خپلو لاسُونو کښې ونيسی چې ترخې اوبۀ په کښې دی. دا د دې د پاره چې په هغه کس باندې لعنت راولی چې کُوم ګُناهګار وی. ⁽¹⁹⁾ بيا به اِمام هغه ښځه دې ته راضی کړی چې داسې قسم وخوری: ”کۀ تا زنا کړې نۀ وی، نو چې دا اوبۀ کُوم لعنت راولی نو هغه به تا ته نُقصان نۀ رسوی. ⁽²⁰⁾ خو کۀ تا زنا کړې وی، ⁽²¹⁾ نو مالِک خُدائ دې ستا نُوم ستا په خلقو کښې لعنتی کړی. تا دې شنډه کړی اؤ ستا خېټه دې وپړسوی. ⁽²²⁾ دا اوبۀ به ستا خېټې ته ننوځی اؤ ستا خېټه دې وپړسوی اؤ تا دې شنډه کړی.“ نو ښځه به په جواب کښې داسې ووائی، ”آمين! هم داسې دې وشی.“ ⁽²³⁾ بيا به اِمام دا لعنت په يو کاغذ باندې وليکی اؤ دا ليکل به د ترخو اوبو په جام کښې ووينځی. ⁽²⁴⁾ د هغې نه مخکښې چې په ښځه باندې دا اوبۀ وڅښی، چې په هغې باندې سخت درد راولی، ⁽²⁵⁾ اِمام به د ښځې د لاسُونو نه د اوړو د شک نذرانه واخلی، مالِک خُدائ ته وقف کولو د پاره به يې پورته کړی اؤ په قُربان‌ګاه باندې به يې پېش کړی. ⁽²⁶⁾ بيا به اِمام د دې نه يو مُوټے واخلی، دا به د نذرانې د يوې نښې په شان وی اؤ په قُربان‌ګاه باندې به يې

وسوزوی. په آخِر کښې به هغه په ښځه باندې اوبۀ وڅښوی. ۲۷ کۀ هغې زنا کړې وی، نو اوبۀ به په هغې باندې سخت درد راولی، د هغې خېټه به وپړسېږی اؤ هغه به شنډه شی. د هغې نُوم به په خپلو خلقو کښې لعنتی شی. ۲۸ خو کۀ هغه بې ګُناه وی، نو نُقصان به ورته نۀ رسېږی اؤ د هغې به بچی پېدا شی. ۲۹-۳۰ دا قانُون د داسې واقعو د پاره دے کۀ چرې يو سړے غېرت وکړی اؤ شکمن شی چې د هغۀ ښځې زنا کړې ده. ښځه به د مالِک خُدائ په حضُور کښې د قُربانګاه په مخکښې ودرولے شی اؤ اِمام به دا رسم ادا کړی. ۳۱ خاوند به د ګُناه نه خلاص وی، خو کۀ ښځه ګُناهګاره وی، نو هغې ته به خامخا د خپلو بدو سزا مِلاؤ شی.

## د وقف کېدو د پاره اصُول

٦ ۱ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته حُکم وکړو ۲ چې بنی اِسرائيلو ته دا اصُول وښائی. کۀ يو سړے يا ښځه د خاص مقصد د پاره د خپل ځان وقف کولو قَسم وکړی اؤ خپل ځان مالِک خُدائ ته وقف کړی ۳ نو هغوئ به د انګُورو شرابو نه اؤ تېزو شرابو نه ځان وساتی. هغوئ به داسې يو قِسم شربت هم نۀ څښی چې د انګُورو نه جوړ وی اؤ نۀ به کچه انګُور اؤ نۀ وچ انګُور خوری. ٤ چې تر کُومې پورې هغوئ وقف شوی وی، نو هغوئ به داسې يو څيز هم نۀ خوری چې د انګُورو د باغ نه راځی، د انګُورو پوستکے يا تُخم به هم نۀ خوری. ٥ چې تر کُومې پورې هغوئ د قَسم لاندې وی، نو وېښتۀ به نۀ وارۀ کوی. تر څو چې د هغوئ د قَسم نيته پوره شوی نۀ وی،

هغوئ مالِک خُدائ ته وقف دى اؤ وېښتۀ به پرېږدى چې لوئ شى. ⑥-⑦ د هغوئ وېښتۀ د دې نښه ده چې هغوئ خُدائ پاک ته وقف دى، نو هغوئ به مړى ته نزدې کېدو په وجه خپل ځانُونه نۀ ناپاکوى، کۀ هغه يې پلار، مور، ورور يا خور هم وى. ⑧ چې تر کُومې پورې هغوئ د قَسم لاندې وى، نو هغوئ مالِک خُدائ ته وقف دى. ⑨ کۀ د هغۀ وقف شوى وېښتۀ داسې ناپاک شى چې هغه د يو داسې کس په خوا کښې وى چې ناڅاپه مړ شى، نو هغه به خامخا اووۀ ورځې اِنتظار وکړى اؤ بيا به خپل وېښتۀ کل کړى، اؤ هغه به پاک شى. ⑩ په اتمه ورځ به هغوئ دوه گُوگُوشتکې يا دوه کونترې د مالِک خُدائ د حضُور مُقدسې خېمې په دروازه کښې اِمام ته راوړى. ⑪ اِمام به يوه د گُناه د نذرانې په توگه پېش کړى اؤ بله د سوزېدُونکې نذرانې په توگه اؤ د هغوئ د پاره به کفاره ادا کړى ځکه چې هغوئ مړى ته د نزدې کېدو په وجه گُناه کړې ده. هم په هغه ورځ به د هغوئ وېښتۀ بيا پاک شى ⑫ اؤ خپل وخت به مالِک خُدائ ته وقف کړى. تېر شوے وخت نۀ حِسابېږى، ځکه چې د هغوئ وقف شوى وېښتۀ ناپاک شوى وُو. د تاوان نذرانې د پاره به هغوئ د يو کال گډُورے راولى. ⑬ کله چې هغه کس خپل قَسم پوره کړى، نو هغوئ به دا رسم ادا کوى. هغوئ به د مُقدسې خېمې دروازې ته ورشى ⑭ اؤ مالِک خُدائ ته دې درې داسې ځناور قُربانى کړى چې هيڅ عېب په کښې نۀ وى: د سوزېدُونکې نذرانې د پاره يو کالن گډُورے، يوه کالنه گډُورۍ د گُناه نذرانې د پاره اؤ د سلامتۍ نذرانې د پاره يو گډ. ⑮ هغوئ به د پتيرې ډوډۍ يوه ډکه ټوکرۍ هم پېش کړى: د اوړو ډبلې ډوډۍ چې د زيتُونو تېل په کښې گډ

وی اؤ نری نری ډوډۍ چې د زيتُونو تېل ورباندې لګولے شوی وی اؤ د دې نه علاوه د غلې اؤ د څښلو نذرانې به هم ورسره وی. ⑯ اِمام به دا ټولې مالِک خُدائ ته حاضرې کړی اؤ د ګُناه نذرانه اؤ سوزېدُونکې نذرانه به پېش کړی. ⑰ هغه به ګډ د سلامتۍ نذرانې په توګه مالِک خُدائ ته قُربانی کړی اؤ د هغه پتيرې ډوډۍ سره به يې پېش کړی کُومه چې په ټوکرۍ کښې ده، هغه به د غلې اؤ د څښلو نذرانې هم حاضرې کړی. ⑱ هغه کس به د مُقدسې خېمې په دروازه کښې خپل وېښتهٔ کل کړی اؤ په هغه اور کښې به يې واچوی چې په کُوم د سلامتۍ نذرانه سوزولے شی. ⑲ بيا کله چې د ګډ د اُوږې غوښه وېشولے شی، اِمام به دا راواخلی اؤ په ټوکرۍ کښې چې کُومې ډوډۍ دی د يوې ډبلې اؤ د يوې نرۍ ډوډۍ سره به يې د هغه کس په لاسُونو کښې کېږدی چا چې قَسم کړے وو. ⑳ بيا به اِمام دا د يوې خاص تُحفې په توګه مالِک خُدائ ته حاضرې کړی، دا د اِمام د پاره يوه مُقدسه نذرانه ده، د دې نه علاوه د ګډ سينه اؤ پتُون د قانُون په مُطابق د اِمام دی، نو بيا، هغه کس چې قَسم يې خوړلے وو د انګُورو شراب څښلے شی. ㉑ دا اصُول د هغه کس د پاره دی کُوم چې د يو مقصد د پاره مالِک خُدائ ته قَسم وکړی. د دې نه علاوه نورې نذرانې هم پېش کولے شی کهٔ د هغهٔ وس وی. خو هغوئ چې کُومه وعده کړې وی نو هغه به خامخا پُوره کوی.

## د خلقو د پاره د اِمامانو برکت

㉒ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل ㉓ چې هارُون اؤ د هغهٔ زامن دې د بنی اِسرائيلو د برکت غوښتلو د پاره داسې وائی: ㉔ "مالِک

خُدائ دې تاسو له برکت درکړی اؤ ستاسو خيال دې وساتی،
٢٥ مالِک خُدائ دې په تاسو باندې رحيم اؤ مِهربانه وی، ٢٦ مالِک
خُدائ دې ستاسو مل وی اؤ تاسو له دې سلامتی درکړی.“ ٢٧ اؤ
مالِک خُدائ ووئيل، ”چې هغوئ په بنی اِسرائيلو باندې د برکت د
پاره زما نُوم اخلی، نو زۀ به هغوئ له برکت ورکړم.“

## د مشرانو نذرانې راوړل

٧ ١ په هغه ورځ مُوسىٰ د مالِک خُدائ د حضُور مُقدسه
خېمه ودرول پُوره کړل، هغۀ مُقدسه خېمه د دې ټول
سامان، قُربان‌گاه اؤ د هغې ټول سامان په تېلو غوړ کړل اؤ وقف يې
کړل. ٢ بيا د اِسرائيليانو د قبيلو مشران، کُوم چې د مردُم شمارئ
مشران وُو ٣ هغوئ خپلې نذرانې مالِک خُدائ ته راوړلې: شپږ لوئې
گاډئ اؤ دولس غوَيی، د دوه مشرانو د پاره يوه گاډئ اؤ د هر مشر
د پاره يو غوَيے. کله چې هغوئ دا حاضر کړل، ٤ نو مالِک خُدائ
مُوسىٰ ته ووئيل، ٥ ”دا تُحفې قبُولې کړه چې د مُقدسې خېمې
په خِدمت کښې اِستعمال شی، دا ليويانو ته د هغه خِدمت د پاره
ورکړه کُوم چې هغوئ کوی.“ ٦ نو مُوسىٰ گاډئ اؤ غوَيان ليويانو
له ورکړل. ٧ هغۀ دوه گاډئ اؤ څلور غوَيی جيرسونيانو له ورکړل،
٨ اؤ څلور گاډئ اؤ اتۀ غوَيان يې مراريانو له ورکړل. دا ټول خِدمت
د هارُون زوئ اِتمر د رهنمائئ لاندې وشو. ٩ خو قُهاتيانو له يې
گاډئ يا غوَيان ورنۀ کړل، ځکه چې هغوئ د کُومو مُقدسو څيزُونو
ساتنه کوله هغه د هغوئ په اُوږو باندې وړلے شول. ١٠ مشرانو د

قُربانگاه وقف کولو د پاره هم نذرانې راوړې. کله چې هغوئ خپلې نذرانې په قُربانگاه باندې پېش کولو ته تيار شول، ۱۱ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”مشرانو ته ووايه چې دولس ورځې به هره ورځ يو يو مشر د قُربانگاه د وقف کولو د پاره خپلې نذرانې پېش کوى.“
۱۲ - ۸۳ هغوئ به په دې ترتيب باندې خپلې نذرانې پېش کړې: په وړومبۍ ورځ د يهُوداه قبيلې مشر نحشون زوئ د عميناداب، په دويمه ورځ د يساکار قبيلې مشر نتنى‌ايل زوئ د ضُعر، په دريمه ورځ د زبولون قبيلې مشر اِلياب زوئ د حيلون، په څلورمه ورځ د روبين قبيلې مشر اليصور زوئ د شدِيُور، په پينځمه ورځ د شمعُون قبيلې مشر سلومى‌ايل زوئ د صورشدى، په شپږمه ورځ د جاد قبيلې مشر اِلياسف زوئ د دعوايل، په اوومه ورځ د اِفرائيم قبيلې مشر اليسمع زوئ د عميهود، په اتمه ورځ د منشه قبيلې مشر گملى‌ايل زوئ د فداهصور، په نهمه ورځ د بنيامين قبيلې مشر اِبدان زوئ د جدعونى، په لسمه ورځ د دان قبيلې مشر اخيعزر زوئ د عمى‌شدى، په يولسمه ورځ د آشر قبيلې مشر فجعى‌ايل زوئ د عکران، په دولسمه ورځ د نفتالى قبيلې مشر اخيرع زوئ د عينان. هره يوه نذرانه چې راوړلے شوه مِقدار يې دا وو: يو د سپينو زرو جام يو نيم کيلو اؤ يو د سپينو زرو ښانک اتۀ سوه گرامه، دا د منلے شوى معيار په مُطابق وُو، دا دواړه د اوړو نه ډک وُو اؤ تېل ورسره گډ وُو، دا د غلې نذرانې د پاره وُو، يو د سرو زرو لوښے يو سل اؤ لس گرامه د خوشبويۍ نه ډک وُو، يو څخرے، يو گډ اؤ د يو کال گډُورے، دا د سوزېدُونکې نذرانې د پاره وُو، يو د چېلۍ بچے د گُناه نذرانې د پاره وو، اؤ دوه

غوَيى، پينځهٔ ګډان، پينځهٔ چېلى اؤ پينځهٔ يو کالن ګډُورى د سلامتىِ
نذرانې د پاره وُو. ۸۴ - ۸۸ هغه دولسو مشرانو چې کُومې نذرانې راوړې
چې په قُربان‌ګاه باندې يې وقف کړى هغه ټولې دا دى: دولس د
سپينو زرو جامُونه اؤ دولس د سپينو زرو ښانکُونه، دا ټول اتهٔويشت
کيلو وُو، دولس د سرو زرو لوښى، دا ټول يو نيم کيلو وُو چې د
خوشبويىِ نه ډک وُو، دولس غوَيى، دولس ګډان اؤ دولس يو کالن
ګډُورى، ورسره د غلې نذرانې هم يوړلے شوې، دا د سوزېدُونکې
نذرانو د پاره وُو، دولس چېلى د ګُناه نذرانو د پاره وُو اؤ څليريشت
غوَيى، شپېتهٔ ګډان، شپېتهٔ چېلى، شپېتهٔ يو کالن ګډُورى، دا د وقف
کولو نذرانې د پاره وُو. ۸۹ کله چې مُوسىٰ مُقدسې خېمې ته دننه
لاړو چې د مالِک خُدائ سره خبرې وکړى، هغهٔ د مالِک خُدائ
خبرې واؤرېدلې چې د تړون صندُوق د سر د پاسه اؤ د دوه وزرو والا
مخلُوق د مېنځ نه يې د هغهٔ سره کولې.

## د ډيوو کېښودل

**۸** ۱ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل چې، ۲ ”هارُون ته
ووايه چې کله هغه اووهٔ ډيوې په ډيوټ باندې بړدى،
نو هغه به يې داسې بړدى چې د ډيوټ مخې ته رڼا ورکوى.“
۳ هارُون هم هغه شان وکړل اؤ ډېوې يې داسې کېښودې چې د
ډيوټ مخې ته رڼا وه. ۴ د سر نه تر بېخه پورې ډيوټ د ټکولو
شوو سرو زرو نه جوړ وو، هم د هغې نقشې په مُطابق چې مالِک
خُدائ مُوسىٰ ته ښودلې وه.

## د ليويانو خِدمت اؤ وقف کېدل

۵ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ۶ ”ليويان د نورو بنی
اِسرائيلو نه جُدا کړه اؤ هغوئ پاک کړه، ۷ طريقه دا ده: په هغوئ
باندې د پاکوالی اوبۀ وشينده اؤ هغوئ ته ووايه چې ټول بدن
کل کړی اؤ خپلې جامې ووينځی. نو هغوئ به پاک شی. ۸ بيا
يو څخرے اؤ د غلې نذرانې د پاره اوړۀ چې د زيتُونو تېل ورسره
ګډ وی دا به هغوئ واخلی، اؤ د ګُناه نذرانې د پاره به تۀ يو بل
غوَيے بوځې. ۹ بيا د بنی اِسرائيلو ټول قوم راغونډ کړه اؤ ليويان
زما د حضُور خېمې په مخکښې ودروه. ۱۰ بنی اِسرائيل دې خپل
لاسُونه د ليويانو په سرُونو کېږدی، ۱۱ اؤ بيا به هارُون ليويان د بنی
اِسرائيلو نه د خاص تُحفې په توګه ما ته وقف کړی، چې هغوئ زما
خِدمت وکړی. ۱۲ ليويان به بيا خپل لاسُونه د دوو غوَيانو په سرُونو
کېږدی، يو به د ګُناه نذرانې په توګه اؤ بل د سوزېدُونکې نذرانې
په توګه مالِک خُدائ ته پيش کېږی، د دې د پاره چې د ليويانو
کفاره ادا شی. ۱۳ ليويان ما ته د خاص تُحفې په توګه وقف کړه
اؤ هارُون اؤ د هغۀ زامن د هغوئ مشران جوړ کړه. ۱۴ نو ليويان
د نورو بنی اِسرائيلو نه جُدا کړه چې هغوئ زما شی. ۱۵ کله چې
تۀ ليويان پاک اؤ وقف کړې، نو هغوئ د خِدمت د پاره مُقدسې
خېمې ته دننه تلے شی. ۱۶ د بنی اِسرائيلو د ټولو مشرانو زامنو په
ځائ ليويان زما دی اؤ هغوئ صِرف زما دی. ۱۷ کله چې ما د
مِصر په وطن کښې ټول مشران زامن ووژل، ما د بنی اِسرائيلو د

هرې کورنۍ مشر زوئ اؤ هر يو وړومبے پېدا شوے څناور خپل
ځان ته وقف کړو. ۱۸ اوس زۀ د بنی اِسرائيلو د ټولو وړومبو پېدا
شوو زامنو په ځائ ليويان اخلم، ۱۹ اؤ ليويان د بنی اِسرائيلو نه د
خاص تُحفې په توګه د هارُون اؤ د هغۀ زامنو په حواله کوم چې
په مُقدسه خېمه کښې د بنی اِسرائيلو د پاره خِدمت وکړی اؤ
هغوئ به د بنی اِسرائيلو د پاره کفاره ادا کوی چې کله هغوئ
مُقدس ځائ ته ډېر نزدې راشی نو چې وبا يې هلاک نۀ کړی.“
۲۰ نو مُوسیٰ، هارُون اؤ ټولو بنی اِسرائيلو ليويان وقف کړل، هم
هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم کړے وو.
۲۱ ليويانو خپل ځانُونه پاک کړل اؤ جامې يې ووينځلې اؤ هارُون
هغوئ مالِک خُدائ ته د خاص تُحفې په توګه پېش کړل. هارُون
د هغوئ د پاره د پاکوالی کفاره ادا کړه. ۲۲ خلقو هم هغه شان
وکړل چې څنګه مالِک خُدائ د ليويانو په باره کښې مُوسیٰ ته
حُکم کړے وو. نو ليويان په مُقدسه خېمه کښې د خِدمت کولو
د پاره د هارُون اؤ د هغۀ زامنو د مشرۍ لاندې لاړل. ۲۳ بيا مالِک
خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ۲۴ ”د پينځۀ ويشتو کالو عُمر نه واخله
هر يو ليوے به زما د حضُور په خېمه کښې خپله د خِدمت ذِمه
واری ادا کوی، ۲۵ اؤ چې عُمر يې پنځوس کاله شی نو هغه به
نور خِدمت نۀ کوی. ۲۶ د هغې نه پس، هغه د خپل هغه ليوی
سره مدد کولے شی کُوم چې په خېمه کښې خپله ذِمه واری ادا
کوی، خو په خپله به هيڅ خِدمت نۀ کوی. نو داسې به تاسو
ليويانو ته ذِمه وارۍ حواله کوئ.“

## د فسحې اختر په باره کښې اصُول

۹ ۱ د بنی اِسرائیلو د مِصر وطن نه د وتلو نه پس، د دویم کال
په اولنۍ میاشت مالِک خُدائ د سینا په بیابان کښې د مُوسیٰ
سره خبرې وکړې. مالِک خُدائ ورته ووئیل، ۲-۳ ”د دې میاشتې
په څوارلسمه ورځ، د نمرپرېواتو په وخت، بنی اِسرائیل به د ټول قانُون
اؤ اصُولو په مُطابق د فسحې اختر کوی.“ ۴ نو مُوسیٰ بنی اِسرائیلو
ته ووئیل چې هغوئ د فسحې اختر وکړی، ۵ اؤ د اولنۍ میاشتې د
څوارلسمې ورځې په ماښام بنی اِسرائیلو د سینا په بیابان کښې هغه
هر څۀ وکړل چې څنګه مالِک خُدائ مُوسیٰ له حُکم ورکړے وو.
۶ خو څۀ خلق ناپاک وُو ځکه چې هغوئ د مړی سره لګېدلی وُو
اؤ هغوئ په هغه ورځ د فسحې اختر نۀ شو کولے. هغوئ مُوسیٰ اؤ
هارُون له لاړل ۷ اؤ ورته يې ووئیل، ”مُونږ ناپاک يُو ځکه چې مُونږ
د مړی سره لګېدلی يُو، خو مُونږ د نورو بنی اِسرائیلو سره ولې نۀ شُو
شریکېدلے چې مالِک خُدائ ته نذرانه پېش کړُو؟“ ۸ مُوسیٰ ورته
ووئیل، ”تر هغې پورې صبر وکړئ! چې ما ته د مالِک خُدائ نه
ستاسو په باره کښې حُکم مِلاؤ شی.“ ۹ نو مالِک خُدائ مُوسیٰ ته
ووئیل چې ۱۰ بنی اِسرائیلو ته ووایه، ”کله چې تاسو یا ستاسو اولاد
د مړی سره لګېدلو په وجه ناپاک يئ یا په لرې سفر کښې يئ، خو
بیا هم د فسحې اختر کول غواړئ، ۱۱ نو تاسو ته اِجازت دے چې
دا یوه میاشت وروستو وکړئ، یعنې د دویمې میاشتې د څوارلسمې
ورځې په ماښام. دا اختر د پتیرې ډوډۍ اؤ ترخو بُوټو سره وکړئ.

۱۲ د هغه خوراک نه هيڅ هم د بل سحر پورې مۀ پرېږدئ اؤ چې د
هغه قُربانئ د ځناورو هډُوکی مات نۀ کړئ. د فسحې اختر د ټولو
اصُولو په مُطابق وکړئ. ۱۳ خو چې څوک پاک وی اؤ لرې سفر
کښې نۀ وی اؤ هغه د فسحې اختر ونۀ کړی، نو هغه به نور زما د
خلقو نه نۀ شی ګڼلے، ځکه چې هغۀ ما ته په مُقرر وخت باندې
نذرانه پېش نۀ کړه. هغۀ ته به خامخا د خپلې ګُناه سزا مِلاؤ شی.
۱٤ ستاسو سره چې کُوم مُسافر اوسېږی کۀ هغوئ د فسحې اختر
کول غواړی، نو هغوئ به دا د ټول قانُون اؤ اصُولو په مُطابق کوی.
هر څوک چې د بل وطن وی يا په دې وطن کښې پېدا شوے وی
نو د دواړو د پاره يو شان قانُون دے.“

## د وريځې ستن اؤ د اور ستن

**(د هِجرت کِتاب ٤۰: ۳٤-۳۸)**

۱۵ - ۱٦ په کُومه ورځ چې د مالِک خُدائ د حضُور خېمه ودرولے
شوه، نو وريځ راغله اؤ خېمه يې پټه کړه. وريځ به د شپې د اور په
شان ښکارېده. ۱۷ چې کله به هم وريځ د خېمې نه اُوچته شوه،
نو بنی اِسرائيل به روان شول اؤ بيا به يې په هغه ځائ کښې خېمې
ودرولې چرته به چې وريځ راکُوزه شوې وه. ۱۸ بنی اِسرائيلو به د
مالِک خُدائ په حُکم خېمې وړلې اؤ د هغۀ په حُکم به يې ودرولې.
کُومه پورې به چې وريځ په مُقدسه خېمه باندې ولاړه وه، نو هغوئ
به په خپلو خېمو کښې ايسار وُو. ۱۹ کله به چې وريځ په مُقدسه
خېمه باندې د ډېر وخت د پاره ولاړه وه، نو هغوئ د مالِک خُدائ

حُکم منلو اؤ د هغه ځائ نه به نۀ تلل. ⓴ کله کله به وريځ صِرف يو
څو ورځې د خېمې د پاسه ايساره وه، نو په هر حالت کښې، هغوئ
د مالِک خُدائ د حُکم په مُطابق په خپلو خېمو کښې ايسارېدل يا
به يې سفر کولو. ㉑ کله به وريځ صِرف د ماښام نه واخله تر سحره
پورې ايساره وه، چې څنګه به وريځ اُوچته شوه نو هغوئ به سفر
شروع کړو. ㉒ کۀ وريځ به دوه ورځې، مياشت، کال، يا زياته د
مُقدسې خېمې د پاسه ولاړه وه، نو هغوئ به سفر نۀ کولو، خو چې
کله به وريځ اُوچته شوه، نو هغوئ به سفر کولو. ㉓ کُوم حُکمونه
چې مالِک خُدائ د مُوسىٰ په ذريعه ورکړى وُو هغوئ د هغه په مُطابق
خېمې ودرولې اؤ وړلې.

## د سپينو زرو بيګل

**۱۰** ① بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ② "د ټکيدلے شوو
سپينو زرو نه دوه بيګلې جوړې کړه چې د خلقو په يو ځائ
راغونډولو اؤ د خېمو د وړلو د خبر د پاره اِستعمالېږى. ③ کله چې
دواړه بيګلې وغږېږى، نو ټول قوم به زما د حضُور د مُقدسې خېمې
په دروازه کښې ستا نه ګېرچاپېره راغونډ شى. ④ خو چې کله صِرف
يو بيګل وغږېږى، بيا به صِرف د قبيلو مشران ستا نه راغونډېږى.
⑤ کله چې بيګل په لنډ آواز وغږېږى، نو د نَمرخاتۀ په طرف قبيلې
به خېمې وړى. ⑥ کله چې په دويم ځل بيګل وغږېږى، نو د جنُوب
طرف ته قبيلې به خېمې يوسى. چې بيګل په لنډ آواز غږېږى نو خېمې
به وړلے شى، ⑦ د قوم د راغونډولو د خبر د پاره به دواړه بيګلې

غږولے شی. خو دا آواز به لنډ نۀ وی. ۸ د هارُون اِمامان زامن به
بیګل غږوی. دا قانُون به په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې منلے شی.
۹ کله چې ستاسو په وطن کښې جنګ وی اؤ دُښمن په تاسو باندې
حمله کوی، نو په لنډ آواز به د خطرې بیګل وغږوئ. زۀ، مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک، به ستاسو مدد وکړم اؤ ستاسو د دُښمنانو
نه به مو بچ کړم. ۱۰ د خوشحالۍ په ورځو کښې، د میاشتې په لیدو
اؤ ستاسو په نورو مُقررو اخترُونو کښې، کله چې تاسو سوزېدُونکې
نذرانې اؤ خپلې د سلامتۍ نذرانې پېش کوئ نو تاسو به دې باندې
بیګلې غږوئ. د بیګل آواز به ما ته ستاسو سره لوظ راپه یاد کړی،
زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم.“

## د بنی اِسرائیلو د سینا بیابان نه سفر شروع کول

۱۱ د دویم کال د دویمې میاشتې په شلمه ورځ د هغې نه پس چې
بنی اِسرائیل د مِصر وطن نه راوتلی وُو، د مالِک خُدائ د حضُور د
خېمې نه وریځ اُوچته شوه، ۱۲ اؤ بنی اِسرائیل د سینا د بیابان نه په
سفر روان شول. وریځ د فاران په صحرا کښې ایساره شوه. ۱۳ هغوئ
د مُوسیٰ په ذریعه د مالِک خُدائ د حُکم په مُطابق سفر شروع کړو،
۱۴ اؤ هر ځل چې هغوئ تلل، نو هغوئ به هم په هغه ترتیب باندې
وُو. څوک چې د یهُوداه قبیلې د لښکر د جنډې لاندې وُو هغوئ ډله
په ډله اول روان شول، د هغوئ مشر نحشون زوئ د عمیناداب وو.
۱۵ نتنی‌ایل زوئ د صُعر د یساکار قبیلې مشر وو، ۱۶ اؤ اِلیاب زوئ
د حیلون د زبولون قبیلې مشر وو. ۱۷ بیا به خېمه راکُوزه کړے شوه

اؤ د جيرسون اؤ مرارى قبيلې به روانې شوې، چې هغوئ به خېمه
وړله. ۱۸ بيا، څوک چې د روبين قبيلې د لښکر د جنډې لاندې
وُو، هغوئ به ډله په ډله، روان شول، د هغوئ مشر اليصور زوئ د
شدِيُور وو. ۱۹ د شمعُون قبيلې مشر سلومى‌اېل زوئ د صورى‌شدى
وو، ۲۰ اِلياسف زوئ د عواېل د جاد قبيلې مشر وو. ۲۱ بيا به قُهاتيان
روان شول، هغوئ به مُقدس سامان وړلو، چې هغوئ به کُوم وخت د
خېمو بل ځائ ته ورسېدل، نو خېمه به بيا ودرولے شوې وه. ۲۲ بيا،
څوک چې د اِفرائيم قبيلې د لښکر د جنډې لاندې وُو، هغوئ به
ډله په ډله روان شول، د هغوئ مشر اليسمع زوئ د عميهود وو.
۲۳ د منشه قبيلې مشر گملى‌اېل زوئ د فداهصور وو، ۲۴ اؤ د بنيامين
قبيلې مشر اَبِدان زوئ د جدعونى وو. ۲۵ په آخِر کښې، څوک چې
د دان قبيلې د لښکر د جنډې لاندې وُو، چا چې د ټولو لښکرو د
وروستو نه حِفاظت کولو، هغوئ ډله په ډله روان شول، د هغوئ
مشر د عمى‌شدى زوئ اخيعزر وو. ۲٦ د آشر قبيلې مشر فجعى‌اېل
زوئ د عکران وو، ۲۷ اؤ د نفتالى قبيلې مشر اخيرع زوئ د عينان
وو. ۲۸ نو داسې، بنى اِسرائيل ډله په ډله، په دې ترتيب روان وُو،
چې کله به هم هغوئ خېمې وړلې اؤ سفر بې کولو. ۲۹ مُوسىٰ خپل
اوښى حوباب ته ووئيل چې د يترو ميديانى زوئ وو، ”مُونږ هغه ځائ
ته په سفر روانېږُو چې مالِک خُدائ وئيلى دى چې هغه به يې مُونږ
له راکړى. هغۀ وعده کړې ده چې هغه به اِسرائيليان مالدار کړى،
نو زمُونږ سره لاړ شه اؤ مُونږ به تا سره ښېګړه وکړُو.“ ۳۰ حوباب
ووئيل، ”نه، زۀ واپس خپل وطن ته ځم چې د خپلو خلقو سره يم.“

۳۱ مُوسىٰ ورته ووئيل، ”زۀ تا ته مِنت کوم چې زمُونږ نه مۀ ځه، تا ته
پته ده چې مُونږ به په صحرا کښې چرته خېمې ولګوُو اؤ تۀ به مُونږ
ته لار ښائې. ۳۲ کۀ تۀ زمُونږ سره لاړ شې، نو چې مالِک خُدائ مُونږ
له څومره برکتُونه هم راکوی نو په هغې کښې به ستا حِصه وی.“

## د خلقو سفر شروع کول

۳۳ کله چې خلق د مالِک خُدائ د غرۀ سينا نه روان شول،
هغوئ درې ورځې سفر وکړو. د مالِک خُدائ د تړون صندُوق به
همېشه د هغوئ نه مخکښې تلو چې د هغوئ د پاره د دَمې کولو
ځائ پيدا کړی. ۳۴ چې هغوئ به چرته خېمې وړلې، نو د ورځې
به د مالِک خُدائ وريځ د هغوئ د پاسه وه. ۳۵ چې کله به هم د
تړون صندُوق روان شو، نو مُوسىٰ به وئيل، ”مالِکه خُدايه! پاڅه،
خپل دُښمنان خوارۀ وارۀ کړه اؤ هغه خلق چې څوک ستا نه نفرت
کوی هغوئ دې ته مجبُور کړه چې وتښتی.“ ۳۶ اؤ چې کله به د
تړون صندُوق ودرېدلو، نو هغۀ به وئيل، ”مالِکه خُدايه! بې‌شمېره
بنی اِسرائيلو ته راواپس شه.“

## د بنی اِسرائيلو په بيابان کښې شکايت کول

۱۱ ۱ نو کله چې خلقو د خپلو تکليفُونو په باره کښې مالِک
خُدائ ته شکايتُونه شروع کړل، نو مالِک خُدائ دا
واؤرېدل، نو هغه سخت غُصه شو اؤ په خلقو يې اور راولېږلو اؤ اور د
هغوئ خِلاف بل وو اؤ د کېمپ بهرنی اړخ يوه برخه يې وسوزوله.

۲ خلقو مُوسیٰ ته د مدد د پاره چغې کړې، هغهٔ مالِک خُدائ ته سوال وکړو اؤ اور قلار شو. ۳ نو د هغه ځائ نُوم تبیعره شو، ځکه چې هلته د مالِک خُدائ اور د هغوئ کېمپ سوزولے وو.

## د حضرت مُوسیٰ اؤیا مشران خوښول

۴ د پردی وطن څهٔ مُسافرو د بنی اِسرائیلو سره سفر کولو. د هغوئ غوښې ته ډېر زیات زړهٔ وشو اؤ هم داسې په خپله بنی اِسرائیلو هم شکایت شروع کړو اؤ وې وئیل: ”کاش! چې لږه غوښه خو وے! ۵ په مِصر کښې چې مُونږ کُوم کبان غوښتل هغه مو خوړل اؤ مُونږ ته مُفت مِلاوېدل. هغه بادرنګ، هِندوانې، ګندانه، پیاز اؤ اُوږه رایاده کړئ چې مُونږ به خوړل؟ ۶ خو اوس مُونږ د دې نه پوزې له راغلُو، د خوړلو نور هیڅ نشته خو بس دا من دی چې هره ورځ زمُونږ مخې ته پراتهٔ وی.“ ۷ من د دنیا د تُخم په شان واړهٔ وُو اؤ رنګ یې زېړ بخن وو. ۸-۹ دا د شپې د پرخې سره د خېمو نه ګېرچاپېره پرېوتو. ورپسې سحر به خلق د دې راټولولو د پاره تلل، دا به یې په لنګرئ کښې ټکول یا یې ترې نه په مېچن کښې اوړهٔ جوړول اؤ بیا به یې یشول یا به نرئ ډوډئ یې ترې نه پخولې. د دې خوند داسې وو لکه چې ډوډئ د زیتُونو تېلو سره پخې شوې وی. ۱۰ مُوسیٰ د ټولو خلقو شکایتُونه واؤرېدل چې هغوئ ډلې ډلې د خپلو خېمو په دروازو کښې ولاړ وُو. هغه پرېشان وو ځکه چې مالِک خُدائ هغوئ ته په قهر وو، ۱۱ اؤ هغهٔ مالِک خُدائ ته ووئیل، ”تهٔ زما سره دومره بد سلُوک ولې کوې؟ تهٔ زما نه ولې ناراضه یې؟ تا د دې ټولو خلقو ذِمه وارى ما

له ولې راکړې ده؟ ۱۲ هغوئ خو ما نهٔ دی پېدا کړی اؤ نهٔ زما بچی دی! زهٔ دې ولې د یوې خِدمت‌ګارې په شان شم چې د پیو ماشُوم هغه وطن ته یوسم چې تا یې د هغوئ د پلارنیکهٔ سره وعده کړې ده؟ ۱۳ زهٔ دې ټولو خلقو له غوښه د کُوم ځائ نه ورکړم؟ ځکه چې هغوئ ما ته ژاړی اؤ زما نه غوښه غواړی. ۱۴ زهٔ یواځې د دې ټولو خلقو ذِمه واری نهٔ شم اخستلے، دا بوج زما د پاره ډېر درُوند دے. ۱۵ کهٔ تهٔ زما سره هم دغه شان سلُوک کوې، نو په ما رحم وکړه اؤ ما ووژنه، کهٔ تهٔ زما نه رضا یې، نو ما د خپل غم لیدلو نه وساته.“
۱۶ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئیل، ”د اِسرائیلیانو اؤیا مشران راجمع کړه چې هغوئ د مشرانو په توګه منلے شوی وی، هغوئ ما له زما د حضُور خېمې ته راوله اؤ هغوئ ته ووایه چې هغوئ هلته ستا سره ودرېږی. ۱۷ زهٔ به لاندې راشم اؤ هلته به ستا سره خبرې وکړم اؤ چې ما کُوم رُوح تا له درکړے دے د هغې نه به لږ واخلم اؤ هغوئ له به یې ورکړم. بیا به هغوئ ستا مدد کوی اؤ چې د دې خلقو ذِمه واری واخلی، نو دا ذِمه واری به یواځې ستا په سر نهٔ وی. ۱۸ اوس خلقو ته ووایه، چې د سبا د پاره ځانُونه پاک کړئ، تاسو ته به د خوړولو د پاره غوښه مِلاؤ شی. مالِک خُدائ ستاسو ژړا اؤرېدلې ده چې تاسو وئیل چې کاش زمُونږ سره لږه غوښه وے اؤ چې زمُونږ حالت په مِصر کښې ښهٔ وو. اوس به مالِک خُدائ تاسو له غوښه درکړی اؤ تاسو به یې خورئ. ۱۹ دا به تاسو نهٔ صِرف یو دوه، پینځهٔ یا لس شل ورځې خورئ، ۲۰ بلکه ټوله میاشت به یې خورئ، چې ستاسو د پوزو نه بهر راووځی اؤ زړهٔ به مو ترې موړ شی. هم داسې به وشی ځکه چې تاسو

د مالِک خُدائ سپکاوے کړے دے کُوم چې دلته ستاسو په مېنځ کښې دے اؤ تاسو هغهٔ ته دا شکایت کړے دے چې مُونږ ولې مِصر پرېښودلے دے." ۲۱ مُوسیٰ مالِک خُدائ ته ووئیل، "دلته زما سره شپږ لاکهه خلق دی اؤ تهٔ وائې چې تهٔ به هغوئ له د یوې میاشتې غوښه ورکړې؟ ۲۲ څاروی اؤ ګلهې دې د هغوئ د پاره حلالې کړے شی څهٔ؟ آیا په سمندر کښې ټول کبان به د هغوئ مړولو د پاره کافی وی؟" ۲۳ مالِک خُدائ ورته ووئیل، "زما د طاقت څهٔ حد شته؟ تهٔ به زر وګورې چې ما څهٔ وئیلی دی چې هغه کېږی اؤ کهٔ نهٔ کېږی!"
۲۴ نو مُوسیٰ بهر ووتلو اؤ چې مالِک خُدائ څهٔ وئیلی وُو هغه یې خلقو ته ووئیل. هغهٔ اؤیا مشران راجمع کړل اؤ د خېمې نه ګېرچاپېره یې ودرول. ۲۵ بیا مالِک خُدائ په وریځو کښې لاندې راغلو اؤ د هغهٔ سره یې خبرې وکړې. کُوم رُوح یې چې مُوسیٰ له ورکړے وو د هغې نه یې لږ واخستلو اؤ هغه اؤیا مشرانو له یې ورکړو. کله چې په هغوئ باندې رُوح راغلو نو هغوئ د لږ وخت د پاره د پېغمبرانو په شان خبرې کولې خو د دې نه پس بیا داسې ونهٔ شول. ۲۶ د هغه اؤیا مشرانو نه دوه مشران، اِلداد اؤ میداد، په خېمو کښې پاتې وُو اؤ د مالِک خُدائ د حضُور خېمې ته تلی نهٔ وُو. اؤ په هغوئ باندې رُوح نازل شو اؤ هغوئ په خېمو کښې د پېغمبرانو په شان خبرې شروع کړې. ۲۷ یو ځوان منډه کړه چې مُوسیٰ ته ووائی چې اِلداد اؤ میداد په خېمو کښې د پېغمبرانو په شان خبرې کوی. ۲۸ بیا د نون زوئ یشوَع، کُوم چې د مُوسیٰ د ځوانئ د وخت نه مدد کوُونکے وو، هغهٔ مُوسیٰ ته ووئیل، "زما نېکه هغوئ منع کړه." ۲۹ مُوسیٰ جواب ورکړو، "تهٔ په ما غېرت

کوې څۀ؟ زۀ غواړم چې مالِک خُدائ خپل رُوح خپلو ټولو خلقو ته ورکړی اؤ ټول د پيغمبرانو په شان شی!“ ۳۰ بيا مُوسیٰ اؤ د اِسرائيليانو مشران واپس کېمپ ته لاړل.

## مړزان

۳۱ ناڅاپه مالِک خُدائ يوه هوا راوستله چې هغې د سمندر د طرف نه مړزان راوړل، چې د زمکې نه يو گز اُوچت الوتل. دا په خېمو باندې اؤ د خېمو نه گېرچاپېره هر طرف ته لرې لرې پورې کښېناستل. ۳۲ نو په هغه ټوله ورځ اؤ شپه اؤ په دويمه ټوله ورځ، خلقو مړزان راونيول، هيچا هم د زرو کيلو نه کم نۀ وُو رانيولی. هغوئ دا د وچولو د پاره د ټولو خېمو نه گېرچاپېره خوارۀ کړل. ۳۳ کله چې د هغوئ سره ښۀ ډېره غوښه وه، نو مالِک خُدائ خلقو ته په قهر شو اؤ په خلقو يې يوه لويه وبا راولېږله. ۳۴ د هغه ځائ نُوم ”د لالچيانو قبرونه“ شو، ځکه چې هغوئ هلته هغه خلق ښخ کړل د کُومو چې غوښې ته زړۀ شوے وو. ۳۵ خلقو د هغه ځائ نه حصيروت ته سفر وکړو اؤ هلته اوسېدل.

## د حضرت مُوسیٰ خِلاف د حضرت هارُون اؤ بی‌بی مريم بغاوت

**۱۲** ۱ بيا مُوسیٰ يوه حبشی ښځه وادۀ کړه، نو مريم اؤ هارُون په دې وجه په هغۀ اِعتراض وکړو. ۲ هغوئ ووئيل، ”مالِک خُدائ صِرف د مُوسیٰ په ذريعه خبرې کړې دی څۀ؟ هغۀ زمُونږ په ذريعه خبرې نۀ دی کړې څۀ؟“ هغوئ چې څۀ ووئيل نو

مالِک خُدائ هغه واؤرېدل. ۳ مُوسیٰ يو ډېر عاجز سړے وو، هغه د زمکې په مخ د ټولو خلقو نه زيات عاجز وو. ۴ ناڅاپه مالِک خُدائ مُوسیٰ، هارُون اؤ مريم ته ووئيل، ”تاسو درې واړه بهر زما د حضُور خيمې ته لاړ شئ.“ نو هغوئ لاړل، ۵ اؤ مالِک خُدائ د ورېځې په ستن کښې لاندې راغلو، د خيمې په دروازه کښې ودرېدلو اؤ هارُون اؤ مريم يې راوغوښتل. هغوئ دواړه وروړاندې شول، ۶ اؤ مالِک خُدائ هغوئ ته ووئيل، ”اوس زما خبرې په کولاؤ غوږُونو واورئ! کله چې ستاسو په مېنځ کښې پيغمبران وی، نو زۀ خپل ځان هغوئ ته په خيال کښې ښکاره کوم اؤ زۀ د هغوئ سره د هغوئ په خوب کښې خبرې کوم. ۷ خو زۀ خپل خِدمتګار مُوسیٰ سره داسې نۀ کوم، هغه ما د خپلو خلقو اِسرائيليانو مشر جوړ کړے دے. ۸ نو زۀ د هغۀ سره مخامخ خبرې کوم، صفا اؤ واضِحه خبرې ورسره کوم، هغۀ زۀ ليدلے يم! تاسو دا جُرات څنګه کوئ چې زما د خِدمت کوُونکی مُوسیٰ خِلاف خبرې کوئ؟“ ۹ مالِک خُدائ هغوئ ته په قهر شو، اؤ هغه لاړو ۱۰ اؤ کله چې د خيمې نه ورېځ اُوچته شوه، نو د مريمې څرمن ناڅاپه په سخته بيمارئ باندې پټه شوه اؤ د واورې په شان سپينه شوه. کله چې هارُون ورته وکتل نو وې ليدل چې د هغې څرمن په بيمارئ پټه وه، ۱۱ هغۀ مُوسیٰ ته ووئيل، ”صاحِبه! زمُونږ د کم‌عقل‌توب د ګُناه په وجه دا سزا مُونږ له مۀ راکوه. ۱۲ د مريم نه داسې څۀ مۀ جوړوه لکه چې يو ماشُوم مړ پيدا شوے وی اؤ نيمه غوښه يې نۀ وی.“ ۱۳ نو مُوسیٰ مالِک خُدائ ته فرياد وکړو چې، ”خُدايه پاکه! هغه روغه کړه.“ ۱۴ مالِک خُدائ ورته ووئيل،

”کۀ پلار ورله په مخ تُوکلے وے، نو هغې به اووۀ ورځې خپل شرم
نۀ وو برداشت کړے خۀ؟ نو هغه دې اووۀ ورځې د خېمو نه بهر
کړے شی اؤ د هغې نه پس هغه واپس راولئ.“ ۱۵ مريم اووۀ ورځې
د خېمو نه بهر کړے شوه اؤ چې تر کُومې پورې هغه واپس نۀ وه
راوستلے شوې نو خلقو سفر نۀ کولو. ۱۶ بيا هغوئ د حصيروت نه
لاړل اؤ د فاران په صحرا کښې يې خېمې ولګولې.

## جاسُوسان

(د ګردان کِتاب ۱: ۱۹-۳۳)

# ۱۳

۱ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل چې، ۲ ”د دولسو قبيلو
د هرې يوې قبيلې نه يو يو مشر خوښ کړه اؤ هغوئ د
جاسُوسانو په توګه ولېږه چې د کنعان وطن وګورى، کُوم چې زۀ
بنى اِسرائيلو له ورکوم.“ ۳ نو مُوسىٰ هغوئ د فاران د صحرا نه د
مالِک خُدائ د حُکم په مُطابق ولېږل، چې د هغوئ ټولو سره د بنى
اِسرائيلو مشران سرى وُو. ۴ د هغوئ نومُونه دا وُو: د روبين قبيلې نه،
سموع زوئ د زکور، ۵ د شمعُون قبيلې نه، سافط زوئ د حورى،
۶ د يهُوداه قبيلې نه، کالب زوئ د يفُنه، ۷ د يساکار قبيلې نه،
اِجال زوئ د يُوسف، ۸ د اِفرائيم قبيلې نه، هوسيع زوئ د نون، ۹ د
بنيامين قبيلې نه، فلتى زوئ د رفُو، ۱۰ د زبولون قبيلې نه، جدىاېل
زوئ د سودى، ۱۱ د منشه قبيلې نه، جدى زوئ د سُوسى، ۱۲ د دان
قبيلې نه، عمىاېل زوئ د جملى، ۱۳ د آشر قبيلې نه، ستُور زوئ د
ميکاېل، ۱۴ د نفتالى قبيلې نه، نحبى زوئ د وُفسى، ۱۵ د جاد قبيلې

نه، جيواېل زوئ د ماکی. ۱۶ دا هغه سړی دی چې مُوسیٰ د هغه وطن د جاسُوسئ د پاره ولېږل. هغهٔ د نون د زوئ هوسيع نُوم يشوَع ته بدل کړو. ۱۷ کله چې مُوسیٰ هغوئ لېږل، نو هغوئ ته يې ووئيل چې، ”د دې ځائ نه د صحرا په لار لاړ شئ اؤ بيا د کنعان غريزی علاقی ته ورننوځئ. ۱۸ وې ګورئ چې هغه څهٔ رنګه وطن دے، چې کُوم خلق په کښې اوسېږی، هغوئ تکړه دی اؤ کهٔ کمزوری دی، لږ دی اؤ کهٔ ډېر دی. ۱۹ وې ګورئ چې هغه زمکه ښه ده اؤ کهٔ ښه نهٔ ده اؤ چې هغه خلق په خېمو کښې اوسېږی يا په داسې ښارُونو کښې اوسېږی چې دېوالُونه ترې نه تاؤ وی. ۲۰ وګورئ چې هغه زمکه زرخېزه اؤ کهٔ خواره ده اؤ ونې بُوټی په کښې شته اؤ کهٔ نشته. اؤ تکړه شئ چې هلته کُومه مېوه کېږی لږه ترې نه راوړئ.“ دا هغه مُوسم وو چې انګُور په پخېدو شروع وُو. ۲۱ نو هغه سړی د صحرا په طرف لاړل اؤ هغه وطن يې د صين صحرا نه واخله تر رِحوب پورې وکتلو، چې د حمات درې ته نزدې دے. ۲۲ هغوئ اول د هغه وطن جنُوبی برخې ته ننوتل اؤ حبرون ته راغلل، چرته چې د اخيمان، سيسی اؤ تلمی قبيلې اوسېدلې چې هغوئ عناقيان وُو اؤ د دېوانو د نسل اولاد وو. حبرون د مِصری ښار ضعن نه اووهٔ کاله مخکښې آباد کړے شوے وو. ۲۳ هغوئ د انګُورو غُنچئ وادئ ته راغلل اؤ هلته هغوئ يوه څانګه راماته کړه چې د انګُورو يوه غُنچه ورباندې وه اؤ دومره درنه وه چې دا دوو سړو په يو ډانګ باندې يو خوا بل خوا راځوړنده کړه اؤ يو يې وړله. هغوئ څهٔ انار اؤ اينځر هم يوړل. ۲۴ په هغه وادئ باندې ”د انګُورو غُنچه“ نُوم کېښودے

شړو ځکه چې بنی اِسرائيلو هلته د انګُورو غُنچه شُوکولې وه. ۲۵ هغه وطن د څلوېښتو ورځو د کتلو نه پس، جاسُوسان راواپس شول ۲۶ اؤ مُوسیٰ، هارُون اؤ د بنی اِسرائيلو ټول قوم ته د فاران په صحرا کښې قادِس ته راغلل. جاسُوسانو هغه خبر ورله راوړو چې څۀ يې ليدلی وُو اؤ هغه مېوه يې ورته وښودله چې کُومه يې راوړې وه. ۲۷ هغوئ مُوسیٰ ته ووئيل، "مُونږ هغه وطن وکتلو چې زرخېز اؤ آباد وو اؤ دا يې لږه شان مېوه ده. ۲۸ خو د هغه ځائ اوسېدُونکی تکړه دی اؤ د هغوئ ښارونه غټ دی اؤ د ښارُونو نه يې دېوالُونه تاؤ دی. اؤ د دې نه علاوه، مُونږ هلته د دېوانو اولاد هم وليدو. ۲۹ عمالقيان د هغه وطن په صحرا کښې اوسېږی، حِتيان، يبوسيان اؤ اموريان د غرُونو په وطن کښې اوسېږی، اؤ کنعانيان د مديتران سمندر اؤ د اُردن سيند سره اوسېږی." ۳۰ کالب هغه خلق غلی کړل کُومو چې د مُوسیٰ خِلاف شکايتُونه کول اؤ وې وئيل، "راځئ چې په هغه وطن حمله وکړُو اؤ وې نيسُو، ځکه مُونږ ښۀ تکړه يُو او ورباندې برے مُوندے شُو." ۳۱ خو هغه سړو ووئيل کُوم چې د کالب سره تلی وُو، "نه! مُونږ تکړه نۀ يُو چې حمله ورباندې وکړُو، هغه خلق زمُونږ نه زيات طاقتور دی." ۳۲ نو هغوئ د بنی اِسرائيلو په مېنځ کښې د هغه وطن په باره کښې غلط خبر خور کړو کُوم چې هغوئ ليدلے وو. هغوئ ووئيل، "په هغه وطن کښې دومره څۀ هم نۀ پيدا کېږی چې د هغه ځائ اوسېدُونکی خلق يې وخوری. کُوم خلق چې مُونږ وليدل ټول لوړ لوړ وُو، ۳۳ اؤ هلته مُونږ دېوان هم وليدل، چې د عناق اولاد دے. مُونږ ته خپل ځانُونه داسې معلُومېدل لکه چې ملخان يُو اؤ مُونږ به هغوئ ته خامخا هم داسې ښکارېدلُو."

## د خلقو شکايتُونه کول

# ١٤

١ بيا ټوله شپه خلقو په چغو چغو وژړل. ٢ هغوئ د
مُوسىٰ اؤ هارُون خِلاف شکايت وکړو اؤ وې وئيل، ”دا
به ډېره ښه وے چې د مِصر په وطن کښې يا په هغه صحرا کښې
مړۀ وے! ٣ مالِک خُدائ مُونږ هغه وطن ته ولې بوځى؟ مُونږ به
په جنګ کښې ووژولے شُو اؤ زمُونږ ښځې اؤ بچى به ونيولے شى.
دا به ښه نۀ وى څۀ چې واپس مِصر ته لاړ شُو؟“ ٤ نو هغوئ يو
بل ته ووئيل، ”راځئ! چې يو مشر خوښ کړُو اؤ مِصر ته واپس
لاړ شُو.“ ٥ بيا مُوسىٰ اؤ هارُون د هغه خلقو په وړاندې زمکې ته
ټيټ شول. ٦ اؤ د نون زوئ يشوَع اؤ کالب د يفُنه زوئ هغه دوه
کسانو چې هغوئ هغه وطن کتلے وو، هغوئ د خفګان نه خپلې
جامې وشلولې ٧ اؤ خلقو ته يې ووئيل، ”کُوم وطن چې مُونږ وکتلو
هغه ډېر زيات ښۀ وطن دے. ٨ کۀ مالِک خُدائ زمُونږ نه رضا
وى نو هغه به مُونږ هلته بوځى، هغه وطن ته چې زرخيز اؤ آباد
وى او مونږ له به يې راکړى. ٩ د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت مۀ
کوئ اؤ د هغه خلقو نه مۀ يرېږئ کُوم چې هلته اوسېږى. هغوئ له
شکست ورکول مُونږ ته آسان دى. مالِک خُدائ زمُونږ مل دے اؤ
هغه خُدايانو له يې شکست ورکړے دے چې هغوئ يې بچ کول،
نو مۀ يرېږئ.“ ١٠ ټول قوم وئيل چې هغوئ به سنګسار کړى، خو
ناڅاپه خلقو وليدل چې د مالِک خُدائ د حضُور سپين جلال د
خېمې د پاسه راڅرګند شو.

## د حضرت مُوسىٰ د خلقو د پاره دُعا کول

١١ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”دا خلق به تر کُومې پورې زما
نه نفرت کوى؟ اؤ په ما باندې به اعتماد نۀ کوى، اګرچې د هغوئ
په مينځ کښې ما ډېرې مُعجزې کړې دى؟ ١٢ زۀ به په هغوئ وبا
راولم اؤ هلاک به يې کړم، خو زۀ به تا د يو داسې قوم پلارنيکۀ جوړ
کړم چې هغه به د دې خلقو نه لوئ اؤ طاقتور وى!“ ١٣ خو مُوسىٰ
مالِک خُدائ ته ووئيل، ”تا د خپل طاقت سره دا خلق د مِصر نه
راوويستل. کله چې مِصريان خبر شى چې تا د خپلو خلقو سره څۀ
کړى دى، ١٤ نو هغوئ به د دې وطن اوسېدُونکو ته ووائى چا چې
د مخکښې نه اؤرېدلى دى چې مالِکه خُدايه! تۀ زمُونږ مل يې، کله
چې ستا وريځ زمُونږ د پاسه ولاړه وى نو تۀ مخامخ ښکارېږې اؤ چې
تۀ زمُونږ په مخکښې د ورځې د وريځې په ستن کښې اؤ د شپې د
اور په ستن کښې ځې. ١٥ اوس کۀ تۀ خپل ټول خلق ووژنې، نو چې
کُومو قومُونو ستا په باره کښې اؤرېدلې دى نو هغوئ به ووائى ١٦ چې
تا خپل خلق په صحرا کښې ووژل ځکه چې ستا طاقت نۀ وو چې
هغوئ هغه وطن له بوځې چې تا د ورکولو وعده کړې ده. ١٧ نو
اوس مالِکه خُدايه! زۀ سوال کوم چې مُونږ ته خپل طاقت اؤ هغه څۀ
وښايه چې تا يې د ورکولو وعده کړې ده، کله چې تا ووئيل، ١٨ زۀ،
مالِک خُدائ په آسانئ سره نۀ غُصه کېږم اؤ زۀ نۀ ختمېدُونکې مينه
اؤ وفادارى ښايم اؤ زياتے اؤ بغاوت معاف کوم. خو چې څوک ګُناه
کوى نو د هغوئ د ګُناه سزا به د دريم اؤ څلورم نسل پورې جارى

وی. ۱۹ اؤ اوس مالِکه خُدایه! زۀ تا ته سوال کوم چې د خپلې نۀ بدلېدُونکې مينې په مُطابق د دې خلقو ګُناه معاف کړه، هم هغه شان چې هغوئ د مِصر نه راوتل اؤ تر اوسه پورې يې معاف کوې.“ ۲۰ مالِک خُدائ ورته ووئيل، ”ستا د وينا په مُطابق هغوئ ما معاف کړل. ۲۱ خو زۀ دا وعده کوم چې بې‌شکه چې زۀ څنګه ژوندے يم اؤ چې څنګه زما د جلال نه زمکه ډکېږی، ۲۲ د دې خلقو نه يو کس به هم هغه وطن ته ورننه نۀ وځی. هغوئ زما د حضُور د سپين جلال هغه مُعجزې هم ليدلې دی چې ما په مِصر کښې اؤ په صحرا کښې کړې دی، خو هغوئ بيا بيا زما د صبر اِمتحان اخستلے دے اؤ زما د منلو نه يې اِنکار کړے دے. ۲۳ هغوئ به هيڅ کله هم هغه وطن ته دننه نۀ شی د کُوم چې ما د هغوئ د پلارنيکۀ سره لوظ کړے دے. هغه هيڅ څوک به هم ورننه نۀ وځی چا چې زما سپکاوے کړے دے. ۲۴ خو زما خِدمت‌ګار کالب د نورو په شان نۀ دے اؤ هغۀ په پُوره توګه زما فرمانبرداری کړې ده، زۀ به دې هغه وطن له راولم کُوم چې هغۀ ليدلے دے اؤ هغه وطن به د هغۀ د اولاد شی ۲۵ چې په کُومو واديانو کښې اوس عمالقيان اؤ کنعانيان اوسېږی. سبا واپس په صحرا کښې د سُور درياب طرف ته روان شئ.“

## د شکايتُونو په وجه د مالِک خُدائ خلقو له سزا ورکول

۲۶ مالِک خُدائ مُوسیٰ اؤ هارُون ته ووئيل، ۲۷ ”دا خراب خلق به تر کُومې پورې زما خِلاف شکايت کوی؟ ما دا شکايتُونه ډېر زيات اؤرېدلی دی! ۲۸ اوس هغوئ له دا جواب ورکړه: زۀ ژوندے مالِک

خُدائ دا قسم کوم، چې زهٔ به ستاسو د پاره هم هغه شان وکړم چې څنګه تاسو وئيلی دی. ۲۹ تاسو به مړهٔ شئ اؤ ستاسو لاشُونه به په صحرا کښې خوارهٔ وارهٔ پراتهٔ وی. ځکه چې تاسو زما خِلاف شکايت کړے دے، د ستاسو يو کس به هم هغه وطن ته ورننه نهٔ وځی چې عُمر يې د شلو کالو نه زيات وی. ۳۰ ما دا وعده کړې وه چې تاسو به هلته اوسېږئ، خو د کالب اؤ يشوَع نه بغېر به هيڅ څوک هم نهٔ ورننه وځی. ۳۱ تاسو وئيلی وُو چې ستاسو ماشُومان به ونيولے شی، خو زهٔ به هغوئ هغه وطن ته راولم چې تاسو يې مُخالفت کړے دے. ۳۲ تاسو به دلته په دې صحرا کښې مړهٔ شئ. ۳۳ ستاسو بچی به څلوېښت کاله په صحرا کښې سرګردانه ګرځی، ستاسو د نافرمانئ په وجه به کړېږی، تر دې پورې چې ستاسو آخری کس هم مړ شی. ۳۴ تاسو ته به څلوېښت کاله د خپلو بدو سزا ملاوېږی، د هغه څلوېښتو ورځو د هرې ورځې د پاره به يو کال وی کُومې چې تاسو د هغه وطن په کتلو کښې تېرې کړې دی. تاسو ته به پته ولګې چې زهٔ ستاسو خِلاف يم! ۳۵ بې‌شکه چې زهٔ به تاسو خرابو خلقو سره داسې وکړم چې زما خِلاف راغونډ شوی يئ، په دې صحرا کښې به تاسو تباه شئ. زهٔ، مالِک خُدائ دا وايم.“

۳۶ - ۳۷ مُوسىٰ چې کُوم سړی د هغه وطن کتلو له لېږلی وُو چا چې غلط خبر راوړو چې د هغې په وجه خلقو د مالِک خُدائ خِلاف شکايت وکړو، نو مالِک خُدائ په دې جاسُوسانو باندې وبا راوستله اؤ هغوئ مړهٔ شول. ۳۸ په هغه دولسو جاسُوسانو کښې صِرف يشوَع اؤ کالب ژوندی پاتې شول.

## د وطن د نيولو وړومبے کوشش

**(د ګردان کِتاب ۱: ۴۱-۴۶)**

۳۹ کله چې مُوسىٰ بنى اِسرائيلو ته هغه څۀ ووئيل چې مالِک خُدائ وئيلى وُو، نو هغوئ ډېر غمژن شول. ۴۰ بل سحر وختى هغوئ د غرُونو وطن ته روان شول، هغوئ ووئيل، "اوس به مُونږ هغه وطن ته لاړ شُو چې د کُوم په باره کښې مالِک خُدائ مُونږ ته وئيلى دى. مُونږ دا منُو چې مُونږ ګُناه کړې ده." ۴۱ خو مُوسىٰ ورته ووئيل، "نو تاسو ولې د مالِک خُدائ نافرمانى کوئ؟ تاسو به کامياب نۀ شئ! ۴۲ تاسو مۀ ځئ. مالِک خُدائ ستاسو مل نۀ دے اؤ ستاسو دُښمنان به تاسو له شکست درکړى. ۴۳ کله چې تاسو د عماليقيانو اؤ کنعانيانو سره مخامخ شئ، نو تاسو به په جنګ کښې ووژلے شئ، مالِک خُدائ به ستاسو مل نۀ وى، ځکه چې تاسو د هغۀ د فرمانبردارۍ نه اِنکار کړے دے." ۴۴ خو هغوئ زړَور روان وُو چې د غرُونو وطن ته وخېژى، اګرچې نۀ د مالِک خُدائ د تړون صندُوق اؤ نۀ مُوسىٰ د خېمو نه ورسره تلے وو. ۴۵ بيا عمالقيان اؤ کنعانيان لاندې راغلل کُوم چې هلته اوسېدل اؤ بنى اِسرائيلو له يې شکست ورکړو اؤ د حرماه پورې ورپسې وُو.

## د قُربانۍ په باره کښې قانُون

**۱۵** ۱ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل ۲ چې بنى اِسرائيلو ته دا اصُول وښايه چې په هغه وطن کښې پرې عمل کوى کُوم يې چې هغوئ له ورکولو. ۳ يو غوَيے، ګډه، يا يو چېلے مالِک

خُدائ ته د سوزېدُونکې نذرانې په توګه يا د يوې منختې د پُوره کولو د نذرانې، يا د رضاکارانه نذرانې يا د ستاسو په مُقررو اخترُونو کښې د يوې نذرانې په توګه پېش کولے شى، د دې نذرانو بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې. ۴-۵ هر څوک چې يو ګډه يا چېلے مالِک خُدائ ته د سوزېدُونکې نذرانې په توګه پېش کوى نو هغه به د دې هر يو څناور سره يو کيلو اوړهٔ راوړى چې د زيتُونو تېل ورسره ګډ وى، دا به د غلې نذرانې په توګه وى، يو ليټر به د انګُورو شراب ورسره هم وى. ۶ کله چې يو ګډ پېش کېږى، نو دوه کيلو اوړهٔ چې يو نيم ليټر د زيتُونو تېل ورسره ګډ وى، دا به د غلې نذرانې په توګه پېش کېږى، ۷ يو نيم ليټر د انګُورو شراب به ورسره هم وى. د دې نذرانې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې. ۸ کله چې يو غوَيے د سوزېدُونکې نذرانې په توګه يا د يوې منختې پُوره کولو د نذرانې يا د سلامتۍ د نذرانې په توګه مالِک خُدائ ته پېش کېږى، ۹ د درې کيلو اوړو د غلې يوه نذرانه به پېش کېږى چې دوه ليټره د زيتُونو تېل ورسره ګډ وى، ۱۰ دوه ليټره د انګُورو شراب به ورسره هم وى. د دې نذرانې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې. ۱۱ دا هغه څهٔ دى چې د هر يو غوَيى، ګډ، ګډُورى، يا چېلۍ سره به پېش کولے شى. ۱۲ د څناورو د شمېر په مُطابق به د دې څيزُونو مِقدار هم زياتولے شى. ۱۳ د وطن ټول اصلى پېدائشى خلق چې کله يوه په اور تيارېدُونکې نذرانه پېش کوى نو هغوئ به داسې کوى، د دې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې. ۱۴ اؤ کهٔ ستاسو په مېنځ کښې د بل وطن کس وى، کهٔ هغه د لږ وخت يا د ډېر وخت د پاره اوسېدُونکے

وی، نو هغه به په اور تيارېدُونکې نذرانه پېش کوی، د دې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې، نو هغوئ به هم هغه شان اصُول منی.
۱۵ په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې، تاسو اۆ ستاسو سره اوسېدُونکی د بل وطن خلق به دا اصُول منی. تاسو اۆ هغوئ د مالِک خُدائ په نظر کښې يو شان يئ، ۱۶ ستاسو اۆ د هغوئ د پاره به يو شان قانُون اۆ اصُول وی. ۱۷ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل ۱۸ چې بنی اِسرائيلو ته دا اصُول وښايه چې په هغه وطن کښې پرې عمل کوی کُوم چې مالِک خُدائ هغوئ له ورکولو. ۱۹ کله چې تاسو د هغه وطن د فصل نه خوراک کوئ، د هغې نه به څهٔ برخه مالِک خُدائ ته د خاص برخې په توګه پېش کولے شی. ۲۰ کله چې تاسو ډوډئ پخوئ، نو د نوې غلې د وړومبئ پېړې ډوډئ به مالِک خُدائ ته د خاص برخې په توګه پېش کولے شی. دا به هم هغه شان پېش کولے شی چې څنګه تاسو په درمن کښې صفا شوې غله د خاص برخې په توګه پېش کوئ. ۲۱ په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې، تاسو چې کُومه ډوډئ پخوئ نو دا نذرانه به مالِک خُدائ له ورکوئ. ۲۲ خو کهٔ څوک په غلطئ سره په دې اصُولو باندې عمل کولو کښې ناکام شی کُوم چې مالِک خُدائ مُوسیٰ له ورکړی دی، ۲۳ اۆ فرض کړئ کهٔ راتلُونکی نسلُونه په دې هر څهٔ کولو کښې ناکام شی چې مالِک خُدائ يې د مُوسیٰ په ذريعه حُکم کړے دے، ۲۴ کهٔ يوه داسې غلطی شوې وی چې قوم ته پته نهٔ وی لګېدلې، نو هغوئ به يو غوَيے د سوزېدُونکې نذرانې په توګه پېش کړی، د دې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې، دا به د معياری غلې نذرانې اۆ د څښلو نذرانې سره پېش کېږی.

د دې نه علاوه، هغوئ به يو چېلے د ګُناه نذرانې په توګه هم پېش کوى. ۲۵ اِمام به د قوم د پاره کفاره ادا کړى اؤ هغوئ به معاف کړے شى، ځکه چې هغه کار په غلطئ سره شوے وو اؤ هغوئ خپله د ګُناه نذرانه په اور تيارېدُونکې نذرانې په توګه مالِک خُدائ ته راؤړله. ۲۶ نو د بنى اِسرائيلو ټول قوم اؤ د هغوئ سره اوسېدُونکى د پردى وطن خلق به معاف کړے شى، ځکه چې ټول په دې غلطئ کښې شامِل وُو. ۲۷ کۀ يو کس په غلطئ سره ګُناه وکړى، نو هغه به د يو کال چېلئ د ګُناه نذرانې په توګه پېش کوى. ۲۸ اِمام به په قُربانګاه باندې د هغه کس د پاره کفاره ادا کړى، چا چې په غلطئ سره ګُناه کړې وى اؤ هغه به معاف شى. ۲۹ دا اصُول د هغه هر چا د پاره يو شان دى چې څوک په غلطئ سره ګُناه وکړى، کۀ هغه په حقيقت کښې بنى اِسرائيلے وى يا د هغوئ سره اوسېدُونکے د پردى وطن کس وى. ۳۰ خو کۀ يو کس د قصده ګُناه وکړى، کۀ هغه د خپل وطن يا د پردى وطن وى، نو د ګُناه په وجه هغۀ د مالِک خُدائ بې عِزتى کړې ده اؤ هغه به وژلے شى، ۳۱ ځکه چې هغۀ د مالِک خُدائ د وېنا سپکاوے کړے دے اؤ قصداً يې د هغۀ يو حُکم مات کړے دے. نو هغه د خپل مرګ په خپله ذِمه وار دے.

## د سبت ورځې د نۀ منلو د پاره سزا

۳۲ کله چې بنى اِسرائيل لا په صحرا کښې وُو، نو يو سړے وليدے شو چې د سبت په ورځ يې خشاک راټولولو. ۳۳ نو هغه مُوسىٰ، هارُون اؤ ټول قوم ته راوستلے شو، ۳۴ اؤ قېد کړے شو، ځکه چې دا پته نۀ وه

چې د هغهٔ سره څهٔ وکړے شی. ۳۵ نو مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ”هغه سړے دې خامخا ووژلے شی، ټول قوم به هغه د خېمو نه بهر سنګسار کړی.“ ۳۶ نو ټول قوم هغه د خېمو نه بهر بوتلو اؤ سنګسار یې کړو، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو.

## په جامو د ځوړندو مزو په باره کښې قانُون

۳۷ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ۳۸ چې بنی اِسرائیلو ته ووایه: د خپلو جامو په ګوټُونو باندې مزی راځوړند کړئ اؤ په هر یو مزی باندې یې یو د آسمانی رنګ تار ولګوئ. داسې به تاسو په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې کوئ. ۳۹ چې هر کله هم تاسو دا مزی ګورئ نو تاسو ته به زما ټول حُکمونه دریادېږی اؤ عمل به پرې کوئ، نو تاسو به زما نه نهٔ اوړئ اؤ د خپلو سترګو اؤ زړهٔ په خواهِشُونه پسې به نهٔ ګرځئ. ۴۰ هغه مزی به تاسو ته دا دریادوی چې زما ټول حُکمونه منئ اؤ تاسو به په پُوره توګه زما یئ. ۴۱ زهٔ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یم، ما تاسو د مِصر وطن نه راوویستلئ چې ستاسو خُدائ پاک یم. زهٔ مالِک خُدائ یم.“

## د قورح، داتن اؤ ابیرام بغاوت

١٦ ۱-۲ د اِضهار زوئ قورح، چې د قُهاتیانو د قبیلې لیوے وو، هغهٔ د مُوسیٰ د مشرئ خِلاف بغاوت وکړو. د روبین قبیلې نه یې درې سړی رابېل کړل: داتن، ابیرام، چې د اِلیاب زامن وُو اؤ اُون چې د پلت زوئ وو اؤ ورسره دوه نیم سوه نور بنی اِسرائیل

هم وُو، دا مشهُور مشران چې قوم خوښ کړی وُو. ٣ هغوئ د مُوسیٰ
اؤ هارُون په مخکښې رابېل شول اؤ ورته يې ووئيل، ”تاسو د حد
نه تېر شوی يئ! ټول قوم د مالِک خُدائ مُقدس خلق دی اؤ مالِک
خُدائ زمُونږ د ټولو مل دے. نو، مُوسیٰ! تۀ ولې د مالِک خُدائ د
قوم نه ځان اُوچت ګڼې؟“ ٤ کله چې مُوسیٰ دا واؤرېدل، نو هغه د
خفګان نه پړمخې پرېوتو. ٥ اؤ قورح اؤ د هغۀ ملګرو ته يې ووئيل،
”مالِک خُدائ به سبا سحر مُونږ ته وښائی چې څوک د هغۀ دی اؤ
څوک مُقدس دی. اؤ هغه به صِرف هغه کس خپل ځان ته نزدې
پرېږدی چې کُوم يې خوښ کړے وی. ٦-٧ سبا سحر تۀ اؤ ستا
ملګری د اور وړلو لوښی واخلئ، بل سکارۀ په کښې واچوئ اؤ په
هغې باندې د خوشبويۍ مصالحې واچوئ اؤ قُربان‌ګاه ته يې يوسئ.
بيا به مُونږ وګورُو چې زمُونږ نه مالِک خُدائ څوک خوښ کړی دی.
تاسو ليويان د حد نه تېر شوی يئ!“ ٨ مُوسیٰ قورح ته ووئيل، ”اے
ليويانو، واورئ! ٩ تاسو دا وړه خبره ګڼئ چې د اِسرائيليانو خُدائ
پاک تاسو د نور قوم نه جُدا کړی يئ، چې تاسو هغۀ ته نزدې شئ،
د مالِک خُدائ په خېمه کښې خِدمت وکړئ اؤ چې د قوم مدد اؤ
خِدمت وکړئ؟ ١٠ هغۀ تاسو اؤ نورو ليويانو ته دا عِزت درکړے دے
اؤ اوس تاسو دا وايئ چې د هغۀ اِمامان هم شئ! ١١ کله چې تاسو د
هارُون خِلاف غورېږئ، دا په حقيقت کښې د مالِک خُدائ خِلاف
غورېدل دی اؤ دا ستا اؤ ستا د ډلې سرکشی ده.“ ١٢ بيا مُوسیٰ داتن
اؤ ابيرام راوغوښتل، خو هغوئ ووئيل، ”مُونږ نۀ درځُو! ١٣ دا څۀ
وړه خبره ده چې مُونږ تا د هغه زرخېز اؤ آباد وطن نه د دې د پاره

راویستلی یُو چې په دې صحرا کښې مو ووژنې؟ ته په مُونږ باندې رُعب اچول غواړې څۀ؟ ¹⁴ بله دا چې تا هغه وطن ته هم رانۀ وستلُو چې زرخېز اؤ آباد دے اؤ نۀ دې پټی اؤ د انګُورو باغُونه راکړل چې زمُونږ شی. دا خلق ړاندۀ دی څۀ چې نۀ پوهېږی؟ مُونږ نۀ درځُو!" ¹⁵ مُوسیٰ ډېر غُصه شو اؤ مالِک خُدائ ته یې ووئیل، "د دوئ نذرانې مۀ قبلوه. ما دوئ یو له هم څۀ تکلیف نۀ دے ورکړے، اؤ ما د دوئ نه چرته د خر یو بچے هم نۀ دے بوتلے." ¹⁶ مُوسیٰ قورح ته ووئیل، "سبا به ته اؤ ستا دوه نیم سوه ملګری خامخا د مالِک خُدائ د حضُور خېمې ته راشئ، اؤ هارُون دې هم راشی. ¹⁷ د ستاسو هر یو کس به خپل د اور لوښے واخلی، د خوشبویۍ مصالحه به په کښې واچوی اؤ بیا به یې په قُربان‌ګاه باندې پېش کړی." ¹⁸ نو هر یو کس خپل د اور لوښے واخستلو، ژوندی سکارۀ اؤ د خوشبویۍ مصالحه یې په کښې واچوله اؤ د مُوسیٰ اؤ هارُون سره د خېمې د دروازې په خُله کښې ودرېدل. ¹⁹ بیا قورح ټول قوم راغونډ کړو اؤ هغوئ د خېمې د دروازې په خُله کښې مُوسیٰ اؤ هارُون ته مخامخ ودرېدل. ناڅاپه د مالِک خُدائ د حضُور سپین جلال ټول قوم ته راښکاره شو، ²⁰ اؤ مالِک خُدائ مُوسیٰ اؤ هارُون ته ووئیل، ²¹ "تاسو د دې خلقو نه لرې شئ، چې سمدستی یې تباه کړم." ²² خو مُوسیٰ اؤ هارُون پړمخې پرېوتل اؤ وې وئیل، "خُدایه پاکه! ټولو خلقو له ژوند تۀ ورکوې. کله چې یو کس ګُناه وکړی، نو تۀ ټولو ته په قهر کېږې څۀ؟" ²³ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، ²⁴ "خلقو ته ووایه چې د قورح، داتن اؤ ابیرام د خېمو نه لاړ شی." ²⁵ بیا مُوسیٰ داتن اؤ ابیرام

له روان شو اؤ د اِسرائيليانو مشران هم ورسره شول. ٢٦ هغهٔ خلقو ته
ووئيل، "د دې خرابو سړو د خېمو نه لرې اوسئ اؤ چې د هغوئ يو
څيز له هم لاس ورنهٔ وړئ. ګنی، د هغوئ د ټولو ګُناهونو په وجه به
تباه شئ." ٢٧ نو هغوئ د قورح، داتن اؤ د ابيرام د خېمو نه لاړل.
داتن اؤ ابيرام بهر راوتلی وُو اؤ د خپلو خېمو د دروازو په خُلو کښې،
د خپلو ښځو سره، د خپلو بچو اؤ د خپلو وړو ماشُومانو سره ولاړ وُو.
٢٨ مُوسیٰ خلقو ته ووئيل، "نو داسې به تاسو ته پته ولګې چې مالِک
خُدائ زهٔ د دې د پاره رالېږلے يم چې دا ټول کارُونه وکړم اؤ چې ما
څهٔ هم کړی دی نو هغه مې د ځان نه نهٔ دی کړی. ٢٩ کهٔ دا سړی
د خُدائ پاک د سزا نه بغېر په خپل مرګ مړهٔ شی، نو بيا به مالِک
خُدائ زهٔ هم نهٔ يم رالېږلے. ٣٠ خو کهٔ مالِک خُدائ يو لوئ عجيبه
کار وکړی اؤ زمکه وشلېږی اؤ هغوئ تېر کړی، چې هغوئ قبر ته
ژوندی لاړ شی، نو تاسو ته به پته ولګې چې دې سړو د مالِک خُدائ
سپکاوے کړے دے." ٣١ هغهٔ چې څنګه خبرې ختمې کړې، نو د
داتن اؤ ابيرام لاندې زمکه وشلېدله، ٣٢ هغوئ يې تېر کړل، د هغوئ
کورنئ، سره د قورح د ټولو ملګرو اؤ چې هغوئ څهٔ لرل هغه يې
هم تېر کړل. ٣٣ نو هغوئ قبر ته ژوندی لاندې لاړل، سره د هغه
هر څهٔ چې هغوئ لرل. زمکه په هغوئ باندې رابنده شوه اؤ هغوئ
فنا شول. ٣٤ هلته چې څومره اِسرائيليان وُو هغوئ چې کله د هغوئ
ژړا واؤرېدله نو هغوئ وتښتېدل. هغوئ چغې وهلې، "تښتئ! زمکه
به مُونږ هم تېر کړی." ٣٥ بيا مالِک خُدائ يو اور رالېږلو اؤ هغه
دوه نيم سوه سړی يې وسوزول کُومو چې خوشبوئی پېش کړې وه.

## د سرکشۍ د پاره کفاره

۳۶ بيا مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ۳۷ ”د هارُون اِمام زوئ اِلعازر ته ووايه چې کُوم سړی سوزېدلی دی چې د هغوئ د اور لوښی لرې کړی اؤ هغه سکارۀ دې د اور لوښو نه لرې لرې وولی، ځکه چې د اور لوښی مُقدس دی. ۳۸ کله چې دا لُوښی د مالِک خُدائ په قُربان‌ګاه باندې پېش کېدل نو مُقدس شول. نو د دې سړو د اور لوښی واخله کُوم چې د خپلې ګُناه په وجه مړۀ شوی دی، وې ټکوه چې نری نری پترۍ شان ترې نه جوړ کړه اؤ د قُربان‌ګاه پټولو د پاره سر ترې نه جوړ کړه. دا به د بنی اِسرائيلو د پاره د خبردارۍ يوه نښه وی.“ ۳۹ نو اِلعازر اِمام د اور لوښی واخستل اؤ د ټکولو د پاره يې ورکړل، د قُربان‌ګاه د پټولو د سر د پاره نری نری پترۍ ترې نه جوړ کړے شول. ۴۰ دا د بنی اِسرائيلو د پاره يو خبردارے وو چې څوک د هارُون اولاد نۀ وی نو بل غېر سړے به قُربان‌ګاه ته نزدې نۀ راځی د دې د پاره چې مالِک خُدائ ته خوشبوئی وسوزوی. ګنی هغه به د قورح اؤ د هغۀ د سړو په شان تباه شی. دا هر څۀ هم هغه شان وشول چې څنګه مالِک خُدائ اِلعازر له د مُوسىٰ په ذريعه حُکم ورکړے وو.

## د حضرت هارُون خلق بچ کول

۴۱ خو په ورپسې ورځ ټول قوم مُوسىٰ اؤ هارُون ته وغورېدو اؤ وې وئيل، ”تاسو د مالِک خُدائ خلق وژلی دی.“ ۴۲ د هغې نه پس کله چې هغوئ ټول د مُوسىٰ اؤ هارُون خِلاف راغونډ شوی وُو، چې هغوئ

د خېمې طرف ته وکتل نو وې ليدل چې ورېځې خېمه پټه کړې وه اؤ
د مالِک خُدائ د حضُور سپين جلال راڅرګند شوے وو. ۴۳ مُوسىٰ
اؤ هارُون لاړل اؤ د خېمې په مخکښې ودرېدل، ۴۴ اؤ مالِک خُدائ
مُوسىٰ ته ووئيل، ۴۵ "د دې خلقو نه لرې شه اؤ زۀ سمدستى هغوئ
تباه کوم!" خو مُوسىٰ اؤ هارُون پړمخې پرېوتل، ۴۶ اؤ مُوسىٰ هارُون
ته ووئيل، "خپل د اور لوښے واخله، د قُربانګاه نه په کښې ژوندى
سکارۀ واچوه اؤ په سکارو باندې لرۀ خوشبوئى واچوه. بيا خلقو له په
منډه لاړ شه اؤ د هغوئ د پاره کفاره ادا کړه. شا به زر شه! مالِک
خُدائ په قهر دے اؤ تباهى د مخکښې نه شروع شوې ده." ۴۷ هارُون
ته چې څنګه وئيلے شوى وُو هم هغه شان يې وکړل، خپل د اور لوښے
يې واخستلو اؤ د راغونډو خلقو مېنځ ته يې ورمنډه کړه. کله چې هغۀ
وليدل چې تباهى شروع وه، نو هغۀ خوشبوئى په سکارو واچوله اؤ د
خلقو د پاره يې کفاره ادا کړه. ۴۸ هغه د مړو اؤ ژوندو په مېنځ کښې
ودرېدلو اؤ تباهى بس شوه. ۴۹ کُوم خلق چې مړۀ شول هغوئ په شمېر
کښې څوارلس زره اؤ اووۀ سوه کسان وُو، دا د هغې نه علاوه وُو کُوم
چې د قورح په سرکشى کښې مړۀ شوى وُو، ۵۰ کله چې تباهى بس
شوه، نو هارُون د خېمې د دروازې په خُوله کښې مُوسىٰ ته راواپس شو.

## د حضرت هارُون امسا

**۱۷**
۱ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل چې، ۲ "بنى اِسرائيلو
ته ووايه چې تا له دولس امساګانې درکړى چې د هرې
قبيلې د مشر نه يوه يوه وى. د هر سړى نُوم د هغۀ په امسا باندې

وليکه ۳ اؤ په يوه امسا باندې د هارُون نُوم وليکه چې کُومه د ليوى
قبيلې د پاره وى، چې د هرې ليوى قبيلې د مشر د پاره يوه يوه امسا
وى. ۴ دا امساګانې زما د حضُور خېمې ته يوسه اؤ د تړون صندُوق
په مخکښې يې کېږده، چرته چې زۀ ستا سره مِلاوېږم. ۵ بيا چې ما
کُوم سړے خوښ کړے وى نو د هغۀ امسا به زرغُونه شى اؤ زۀ به
د بنى اِسرائيلو، ستا خِلاف دا هر وخت غوربېدل بند کړم.“ ۶ نو
مُوسىٰ بنى اِسرائيلو ته ووئيل چې داسې وکړئ اؤ د هغوئ هر يو مشر
هغۀ له يوه امسا ورکړه، چې د هرې قبيلې د پاره يوه يوه وه، دا ټولې
دولس وې اؤ په دې دولسو امساګانو کښې يوه امسا د هارُون وه.
۷ بيا مُوسىٰ هغه ټولې امساګانې په خېمه کښې د مالِک خُدائ د
تړون صندُوق په مخکښې کېښودې. ۸ په ورپسې ورځ، کله چې
مُوسىٰ خېمې ته دننه لاړو، نو هغۀ د هارُون امسا وليده چې د ليوى
د پاره وه، هغه زرغُونه شوې وه، دې غوټۍ اؤ ګلُونه کړى وُو اؤ پاخۀ
بادام يې نيولى وُو. ۹ مُوسىٰ ټولې امساګانې يوړې اؤ بنى اِسرائيلو
ته يې وښودلې، هغوئ ورته وکتل اؤ هر يو مشر خپله امسا واپس
واخستله. ۱۰ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”د هارُون امسا واپس د
تړون صندُوق په مخکښې کېږده. باغيانو بنى اِسرائيلو ته به دا د نښې
په توګه کېښودلے شى، کۀ د هغوئ غوربېدل بند نۀ شى نو هغوئ
به مړۀ شى.“ ۱۱ مُوسىٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ
حُکم کړے وو. ۱۲ بنى اِسرائيلو مُوسىٰ ته ووئيل، ”مُونږ برباد يُو،
تباه يُو! ۱۳ چې څوک هم د مالِک خُدائ خېمې ته نزدې ورشى، نو
هغه به مړ شى، نو مُونږ خو ټول مرګِ حال يُو!“

## د اِمامانو اؤ ليويانو ذِمه وارئ

**١٨** ① مالِک خُدائ هارُون ته ووئيل، "تهٔ، ستا زامنو اؤ
ليويانو ته به خامخا د خپلو هغه بدو سزا مِلاؤ شی چې
د هغه جُرم تعلُق زما د حضُور خېمې د خِدمت سره وی، خو د
اِمامت په خِدمت کښې د څهٔ گُناه سزا به صِرف تا اؤ ستا زامنو
ته ملاوېږی. ② د ليوی قبيلې خپل خپلوان هم د ځان سره راوله،
چې ستا سره په کار کښې مدد وکړی، په هغه وخت کښې چې
تهٔ اؤ ستا زامن په خېمه کښې خِدمت کوی. ③ هغوئ به ستا اؤ د
خېمې د پاره خپلې ذِمه وارئ پُوره کوی، خو هغوئ به په مُقدس
ځائ کښې د مُقدس سامان سره يا د قُربان‌گاه سره کار نهٔ لری. کهٔ
هغوئ داسې وکړل، نو تهٔ اؤ هغوئ به ووژلے شئ. ④ هغوئ به تا
سره کار کوی اؤ په خېمه کښې به د خِدمت خپلې ټولې ذِمه وارئ
پُوره کوی، خو چې چا ته اِجازت نهٔ وی نو هغه کس به تا سره
خِدمت نهٔ شی کولے. ⑤ يواځې تهٔ اؤ ستا زامن به د مُقدس ځائ
اؤ د قُربان‌گاه ذِمه وارئ پُوره کوئ، نو داسې به زهٔ بيا بنی اِسرائيلو
ته نهٔ په قهر کېږم. ⑥ زهٔ هغه څوک يم چا چې ستا خپلوان ليويان
ستا د پاره د يوې تُحفې په توگه د بنی اِسرائيلو نه خوښ کړی دی.
هغوئ ما ته وقف دی، چې هغوئ په خېمه کښې خپلې ذِمه وارئ
تر سره کړی. ⑦ خو يواځې تهٔ اؤ ستا زامن به د اِمامت هغه ذِمه
وارئ پُوره کوئ کُومې چې د قُربان‌گاه اؤ د زيات مُقدس ځائ سره
تعلُق لری. دا ستاسو ذِمه وارئ دی، ځکه چې ما تاسو له د اِمامت

تُحفه درکړې ده. هر څوک چې حقدار نۀ وی اؤ نزدې راشی نو
هغه به ووژلے شی.“

## د اِمامانو برخه

۸ مالِک خُدائ هارُون ته ووئیل، ”ګوره! زۀ تا له زما ټولې خاص
برخې درکوم چې د نذرانو په توګه دې نۀ شی سوزولے. دا زۀ تا اؤ ستا
اولاد له درکوم چې د همېشه د پاره ستاسو په حواله وی. ۹ ډېرې
مُقدسې نذرانې کُومې چې په قُربان‌ګاه نۀ سوزولے کېږی، هغه ستاسو
دی: د غلې نذرانې، د ګُناه نذرانې، د تاوان نذرانې. هر هغه څیز چې
ما ته د مُقدسې نذرانې په توګه پېش کېږی هغه ستا اؤ ستا د زامنو
دے. ۱۰ تاسو به خامخا دا څیزُونه په یو مُقدس ځائ کښې خورئ اؤ
صِرف نران دا خوړلے شی، دا مُقدس وګڼئ. ۱۱ د دې نه علاوه، بنی
اِسرائیل چې نورې خاص برخې ما ته پېش کوی هغه به ستاسو وی. زۀ
دا د راتلُونکی ټولو وختُونو د پاره تا، ستا زامنو اؤ ستا لُوڼو له ورکوم.
ستا د کورنۍ هر یو کس چې پاک وی نو هغه دا خوړلے شی. ۱۲ زۀ د
وړومبی پېداوار بِهترینه حِصه تاسو له درکوم کُومه چې بنی اِسرائیل ما
ته هر کال پېش کوی: لکه د زیتُونو تېل، د انګُورو شراب اؤ غله دانه.
۱۳ دا هر څۀ ستاسو دی. د ستاسو د کورنۍ هر یو کس چې پاک وی
نو هغه یې خوړلے شی. ۱۴ په اِسرائیلیانو کښې چې هر څیز ما ته بغېر
د څۀ شرط نه وقف شوے وی نو هغه به ستاسو وی. ۱۵ هر یو وړومبے
پېدا شوے ماشُوم یا ځناور چې بنی اِسرائیل یې ما ته پېش کوی هغه
به ستاسو وی. خو تاسو به خامخا هر وړومبے پېدا شوے ماشُوم واپس

اخلئ اؤ هر وړومبے پېدا شوے ځناور به هم واپس اخلئ کُوم چې ناپاک وی. ١٦ چې ماشُومان د يوې مياشتې شی نو هغوئ به په مُقرر شوی قيمت يعنې په پينځو د سپينو زرو سيکو باندې واپس اخستلے شی، دا به د منلے شوی معيار په مُطابق وی. ١٧ خو د غواګانو، ګډو اؤ چېلو وړومبے پېدا شوے بچے به واپس نۀ شی اخستلے، دا په پُوره توګه زما وی اؤ دا به قُربانېږی. وينه يې په قُربانګاه باندې وشيندئ اؤ وازګه يې په اور تيارېدُونکې نذرانې په توګه وسوزوئ، د دې بُوئ په ما باندې ښۀ لګې. ١٨ د دې غوښه ستاسو ده، لکه د دې سينه اؤ د خاص نذرانې وروستنی خپه. ١٩ کُومې خاص برخې چې بنی اِسرائيل ما ته پېش کوی هغه زۀ په راتلُونکی ټولو وختُونو کښې تا، ستا زامنو اؤ ستا لُوڼو له ورکوم، دا يو نۀ ماتېدُونکے تړون دے چې ما تا اؤ ستا اولاد سره وکړو.“ ٢٠ مالِک خُدائ هارُون ته ووئيل، ”تا ته به هيڅ جائيداد نۀ ملاوېږی چې ستا ميراث شی اؤ د بنی اِسرائيلو وطن هيڅ حِصه به تا ته نۀ حواله کېږی. زۀ مالِک خُدائ، ستا د پاره کافی يم.“

## د ليويانو برخه

٢١ مالِک خُدائ ووئيل، ”ما ليويانو له هره لسمه حِصه ورکړې ده کُومه چې اِسرائيليان ما ته پېش کوی. دا د هغوئ د پاره زما د حضُور د خېمې د خِدمت کولو مزدُوری ده. ٢٢ نور به بنی اِسرائيل خېمې ته نۀ نزدې کېږی ګنی هغوئ به ځان له په خپله د مرګ سزا ورکوی. ٢٣ صِرف ليويان به د خېمې خيال ساتی اؤ د دې پُوره ذِمه واری به تر سره کوی. دا قانُون به د همېشه د پاره ستاسو د اولاد د

پاره هم وی. د اِسرائيليانو په وطن کښې به ليويانو ته هيڅ زمکه نۀ
ملاوېږی چې خپله يې شی، ۲۴ ځکه چې ما هغوئ له لسمه حِصه
ورکړې ده کُومه چې بنی اِسرائيل ما ته د خاص برخې په توګه پېش
کوی. نو دا ځکه ما هغوئ ته ووئيل چې د اِسرائيليانو په وطن کښې
به د هغوئ جائيداد نۀ وی.“

## د ليويانو لسمه حِصه

۲۵ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ۲۶ چې ليويانو ته ووايه: ”کله
چې تاسو د بنی اِسرائيلو نه لسمه حِصه اخلئ کُومه چې مالِک
خُدائ تاسو له درکوی، نو تاسو به د دې لسمه حِصه مالِک خُدائ
ته د خاص برخې په توګه پېش کوئ. ۲۷ دا خاص برخه به د هغې
نذرانې برابره ګڼلے شی کُومه نذرانه چې زميدار د نوی فصل اؤ د
نوی انګُورو شرابو نه پېش کوی. ۲۸ نو تاسو به مالِک خُدائ ته يوه
خاص برخه هم پېش کوئ کُومه چې تاسو د بنی اِسرائيلو د لسمې
حِصې نه اخلئ. دا برخه به تاسو د مالِک خُدائ د پاره هارُون اِمام
له ورکوئ. ۲۹ چې څۀ تاسو ته ملاوېږی نو د هغې د ټولو نه ښه
حِصه مالِک خُدائ له ورکوئ. ۳۰ دا اصُول ليويانو ته وښايه چې
کله تاسو ډېره ښۀ حِصه ورکړئ، نو د هغې نه پاتې شوې د ځان
د پاره کېښودے شئ، هم هغه شان لکه څنګه چې يو زميدار د
نذرانې ورکولو نه پس باقی پاتې شوے پېداوار د ځان سره ساتلے
شی. ۳۱ تاسو اؤ ستاسو کورنئ هغه پاتې شوې برخه په هر ځائ
کښې خوړلے شئ، ځکه چې دا ستاسو د مُقدسې خېمې د خِدمت

مزدُوری ده. ۳۲ کۀ چرې تاسو د دې ښۀ حِصه مالِک خُدائ ته
پيش کړی وی اؤ بيا تاسو دا خورئ نو تاسو ته به سزا نۀ ملاوېږی.
هغه تحفی او قربانيانی چې قوم يې راوړی لازمی ده چې مُقدسې
پاتې شی خو کۀ د دې د پيش کولو نه مخکښې تاسو دې نه کومه
برخه وخوړه نو وبه وژلے شئ.“

## د سرې جوتې غوا ايرې

**۱۹** ۱ مالِک خُدائ مُوسىٰ اؤ هارُون ته ووئيل، ۲ ”بنی
اِسرائيلو ته دا اصُول وښايئ، چې هغوئ تاسو له يوه سره
غوا راولی چې لنګتون يې نۀ وی کړے او هيڅ عېب په کښې نۀ وی
اؤ يوې وربانډې هيڅ کله هم نۀ وی شوې، ۳ اؤ هغوئ به هغه بيا
اِلعازر اِمام له ورکړی. هغه به د خېمو نه بهر بوتلے شی اؤ د هغۀ په
مخکښې به حلاله کړے شی. ۴ اِلعازر به بيا د هغې څۀ وينه واخلی
اؤ د خپلې ګوتې سره به اووۀ ځلې وينه خېمې ته مخامخ وشيندی.
۵ ټوله غوا، سره د څرمنې، غوښې، وينې اؤ کولمو، به د اِمام په
مخکښې وسوزولے شی. ۶ بيا به هغه د دِيار لرګے، څۀ وېلنی اؤ يو
سُور تار راوړی اؤ دا به په اور کښې واچوی چرته چې غوا سوزېږی.
۷ د هغې نه پس، هغه به خپلې جامې ووينځی اؤ غُسل به وکړی، نو
بيا هغه خېمو ته دننه راتلے شی، خو تر ماښامه پورې به ناپاک وی.
۸ چا چې غوا سوزولې وی نو هغه به خامخا خپلې جامې وينځی
اؤ غُسل به وکړی، خو هغه به هم تر ماښامه پورې ناپاک وی. ۹ بيا
هغه سړے کُوم چې پاک وی هغه به د غوا ايرې راغونډې کړی اؤ د

خېمو نه بهر په يو پاک ځائ کښې به يې کېږدی، هلته به دا ايرې د بنی اِسرائيلو د قوم د پاره ساتلے شی چې د ناپاکئ د لرې کولو اوبو تيارولو د پاره به اِستعمالېږی. دا رسم به د گُناه د لرې کولو د پاره ادا کېږی. ۱۰ چا چې ايرې راټولې کړې وی هغه به خامخا خپلې جامې وينځی اؤ تر ماښامه پورې به ناپاک وی. دا اصُول د راتلُونکی ټولو وختُونو د پاره دی، دا به د بنی اِسرائيلو اؤ د پردی وطن د خلقو د پاره وی چې د هغوئ سره اوسېږی.

## د مړی سره لگېدل

۱۱ هر څوک چې د مړی سره ولگې نو هغه به اووۀ ورځې ناپاک وی. ۱۲ هغه به خامخا په دريمه ورځ اؤ په اوومه ورځ خپل ځان د پاکوالی په اوبو باندې پاک کړی، نو هغه به پاک شی. خو کۀ هغه په دريمه ورځ اؤ په اوومه ورځ باندې خپل ځان پاک نۀ کړی، نو هغه به پاک نۀ وی. ۱۳ هر څوک چې د مړی سره ولگې اؤ خپل ځان پاک نۀ کړی نو هغه به ناپاک وی، ځکه چې په هغۀ باندې د پاکوالی اوبۀ نۀ دی شيندلے شوې. هغه د مالِک خُدائ د خېمې سپکاوے کوی اؤ هغه به نور د خُدائ پاک د خلقو نه نۀ شی گڼلے. ۱۴ کۀ يو سړے په خېمه کښې مړ شی، هر څوک چې د هغۀ د مرگ په وخت په خېمه کښې وی يا ورننوځی نو هغه به اووۀ ورځې ناپاک وی. ۱۵ په خېمه کښې هر لوښے چې سر ورباندې نۀ وی هغه به هم ناپاک وی. ۱۶ کۀ څوک داسې کس له گوتې وروړی چې قتل شوے وی يا د کور نه بهر په خپل مرگ مړ

وی یا کۀ څوک د بنیادم هډُوکی یا قبر له ګوتې ورووړی، نو هغه
به اووۀ ورځې ناپاک وی. ١٧ کُومه غوا چې د ګُناه د لرې کولو د
پاره سوزولې شوې وه د هغې نه لږې ایرې به د ناپاکئ لرې کولو
د پاره واخستلې شی اؤ په یو لوښی کښې به واچولې شی اؤ روانې
اوبۀ په کښې واچوئ. ١٨ یو پاک سړے به وېلنړے واخلی، په اوبو
کښې به یې ډُوب کړی اؤ اوبۀ به په خېمه، د هغې په ټول سامان
اؤ په هغه خلقو وشیندی چې کُوم هلته وی اؤ په هغه سړی باندې
به اوبۀ وشیندی کُوم چې د بنیادم هډُوکی، مړی، یا قبر له ګوتې
ورووړې وی. ١٩ پاک سړے به په ناپاک سړی باندې په دریمه اؤ
په اوومه ورځ باندې اوبۀ وشیندی. اؤ په اوومه ورځ به هغه ناپاک
سړے پاک کړی، د نمرپرېواتو په وخت د خپلو جامو وینځلو اؤ
په ځان اوبۀ اچولو نه پس به پاک شی. ٢٠ هر څوک چې ناپاک
شوے وی اؤ خپل ځان پاک نۀ کړی نو هغه به ناپاک پاتې شی،
ځکه چې په هغۀ باندې د پاکوالی اوبۀ نۀ دی شیندلې شوې.
هغه د مالِک خُدائ د خېمې سپکاوے کوی اؤ نور به د خُدائ
پاک د خلقو نه نۀ شی ګڼلے. ٢١ تاسو به دا اصُول په راتلُونکی
ټولو وختُونو کښې منئ. کُوم کس چې د پاکوالی اوبۀ شیندی نو
هغه به هم خامخا خپلې جامې وینځی، هر څوک چې دې اوبو له
ګوتې ورووړی نو هغه به تر ماښامه پورې ناپاک وی. ٢٢ یو ناپاک
کس چې څۀ څیز له هم ګوتې ورووړی نو هغه به ناپاک وی اؤ نور
هر څوک چې هغه څیز له ګوتې ورووړی نو هغه به هم تر ماښامه
پورې ناپاک وی.“

## د بنی اِسرائیلو یو ځل بیا غورېدل

**(د هِجرت کِتاب ۱۷: ۱-۷)**

**۲۰**
۱ په وړومبی میاشت کښې د بنی اِسرائیلو ټول قوم د صین
صحرا ته راغلو اؤ په قادِس کښې یې خېمې ولګولې. مریم
هلته مړه شوه اؤ دفن شوه. ۲ چرته چې هغوئ خېمې لګولې وې
هلته اوبۀ نۀ وې، نو خلق په مُوسیٰ اؤ هارُون باندې راغونډ شول
۳ اؤ هغوئ وغورېدل چې: "دا به ښۀ وے چې مُونږ د خپلو بنی
اِسرائیلو سره د مالِک خُدائ د خېمې په مخکښې مړۀ شوی وے.
۴ تاسو مُونږ دې صحرا ته د دې د پاره راوستلی یُو چې دلته د خپلو
څاروو سره مړۀ شُو؟ ۵ تاسو مُونږ ولې د مِصر نه راوویستلُو اؤ دې
خراب ځائ ته مو راوستلو چې دلته هیڅ هم نۀ کېږی. نۀ غله دانه،
نۀ اینځر، نۀ انګُور اؤ نۀ انار شته. د څښلو اوبۀ هم نشته!" ۶ مُوسیٰ
اؤ هارُون د خلقو نه لرې لاړل اؤ د خېمې د دروازې په خُله کښې
ودرېدل. هغوئ پړمخې د عِبادت د پاره پرېوتل اؤ د مالِک خُدائ د
حضُور سپین جلال هغوئ ته راڅرګند شو. ۷ مالِک خُدائ مُوسیٰ
ته ووئیل، ۸ "هغه امسا واخله چې کُومه د ټرون صندُوق مخې ته
ده اؤ بیا تۀ اؤ هارُون ټول قوم راغونډ کړئ. هلته د هغوئ ټولو په
مخکښې هغه ګټ ته ووایه اؤ د هغې نه به اوبۀ راووځی. نو داسې
تۀ به د خلقو د پاره د ګټ نه اوبۀ راوباسې اؤ هغوئ اؤ د هغوئ
ځناور به یې وڅښی." ۹ مُوسیٰ لاړو اؤ امسا یې راواخستله، چې
څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو. ۱۰ مُوسیٰ اؤ هارُون د ګټ په

مخکښې ټول قوم راغونډ کړو اؤ مُوسىٰ ووئيل، ”اے باغيانو واورئ!
آيا مُونږ ستاسو د پاره د دې کټ نه اوبۀ راوباسُو څۀ؟“ ١١ بيا مُوسىٰ
امسا پورته کړه اؤ دوه ځله يې هغه کټ پرې ووهلو اؤ ډېرې زياتې
اوبۀ ترې نه راووتلې اؤ ټولو خلقو اؤ ځناورو وڅښلې. ١٢ خو مالِک
خُدائ مُوسىٰ اؤ هارُون ته ووئيل، ”تاسو په ما ايمان ونۀ لرلو چې
زما مُقدس طاقت مو د بنى اِسرائيلو په مخکښې څرګند کړے وے،
نو اوس تاسو به هغوئ هغه وطن ته بونۀ ځئ چې ما يې د ورکولو
وعده کړې ده.“ ١٣ د دې ځائ نُوم د مريبه اوبۀ شو، ځکه چې
بنى اِسرائيلو د مالِک خُدائ خِلاف شکايت وکړو اؤ هغۀ ورته هلته
وښودل چې هغه مُقدس دے.

## د ادوم بادشاه بنى اِسرائيل تېرېدو ته نۀ پرېښودل

١٤ مُوسىٰ د قادِس نه ادومى بادشاه له پيغام وړُونکى ولېږل. هغوئ
ورته ووئيل، ”دا پيغام ستاسو د خپلوانو، د اِسرائيليانو د طرف نه
دے. تاسو ته پته ده چې په مُونږ کُوم تکليفُونه تېر شوى دى، ١٥ چې
زمُونږ پلارنيکۀ خنګه مِصر ته لاړل، هلته مُونږ ډېر وخت اوسېدلو.
مِصريانو زمُونږ د پلارنيکۀ اؤ زمُونږ سره بد سلُوک کولو، ١٦ اؤ مُونږ
مالِک خُدائ ته فرياد وکړو. اؤ هغۀ زمُونږ فرياد واؤرېدو اؤ يوه فرِښته
يې راولېږله، چې د مِصر نه يې راوويستلُو. اوس مُونږ ستاسو د علاقې
سره نزدې په يو ښار قادِس کښې يُو. ١٧ تاسو مِهربانى وکړئ اؤ مُونږ
پرېږدئ چې ستاسو د وطن نه تېر شُو. مُونږ اؤ زمُونږ څاروى به د
لارې نه يو خوا بل خوا نۀ اؤړُو، نۀ به ستاسو پټو يا د انګُورو باغُونو

ته ورننوځُو اؤ نۀ به ستاسو د کُوهو نه اوبۀ څښُو. مُونږ به په هغه
لویه لاره روان یُو اؤ ستاسو علاقې نه به ووځُو.“ ۱۸ خو ادومیانو
ورته ووئیل، ”تاسو د دې ځائ نه نۀ شئ تېریدلے! کۀ تاسو داسې
وکړل، مُونږ به راووځُو اؤ په تاسو به حمله وکړُو.“ ۱۹ بنی اِسرائیلو
ووئیل، ”مُونږ په لویه لاره روان یُو اؤ کۀ مُونږ اؤ زمُونږ څاروو ستاسو
اوبۀ وڅښلې، نو مُونږ به د هغې پیسې درکړُو. مُونږ صِرف ستاسو په
وطن کښې تېرېدل غواړُو نور هیڅ هم نه.“ ۲۰ خو ادومیانو بیا ووئیل،
”تاسو مۀ تېرېږئ!“ اؤ هغوئ د یو طاقتور لښکر سره په بنی اِسرائیلو
باندې حملې د پاره راغلل. ۲۱ ځکه چې ادومیانو بنی اِسرائیل په خپله
علاقه کښې تېرېدو ته نۀ پرېښودل، نو اِسرائیلیان په بله لار لاړل.

## د حضرت هارُون مرګ

۲۲ د بنی اِسرائیلو ټول قوم د قادِس نه لاړل اؤ د حُور غرۀ ته
ورسېدل، ۲۳ چې د ادوم په سرحد باندې دے. هلته مالِک خُدائ
مُوسیٰ اؤ هارُون ته ووئیل، ۲۴ ”هارُون به هغه وطن ته ورننه نۀ وځی
د کُوم چې ما بنی اِسرائیلو له د ورکولو وعده کړې ده، هغه به مړ
شی، ځکه چې په مریبه کښې تاسو زما د حُکم نه بغاوت کړے وو.
۲۵ هارُون اؤ د هغۀ زوئ اِلعازر بره د حُور غرۀ ته بوځه، ۲۶ اؤ هلته
د هارُون نه د اِمامانو لِباس وباسه اؤ اِلعازر ته یې ورواچوه. هارُون
به هلته مړ شی.“ ۲۷ مُوسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک
خُدائ حُکم ورکړے وو. هغوئ د ټول قوم په مخکښې د حُور غرۀ
ته وختل، ۲۸ اؤ مُوسیٰ د هارُون نه د اِمامانو لِباس وویستلو اؤ اِلعازر

ته يې ورواغوستلو. هارُون هلته د غرۀ په سر باندې مړ شو اؤ مُوسىٰ
اؤ اِلعازر د غرۀ نه راکُوز شول. ۲۹ د اِسرائيليانو ټول قوم ته پته ولګېده
چې هارُون مړ دے اؤ دېرش ورځې هغوئ د هغۀ په غم غمژن وُو.

## د بنی اِسرائيلو کنعانيانو له شکست ورکول

# ۲۱

۱ کله چې د کنعان په جنُوبی حِصه کښې د عراد بادشاه
واؤرېدل چې اِسرائيليان د اتهارِم په لاره راروان دی، نو
هغۀ ورباندې حمله وکړه اؤ څۀ يې ترې نه ونيول. ۲ بيا اِسرائيليانو
د مالِک خُدائ سره دا وعده وکړه: ”کۀ تۀ مُونږ په دې خلقو بريالی
کړې، نو مُونږ به د هغوئ ښارونه پُوره تباه کړُو اؤ تا ته به وقف
شی.“ ۳ مالِک خُدائ د هغوئ آواز واؤرېدو اؤ په کنعانيانو يې بريالی
کړل. نو اِسرائيليانو هغوئ اؤ د هغوئ ښارونه تباه کړل اؤ په هغه
ځائ يې حُرمه نُوم کېښودو.

## د پيتلو مار

۴ اِسرائيليان د حُور غرۀ نه د سُور درياب په لار روان شول چې
د ادوم نه ګېرچاپېره مزل وکړی. خو په لاره کښې خلق ډېر بې‌صبره
شول ۵ اؤ د خُدائ پاک اؤ مُوسىٰ خِلاف يې خبرې شروع کړې.
هغوئ ووئيل، ”تاسو مُونږ ولې د مِصر نه راوويستلُو د دې پاره څۀ
چې په دې صحرا کښې مړۀ شُو، چرته چې نۀ ډوډۍ شته اؤ نۀ اوبۀ
شته؟ نور مُونږ دا بې‌کاره خوراک نۀ شُو برداشت کولے!“ ۶ بيا
مالِک خُدائ په خلقو باندې زهريله ماران راولېږل اؤ ډېر اِسرائيليان يې

وچیچل اؤ اِسرائیلیان مړۀ شول. ۷ خلق مُوسیٰ له راغلل اؤ ورته یې
ووئیل، ”مُونږ دا ګُناه کړې ده چې د مالِک خُدائ اؤ ستا خِلاف مو
خبرې کړې دی. نو مالِک خُدائ ته سوال وکړه چې دا ماران لرې
کړی.“ نو مُوسیٰ د خلقو د پاره دُعا وکړه. ۸ مالِک خُدائ مُوسیٰ
ته ووئیل چې د یو زهریله مار نمُونه جوړ کړه اؤ په یوه ډاګه باندې
یې ولګوه، نو هر څوک چې چیچلے شوے وی اؤ هغې ته وګوری
نو روغ به شی. ۹ نو مُوسیٰ د پیتلو نه مار جوړ کړو اؤ په یوه ډاګه
باندې یې ولګولو. هر څوک به چې چیچلے شوے وو اؤ هغۀ به د
پیتلو مار ته وکتل نو ژوندے به پاتې شو.

## د بنی اِسرائیلو موآب ته سفر

۱۰ بنی اِسرائیل وړاندې لاړل اؤ په اوبوت کښې یې خېمې ولګولې.
۱۱ چې د هغه ځائ نه لاړل نو د موآبیانو د علاقې نَمرخاتۀ طرف ته
د عی عباریم په صحرا کښې یې خېمې ولګولې. ۱۲ بیا هغوئ د زرد
په وادئ کښې خیمې ولګولې. ۱۳ هغوئ د هغه ځائ نه بیا لاړل اؤ
د ارنون د سیند نه پورې غاړه یې خېمې ولګولې په هغه صحرا کښې
چې د اموریانو د علاقې پورې خوره وه. ارنون د موآبیانو اؤ اموریانو په
مېنځ کښې د حد پُوله وه. ۱۴ نو دا ځکه د مالِک خُدائ د جنګُونو
په کِتاب کښې لیکلی دی ”د سوفه په علاقه کښې د واهیب ښار
اؤ هغه وادیانې، د ارنون سیند، ۱۵ د وادیانو ژور ځایُونه چې د عار
ښار پورې خورې دی اؤ چې د موآب د حد پُولې ته رسېږی.“ ۱۶ د
هغې ځائ نه هغوئ هغه کوهی له لاړل چې د بیر په نامه یادېږی،

دا هغه کُوهے دے چې مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئیل، "خلق راغونډ
کړه اؤ زۀ به هغوئ له اوبۀ ورکړم." ⑰ په هغه وخت اِسرائیلیانو دا
سندره ووئیله:

"کُوهو! خپلې اوبۀ راوباسئ،
مُونږ ورته یوه سندره وایُو.
⑱ کُوهے شهزادګانو کنستلے دے
اؤ د خلقو د مشرانو سره
د بادشاهۍ د امسا سره
اؤ د هغوئ د امساګانو سره."

هغوئ د صحرا نه متنه ته لاړل، ⑲ اؤ د هغې ځائ نه نحلیایل
ته اؤ د نحلیایل نه بامات ته لاړل، ⑳ اؤ د بامات نه د موآبیانو په
علاقه کښې وادۍ ته لاړل، د پِسګه د غرۀ د سر نه لاندې، چې
مخ یې صحرا ته دے.

## په سیحون بادشاه اؤ عوج بادشاه باندې فتح مُوندل

**(د ګردان کِتاب ٢: ٢٦ - ٣: ١١)**

㉑ بیا اِسرائیلیانو د اموریانو بادشاه سیحون ته پېغام وړُونکی ولېږل
چې ورته ووائی: ㉒ "مُونږ پرېږده چې ستا په وطن کښې تېر شُو.
اؤ مُونږ اؤ زمُونږ څاروی به د لارې نه نۀ اوړُو اؤ نۀ به ستاسو پټو اؤ
د انګُورو باغُونو ته ځُو اؤ مُونږ به ستاسو د کُوهو نه اوبۀ نۀ څښُو،
په لویه لاره به سیدها روان یُو چې ستاسو علاقې نه ووځُو." ㉓ خو
سیحون اِسرائیلیانو له اِجازت نۀ ورکولو چې د هغۀ د علاقې نه تېر

شی. هغهٔ خپل ټول لښکر راجمع کړو اؤ په صحرا کښې يهض ته
ووتل اؤ په اِسرائيليانو يې حمله وکړه. ۲۴ خو اِسرائيليانو په جنګ
کښې ډېر دُښمنان ووژل اؤ د ارنون سيند نه واخله تر يبوق سيند
پورې زمکه يې ترې نه ونيوله، خو د يبوق نه وروستو د عمونيانو د
علاقې د حد پُوله ډېره مضبُوطه وه. ۲۵ نو اِسرائيليانو د اموريانو ټول
ښارونه ونيول، سره د حسبون اؤ چې ګېرچاپېره څومره ښارونه وُو
اؤ په هغوئ کښې اوسېدل. ۲۶ حسبون د اموريانو د بادشاه سيحون
مرکزی ښار وو، سيحون د موآب پخوانی بادشاه خِلاف جنګ کړے
وو اؤ د ارنون سيند پورې د هغهٔ ټوله زمکه يې نيولې وه. ۲۷ نو دا
ځکه شاعران وائی، "د سيحون بادشاه ښار ته، حسبون ته راشه، مُونږ
دا آباد اؤ ودان غواړُو. ۲۸ يوه ورځ د دې ښار حسبون نه د سيحون
لښکر د اور په شان لاړو، هغوئ په موآب کښې د عار ښار وران کړو
اؤ د پاسنی ارنون غرُونه يې دړې وړې کړل.

۲۹ د موآب خلقو ستاسو د پاره دا څومره خرابه خبره ده!
د کموس عِبادت کوُونکو تاسو تباهئ له راوستلے شوی يئ!
ستاسو خُدائ خلق مهاجر جوړ کړی دی اؤ ستاسو ښځې د
اموريانو د بادشاه قيديانې شوې دی.
۳۰ خو د هغوئ اولاد تباه شوے دے،
د حسبون نه واخله تر ديبُون پورې،
د نشيم نه واخله تر نُفح پورې، چې ميدبا ته نزدې دے."

۳۱ نو اِسرائيليان د اموريانو په علاقه کښې دېره شول، ۳۲ اؤ مُوسیٰ
کسان ولېږل چې په يعزير ښار باندې حمله کولو د پاره ښهٔ لاره

معلُومه کړی. اِسرائیلیانو دا اؤ ګېرچاپېره ښارونه ونیول اؤ چې کُوم
اموریان هلته اوسېدل هغه يې وشړل. ۳۳ اِسرائیلیان راوګرځېدل اؤ د
بسن په لاره لاړل اؤ د بسن بادشاه عوج د خپل لښکر سره راووتلو
چې په ادرعی کښې په هغوئ باندې حمله وکړی. ۳٤ مالِک خُدائ
مُوسیٰ ته ووئیل، ”د هغۀ نه مۀ یرېږه. زۀ به تا په هغۀ باندې، د هغۀ
په ټولو خلقو اؤ د هغۀ په وطن باندې بریالے کړم. د هغۀ سره هم هغه
شان کار وکړه لکه څنګه چې دې سیحون سره کړے وو، سیحون
په حسبون کښې د اموریانو بادشاه وو.“ ۳٥ نو اِسرائیلیانو عوج، د
هغۀ زامن اؤ د هغۀ ټول خلق ووژل، هیڅ څوک يې ژوندی پرې نۀ
ښودل اؤ بیا هغوئ د هغۀ وطن ونیولو.

## د موآب بادشاه د بلعام راغوښتل

۲۲ ۱ بنی اِسرائیلو مخکښې سفر کولو اؤ د موآب په مېدانُونو
کښې يې د اُردن پورې غاړه یریحو ته مخامخ خیمې
ولګولې. ۲ کله چې د موآب بادشاه د صفور زوئ بلق خبر شو
چې اِسرائیلیانو په اموریانو باندې څۀ کړی وُو اؤ اِسرائیلیان څومره
بې‌شمېره وُو، ۳ نو په هغۀ اؤ د هغۀ په ټولو خلقو د یرې نه وېښتۀ
نېغ ودرېدل. ٤ موآبیانو د میدیانیانو مشرانو ته ووئیل، ”زر به دا
لښکر زمُونږ ګېرچاپېره هر څۀ تباه کړی، لکه چې یو آزاد غوَیے په
فصل ورګډ شی.“ نو د بلق بادشاه ٥ پېغام وړُونکی ولېږل چې د
بعور زوئ بلعام راوغواړی، چې هغه د فرات سیند سره نزدې په پټور
کښې وو. هغوئ هغۀ له د بلق نه دا پېغام راوړو: ”زۀ غواړم چې تۀ

خبر شي چې د مِصر نه يو لوئ قوم راغلے دے، هغوئ د زمکې مخ پټ کړے دے اؤ وائی چې زمُونږ وطن قبضه کړی. ⑥ هغوئ زمُونږ نه طاقتور دی، نو زۀ درته مِنت کوم چې زما د پاره په هغوئ لعنت ووايه. نو کېدے شی چې هغوئ له شکست ورکړو اؤ د وطن نه يې وشړُو. ما ته پته ده چې تاسو د چا د پاره برکت غواړئ نو هغه برکت مُومی اؤ چې په چا لعنت ووايئ نو هغه لعنتی شی.“ ⑦ نو د موآبيانو اؤ ميديانيانو مشرانو د لعنت غوښتلو قيمت واخستلو اؤ بلعام له لاړل اؤ د بلق پيغام يې ورته واورولو. ⑧ بلعام هغوئ ته ووئيل، ”تاسو نن شپه دلته تېره کړئ اؤ چې مالِک خُدائ ما ته څۀ هم ووائي نو هغه به سبا زۀ تاسو ته ووايم.“ نو د موآبيانو مشران د بلعام سره ايسار شول. ⑨ خُدائ پاک بلعام ته راغلو اؤ ورته يې ووئيل، ”دا تا سره خلق څوک دی؟“ ⑩ هغۀ خُدائ پاک ته ووئيل، ”د موآب بادشاه هغوئ ما ته رالېږلی دی، هغوئ وائی چې ⑪ کُوم خلق چې د مِصر نه راغلی دی هغوئ د ټولې زمکې مخ پټ کړے دے. هغه ما ته وائی چې د هغۀ د پاره په هغوئ لعنت ووايم، نو هغه به شکست ورکړی اؤ وبه يې شړی.“ ⑫ خُدائ پاک بلعام ته ووئيل، ”تۀ د هغوئ سره مۀ ځه اؤ اِسرائيليانو د پاره لعنت مۀ غواړه، ځکه چې ما هغوئ له برکت ورکړے دے.“ ⑬ په وربله سحر بلعام د بلق پيغام وړُونکو له ورَغلو اؤ ورته يې ووئيل، ”واپس خپل وطن ته لاړ شئ، مالِک خُدائ زۀ ستاسو سره تلو نه منع کړے يم.“ ⑭ نو د موآب مشران واپس بلق له لاړل اؤ هغۀ ته يې ووئيل چې بلعام د هغوئ سره د راتلو نه اِنکار وکړو. ⑮ نو بلق نور مشران ورولېږل،

چې هغوئ د مخکښينو نه زيات اؤ ډېر عِزتمند وُو. ⑯ هغوئ بلعام
له ورغلل اؤ د بلق دا پيغام يې ورته واورولو: ”زۀ ستا مِنت کوم چې
تۀ به خامخا ما له راځې! ⑰ زۀ به تا له لوئ اِنعام درکړم اؤ چې تۀ
څۀ هم وائې نو زۀ به يې کوم. خو لږ راشه اؤ په دې خلقو زما د
خاطره لعنت ووايه.“ ⑱ خو بلعام جواب ورکړو، ”کۀ بلق د خپل
محل ټول سپين زر اؤ سرۀ زر هم ما له راکړی، نو زۀ د خپل مالِک
خُدائ د يوې وړې نه وړې خبرې نافرمانی هم ونۀ کړم. ⑲ خو نن
تاسو مُونږ سره شپه وکړئ، نو زۀ به پته ولګوم چې مالِک خُدائ ما
ته نور څۀ وئيل غواړی اؤ کۀ نه.“ ⑳ په هغه شپه خُدائ پاک بلعام
ته راغلو اؤ ورته يې ووئيل، ”کۀ چرې دا سړی تا له راغلل او درته
يې ووئيل چې مونږ سره لاړ شه، نو بيا ځان تياره کړه اؤ ورسره لاړ
شه، خو هغه څۀ کوه چې څۀ درته زۀ وايم.“ ㉑ نو په ورپسې ورځ
بلعام خپله خره کته کړه اؤ د موآبيانو د مشرانو سره لاړو.

## په بلعام اؤ د هغۀ په خرې باندې د يوې فرِښتې پېښېدل

㉒ خُدائ پاک د بلعام په تلو باندې غُصه وو، د بلعام سره خپل
دوه خِدمتګاران روان وُو اؤ بلعام په خپله خره باندې سور وو، نو
د مالِک خُدائ فرِښته ورته په لاره کښې ودرېدله چې هغه ودروی.
㉓ کله چې خرې د مالِک خُدائ فرِښته وليده چې په لاره کښې
ولاړه وه اؤ په لاس کښې يې تُوره نيولې وه، نو خرې لاره پرېښودله
اؤ پټو ته لاړه. بلعام خره ووهله اؤ واپس يې لارې ته راوستله. ㉔ بيا د
مالِک خُدائ فرِښته ورته هلته ودرېدله چرته چې د دوؤ انګُورو باغُونو

په مېنځ کښې لار تنګه وه اؤ دواړو طرفُونو ته يې د کانړو دېوال وو.
۲۵ کله چې خرې د مالِک خُدائ فرِښته وليده، نو خره دېوال ته ښۀ
ورنزدې شوه اؤ د بلعام خپه يې د دېوال سره راښکله. بلعام بيا خره
ووهله. ۲۶ د مالِک خُدائ فرِښته يو ځل بيا مخکښې لاړه، په داسې
يو تنګ ځائ کښې ودرېدله چرته چې لاره دومره تنګه وه چې د اخوا
ديخوا کيدو ځائ نۀ وو. ۲۷ دا ځل، چې کله خرې فرِښته وليده،
نو هغه څملاسته. بلعام غُصه شو اؤ د امسا سره د خرې په وهلو يې
شروع وکړه. ۲۸ بيا مالِک خُدائ خرې له د خبرو کولو طاقت ورکړو
اؤ خرې بلعام ته ووئيل، ”ما تا سره څۀ بد کړی دی؟ تا زۀ دا درې
ځلې ولې ووهلم؟“ ۲۹ بلعام ورته ووئيل، ”ځکه چې تا زما نه کم
عقل جوړ کړے دے! کۀ زما سره تُوره وے، نو ما به تۀ وژلې وې.“
۳۰ خرې ورته ووئيل، ”ولې زۀ څۀ هغه خره نۀ يم چې په کُومه باندې
تا ټول عُمر سورلی کړې ده؟ مخکښې ما کله تا سره داسې کار کړے
دے؟“ نو هغۀ ورته ووئيل، ”نه.“ ۳۱ بيا مالِک خُدائ بلعام ته فرِښته
څرګنده کړه چې هلته د خپلې تُورې سره ولاړه وه، اؤ بلعام ټيټ شو
اؤ سر يې په زمکه ولګولو. ۳۲ فرِښتې ترې نه تپوس وکړو، ”تا دا درې
ځلې خپله خره ولې ووهله؟ زۀ ستا د ودرولو د پاره راغلې وم، ځکه
چې تۀ څۀ کوې هغه زما خِلاف دی. ۳۳ خو ستا خرې زۀ وليدم اؤ
زما نه درې ځلې واوړېدله. کۀ هغه ګرځېدلې نۀ وے، نو ما به تۀ
وژلے وے اؤ هغه خره به مې ژوندۍ پرېښې وه.“ ۳۴ بلعام د مالِک
خُدائ فرِښتې ته ووئيل، ”ما ګُناه کړې ده. ما ته پته نۀ وه چې تۀ
زما د ايسارولو د پاره په لاره کښې ولاړه يې، خو کۀ ستا خوښه نۀ

وی نو زۀ به نۀ ځم اؤ واپس به خپل کور ته لاړ شم.“ ٣٥ خو فرِښتې
ورته ووئيل، ”د دې سړو سره لاړ شه، خو صِرف هغه څۀ وايه څۀ
چې زۀ درته وايم.“ نو بلعام د بلق د مشرانو سره لاړو.

## د بلق بادشاه د بلعام سره مِلاوېدل

٣٦ کله چې بلق خبر شو چې بلعام راروان دے، نو هغه ورَغلو چې
په عار کښې ورسره مِلاؤ شی، دا ښار د ارنون د سيند سره د موآب
په سرحد باندې وو. ٣٧ بلق هغۀ ته ووئيل، ”ما چې په وړومبی ځل تۀ
راوغوښتلې نو ولې رانۀ غلې؟ ستا خيال دا وو څۀ چې زۀ تا له اِنعام نۀ
شم درکولے؟“ ٣٨ بلعام ورته ووئيل، ”ولې زۀ تا له رانۀ غلم؟ زۀ چې
څۀ وئيل غواړم نو د هغې اِختيار نۀ لرم! زۀ به صِرف هغه وايم چې
څۀ خُدائ پاک ما ته وائی.“ ٣٩ نو بلعام د بلق سره د حُصات ښار
ته لاړو، ٤٠ چرته چې بلق څاروی اؤ ګډې حلال کړل اؤ څۀ غوښه
يې بلعام اؤ هغه مشرانو له ورکړه چې د هغۀ سره وُو.

## د بلعام وړومبے پيغام

٤١ په ورپسې سحر بلق بلعام بره بوتلو اؤ هلته نه ورته څۀ بنی
اِسرائيل ښکاره شول.

**٢٣**
١ بلعام بلق ته ووئيل، ”دلته زما د پاره اووۀ قُربان‌ګاه
جوړې کړه اؤ ما له اووۀ غوَيی اؤ اووۀ ګډان راوله.“
٢ بلق هم هغه شان وکړل چې څنګه بلعام وئيلی وُو، هغۀ اؤ
بلعام يو غوَيے اؤ يو ګډ په هره يو قُربان‌ګاه باندې پېش کړل. ٣ بيا

بلعام بلق ته ووئيل، ”دلته د خپلې سوزېدُونکې نذرانې سره ايسار
شه اؤ زۀ ځم چې وګورم چې مالِک خُدائ ما ته راڅرګندېږى اؤ
کۀ نه. چې هغه ما ته څۀ هم ووائى نو زۀ به تا ته ووايم.“ نو هغه
يو خوشې غر ته لاړو، ۴ اؤ خُدائ پاک هغۀ ته راڅرګند شو. بلعام
ورته ووئيل، ”ما اووۀ قُربان‌ګاه جوړې کړې دى اؤ يو غوَيے اؤ يو ګډ
مې په هره يوه باندې پېش کړل.“ ۵ مالِک خُدائ بلعام ته د وئيلو
د پاره خبرې وښودلې اؤ واپس يې بلق ته ولېږلو چې هغۀ ته د هغۀ
پېغام ورسوى. ۶ نو هغه واپس لاړو اؤ وې ليدل چې بلق د خپلې
سوزېدُونکې نذرانې سره ولاړ وو اؤ د موآب ټول مشران ورسره وُو.
۷ بلعام دا پېغام ورکړو:

”د موآب بادشاه زۀ راوستلے يم
د شام نه، د نَمرخاتۀ غرُونو نه.
هغۀ ووئيل چې، راشه اؤ زما د پاره ووايه.
په اِسرائيليانو باندې لعنت ووايه.
۸ زۀ پرې څنګه لعنت وايم چې هغوئ خُدائ پاک نۀ وى لعنتى کړى،
چې مالِک خُدائ په څۀ اِلزام نۀ وى لګولے نو زۀ پرې څنګه اِلزام ولګوم؟
۹ د لوړو کاڼو نه زۀ هغوئ ګورم،
د غرُونو نه زۀ هغوئ وينم.
هغوئ هغه خلق دى چې يواځې ژوند تېروى،
هغوئ ته پته ده چې دوئ د نورو قومُونو نه بختور دى.

۱۰ د اِسرائيل اولاد د شګو په شان دے،
څوک داسې شته چې شګې وشمېرى؟
پرېږده چې زۀ مړ شم د خُدائ پاک د خلقو په شان،
پرېږده چې د صادِقانو په شان په آرام مړ شم.“
۱۱ بيا بلق بلعام ته ووئيل، ”دا تا څۀ وکړل؟ ما تۀ د دې د پاره
راوستلے يې چې زما په دُښمنانو لعنت ووائې، خو تا د هغوئ د پاره
صِرف برکت غوښتلے دے.“ ۱۲ هغۀ جواب ورکړو، ”زۀ به صِرف
هغه څۀ وايم څۀ چې مالِک خُدائ ما ته وائى.“

## د بلعام دويم پېغام

۱۳ بيا بلق بلعام ته ووئيل، ”زما سره يو بل ځائ ته لاړ شه چې
د هغه ځائ نه لږ شان اِسرائيليان ښکارى. اؤ د هغه ځائ نه تۀ په
هغوئ لعنت ووايه.“ ۱۴ بلق، بلعام د پِسګه د غرۀ په سر د ضُوفيم
پټى ته بوتلو. هغۀ هلته هم اووۀ قُربان‌ګاه جوړې کړې اؤ يو غوَيے
اؤ يو ګډ يې په هره يوه باندې پېش کړو. ۱۵ بلعام بلق ته ووئيل،
”د خپلې سوزېدُونکې نذرانې سره ودرېږه اؤ هلته به خُدائ پاک ما
ته راڅرګند شى.“ ۱۶ مالِک خُدائ بلعام ته راڅرګند شو، ورته يې
وئيل چې دا خبرې به کوې اؤ واپس يې بلق ته ولېږلو چې هغۀ ته دا
پېغام ورسوى. ۱۷ نو هغه واپس لاړو اؤ وې ليدل چې بلق د خپلې
سوزېدُونکې نذرانې سره ولاړ وو اؤ د موآب مشران هم ورسره وُو.
بلق ترې نه تپوس وکړو چې مالِک خُدائ څۀ وئيلى دى، ۱۸ اؤ بلعام
دا پېغام ورکړو:

”د صفور زویه بلقه پاخه،
اؤ چې زهٔ درته څهٔ وایم هغه واوره.
۱۹ خُدائ پاک د بنیادم په شان نهٔ دے، چې دروغ ووائی،
هغه بنیادم نهٔ دے چې خپله فېصله بدله کړی.
هغه چې کُومه وعده وکړی، نو هغه پُوره کوی،
هغه چې څهٔ وائی، نو هغه کوی.
۲۰ ګوره! ما ته حُکم مِلاؤ شو چې د هغوئ د پاره برکت وغواړم،
اؤ چې کله خُدائ پاک برکت ورکړی، نو زهٔ برکت واپس نهٔ
شم اخستلے.
۲۱ زهٔ د اِسرائیلیانو په راتلُونکی وخت پوهېږم
په هغوئ به څهٔ بدبختی یا مُصیبت نهٔ راځی.
مالِک خُدائ د هغوئ خُدائ پاک د هغوئ مل دے،
هغوئ اِعلان کوی چې هغه یې بادشاه دے.
۲۲ خُدائ پاک هغوئ د مِصر نه راویستلی دی،
هغوئ د یو ځنګلی غوَیی په شان طاقت لری.
۲۳ نهٔ داسې جادُو شته اؤ نهٔ داسې کوډې شته،
چې د اِسرائیلیانو په قوم باندې وشی.
خلق به اوس د بنی اِسرائیلو په باره کښې ووائی،
ګورئ! خُدائ پاک د هغوئ د پاره څهٔ کړی دی.
۲۴ د اِسرائیلیانو قوم د یو تکړه زمری په شان دے:
چې د شلولو اؤ خرابولو نه مخکښې په آرام نهٔ کښېنی،
چې تر څو یې د ښکار کړے شوی څیز وینه نهٔ وی څښلې.“

۲۵ بیا بلق بلعام ته ووئیل، ”تا په اِسرائیلیانو باندې د لعنت وئیلو
نه اِنکار کړے دے، خو ګوره چې برکت هم ورله ونۀ غواړې!“
۲۶ بلعام جواب ورکړو، ”ما تا ته نۀ دی وئیلی څۀ چې زۀ به هم هغه
شان کوم څۀ چې مالِک خُدائ ما ته وئیلی دی؟“

## د بلعام دریم پېغام

۲۷ بلق ووئیل، ”ما سره لاړ شه اؤ زۀ به تا یو بل ځائ ته بوځم.
کېدے شی چې د خُدائ پاک خوښه وی چې په هغوئ باندې زما
د پاره د هغه ځائ نه لعنت ووائې.“ ۲۸ نو هغۀ بلعام د فعور غرۀ سر
ته بوتلو چې صحرا ته مخامخ دے. ۲۹ بلعام هغۀ ته ووئیل، ”دلته
زما د پاره اووۀ قُربانګاه جوړې کړه اؤ اووۀ غوَیی اؤ اووۀ ګډان ما
له راوله.“ ۳۰ بلق هم هغه شان وکړل چې څنګه یې وئیلی وُو اؤ یو
غوَیے اؤ یو ګډ یې په هره یوه قُربانګاه باندې پېش کړل.

۲٤

۱ نو بلعام ته دا پته ولګېده چې د مالِک خُدائ رضا دا
وه چې اِسرائیلیانو له برکت ورکړی، نو هغه فال کتلو له
لانۀړو، لکه چې مخکښې تلے وو. هغه د صحرا په طرف روان شو
۲ اؤ اِسرائیلیان یې ولیدل چې قبیله په قبیله یې خېمې لګولې وې. نو
د خُدائ پاک رُوح په هغۀ باندې راغلو، ۳ اؤ هغۀ دا پېغام ورکړو:

”د بلعام د بعور د زوئ دا دے پېغام،
اؤ د دې سړی خبرې رېښتُونی دی،
۴ د خُدائ پاک خبرې څوک اوری.
په غړېدلو سترګو راباندې جذبه غالبه شوه

د قادر خُدائ پاک د طرف نه ما يوه رويا يعنى په وينه
خوب وليدو.
۵ د اِسرائيليانو خېمې ښائسته دى،
۶ د کهجُورو اُوږدو قطارُونو په شان
يا د سيند د غاړې د باغُونو په شان،
د مالِک خُدائ کَرلى عُود په شان
يا د اوبو په غاړه د دِيار په شان.
۷ دا به په اوبو مَړې شى
اؤ د دې تُخم په اوبو مړو پټو کښې وکَره.
د هغوئ بادشاه به د اجاج نه لوئ وى،
اؤ د هغۀ بادشاهى به اُوچته وى.
۸ خُدائ پاک هغوئ د مِصر نه راوويستل،
په هغوئ کښې د ځوان غوَيى په شان طاقت شته،
هغوئ خپل دُښمنان تباه کوى،
د هغوئ هډُوکى ماتوى اؤ په غشو باندې يې وولى.
۹ دا قوم د طاقتور ازمرى په شان دے،
کله چې هغه ملاست وى، هيڅ څوک دا زړۀ نۀ شى کولې
چې پاېې څوى.
څوک چې اِسرائيليانو د پاره برکت وغواړى نو هغوئ به په خپله
برکتناک شى،
اؤ څوک چې ورباندې لعنت ووائى نو هغوئ به په خپله
لعنتيان شى.“

۱۰ بلق د غُصې نه غابُونه وچيچل اؤ بلعام ته يې ووئيل، ”ما تهٔ
د دې د پاره راغوښتلے يې چې زما په دُښمنانو باندې لعنت ووائې،
خو ګوره! د لعنت په ځائ تا د هغوئ د پاره درې ځلې برکت
غوښتلے دے. ۱۱ نو ورک شه اؤ خپل کور ته لاړ شه! زما خيال
دا وو چې اِنعام به درکړم، خو مالِک خُدائ دا اِنعام ستا په قسمت
کښې نهٔ دے ليکلے.“ ۱۲ بلعام ورته په جواب کښې ووئيل، ”کُوم
پيغام وړُونکی چې تا ما ته رالېږلی وُو ما هغوئ ته ووئيل چې ۱۳ کهٔ
تهٔ ما له ستا په محل کښې ټول سرهٔ زر اؤ سپين زر هم راکړې، نو
زهٔ د ځان نه څهٔ ښه يا بد نهٔ شم کولے، څهٔ چې ما ته مالِک خُدائ
وائی نو زهٔ به صِرف هغه کوم، زهٔ د مالِک خُدائ د حُکم نافرمانی
نهٔ شم کولے.“

## د بلعام آخری پيغام

۱٤ بلعام بلق ته ووئيل، ”اوس زهٔ واپس خپلو خلقو له ځم، خو د
تلو نه مخکښې زهٔ تا له خبر درکوم چې په راتلُونکی وخت کښې به
اِسرائيليان ستا د خلقو سره څهٔ کوی.“ ۱۵ بيا هغهٔ دا پيغام ورکړو:

”د بلعام د بعور د زوئ دا دے پيغام،
اؤ د دې سړی خبرې رېښتُونی دی،
۱٦ څوک چې د خُدائ پاک خبرې اوری
اؤ هغه حِکمت اخلی چې د خُدائ تعالٰی نه راځی.
په غړېدلو سترګو راباندې جذبه غالبه شوه
د قادر خُدائ پاک د طرف نه ما يوه رويا وليده.

١٧ زۀ راتلُونکے وخت وينم،
زۀ د اِسرائيليانو قوم وينم.
د روښانه ستورى په شان، په دې قوم کښې به يو بادشاه پېدا شى.
دا ستورے به د اِسرائيليانو نه راشى.
هغه به د موآب مشران هلاک کړى
اؤ هغه به د شيث ټول اولاد تباه کړى.
١٨ هغه به په ادوم کښې په خپلو دُښمنانو بريالے شى
اؤ د هغوئ وطن به قبضه کړى،
اؤ اِسرائيليان به مسلسل بريالى کېږى.
١٩ اِسرائيليان به هغوئ د خپو لاندې کړى
اؤ په ښار کښې چې څوک ژوندى پاتې وى نو هغه به تباه کړى.“
٢٠ بيا بلعام په خپل رويا کښې عمالقيان وليدل اؤ دا پيغام يې ورکړو:
”عمالقيان د ټولو نه زيات تکړه قوم دے،
خو په آخِر کښې به د همېشه د پاره ورک شى.“
٢١ هغۀ په خپل خيال کښې قينيان وليدل اؤ دا پيغام يې ورکړو:
”ستاسو د اوسېدو ځائ ډېر پوخ دے،
داسې پوخ لکه چې د يو کور بُنياد يې په کاڼو اېښودے شوے وى،
٢٢ خو تاسو قينيان به تباه شئ
کله چې اسوريان تاسو قېديان بوځى.“
٢٣ بلعام دا پيغام ورکړو:
”هغه څوک بچ کولے شى چې خُدائ پاک يې تباه کوى؟
٢٤ سمندرى جهازُونه به د قبرص نه راشى،

هغوئ به اسُور اؤ عيبر فتح کړى،
خو په آخِر کښې به قبرص هم تباه شى.“
٢٥ بيا بلعام روان شو اؤ واپس کور ته لاړو اؤ بلق هم په خپله
مخه لاړو.

## بنى اِسرائيل په فعور کښې

٢٥ ١ کله چې اِسرائيليان د کيکرو په وادئ کښې دېره
وُو، نو د موآبيانو ښځو سره يې زنا شروع کړه. ٢ ښځو
هغوئ ته ووئيل چې د هغوئ خُدايانو ته قُربانئ وکړى، نو خلقو هغه
قُربانئ وخوړلې اؤ د هغوئ د خُدائ عِبادت يې وکړو ٣ چې د فعور
بعل وو. نو مالِک خُدائ اِسرائيليانو ته په قهر شو. ٤ اؤ مُوسىٰ ته
يې ووئيل، ”د اِسرائيليانو ټول مشران بوځه اؤ د خلقو په وړاندې يې
پهانسى کړه، نو بيا به زما سخته غُصه د اِسرائيليانو نه سړه شى.“
٥ مُوسىٰ د بنى اِسرائيلى قاضيانو ته ووئيل، ”ستاسو هر يو کس به د
خپلې قبيلې نه هر هغه سړے وژنئ ځوک چې د فعور د بعل عِبادت
کوُونکے جوړ شوے وى.“ ٦ بيا يو بنى اِسرائيلى يوه ميديانۍ ښځه
د مُوسىٰ اؤ د ټول قوم په مخکښې خپلې خېمې ته دننه بوتله، په
هغه وخت کله چې هغوئ د مالِک خُدائ د حضُور خېمې په دروازه
کښې ماتم کولو. ٧ نو چې فينحاس، د اِلعازر زوئ اؤ د هارُون
نمسى دا وليدل، هغه د ډلې نه پاڅېدو اؤ لاړو. هغۀ نېزه راواخستله،
٨ اؤ په هغه سړى اؤ ښځې پسې خېمې ته ورننوتلو اؤ نېزه يې د
هغه سړى اؤ ښځې د خېټې نه بل خوا وويستله. نو داسې هغه وبا

بس شوه کُومې چې بنی اِسرائيل تباه کول، ⁹ خو وبا څليريشت زره
کسان وژلی وُو. ¹⁰ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ¹¹ "فينحاس زوئ
د اِلعازر چې د هارُون اِمام زوئ دے هغۀ زما غُصه د بنی اِسرائيلو
د پاره ختمه کړه چې هغوئ کښې هغۀ غېرت وکړو، نو ما د خپل
غېرت په وجه بنی اِسرائيل هلاک نۀ کړل. ¹² نو ورته ووايه چې زۀ د
هغۀ سره د آمن تړون کوم چې د راتلُونکی ټولو وختُونو د پاره به وی.
¹³ هغه اؤ د هغۀ اولاد به د همېشه د پاره اِمامان مُقررولے شی، ځکه
چې هغۀ په ما باندې غېرت وکړو اؤ د بنی اِسرائيلو د ګُناه کفاره يې
ادا کړه." ¹⁴ کُوم سړے چې د ميديانې ښځې سره وژلے شوے وو
د هغۀ نُوم زِمری وو، هغه د سلُو زوئ وو، چې د شمعُون په قبيلې
کښې د يوې کورنۍ مشر وو. ¹⁵ د هغه ښځې نُوم کزبی وو. د هغې
پلار صور، د ميديانې قبيلې د يوې ډلې مشر وو. ¹⁶ مالِک خُدائ
مُوسیٰ ته ووئيل، ¹⁷ "په ميديانيانو حمله وکړه اؤ هغوئ تباه کړه،
¹⁸ د هغه بد عمل په وجه، چې په فعور کښې يې په دهوکه په تاسو
باندې عِبادت وکړو اؤ د کزبی په وجه، چې هغه د وبا په وخت په
فعور کښې وژلے شوې وه."

## دويمه مردمشماری

# ۲٦

¹ د وبا نه پس مالِک خُدائ مُوسیٰ اؤ د هارُون زوئ
اِلعازر ته ووئيل چې، ² "د بنی اِسرائيلو د ټول قوم د
کورَنو په مُطابق مردمشماری وکړئ، د هغو ټولو سړو چې عُمر يې شل
کاله يا د دې نه زيات وی اؤ چې جنګ کولے شی." ³-⁴ مُوسیٰ

اؤ اِلعازر هم هغه شان وکړل اؤ د دې عُمر ټول سړی یې راوغوښتل.
هغوئ د اُردن سیند نه پورې یریحو ته مخامخ د موآب په مېدانُونو
کښې راغونډ شول. دا هغه بنی اِسرائیل وُو چې د مِصر وطن نه
وتلی وُو: ۵ د یعقُوب د مشر زوئ روبین په قبیله کښې دا ډلې وې:
حنوک، فلو، ۶ حصرون اؤ کرمی. ۷ دوئ په شمېر کښې درې
څلوېښت زره اووۀ سوه اؤ دېرش سړی وُو. ۸ د فلو په اولاد کښې
اِلیاب ۹ اؤ د هغۀ زامن نمواېل، داتن، ابیرام وُو. دا هغه داتن اؤ
ابیرام وُو کُوم چې قوم خوښ کړی وُو. هغوئ د مُوسیٰ اؤ هارُون
مُخالفت وکړو اؤ د قورح په ډله کښې شامِل شول، کله چې هغوئ
د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت وکړو. ۱۰ نو زمکه وچودله اؤ هغوئ
یې تېر کړل اؤ کله چې اور دوه نیم سوه سړی تباه کول نو هغوئ
هم د قورح اؤ د هغۀ د ملګرو سره مړۀ شول، دا د خلقو د پاره د
خبردارئ یوه نښه شوه. ۱۱ خو د قورح اولاد نۀ وو وژلے شوے. ۱۲ د
شمعُون په قبیله کښې دا ډلې وې: نمواېل، یمین، یکین، ۱۳ زارح
اؤ ساؤل. ۱۴ دا ډلې په شمېر کښې دوه ویشت زره اؤ دوه سوه سړی
وُو. ۱۵ د جاد په قبیله کښې دا ډلې وې: صفون، حجی، سونی،
۱۶ ازنی، عیری، ۱۷ ارودی اؤ اریلی. ۱۸ دا ډلې په شمېر کښې
څلوېښت زره اؤ پینځۀ سوه سړی وُو. ۱۹-۲۱ د یهُوداه په قبیله کښې
دا ډلې وې: شله، فارص، زارح، حصرون اؤ حمُول. د یهُوداه دوه
زامن عیر اؤ اونان، د کنعان په وطن کښې مړۀ شوی وُو. ۲۲ دا ډلې
په شمېر کښې شپږ اؤیا زره اؤ پینځۀ سوه سړی وُو. ۲۳ د یساکار په
قبیله کښې دا ډلې وې: تولع، فُوه، ۲۴ یسُوب اؤ سِمرون. ۲۵ دا ډلې

په شمېر کښې څلور شپېتهٔ زره اؤ درې سوه سړی وُو. ٢٦ د زبولون
په قبیله کښې دا ډلې وې: سرد، اېلون اؤ یهلیاېل. ٢٧ دا ډلې په
شمېر کښې شپېتهٔ زره اؤ پینځهٔ سوه سړی وُو. ٢٨ د یُوسف قبیلې، د
هغهٔ دوه زامن منشه اؤ اِفرائیم وُو. ٢٩ دا د منشه قبیلې اولاد دے: د
منشه زوئ مکیر د جِلعاد ډلې پلارنیکهٔ جوړ شو: ٣٠ دا د جِلعاد ډلې
دی: د یعزر ډلې، د حالق ډله، ٣١ اسری اېل، شِکم، ٣٢ سمیدع اؤ
حِفر. ٣٣ د حِفر د زوئ صِلافحاد زامن نۀ وُو، صِرف لُوڼه یې وې،
د هغوئ نومُونه دا دی: محلاه، نوعاه، حجلاه، مِلکاه اؤ تِرضاه.
٣٤ دا ډلې په شمېر کښې دوه پنځوس زره اؤ اووهٔ سوه سړی وُو.
٣٥ د اِفرائیم په قبیله کښې دا ډلې وې: سُوتلح، بکر اؤ تحن. ٣٦ د
عیران قوم د سُوتلح اولاد وو. ٣٧ دا ډلې په شمېر کښې دوه دېرش
زره اؤ پینځهٔ سوه سړی وُو. دا ډلې د یُوسف اولاد دے. ٣٨ دا د
بنیامین قبیلې ډلې دی: بلع، اشبیل، اخیرام، ٣٩ سُوفام اؤ حُوفام. ٤٠ د
ارد اؤ نعمان ډلې د بلع اولاد دے. ٤١ دا ډلې په شمېر کښې پینځهٔ
څلوېښت زره اؤ شپږ سوه سړی وُو. ٤٢ سُوحام د دان د قبیلې ډلې
وې، ٤٣ کُوم چې په شمېر کښې څلورشپېتهٔ زره اؤ څلور سوه سړی
وُو. ٤٤ د آشر په قبیله کښې دا ډلې وې: یمنه، اِسوی اؤ بریعاه. ٤٥ د
حِبر اؤ ملکیاېل ډلې د بریعاه اولاد وو. ٤٦ د آشر یوه لُور وه چې نُوم
یې ساره وو. ٤٧ په دې ډلو کښې د سړو شمېر درې پنځوس زره اؤ
څلور سوه وو. ٤٨ د نفتالی په قبیله کښې دا ډلې وې: یحصیاېل،
جونی، ٤٩ یصر اؤ سلیم. ٥٠ په دې ډلو کښې د سړو شمېر پینځهٔ
څلوېښت زره اؤ څلور سوه وو. ٥١ ټول بنی اِسرائیل په شمېر کښې

شپږ لاکهه يو زر اووۀ سوه اؤ دېرش سړی وُو. ٥٢ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ٥٣ ”د میراث په توګه هغه زمکه په قبيلو بانديٖ د سړو د شمېر په مُطابق تقسيم کړئ. ٥٤ - ٥٦ پچه وربانديٖ واچوئ اؤ هغه زمکه تقسيم کړئ، غټیٖ قبيليٖ ته زيات میراث ورکړئ اؤ وړیٖ قبيليٖ ته لږه زمکه ورکړئ.“ ٥٧ دا ډليٖ د ليوی په قبيله کښیٖ ګڼلے شی: جيرسون، قُهات اؤ مراری. ٥٨ د هغوئ په اولاد کښیٖ دا وړیٖ ډليٖ هم شامِل دی: لِبنی، حبرون، محلی، موشی اؤ قورح. قُهات د عُمرام پلار وو، ٥٩ هغۀ د ليوی لُور يوکبد وادۀ کړیٖ وه، چیٖ هغه په مِصر کښیٖ پيدا شویٖ وه. د هغیٖ نه د عُمرام دوه زامن، هارُون اؤ مُوسیٰ اؤ يوه لُور مريم پيدا شوه. ٦٠ د هارُون څلور زامن وُو: ندب، ابيهُو، اِلعازر اؤ اِتمر. ٦١ ندب اؤ ابيهُو په هغه وخت ووژلے شول کله چیٖ هغوئ مالِک خُدائ ته هغه اور پيش کولو کُوم چیٖ خُدائ پاک ته قبُول نۀ وو. ٦٢ د نرانو ليويانو شمېر درويشت زره وو چیٖ د هغوئ عُمر يوه مياشت يا د دیٖ نه زيات وو. هغوئ د نورو بنی اِسرائيلو نه جُدا وشمېرلے شول، ځکه چیٖ هغوئ ته د بنی اِسرائيلو په مينځ کښیٖ جائيداد نۀ مِلاوېدو. ٦٣ دا ټوليٖ ډليٖ مُوسیٰ اؤ اِلعازر په هغه وخت وشمېرليٖ چیٖ د اُردن سيند نه پوریٖ يريحو ته مخامخ د موآب په مېدانُونو کښیٖ يیٖ د بنی اِسرائيلو مردم‌شماری وکړه. ٦٤ په دیٖ سړو کښیٖ هغه کسان نۀ وُو چیٖ د سينا په بيابان کښیٖ مُوسیٰ اؤ هارُون په وړومبۍ مردم‌شمارۍ کښیٖ شمېرلی وُو. ٦٥ مالِک خُدائ وئيلی وُو چیٖ هغوئ ټول به په صحرا کښیٖ مړۀ شی، نو د يفُنه د زوئ کالب اؤ د نون زوئ يشوَع نه بغېر ټول مړۀ شول.

## د صِلافحاد لُوڼه

# ۲۷

۱ محلاه، نوعاه، حجلاه، مِلکاه اؤ تِرضاه د صِلافحاد
لُوڼه وې چې هغه زوئ د حِفر، زوئ د جِلعاد، زوئ د
مکير، زوئ د منشه، زوئ د يُوسف وو. ۲ هغوئ لاړې اؤ د مُوسىٰ،
د اِلعازر اِمام، د مشرانو اؤ د ټول قوم په مخکښې د مالِک خُدائ د
حضُور د خېمې په خُله کښې ودرېدلې اؤ وې وئيل، ۳ ”زمُونږ پلار
په صحرا کښې مړ شو، د هغهٔ زامن نشته، خو هغه د قورح د ډلې
نه نهٔ وو، چا چې د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت کړے وو، هغه د
خپلې ګُناه په وجه مړ شوے وو. ۴ چې د هغهٔ زامن نشته، نو د
هغهٔ نُوم دې ولې د اِسرائيليانو نه ختم شى؟ مُونږ له هم لکه زمُونږ د
پلار د خپلوانو په شان جائيداد راکړئ.“ ۵ نو مُوسىٰ د هغوئ مسئله
مالِک خُدائ ته پيش کړه، ۶ اؤ مالِک خُدائ هغهٔ ته ووئيل، ۷ ”د
صِلافحاد لُوڼه ټيک وائى، هغوئ له د هغوئ د پلار د خپلوانو په شان
جائيداد ورکړه. اؤ د خپل پلار جائيداد دې هغوئ ته مِلاؤ شى. ۸ اؤ
تهٔ خامخا بنى اِسرائيلو ته ووايه چې د کُوم سړى زوئ نهٔ وى اؤ مړ
شى، نو د هغهٔ لُور ته به جائيداد په ميراث کښې ملاوېږى. ۹ کهٔ د
هغهٔ لُوڼه نهٔ وى، نو ميراث به يې د وړُونو وى. ۱۰ کهٔ د هغهٔ وړُوڼه
نهٔ وى، نو ترُونه به يې ميراث اخلى. ۱۱ کهٔ د هغهٔ وړُوڼه يا ترُونه هم
نهٔ وى، نو بيا به د هغهٔ نزدې خپلوان د هغهٔ ميراث اخلى اؤ دا به
د هغوئ د خپل جائيداد په شان وى. بنى اِسرائيل به دا د قانُون په
توګه منى، څنګه چې ما، مالِک خُدائ تاسو ته حُکم کړے دے.“

## د حضرت يشوَع د بنى اِسرائيلو د مشر په توګه مُقرر کېدل

**(د ګردان کِتاب ۳۱: ۱-۸)**

۱۲ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”د ابيرام غرُونو ته وخېژه اؤ هغه
وطن ته وګوره کُوم چې زهٔ بنى اِسرائيلو له ورکوم. ۱۳ کله چې تهٔ
هغه وګورې، نو د هارُون په شان به تهٔ هم مړ شې، ۱۴ ځکه چې
تاسو دواړو د صين په صحرا کښې زما د حُکم نه بغاوت کړے وو.
کله چې ټول قوم زما خِلاف په مريبه کښې وغورېدو، د هغوئ په
مخکښې تاسو زما مُقدس طاقت ښکاره نهٔ کړو.“ مريبه په قادِس
کښې د صين په صحرا کښې يوه چينه ده. ۱۵ مُوسىٰ مالِک خُدائ
ته سوال وکړو، ۱۶ ”مالِکه خُدايه تهٔ خُدائ پاک يې! هر څيز له ساه
ورکوُونکے يې، زهٔ دا سوال کوم چې يو داسې سړے مُقرر کړه چې
د دې قوم لار ښودنه کوى ۱۷ اؤ په جنګ کښې يې مشرى کوى،
نو ستا قوم به د داسې ګډو په شان نهٔ وى چې شپُون يې نهٔ وى.“
۱۸ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ”د نون زوئ يشوَع بوځه ځکه
چې هغه قابِل سړے دے اؤ خپل لاسُونه د هغهٔ په سر کېږده چې
ستا ذِمه وارى حواله شى. ۱۹ هغه د اِلعازر اِمام په مخکښې ودروه اؤ
د ټول قوم په مخکښې هغهٔ له مشرى ورکړه. ۲۰ تهٔ هغهٔ له څهٔ خپل
اِختيارات هم ورکړه، چې ټول بنى اِسرائيل د هغهٔ فرمانبردارى کوى.
۲۱ د فېصلې کولو د پاره به هغه د اِلعازر اِمام نه مشوره اخلى اؤ
اِلعازر به اُوريم اؤ تميم زما رضا معلُومولو د پاره اِستعمالوى. نو اِلعازر
به د يشوَع اؤ د بنى اِسرائيلو د ټول قوم په هر څيز کښې لار ښودنه

کوی.“ ٢٢ مُوسیٰ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ ورته حُکم کړے وو. هغۀ يشوَع، د اِلعازر اِمام اؤ د ټول قوم په مخکښې ودرولو. ٢٣ چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو، مُوسیٰ خپل لاسُونه د يشوَع په سر کېښودل اؤ خپله مشری يې ورکړه.

## مُقررې شوې نذرانې

**(د هِجرت کِتاب ٢٩: ٣٨-٤٦)**

**٢٨** ١ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته حُکم وکړو، ٢ ”بنی اِسرائيلو له حُکم ورکړه چې خُدائ پاک ته په مُقررو وختُونو باندې په اور تيارېدُونکې نذرانې پېش کوئ، د دې بُوئ په مالِک خُدائ ښۀ لګی. ٣ دا په اور تيارېدُونکې نذرانې دی چې مالِک خُدائ ته پېش کېږی: د هرې ورځې سوزېدُونکې نذرانې د پاره، دوه يو کالن ګډُوری چې هيڅ عيب په کښې نۀ وی. ٤ وړومبے ګډُورے په سحر کښې پېش کوئ اؤ دويم په ماښام کښې، ٥ هر يو به د يو کيلو اوړو د غلې نذرانې سره پېش کېږی، چې يو ليټر د زيتُونو ښۀ تيل ورسره ګډ وی. ٦ دا د هرې ورځې نذرانه ده چې پُوره سوزولے شی، کُومه چې مخکښې د سينا په غرۀ باندې په اور تيارېدُونکې نذرانې په توګه پېش شوې وه، د دې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګی. ٧ د څښلو نذرانې په توګه د وړومبی ګډُوری سره، يو ليټر د انګُورو شراب به په قُربان‌ګاه باندې توېولے شی. ٨ په ماښام کښې هغه دويم ګډُورے پېش کړئ، چې څنګه په سحر کښې پېش شوے وو. دا به د دې د څښلو نذرانې

سره پېش کېږی. دا هم يوه په اور تيارېدُونکې نذرانه ده، د دې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې.

## د سبت د ورځې نذرانه

٩ د سبت په ورځ دوه يو کالن ګډُوری چې هيڅ عېب په کښې نهٔ وی، د غلې نذرانې په توګه دوه کيلو اوړهٔ چې د زيتُونو تېل ورسره ګډ وی اؤ د څښلو نذرانه پېش کړئ. ١٠ دا د هر سبت ورځې سوزېدُونکې نذرانه د هرې ورځې د سوزېدُونکې اؤ د څښلو نذرانې نه علاوه ده.

## د مياشتې د وړومبۍ ورځې نذرانه

١١ د هرې مياشتې په شروع کښې مالِک خُدائ ته يوه سوزېدُونکې نذرانه پېش کوئ: دوه څخی، يو ګډ، اووهٔ يو کالن ګډُوری، چې په هر يو کښې هيڅ عېب نهٔ وی. ١٢ د غلې نذرانې په توګه، اوړهٔ پېش کړئ چې د زيتُونو تېل ورسره ګډ وی: د هر يو څخی سره درې کيلو اوړهٔ، دوه کيلو د ګډ سره، ١٣ اؤ يو کيلو د هر يو ګډُوری سره. دا سوزېدُونکې نذرانې په اور تيارېدُونکې نذرانې دی، د دې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښهٔ لګې. ١٤ د څښلو صحيح نذرانه د هر يو څخی سره دوه ليټره د انګُورو شراب دی، يو نيم ليټر به د ګډ سره وی اؤ يو ليټر به د هر يو ګډُوری سره وی. دا اصُول د سوزېدُونکې نذرانې د پاره د ټول کال د هرې مياشتې د وړومبۍ ورځې د پاره دے. ١٥ اؤ يو چېلے به د ګُناه د نذرانې په توګه مالِک خُدائ ته

پېش کولے شی، دا به د هرې ورځې د سوزېدُونکې نذرانې اؤ د دې
د څښلو نذرانې نه علاوه وی.

## د پتیرې ډوډۍ د اختر نذرانې

**(د لیویانو کِتاب ۲۳: ۵-۱٤)**

١٦ د وړومبۍ میاشتې په څوارلسمه ورځ به د مالِک خُدائ په
درناوی کښې د فسحې اختر کولے شی. ١٧ د دې میاشتې په
پینځلسمه ورځ به اختر شروع کېږی چې اووهٔ ورځې به وی، چې
په دې دوران کښې به صِرف پتیره ډوډۍ خوړلے شی. ١٨ د اختر
په وړومبۍ ورځ به تاسو د عِبادت د پاره راغونډېږئ اؤ هیڅ کار
به نهٔ کوئ. ١٩ په اور تیارېدُونکې نذرانې په توګه مالِک خُدائ ته
یوه سوزېدُونکې نذرانه پېش کوئ: دوه څخی، یو ګډ اؤ اووهٔ یو
کالن ګډُوری، چې په دې کښې هم څهٔ عیب نهٔ وی. ٢٠ د غلې
صحیح نذرانه پېش کوئ چې په هغه اوړو کښې د زیتُونو تېل ګډ
وی: درې کیلو د هر یو څخی سره، دوه کیلو د ګډ سره، ٢١ اؤ یو
کیلو د هر یو ګډُوری سره. ٢٢ د ګُناه نذرانې په توګه یو چېلے هم
پېش کوئ، چې د خلقو کفاره ادا شی. ٢٣ دا ټولې نذرانې د هر
سحر د سوزېدُونکې نذرانې نه علاوه پېش کوئ. ٢٤ هم دغه شان،
اووهٔ ورځې مالِک خُدائ ته په اور تیارېدُونکې نذرانې پېش کوئ، دا
بُوئ په هغهٔ باندې ښهٔ لګې. دا د هرې ورځې سوزېدُونکې نذرانې
اؤ د څښلو نذرانې نه علاوه پېش کوئ. ٢٥ په اوومه ورځ د عِبادت
د پاره را یو ځائ کېږئ اؤ کار مهٔ کوئ.

## د لَو کولو اختر نذرانه

**(د ليويانو کِتاب ۲۳: ۱۵-۲۲)**

۲۶ د لَو کولو اختر په وړومبۍ ورځ، کله چې تاسو د نوې غلې نذرانه مالِک خُدائ ته پېش کوئ، نو تاسو به د عِبادت د پاره راجمع کېږئ اؤ هيڅ کار به نۀ کوئ. ۲۷ يوه سوزېدُونکې نذرانه پېش کوئ چې د هغې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګې: دوه څخی، يو ګډ اؤ اووۀ يو کالن ګډُوری، چې هيڅ عېب په کښې نۀ وی. ۲۸ د غلې صحيح نذرانه پېش کوئ چې په اوړو کښې بې د زيتُونو تېل ګډ وی: درې کيلو د هر يو څخی سره، دوه کيلو د ګډ سره، ۲۹ اؤ يو کيلو د هر يو ګډُوری سره. ۳۰ د ګُناه نذرانې په توګه يو چېلے هم پېش کوئ، چې ستاسو د خلقو کفاره ادا شی. ۳۱ د هرې ورځې د سوزېدُونکې نذرانې اؤ د غلې د نذرانې نه علاوه به تاسو دا نذرانې اؤ د څښلو نذرانه پېش کوئ. اؤ ياد ساتئ چې دا څناور بېعېبه وی.

## د نوی کال د اختر نذرانې

**(د ليويانو کِتاب ۲۳: ۲۳-۲۵)**

# ۲۹

۱ د اوومې مياشتې په وړومبۍ ورځ به تاسو د عِبادت د پاره راغونډېږئ اؤ په دې ورځ به هيڅ کار نۀ کېږی. په هغه ورځ به بيګل وغږېږی. ۲ مالِک خُدائ ته يو سوزېدُونکې نذرانه پېش کړئ، د دې بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګې: يو څخے،

يو ګډه، اووۀ يو کالن ګډُورى، چې په يو کښې هم هيڅ عېب نۀ
وى. ③ د اوړو صحيح نذرانه پېش کوئ چې د زيتُونو تېل ورسره ګډ
وى: درې کيلو د څخى سره اؤ دوه کيلو د ګډ سره، ④ اؤ يو کيلو
د هر يو ګډُورى سره. ⑤ د ګُناه نذرانې په توګه يو چېلے هم پېش
کوئ اؤ د خپل ځان کفاره ادا کوئ. ⑥ د دې مياشتې د وړومبۍ
ورځې د پاره د هرې ورځې د سوزېدُونکې نذرانې نه علاوه د دې
د غلې نذرانې سره پېش کوئ: اؤ د هرې ورځې سوزېدُونکې نذرانه
ورسره د دې د غلې نذرانه اؤ د څښلو نذرانه. په اور تيارېدُونکې د
دې نذرانو بُوئ په مالِک خُدائ باندې ښۀ لګې.

## د کفارې د ورځې نذرانې

**(د ليويانو کِتاب ۲۳: ۲-۳۲)**

⑦ د اوومې مياشتې په لسمه ورځ د عِبادت د پاره راغونډېږئ،
هيڅ څيز به نۀ خورئ اؤ نۀ به څۀ کار کوئ. ⑧ مالِک خُدائ ته يوه
سوزېدُونکې نذرانه پېش کوئ، د دې بُوئ په هغۀ باندې ښۀ لګې:
يو څخے، يو ګډ، اووۀ يو کالن ګډُورى، چې په يو کښې هم هيڅ
عېب نۀ وى. ⑨ د غلې دانې صحيح نذرانه پېش کوئ چې په اوړو
کښې د زيتُونو تېل ورسره ګډ وى: درې کيلو اوړۀ د څخى سره،
دوه کيلو د ګډ سره، ⑩ اؤ يو کيلو د هر يو ګډُورى سره. ⑪ د ګُناه
نذرانې په توګه يو چېلے هم پېش کوئ، د هغې نه علاوه کُوم چېلے
چې د کفارې د پاره پېش شوے وى اؤ د هرې ورځې نذرانه د هغې
د غلې نذرانې اؤ د څښلو نذرانې سره.

## د جُونګړو د اختر نذرانې

**(د لیویانو کِتاب ٢٣: ٣٣-٤٤)**

١٢ د اوومې میاشتې په پینځلسمه ورځ د عِبادت د پاره راغونډېږئ.
د مالِک خُدائ په درناوی کښې اووهٔ ورځې دا اختر کوئ اؤ هیڅ کار
مهٔ کوئ. ١٣ په وړومبۍ ورځ په اور تیارېدُونکې نذرانه مالِک خُدائ
ته پېش کوئ، د دې بُوئ په هغهٔ باندې ښهٔ لګې: دیارلس څخی،
دوه ګډان اؤ څوارلس یو کالن ګډُوری، چې په یو کښې هم هیڅ
عېب نهٔ وی. ١٤ د غلې صحیح نذرانه پېش کوئ چې په اوړو کښې
ورسره د زیتُونو تېل ګډ وی: درې کیلو اوړهٔ د هر یو څخی سره،
دوه کیلو د هر یو ګډ سره، ١٥ اؤ یو کیلو د هر یو ګډُوری سره. ١٦ د
هرې ورځې سوزېدونکې نذرانې، د غلې نذرانې اؤ د څښلو نذرانې
نه علاوه د ګُناه نذرانې په توګه یو چېلے هم پېش کوئ. ١٧ په
دویمه ورځ دولس څخی، دوه ګډان اؤ څوارلس یو کالن ګډُوری
پېش کړئ، چې په یو کښې هم هیڅ عېب نهٔ وی. ١٨-١٩ د دې
سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کُومې د وړومبۍ ورځې
د پاره وی. ٢٠ په دریمه ورځ یولس څخی، دوه ګډان اؤ څوارلس
یو کالن ګډُوری پېش کړئ، چې په یو کښې هم هیڅ عېب نهٔ وی.
٢١-٢٢ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کُومې د
وړومبۍ ورځې د پاره وی. ٢٣ په څلورمه ورځ لس څخی، دوه ګډان
اؤ څوارلس یو کالن ګډُوری پېش کړئ، چې په یو کښې هم هیڅ
عېب نهٔ وی. ٢٤-٢٥ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ

چې کُومې د وړومبی ورځې د پاره وی. ٢٦ په پينځمه ورځ نهٔ څخی، دوه ګډان اؤ څوارلس يو کالن ګډُوری پېش کړئ، چې په يو کښې هم هيڅ عېب نهٔ وی. ٢٧ - ٢٨ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کُومې د وړومبی ورځې د پاره وی. ٢٩ په شپږمه ورځ اتهٔ څخی، دوه ګډان اؤ څوارلس يو کالن ګډُوری پېش کړئ، چې په يو کښې هم هيڅ عېب نهٔ وی. ٣٠ - ٣١ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کُومې د وړومبی ورځې د پاره وی. ٣٢ په اوومه ورځ اووهٔ څخی، دوه ګډان اؤ څوارلس يو کالن ګډُوری قُربانی کړئ، چې په يو کښې هم هيڅ عېب نهٔ وی. ٣٣ - ٣٤ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کُومې د وړومبی ورځې د پاره وی. ٣٥ په اتمه ورځ د عِبادت د پاره راغونډېږئ اؤ هيڅ کار مهٔ کوئ. ٣٦ په اور تيارېدُونکې نذرانې په توګه يوه سوزېدُونکې نذرانه مالِک خُدائ ته پېش کړئ، د دې بُوئ په هغهٔ باندې ښهٔ لګې: يو څخے، يو ګډ، اووهٔ يو کالن ګډُوری، چې په يو کښې هم هيڅ عېب نهٔ وی. ٣٧ - ٣٨ د دې سره هغه نورې ټولې نذرانې پېش کوئ چې کُومې د وړومبی ورځې د پاره وی. ٣٩ دا اصُول د سوزېدُونکې نذرانې، د غلې دانې نذرانې، د څښلو نذرانې اؤ د سلامتی نذرانې د پاره دی چې تاسو يې مالِک خُدائ ته په خپلو مُقررو اخترُونو کښې پېش کوئ. دا د هغه نذرانو نه علاوه دی چې تاسو يې د يوې منختې د پُوره کېدو د نذرانو يا د رضاکارانه نذرانو په توګه ورکوئ.“ ٤٠ نو مُوسیٰ بنی اِسرائيلو ته هغه هر څهٔ ووئيل چې مالِک خُدائ هغهٔ ته د څهٔ حُکم کړے وو.

## د منختې منلو په باره کښې اصُول

**۳۰** ۱ مُوسیٰ د بنی اِسرائیلو د قبیلو مشرانو ته دا اصُول
وښودل: ۲ کله چې یو سړے مالِک خُدائ ته د منختې
په توګه څۀ څیز ومنی یا سخت قسم وخوری، نو هغه به خپله وعده
نۀ ماتوی اؤ خامخا به یې پوره کوی. ۳ کله چې یوه جینۍ د پلار
په کور کښې اوسېږی اؤ منخته ومنی چې یو څیز به مالِک خُدائ له
ورکوی یا د څۀ څیز نه د ځان ساتلو وعده وکړی، ۴ هغه به خامخا
هغه هر څۀ کوی چې هغې کُومه منخته منلې وی یا یې وعده کړې
وی خو کۀ د هغې پلار ترې نه خبر شی اؤ څۀ اِعتراض وکړی نو بیا
به یې نۀ پُوره کوی. ۵ خو چې کله یې پلار خبر شی اؤ ورته ووائی
چې دا وعده مۀ پُوره کوه، نو د هغې د پاره ضرُوری نۀ ده چې دا
وعده پُوره کړی. مالِک خُدائ به هغه معاف کړی، ځکه چې پلار
یې د دې د پُوره کولو نه منع کړه. ۶ کۀ یوه ناوادۀ شوې ښځه یوه
منخته ومنی، د قصده یا په بې‌خیالۍ کښې، یا وعده وکړی چې
د څۀ څیز نه به ځان ساتی اؤ بیا وادۀ شی، ۷ نو هغې چې کُومه
منخته منلې وی یا یې وعده کړې وی نو هغه به خامخا پُوره کوی
خو کۀ د هغې خاوند ترې نه خبر شی اؤ څۀ اِعتراض وکړی نو هغه
به نۀ پُوره کوی. ۸ خو کۀ خاوند یې خبر شی اؤ د هغه وعدې پُوره
کولو نه یې منع کړی، نو د هغې د پاره دا ضرُوری نۀ ده چې دا
وعده پُوره کړی. مالِک خُدائ به هغه معاف کړی. ۹ یوه کونډه یا
طلاقه ښځه به خامخا خپل قسم پُوره کوی. ۱۰ کۀ یوه وادۀ شوې

ښځه يوه منخته ومنى، ١١ نو هغه به خامخا هغه هر څۀ کوى چې
هغې منخته منلې وى. کۀ خاوند يې خبر شى اؤ څۀ اِعتراض وکړى
نو بيا به يې نۀ پُوره کوى. ١٢ خو کۀ خاوند يې خبر شى اؤ هغه د
وعدې پُوره کولو نه منع کړى، نو ضرُورى نۀ ده چې دا وعده پُوره
کړى. مالِک خُدائ به هغه معاف کړى، ځکه چې د هغې خاوند د
دې قسم د پُوره کولو نه منع کړې ده. ١٣ د هغې خاوند دا حق لرى
چې هغې له د دې لوظُونو پُوره کولو اِجازت ورکړى يا ورنۀ کړى.
١٤ خو کۀ، د ورځې د تېرېدو نه پس، هغه د دې قسم نه خبر شى
اؤ څۀ اِعتراض ونۀ کړى، نو هغه دې خامخا هغه هر څۀ وکړى چې
د څۀ يې قسم يا وعده کړې وى. ځکه چې په کُومه ورځ هغه خبر
شو نو څۀ اِعتراض يې ونۀ کړو نو قسم دې خامخا پُوره شى. ١٥ خو
کۀ هغه وروستو قسم نۀ پُوره کوى، نو د قسم د ماتولو په وجه به
هغۀ ته د خپلو بدو سزا مِلاؤ شى. ١٦ دا هغه اصُول دى کُوم چې
مالِک خُدائ مُوسىٰ ته وښودل چې د هغه قسمُونو د خوړلو په باره
کښې دى چې يوه پېغله چې د خپل پلار په کور کښې اوسېږى يا
يې يوه وادۀ شوې ښځه يې وخورى.

## د ميديانيانو خِلاف جنګ

۳۱
١ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ٢ ”د بنى اِسرائيلو
سره چې ميديانيانو څۀ کړى وُو د هغې بدل ترې نه
واخله. کله چې تۀ دا وکړى نو مړ به شې.“ ٣ نو مُوسىٰ خلقو ته
ووئيل، ”د جنګ د پاره تيار شئ، چې تاسو په ميديانيانو حمله وکړئ

اؤ د هغوئ نه د مالِک خُدائ بدله واخلئ. ۴ د اِسرائيليانو د هرې
قبيلې نه زر کسان د جنګ د پاره ولېږئ.“ ۵ نو د هرې قبيلې نه
زر زر سړی خوښ کړے شول، دولس زره سړو د جنګ د پاره ملا
وتړله. ۶ مُوسىٰ هغوئ د اِلعازر اِمام زوئ فينحاس د مشرۍ لاندې
جنګ ته ولېږل، هغۀ د مُقدسو سامانُونو اؤ د بيګلو ذِمه وارى واخستله
چې د اِشارو د پاره غږولے شول. ۷ هغوئ په ميديانيانو باندې حمله
وکړه، هم هغه شان چې مالِک خُدائ حُکم کړے وو اؤ ټول سړى
يې ووژل، ۸ سره د پينځو ميديانيانو بادشاهانو چې دا وُو: ايوى،
رِقم، صور، حُور اؤ اربع. هغوئ د بعور زوئ بلعام هم ووژلو. ۹ بنى
اِسرائيلو د ميديانيانو ښځې اؤ ماشُومان ونيول، د هغوئ څاروى اؤ رَمې
يې بوتلې، ټول مال يې ورله لُوټ کړو، ۱۰ اؤ د هغوئ ټول ښارونه
اؤ خېمې يې وسوزولې. ۱۱ هغوئ ترې نه هغه ټول مالِ غنيمت يوړو
چې کُوم يې نيولے وو، په دې کښې قېديان اؤ ځناور هم وُو، ۱۲ اؤ
مُوسىٰ، اِلعازر اؤ د بنى اِسرائيلو ټول قوم له يې راوړل، چې هغوئ د
اُردن سيند نه پورې يريحو ته مخامخ د موآب په مېدانُونو کښې وُو.

## د لښکر راوپس کېدل

۱۳ مُوسىٰ، اِلعازر اؤ د قوم ټول مشران لاړل چې د کېمپ نه بهر
د لښکر سره مِلاؤ شى. ۱۴ مُوسىٰ هغه آفسرانو ته سخت غُصه وو،
چې د سلګُونو اؤ زرګُونو مشران وُو اؤ د جنګ نه راوپس شوى وُو.
۱۵ مُوسىٰ د هغوئ نه تپوس وکړو، ”تاسو دا ټولې ښځې ولې ژوندئ
پرېښودلې دى؟ ۱۶ ياد ساتئ چې زناناؤ د بلعام په نصيحت عمل وکړو

اؤ په فعور کښې يې خلق د مالِک خُدائ نافرمانه کړل، او د دوئ په وجه د مالِک خُدائ په خلقو باندې وبا راغله، ⑰ نو اوس هغه هر يو هلک اؤ ښځه ووژنئ چا چې زنا کړې وی، ⑱ خو د ځان د پاره هغه ټولې جينکی اؤ ښځې ژوندئ پرېږدئ چې هيڅ کله يې زنا نۀ وی کړې. ⑲ نو ستاسو هر يو کس چې څوک يې وژلے وی يا د يو مړی سره لګېدلے وی نو هغه به اووۀ ورځې د خېمو نه بهر ايسارېږی. په دريمه اؤ په اوومه ورځ به خپل ځانُونه اؤ هغه ښځې پاکې کړئ چې کُومې مو نيولې دی. ⑳ تاسو به خپلې ټولې کپړې اؤ څرمنې، د چېلو ټولې وړی اؤ د لرګی نه جوړ شوے هر څيز پاک کړئ.“ ㉑ اِلعازر اِمام هغه سړو ته ووئيل کُوم چې د جنګ نه راواپس شوی وُو، ”دا هغه اصُول دی چې مالِک خُدائ يې مُوسیٰ ته حُکم کړے وو. ㉒-㉓ کُوم څيز چې نۀ سوزېږی، لکه سرۀ زر، سپين زر، زيړ، اوسپنه، قلائی، يا سيکه، نو د پاکوالی د پاره به د اور نه تېرولے شی. نور ټول څيزُونه به د پاکوالی د اوبو په ذريعه پاکولے شی. ㉔ په اوومه ورځ به تاسو خامخا خپلې جامې وينځئ، بيا به تاسو پاک شئ اؤ خېمو ته به ننوتلے شئ.“

## د مالِ غنيمت تقسيمېدل

㉕ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ㉖ ”تۀ اؤ اِلعازر د قوم د نورو مشرانو سره، هغه ټول څيزُونه وشمېرئ چې کُوم نيولے شوی دی، سره د قيديانو اؤ ځناورو. ㉗ څۀ څيز چې نيولے شوے وی هغه په دوه برابرو حِصو کښې تقسيم کړئ، يوه حِصه به د هغو کسانو د پاره وی چې جنګ له تلی وی اؤ يوه حِصه به د نور قوم وی. ㉘ د هغو کسانو د حِصې نه

چې جنګ ته تلی وی، د هرو پينځو سوو قيديانو نه، څاروو نه، خرو، ګډو اؤ د چېلو نه يوه برخه د مالِک خُدائ د پاره جُدا کړئ. ۲۹ دا اِلعازر اِمام له د مالِک خُدائ د پاره د خاص نذرانې په توګه ورکړئ. ۳۰ کُومه حِصه چې نورو خلقو له ورکړې شوی وی د هغې نه، د هرو پنځوسو قيديانو نه، څاروو نه، خرو، ګډو اؤ د چېلو نه يوه برخه واخلئ. دا هغه ليويانو له ورکړئ چې د مالِک خُدائ د خېمې د خيال ساتلو ذِمه وار دی.“ ۳۱ مُوسیٰ اؤ اِلعازر هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو. ۳۲ - ۳۵ دا هغه څۀ دی چې جنګ له تلو کسانو قبضه کړی وُو، د دې نه علاوه يې څۀ د خپلو ځانُونو د پاره هم پرېښی وُو: شپږ لاکهه اؤ پينځه اؤيا زره ګډې اؤ چېلۍ، دوه اؤيا زره څاروی، يو شپېتۀ زره خرۀ اؤ دوه دېرش زره پېغلې چې هيڅ کله يې زنا نۀ وی کړې. ۳۶ - ۴۰ کُوم کسان چې جنګ له تلی وُو د هغوئ نيمه حِصه درې لاکهه اووۀ دېرش زره اؤ پينځۀ سوه ګډې اؤ چېلۍ وې، د دې نه د مالِک خُدائ په برخه کښې شپږ سوه اؤ پينځۀ اؤيا وُو، شپږ دېرش زره څاروی د هغه کسانو د پاره چې جنګ له تلی وُو چې د دې نه د مالِک خُدائ په برخه کښې دوه اؤيا وُو، دېرش زره اؤ پينځۀ سوه خرۀ د جنګ والا کسانو د پاره وُو، د دې نه د مالِک خُدائ په برخه کښې يو شپېتۀ وُو، اؤ شپاړس زره پېغلې د هغه کسانو د پاره وې چې جنګ له تلی وُو، چې د دې نه د مالِک خُدائ په برخه کښې دوه دېرش وُو. ۴۱ نو مُوسیٰ اِلعازر له دا برخه د مالِک خُدائ د پاره د خاص برخې په توګه ورکړه، هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے وو. ۴۲ - ۴۶ د قوم حِصه هم هغه هومره وه چې څومره د هغه کسانو وه چې جنګ له

تلې وُو: درې لاکهه اووۀ دېرش زره اؤ پينځۀ سوه ګډې اؤ چېلۍ، شپږ
دېرش زره څاروی، دېرش زره اؤ پينځه سوه خرۀ اؤ شپاړس زره پېغلې.
٤٧ د دې حِصې نه مُوسىٰ د هر يو پنځوسو قيديانو اؤ ځناورو نه يو يو
واخستلو اؤ چې څنګه مالِک خُدائ وئيلی وُو هم هغه شان يې دا ليويانو
له ورکړل چې هغوئ د مالِک خُدائ د خېمې د خيال ساتلو ذِمه وار
وُو. ٤٨ بيا هغه آفسران مُوسىٰ له لاړل کُومو چې د لښکر مشری کړې وه
٤٩ اؤ مُوسىٰ ته يې ووئيل، ”صاحِبه! مُونږ د جنګ والا کسان وشمېرل
کُوم چې زمُونږ د مشرئ لاندې وُو اؤ يو سړے هم په کښې کم نۀ دے.
٥٠ نو مُونږ د سرو زرو کالی، بنګړی، کړَی، ګوتمې، والۍ اؤ هارُونه
راوړُو چې مُونږ هر يو کس اخستی دی. اؤ مُونږ يې مالِک خُدائ ته د
خپل ژوند په کفاره کښې پېش کړُو، چې هغه مو بچ کړی.“ ٥١ مُوسىٰ
اؤ اِلعازر ترې نه هغه ټول سرۀ زر اؤ کالی واخستل. ٥٢ د آفسرانو پېش
کړے شوې برخه تقريباً دوه سوه کيلو وه. ٥٣ چې کُوم کسان آفسران
نۀ وُو هغوئ هغه لُوټ شوے مال د ځان د پاره کېښودو. ٥٤ نو مُوسىٰ
اؤ اِلعازر اِمام هغه سرۀ زر خېمې ته يوړل، چې د بنی اِسرائيلو د يادګېرنې
د پاره د مالِک خُدائ په حضُور کښې پراتۀ وی.

## د اُردن نَمرخاتۀ طرف ته قبيلې

**(د ګردان کِتاب ۳: ۱۲-۲۲)**

# ۳۲

١ د روبين اؤ جاد قبيلې سره ډېر څاروی وُو. کله چې
هغوئ وليدل چې د يصر اؤ جِلعاد زمکه د څاروو د پاره
ښۀ وه، ٢ نو هغوئ مُوسىٰ، اِلعازر اؤ د قوم نورو مشرانو له لاړل اؤ

ورته يې ووئيل، ٣-٤ ”مالِک خُدائ چې د بنی اِسرائيلو په کُوم وطن نيولو کښې مدد کړے وو په هغې کښې دا ښارونه وُو: عطاروت، ديبُون، يصر، نمراه، حسبون، العاليه، سبماه، نبُو اؤ بعون. دا زمکه د څاروو د پاره ښۀ ده اؤ مُونږ سره ډېر څاروی دی. ٥ کۀ ستاسو خوښه وی نو مُونږ له دا زمکه راکړئ چې زمُونږ ميراث شی، مُونږ ستاسو خِدمتګار يُو اؤ مُونږ مۀ مجبُوروئ چې لاړ شُو اؤ د اُردن سيند نه پورې غاړه اوسېږُو.“ ٦ مُوسیٰ ورته ووئيل، ”ستاسو ورُوڼه اِسرائيليان جنګ له روان دی اؤ تاسو دلته ايساربږئ څۀ؟ ٧ تاسو د بنی اِسرائيلو زړُونه ولې راماتوئ چې د اُردن سيند نه پورې شی اؤ هغه وطن ته ننوځی چې کُوم مالِک خُدائ ورکړے دے؟ ٨ دغه شان ستاسو پلارنيکۀ هم کړی وُو کله چې ما هغوئ د قادِش برنيع نه وليږل چې هغه وطن وګوری. ٩ هغوئ د اشکول وادئ پورې لاړل اؤ هغه وطن يې وليدو، خو چې کله هغوئ راواپس شول، نو هغوئ د بنی اِسرائيلو اِراده بدله کړه چې هغه وطن ته ورننه نۀ وځی کُوم چې مالِک خُدائ هغوئ له ورکړے وو. ١٠ مالِک خُدائ په هغه ورځ په قهر وو اؤ يو لوظ يې وکړو: ١١ دوئ زما په لاره روان نۀ دی، نو زۀ قسم کوم چې کُوم خلق د مِصر نه راوتلی دی هغه يو سړے به هم هغه وطن ته ورننه نۀ وځی چې عُمر يې شل کاله يا د دې نه زيات وی چې د کُوم وطن لوظ ما د اِبراهيم، اِسحاق اؤ د يعقُوب سره کړے وو. ١٢ خو د صرفد يفُنه زوئ کاليب قنيزی اؤ د نون زوئ يشوَع د زړۀ د اخلاصه په مالِک خُدائ پسې روان وُو. ١٣ مالِک خُدائ اِسرائيليانو ته په قهر وو اؤ څلوېښت کاله يې په

بيابان کښې سرګردانه کړی وُو تر دې پورې چې هغه ټول نسل مړ
شو چا چې مالِک خُدائ ناراضا کړے وو. ⑭ اؤ اوس تاسو د خپل
پلارنيکۀ په ځائ يو نوې بدکاره نسل راغلے يئ چې د مالِک خُدائ
سخت قهر په اِسرائيليانو باندې بيا راولئ. ⑮ د روبين اؤ جاد خلقو
کۀ تاسو د هغۀ د لارې نه واوړئ، نو هغه به يو ځل بيا دا ټول خلق
په بيابان کښې پرېږدی اؤ تاسو به د هغوئ د تباهئ ذِمه وار يئ.“
⑯ هغوئ مُوسىٰ ته نزدې ورغلل اؤ ورته يې ووئيل، ”اول، مُونږ له
اِجازت راکړه چې دلته د خپلو ګډو د پاره شپول جوړ کړُو اؤ د خپلو
ښځو اؤ ماشُومانو د پاره ښارونه جوړ کړُو. ⑰ بيا به مُونږ دې ته تيار
يُو چې د خپلو بنی اِسرائيلو سره جنګ ته لاړ شُو اؤ حمله وکړُو تر
دې پورې چې هغه وطن ته يې بوځُو چې کُوم به د هغوئ وی. نو
په هغه دوران کښې به زمُونږ ښځې اؤ ماشُومان په هغه پَخو ښارُونو
کښې اوسېږی، دا ښارونه به د هغه وطن د خلقو نه د حِفاظت د پاره
وی. ⑱ مُونږ به تر هغه وخت پورې خپلو کورُونو ته نۀ راوپس کېږُو
چې نورو ټولو بنی اِسرائيلو ته هغه وطن په ميراث کښې حواله شوے
نۀ وی. ⑲ مُونږ به د اُردن هغه غاړې نه د هغوئ هيڅ جائيداد هم
نۀ اخلُو، ځکه چې مُونږ ته خپله حِصه دلته د اُردن نَمرخاتۀ طرف
ته مِلاؤ شوې ده.“ ⑳ مُوسىٰ ورته ووئيل، ”کۀ تاسو هم دغه شان
کوئ چې ځنګه وايئ، نو دلته د مالِک خُدائ په حضُور کښې د
جنګ د پاره تلو ته تيار شئ. ㉑ ستاسو د جنګ ټول سړی به د اُردن
نه پورې وځی اؤ د مالِک خُدائ د حُکم لاندې به زمُونږ په دُښمن
حمله وکړی تر څو چې مالِک خُدائ هغوئ له شکست ورکړی ㉒ اؤ

هغه وطن ونیسی. بیا تاسو راواپس کېدے شئ، ځکه چې تاسو به د مالِک خُدائ اؤ د خپلو بنی اِسرائیلو سره ذِمه واری پُوره کړې وی. نو د مالِک خُدائ په نظر کښې دا وطن ستاسو دے. ۲۳ خو کۀ تاسو خپله وعده پُوره نۀ کړه، نو زۀ تاسو خبروم چې تاسو به د مالِک خُدائ خِلاف ګُناه وکړئ. چې دا غلطی ونۀ کړئ، ګنی تاسو ته به د خپلو بدو سزا مِلاؤ شی. ۲۴ خپل ښارونه جوړ کړئ اؤ د خپلو ګډو د پاره شپول جوړ کړئ، خو چې کُومه وعده مو کړې وی هم هغه شان وکړئ!“ ۲۵ د جاد اؤ د روبین سړو ووئیل، ”صاحِبه! مُونږ به هم هغه شان وکړُو چې څنګه تۀ حُکم کوې. ۲۶ زمُونږ ښځې اؤ ماشُومان اؤ زمُونږ څاروی اؤ ګډې به دلته د جِلعاد په ښار کښې پاتې شی. ۲۷ خو د مالِک خُدائ د حُکم لاندې مُونږ ټول تیار یُو چې جنګ له لاړ شُو. مُونږ به د اُردن نه پورې واوړُو اؤ جنګ به وکړُو، هم هغه شان چې څنګه تا ووئیل.“ ۲۸ نو مُوسیٰ اِلعازر، یشوَع اؤ د بنی اِسرائیلو نورو مشرانو له دا حُکم ورکړو: ۲۹ ”کۀ د جاد اؤ روبین سړی د اُردن نه پورې شی چې هغوئ د مالِک خُدائ په حُکم باندې جنګ ته تیار دی اؤ کۀ د هغوئ په مدد سره هغه وطن فتح کړی، نو بیا هغوئ له د جِلعاد زمکه په میراث کښې ورکړئ. ۳۰ خو کۀ هغوئ د اُردن نه پورې نۀ وځی اؤ ستاسو سره جنګ له لاړ شی، نو هغوئ ته به د زمکې خپله حِصه د کنعان په وطن کښې ملاوېږی، لکه څنګه چې تاسو ته ملاوېږی.“ ۳۱ د جاد اؤ روبین کسانو ورته ووئیل، ”صاحِبه! مُونږ به هم هغه شان وکړُو چې څنګه مالِک خُدائ حُکم کړے دے. ۳۲ د هغۀ د حُکم لاندې به مُونږ د

کنعان وطن ته ورواوړُو اؤ جنګ ته به لاړ شُو، خو زمونږ میراث به
د اُردن هم دې غاړې ته وى.“ ۳۳ نو مُوسىٰ د جاد اؤ روبین اؤ د
منشه نیمې قبیلې ته د اموری بادشاه سیحون اؤ د بسن بادشاه عوج
ټوله علاقه په حواله کړه، چې په کښې ښارونه اؤ ګېرچاپېره وطن هم
وو. ۳۴ د جاد قبیلې د دیبُون، عطاروت اؤ د عرو عیر پاخهٔ ښارونه
بیا جوړ کړل. ۳۵ ورسره د عطروت شوفان، یصر، یجبهه، ۳۶ د بیت
نمراه اؤ د بیت هاران ښارونه هم جوړ کړل. د هغې ګیر چاپیره یې
دېوالونه جوړ کړل او د خپلو رمو د ساتلو د پاره یې ځایونه هم جوړ
کړل. ۳۷ د روبین قبیلې دا ښارونه بیا جوړ کړل: حسبون، العالیه،
قریتایم، ۳۸ نبُو، بعل معون، (دا نُومونه وروستو بدل کړے شول) اؤ
سبماه. هغوئ چې کُوم ښارونه بیا جوړ کړل نو نوی نومُونه ورباندې
کېښودل. ۳۹ د منشه زوئ ماکیر ډلې د جِلعاد په وطن حمله وکړه
اؤ هغه یې ونیولو اؤ هلته چې کُوم اموریان وُو هغه یې ترې نه وشړل.
۴۰ نو مُوسىٰ د ماکیر ډلې له جِلعاد ورکړو اؤ هغوئ هلته اوسېدل.
۴۱ د منشه قبیلې، یائیر حمله وکړه اؤ څهٔ کلی یې ونیول اؤ د ”یائیر
کلی“ نُوم یې ورباندې کېښودو. ۴۲ نوبح حمله وکړه اؤ د قنات
ښار اؤ د دې کلی یې ونیول اؤ خپل نُوم ”نوبح“ یې پرې کېښودو.

## د بنی اِسرائیلو د مِصر نه موآب ته سفر

**۳۳**

۱ بنی اِسرائیلو د لښکرو په شکل کښې په دې مرحلو
کښې سفر وکړو اؤ د مُوسىٰ اؤ هارُون په مشرئ کښې
د مِصر نه لاړل. ۲ د مالِک خُدائ په حُکم باندې، مُوسىٰ به هر ځل

د هغه ځائ نُوم ليکلو چرته به چې هغوئ خېمې لګولې. ٣ د کال د
وړومبۍ مياشتې په پينځلسمه ورځ باندې بنی اِسرائيل د مِصر نه لاړل،
دا د اول ځل د فسحې اختر پسې ورځ وه. هغوئ د رعمسيس ښار
نه زړۀ ور لاړل چې ټولو مِصريانو ورته کتل، ٤ چې چا خپل مشران
زامن ښخول چې مالِک خُدائ وژلی وُو. ځکه چې مالِک خُدائ د
هغوئ د خُدايانو سره اِنصاف کړے وو. ٥ بنی اِسرائيل د رعمسيس
ښار نه لاړل اؤ په سُکات کښې يې خېمې ولګولې. ٦ بيا هغوئ
په ايتام کښې خېمې ولګولې چې د صحرا په غاړه دے. ٧ د هغه
ځائ نه هغوئ فيهاحيروت ته واپس شول، چې د بعل صفون نَمرخاتۀ
په طرف دے اؤ مجدل ته نزدې يې خېمې ولګولې. ٨ هغوئ د
فيهاحيروت نه لاړل، د سيند نه پورې وتل اؤ د شُور صحرا ته وردننه
شول، د دريو ورځو مزل نه پس هغوئ په ماره کښې خېمې ولګولې.
٩ د هغې ځائ نه هغوئ ايليم ته لاړل، چرته چې هغوئ خېمې
ولګولې، ځکه چې هلته د اوبو دولس چينې وې اؤ د کهجُورو اؤيا
ونې وې. ١٠ هغوئ د ايليم نه لاړل اؤ سُور درياب ته نزدې يې خېمې
ولګولې. ١١ بيا هغوئ د سينا په بيابان کښې خېمې ولګولې. ١٢ بيا
هغوئ د سينا بيابان نه لاړل اؤ په دفقه کښې يې خېمې ولګولې، ١٣ د
دفقه نه الوش ته لاړل. ١٤ هغوئ د الوش نه خېمې اُوچتې کړې اؤ
په رفيديم کښې يې ولګولې، چرته چې د خلقو د پاره د څښلو اوبۀ
نۀ وې. ١٥-٣٧ د رفيديم نه واخله تر د حُور غرۀ پورې هغوئ په دې
ځايُونو کښې خېمې ولګولې: د سينا په بيابان کښې، قبروت هتاوه،
حصيروت، رتمه، رمون فارص، لبنه، رِسه، قهيلاته، د شافر په غرۀ

کښې، حراده، مقهيلوت، تاحت، تِره، متقه، حشمونه، مسيروت،
بنی‌يعقان، حورالجدجاد، يطبات، عبرونه، عصيون جابر، د سينا بيابان
(چې قادِش دے) اؤ د حُور غر، چې د ادوم په لاره دے. ۳۸-۳۹ د
مالِک خُدائ په حُکم باندې، هارُون اِمام د حُور غرۀ ته وختلو. د يو
سل درويشتو کالو په عُمر کښې چې بنی اِسرائيل د مِصر نه راوتلی
وُو د هغې په څلوېښتم کال د پينځمې مياشتې په وړومبۍ ورځ هغه
مړ شو. ۴۰ په جنُوبی کنعان کښې د عراد بادشاه خبر شو چې بنی
اِسرائيل راروان دی. ۴۱-۴۹ د حُور غرۀ نه واخله تر د موآب مېدانُونو
پورې بنی اِسرائيلو په دې ځايُونو کښې خېمې ولګولې: صلمونه،
فونون، اوبوت، د موآب په علاقه کښې عی عباريم، ديبُون جاد،
علمون دبلاتايم، د نبُو غرۀ ته نزدې د عباريم غرُونه اؤ د اُردن سيند
نه پورې يريحو ته مخامخ د موآب په مېدانُونو کښې، د بيت يشېموت
اؤ د کيکرو وادۍ په مېنځ کښې.

## د کنعان د فتح کولو د پاره د مالِک خُدائ حُکم

۵۰ د اُردن نه پورې يريحو ته مخامخ د موآب په مېدانُونو کښې
مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل ۵۱ چې بنی اِسرائيلو ته ووايه: "کله چې
تاسو د اُردن نه د کنعان وطن ته واوړئ، ۵۲ تاسو د هغه وطن ټول
اوسېدُونکی وشړئ. د هغوئ ټولې مجسمې اؤ بُتان مات کړئ اؤ د
هغوئ ټولې لوړې عِبادت‌خانې ورانې کړئ. ۵۳ هغه وطن قبضه کړئ
اؤ په هغې کښې اوسېږئ، ځکه چې زۀ هغه تاسو له درکوم. ۵۴ هغه
زمکه د پچې په ذريعه په بېلو بېلو قبيلو اؤ قومُونو باندې تقسيم کړئ.

لوئ قوم له ډېره زمکه ورکړئ اؤ وړُوکی قوم له لږه زمکه ورکړئ.
٥٥ خو کۀ تاسو د هغه وطن اوسېدُونکی ونۀ شړل، نو هغوئ به ستاسو
د پاره داسې وی لکه چې په سترګو کښې تېرۀ خسنړے اؤ د لارې
خنډ وی، چرته چې تاسو اوسېږئ نو هلته به هغوئ تاسو له تکليف
درکوی. ٥٦ کۀ تاسو هغوئ ونۀ شړل، نو زۀ به تاسو تباه کړم، لکه
څنګه چې ما د هغوئ د تباه کولو منصُوبه جوړه کړې ده.“

## د کنعان سرحدُونه

٣٤ ١ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل ٢ اؤ د بنی اِسرائيلو
د پاره دا اصُول يې ورته وښودل: ”کله چې تاسو
کنعان ته ورننوځئ، کُوم وطن چې زۀ تاسو له درکوم، ستاسو د
علاقې حدُونه به داسې وی: ٣ جنُوبی سرحد به د صين صحرا اؤ
د عدوم سرحد پورې وی. دا به د نَمرخاتۀ په طرف د مالګې درياب
د جنُوبی آخری سر نه شروع کېږی. ٤ بيا به دا په جنُوب کښې د
لړم کنډؤ طرف ته تاؤ وی اؤ د صين صحرا نه واخله تر قادِش برنيع
پورې به وی. د هغه ځائ نه به دا سرحد حصر ادار اؤ عصمون ته
ورسېږی، ٥ چرته چې دا به د مِصر په سرحد کښې اؤ د مديتران
سيند په آخری سر کښې د وادئ طرف ته تاؤ وی. ٦ د مديتران
سيند به يې د نمرپرېواتۀ سرحد وی. ٧ شمالی سرحد به د مديتران
نه شروع کېږی چې د هور غرۀ پورې به وی، ٨ اؤ د هغه ځائ نه
د حمات درې پورې به وی اؤ صدد ته به ورسېږی ٩ اؤ زفرون ته
به هم ورسېږی اؤ په حصر عينان کښې به ختم شی.

۱۰ د نَمرخاتۀ سرحد به د حصر عينان نه شروع کېږى چې د
شفام پورې به وى. ۱۱ بيا به دا د عين نَمرخاتۀ طرف رِبله ته
ورسېږى اؤ د ګليل ډنډ نَمرخاتۀ غاړې غرُونو ته به ورسېږى،
۱۲ بيا د اُردن سيند سره د مالګې درياب ته به ورسېږى. دا
به ستاسو اؤ د دې نه ګېرچاپېره سرحدُونه وى.“ ۱۳ نو مُوسىٰ
بنى اِسرائيلو ته ووئيل، ”دا هغه وطن دے چې د پچې اچولو
سره به تاسو ته ملاوېږى، هغه زمکه چې مالِک خُدائ نهۀ
نيمو قبيلو ته په حواله کړې ده. ۱٤ د روبين اؤ جاد اؤ د منشه
نيمې قبيلې ته مخکښې خپل ميراث مِلاؤ شوے دے، چې د
هغوئ د کورَنو په مُطابق تقسيم شوے دے. ۱۵ دې دوه نيمو
قبيلو ته د اُردن سيند نَمرخاتۀ طرف ته يريحو ته مخامخ خپله
زمکه مِلاؤ شوې ده.“

## د زمکې تقسيمولو د پاره د مشرانو ذِمه وارى

۱٦ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ۱۷ ”اِلعازر اِمام اؤ د نون زوئ
يشوَع به په خلقو باندې زمکه تقسيم کړى. ۱۸ د هرې قبيلې
نه يو يو سړے هم خوښ کړه چې د دې په تقسيمولو کښې د
هغوئ مدد وکړى.“ ۱۹-۲۸ دا هغه سړى دى چې مالِک خُدائ
خوښ کړل: د يهُوداه قبيلې نه کاليب زوئ د يفُنه، د شمعُون
قبيلې نه شلوميئيل زوئ د عميهود، د بنيامين قبيلې نه اليداد زوئ
د کسلون، د دان قبيلې نه بُقى زوئ د يجلى، د منشه قبيلې نه
حنيئيل زوئ د ايفود، د اِفرائيم قبيلې نه قموايل زوئ د سِفتان، د

زبولون قبيلې نه اليصفن زوئ د فرناح، د يساکار قبيلې نه فلطيئيل
زوئ د عزان، د آشر قبيلې نه اخيهود زوئ د شلومی اؤ د نفتالی
قبيلې نه فدهيئيل زوئ د عميهود. ۲۹ دا هغه کسان دی چې مالِک
خُدائ د کنعان په وطن کښې په خلقو باندې د زمکې تقسيمولو
د پاره مُقرر کړل.

## د ليويانو د پاره ښارونه

**۳۵**
۱ د اُردن نه پورې يريحو ته مخامخ د موآب
په مېدانُونو کښې مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل،
۲ ”بنی اِسرائيلو ته ووايه چې کُوم ميراث هغوئ ته مِلاؤ شوے
دے د هغې نه به څۀ ښارونه د اوسېدو د پاره اؤ د ښارُونو نه
ګېرچاپېره د څران زمکه خامخا ليويانو له ورکوی. ۳ دا ښارونه
به د ليويانو وی اؤ هلته به اوسېږی. د څران زمکه به د هغوئ
د څاروو اؤ نورو څناورو د پاره وی. ۴ د څران زمکه به د ښار
دېوالُونو نه بهر پينځۀ سوه ګزه په هر طرف خوره وی، ۵ چې هغه
علاقه څلور واړو طرفُونو ته تقريباً زر ګزه وی اؤ ښار يې په مېنځ
کښې وی. ۶ تاسو به ليويانو له د پناه د پاره شپږ ښارونه ورکوئ
کۀ چرې يو سړے يو کس په غلطئ سره ووژنی نو هلته به تښتی.
د دې نه علاوه، هغوئ له دوه څلوېښت ښارونه ورکړئ ۷ د
څران د زمکې سره، د هغوئ به ټول اتۀ څلوېښت ښارونه وی.
۸ په هره قبيله کښې د ليويانو د ښارُونو شمېر دې د هغې علاقې
د غټوالی يا وړُوکوالی په اندازه معلُوم کړے شی.“

## د پناه ښارونه

**(د ګردان کِتاب ١٩: ١-١٣، د يشوَع کِتاب ٢٠: ١-٩)**

٩ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ١٠ ”بنی اِسرائيلو ته ووايه: کله
چې تاسو د اُردن سيند نه پورې غاړه واوړئ اؤ د کنعان وطن ته
ورننوځئ، ١١ نو تاسو به د پناه ښارونه خوښ کړئ چې يو سړے په
غلطئ سره څوک مړ کړی نو چې هلته تښتېدلے شی. ١٢ هلته به
د مړی د خپلوانو نه په حِفاظت کښې وی څوک چې بدل اخستل
غواړی. چې په چا باندې د قتل اِلزام وی نو هغه به تر هغه پورې نۀ
شی وژلے چې جرګې ته پېش شوے نۀ وی. ١٣ شپږ ښارونه خوښ
کړئ، ١٤ چې درې د اُردن دې غاړی ته وی اؤ درې د کنعان په
وطن کښې وی. ١٥ دا ځايُونه به د بنی اِسرائيلو اؤ د مُسافرو د پاره
د پناه ښارونه وی چې هغوئ د پردی وطن وی يا په مستقله توګه
اوسېدُونکی وی. هر څوک چې په غلطئ سره څوک ووژنی نو هغه
به دې ښارُونو ته تښتېدے شی. ١٦ - ١٨ خو، کۀ څوک د وسلحې،
کاڼی، يا د لرګی سره څوک ووژنی، نو هغه قاتِل دے ووژلے به شی.
١٩ دا به د مړ شوی کس د نزدې خپلوانو ذِمه واری وی چې قاتِل مړ
کړی. چې کله يې هم پيدا کړی، نو وبه يې وژنی. ٢٠ کۀ څوک
د چا سره کينه لری اؤ د هغۀ د مرګ منصُوبه جوړوی، په څۀ يې
وولی اؤ يا ديکه ورکړی نو دا يې د قصده وژنی ٢١ يا يې په سُوک
ووهی، نو هغه د قتل مُجرم دے اؤ هغه به وژلے شی. د مړی نزدې
خپلوانو دا ذِمه واری ده چې قاتِل مړ کړی. هغوئ يې چې کله هم

پېدا کړی، نو وبه يې وژنی. ⁽²²⁾ خو کۀ يو کس په غلطئ سره څوک
ووژنی چې د هغۀ سره يې کينه نۀ وی، کۀ په څۀ يې وولی اؤ يا
يې ديکه ورکړی، ⁽²³⁾ يا چې د چا خيال نۀ وی اؤ يو کاڼے وولی او
څوک وربانديې مړ شی اګرچې هغۀ له يې د تکليف رسولو اِراده نۀ
وی اؤ دُښمن يې هم نۀ وی، ⁽²⁴⁾ نو په داسې حالاتو کښې به جرګه د
هغه کس په حق کښې فېصله کوی د چا نه چې مړے شوے وی، نۀ
چې د هغه مړ کس د خپلوان په حق کښې چې بدل اخستل غواړی.
⁽²⁵⁾ جرګه به د مړی د خپلوان نه هغه کس بچ کوی چې په غلطئ
سره د قتل مُجرم وی اؤ هغوئ به هغه واپس د پناه ښار ته بوځی کُوم
ته چې تښتېدلے وی. هغه به هلته تر هغه پورې ايساربږی چې مشر
اِمام مړ نۀ وی. ⁽²⁶⁾ چې کُوم کس په غلطئ سره د قتل مُجرم وی کۀ
هغه د پناه د ښار نه لاړ شی کُوم له چې ورتښتېدلے وی ⁽²⁷⁾ اؤ د مړی
خپلوان هغه پېدا کړی اؤ وې وژنی، نو د دې بدل اخستلو په وجه
هغه ګُناهګار نۀ دے. ⁽²⁸⁾ کُوم کس چې په غلطئ سره د قتل کولو
مُجرم وی هغه به خامخا د پناه په ښار کښې تر هغه وخت پورې پاتې
کېږی چې تر کُومې پورې مشر اِمام مړ نۀ وی، خو د هغې نه پس
هغه واپس کور ته تلے شی. ⁽²⁹⁾ دا قانُون به ستاسو اؤ ستاسو د اولاد
د پاره وی چې په هر ځائ کښې اوسېږئ. ⁽³⁰⁾ چې په چا باندې د
قتل اِلزام وی نو هغه به صِرف په هغه وخت مُجرم ګڼلے شی اؤ مړ
کولے به شی چې په هغۀ باندې دوه کسان يا دوۀ نه زيات ګواهان
ګواهی ورکړی، د يو کس ګواهی د قتل د اِلزام ثابِتولو د پاره کافی
نۀ ده. ⁽³¹⁾ قاتِل به خامخا وژلے شی. هغه د دې سزا نه په دې نۀ

شی خلاصېدلے چې د صُلحې پېسې ورکړی. ۳۲ کۀ څوک د پناه ښار ته تښتېدلے وی، نو هغه دې ته مۀ پرېږدئ چې د مشر اِمام د مرګ نه مخکښې د صُلحې پېسې ورکړی د دې د پاره چې کور ته واپس راشی. ۳۳ هغه وطن مه پليتوئ چې چرته تاسو اوسېږئ، ځکه د وينې تويَول د هغه وطن پليتول دی اؤ چې په کُومه زمکه باندې وينه توئ شی نو د هغې کفاره نۀ شی ادا کېدلے، زمکه د هغه کس د وينې تويَولو نه بغېر نۀ پاکېږی چا چې وينه توئ کړې وی. ۳۴ هغه وطن مۀ پليتوئ چرته چې تاسو اوسېږئ، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ يم اؤ د بنی اِسرائيلو په مېنځ کښې اوسېږم.“

## د وادۀ شوو ښځو ميراث

**۳۶** ۱ د جِلعاد قوم د کورَنو مشران، د ماکير زوئ اؤ د منشه نمسے چې د يُوسف زوئ وو، مُوسىٰ اؤ د بنی اِسرائيلو نورو مشرانو له لاړل. ۲ هغوئ ووئيل، ”صاحِبه! مالِک خُدائ تا ته حُکم درکړے دے چې زمکه د پچې په ذريعه په بنی اِسرائيلو تقسيم کړه. مالِک خُدائ دا حُکم هم کړے دے چې زمُونږ د خپلوان صلفحاد جائيداد د هغۀ لُوڼو له ورکړه. ۳ خو دا خبره ياده ساته! کۀ هغوئ د بلې قبيلې سړو سره وڈُونه وکړل، نو د هغوئ جائيداد به د هغه قبيلې شی اؤ زمُونږ برخه به کمه شی. ۴ د واپس ورکولو په کال کښې، کله چې کُوم جائيداد خرڅ شوے وی اؤ هغه واپس خپل اصلی مالِک ته ملاوېږی، نو د صلفحاد د لُوڼو جائيداد به د همېشه د پاره هغه قبيلې ته ورکړے شی چې په کُومه کښې

وادۀ شوې وى اؤ دا به زمُونږ د قبيلې د پاره د تاوان خبره وى.“
٥ نو مُوسىٰ بنى اِسرائيلو ته د مالِک خُدائ دا حُکمونه واورول.
هغۀ ووئيل، ”د منشه قبيله چې څۀ وائى هغه ټيک دى، ٦ اؤ مالِک
خُدائ وائى چې د صلفحاد لُوڼه آزادې دى چې د چا سره هم وادۀ
کول غواړى خو په خپله قبيله کښې به يې کوى. ٧ د يوې بنى
اِسرائيلى قبيلې جائيداد به بلې قبيلې ته نۀ شى ورکولے. ٨ هره يوه
ښځه چې په کُومه بنى اِسرائيلى قبيله کښې ميراث اخلى نو هم د
هغه قبيلې د سړى سره به وادۀ کوى. نو داسې ټولو بنى اِسرائيلو ته
به د خپل پلارنيکۀ په جائيداد کښې ميراث ملاوېږى، ٩ اؤ د يوې
قبيلې جائيداد به بلې قبيلې ته نۀ ملاوېږى. هره بنى اِسرائيلى قبيله
به خامخا خپله د ميراث زمکه لرى.“ ١٠-١١ نو د صلفحاد لُوڼو،
محلاه، تِرضاه، حجله، مَلِکه اؤ نوعه هم هغه شان وکړل چې څنګه
مالِک خُدائ مُوسىٰ ته حُکم کړے وو اؤ هغوئ خپلو د ترُونو زامنو
سره ودُونه وکړل. ١٢ هغوئ د يُوسف زوئ منشه قبيلې په کورَنو
کښې ودُونه وکړل اؤ د هغوئ جائيداد د هغوئ د پلار په قبيله کښې
پاتې شو. ١٣ دا هغه اصُول اؤ قانُون دے کُوم چې مالِک خُدائ د
مُوسىٰ په ذريعه د موآب په مېدانُونو کښې د اُردن نه پورې يريحو ته
مخامخ بنى اِسرائيلو له ورکړو.

# د ګردان کِتاب

۱
١ په دې کِتاب کښې هغه خبرې دی کُومې چې مُوسیٰ ټولو
اِسرائیلیانو ته وکړې کله چې هغوئ د اُردن سیند نَمرخاتهٔ
طرف ته په صحرا کښې وُو. هغوئ سُوف ته نزدې د اُردن په مېدان
کښې وُو، دا د هغې ښارُونو په مېنځ کښې دے چې د فاران ښار یې
یو طرف ته دے اؤ د طوفل، لابن، حصیروت، او د دیذهب ښارونه
یې په بل طرف دی. ٢ د غرُونو وطن ادوم په لاره د سینا غرهٔ نه
واخله تر قادِس برنیع پورې د یولسو ورځو مزل دے. ٣ د هغوئ د
مِصر نه د راوتلو نه څلوېښت کاله پس د یولسمې میاشتې په وړومبۍ
ورځ، مُوسیٰ بنی اِسرائیلو ته هغه هر څهٔ ووئیل چې مالِک خُدائ هغهٔ
ته د وئیلو حُکم ورکړے وو. ٤ دا د هغې نه وروستو وُو چې مالِک
خُدائ د اموریانو بادشاه سیحون له شکست ورکړے وو، چې هغهٔ
د حسبون په ښار بادشاهی کوله اؤ د بسن بادشاه عوج، چې هغهٔ
د عستارات اؤ ادرعی په ښارُونو بادشاهی کوله. ٥ دا هغه وخت

وو کله چې بنی اِسرائیل د اُردن نَمرخاتهٔ طرف ته د موآب په علاقه کښې وُو چې د خُدائ پاک په قانُون اؤ حُکمُونو باندې مُوسیٰ هغوئ پوهول شروع کړل. هغهٔ ووئیل چې، ⁽٦⁾ "کله چې مُونږ د سینا غرهٔ سره وُو نو مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک مُونږ ته ووئیل چې تاسو د دې غرهٔ سره ډیر زیات ایسار شوی یئ. ⁽٧⁾ خېمې اُوچتې کړئ اؤ په سفر روان شئ. د اموریانو د غرُونو وطن اؤ ټولو ګېرچاپېره علاقو ته لاړ شئ چې د اُردن مېدان، د غرُونو وطن اؤ لاندې علاقې، د صحرا علاقه اؤ د مدیتران سیند غاړه په کښې ده. د کنعان وطن ته اؤ د لبنان غرُونو نه اخوا د فرات لوئ سیند پورې لاړ شئ. ⁽٨⁾ ګورئ! دا هغه ټوله زمکه ده د کُومې چې ما، مالِک خُدائ، ستاسو پلارنیکهٔ، اِبراهیم، اِسحاق، یعقُوب اؤ د هغوئ د اولاد سره د ورکولو وعده کړې ده. لاړ شئ اؤ هغه قبضه کړئ."

## د حضرت مُوسیٰ د خلقو د پاره مشران مُقررول

**(د هِجرت کِتاب ١٨: ١٣-٢٧)**

⁽٩⁾ مُوسیٰ خلقو ته ووئیل، "کُوم وخت چې مُونږ لا د سینا غرهٔ سره وُو، نو ما تاسو ته ووئیل چې زهٔ په یواځې ځان ستاسو ذِمه واری نهٔ شم اخستے. ⁽١٠⁾ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو د آسمان د ستورو په شان بې‌شمېره کړی یئ. ⁽١١⁾ مالِک خُدائ، ستاسو د پلارنیکهٔ خُدائ پاک دې تاسو یو په زر زیات کړی اؤ هغه دې تاسو دولت مند کړی، لکه څنګه چې هغهٔ وعده کړې ده! ⁽١٢⁾ خو زهٔ یواځې د لانجو فېصله کولو دا دومره لویه ذِمه واری څنګه برداشت کړم؟ ⁽١٣⁾ د هرې

قبیلې نه یو څو هوښیار، پوهه لرُونکی اؤ تجربه‌کار سړی خوښ کړئ اؤ زۀ به هغوئ په تاسو مشران جوړ کړم. ⑭ اؤ تاسو زما سره متفِق شوئ اؤ ومو وئیل چې دا به ډیر ښۀ کار وشی. ⑮ نو ما هغه هوښیار اؤ تجربه‌کار مشران واخستل چې تاسو د خپلو قبیلو نه خوښ کړی وُو اؤ هغوئ مې ستاسو مشران جوړ کړل. چې څۀ د لسو، څۀ د پنځوسو، څۀ د سوُونو اؤ څۀ د زرګُونو کسانو ذِمه وار وُو. ما ستاسو د قبیلو د پاره نور آفسران هم مُقرر کړل. ⑯ په هغه وخت ما ستاسو قاضیانو له حُکم ورکړو چې ستاسو د خلقو په مېنځ کښې کُومې لانجې رائی نو هغې ته غوږ نیسئ. هره یوه لانجه په اِنصاف سره فېصله کوئ، کۀ د دې لانجې تعلُق صِرف ستاسو خپلو خلقو سره وی یا کۀ په کښې هغه مُسافر هم شریک وی کُوم چې ستاسو سره اوسېږی. ⑰ په فېصلو کښې د چا طرفداری مۀ کوئ، د هر چا سره یو شان اِنصاف کوئ، دې خبرې ته مۀ ګورئ چې هغه مالدار دے اؤ کۀ غریب. د هیچا نه مۀ یرېږئ، ځکه چې کُومې فېصلې تاسو کوئ هغه د خُدائ پاک د طرف نه وی. کۀ یوه لانجه ستاسو د پاره ډېره مُشکله وی نو ما له یې راوړئ چې زۀ یې هواره کړم. ⑱ هم په هغه وخت ما د هغه نورو ټولو څیزُونو حُکم درکړو چې تاسو یې کوئ.

## قادِس برنیع ته د جاسُوسانو لیږل

**(د شمېر کِتاب ۱۳: ۱-۳۳)**

⑲ مُونږ هم هغه شان وکړل چې څنګه مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک حُکم راکړے وو. مُونږ د سینا غرۀ نه لاړُو اؤ په هغه لوئ اؤ

خطرناک بیابان کښې د اموریانو غرُونو وطن پورې روان وُو. کله چې مُونږ قادِس برنیع ته ورسېدُو، ۲۰ - ۲۱ نو ما ووئیل چې اوس تاسو د اموریانو د غرُونو وطن ته راغلی یئ، کُوم چې مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک، زمُونږ د پلارنیکهٔ خُدائ پاک مُونږ له راکوی. گورئ! هغه دا دے. لاړ شئ اؤ هغه قبضه کړئ هم هغه شان لکه څنگه چې هغهٔ حُکم کړے دے. یرېږئ مه اؤ مهٔ بې‌حوصلې کېږئ. ۲۲ خو تاسو ما له راغلئ اؤ ومو وئیل چې د ځان نه مخکښې به سړی ولېږُو چې هغه وطن وگوری اؤ مُونږ ته ووائی چې د ورتلو د پاره کُومه لار ښهٔ ده اؤ هلته ښارونه څنگه دی. ۲۳ دا خبره په ما ښهٔ ولگېده، نو ما د دولسو قبیلو نه یو یو سړے خوښ کړو. ۲۴ هغوئ د اسکال مېدان پورې د غرُونو وطن ته د معلُوماتو حاصِلولو د پاره لاړل. ۲۵ هغوئ چې هلته کُومه مېوه ومُوندله نو لږه یې ترې نه راوړه اؤ هغوئ ووئیل چې مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک چې کُوم وطن مُونږ له راکوی هغه ډېر آباد دے. ۲۶ خو تاسو د مالِک خُدائ زمُونږ د خُدائ پاک د حُکم نه سرکشی وکړه اؤ هغه وطن ته وردننه نهٔ شوئ. ۲۷ تاسو یو بل ته وغورېدئ اؤ ومو وئیل: مالِک خُدائ زمُونږ نه نفرت کوی. هغهٔ مُونږ د مِصر وطن نه صِرف د دې د پاره راوویستلُو چې اموریانو ته مو حواله کړی چې هغوئ مُونږ ووژنی. ۲۸ مُونږ هلته ولې لاړ شُو؟ مُونږ یرېږُو. کُوم سړی چې مُونږ هلته لېږلی وُو هغوئ مُونږ ته ووئیل چې د هغه ځائ خلق زمُونږ نه تکړه اؤ لوړ لوړ دی اؤ هغوئ په داسې ښارُونو کښې اوسېږی چې دېوالُونه یې آسمان ته رسېږی. هغوئ هلته دېوان هم ولیدل! ۲۹ خو ما درته ووئیل چې د هغه خلقو نه مهٔ

يربړئ. ٣٠ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به ستاسو لارښودنه وکړى
أؤ هغه به ستاسو د پاره جنګ کوى، هم هغه شان لکه څنګه چې
هغۀ ستاسو په مخکښې په مِصر کښې وکړل ٣١ أؤ په بيابان کښې
يې چې څۀ وکړل نو تاسو په خپلو سترګو وليدل چې هغۀ تاسو په
حِفاظت سره تر دې ځائ پورې داسې راوستلئ، لکه چې پلار خپل
زوئ بوځى. ٣٢ خو د دې هرې خبرې باوجُود، تاسو بيا هم په مالِک
خُدائ يقين نۀ کوئ، ٣٣ هغه هميشه ستاسو نه مخکښې روان وو
چې ستاسو د پاره د خېمو لګولو ځائ ولټوى. د ستاسو لار ښودنې
د پاره هغه به ستاسو په مخکښې د شپې د اور په ستن کښې أؤ د
ورځې د وريځې په ستن کښې روان وو.

## د مالِک خُدائ بنى اِسرائيلو له سزا ورکول

**(د شمېر کِتاب ١٤: ٢٠-٤٥)**

٣٤ مالِک خُدائ ستاسو شکايتُونه واؤرېدل أؤ په غُصه شو، نو هغۀ
دا قسم وخوړو أؤ وې وئيل، ٣٥ ستاسو د دې بد عمله نسل نه يو کس
به هم هغه زرخېز وطن ته ورننه نۀ وځى چې د کُوم د ورکولو لوظ
ما ستاسو پلارنيکۀ سره کړے دے. ٣٦ صِرف د يفُنه زوئ کالب به
ورننوځى. ځکه چې هغه په ما ايمان لرى أؤ زۀ به هغۀ أؤ د هغۀ اولاد له
هغه وطن ورکړم د کُوم چې هغۀ معلُومات حاِصل کړى دى. ٣٧ ځکه
چې ستاسو په وجه مالِک خُدائ ما ته هم غُصه شو أؤ وې وئيل چې
اے مُوسىٰ! تۀ به هم هغه وطن ته ورننه نۀ وځې. ٣٨ خو د خپل
مددګار، د نون زوئ يشوَع، حوصله مضبُوطه کړه. هغه به اِسرائيليان

بوځی چې هغه وطن قبضه کړی. ۳۹ بیا مالِک خُدائ مُونږ ته ولو ته ووئیل چې ستاسو واړۀ بچی به هغه وطن ته ورننه وځی، چې هغوئ په ښۀ اؤ بد نۀ پوهېږی. هغه ماشُومان چې تاسو ووئیل چې ستاسو دُښمنان به یې ونیسی. زۀ به هغوئ له هغه وطن ورکوم اؤ هغوئ به یې قبضه کوی. ۴۰ خو اوس تاسو واپس وګرځئ اؤ بېرته بیابان ته په هغه لار لاړ شئ کُومه چې سُور دریاب ته ځی. ۴۱ تاسو ووئیل، مُوسیٰ! مُونږ د مالِک خُدائ خِلاف ګُناه کړې ده. خو اوس به مُونږ حمله وکړُو، چې څنګه مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک مُونږ ته حُکم کړے دے. بیا ستاسو هر یو کس د جنګ د پاره تیار شو، خیال مو دا وو چې د غرُونو وطن قبضه کول به آسان کار وی. ۴۲ خو مالِک خُدائ ما ته ووئیل چې هغوئ له خبردارے ورکړه چې حمله ونۀ کړی، ځکه چې زۀ به د هغوئ مل نۀ یم اؤ دُښمن به هغوئ له شکست ورکړی. ۴۳ مالِک خُدائ چې څۀ وئیلی وُو نو هغه ما تاسو ته ووئیل، خو تاسو د هغې ته هیڅ توجو ورنۀ کړه. تاسو د هغۀ خِلاف سرکشی وکړه اؤ د خپل غرُور سره د غرُونو وطن ته روان شوئ. ۴۴ نو په هغه غرُونو کښې چې کُوم اموریان اوسېدل هغوئ ستاسو خِلاف لکه د مچو په شان راووتل. هغوئ د حُرمه پورې په تاسو پسې وُو اؤ هلته یې د غرُونو په وطن ادوم کښې شکست درکړو. ۴۵ بیا تاسو د مالِک خُدائ په مخکښې وژړل، خو نۀ هغۀ ستاسو فریاد واؤرېدو اؤ نۀ یې درته غوږ ونیوو.

## په بیابان کښې ډېره موده پاتې کېدل

۴۶ نو د هغې نه پس مُونږ په قادِس کښې ډېر وخت ایسار وُو.

۲ ۱ په آخِر کښې مُونږ راوګرځېدو اؤ په هغه لار بیابان ته لاړُو
کُومه چې سُور دریاب ته تلې وه، هم هغه شان چې څنګه
مالِک خُدائ حُکم کړے وو اؤ ډېره موده د غرُونو وطن ادوم کښې
سرګردانه ګرځېدو. ۲ بیا مالِک خُدائ ما ته ووئیل چې ۳ تاسو ډېره
موده په دې غرُونو کښې په ګرځېدو تېره کړې ده نو د شمال طرف
ته لاړ شئ. ۴ هغۀ ما ته ووئیل چې دوئ ته دا اصُول وښایه: تاسو
به د غرُونو وطن ادوم نه تېر شئ، چې هغه ستاسو د لرې خپلوانو د
عیساؤ علاقه ده. هغوئ به ستاسو نه ویرېږی، ۵ خو تاسو به هغوئ
نۀ راپاروئ، ځکه چې زۀ تاسو له د هغوئ د وطن یو قدم ځائ هم نۀ
درکوم. ادوم ما د عیساؤ اولاد له ورکړے دے. ۶ تاسو به خوراک
اؤ اوبۀ د هغوئ نه په پیسو اخلئ. ۷ یاد ساتئ چې مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک څنګه تاسو له په هر کار کښې برکت درکړے
دے. کله چې تاسو په دې لوئ بیابان کښې سرګردانه ګرځېدئ نو
هغۀ ستاسو خیال ساتلے دے. هغه په دې څلوېښتو کالو کښې ستاسو
مل وو اؤ په تاسو باندې د یو څیز کمے هم نۀ دے راغلے. ۸ نو مُونږ
روان وُو اؤ هغه لار مو پرېښوده کُومه چې د ایلات اؤ عصیون جابر
ښارُونو نه د مالګې دریاب ته تلې وه اؤ مُونږ د موآب صحرا په طرف
تاؤ شوُو. ۹ مالِک خُدائ ما ته ووئیل چې د موآب خلقو له تکلیف
مۀ ورکوئ، چې د لُوط اولاد دے اؤ نۀ چې ورسره جنګ وکړئ.
ما هغوئ له د عار ښار ورکړے دے اؤ زۀ به تاسو له د هغوئ د
زمکې نه لږه هم نۀ درکوم. ۱۰ د دېوانو یو طاقتور نسل چې د ایمیان
په نُوم یادېدو هغوئ د عار په ښار کښې اوسېدل. هغوئ د عناقیانو

په شان لوړ لوړ وُو، کُوم چې د دېوانو بل نسل وو. ١١ د عناقيانو په
شان هغوئ هم د رفائيانو په نُوم مشهُور وُو، خو موآبيانو هغوئ ته
ايميان وئيل. ١٢ حوريان په ادوم کښې اوسېدل، خو د عيساؤ اولاد
هغوئ وشړل، د هغوئ قوم يې تباه کړو اؤ د هغوئ په ځائ په خپله
اوسېدل، لکه څنګه چې وروستو اِسرائيليانو خپل دُښمنان د هغه وطن
نه وشړل کُوم چې مالِک خُدائ هغوئ له ورکړے وو.“ ١٣ مُوسىٰ
خپله خبره جارى وساتله اؤ وې وئيل، ”بيا مُونږ د زرد سيند نه پورې
وتلُو لکه څنګه چې مالِک خُدائ مُونږ ته وئيلى وُو. ١٤ دا د هغې نه
اتۀ دېرش کاله پس وُو چې مُونږ د قادِس برنيع نه تلى وُو. د هغه نسل
د جنګ ټول سړى مړۀ شوى وُو، لکه څنګه چې مالِک خُدائ وئيلى
وُو. ١٥ مالِک خُدائ هغوئ له تر هغه سزا ورکوله چې هغوئ ټول د
قوم نه ختم شوى نۀ وُو. ١٦ کله چې د جنګ د عُمر ټول سړى مړۀ
شوى وُو، ١٧ نو مالِک خُدائ مُونږ ته ووئيل چې ١٨ نن به تاسو د عار
په لاره د موآب علاقې نه تېرېږئ. ١٩ بيا به تاسو د عمونيانو وطن ته
نزدې يئ، کُوم چې د لُوط اولاد دے. هغوئ له تکليف مۀ ورکوئ
اؤ نۀ چې ورسره جنګ وکړئ، ځکه چې ما کُومه زمکه هغوئ له
ورکړې ده د هغې زمکې نه لږه هم تاسو له نۀ درکوم.“ ٢٠ دا علاقه
د رفائيانو د وطن په نُوم هم مشهُور ده، دا د هغه خلقو نُوم دے چې
هلته اوسېدل، عمونيانو هغوئ د زمزميانو په نُوم يادول. ٢١ هغوئ د
عناقيانو په شان لوړ لوړ وُو. هغوئ ډېر زيات وُو اؤ هغوئ يو طاقتور
نسل وو. خو مالِک خُدائ هغوئ تباه کړل، نو عمونيانو د هغوئ
په وطن قبضه وکړه اؤ د هغوئ په ځائ په خپله اوسېدل. ٢٢ مالِک

خُدائ د ادومیانو د پاره هم دغه شان وکړل، چې د عیساؤ اولاد وو
اؤ د غرُونو په وطن ادوم کښې اوسېدل. هغۀ حوریان تباه کړل، نو
ادومیانو د هغوئ په زمکه قبضه وکړه اؤ د هغوئ په ځائ په خپله
اوسېدل، چرته چې تر اوسه پورې هغوئ اوسېږی. ٢٣ د مدیتران سیند
د غاړې سره دا وطن په هغه خلقو آباد وو چې هغوئ د کریت د
جزیرې وُو. هغوئ عویان تباه کړل، کُوم چې اصلی اوسېدُونکی وُو
اؤ د غزه ښار پورې د هغوئ په ټول وطن یې قبضه وکړه. ٢٤ کله
چې مُونږ د موآب نه تېر شوی وُو، مالِک خُدائ مُونږ ته ووئیل، اوس،
روان شئ اؤ د ارنون سیند نه پورې وځئ. زۀ د حسبون اموری بادشاه
سیحون اؤ د هغۀ وطن تاسو له درکوم، په هغۀ حمله وکړئ اؤ د هغۀ
وطن قبضه کړئ. ٢٥ د نن نه به د دُنیا په ټولو قومُونو باندې ستاسو
یره واچوم. هر څوک به ستاسو نُوم اؤرېدو سره په لړزان کېږی.

## د اِسرائیلیانو سیحون بادشاه له شکست ورکول

**(د شمېر کِتاب ٢١: ٢١-٣٠)**

٢٦ بیا ما د قدیمات د بیابان نه د حسبون بادشاه سیحون ته د
صُلحې د پیش‌کش د پاره پیغام وړُونکی ورولېږل: ٢٧ مُونږ پرېږده
چې ستا د وطن نه تېر شُو. مُونږ به نېغ روان یُو اؤ د لارې نه
به اخوا دېخوا نۀ اؤړُو. ٢٨ مُونږ چې کُوم خوراک وخورُو اؤ چې
کُومې اوبۀ وڅښُو نو د هغې پیسې به درکړُو. مونږ صِرف ستاسو
د وطن نه تېرېدل غواړُو، ٢٩ اؤ چې د اُردن سیند نه هغه زمکې
ته پورې وځو کُومه چې مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک مُونږ له

راکوی. د عیساؤ اولاد په ادوم کښې اوسېږی اؤ موآبیان چې په عار کښې اوسېږی، هغوئ مُونږ له اِجازت راکړو چې د هغوئ په علاقه کښې تېر شُو. ۳۰ خو سیحون بادشاه مُونږ پرې نۀ ښودو چې د هغۀ په وطن کښې تېر شُو. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هغه سخت طبیعته اؤ ضدی کړے وو، نو مُونږ شکست ورکړو اؤ د هغۀ علاقه مو ونیوله، چې تر اوسه پورې زمُونږ په قبضه کښې ده.
۳۱ بیا مالِک خُدائ ما ته ووئیل، ګوره! ما سیحون بادشاه اؤ د هغۀ وطن ستاسو په مخکښې کمزورے کړے دے، د هغۀ وطن ونیسئ اؤ قبضه یې کړئ. ۳۲ سیحون د خپلو ټولو سړو سره د یهض ښار سره نزدې زمُونږ سره د جنګ د پاره راووتلو. ۳۳ خو مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک هغه مُونږ له په لاس کښې راکړو، مُونږ هغه، د هغۀ زامن اؤ د هغۀ ټول سړی ووژل. ۳۴ هم په هغه وخت مُونږ ټول ښارونه ونیول اؤ تباه مو کړل اؤ هر یو کس، سړی، ښځې اؤ ماشُومان مو ووژل. مُونږ هیڅ څوک هم ژوندے پرې نۀ ښودو.
۳۵ مُونږ څاروی بوتلل اؤ ښارونه مو لُوټ کړل. ۳۶ مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک د عروعیر نه واخله، چې د ارنون مېدان په غاړه باندې دے اؤ کُوم ښار چې د هغه مېدان په مېنځ کښې دے، تر جِلعاد پورې ټول ښارونه راباندې ونیول. داسې د یو ښار دېوالُونه هم نۀ وُو چې زمُونږ مخه یې نیولے وے. ۳۷ خو نۀ مُونږ د عمونیانو علاقې ته لاړُو، نۀ د یبوق سیند غاړې ته، نۀ د غرُونو وطن ښارُونو ته اؤ نۀ بل نزدې یو ځائ ته لاړُو چرته چې مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک د تلو نه منع کړی وُو.

## د اِسرائيليانو په عوج بادشاه باندې برے مُوندل

**(د شمېر کِتاب ۲۱: ۳۱-۳۵)**

۳ ۱ "اؤ بيا، مُونږ د بسن علاقې طرف ته لاړُو اؤ د ادرعى ښار ته نزدې د عوج بادشاه د خپل ټول لښکر سره زمُونږ سره جنګ د پاره راووتلو. ۲ خو مالِک خُدائ ما ته ووئيل چې د هغۀ نه مۀ يرېږه. زۀ هغه، د هغۀ سړى اؤ د هغۀ ټوله علاقه تاسو له درکوم. د هغۀ سره هم هغه شان کار وکړئ لکه څنګه چې مو د امورى بادشاه سيحون سره کړے وو چې هغۀ په حسبون بادشاهى کوله. ۳ نو مالِک خُدائ د عوج بادشاه اؤ د هغۀ خلق هم مُونږ له په لاس کښې راکړل اؤ مُونږ هغوئ ټول ووژل. يو کس هم ژوندے پاتې نۀ شو. ۴ هم په هغه وخت مُونږ د هغۀ ټول ښارونه قبضه کړل، داسې يو ښار هم نۀ وو چې مُونږ نيولے نۀ وو. مُونږ ټول شپېتۀ ښارونه ونيول، د ارجوب ټوله علاقه چرته چې د بسن بادشاه عوج بادشاهى کوله. ۵ د دې ټولو ښارُونو لوړ لوړ پاخۀ دېوالُونه وُو، دروازې اؤ د دروازو بندولو د پاره يې سيخُونه وُو اؤ هلته داسې کلى هم وُو چې دېوالُونه يې نۀ وُو. ۶ مُونږ ټول ښارونه تباه کړل اؤ ټول سړى، ښځې اؤ ماشُومان مو ووژل، هم هغه شان لکه څنګه چې مُونږ د حسبون بادشاه چې نُوم يې سيحون وو په ښارُونو کښې کړى وُو. ۷ مُونږ ټول څاروى بوتلل اؤ ښارونه مو لُوټ کړل. ۸ په هغه وخت کښې مُونږ د هغه دوه امورى بادشاهانو نه د اُردن سيند نَمرخاتۀ طرف ته، د ارنون سيند نه واخله د حرمون غرۀ پورې علاقه ونيوله. ۹ صيدانيان

د حرمون غرۀ ته سِریون نُوم اخلی اؤ اموریان ورته سنیر وائی. ⑩ مُونږ د بسن بادشاه عوج ټول وطن قبضه کړو: د لوړې علاقې ښارونه، د جِلعاد اؤ بسن علاقې، د سلکه اؤ ادرعی ښارُونو پورې.“ ⑪ عوج بادشاه د رفائیانو آخری کس وو. د هغۀ د ښخېدو صندُوق د کاڼی نه جوړ وو، چې دیارلس فُټه اُوږد اؤ دوه ګزه پلن وو. دا تر اوسه پورې د عمونیانو په ښار ربه کښې شته دے.

## د اُردن نَمرخاتۀ طرف ته آبادې شوې قبیلې

**(د شمیر کِتاب ۳۲: ۱-۴۲)**

⑫ ”کله چې مُونږ په هغه وطن قبضه وکړه، نو ما د ارنون سیند ته نزدې د عروعیر ښار علاقه اؤ د غرُونو وطن جِلعاد برخه، سره د دې د ښارُونو د روبین اؤ جاد قبیلو په حواله کړه. ⑬ د جِلعاد هغه پاتې برخه اؤ ټول بسن ما د منشه نیمې قبیلې په حواله کړو، چرته چې عوج بادشاهی کړې وه، هغه د ټول ارجوب علاقه وه.“ بسن د رفائیانو وطن په نُوم مشهُور وو. ⑭ د منشه قبیلې یائیر د ارجوب ټوله علاقه ونیوله، کُوم چې بسن دے اؤ داسې د جسُور اؤ معکه د سرحد پورې. هغۀ په دې کلو باندې خپل نُوم کېښودو اؤ دا تر اوسه پورې د یائیر کلی په نُوم یادېږی. ⑮ ”د منشه قبیلې ډلې مکیر ته ما جِلعاد په حواله کړو. ⑯ اؤ د جِلعاد نه واخله د ارنون سیند پورې علاقه ما د روبین اؤ جاد قبیلو په حواله کړه. د هغوئ سرحد د سیند مېنځ وو اؤ د هغوئ بل سرحد د یبوق سیند وو، چې د هغې یوه برخه د عمونیانو سرحد وو. ⑰ د هغوئ علاقه د اُردن سیند پورې خوره وه اؤ لاندې د ګلیل ډنډ نه واخله د

مالکې سیند پورې اؤ د پِسګه د غرۀ لمنې پورې خوره وه. ⁽¹⁸⁾ هم په
هغه وخت، ما هغوئ ته دا اصُول وښودل: مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک د اُردن نَمرخاتۀ طرف ته دا وطن د نیولو د پاره تاسو له درکړے
دے. خپلو جنګی سړو له وسلحه ورکړئ اؤ هغوئ د بنی اِسرائیلو د
نورو قبیلو نه مخکښې د اُردن نه پورې ولېږئ، چې په هغه وطن نیولو
کښې د هغوئ مدد وکړی. ⁽¹⁹⁾ ما ته پته ده چې تاسو سره ډېر څاروی
دی، نو صِرف ستاسو ښځې، بچی اؤ څاروی به په هغه ښارُونو کښې
ستاسو نه پاتې شی کُوم چې ما ستاسو په حواله کړی دی. ⁽²⁰⁾ هغه
وطن چې مالِک خُدائ یې اِسرائیلیانو له ورکوی چې د اُردن نمرپرېواتۀ
طرف ته دے، د هغې په نیولو کښې تر هغې پورې د اِسرائیلیانو مدد
وکړئ چې مالِک خُدائ هغوئ هلته په آمن سره اوسېدو ته پرېښی نۀ
وی، لکه څنګه چې هغۀ تاسو په آمن کړی یئ. د هغې نه پس، تاسو
واپس دې وطن ته راتلے شئ کُوم چې ما ستاسو په حواله کړے دے.
⁽²¹⁾ بیا ما یشوَع ته دا اصُول وښودل: تا هغه هر څۀ ولیدل چې مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک د هغه دوه بادشاهانو یعنې سیحون اؤ عوج
سره وکړل، اؤ چې د چا په وطن هم حمله کوئ نو هم هغه شان به
ورسره وشی. ⁽²²⁾ د هغوئ نه مۀ یرېږئ، ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک به ستاسو د پاره جنګ وکړی.

## د حضرت مُوسیٰ کنعان ته نۀ پرېښودل

⁽²³⁾ په هغه وخت کښې ما د زړۀ د اِخلاصه دا دُعا وکړه چې،
⁽²⁴⁾ اے مالِکه خُدایه! ما ته پته ده چې تا صِرف خپله لوئی اؤ طاقت

خپل خِدمت کوُونکی ته څرګندول شروع کړل. په آسمان اؤ په
زمکه کښې داسې خُدائ نشته چې ستا په شان لوئ لوئ کارُونه
وکړی. ۲۵ مالِکه خُدایه! ما پرېږده چې د اُردن سیند نه پورې وځم
اؤ چې هغه زرخېزه زمکه ووینم چې په بل طرف باندې ده اؤ چې
د غرُونو ښائسته وطن اؤ د لبنان غرُونه ووینم. ۲۶ خو ستاسو په وجه
مالِک خُدائ ما ته په قهر وو اؤ زما سوال يې وانۀورېدو. اؤ راته يې
ووئیل، بس نور چې د دې ذِکر ونۀ کړئ! ۲۷ د پِسګه غرۀ سر ته لاړ
شه او هر طرف ته وګوره. چې څۀ درته ښکاری نو هغه په غور سره
وګوره، ځکه چې تۀ به هیڅ کله هم د اُردن نه پورې نۀ وځې. ۲۸ د
دې په ځائ یشوَع ته خپل اصُول وښایه. د هغۀ حوصله مضبُوطه
کړه، ځکه چې هغه به د خلقو لارښودنه کوی چې هغه وطن قبضه
کولو له ورپورې وځی کُوم چې تۀ وینې. ۲۹ نو مُونږ بیت فعور ښار
ته مخامخ په هغه مېدان کښې پاتې شوُو.“

## د حضرت مُوسیٰ بنی اِسرائیلو ته د خُدائ پاک د تابعدارۍ نصیحت کول

**۴** ۱ بیا مُوسیٰ خلقو ته ووئیل، ”کۀ تاسو په هغه ټولو
حُکمُونو عمل کوئ کُوم چې زۀ درته ښایم، نو تاسو به
ژوندی پاتې شئ اؤ هغه وطن به قبضه کړئ چې مالِک خُدائ د
ستاسو پلار نیکۀ خُدائ پاک يې تاسو له درکوی. ۲ زۀ چې تاسو
له کُوم حُکم درکړم په هغې کښې مۀ څۀ زیاتوئ اؤ مۀ څۀ کموئ.
چې ما مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک کُوم حُکمونه درکړی دی

په هغې عمل کوئ. ۳ تاسو په خپله ولیدل چې د فعور په غرۀ کښې مالِک خُدائ څۀ وکړل. هغۀ هغوئ ټول تباه کړل چا چې د بعل عِبادت کولو، ۴ خو ستاسو هغه کسان چې د مالِک خُدائ ستاسو د خُدائ پاک وفادار وُو، هغوئ تر نن ورځې پورې ژوندی پاتې دی. ۵ ما تاسو ته هغه ټول قانُون ښودلے دے، کُوم چې مالِک خُدائ زما خُدائ پاک ما ته ښودلے دے چې تاسو هغه قانُون په هغه وطن کښې پُوره کړئ چې د قبضه کولو د پاره ورباندې حمله کوئ. ۶ په وفادارئ سره په دې عمل کوئ، نو د نورو قومُونو خلقو ته به پته ولګېږی چې تاسو څومره هوښيار خلق يئ. کله چې هغوئ د دې ټول قانُون نه خبر شی، نو هغوئ به ووائی، دا عظيم قوم څومره حِکمت أؤ پوهه لری! ۷ بل داسې يو قوم هم نشته چې هغه هر څومره لوئ وی، چې د هغوئ داسې خُدائ وی چې په ضرُورت کښې ورته دومره نزدې وی لکه څومره چې مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک مُونږ ته نزدې دے. مُونږ چې کله هم د مدد د پاره هغۀ ته سوال وکړُو نو هغه زمُونږ سوال قبلوی. ۸ بل داسې يو قوم هم نشته چې هغه هر څومره لوئ وی، چې د هغوئ سره داسې د صداقت قانُون وی لکه چې نن ما تاسو ته ښودلے دے. ۹ پام کوئ! أؤ دا خبره يقينی کړئ چې تر کُومې پورې تاسو ژوندی يئ نو څۀ چې مو په خپلو سترګو ليدلی دی هغه مۀ هېروئ. خپل بچی أؤ نمسی د هغه ورځې نه خبر کړئ، ۱۰ چې تاسو د سينا په غرۀ باندې د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په حضُور کښې ولاړ وئ، کله چې هغۀ ما ته ووئيل چې خلق راغونډ کړه. زۀ غواړم چې د هغوئ سره خبرې وکړم، نو چې

تر کُومې پورې هغوئ ژوندی وی نو زما فرمانبرداری به ایزده کوی اؤ خپلو بچو ته به ښایئ چې هم دغسې کوی. ⑪ چې تاسو څنګه د غرۀ لمنې ته لاړئ اؤ هلته ودرېدئ په کُوم چې اور لګېدلے وو اؤ لمبې یې آسمان ته ختلې اؤ وریځ اؤ تکه توره تیارۀ شوه. ⑫ هغوئ ته ووایئ چې مالِک خُدائ ستاسو سره څنګه د اور نه خبرې وکړې، تاسو څنګه د هغۀ خبرې واؤرېدلې خو د هغۀ صورت مو ونۀ لیدو. ⑬ هغۀ تاسو ته ووئیل چې د هغه تړون پُوره کولو د پاره به څۀ کوئ، تاسو به په هغه لسو حُکمُونو عمل کوئ، کُوم چې د کاڼو په هغه دوه تختو باندې لیکلی وُو. ⑭ مالِک خُدائ ما ته ووئیل چې تاسو ته هغه ټول قانُون وښایم چې په هغې به تاسو په هغه وطن کښې عمل کوئ چې په کُوم باندې تاسو حمله کوئ اؤ قبضه کوئ یې.

## د بُت پرستئ خِلاف خبردارے

⑮ کله چې مالِک خُدائ د سینا په غرۀ باندې د اور نه تاسو سره خبرې وکړې اؤ تاسو د هغۀ صورت ونۀ لیدو، نو خپلې فائدې د پاره پام کوئ چې ⑯ په هر شکل کښې بُت جوړولو په وجه خپل ځانُونه ګُناهګار نۀ کړئ، کۀ هغه شکل د نر وی، یا د ښځې، ⑰ د ځناور یا د مارغۀ، ⑱ د داسې یو ځناور چې په زمکه تلل کوی یا کۀ په اوبو کښې د کب وی. ⑲ په داسې آزمېښت کښې مۀ پرېوزئ چې څۀ په آسمان کښې ګورئ چې د هغې عِبادت یا خِدمت وکړئ، لکه نمر، سپوږمۍ اؤ ستوری. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک نورو ټولو خلقو ته دا ورکړی دی چې عِبادت یې کوی. ⑳ خو تاسو هغه خلق یئ

چې مالِک خُدائ د مِصر نه راوویستلئ چرته چې تاسو د اور په تنور کښې وئ. هغۀ تاسو ځکه راوویستلئ چې هغه تاسو خپل خلق جوړ کړی لکه چې نن تاسو يئ. ٢١ ځکه چې ستاسو په وجه مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ما ته غُصه وو اؤ دا قسم يې وخوړو چې تۀ به د اُردن سيند نه پورې نۀ وزې چې هغه آباد وطن ته ننوځې کُوم چې هغه تاسو له درکوی. ٢٢ زۀ به په دې وطن کښې مړ شم اؤ هيڅ کله به د سيند نه پورې نۀ وځم، خو هغه وخت نِزدے دے چې تاسو به واوړئ اؤ هغه آباده زمکه به قبضه کړئ. ٢٣ پام کوئ! مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک چې ستاسو سره کُوم تړون کړے دے هغه مۀ هېروئ. د هغۀ حُکم منئ چې يو قِسم بُت هم مۀ جوړوئ ٢٤ ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د يو بل شوی اور په شان دے، اؤ غېرتی خُدائ پاک دے. ٢٥ تر دې پورې چې تاسو به په هغه وطن کښې تر ډېره وخته پورې يئ اؤ بچی اؤ نمسی به مو پيدا شی، د يو څيز په شکل هم بُت جوړولو په وجه خپل ځانُونه مۀ ګُناهګاروئ. د مالِک خُدائ په نظر کښې دا يو بد عمل دے اؤ د دې په وجه به هغه غُصه شی. ٢٦ نن زۀ آسمان اؤ زمکه ستاسو خِلاف ګواهان جوړوم، کۀ تاسو زما نافرمانی وکړئ، نو تاسو به زر د زمکې نه ورک شئ. تاسو به په هغه وطن کښې ډېره موده ژوند ونۀ کړئ کُوم چې د اُردن نه پورې دے اؤ تاسو يې قبضه کوئ. تاسو به تباه شئ. ٢٧ مالِک خُدائ به تاسو په نورو قومُونو کښې خوارۀ وارۀ کړی، هلته به صِرف يو څو کسان ستاسو نه ژوندی پاتې شی. ٢٨ هلته به تاسو د داسې معبُودانو خِدمت کوئ چې اِنسان جوړ کړی وی، د لرګو اؤ د کاڼو معبُودان،

هغه معبُودان چې نۀ ليدل اؤ نۀ اؤرېدل کولے شی، نۀ خوراک اؤ نۀ
بويول کولے شی. ٢٩ خو کۀ هلته تاسو مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک ولټوئ اؤ د زړۀ د اِخلاصه اؤ د خپل ټول رُوح سره د هغۀ لټُون
وکړئ نو تاسو به هغه ومُومئ. ٣٠ کله چې تاسو په تکليف کښې يئ
اؤ په تاسو باندې دا هر څۀ تېر شوی وی، نو آخِر به مالِک خُدائ ته
راواپس شئ اؤ د هغۀ فرمانبرداری به وکړئ. ٣١ هغه رحم کوُونکے
خُدائ پاک دے. هغه به تاسو نۀ پرېږدی اؤ نۀ به مو تباه کوی اؤ
هغه به هغه تړون نۀ هېروی چې کُوم هغۀ په خپله ستاسو پلار نيکۀ
سره کړے دے. ٣٢ تاريخ ته وګورئ! ستاسو د پېدائښت نه مخکښې
وخت ته، وروستو د هغې زمانې پورې وګورئ کله چې مالِک خُدائ
بنيادم په زمکه پېدا کړو. ټوله دُنيا ولټوئ. د دې په شان لوئ کار
مخکښې کله هم شوے دے څۀ؟ آيا مخکښې چا د دې په شان
څۀ اؤرېدلی دی؟ ٣٣ داسې څۀ خلق شته چې هغوئ د اور نه د يو
خُدائ خبرې اؤرېدلې وی اؤ ژوندی پاتې وی لکه ستاسو په شان؟
٣٤ بل خُدائ کله هم دا جُرات کړے دے چې د بل قوم نه خلق
روان کړی اؤ بويے ځی اؤ هغوئ خپل خلق جوړ کړی، لکه څنګه
چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو د پاره په مِصر کښې
وکړل؟ ستاسو سترګو په وړاندې هغۀ د خپل لوئ طاقت اؤ قُوت نه
کار واخستلو، هغۀ وباګانې اؤ جنګ راوستلو، مُعجزې اؤ نښې يې
وښودلې اؤ يرۀونکی کارُونه يې وکړل. ٣٥ مالِک خُدائ تاسو ته دا
وښودل چې دا ثابِته شی چې يواځې هغه خُدائ پاک دے اؤ بل يو
هم نشته. ٣٦ هغۀ په تاسو باندې د آسمان نه خپل آواز واؤرېدو چې

هغه ستاسو تربيت وکړی، اؤ هغۀ دلته په زمکه باندې په تاسو خپل مُقدس اور وليدلو اؤ د دې نه يې تاسو سره خبرې وکړې. ۳۷ ځکه چې هغۀ ستاسو پلار نيکۀ سره مينه کوله، هغۀ تاسو غوره کړئ اؤ د خپل لوئ طاقت سره هغۀ په خپله تاسو د مِصر نه راوويستلئ. ۳۸ کله چې تاسو مخ په وړاندې روان وئ، نو هغۀ هغه قومُونه وشړل چې ستاسو نه لوئ اؤ طاقتور وُو، چې هغه تاسو د هغوئ وطن ته راولی اؤ در يې کړی، کُوم وطن چې تر اوسه پورې ستاسو دے. ۳۹ نو نن دا خبره ياده ساتئ اؤ هيڅ کله يې مۀ هېروئ: مالِک خُدائ هغه خُدائ پاک دے چې په آسمان کښې اؤ لاندې په زمکه کښې موجُود دے. بل يو خُدائ هم نشته. ۴۰ د هغۀ ټول قانُون ومنئ کُوم چې نن ما تاسو له درکړے دے، نو ستاسو اؤ ستاسو د اولاد به هر کار سم وی. په هغه وطن کښې به اوسېږئ کُوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هميشه د پاره تاسو له درکوی.“

## د اُردن نَمرخاتۀ طرف ته د پناه د پاره ښارونه

۴۱ بيا مُوسیٰ د اُردن سيند نَمرخاتۀ طرف ته درې ښارونه بېل کړل. ۴۲ کله چې څوک په غلطۍ سره داسې څوک ووژنی چې دُښمنی يې ورسره نۀ وی نو قاتِل به د دې ښارُونو نه يو ښار ته د پناه د پاره وتښتی اؤ خپل ژوند به بچ کړی. ۴۳ د لوړې علاقې په بيابان کښې د بصر ښار، د روبين قبيلې د پاره وو، د جِلعاد په علاقې کښې، د رامات ښار د جاد قبيلې د پاره وو، د بسن په علاقه کښې، جولان د منشه قبيلې د پاره وو.

## د خُدائ پاک د قانُون په حقله د حضرت مُوسیٰ پېغام ورکول

۴۴ مُوسیٰ بنی اِسرائيلو ته د خُدائ پاک قانُون اؤ اصُول وښودل.
۴۵-۴۶ دا د هغې نه وروستو وُو چې هغوئ د مِصر نه راوتلی وُو اؤ
هغوئ د اُردن سيند په نَمرخاتۀ طرف، بيت فعور ښار ته مخامخ په
مېدان کښې وُو، چې هغوئ له يې دا قانُون ورکړو. دا په هغه علاقه
کښې وُو کُومه چې د اموری بادشاه سيحون وه، هغۀ د حسبون په
ښار کښې بادشاهی کوله. مُوسیٰ اؤ بنی اِسرائيل چې کله د مِصر
نه راووتل نو هغۀ له يې شکست ورکړو. ۴۷ هغوئ د هغۀ اؤ د بسن
بادشاه عوج په وطن قبضه وکړه، دا د اموريانو بل بادشاه وو چې د
اُردن نَمرخاتۀ طرف ته اوسېدو. ۴۸ دا وطن د ارنون سيند په غاړه، د
عروعير ښار نه واخله، د سِريون غرۀ پورې خور وو، کُوم چې حرمون
دے. ۴۹ په دې کښې هغه ټوله علاقه هم شامِله وه چې د اُردن
سيند نَمرخاتۀ طرف ته د مالګې درياب پورې وه اؤ د پِسګه د غرۀ
تر لمنی پورې وه.

### د شريعت لس حُکمونه

**(د هِجرت کِتاب ۲۰: ۱-۱۷)**

**۵** ۱ مُوسیٰ ټول بنی اِسرائيل راغونډ کړل اؤ هغوئ ته يې ووئيل،
"اے اِسرائيليانو! دې قانُون ته غوږ ونيسئ کُوم چې نن زۀ تاسو
له درکوم. دا ايزده کړئ اؤ وګورئ چې خامخا به ورباندې عمل وکړئ.
۲ د سينا په غرۀ باندې مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک يو تړون وکړو،

③ هغه تړون نۀ صِرف زمُونږ د پلارنيکۀ سره وو، بلکه زمُونږ ټولو سره وو کُوم چې نن ژوندی يُو. ④ خُدائ پاک هلته په غرۀ باندې د اور نه تاسو سره مخامخ خبرې وکړې. ⑤ په هغه وخت کښې زۀ ستاسو اؤ مالِک خُدائ په مېنځ کښې د مېنځګړی په شان د دې د پاره ولاړ وم چې هغه څۀ ووائی نو زۀ به يې تاسو ته ووايم، ځکه چې تاسو د اور نه يرېدئ اؤ غرۀ ته ونۀ ختلې. مالِک خُدائ ووئيل چې، ⑥ زۀ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يم، چا چې د مِصر نه راوويستلئ، چرته چې تاسو غُلامان وئ. ⑦ زما نه بغېر د نورو معبُودانو عِبادت مۀ کوئ. ⑧ د ځان د پاره د داسې يو څيز په شکل هم بُتان مۀ جوړوئ چې هغه پاس په آسمان کښې وی يا لاندې په زمکه باندې وی اؤ يا د زمکې د لاندې په اوبو کښې وی. ⑨ يو بُت ته هم چې سجده ونۀ لګوئ اؤ نۀ يې عِبادت وکړئ، ځکه چې زۀ مالِک خُدائ ستاسو غېرتی خُدائ پاک يم. زۀ د پلارنيکۀ د ګُناه سزا د هغوئ اولاد له تر دريم اؤ څلورم نسله پورې ورکوم څوک چې زما نه نفرت کوی. ⑩ خو زۀ د هغه خلقو زرګُونو نسلُونو ته خپله مينه ښايم څوک چې زما سره مينه لری اؤ زما حُکمونه منی. ⑪ زما نُوم د غلطو مقصدُونو د پاره مۀ اِستعمالوئ، ځکه چې زۀ، مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به هغه چا له سزا ورکوم څوک چې زما نُوم بې ځايه اخلی. ⑫ د سبت ورځ ياده لرئ اؤ دا مُقدسه وګڼئ، هم هغه شان لکه څنګه چې ما، مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک حُکم کړے دے. ⑬ په شپږو ورځو کښې تاسو خپل کار روزګار کوئ. ⑭ خو اوومه ورځ د آرام ورځ ده چې ما ته وقف ده. په هغه ورځ به هيڅ څوک کار نۀ کوی، نۀ تاسو، نۀ ستاسو بچی، نۀ ستاسو غُلامان، نۀ ستاسو ځناور

اؤ نۀ هغه مُسافر چې ستاسو په وطن کښې اوسېږی. ستاسو غُلامان به
هم هغه شان آرام کوی لکه څنګه چې تاسو کوئ. ۱۵ هغه راپه یاد
کړئ چې تاسو په مِصر کښې غُلامان وئ اؤ ما، مالِک خُدائ، ستاسو
خُدائ پاک د خپل لوئ طاقت اؤ قُوت سره آزاد کړئ. نو ځکه زۀ
تاسو له حُکم درکوم چې د سبت ورځ یاده لرئ. ۱۶ د خپل پلار اؤ
مور عِزت کوئ، لکه چې زۀ، مالِک خُدائ، ستاسو خُدائ پاک تاسو
له حُکم درکوم، نو ستاسو هر څۀ به سم وی اؤ ستاسو عُمر به په هغه
وطن کښې زیات شی کُوم چې زۀ تاسو له درکوم. ۱۷ قتل مۀ کوئ.
۱۸ زنا مۀ کوئ. ۱۹ غلا مۀ کوئ. ۲۰ د چا خِلاف د دروغو ګواهی مۀ
ورکوئ. ۲۱ د بل سړی د ښځې خواهِش مۀ کوئ، د هغۀ د کور، د
هغۀ د زمکې، د هغۀ د نوکرانو، د هغۀ د څاروو، د هغۀ د خرُونو، یا
د بل داسې یو شی خواهِش هم مۀ کوئ کُوم چې د هغۀ وی. ۲۲ کله
چې تاسو د غر سره راغونډ وئ نو دا حُکمونه مالِک خُدائ تاسو ټولو له
درکړل. اؤ هغۀ د اور نه اؤ د تکې تورې وریځې نه د یو درُوند آواز سره
خبرې وکړې اؤ هم دغه حُکمونه یې درکړل. بیا هغۀ دا د کاڼو په دوه
تختو باندې ولیکل اؤ ما له یې راکړل.

## د خلقو ویره

(د هِجرت کِتاب ۲۰: ۱۸-۲۱)

۲۳ کله چې ټول غر اور اخستے وو اؤ تاسو د تیارې نه آواز واؤرېدو، نو
ستاسو د قبیلو مشران ما له راغلل ۲۴ اؤ هغوئ ووئیل چې مالِک خُدائ
زمُونږ خُدائ پاک مُونږ ته خپله لوئی اؤ جلال په هغه وخت وښودلو چې د

اور نه مو د هغۀ خبرې اؤرېدلې! مُونږ ته نن دا پته ولګېده چې کۀ خُدائ پاک د يو اِنسان سره خبرې وکړی نو هغه اِنسان بيا هم ژوندے پاتې کېدے شی. ۲۵ خو مُونږ ولې خپل ځانُونه د مرګ په خطره کښې واچُوُو؟ هغه لوئ اور به مُونږ تباه کړی. زمُونږ دا يقين دے کۀ چرې بيا مُونږ د مالِک خُدائ زمُونږ د خُدائ پاک خبرې واؤرېدلې نو مړۀ به شُو. ۲۶ داسې يو اِنسان شته څۀ چې هغۀ د اور نه د ژوندی خُدائ پاک خبرې اؤرېدلې وی اؤ بيا هم ژوندے پاتې وی؟ ۲۷ مُوسیٰ! واپس لاړ شه اؤ هغه هر څۀ په غور سره واوره څۀ چې مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک وائی. بيا واپس راشه اؤ چې هغۀ درته څۀ وئيلی وی نو هغه مُونږ ته ووايه. مُونږ به هغې ته غوږ ونيسُو اؤ عمل به پرې وکړُو. ۲۸ کله چې مالِک خُدائ دا واؤرېدل، نو هغۀ ما ته ووئيل، ما د دې خلقو خبرې اؤرېدلې دی اؤ هغوئ بالکل ټيک وائی. ۲۹ کاش چې هغوئ همېشه صِرف هم دغه شان اِحساس لرلے! کاش! چې هغوئ همېشه زما درناوے کولے اؤ زما ټول حُکمونه يې منلے، نو چې د هغوئ اؤ د هغوئ د اولاد به همېشه د پاره هر څۀ سم وے. ۳۰ لاړ شه اؤ هغوئ ته ووايه چې واپس خپلو خېمو ته راشی. ۳۱ خو مُوسیٰ! تۀ، زما سره ايسار شه اؤ زۀ به تا له زما ټول حُکمونه درکړم. هغه بيا خلقو ته وښايه، چې هغوئ په دې باندې په هغه وطن کښې عمل کوی کُوم چې هغوئ له ورکوم. ۳۲ اِسرائيليانو! ګورئ چې تاسو هغه هر څۀ وکړئ د کُوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو له حُکم درکړے دے. اؤ د دې قانُون نه اخوا دېخوا مۀ اؤړئ. ۳۳ په هغه ټولو حُکمُونو عمل کوئ، نو ستاسو هر څۀ به سم وی اؤ په هغه وطن کښې به تاسو ژوند تېروئ د کُوم قبضه کولو له چې تاسو روان يئ.

## لوئ حُکم

٦ ١ دا ټول هغه حُکمونه دی چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک ما له حُکم راکړے دے چې تاسو ته يې وښايم. چې
په هغه وطن کښې پرې عمل کوئ چې تاسو ورننه وځئ اؤ قبضه
پرې کوئ. ٢ اؤ چې تر کُومې پورې تاسو، ستاسو بچی اؤ ستاسو
نمسی ژوندی وی نو د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک نه خامخا
يرېږئ. کۀ تاسو د هغۀ په ټول قانُون عمل وکړو کُوم چې زۀ تاسو
له درکوم نو په هغه وطن کښې به ستاسو عُمر زيات شی. ٣ اے
اِسرائيليانو، غوږ شئ! اؤ په دې حُکمُونو باندې عمل کوئ نو ستاسو
هر کار به سم وی اؤ په هغه وطن کښې به مو ډېر اولاد پيدا شی
چې زرخېز اؤ آباد دے، لکه څنګه چې مالِک خُدائ، ستاسو د
پلارنيکۀ خُدائ پاک، تاسو سره وعده کړې ده. ٤ اے اِسرائيليانو!
واورئ: مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک دے، مالِک خُدائ يو
دے. ٥ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک سره د زړۀ د اِخلاصه،
د خپل ټول رُوح سره اؤ د خپل ټول طاقت سره مينه کوئ. ٦ کُوم
حُکمونه چې درکوم نو هغه په ياده ياد کړئ. ٧ خپلو بچو ته دا بيا
بيا وريادوئ. کۀ په کور کښې ناست يئ يا په لاره روان يئ، چې
څملئ يا پاڅئ، نو د دې په باره کښې د هغوئ سره خبرې کوئ.
٨ دا په خپلو مټو اؤ په خپلو تندو باندې وتړئ چې ستاسو د پاره د
يادېدو د نښې په شان وی. ٩ دا د خپلو کورُونو په چوکاټُونو اؤ په
خپلو دروازو باندې وليکئ.

## د نافرمانۍ خبردارے

۱۰ لکه څنګه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو پلارنيکۀ، اِبراهيم، اِسحاق اؤ يعقُوب سره لوظ کړے دے، هغه به تاسو له لوئ لوئ اؤ ښائسته ښارونه درکړی کُوم چې تاسو نۀ وی جوړ کړی. ۱۱ کورُونه به مو د ښو ښو څيزُونو نه ډک وی چې کُوم تاسو په کښې ايښی نۀ وی اؤ هلته به کُوهی وی چې تاسو کنستلی نۀ وی اؤ د انګُورو اؤ زيتُونو باغُونه به وی چې تاسو کَرلی نۀ وی. کله چې مالِک خُدائ تاسو دې وطن ته راولی اؤ د خوراک د پاره څۀ غواړئ نو هغه هر څۀ به تاسو ته ملاوېږی، ۱۲ نو پام کوئ چې مالِک خُدائ هېر نۀ کړئ کُوم چې تاسو د مِصر وطن نه راوويستلئ، چرته چې تاسو غُلامان وئ. ۱۳ مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک نه يرېږئ، صِرف د هغۀ عِبادت کوئ اؤ صِرف د هغۀ په نُوم قسم خورئ. ۱٤ د نورو معبُودانو عِبادت مۀ کوئ، د هغه خلقو د معبُودانو کُوم چې ستاسو په خوا اؤ شا کښې وی. ۱۵ ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک کُوم چې تاسو سره اوسېږی، هغه يو غېرتی خُدائ پاک دے. د هغۀ غضب به په تاسو راشی اؤ هغه به د زمکې مخ نه تاسو ورک کړی. ۱٦ د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک آزمېښت مۀ اخلئ، لکه څنګه چې تاسو هغه په مَسه کښې وآزمائيلو. ۱۷ پام کوئ چې د هغۀ په ټول قانُون عمل کوئ کُوم چې هغۀ تاسو له درکړے دے. ۱۸ د مالِک خُدائ په نظر کښې چې څۀ صحيح اؤ ښۀ وی نو هم هغه کوئ، نو ستاسو هر يو کار به سم وی. تاسو به

هغه آبادې زمکې ته ورننه وځئ اؤ ستاسو به شی چې مالِک خُدائ
ستاسو پلارنیکهٔ سره د هغې وعده کړې ده، ١٩ اؤ لکه چې هغهٔ
څنګه وعده کړې ده، تاسو به خپل دُښمنان د هغه ځائ نه وشړئ.
٢٠ په راتلُونکی زمانه کښې کله چې بچی درنه تپوس کوی چې مالِک
خُدائ زمُونږ خُدائ پاک د دې ټول قانُون د منلو حُکم مُونږ له ولې
راکړے دے؟ ٢١ نو هغوئ ته ووایئ چې مُونږ د مِصر د بادشاه غُلامان
وُو اؤ مالِک خُدائ د خپل لوئ طاقت سره مُونږ بچ کړُو. ٢٢ مُونږ په
خپلو سترګو ولیدل چې هغهٔ مِصریانو، د هغوئ بادشاه اؤ د هغهٔ ټولو
آفسرانو ته خپلې مُعجزې اؤ یرۀوونکی کارُونه وښودل. ٢٣ هغهٔ مُونږ
د مِصر نه آزاد کړُو چې دلته مو راولی اؤ دا وطن راکړی، لکه چې
څنګه هغهٔ زمُونږ پلارنیکهٔ سره وعده کړې وه. ٢٤ بیا مالِک خُدائ
زمُونږ خُدائ پاک مُونږ ته حُکم وکړو چې د هغهٔ په ټول قانُون به
عمل کوُو اؤ د هغهٔ درناوے به کوُو. کهٔ مُونږ داسې وکړل نو زمُونږ
قوم به همېشه د هغهٔ د نظر لاندې وی اؤ کامیابی به زمُونږه وی.
٢٥ کهٔ مُونږ په وفادارئ سره په هغه هر څهٔ عمل وکړُو چې خُدائ
پاک یې مُونږ ته حُکم کړے دے، نو هغه به زمُونږ نه رضا وی.

## د مالِک خُدائ قوم

**(د هِجرت کِتاب ٣٤: ١١-١٦)**

٧ ١ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو هغه وطن ته
وردننه کړی چې د کوم قبضه کولو له ور روان یئ اؤ هغه
به د دې نه ډېر قومُونه وشړی. کله چې تاسو مخ په وړاندې ځئ،

نو هغه به اووهٔ قومُونه وشړی کُوم چې ستاسو نه لوئ اؤ طاقتور دی:
هغوئ حِتیان، جرجاسیان، اموریان، کنعانیان، فارصیان، حِویان اؤ
یبوسیان دی. ٢ کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو په
هغه خلقو زورَور کړی اؤ شکست ورکړئ، نو هغوئ ټول ووژنئ.
د هغوئ سره تړون مهٔ کوئ اؤ چې هیڅ رحم ورباندې ونهٔ کړئ.
٣ د هغوئ سره وډُونه مهٔ کوئ اؤ خپل اولاد هغوئ سره وډُونو ته
مهٔ پرېږدئ، ٤ ځکه چې هغوئ به بیا ستاسو اولاد د مالِک خُدائ
نه واړوی اؤ د هغوئ د معبُودانو عِبادت به کوی. نو بیا به د مالِک
خُدائ غضب په تاسو راشی اؤ تاسو به سمدستی تباه کړی. ٥ د
هغوئ د قُربان‌ګاه ځایُونه وران کړئ، د هغوئ مُقدسې ستنې ټوټې
ټوټې کړئ، د هغوئ د اشیرې بُت نښې راوغورزوئ اؤ د هغوئ بُتان
وسوزوئ. ٦ تاسو د مالِک خُدائ یعنې د خُدائ پاک مُقدس خلق
یئ. نو ځکه هغهٔ د زمکې د مخ نه خوښ کړئ چې د هغهٔ خپل
خاص خلق اوسئ. ٧ مالِک خُدائ تاسو سره د دې د پاره مینه نهٔ
ده کړې اؤ نهٔ یې خوښ کړی یئ چې تاسو د نورو خلقو نه زیات
وئ، په حقیقت کښې تاسو د ټولو نه وړُوکے قوم وئ. ٨ خو مالِک
خُدائ ستاسو سره مینه وکړه اؤ هغه وعده پُوره کوی کُومه یې چې
ستاسو پلارنیکهٔ سره کړے وه. نو ځکه هغهٔ د خپل لوئ طاقت سره
تاسو بچ کړئ اؤ د مِصر بادشاه، فِرعون د غُلامئ نه یې آزاد کړئ.
٩ یاد ساتئ! چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک، حقیقی خُدائ
پاک دے اؤ هغه وفادار دے. هغه به خپل تړون پُوره کړی اؤ د هغه
خلقو زرګُونو نسلُونو ته به نهٔ بدلېدُونکې مینه وښائی ځوک چې د

هغۀ سره مينه لرى اؤ د هغۀ په حُکمُونو عمل کوى، ۱۰ اؤ څوک
چې ترې نه نفرت کوى نو په بدل کښې به هغه تباه کړى. هغه به
هغه چا له په سزا ورکولو کښې سستى ونۀ کړى څوک چې د هغۀ نه
نفرت وکړى. ۱۱ تاسو ته چې څۀ ښودلے شوى دى نو په هغې عمل
وکړئ، نن چې ما کُوم قانُون درکړے دے په هغې عمل وکړئ.

## د فرمانبردارئ کولو برکتُونه

**(د ګردان کِتاب ۲۸: ۱-۱۴)**

۱۲ کۀ تاسو دې حُکمُونو ته غوږ ونيسئ اؤ په وفادارئ سره پرې
عمل کوئ، نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به ستاسو سره خپل
تړون پُوره کړى اؤ خپله نۀ بدلېدُونکې مينه به درته وښائى، لکه څنګه
چې هغۀ ستاسو پلارنيکۀ سره وعده کړے ده. ۱۳ هغه به ستاسو سره
مينه کوى اؤ برکت به درکړى، نو ستاسو شمېر به زيات شى اؤ ډېر
اولاد به مو پيدا شى، هغه به ستاسو پټى برکتناک کړى، ستاسو غله،
د انګُورو شراب اؤ د زيتُونو تېل به مو پيدا کېږى، اؤ هغه به تاسو
له برکت درکړى چې تاسو له ډېر څاروى، چېلئ اؤ ګډې درکړى.
هغه به دا ټول برکتُونه تاسو له په هغه وطن کښې درکړى د کُوم چې
هغۀ ستاسو پلارنيکۀ سره تاسو له د درکولو وعده کړې ده. ۱۴ په
دُنيا کښې د يو قوم سره به هم ستاسو په شان ډېر برکتُونه نۀ وى. نۀ
به ستاسو يو کس اؤ نۀ به ستاسو يو څاروے شنډ ګرځى. ۱۵ مالِک
خُدائ به تاسو د ټولو بيمارو نه وساتى، هغه به په تاسو باندې داسې
خرابې بيمارئ نۀ راولى کُومې چې تاسو په مِصر کښې ليدلې وې،

خو هغه بيمارئ به ستاسو په ټولو دُښمنانو راولی. ۱۶ هغه هر يو قوم تباه کړئ په کُوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو زورَور کړی يئ اؤ چې په هغوئ باندې هيڅ رحم ونۀ کړئ. د هغوئ د معبُودانو عِبادت مۀ کوئ، ځکه چې دا به ستاسو د پاره يو دام جوړ شی. ۱۷ په خپل زړۀ کښې دا مۀ وايئ چې دا قومُونه ستاسو نه په شمېر کښې زيات دی اؤ هغوئ تاسو نۀ شئ شړلے. ۱۸ د هغوئ نه مۀ يرېږئ، هغه څۀ راپه ياد کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په فِرعون اؤ په ټول مِصر وکړل. ۱۹ هغه سختې وباګانې، مُعجزې اؤ نښې رايادې کړئ چې تاسو په خپلو سترګو وليدلې اؤ هغه لوئ طاقت اؤ قُوت چې د کُوم په ذريعه مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو آزاد کړئ. لکه څنګه چې هغۀ مِصريان تباه کړل، نو هغه ټول خلق به هم هغه شان تباه کړی چې تاسو ترې نه يرېږئ. ۲۰ هغه به په هغوئ وارخطائی وروليږی اؤ هغه به هغوئ هم تباه کړی چې څوک تښتی اؤ پټېږی. ۲۱ نو د دې خلقو نه مۀ يرېږئ. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو مل دے، خُدائ پاک لوئ اؤ يروُونکے دے. ۲۲ چې تاسو مخ په وړاندې ځئ نو هغه به دا قومُونه لږ لږ شړی. تاسو به هغوئ ټول په يو ځل نۀ شئ شړلے، ځکه کۀ تاسو داسې وکړل، نو ځنګلی ځناور به زيات شی اؤ دا به ستاسو د پاره يوه خطره جوړه شی. ۲۳ مالِک خُدائ به تاسو ستاسو په دُښمنانو زورَور کړی اؤ تر هغې پورې به وارخطا وی چې تر څو تباه شوی نۀ وی. ۲۴ هغه به د هغوئ په بادشاهانو تاسو زورَور کړی. تاسو به هغوئ ووژنئ اؤ هغوئ به هېر کړے شی. هيڅ څوک به ستاسو مخه نۀ شی نيولے، تاسو به

هر یو تباه کړئ. ۲۵ د هغوئ بُتان وسوزوئ. په دې باندې چې کُوم
سپین زر یا سرۀ زر لګېدلی وی، د هغې خواهِش مۀ کوئ، هغه ترې
نه د خپلو ځانُونو د پاره مۀ اخلئ. ګنی دا به ستاسو د پاره یو دام
جوړ شی، ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د بُت پرستئ
نه نفرت کوی. ۲۶ هغه بُتان خپلو کورُونو ته مۀ راوړئ، ګنی په تاسو
به هم هغه لعنت وی کُوم چې په هغوئ دے. تاسو خامخا د دې
بُتانو نه کرکه کوئ اؤ سپک ورته ګورئ، ځکه چې دا لعنتی دی.

## بنی اِسرائیلو ته د ښې زمکې مِلاوېدل

٨ ۱ ما چې نن کُوم قانُون درکړے دے په هغه ټول په
وفادارئ سره عمل کوئ، نو چې داسې تاسو ژوندی پاتې
شئ اؤ ودان شئ اؤ هغه وطن قبضه کړئ چې مالِک خُدائ د هغې
وعده ستاسو پلارنیکۀ سره کړې ده. ۲ هغه رایاد کړئ چې مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک په تېرو څلوېښتو کالونو کښې څنګه په
بیابان کښې په دې اُوږد سفر کښې ستاسو لارښودنه وکړه، په تاسو
یې سختئ راولېږلې چې په تاسو کښې عاجزی وی اؤ هغه تاسو
وآزمائی، نو چې هغه په دې پوهه شی چې ستاسو په زړۀ کښې څۀ
دی اؤ د هغۀ په حُکمُونو عمل کوئ اؤ کۀ نۀ. ۳ هغۀ په تاسو
باندې عاجزی اؤ لوږه راوستله، نو بیا هغۀ تاسو له د خوراک د پاره
من درکړل، هغه خوراک چې د دې نه مخکښې هیڅ کله ستاسو
پلارنیکۀ هم نۀ وو خوړلے. هغۀ دا د دې د پاره وکړل چې تاسو ته
وښائی چې بنیادم دې په دې یقین نۀ ساتی چې هغه صِرف په ډوډئ

ژوندے پاتې کېږی، خو په هغه خبره دې يقين ساتی چې د مالِک خُدائ د خُلې نه وځی. ۴ په دې څلوېښتو کالو کښې ستاسو جامې نۀ دی زَړې شوې اؤ نۀ مو خپې پړسېدلې دی. ۵ ياد لرئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو د اصلاح د پاره سزا درکوی لکه چې يو پلار خپلو بچو له تربيت ورکوی. ۶ نو بيا، هم هغه شان کوئ چې څنګه مالِک خُدائ حُکم درکړے دے: د هغۀ د قانُون په مُطابق ژوند تېروئ اؤ د هغۀ فرمانبرداری کوئ. ۷ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو هغه زرخېز وطن ته راولی، يو داسې وطن چې سيندُونه اؤ ولې په کښې وی چې د هغه چينو نه وتلې وی چې د درو اؤ غرُونو نه بهېږی، ۸ يو داسې وطن چې غنم، وربشې، انګُور، اينځر، انار، د زيتُونو تېل اؤ شات په کښې پيدا کېږی. ۹ هلته به هيڅ کله وږی نۀ شئ اؤ نۀ به مُحتاج شئ. د هغې په تيګو کښې اوسپنه شته دے اؤ د هغې غرُونو نه تاسو تانبه راويستلے شئ. ۱۰ تاسو چې د خوراک د پاره څۀ غواړئ هغه هر څۀ به درته ملاوېږی اؤ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک کُوم آباد وطن درکړے دے د هغې د پاره به تاسو د هغۀ شُکر ادا کړئ.

## مالِک خُدائ نۀ هېرول

۱۱ پام کوئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هېر نۀ کړئ، نن چې کُوم قانُون زۀ درکوم چې په هغې باندې عمل کولو کښې ناکام نۀ شئ. ۱۲ کله چې تاسو ته د خوراک د پاره هغه هر څۀ مِلاؤ شی چې تاسو يې غواړئ اؤ د اوسېدو د پاره ښائسته کورُونه جوړ

کړئ ۱۳ کله چې ستاسو څاروی، ګډې، ستاسو سپين زر اؤ سرۀ
زر اؤ ستاسو نور هر څيز زيات شی، ۱۴ نو دا خبره يقينی کړئ چې
تاسو مغرُوره نۀ شئ اؤ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هېر نۀ کړئ
چې هغۀ تاسو د مِصر نه راوويستلئ، چرته چې تاسو غُلامان وئ.
۱۵ هغۀ تاسو د هغه لوئ اؤ يرۀوونکی بيابان په لاره بوتلئ چرته چې
زهرژن ماران اؤ لړمان وُو. په هغه خُشکه اؤ تږې زمکه کښې هغۀ
ستاسو د پاره د سختې تيګې نه اوبۀ روانې کړې. ۱۶ په بيابان کښې
د خوراک د پاره هغۀ تاسو له من درکړل، هغه خوراک چې ستاسو
پلارنيکۀ هيڅ کله نۀ وو خوړلے. هغۀ په تاسو سختئ راولېږلې چې
تاسو وآزمائی، نو چې داسې په آخِر کښې ستاسو هر څۀ سم شی.
۱۷ پام کوئ چې تاسو په خپل زړۀ کښې دا ونۀ وايئ چې په خپل
طاقت اؤ قُوت سره تاسو خپل ځانُونه مالداره کړی دی. ۱۸ ياد لرئ
دا مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک دے چې هغۀ تاسو له د مالداره
کېدو طاقت درکړے دے. هغه ځکه دا کوی چې هغه تر نن ورځ
پورې وفادار دے چې په هغه تړون باندې ودرېږئ کُوم چې هغۀ
ستاسو پلارنيکۀ سره کړے وو. ۱۹ هيڅ کله مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک مۀ هېروئ اؤ نۀ چې نورو معبُودانو ته واوړئ چې د هغوئ
عِبادت اؤ خِدمت وکړئ. کۀ تاسو داسې وکړل، نو زۀ نن تاسو له
خبردارے درکوم چې بېشکه تاسو به تباه شئ. ۲۰ کۀ چرې تاسو
د مالِک خُدائ فرمانبرداری ونۀ کړئ، نو د هغه قومُونو په شان به
تاسو تباه شئ کُوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو مخ
په وړاندې تلو سره تباه کوی.

## د خلقو نافرمانی

**(د هِجرت کِتاب ۳۲: ۱-۳۵)**

**۹** ۱ اِسرائیلیانو واورئ! تاسو به نن د اُردن سیند نه پورې وځئ
اؤ هغه وطن به قبضه کړئ چې د هغه قومُونو دے چې
ستاسو نه لوئ اؤ طاقتور دی. د هغوئ ښارونه لوئ لوئ دی چې
دېوالُونه يې آسمان ته رسېږی. ۲ هغه خلق په خپله تکړه اؤ لوړ لوړ
دی، هغوئ دېوان دی اؤ تاسو دا خبره اؤرېدلې ده چې د هغوئ په
مُقابله کښې هيڅ څوک نۀ شی ودرېدلے. ۳ خو تاسو به په خپله
وګورئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به د بل شوی اور په
شان ستاسو نه مخکښې روان وی. چې مخ په وړاندې ځئ نو خُدائ
پاک به هغوئ له شکست ورکړی، هغوئ به وشړئ اؤ زر به يې تباه
کړئ، هم هغه شان چې څنګه هغۀ وعده کړې ده. ۴ کله چې
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هغوئ ستاسو د پاره د هغه وطن نه
وباسی، نو په زړۀ کښې داسې مۀ وايئ چې ګنی تاسو نېک خلق يئ
اؤ د دې د پاره يې راوستلئ چې دا وطن ستاسو شی. داسې نۀ ده،
مالِک خُدائ دا خلق ستاسو د پاره ځکه وباسی چې هغوئ بدکاره
دی. ۵ په دې وجه نۀ چې تاسو نېک عمله اؤ ښۀ خلق يئ خو
مالِک خُدائ تاسو پرېږدی چې د هغوئ وطن ونيسئ. هغه به هغوئ
وشړی ځکه چې هغوئ بد عمله خلق دی اؤ د هغۀ اِراده دا ده چې
ستاسو پلارنيکۀ، اِبراهيم، اِسحاق، اؤ يعقُوب سره يې کُومه وعده
کړې وه هغه پُوره کړی. ۶ ځان په دې ښۀ پوهه کړئ چې مالِک

خدائ دا زرخيز وطن تاسو له ستاسو د نيکۀ والى په وجه نۀ درکوى
بلکه تاسو خو ضدى خلق يئ. ⑦ دا خبره مۀ هېروئ چې مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک په بيابان کښې تاسو څنګه غُصه کړو.
د هغه ورځې نه واخله چې تاسو په کښې د مِصر نه راووتلئ تر ننه
پورې چې دلته راورسېدلئ، تاسو د هغۀ خِلاف بغاوت کړے دے.
⑧ د سينا په غر باندې هم تاسو مالِک خُدائ دومره غُصه کړو چې
ستاسو بربادولو ته تيار وو. ⑨ زۀ غرۀ ته وختلم چې د کاڼو هغه تختې
راواخلم چې هغه تړون ورباندې ليکلے شوے وو کُوم چې مالِک
خُدائ تاسو سره کړے دے. زۀ هلته بغير د څۀ خوراک څښاک نه
څلوېښت ورځې اؤ څلوېښت شپې پاتې شوم. ⑩ بيا مالِک خُدائ ما
له د کاڼو هغه دوه تختې راکړې چې په هغې باندې هغۀ په خپله هغه
څۀ ليکلى وُو څۀ يې چې په هغه ورځ د اور نه تاسو ته وئيلى وُو چې
هلته د غرۀ سره راغونډ وئ. ⑪ د هغه څلوېښتو ورځو اؤ څلوېښتو
شپو نه وروستو مالِک خُدائ ما له د کاڼو هغه دوه تختې راکړې چې
په کُومو باندې هغۀ تړون ليکلے وو. ⑫ بيا مالِک خُدائ ما ته ووئيل
چې سمدستى د غرۀ نه کُوز شه، ځکه چې ستا خلق کوم چې تا
د مِصر نه راوويستل، هغوى مُرتد شوى دى. هغوئ د هغه څۀ نه
اؤړيدلى دى چې ما يې حُکم ورکړے دے اؤ هغوئ د ځانُونو د پاره
د سرو زرو يو بُت جوړ کړے دے. ⑬ مالِک خُدائ ما ته دا هم
ووئيل، ما ته پته ده چې دا څومره ضدى خلق دى. ⑭ تۀ د هغوئ د
پاره ما ته منت ونۀ کړى. زۀ هغوئ تباه کوم اؤ هيڅ څوک به يې بيا
نُوم وانۀ خلى. نو زۀ به تا د داسې قوم پلار جوړ کړم چې د دوئ نه

به لوئ اؤ طاقتور وی. ١٥ نو زۀ واپس شوم اؤ د غرۀ نه راکُوز شوم،
هغه د کاڼو دوه تختې مې راروانې کړې وې چې په کُومو باندې تړون
ليکلے شوے وو. د غر نه د اور لمبې ختلې. ١٦ ما ته پته ولګېده چې
تاسو د هغه حُکم نافرمانی کړې ده کُوم چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک تاسو له درکړے دے اؤ تاسو د هغۀ خِلاف ګُناه کړې
وه چې د څخی په شکل کښې مو د سرو زرو بُت جوړ کړے وو.
١٧ نو هلته ستاسو په مخکښې ما د کاڼو تختې راوغورزولې اؤ ټوټې
ټوټې مې کړې. ١٨ نو يو ځل بيا زۀ د مالِک خُدائ په حضُور کښې
څلوېښت ورځې اؤ څلوېښت شپې پړمخې پرېوتم اؤ نۀ مې څۀ خوړل
اؤ نۀ مې څۀ څښل. دا ځکه چې تاسو د مالِک خُدائ خِلاف ګُناه
کړې وه اؤ هغه مو غُصه کړے وو. ١٩ زۀ د مالِک خُدائ د سخت
قهر نه ويرېدم، ځکه چې هغه دومره غُصه وو چې تاسو تباه کړی،
خو مالِک خُدائ يو ځل بيا زما واؤرېدل. ٢٠ مالِک خُدائ هارُون ته
هم دومره غُصه وو چې وې وژنی، نو په هغه وخت ما د هارُون د پاره
هم دُعا وکړه. ٢١ ما هغه د ګُناه نه ډک څيز يعنې د سرو زرو څخے
واخستو کُوم چې تاسو جوړ کړے وو اؤ په اور کښې مې واچولو.
بيا ما دا ټوټې ټوټې کړو، د اوړو په شان مې مېده کړو اؤ هغه مې
په هغه وَله کښې وغورزولو چې د غر نه لاندې بهېده. ٢٢ کله چې
تاسو په تبيعره، مَسه، قبروت هتاوه کښې وئ نو تاسو هلته هم مالِک
خُدائ غُصه کړے وو. ٢٣ اؤ چې کله هغۀ تاسو د قادِس برنيع نه د
دې حُکمُونو سره ولېږلئ چې لاړ شئ اؤ هغه وطن ونيسئ کُوم يې
چې له تاسو درکولو، نو تاسو د هغۀ خِلاف سرکشی وکړه، تاسو په

هغهٔ يقين ونهٔ کړو اؤ نهٔ مو د هغهٔ فرمانبرداری وکړه. ۲۴ چې د کُوم
وخت نه ما تاسو پېژندلی يئ، تاسو د مالِک خُدائ خِلاف سرکشی
کړې ده. ۲۵ نو په هغه څلوېښتو ورځو اؤ څلوېښتو شپو کښې زهٔ د
مالِک خُدائ په حضُور کښې پړمخې پروت وم، دا ځکه چې ما ته
پته وه چې هغه ستاسو د تباه کولو اِراده لری. ۲۶ اؤ ما دُعا وکړه،
اے مالِکه خُدايه! خپل خلق مهٔ تباه کوه، هغه خلق چې تا بچ کړل
اؤ د خپل لوئ طاقت اؤ قُوت سره دې د مِصر نه راوويستل. ۲۷ خپل
خِدمت کوُونکے اِبراهيم، اِسحاق اؤ يعقُوب راياد کړه اؤ د دې خلقو
ضد، بدکاری اؤ ګُناه ته مهٔ ګوره. ۲۸ ګنی، مِصريان به ووائی چې تهٔ
د دې جوګه نهٔ يې چې خپل خلق هغه وطن ته بوځې چې د هغوئ
سره دې وعده کړې ده. هغوئ به ووائی چې تا خپل خلق بيابان ته
د دې د پاره بوتلل چې هغوئ ووژنې، ځکه چې تا د هغوئ نه نفرت
کولو. ۲۹ د دې هر څهٔ نه علاوه، دا هغه خلق دی چې تا خوښ
کړل چې ستا خپل خلق شی اؤ د خپل لوئ طاقت اؤ قُوت سره دې
هغوئ د مِصر نه راوويستل.

## حضرت مُوسیٰ ته د شريعت حُکمُونو نوې تختې مِلاوېدل

(هِجرت کِتاب ۳۴: ۱-۱۰)

۱۰ ۱ په هغه وخت کښې مالِک خُدائ ما ته ووئيل، د
اولنو په شان دوه د کاڼی تختې جوړې کړه اؤ يو د لرګی
صندُوق جوړ کړه چې هغه تختې په کښې کېږدې. په غر باندې ما
ته راوخېژه، ۲ اؤ زهٔ به په هغې باندې هم هغه څهٔ وليکم څهٔ چې

ما په هغه تختو باندې ليکلى وُو چې تا ماتې کړې اؤ بيا به تۀ هغه په صندُوق کښې کېږدې.

۳ نو ما د کيکر لرګى نه يو صندُوق جوړ کړو اؤ د اولنو په شان مې د کاڼى دوه تختې جوړې کړې اؤ د ځان سره مې غر ته وخېژولې. ۴ بيا مالِک خُدائ په هغه تختو باندې هم هغه خبرې وليکلې کُومې چې هغۀ په وړومبى ځل ليکلې وے، دا هغه لس حُکمونه وُو چې تاسو له يې په هغه ورځ درکړل چې د غر سره راغونډ وئ اؤ هغۀ د اور نه خبرې وکړې. مالِک خُدائ ما له تختې راکړې. ۵ اؤ زۀ د غر نه راکُوز شوم څنګه چې مالِک خُدائ ما ته حُکم کړے وو. اؤ هغه تختې تر اوسه پورې په صندُوق کښې پرتې دى. ۶ بنى اِسرائيل د يعقان د خلقو د کُوهو نه روان شول اؤ موسيره ته لاړل. هارُون هلته په حق ورسېدو اؤ دفن شو اؤ د هغۀ زوئ اِلعازار د هغۀ په ځائ د اِمام په توګه خِدمت کولو. ۷ د هغه ځائ نه هغوئ جدجوده اؤ بيا يوطباته ته لاړل، هغه وطن چې د اوبو ډېر نهرُونه په کښې دى. ۸ په هغه وخت مالِک خُدائ د ليوى قبيلې نه سړى مُقرر کړل چې د تړون صندُوق وړى اؤ د اِمامانو په توګه د هغۀ خِدمت کوى اؤ د هغۀ په نُوم برکت غواړى. اؤ تر اوسه پورې د هغوئ دا ذِمه وارى دى. ۹ نو د ليوى قبيلې ته د نورو قبيلو په شان زمکه مِلاؤ نۀ شوه، مالِک خُدائ په خپله د هغوئ ميراث وو هم هغه شان چې څنګه مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک وعده کړې ده. ۱۰ د وړومبى ځل په شان زۀ په غر باندې څلوېښت ورځې اؤ څلوېښت شپې ايسار شوم، مالِک خُدائ يو ځل بيا زما خبرې ته

غوږ ونیولو اؤ په دې رضا شو چې تاسو به نۀ تباه کوی. ۱۱ بیا هغۀ
ما ته ووئیل چې پاڅم اؤ ستاسو لارښودنه وکړم، چې تاسو هغه وطن
ونیسئ چې د کُوم وعده یې ستاسو پلارنیکۀ سره کړې وه.

## د مالِک خُدائ درناوے اؤ عِبادت کول

۱۲ اوس، اے اِسرائیلیانو! هغه څۀ واورئ چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک یې ستاسو نه غواړی: د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک
نه یرېږئ، د هغۀ پُوره تابعداری کوئ، د هغۀ سره مینه کوئ اؤ د
زړۀ د اِخلاصه اؤ د خپل ټول رُوح سره د هغۀ خِدمت کوئ. ۱۳ اؤ
د هغۀ ټول قانُون منئ. دا زۀ نن ستاسو د فائدې د پاره درکوم.
۱۴ ګورئ! دا اُوچت آسمانُونه د مالِک خُدائ دی، دا زمکه اؤ په
دې کښې هر څۀ د هغۀ دی. ۱۵ خو د مالِک خُدائ مینه ستاسو
پلارنیکۀ سره دومره زیاته وه چې د نورو خلقو په ځائ یې تاسو
خوښ کړئ اؤ تر اوسه پورې د هغۀ غوره خلق یئ. ۱۶ نو د اوس
نه د مالِک خُدائ فرمانبرداره اوسئ اؤ خپل ضد پرېږدئ. ۱۷ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک د معبُودانو خُدائ پاک اؤ د مالِکانو مالِک
خُدائ دے. هغه لوئ اؤ طاقتور دے، د هغۀ نه یره په کار ده. هغه
نۀ د چا طرفداری کوی اؤ نۀ رشوت اخلی. ۱۸ هغه دا ګوری چې د
یتیمانو اؤ کونډو سره ښۀ سلُوک کېږی اؤ کۀ نه، هغه د مُسافرو سره
مینه کوی کُوم چې زمُونږ خلقو سره اوسېږی اؤ هغوئ له خوراک
اؤ جامې ورکوی. ۱۹ نو د مُسافرو سره مینه کوئ، ځکه چې په یو
وخت کښې تاسو هم د مِصر په وطن کښې مُسافر وئ. ۲۰ مالِک

خُدائ د خپل خُدائ پاک نه یریږئ اؤ صِرف د هغۀ عِبادت کوئ. د هغۀ وفادار اوسئ اؤ صِرف د هغۀ په نُوم قسم خورئ. ۲۱ د هغۀ ثناء وايئ، هغه ستاسو خُدائ پاک دے اؤ تاسو په خپلو سترګو هغه لوئ اؤ عجیبه کارُونه لیدلی دی چې ستاسو د پاره يې کړی دی. ۲۲ کله چې ستاسو پلارنیکۀ مِصر ته لاړل، هغوئ صِرف اؤیا کسان وُو. خو اوس مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو د آسمان د ستورو په شان بې‌شمېره کړی يئ.

## د مالِک خُدائ لوئی

**۱۱** ۱ مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک سره مینه کوئ اؤ د هغۀ ټولې مُطالبې، اصُول، قانُون اؤ حُکمونه منئ. ۲ چې تاسو د مالِک خُدائ په باره کښې څۀ ایزده کړی دی نو هغه اوس یاد ساتئ. ستاسو په بچو نه بلکه په تاسو پخپله دا واقعې تېرې شوې. تاسو د مالِک خُدائ لوئی، د هغۀ طاقت، د هغۀ قُوت، ۳ اؤ د هغۀ مُعجزې ولیدلې. تاسو ولیدل چې هغۀ د مِصر په بادشاه فِرعون اؤ د هغۀ په ټول وطن باندې څۀ وکړل. ۴ تاسو ولیدل چې مالِک خُدائ د مِصریانو لښکر، سره د هغوئ د اسُونو اؤ جنګی ګاډو څنګه تباه کړل اؤ په سُور دریاب کښې يې ډُوب کړل کله چې هغوئ تاسو پسې وُو. ۵ تاسو ته پته ده چې مالِک خُدائ ستاسو دې ځائ ته رارسېدو نه مخکښې په بیابان کښې څۀ وکړل. ۶ هغه را یاد کړئ چې د روبین قبیلې د اِلیاب د زامنو، داتن اؤ ابیرام سره يې څۀ وکړل. د ټولو په مخکښې زمکه وچاوده اؤ هغوئ يې سره د خپلو کورَنو،

د خپلو خېمو اؤ د هغوئ د ټولو نوکرانو اؤ څناورو تېر کړل. ۷ اؤ، تاسو هم هغه خلق يئ چې په خپلو سترګو مو هغه ټول کارُونه ليدلی دی څۀ چې مالِک خُدائ کړی وُو.

## د وعده کړے شوې زمکې برکتُونه

۸ نن چې زۀ کُوم قانُون درکوم په هغه ټول عمل کوئ، نو تاسو ته به طاقت مِلاؤ شی چې د سيند نه پورې وځئ اؤ هغه وطن قبضه کړئ کُوم ته چې تاسو وردننه کېدُونکی يئ. ۹ نو تاسو به په هغه وطن کښې ډېره موده تېره کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو پلارنيکۀ اؤ د هغوئ اولاد له يې د ورکولو وعده کړې ده، هغه وطن چې زرخېز اؤ آباد دے. ۱۰ کُوم وطن چې تاسو قبضه کوئ هغه وطن د مِصر په شان نۀ دے، چرته چې تاسو مخکښې اوسېدئ. هلته به چې تاسو تُخم کَرلو، نو د پښو اوبو کولو د پاره به تاسو سخته خواری کوله، ۱۱ خو چې تاسو کُومې زمکې ته ورننوځئ هغه د غرُونو، مېدانُونو وطن دے، يو داسې وطن چې په باران اوبۀ کېږی. ۱۲ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د دې وطن خيال ساتی اؤ د کال په هر مُوسم کښې يې ورباندې نظر وی. ۱۳ نو کۀ تاسو زما په حُکمُونو په وفاداری سره عمل کوئ کُوم چې نن ما درکړی دی، اؤ تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک سره مينه کوئ اؤ د زړۀ د اِخلاصه د هغۀ خِدمت کوئ، ۱۴ نو بيا به هغه ستاسو په وطن په صحيح مُوسم کښې، په خزان اؤ سپرلی کښې بارانُونه ووروی، نو تاسو به د زيتُونو تېل، غله اؤ انګُور راټولوئ. ۱۵ اؤ د څاروو د پاره به واښۀ درته ملاوېږی. تاسو

ته به هغه هر يو خوراک ملاوېږى چې تاسو يې غواړئ. ⁽¹⁶⁾ پام کوئ، چې خپل زړُونه مو دهوکه نۀ کړى چې د مالِک خُدائ نه واوړئ اؤ د نورو معبُودانو خِدمت اؤ عِبادت وکړئ. ⁽¹⁷⁾ کۀ تاسو داسې وکړل نو مالِک خُدائ به تاسو ته په قهر شى. هغه به د آسمان نه په تاسو باران بند کړى اؤ ستاسو زمکه به وچه شى اؤ فصلُونه به نۀ راشنۀ کوى. بيا به تاسو زر هلته مړۀ شئ، اگرچې هغه زمکه ښۀ ده کُومه چې تاسو له درکوى. ⁽¹⁸⁾ دا حُکمونه ياد ساتئ اؤ په ذهن کښې يې وساتئ. دا په خپلو متو اؤ خپلو تندو باندې وتړئ چې ستاسو د پاره د يادېدو د يوې نښې په شان وى. ⁽¹⁹⁾ دا په خپلو ماشُومانو ايزده کړئ. چې تاسو په کور کښې يئ اؤ يا په لاره روان يئ، چې تاسو څملئ اؤ يا پاڅئ نو د دې په باره کښې د هغوئ سره خبرې کوئ. ⁽²⁰⁾ دا د خپلو کورُونو د دروازو په چوکاټُونو اؤ د خپلو ښارُونو د دروازو په چوکاټُونو باندې وليکئ. ⁽²¹⁾ نو تاسو اؤ ستاسو بچى به په هغه وطن کښې يو اُوږد عُمر تېر کړى چې مالِک خُدائ ستاسو د پلارنيکۀ سره د هغې د ورکولو وعده کړې ده. چې زمکه وى آسمان وى نو تاسو به هلته اوسېږئ. ⁽²²⁾ ما چې کُوم حُکمونه درکړى دى په هغې باندې په ايماندارى سره عمل کوئ: مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک سره مينه کوئ، د هغۀ په لاره سم روان اوسئ اؤ د هغۀ نه مۀ لرې کېږئ. ⁽²³⁾ نو چې تاسو مخ په وړاندې ځئ نو هغه به هغه ټول قومُونه وشړى اؤ تاسو به هغه وطن قبضه کړئ کُوم چې د هغه قومُونو دے چې ستاسو نه لوئ اؤ طاقتور دى. ⁽²⁴⁾ تاسو چې چرته هم قدم ږدئ، نو هغه زمکه به ستاسو وى. ستاسو علاقه به د بيابان نه تر لبنان پورې، د فرات سيند نه واخله تر

مديتران سيند پورې خوره وى. ۲۵ په هغه وطن کښې چې تاسو چرته
هم ځئ، مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به هغه خلق ستاسو نه
ويروى لکه څنګه چې هغهٔ وعده کړې ده اؤ هيڅ څوک به هم ستاسو
په مخکښې نهٔ شى ودرېدلے. ۲۶ ګورئ! دا زهٔ نن ستاسو خوښې ته
پرېږدم چې برکت غواړئ اؤ کهٔ لعنت، ۲۷ برکت به په دې کښې وى،
چې د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په هغه حُکمُونو عمل کوئ
چې نن يې زهٔ درکوم، ۲۸ لعنت به په دې کښې وى، چې تاسو د دې
حُکمُونو نافرمانى وکړئ اؤ د هغه معبُودانو عِبادت ته واوړئ چې تاسو
مخکښې نهٔ دى پېژندلى. ۲۹ کله چې مالِک خُدائ تاسو هغه وطن ته
راولى کُوم چې تاسو قبضه کوئ، نو د برکت آواز به تاسو د ګِرزيم غر
نه وکړئ اؤ د لعنت آواز به د عيبال غر نه وکړئ. ۳۰ دا دوه غرُونه د
کنعانيانو په علاقه کښې د اُردن سيند نمرپرېواتهٔ طرف ته دى، کنعانيان
د اُردن په مېدان کښې اوسېږى، چې جلجال ښار ته نزدې دے اؤ د
موره مُقدسو ونو نه لرې نهٔ دے. ۳۱ زر به تاسو د اُردن سيند نه واوړئ
اؤ هغه وطن به قبضه کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې
تاسو له درکوى. کله چې هغه وطن ونيسئ اؤ په کښې اوسېږئ، ۳۲ نو
ګورئ! په هغه ټولو حُکمُونو به عمل کوئ کُوم چې نن زهٔ درکوم.“

## د عِبادت د پاره يو ځائ

**۱۲** ۱ مُوسىٰ ووئيل چې، ”دا هغه حُکمونه دى چې تاسو به
په هغه وطن کښې پرې عمل کوئ چې مالِک خُدائ،
ستاسو د پلارنيکهٔ خُدائ پاک يې درکوى. چې تاسو ژوندى يئ نو

خامخا به ورباندې عمل کوئ. ۲ کُوم وطن چې تاسو نيسئ په هغې کښې هغه ټول ځايُونه تباه کړئ چرته چې هغه خلق په لوړو غرُونو، په غونډو اؤ د لويو شنو ونو لاندې د خپلو معبُودانو عِبادت کوى. ۳ د هغوئ د قُربانۍ ځايُونه وران کړئ اؤ د هغوئ د کاڼو مُقدسې ستنې ټوټې کړئ. د هغوئ د اشيرې بُت نښې وسوزوئ اؤ د هغوئ بُتان ټوټې کړئ اؤ د هغه ځايُونو نه د هغوئ د بُتانو نومُونه وران کړئ. ٤ د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک عِبادت هغه شان مۀ کوئ لکه څنګه يې چې هغوئ کوى. ۵ خو مالِک خُدائ به د ستاسو ټولو قبيلو د علاقې نه يو ځائ خوښ کړى، هلته به خلق د هغۀ حضُور ته راځى اؤ د هغۀ عِبادت به کوى. ٦ هلته به خپلې سوزېدُونکې نذرانې اؤ نورې قُربانۍ، خپله لسمه حِصه اؤ مُقدسې نذرانې، خپلې منختې، خپلې رضاکارانه نذرانې اؤ د خپلو څاروو اؤ ګډو وړومبى پيدا شوى بچى پيش کوئ. ۷ هلته، د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په حضُور کښې تاسو اؤ ستاسو کورنۍ به خوراک کوئ اؤ د هغه هر څيز نه به پُوره مزه اخلئ چې تاسو د هغې د پاره محنت کړے وى. ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو له برکت درکړے دے. ۸ کله چې هغه وخت راشى، نو تاسو چې داسې کارونه ونۀ کړئ لکه چې دلته يې کوئ. تر اوسه پورې چې تاسو ته څۀ ښۀ ښکارېدل نو هم هغه شان مو کول، ۹ ځکه چې تاسو ته هغه ميراث لا نۀ دے مِلاؤ شوے چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوى، چې هلته به تاسو په آمن کښې اوسېږئ. ۱۰ کله چې تاسو د اُردن سيند نه واوړئ، نو مالِک خُدائ

به هغه وطن تاسو له په ميراث کښې درکړى. هغه به تاسو د خپلو
ټولو دُښمنانو نه په حِفاظت کښې وساتى اؤ تاسو به په آمن کښې
اوسېږئ. ۱۱ مالِک خُدائ به يو ځائ خوښ کړى چرته به چې د
هغۀ عِبادت کيږى اؤ هلته به تاسو هغۀ له هغه هر څۀ راوړئ چې ما
يې حُکم درکړے دے: خپلې سوزېدُونکې نذرانې اؤ خپلې نورې
قُربانى، ستاسو لسمه حِصه اؤ منختې اؤ هغه خاص نذرانې چې تاسو
د مالِک خُدائ سره د هغې وعده کړې وى. ۱۲ د خپلو بچو سره،
خپلو نوکرانو اؤ د ليويانو سره چې ستاسو په ښارُونو کښې اوسېږى،
هلته د هغۀ په حضُور کښې خوشحالى کوئ، ياد لرئ چې د ليويانو
به په زمکه کښې هيڅ ميراث نۀ وى. ۱۳ تاسو به خپلې نذرانې هلته
نۀ پېش کوئ چې چرته ستاسو خوښه وى، ۱۴ تاسو به خپلې نذرانې
صِرف په هغه يو ځائ کښې پېش کوئ چې مالِک خُدائ به يې
ستاسو د يوې قبيلې په علاقه کښې خوښ کړى. صِرف هلته به تاسو
خپلې سوزېدُونکې نذرانې اؤ نور هغه ټول څيزُونه پېش کوئ چې ما
يې تاسو له حُکم درکړے دے. ۱۵ چې چرته تاسو اوسېږئ نو تاسو
هلته خپل ځناور حلالولے اؤ خوړلے شئ. مالِک خُدائ چې څومره
ډېر درکوى نو هغه خوړلے شئ. تاسو ټول کۀ پاک يئ يا ناپاک، هغه
خوړلے شئ، لکه څنګه چې تاسو هوسۍ يا د غرڅې غوښه خورئ.
۱۶ خو تاسو به د هغې وينه نۀ څښئ، تاسو به خامخا د هغې وينه په
زمکه تويَوئ. ۱۷ څۀ چې تاسو مالِک خُدائ ته پېش کوئ د هغې نه
به هيڅ يو څيز په هغه ځايُونو کښې نۀ شى خوړلے چرته چې تاسو
اوسېږئ: نۀ ستاسو د غلې لسمه حِصه، نۀ خپل د انګُورو شراب، نۀ

د زيتُونو تېل، نۀ ستاسو د څاروو اؤ ګلو وړومبے پېدا شوے بچے، نۀ د هغه تُحفې نه چې تاسو يې د مالِک خُدائ سره وعده کړے وى، نۀ ستاسو رضاکارانه نذرانې اؤ نۀ نورې نذرانې. ۱۸ تاسو اؤ ستاسو بچى به، سره د ستاسو نوکرانو اؤ د ليويانو چې ستاسو په ښارُونو کښې اوسېږى، دا نذرانې به صِرف د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په حضُور کښې خورئ، صِرف د عِبادت په هغه يو ځائ کښې کُوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک خوښ کړے وى. اؤ تاسو به هلته په هغه هر څۀ باندې خوشحاله يئ کُوم چې تاسو کړى وى. ۱۹ ګورئ! چې تر کُومې پورې تاسو په خپل وطن کښې اوسېږئ نو چې ليويان هم هېر نۀ کړئ. ۲۰ کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو علاقه لويه کړى، لکه څنګه چې هغۀ وعده کړې ده اؤ چې تاسو کله هم غواړئ نو هلته غوښه خوړے شئ. ۲۱ د عِبادت هغه يو ځائ کۀ ډېر لرې وى، نو بيا چې ستاسو خوښه وى، نو هغه څاروے يا ګډه حلالولے شئ کُوم چې مالِک خُدائ درکړے وى اؤ تاسو هغه غوښه په کور کښې خوړلے شئ، لکه څنګه چې ما تاسو ته وئيلى دى. ۲۲ هر څوک چې پاک وى يا ناپاک، نو هغه دا غوښه خوړلے شى، لکه څنګه چې هغه د هوسۍ يا غرڅې غوښه خورى. ۲۳ صِرف هغه غوښه مۀ خورئ چې وينه لا په کښې وى، ځکه چې په وينه کښې ژوندُون وى، نو تاسو د غوښې سره ژوندُون مۀ خورئ. ۲۴ وينه د خوراک د پاره مۀ اِستعمالوئ، بلکه د اوبو په شان يې په زمکه تويَوئ. ۲۵ کۀ تاسو دا حُکم ومنئ، نو مالِک خُدائ به خوشحاله شى اؤ ستاسو اؤ ستاسو د بچو به هر کار سم

وی. ٢٦ خپلې نذرانې اؤ هغه تُحفې چې تاسو يې د مالِک خُدائ
سره وعده کړې وی د عِبادت هغه يو ځائ ته راوړئ. ٢٧ هلته هغه
نذرانې پېش کوئ کُومې چې د مالِک خُدائ په قُربانګاه باندې پُوره
سوزولے شی. هغه نذرانې هم پېش کوئ چې تاسو د هغې غوښه
خورئ اؤ وينه يې په قُربانګاه باندې تويَوئ. ٢٨ په هغه هر څۀ باندې
په وفادارئ سره عمل کوئ چې ما يې حُکم درکړے دے، نو ستاسو
اؤ ستاسو د اولاد به د همېشه د پاره هر کار سم وی، ځکه چې تاسو
به هغه کار کوئ چې کُوم صحيح وی اؤ په کُوم باندې چې مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک خوشحالېږی.

## د بُت پرستئ خِلاف خبردارے

٢٩ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به هغه قومُونه تباه کړی چې
تاسو د هغوئ وطن قبضه کوئ، تاسو به هغه وطن قبضه کړئ اؤ
هلته به اوسېږئ. ٣٠ پام کوئ چې کله مالِک خُدائ هغه قومُونه تباه
کړی، نو چې د هغوئ په عِبادت اؤ رسمُونو کښې راګېر نۀ شئ چې
هغه ومنئ، ځکه هغه به ستاسو د پاره يو دام وی. د دې معلُومولو
کوشش مۀ کوئ چې هغوئ د خپلو معبُودانو عِبادت څنګه کوی،
چې تاسو هم هغه شان عِبادت وکړئ. ٣١ د مالِک خُدائ د خپل
خُدائ پاک عِبادت هغه شان مۀ کوئ چې څنګه هغوئ د خپلو
معبُودانو عِبادت کوی، ځکه چې هغوئ د خپلو معبُودانو په عِبادت
کښې ټول هغه حرام کارُونه کوی چې مالِک خُدائ ترې نه نفرت
کوی. تر دې پورې چې هغوئ په اور کښې خپل بچی هم قُربانی

کوی. ۳۲ هغه هر څۀ کوئ چې ما يې حُکم درکړے دے، په دې کښې مۀ څۀ کموئ اؤ مۀ څۀ زياتوئ.

**۱۳** ۱ کېدے شی چې پيغمبران يا د خوبُونو تعبير ورکوُونکی د يوې مُعجزې يا يوې عجيبه نښې وعده وکړی، ۲ اؤ کۀ هغه پيشن‌ګوئی شوې نښې يا مُعجزې ښکاره کړنګندې شی، نو هغوئ وائی، چې نورو معبُودانو ته راواوړئ کُوم چې تاسو نۀ دی پېژندلی اؤ د هغوئ عِبادت وکړئ، ۳ نو هغه پيغمبرانو يا د خوبُونو تعبير ورکوُونکو ته غوږ مۀ نيسئ. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو معلُوموی چې تاسو د مالِک خُدائ سره د زړۀ د اِخلاصه اؤ د خپل ټول رُوح سره مينه کوئ اؤ کۀ نه. ۴ د مالِک خُدائ تابعداری کوئ اؤ د هغۀ درناوے کوئ، د هغۀ اِطاعت کوئ اؤ د هغۀ حُکمونه منئ، د هغۀ عِبادت کوئ اؤ د هغۀ وفادار اوسئ. ۵ خو هغه د خوبُونو تعبير ورکوُونکی يا پيغمبران ووژنئ چې تاسو ته وائی چې د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت وکړئ، چا چې د مِصر نه راوويستلئ، چرته چې تاسو غُلامان وئ. داسې خلق تاسو د هغه لارې نه اړوی په کُومه باندې چې مالِک خُدائ تاسو له د تلو حُکم درکړے دے. هغوئ دې خامخا ووژلے شی، چې خپل ځانُونه د دې بد عمل نه خلاص کړئ. ۶ کۀ ستاسو ورور، زوئ، لُور، يا په تاسو ګرانه ښځه، يا ستاسو نزدې دوست هم تاسو ته پټ پټ وائی چې د نورو معبُودانو عِبادت وکړئ، هغه معبُودان چې تاسو اؤ ستاسو پلارنيکۀ يې هيڅ کله هم عِبادت نه دے کړے. ۷ کېدے شی چې د هغوئ نه يو کس تاسو ته ووائی چې د هغه خلقو د معبُودانو عِبادت وکړئ کُوم

چې ستاسو سره نزدې اوسېږى يا د هغه خلقو د معبُودانو کُوم چې
ستاسو نه لرې اوسېږى. ۸ چې د هغه يو کس ته هم توجو ونۀ کړئ
اؤ مۀ ورته غوږ نيسئ. په هغوئ باندې هيڅ رحم يا ترس مۀ کوئ اؤ
د هغوئ خبره مۀ پټوئ. ۹ هغوئ ووژنئ! وړومبے کاڼے تاسو ورګوزار
کړئ اؤ بيا نور خلق ورپرېږدئ چې سنګسار يې کړى. ۱۰ سنګسار
يې کړئ چې مړ شى! هغوئ کوشش کولو چې تاسو د مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک نه تاسو واړوى، کُوم چې تاسو د مِصر وطن نه
راوويستلئ، چرته چې تاسو غُلامان وئ. ۱۱ نو د اِسرائيل ټول خلق
به خبر شى چې څۀ وشول، هغوئ به ويرېږى اؤ بيا به هيڅ کله هيڅ
څوک هم داسې بد عمل ونۀ کړى.

۱۲ کله چې تاسو په هغه ښارُونو کښې اوسېږئ چې مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوى، نو کېدے شى چې تاسو خبر
شئ ۱۳ چې ستاسو د قوم څۀ لُوفرانو خلقو د خپل ښار خلق بې لارې
کړى دى چې د هغه معبُودانو عِبادت وکړى چې تاسو يې کله هم
د دې نه مخکښې عِبادت نۀ دے کړے. ۱۴ کۀ تاسو داسې يو افواه
واورئ، نو د هغې پُوره معلُومات وکړئ، اؤ کۀ رښتيا وى چې دا
بد عمل شوے وى، ۱۵ نو بيا د هغه ښار ټول خلق اؤ د هغوئ ټول
څناور هم ووژنئ. هغه ښار پُوره تباه کړئ. ۱۶ کُوم خلق چې هلته
اوسېږى د هغوئ ټول مال هم راوړئ اؤ د ښار په مرکزى ځائ کښې
يې ډېرے کړئ. بيا هغه ښار اؤ چې په هغې کښې څۀ هم وى مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک ته د نذرانې په توګه وسوزوئ. دا ښار به
د همېشه د پاره کنډر پاتې کېږى اؤ دا به هيڅ کله بيا آباد نۀ شى.

⑰ - ⑱ د هغې نه هيڅ يو څيز هم ځان له مۀ اخلئ کُوم چې تباه کولے شی، نو بيا به مالِک خُدائ قهر سوړ شی اؤ په تاسو به رحم وکړی. کۀ تاسو د هغۀ په ټولو حُکمُونو باندې عمل کوئ کُوم چې نن ما درکړی دی اؤ هغه څۀ کوئ چې څۀ درنه غواړی، نو هغه به په تاسو رحم وکړی اؤ ستاسو نه به يو لوئ قوم جوړ کړی، لکه څنګه چې هغۀ ستاسو پلارنيکۀ سره وعده کړې ده.

## د وير په حقله قانُون

# ۱٤

① تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک خلق يئ. نو کله چې تاسو په مړی باندې غم کوئ، نو خپل ځانُونه د نورو خلقو په شان مۀ غوڅوئ يا د تندی نه بره ويښتۀ مۀ کلوئ. ② تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک يئ، په زمکه باندې چې څومره خلق اوسېږی د هغه ټولو نه هغۀ تاسو د دې د پاره خوښ کړئ چې د هغۀ خپل خاص خلق اوسئ.

## حلال اؤ حرام ځناور

**(د ليويانو کِتاب ۱۱: ۱-٤۷)**

③ هيڅ يو حرام څيز مۀ خورئ. ④ تاسو دا ځناور خوړے شئ: څاروی، ګډې، چېلۍ ⑤ هوسۍ، ځنګلی ګډې، ځنګلی چېلۍ اؤ غرڅۍ، ⑥ هغه ټول ځناور چې نُوکې يې په مېنځ ببلې وی اؤ بيا بيا شخوند وهی. ⑦ خو صِرف هغه ځناور به حلال وی چې نُوکې يې په مېنځ ببلې وی اؤ بيا بيا شخوند هم وهی. تاسو اُوښ، سوه، يا ځنګلی

سوه نۀ شئ خوړلے. دا به خامخا حرام ګڼلے شی، ځکه چې دا بیا بیا شخوند وهی خو نُوکې یې په مېنځ بېلې نۀ دی. ۸ خنزیران مۀ خورئ، دا به خامخا حرام ګڼلے شی، دا بیا بیا شخوند نۀ وهی خو نُوکې یې په مېنځ بېلې وی. دا ځناور مۀ خورئ یا کۀ مړ وی لاس به هم نۀ وروړئ. ۹ تاسو هغه هر قِسم کبان خوړلے شئ کُوم چې وزر اؤ په ځرمن پترې لری، ۱۰ خو داسې د اوبو بل هر یو ځیز چې وزر اؤ په ځرمن پترې نۀ لری هغه به نۀ شئ خوړلے، دا به خامخا حرام ګڼلے شی. ۱۱ تاسو حلال مارغان خوړلے شئ. ۱۲-۱۸ دا د هغه مارغانو فهرست دے چې تاسو یې بېخی مۀ خورئ: شاهین، ګونګا، باز، شهباز، باښه، ګنجی، کارغۀ، شُترمُرغ، سمندری مرغابۍ، ډینګ، بګلۍ، ماهی خور مارغه، غټ ماهی خور مارغه، هُد هُد اؤ ښاپیرک. ۱۹ ټول الوتُونکی حشرات ناپاک دی، هغه مۀ خورئ. ۲۰ خو تاسو حلال حشرات خوړلے شئ. ۲۱ هغه یو ځناور هم مۀ خورئ، چې په خپل مرګ مړ وی. تاسو سره چې کُوم مُسافر اوسېږی هغوئ ته دا ورکولے شئ چې وې خوری، یا دا په نورو مُسافرو باندې خرڅولے شئ. خو تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک یئ او تاسو د هغۀ خلق یئ. ګډُورے یا د چېلۍ بچے د خپلې مور په پیو کښې مۀ پخوئ.

## د لسمې حِصې قانُون

۲۲ تاسو خامخا لسمه برخه ورکوئ، د خپل هر فصل لسمه حِصه چې تاسو یې هر کال رېبئ. ۲۳ بیا هغه یو ځائ ته ځئ

کُوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د خپل عِبادت د پاره خوښ کړے دے اؤ هلته د هغۀ په حضُور کښې د خپل فصل، د انګُورو شرابو اؤ د زيتُونو تيلو اؤ ستاسو د څاروو اؤ ګلهو لسمه برخه خورئ. دا د دې د پاره کوئ چې تاسو د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک نه د همېشه د پاره يرېدل ايزده کړئ. ۲٤ کۀ د عِبادت ځائ ستاسو د کور نه ډېر لرې وى چې هلته د خپل پېداوار لسمه برخه يوسئ چې مالِک خُدائ د هغې برکت درکړے دے، نو بيا داسې وکړئ: ۲۵ خپل پېداوار خرڅ کړئ اؤ د دې پېسې د ځان سره د عِبادت هغه يو ځائ ته يوسئ. ۲۶ چې ستاسو زړۀ څۀ غواړى لکه غټه غوښه، نرئ غوښه، د انګُورو شراب، يا تېز شراب، نو په دې پېسو يې واخلئ. اؤ هلته، د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په حضُور کښې ستاسو کورنئ اؤ تاسو يې خورئ اؤ خوند ترې نه واخلئ. ۲۷ هغه ليويان مۀ هېروئ چې ستاسو په ښارُونو کښې اوسېږى، ځکه چې د هغوئ خپل هيڅ جائيداد نشته. ۲۸ د هر دريم کال په آخِر کښې د خپلو ټولو فصلُونو لسمه برخه راوړئ اؤ په خپلو ښارُونو کښې يې ذخيره کوئ. ۲۹ دا خوراک د ليويانو د پاره دے، ځکه چې د هغوئ خپل جائيداد نشته اؤ ورسره د هغه مُسافرو د پاره، يتيمانو اؤ کونډو د پاره دے چې ستاسو په ښارُونو کښې اوسېږى. هغوئ ټول دې راځى اؤ د خپل ضرُورت څيزُونه دې ترې نه اخلى. هم دغه شان کوئ اؤ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو له ستاسو په هر څۀ کښې برکت درکوى.

## اوۀم کال

(د ليويانو کِتاب ۲۵: ۱-۷)

**۱۵** ۱ د هر اوۀم کال په آخِر کښې تاسو قرضُونه معاف
کوئ. ۲ دا هغه څۀ دی چې تاسو به يې خامخا کوئ.
هر چا چې خپلو اِسرائيليانو له قرض ورکړے وى نو هغه به ورته
معاف کوى، هغه به د خپل ګاونډى يا د هغۀ د خپلوان نه دا قرض
واپس واخلى، مالِک خُدائ په خپله دا اِعلان کړے دے چې قرض
معاف شو. ۳ چې په يو مُسافر باندې ستاسو قرض وى نو د هغۀ
نه پيسې اخستے شئ، خو چې ستاسو په اِسرائيليانو قرض وى نو د
هغوئ نه به يې نۀ اخلئ. ۴ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به
تاسو له په هغه وطن کښې برکت درکړى کُوم چې تاسو له درکوى.
ستاسو د خلقو نه به هيڅ څوک هم غريب نۀ وى، ۵ کۀ تاسو د
هغۀ فرمانبردارى کوئ نو هغه هر څۀ پُوره پُوره ومنئ چې نن يې زۀ
حُکم درکوم. ۶ نو مالِک خُدائ به تاسو له برکت درکړى، لکه
څنګه چې هغۀ وعده کړې ده. تاسو به ډېرو قومُونو له قرض ورکړئ،
خو تاسو به د هيچا نه قرض نۀ اخلئ، ستاسو په قبضه کښې به ډېر
قومُونه وى، خو تاسو به د هيچا په قبضه کښې نۀ يئ. ۷ کُوم وطن
چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو له درکوى کۀ د هغې په
ښارُونو کښې ستاسو خپل يو بنى اِسرائيلے مُحتاج وى، نو خپل زړۀ
مۀ سختوئ او د هغۀ مدد کولو نه لاس مۀ نيسئ. ۸ خو سخيان
اوسېږئ او چې څومره پيسو ته يې ضرُورت وى نو هغه هومره قرض

ورکړئ. ۹ هغۀ ته د څۀ څيز قرض ورکولو نه په دې وجه اِنکار مۀ کوئ چې د قرضُونو د معاف کولو کال نزدې دے. داسې بد سوچُونه خپل ذهن ته مۀ راولئ. کۀ تاسو خپل ورور له قرض ورنۀ کړئ نو هغه به مالِک خُدائ ته ستاسو خِلاف فرياد وکړی اؤ ګُناه به ستاسو په غاړه شی. ۱۰ هغۀ ته چې د څۀ څيز ضرُورت وی نو په خوشحالئ سره اؤ د زړۀ د اِخلاصه يې ورکړئ، نو مالِک خُدائ به تاسو له په هر کار کښې برکت درکوی. ۱۱ په مخ د زمکې به هميشه غريبانان خلق موجُود وی، نو زۀ تاسو له حُکم درکوم چې د خپلو اِسرائيليانو د مدد نه لاس مۀ نيسئ.

## د غُلامانو آزادول

**(د هِجرت کِتاب ۲۱: ۱-۱۱)**

۱۲ کۀ يو عبرانے سړے يا ښځه خپل ځان په تاسو باندې د غُلام يا وينځې په توګه خرڅ کړی، نو چې هغوئ شپږ کاله ستاسو خِدمت وکړی نو د هغې نه پس هغوئ آزاد کړئ. کله چې اوۀم کال راشی، نو هغوئ به خامخا پرېږدئ چې لاړ شی. ۱۳ کله چې تاسو هغوئ آزادوئ، نو هغوئ تش لاس مۀ لېږئ. ۱۴ چې مالِک خُدائ تاسو له کُوم برکت درکړے وی نو د خپلو ګلهو، غلې اؤ د انګُورو شرابو نه ډېر څۀ وکړئ. ۱۵ هغه راپه ياد کړئ چې تاسو په مِصر کښې غُلامان وئ اؤ مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک تاسو آزاد کړئ، نو ځکه زۀ تاسو له دا حُکم درکوم. ۱۶ خو کېدے شی چې ستاسو غُلام ونۀ غواړی چې لاړ شی، اؤ هغه ستاسو اؤ

ستاسو کورنۍ سره ډېره مينه کوی اؤ د هغۀ د پاره ستاسو سره پاتې
کېدل ښۀ وی. ۱۷ نو د خپل کور دروازې ته هغه بوځئ اؤ هلته د
هغۀ غوږ سُورے کړئ، نو هغه به تړول عُمر ستاسو غُلام وی. د
خپلې وينځې سره هم دغه شان سلُوک کوئ. ۱۸ کله چې تاسو
يو غُلام آزادوئ نو خفه کېږئ مۀ، ځکه چې آخِر هغۀ هم د يو
مزدُور په نيم قيمت شپږ کاله ستاسو خِدمت کړے دے. هم دغه
شان کوئ، نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په هر کار کښې
تاسو له برکت درکوی.

## د څاروو وړومبے پيدا شوے بچے

۱۹ د خپل څاروی يا ګډې هر يو وړومبے نر بچے مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک د پاره بېل کړئ، د دې څاروو نه يو هم د
کار د پاره مۀ اِستعمالوئ اؤ د دې ګډو نه وړۍ مۀ کټ کوئ.
۲۰ تاسو، ستاسو کورنۍ اؤ تاسو به هر کال د عِبادت په يو ځائ
کښې د مالِک خُدائ په حضُور کښې دا خورئ. ۲۱ خو کۀ په
يو ځناور کښې څۀ عيب وی، کۀ هغه ګوډ وی، ړُوند يا څۀ بل
غټ نُقص په کښې وی، نو تاسو به هغه مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک ته نۀ قُربانی کوئ. ۲۲ داسې ځناور تاسو په خپل کور کښې
خوړے شئ، ستاسو هر يو کس، کۀ پاک وی يا ناپاک، نو دا
خوړلے شی، لکه څنګه چې تاسو هوسۍ يا غرڅۍ خورئ. ۲۳ خو
د دې وينه د خوراک د پاره مۀ اِستعمالوئ، اؤ خامخا يې د اوبو
په شان په زمکه تويَوئ.

## د فسحې اختر

**(د هِجرت کِتاب ۱۲: ۱-۲۰)**

**۱٦** ① د ابیب په میاشت کښې د فسحې اختر کولو سره د
مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک درناوښت کوئ، دا هغه
میاشت وه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو د مِصر نه د
شپې راوویستلئ. ② د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک د فسحې اختر
د قُربانۍ د پاره هلته خپل یو ګډه یا یو څاروے حلال کړئ کُوم ځائ
چې هغهٔ د خپل نُوم د درناوی د پاره خوښ کړے وی. ③ کله چې
تاسو دا خوراک وخورئ، نو خمبیره شوې ډوډۍ به نهٔ خورئ. اووهٔ
ورځې به تاسو پتیره ډوډۍ خورئ، هم هغه شان لکه څنګه چې
تاسو د مِصر نه په تېزۍ سره راووتلئ. دا ډوډۍ خورئ اؤ د دې نُوم
به د تکلیفُونو ډوډۍ وی، چې تر کُومې پورې تاسو ژوندی یئ نو
ستاسو به هغه ورځ یاده وی چې د مِصر وطن نه راوتلئ. ④ اووهٔ
ورځې به ستاسو په وطن کښې د هیچا په کور کښې خمبیره نهٔ وی،
اؤ د وړومبۍ ورځې په ماښام د حلال شوی څناور غوښه به هم په
هغه شپه خوړلے شی. ⑤-⑥ د فسحې د اختر څناور د عِبادت په
هغه یو ځائ کښې حلالوئ، د هغه وطن په بل یو ځائ کښې هم
نهٔ کُوم چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یې تاسو له درکوی.
تاسو داسې د نمرپرېواتو په وخت کښې کوئ، د ورځې په دې وخت
کښې تاسو د مِصر نه ووتلئ. ⑦ غوښه ویشوئ اؤ د عِبادت په هغه
یو ځائ کښې یې وخورئ، اؤ په ورپسې سحر واپس کور ته راشئ.

۸ ورپسې شپږ ورځې به تاسو پتيره ډوډۍ خورئ اؤ په اوومه ورځ
د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک د عِبادت د پاره راغونډ شئ اؤ په
هغه ورځ کار مۀ کوئ.

## د لَو کولو اختر

**(د هِجرت کِتاب ٣٤: ٢٢، د ليويانو کِتاب ٢٣: ١۵-٢١)**

۹ چې تاسو د فصل رېبل شروع کړئ نو د هغه وخت نه اووۀ
هفتې وشمېرئ، ۱۰ اؤ بيا د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک درناوی
د پاره د لَو کولو اختر وکړئ، هغۀ چې کُوم برکت درکړے دے د
هغې په مُطابق هغۀ ته يوه رضاکارانه نذرانه راوړئ. ۱۱ د مالِک خُدائ
په حضُور کښې تاسو سره د خپلو بچو، ستاسو نوکرانو، ليويانو،
مُسافرو، يتيمانو اؤ د هغه کونډو سره خوشحاله شئ چې ستاسو په
ښارُونو کښې اوسېږی. د عِبادت په هغه يو ځائ کښې هم دغه شان
کوئ. ۱۲ ګورئ چې په دې حُکمُونو باندې عمل وکړئ، دا خبره
مۀ هېروئ چې تاسو په مِصر کښې غُلامان وئ.

## د جُونګړو اختر

**(د ليويانو کِتاب ٢٣: ٣٣-٤٣)**

۱۳ چې تاسو خپل ټول فصل راټول کړئ اؤ خپل ټول انګُور نچوړ
کړئ، نو اووۀ ورځې د جُونګړو اختر کوئ. ۱٤ تاسو د خپلو بچو
سره، خپلو نوکرانو اؤ د ليويانو، مُسافرو، يتيمانو اؤ د هغه کونډو
سره د دې نه خوند واخلئ چې ستاسو په ښارُونو کښې اوسېږی.

۱۵ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک چې کُوم ځائ خوښ کړے وی
نو په هغه ځائ کښې اووۀ ورځې اختر وکړئ. خوشحاله اوسئ،
ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو فصل اؤ ستاسو کار له برکت ورکړے
دے. ۱٦ ستاسو د قوم ټول سړی به په کال کښې درې ځل د مالِک
خُدائ عِبادت د پاره هغه يو ځائ ته راځی: يعنې د فسحې اختر،
د لَو کولو اختر اؤ د جُونګړو اختر په وخت. يو سړے به هم مالِک
خُدائ له خالی لاسُونه نۀ راځی، ۱۷ اؤ چې څومره يې وس وی، دا
به د هغه برکت په مُطابق وی چې مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک
هغۀ له ورکړے وی.

## قاضيان

۱۸ په هر يو ښار کښې چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې
درکوی په هغې کښې قاضيان اؤ نور آفسران مُقرر کړئ. دا سړی به
د چا د طرفدارئ نه بغېر فېصلې کوی. ۱۹ هغوئ به په خپلو فېصلو
کښې د بې اِنصافئ نه کار نۀ اخلی، اؤ رشوت دې نۀ اخلی، ځکه
چې رشوت هوښيار خلق ړندوی او د صادقانو په خبرو کښې چالاکی
پيدا کوی. ۲۰ همېشه عدل اؤ اِنصاف کوُونکی اوسئ، نو چې هغه
وطن قبضه کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له
درکوی اؤ هلته اوسېږئ. ۲۱ کله چې تاسو مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک د پاره يوه قُربان‌ګاه جوړوئ، نو د هغې په څنګ کښې د لرګی
د اشيرې بُت ستنه مۀ ودروئ. ۲۲ اؤ د بُت پرستئ د پاره د کاڼی ستنه
مۀ ودروئ، مالِک خُدائ د دې څيزُونه نه نفرت کوی.

۱۷
۱ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ته داسې يو څاروے
يا گډه هم مهٔ قُربانى کوئ چې څهٔ عېب په کښې وى،
مالِک خُدائ د دې کار نه نفرت کوى. ۲ کهٔ تاسو واورئ چې
ستاسو په يو ښار کښې څهٔ سړو يا ښځو د مالِک خُدائ خِلاف گُناه
کړې ده اؤ د هغهٔ تړون يې مات کړے دے ۳ چې هغوئ د نورو
معبُودانو، د نمر، سپوږمۍ، يا د ستورو عِبادت اؤ خِدمت يې کړے
وى اؤ د مالِک خُدائ د حُکم مُخالفت يې کړے وى، ۴ نو کهٔ
داسې يو خبر واورئ، نو د هغې پُوره معلُومات وکړئ. کهٔ دا رښتيا
وى چې په اِسرائيليانو کښې داسې گنده کار شوے وى، ۵ نو هغه
کس د ښار نه بهر بوځئ اؤ سنگسار يې کړئ. ۶ په هغه وخت
کښې به هغه وژلے شى چې دوه يا د دوؤ نه زيات گواهان د هغهٔ
خِلاف گواهى ورکړى، خو کهٔ صِرف يو گواه وى نو هغه به نهٔ
شى وژلے. ۷ وړومبى کانړى به گواهان ورولى اؤ بيا به يې باقى نور
خلق سنگسار کړى، چې ستاسو نه دا بدى لرې شي. ۸ کهٔ داسې
لانجې وى چې د هغې فېصله کول د هغه ځائ د قاضيانو د پاره
گران وى، لکه د جائيداد حقُونو يا د چا د زخمى کېدلو لانجې يا
چې په قصد سره يا په غلطۍ سره د قتل په مېنځ کښې فرق کول
وى، نو چې داسې وشى، نو د عِبادت هغه يو ځائ ته لاړ شئ چې
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک خوښ کړے وى، ۹ اؤ خپله لانجه
د ليوى قبيلې اِمامانو ته يا په هغه وخت کښې چې کُوم قاضى حاضر
وى هغهٔ ته يې پېش کړئ، نو هغوئ پرېږدئ چې هغه لانجه فېصله
کړى. ۱۰ هغوئ به خپله فېصله وکړى اؤ چې هغوئ تاسو ته څنگه

وائی نو تاسو به هم هغه شان کوئ. ⑪ د هغوئ فېصله ومنئ اؤ
چې د کُوم قانُون پُوره وضاحت درته وکړی نو په هغې عمل وکړئ.
⑫ هر څوک چې دا جُرات وکړی اؤ د قاضی یا د اِمام دا فېصله ونۀ
منی نو هغه دې خامخا ووژلے شی، چې د اِسرائیلو نه دا ګنده کار
ختم شې. ⑬ نو هر څوک چې د دې نه خبر شی نو وبه یرېږی اؤ د
عدالت فېصلې به منی.

## د بادشاه په باره کښې اصُول

⑭ کله چې تاسو هغه وطن ونیسئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک يې تاسو له درکوی اؤ تاسو هلته اوسېږئ، نو تاسو به ووایئ چې
ستاسو نه ګېرچاپېره قومُونو په شان تاسو ته هم د یو بادشاه ضرُورت
دے. ⑮ ګورئ! کُوم سړے چې د بادشاهۍ د پاره تاسو غوره کوئ
نو چې هغه مالِک خُدائ هم غوره کړے وی. نو په کار دے چې
هغه ستاسو د خپل قوم نه وی، یو مُسافر خپل بادشاه مۀ جوړوئ.
⑯ هغه بادشاه به د ځان د پاره ډېر اسُونه نۀ ساتی اؤ هغه دې خلق
مِصر ته نۀ لېږی چې اسُونه په پېسو واخلی، ځکه چې مالِک خُدائ
وئیلی دی چې د هغۀ خلق به هیڅ کله واپس هلته نۀ ځی. ⑰ د
بادشاه دې ډېرې ښځې نۀ وی، ځکه چې دا به هغه د مالِک خُدائ
نه واړوی، اؤ هغه دې خپل ځان په سپینو زرو یا سرو زرو نۀ مالداره
کوی. ⑱ کله چې هغه د بادشاهۍ په تخت کښېنی، نو هغه به د
خپل ځان د پاره د دې قانُون یو نقل ولیکی، دا کار به د لیوی قبیلې
د اِمامانو په وړاندې کېږی. ⑲ هغه به دا کِتاب د ځان سره نِزدے

ساتى اؤ ټول عُمر به يې وائى، چې د مالِک خُدائ نه يرېدل ايزده
کړى اؤ په وفادارئ سره به په هغه هر څۀ باندې عمل کوى چې په
دې کِتاب کښې يې حُکم راغلے دے. ۲۰ نو هغه به خپل ځان د
خپلو خلقو نه اُوچت نۀ گڼى اؤ د مالِک خُدائ د حُکمُونو نافرمانى
به نۀ کوى. نو هغه به ډېر کالونه حکومت وکړى اؤ د هغۀ اولاد به
ډېره موده په اِسرائيلو باندې بادشاهى وکړى.

## د اِمامانو برخه

۱۸ ۱ د ليوى قبيلې هيچا ته به هم په زمکه کښې حِصه نۀ
ملاوېږى، نۀ اِمامانو ته اؤ نۀ يې نورو خلقو ته، د دې په
ځائ هغوئ به په هغه نذرانو اؤ قربانو ژوند تېروى کُومې چې مالِک
خُدائ ته ورکولے شى. ۲ د هغوئ به خپل هيڅ ميراث نۀ وى، لکه
چې نورې قبيلې يې لرى، لکه څنگه چې مالِک خُدائ وعده کړې
ده چې مالِک خُدائ به په خپله د هغوئ ميراث وى. ۳ کله هم
چې يو څاروے يا گډه قُربانى کېږى، اِمام له به د دې اُوږه، جامنه اؤ
دننى اندامُونه ورکولے شى. ۴ هغوئ به د دې څيزُونو نه وړومبۍ
برخه اخلى: د غلې، د انگُورو شرابو، د زيتُونو تېلو اؤ ستاسو د گډو
د وړو نه. ۵ مالِک خُدائ ستاسو د ټولو قبيلو نه د ليوى قبيله خوښه
کړه چې د اِمامانو په توگه هميشه د هغۀ خِدمت وکړى. ۶ هر يو
ليوے چې وغواړى نو هغه د اِسرائيلو د هر يو ښار نه د عِبادت هغه
يو ځائ ته راتلے شى ۷ اؤ هلته د يو اِمام په توگه د مالِک خُدائ
خپل خُدائ پاک خِدمت کولے شى، لکه د نورو ليويانو په شان کُوم

چې هلته خِدمت کوى. ⁸ د نورو اِمامانو په شان به هغۀ ته هم هغه هومره خوراک ملاوېږى اؤ د هغۀ کورنۍ چې څۀ هم ورلېږى نو هغه د ځان د پاره کېښودے شى.

## د غېرو قومُونو د رسمُونو خِلاف خبردارے

⁹ کله چې تاسو هغه وطن ته ورننوځئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوى، نو چې هلته کُوم قومُونه دى د هغوئ په غلطو رِواجُونو پسې مۀ ځئ. ¹⁰ ستاسو په مېنځ کښې دې داسې کس نۀ وى چې خپل بچى په اور کښې قُربانى کوى، اؤ خپل خلق مۀ پرېږدئ چې د غېبو په خبرو عمل وکړى، يا فال وګورى يا په منتر پسې وګرځى ¹¹ يا تعويز اِستعمال کړى، د ښاپېرو په ذريعه کار وکړى اؤ هغوئ مۀ پرېږدئ چې د مړو رُوحُونو سره مشورې وکړى. ¹² مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د هغه خلقو نه کرکه کوى څوک چې دا بد عملونه کوى، نو مالِک خُدائ به هغه قومُونه وشړى چې تاسو مخ په وړاندې ځئ. ¹³ د مالِک خُدائ سره پُوره وفادار اوسئ.“

## د يو پېغمبر د رالېږلو وعده

¹⁴ بيا مُوسىٰ ووئيل، ”په هغه وطن کښې، کُوم چې زر تاسو قبضه کړئ، خلق د غېبو خبرې کوُونکو اؤ فالُونو کتُونکو په نصيحت عمل کوى، خو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک اِجازت نۀ درکوى چې تاسو داسې وکړئ. ¹⁵ خو هغه به تاسو له زما په شان يو پېغمبر راولېږى چې هغه به ستاسو د خپلو خلقو نه وى اؤ تاسو به د هغۀ

تابعدارى کوئ. ⑯ په کُومه ورځ چې تاسو د سينا غرۀ سره راغونډ
وئ، تاسو زارى وکړه چې مُونږ نۀ غواړُو چې د مالِک خُدائ خبرې
بيا واورُو يا د جلال شُعلې وګورُو، ځکه چې تاسو يرېدلئ چې مړۀ
به شئ. ⑰ نو مالِک خُدائ ما ته ووئيل چې هغوئ صحيح سوال
کړے دے. ⑱ زۀ به هغوئ ته د هغوئ د خپلو خلقو نه ستا په شان
يو پېغمبر ورولېږم، زۀ به هغۀ ته وښايم چې هغه به څۀ وائى اؤ زۀ چې
کُوم حُکم ورکوم نو هم هغه شان به يې خلقو ته ورسوى. ⑲ هغه
به زما په نُوم خبرې کوى اؤ هر څوک چې د هغۀ د منلو نه اِنکار
وکړى نو سزا به ورکړم. ⑳ خو چې کله ما حُکم نۀ وى ورکړے اؤ
يو پېغمبر دا جُرات وکړى چې زما په نُوم پېغام ورکړى، نو خامخا
به وژلے شى اؤ هغه پېغمبر به هم وژلے شى چې د نورو معبُودانو په
نُوم خبرې کوى. ㉑ مُونږ څنګه دا وئيلے شُو چې د يو پېغمبر پېغام
د مالِک خُدائ نه نۀ دے؟ ㉒ کۀ يو پېغمبر د مالِک خُدائ په نُوم
خبرې وکړى اؤ چې کُومه خبره يې کړې وى اؤ رښتيا نۀ شى، نو
بيا دا د مالِک خُدائ پېغام نۀ دے. هغه پېغمبر په خپل اِختيار خبرې
کړې دى اؤ تاسو له په کار دى چې د هغۀ نه ونۀ يرېږئ.

## د پناه ښارونه

**(د شمېر کِتاب ٣٥: ٩-٣٤، د يشوَع کِتاب ٢٠: ١-٩)**

**١٩** ① کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هغه خلق
تباه کړى چې زمکه يې تاسو له درکوى اؤ چې د هغوئ
ښارونه اؤ کورُونه ونيسئ اؤ هلته اوسېږئ، ②-③ نو هغه علاقه په

دريو حِصو کښې تقسيم کړئ، چې په هره يوه حِصه کښې يې داسې ښار وی چې تلل ورته آسان وی. نو چې څوک يو بل کس ووژنی نو د پناه د پاره د دې نه يو ښار ته تښتېدلے شی. ④ کۀ څوک يو کس په غلطئ سره ووژنی چې هغه يې دُښمن نۀ وی، نو هغه د دې ښارُونو نه يو ښار ته تښتېدلے شی چې بچ شی. ⑤ کۀ دوه سړی د لرگو وهلو د پاره ځنگل ته لاړ شی اؤ د هغوئ نه يو کس يوه ونه راماتوی اؤ تبر د لاسکی نه ووځی اؤ هغه بل کس ووژنی، نو د پناه د پاره د دې ښارُونو نه يو ته تښتېدلے شی. ⑥ خو کۀ صِرف يو ښار وی اؤ هغې ته فاصله هم ډېره وی، نو کېدے شی چې د هغه کس بدل اخستُونکی خپلوان يې ونيسی اؤ په غُصه کښې يو بې گُناه گاونډی ووژنی. خو په غلطئ سره هغۀ خپل گاونډی مړ کړو چې دُښمن يې نۀ وو. ⑦ نو ځکه زۀ حُکم درکوم چې درې ښارونه بېل کړئ. ⑧ کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو علاقه پراخه کړی، لکه څنگه چې هغۀ ستاسو پلارنيکۀ ته وئيلی دی اؤ هغه ټول وطن درکړی چې هغۀ يې وعده کړې ده، ⑨ بيا تاسو درې نور ښارونه خوښ کړئ. کۀ تاسو هغه هر څۀ کوئ چې نن بې زۀ حُکم درکوم اؤ د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک سره مينه کوئ اؤ د هغۀ د اصُولو په مُطابق ژوند تېروئ نو هغه به تاسو له دا وطن درکړی. ⑩ هم دغه شان وکړئ، چې بې گُناه خلق نۀ مری اؤ د هغوئ د وژلو گُناه ستاسو په غاړه نۀ وی، په هغه وطن کښې چې مالِک خُدائ يې تاسو له درکوی. ⑪ خو کۀ يو کس د خپل گاونډی سره دُښمنی لری اؤ د قصده په هغۀ حمله وکړی اؤ وې وژنی اؤ بيا د پناه د پاره

د دې ښارُونو نه يو ښار ته وتښتى، ⑫ نو په داسې حالت کښې دې د هغه ښار مشران هغه راوغواړى اؤ د هغه کس خپلوانو ته دې په حواله کړى کُوم چې د قتل د بدل اخستلو ذِمه وار وى، نو چې هغه ووژلے شى. ⑬ په هغۀ هيڅ رحم مۀ کوئ. د دې قاتِل نه اِسرائيل پاک کړئ، نو ستاسو هر کار به سم وى.

## پخوانى پُولې

⑭ د خپل گاونډى د جائيداد د حد کاڼے مۀ ښوزوئ، کُوم چې د مخکښې نه په هغه وطن کښې لگېدلے وى چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوى.

## د گواهانو په باره کښې قانُون

⑮ د يو سړى مُجرم ثابِتولو د پاره يو گواه کافى نۀ وى، کم از کم دوه گواهان ضرُورى دى چې هغه سړے مُجرم ثابت شى. ⑯ کۀ څوک د دروغو اِلزام په وجه بل کس ته نُقصان رسولو کوشش وکړى، ⑰ نو دواړه به د عِبادت هغه يو ځائ ته ځى اؤ د هغه وخت مُقرر شوى قاضيان اؤ اِمامان به د هغوئ فېصله وکړى. ⑱ قاضيان به د دې معاملې پُوره معلُومات وکړى، اؤ کۀ چا په خپل اِسرائيلى باندې د دروغو اِلزام لگولے وى، ⑲ هغۀ ته به هغه سزا ملاوېږى چې د څۀ اِراده چې يې د بل د پاره لرله. نو داسې به تاسو د دې بدئ نه خلاص شئ. ⑳ بيا به هر يو کس خبر شى چې څۀ وشول، هغوئ به ويرېږى اؤ هيڅ څوک به هم بيا داسې بد عمل نۀ کوى. ㉑ په

داسې مُعامِلو کښې هيڅ رحم مۀ کوئ، د ژوند په بدل کښې به د ژوند سزا وى، د سترګې په بدل کښې د سترګې، د غاښ په بدل کښې د غاښ، د لاس په بدل کښې د لاس، د خپې په بدل کښې به د خپې سزا وى.

## د جنګ په باره کښې قانُون

**۲۰** ۱ کله چې تاسو د خپلو دُښمنانو خِلاف جنګ له ځئ اؤ تاسو وګورئ چې د هغوئ جنګى ګاډى، اسُونه اؤ لښکر ستاسو نه زيات وى، نو د هغوئ نه مۀ يرېږئ. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به ستاسو مل وى، چا چې د مِصر وطن نه راوويستلئ. ۲ د هغې نه مخکښې چې تاسو جنګ شروع کړئ، يو اِمام دې وړاندې راشى اؤ لښکر ته دې ووائى، ۳ اے اِسرائيليانو! واورئ، نن تاسو جنګ له روان يئ. مۀ بې‌زړۀ کېږئ، مۀ يرېږئ، مۀ بې‌حوصلې کېږئ اؤ نۀ چې وارخطا شئ. ۴ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک ستاسو مل دے، هغه به ستاسو دُښمنانو خِلاف جنګ کوى اؤ فتح به درکړى. ۵ بيا به آفسران په خپل تقرير کښې فوجيانو ته ووائى، په تاسو کښې داسې څوک شته چې کور يې جوړ کړے وى، خو وقف کړے يې نۀ وى؟ کۀ داسې څوک وى، نو هغه دې کور ته لاړ شى. کۀ هغه په جنګ کښې ووژلے شى، نو بل څوک به د هغۀ کور وقف کړى. ۶ دلته داسې يو سړے شته، چې هغۀ د انګُورو باغ کَرلے وى، خو دا موقع ورته نۀ وى مِلاؤ شوى چې انګُور ترې نه راټول کړى؟ کۀ داسې څوک وى، نو هغه دې کور ته لاړ شى.

کۀ هغه په جنګ کښې ووژلے شی، نو بل څوک به د هغۀ د انګُورو په شرابو مزې وکړی. ۷ دلته داسې څوک شته، چې کوژدن يې کړې وی؟ کۀ داسې څوک وی، نو هغه دې کور ته لاړ شی. ګنی، کۀ هغه په جنګ کښې ووژلے شی، نو بل څوک به د هغۀ د کوژدن شوی ښځې سره وادۀ وکړی. ۸ آفسران به سړو ته دا هم ووائی، دلته داسې يو سړے شته، چې هغه يرېږی يا يې زړۀ بېللے وی؟ کۀ داسې څوک وی، نو هغه دې کور ته لاړ شی. ګنی، د خپل ځان په شان د نورو ملګرو زړُونه هم وبائيلی. ۹ کله چې آفسران د لښکر سره خپلې خبرې خلاصې کړی، نو د هرې ډلې د پاره به مشران خوښ کړے شی. ۱۰ کله چې تاسو په يو ښار باندې حمله کوئ، نو وړومبے هغه خلقو ته د تسليمېدو موقع ورکړئ. ۱۱ کۀ هغوئ دروازې کولاؤ کړی اؤ تسليم شی، نو هغوئ به ټول ستاسو غُلامان وی اؤ ستاسو د پاره به بېګار کوی. ۱۲ خو کۀ د هغه ښار خلق تسليم نۀ شی اؤ جنګ خوښ کړی، نو د خپل لښکر سره يې مُحاصره کړئ. ۱۳ نو کله چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک وکړی چې تاسو هغه ښار قبضه کړئ، نو په دې کښې ټول سړی ووژنئ. ۱۴ خو هغه ښځې، ماشُومان، څاروی اؤ چې په ښار کښې نور هر څۀ وی هغه د ځان د پاره اخستے شئ. تاسو د خپلو دُښمنانو هر څيز اِستعمالولے شئ. مالِک خُدائ دا تاسو له درکړی دی. ۱۵ تاسو به د هغه ښارُونو سره داسې کار وکړئ کُوم چې د هغه وطن نه لرې دی چرته به چې تاسو اوسېږئ. ۱۶ خو کله چې تاسو د هغه وطن ښارونه قبضه کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی، نو هر يو

کس ووژنئ. ۱۷ دا ټول خلق تباه کړئ: حِتیان، اموریان، کنعانیان، فارصیان، حِویان اؤ یبوسیان، لکه څنګه چې مالِک خُدائ د دې حُکم درکړے دے. ۱۸ دا خلق ووژنئ، نو هغوئ به تاسو د مالِک خُدائ خِلاف ګُناهګار نۀ کړی چې تاسو ته هغه ټول بد عملونه وښائی چې هغوئ يې د خپلو معبُودانو په عِبادت کښې کوی. ۱۹ کله چې تاسو د يو ښار د قبضه کولو کوشش کوئ، نو د هغه ځائ مېوه‌دارې ونې مۀ پرې کوئ، اګرچې مُحاصره د ډېر وخت پورې اُوږده هم شی. مېوه يې خورئ، خو ونې مۀ تباه کوئ، ځکه چې ونې ستاسو دُښمنانې نۀ دی. ۲۰ تاسو هغه ونې راماتولے شئ چې مېوه نۀ کوی اؤ د مُحاصرې د دېوالُونو د پاره يې اِستعمالولے شئ، چې هغه ښار قبضه شی.

## نامعلُومه قتل

**۲۱** ۱ کۀ په يو پټی کښې يو قتل شوے کس ومُوندلے شی په هغه وطن کښې چې خُدائ پاک يې تاسو له درکوی اؤ تاسو ته پته نۀ وی چې چا وژلے دے، ۲ نو ستاسو مشران اؤ قاضيان به لاړ شی اؤ چې چرته هغه مړے مُوندلے شوے وی نو د هغه ځائ نه به د ټولو نزدې ښارُونو فاصله معلُومه کړی. ۳ نو چې چرته مړے مُوندلے شوے وی د هغه نزدې ښار مشران به يوه غخې خوښه کړی چې هيڅ کار ترې نه نۀ وی اخستے شوے اؤ نۀ يې جغ راښکلے وی. ۴ هغوئ به دا يوې بهېدُونکې ولې ته کُوزه کړی چې د هغه ځائ زمکه هيڅ کله نۀ يوې شوې وی اؤ نۀ کَرلے شوې

وی اؤ هغوئ به هلته د دې څخې څټ مات کړی. ۵ د لیوی
قبیلې اِمامان به هم هلته لاړ شی، ځکه چې هغوئ به هره هغه لانجه
فېصله کوی چې د ظلم اؤ زیاتی سره یې تعلُق وی. مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک هغوئ د خپل خِدمت د پاره خوښ کړی دی اؤ
چې د هغهٔ په نُوم برکتُونه وغواړی. ۶ بیا چې چرته هغه قتل شوے
کس مُوندلے شوے وی هغې ته د نزدې ښار ټول مشران به په هغه
څخې باندې خپل لاسُونه ووینځی اؤ اِعلان به وکړی چې مُونږ دا
کس نهٔ دے قتل کړے اؤ مُونږ ته دا پته نشته چې دا کار چا کړے
دے. ۷ اؤ هغوئ دې ووائی چې، مُونږ دا کس نهٔ دے وژلے اؤ
مُونږ ته پته نشته چې دا قتل چا کړے دے. ۸ اے مالِکه خُدایه،
خپل خلق اِسرائیلیان معاف کړه څوک دې چې د مِصر نه راوویستل.
مُونږ معاف کړه اؤ د یو بې ګُناه کس د قتل ذِمه واری زمُونږ په غاړه
مهٔ اچوه. ۹ چې هغه څهٔ وکړئ چې مالِک خُدائ یې غواړی، نو د
قتل ذِمه واری به ستاسو په غاړه نهٔ وی.

## په جنګ کښې نیولے شوې ښځې سره وادهٔ کول

۱۰ کله چې تاسو د خپلو دُښمنانو خِلاف جنګ له لاړ شئ اؤ
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو په هغوئ زورَور کړی اؤ څهٔ
کسان ترې نه قېدیان کړئ، ۱۱ کېدے شی چې تاسو په هغوئ کښې
یوه ښائسته ښځه وګورئ چې ستاسو خوښه شی اؤ ورسره وادهٔ کول
وغواړئ. ۱۲ هغه خپل کور ته بوځئ، هلته به خپل سر کل کړی،
نوکُونه به پرې کړی، ۱۳ خپلې جامې به بدلې کړی. هغه به ستاسو په

کور کښې ايساره شی اؤ خپل مور پلار پسې به يوه مياشت وژاړی، د هغې نه پس، هغه وادهٔ کولے شئ. ۱۴ وروستو، کهٔ تاسو د هغې سره خوشحاله نهٔ يئ، نو تاسو بې پرېښودے شئ اؤ چې چرته وغواړی نو هلته دې لاړه شی. ځکه چې تاسو د هغې بې عِزتی کړې ده، نو تاسو د هغې سره د يوې وينځې په شان سلُوک نهٔ شئ کولے اؤ نهٔ يې خرڅولے شئ.

## د مشرى زوئ حقُونه

۱۵ کهٔ د يو سړی دوه ښځې وی اؤ هغه د يوې سره مينه کوی اؤ د بلې سره نهٔ کوی اؤ د دواړو نه يې زامن پيدا شی، خو وړومبے زوئ يې د هغې ښځې نه وی چې د کُومې سره مينه نهٔ کوی، ۱۶ کله چې هغه سړے خپل جائيداد تقسيموی نو هغه دې د خپلې خوښې ښځې زوئ له د مشرى زوئ حق نهٔ ورکوی. ۱۷ چې د کُومې ښځې سره مينه نهٔ کوی خو د هغې زوئ مشر دے نو هغهٔ له به يو په دوه برخه ورکوی. مشر زوئ د خپل پلار د طاقت وړومبی نښه وی. هغه د مشرئ حق لری.

## يو نافرمانه زوئ

۱۸ کهٔ د چا زوئ ضدی يا سرکشه وی، يو زوئ چې د خپل مور پلار فرمانبرداری نهٔ کوی، تر دې پورې چې هغوئ سزا هم ورکړی، ۱۹ د هغهٔ مور پلار دې هغه د ښار مشرانو له راولی چرته چې هغه اوسېږی اؤ په هغهٔ دې فېصله وکړے شی. ۲۰ هغوئ دې مشرانو ته

داسې ووائی، ”زمُونږ زوئ ضدی اؤ سرکشه دے اؤ زمُونږ خبره نۀ منی، هغه فضُول خرچه اؤ شرابی دے.“ ۲۱ نو د ښار سړی دې هغه سنگسار کړی چې مړ شی. نو تاسو به د دې بدکارئ نه خلاص شئ. په اِسرائيلو کښې به ټول خلق د دې نه خبر شی اؤ وبه يرېږی.

## د مړی سره سمبالول

۲۲ کۀ د يو جُرم په وجه څوک وژلے شوے وی اؤ د هغۀ لاش په يوه ونه کښې ځوړند وی، ۲۳ نو هغه دې د شپې هلته نۀ شی پرېښودلے. هغه دې خامخا هم په هغه ورځ ښخ کړے شی، ځکه چې يو داسې مړے چې په ونه کښې ځوړند وی هغه په وطن باندې د خُدائ پاک لعنت راولی. هغه مړے ښخ کړئ، نو تاسو به هغه وطن پليت نۀ کړئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له په ميراث کښې درکوی.

# ۲۲

۱ کۀ تاسو وگورئ چې ستاسو د وطن دار غوا يا گډه لار غلطه کړې وی، نو هغه هم داسې مۀ پرېږدئ، اؤ خپل مالِک له يې واپس ورولئ. ۲ خو کۀ د دې مالِک لرې اوسېږی يا کۀ تاسو ته پته نۀ وی چې دا د چا ده، نو د ځان سره يې خپل کور ته بوځئ. کله يې چې مالِک لټولو له راشی، نو هغۀ له يې ورکړئ. ۳ کله چې تاسو خر، د کپړې ټُکړه، يا بل څۀ ومُومئ چې ستاسو د وطن دار نه ورک شوې وی نو تاسو هم دغه شان کوئ. د چا سره مدد کولو نه لاس مۀ نيسئ. ۴ کۀ ستاسو د وطن دار خر يا غوا په لاره کښې غورزېدلې وی، نو هغه هم داسې مۀ پرېږدئ،

د هغه ځناور په پاڅولو کښې د هغۀ مدد وکړئ. ۵ ښځې دې د سړو جامې نۀ اغوندى اؤ سړى دې د ښځو جامې نۀ اغوندى، مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د هغه خلقو نه کرکه کوى څوک چې داسې کارُونه کوى. ۶ کۀ چرې تاسو په يوه ونه کښې يا په زمکه باندې د مارغانو جاله ووينئ چې مرغئ په هگو باندې يا د خپلو بچو سره ناسته وى، نو تاسو به دا مرغئ نۀ رانيسئ. ۷ تاسو د مرغو هغه واړۀ بچې رانيولے شئ، خو مرغئ به يې پرېږدئ چې لاړه شى، نو تاسو به يو اُوږد اؤ خوشحاله ژوند تېر کړئ. ۸ کله چې تاسو يو نوے کور جوړ کړئ، نو گورئ چې د چت د غاړې نه گېرچاپېره يو پړده‌وال ورله جوړ کړئ. کۀ څوک ترې نه راوغورزېږى اؤ مړ شى نو ذِمه وارى به يې ستاسو په غاړه نۀ وى. ۹ کۀ په يو پټى کښې انگُور وکَرئ نو بل څۀ فصل ورسره مۀ کَرئ گنى دواړه به نۀ شئ خوړلے. ۱۰ غوَيے اؤ خر تاسو په يو جغ کښې د يوې کولو د پاره مۀ اچوئ. ۱۱ داسې جامې مۀ اغوندئ چې په يو ځائ د تاؤ شوې وړئ اؤ د لټې نه جوړې وى. ۱۲ د خپلو جامو په څلورو گوټُونو پورې د مزو سُونډى وگنډئ.

## بدنامه شوې ناوې

۱۳ کۀ يو سړے يوه ښځه وادۀ کړى اؤ ورسره څملى او وروستو يې هغه خوښه نۀ شى، ۱۴ اؤ د هغې خِلاف داسې دروغ ووائى چې ما وادۀ کړه خو چې کله ورسره څملاستم نو ما ته پته ولگېده چې هغه زما نه مخکښې د بل سړى سره ملاسته وه. ۱۵ کۀ داسې وشى، نو د جينئ

مور اؤ پلار دې د ښار مشرانو له د جرگې په وخت دا ثبُوت راوړى چې
هغه جينۍ هيڅ كله هم د يو سړى سره نۀ وه ملاسته. ۱۶ د هغې پلار به
مشرانو ته ووائى، ”ما خپله لُور دې سړى له وركړه چې وادۀ يې كړى،
خو اوس د هغۀ خوښه نۀ ده. ۱۷ هغه د دې خِلاف دا دروغ وائى چې
كله ما ورسره وادۀ وكړو نو هغه د مخكښې نه د بل سړى سره ملاسته
وه خو ثبُوت دا دے چې زما لُور صفا وه، د وادۀ د كټ په څادر باندې
تاسو د وينې دا داغُونه وگورئ!“ ۱۸ نو د ښار مشران به د هغې خاوند
بوځى اؤ سزا به وركړى. ۱۹ هغوئ دې هغه سل د سپينو زرو سيكې
جُرمانه هم كړى اؤ پيسې دې د ښځې پلار له وركړى، ځكه چې هغه
سړى يوه اِسرائيلۍ ښځه رسوا كړې ده. د دې نه علاوه، هغه به يې
ښځه هم وى اؤ چې تر څو پورې هغه ژوندے وى هغې له طلاق نۀ
شى وركولے. ۲۰ خو كۀ دا خبره رښتيا وى اؤ دا ثبُوت نۀ وى چې هغه
پېغله پاتې شوې وه، ۲۱ نو هغوئ به يې د هغې د پلار د كور دروازې
خُلې ته بوځى، د ښار سړى به يې هلته سنگسار كړى چې مړه شى.
هغې ستاسو خلقو په مېنځ كښې يو د شرم نه ډک كار كړے دے چې د
وادۀ نه مخكښې د بل سړى سره څملاستله، چې هغه لا د پلار په كور
كښې وه. نو تاسو به د دې بدكارۍ نه خلاص شئ. ۲۲ كۀ يو سړے د
بل سړى د ښځې سره په زنا كولو كښې ونيولے شى، نو هغوئ دواړه به
وژلے شى، چې تاسو د دې بدكارۍ نه خلاص شئ. ۲۳ كۀ په يو ښار
كښې يو سړے د داسې ښځې سره په زنا پورې ونيولے شى چې د هغې
كوژدن د بل چا سره شوې وى، ۲۴ نو تاسو هغوئ د ښار نه بهر بوځئ
اؤ سنگسار يې كړئ چې مړۀ شى. ښځه دې ځكه مړه شى چې هغې د

مدد د پاره چغې نۀ دی وهلې، اګر چې هغه په ښار کښې وه، کېدے شی چې هلته د هغې چغې اؤرېدلے شوے وے. اؤ سړے دې ځکه مړ شی چې هغۀ د یوې داسې ښځې سره زنا کړې ده چې هغه کوژدن شوې وه. نو داسې به تاسو د دې ګند نه ځان خلاص کړئ. ۲۵ فرض کړئ چې یو سړے په پټو کښې د یوې داسې ښځې بې عِزتی وکړی چې د هغې کوژدن د بل چا سره شوې وی. نو صِرف هغه سړے به وژلے شی، ۲۶ ښځې ته به هيڅ نۀ شی وئیلے، ځکه هغې داسې ګُناه نۀ ده کړې چې د مرګ حقداره شی. دا هم هغه شان معامِله ده چې یو سړے په بل سړی باندې حمله وکړی اؤ مړ یې کړی. ۲۷ هغه سړی په پټو کښې د هغه کوژدن شوې ښځې سره په زبردستئ زنا وکړه، اګرچې هغې د مدد چغې وهلې وې، خو هيڅ څوک هم نۀ وُو. ۲۸ کۀ یو سړے د یوې داسې جینئ سره په زبردستئ زنا وکړی چې هغه کوژدن شوې نۀ وی، ۲۹ نو هغه به د هغې پلار له پنځوس د سپینو زرو سیکې حق مهر ورکړی اؤ هغه به یې ښځه شی، ځکه چې هغۀ په زور باندې د هغې سره زنا کړې ده. چې تر کُومې پورې ژوندے وی نو هغې له طلاق نۀ شی ورکولے. ۳۰ یو سړے دې هم د خپل پلار بې عِزتی نۀ کوی چې د خپل پلار د ښځو نه د یوې سره څملی.

## د مالِک خُدائ د خلقو نه شړل کېدل

**۲۳** ۱ د کُوم سړی چې هګۍ ماتې شوې وی یا یې ذکر پرې کړے شوے وی نو هغه یو به هم د مالِک خُدائ په خلقو کښې نۀ شی شامِلېدلے. ۲ یو حرامی پېدا شوے کس یا

د داسې کس اولاد، تر لسم نسله پورې هم، د مالِک خُدائ په خلقو کښې نۀ شی شامِلېدلے. ۳ هیڅ یو عمونی یا موآبی، یا د هغوئ اولاد، تر لسم نسل پورې هم، د مالِک خُدائ په خلقو کښې نۀ شی شامِلېدلے. ۴ کله چې تاسو د مِصر نه بهر په لاره کښې وئ نو هغوئ تاسو له د خوراک اؤ اوبو درکولو نه اِنکار وکړو اؤ د میسوپوتامیه په ښار فتور کښې یې د بعور زوئ بلعام له پیسې ورکړې چې په تاسو لعنت ووائی. ۵ خو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به بلعام ته غوږ نۀ نیولو، اؤ لعنت یې په برکت بدل کړو، ځکه چې هغۀ ستاسو سره مینه لرله. ۶ چې تر کُومې پورې تاسو ژوندی یئ، د هغوئ د خېر اؤ خوشحالۍ تصور هم مۀ کوئ. ۷ ادومیانو ته سپک مۀ ګورئ، هغوئ ستاسو خپلوان دی. اؤ مِصریانو ته هم سپک مۀ ګورئ، په وخت کښې تاسو د هغوئ په وطن کښې اوسېدئ. ۸ د دریم نسل نه ورپه اخوا د هغوئ اولاد د مالِک خُدائ په خلقو کښې شامِلېدے شی.

## د فوجی کېمپ پاک ساتل کیدل

۹ کله چې تاسو د یو لښکر په شکل د خپلو دُښمنانو خِلاف ووځئ، نو ګورئ د داسې هر څیز نه ځان ساتئ چې تاسو ناپاکوی. ۱۰ کۀ د شپې شېطان یو سړے دهوکه کړی اؤ هغه په دې وجه ناپاک شی، نو هغه دې د خېمو نه بهر ووځی اؤ هلته دې پاتې شی. ۱۱ په ماښام کښې دې هغه غُسل وکړی اؤ د نمرپرېواتۀ په وخت کښې هغه واپس کېمپ ته راتلے شی. ۱۲ تاسو له په کار دی چې د

کېمپ نه بهر يو ځائ جوړ کړئ چې هلته د اودس ماتی د پاره ځئ.
۱۳ په خپل سامان کښې د کنستلو د پاره يو څيز هم يوسئ، کله چې تاسو ډکې متيازې کوئ نو يوه کنده به وکنئ اؤ متيازې به په کښې پټې کړئ. ۱٤ خپل کېمپ مُقدس ساتئ، ځکه چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو سره ستاسو په کېمپ کښې دے، دا د دې د پاره چې ستاسو حِفاظت وکړی اؤ تاسو له په دُښمنانو باندې فتح درکړی. داسې يو د بې‌شرمئ کار هم مۀ کوئ چې د هغې په وجه مالِک خُدائ ستاسو نه مخ واړوی.

## مُختلف قوانين

۱۵ کۀ غُلامان د خپلو مالِکانو نه وتښتی اؤ تاسو له د پناه د پاره راشی، نو هغوئ واپس مۀ لېږئ. ۱٦ هغوئ ستاسو د ښارُونو په هر يو ښار کښې اوسېدے شی چې کُوم يې خوښ وی اؤ تاسو به د هغوئ سره زياتے نۀ کوئ. ۱۷ اِسرائيلے سړے يا ښځه به هيڅ کله د عِبادت‌خانې کنجران نۀ جوړېږی. ۱۸ د کنجر سړی يا د کنجرې ښځې ګټلے شوې پيسې به هم د يوې منختې پُوره کولو د پاره د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک کور ته نۀ شی راوړلے. مالِک خُدائ د عِبادت‌خانې د کنجرانو نه نفرت کوی. ۱۹ کله چې تاسو پيسې يا خوراک، يا بل څيز خپل وطن دار له قرض ورکړئ، نو د هغۀ نه سُود مۀ اخلئ. ۲۰ يو مُسافر له چې څۀ څيز قرض ورکړئ نو د هغې سُود د هغۀ نه اخستے شئ، خو چې خپل اِسرائيلی له څۀ قرض ورکړئ نو د هغې سُود به ترې نه نۀ اخلئ. دا اصُول ومنئ اؤ مالِک خُدائ

ستاسو خُدائ پاک به په هغه وطن کښې تاسو له په هر کار کښې
برکت درکړی کُوم وطن چې تاسو قبضه کوئ. ۲۱ کله چې مالِک
خُدائ خپل خُدائ پاک ته تاسو يوه منخته ومنئ، نو چې کُومه وعده
مو کړې وی په هغې کښې سستی مۀ کوئ، مالِک خُدائ به ستاسو
نه د هغه منختې تپوس کوی اؤ د دې وعدې نۀ پُوره کول گُناه ده.
۲۲ مالِک خُدائ ته منخته نۀ منل گُناه نۀ ده، ۲۳ خو کۀ تاسو په خپله
خوښه يوه منخته ومنئ، نو گورئ هغه وعده به پُوره کوئ. ۲۴ کله
چې تاسو د بل چا د انگُورو باغ سره تېرېږئ، نو چې څومره انگُور
غواړئ هغه خوړلے شئ، خو د هغې نه به په يوه ټوکرۍ کښې انگُور
نۀ وړئ. ۲۵ هم دغه شان، کۀ تاسو د بل چا د فصل په پټی کښې
گرځئ، څومره غله چې د خپلو لاسُونو سره راشُوکولے شئ هغه
خوړے شئ، خو هغه فصل به تاسو لور باندې نۀ رببئ.

## طلاق اؤ بيا وادۀ کول

**۲۴** ۱ کۀ يو سړے يوې ښځې سره وادۀ وکړی اؤ په هغې
کښې داسې څۀ وگوری چې د هغه سړی خوښ نۀ وی
اؤ وروستو فېصله وکړی چې خپله ښځه پرېږدی اؤ هغه طلاق‌نامه
ورکړی اؤ د خپل کور نه يې وشړی، ۲ اؤ بيا کۀ هغه ښځه د هغه
سړی د کور نه لاړه شی اؤ د بل سړی سره وادۀ وکړی، ۳ اؤ کۀ
د هغه دويم خاوند هم خوښه نۀ شی اؤ هغه هم طلاق‌نامه ورکړی
اؤ د خپل کور نه يې وشړی، يا فرض کړئ چې دا خاوند يې مړ
شی، ۴ نو په دواړو حالاتُونو کښې به د هغې ورومبے خاوند هغه

ښځه دوباره نۀ وادۀ کوی، هغه به يې ناپاکه ګڼی، کۀ دوباره وادۀ يې ورسره وکړو نو مالِک خُدائ به د دې کار نه نفرت کوی. تاسو به هغه وطن په داسې خرابه ګُناه نۀ پليتوئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی چې ستاسو خپل شی.

## د قانُون مُختلفې حِصې

۵ کله چې يو سړے نوے وادۀ وکړی، نو هغه دې د جنګ د پاره فوج ته نۀ شی لېږلے اؤ نۀ دې ترې نه کار اخستلے شی، يو کال به هغۀ ته کار معاف وی، نو چې داسې هغه په کور کښې پاتې شی اؤ ښځه خوشحاله کړی. ٦ کله چې تاسو چا له څۀ څيز قرض ورکړئ، نو چې د هغۀ نه په ضمانت کښې د هغۀ د مېچنې برنے کاڼے وانۀ خلئ چې په هغې باندې غله مېده کوی. کۀ تاسو ترې نه دا واخلئ نو د دانو اوړۀ کولو ذريعه به يې ختمه شی. ۷ کۀ يو سړے د خپل بنی اِسرائيلی په تښتولو پورې ونيولے شی اؤ خپل غُلام يې کړی يا د غُلام په توګه يې خرڅ کړی نو هغه سړے دې ووژلے شی. نو داسې به تاسو د دې بدکارئ نه خلاص شئ. ۸ کله چې تاسو د جُذام بيمارئ په وجه په تکليف کښې يئ، نو هم هغه شان کوئ څنګه چې درته د ليوی قبيلې اِمامان وائی، ما چې هغوئ ته کُوم اصُول ښودلی دی په هغې عمل کوئ. ۹ ياد ساتئ! کله چې تاسو د مِصر نه راروان وئ نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د مريم سره څۀ وکړل. ۱۰ کله چې تاسو خپل ګاونډی له څۀ قرض ورکوئ، نو د هغۀ کور ته د دې د پاره مۀ ځئ چې هغه څيز ترې نه واخلئ چې په ضمانت کښې يې تاسو له

درکوی، ⑪ بهر ورته ودرېږئ اؤ پرېږدئ چې هغه څيز په خپله تاسو له راوړی. ⑫ کۀ هغه غريب وی اؤ د قرض په ضمانت کښې هغه تاسو له خپله چُوغه درکړی، نو هغه چُوغه د شپې د ځان سره مۀ ساتئ، ⑬ دا چُوغه په ماښام کښې هغۀ ته واپس ورکوئ، نو چې داسې هغه په کښې اُودۀ کېږی. نو هغه به ستاسو شُکريه ادا کړی اؤ د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په نظر کښې به ستاسو د پاره د دې اجر وی. ⑭ په خوارو غريبانانو مزدُورانو باندې ظلم مۀ کوئ، کۀ هغه اِسرائيلے وی يا مُسافر وی چې ستاسو په ښارُونو کښې اوسېږی. ⑮ هره ورځ د نمرپرېواتو نه مخکښې هغوئ له خپلې دياړئ ورکوئ، هغوئ غريبانان دی اؤ پېسو ته يې ضرُورت دے. کۀ تاسو هغوئ له پېسې ورنۀ کړئ، نو هغوئ به ستاسو خِلاف مالِک خُدائ ته فرياد وکړی اؤ دا به ستاسو په گُناه کښې حِساب شی. ⑯ د چا بچو چې جُرمُونه کړی وی نو د هغې په وجه دې د هغوئ مور پلار نۀ شی وژلے اؤ د چا مور پلار چې جُرمُونه کړی وی نو د هغې په وجه دې د هغوئ بچی نۀ شی وژلے، خلق به صِرف د هغه جُرمُونو په وجه وژلے شی چې هغوئ په خپله کړی وی. ⑰ مُسافر اؤ يتيمان د خپلو حقُونو نه مۀ محرُومه کوئ، اؤ د يوې کونډې نه د قرض په ضمانت کښې جامې مۀ اخلئ. ⑱ هغه رایاد کړئ چې تاسو په مِصر کښې غُلامان وئ اؤ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو آزاد کړئ، نو دا ځکه ما تاسو له دا حُکم درکړے دے. ⑲ کله چې تاسو خپل فصل راغونډوئ اؤ چې کُوم فصل تاسو رېبلے وی اؤ د هغې نه څۀ درنه پاتې شی نو په هغې پسې واپس مۀ ورځئ، دا به مُسافرو، يتيمانو اؤ کونډو د پاره پرېښودلے شی، نو داسې مالِک خُدائ ستاسو

خُدائ پاک به تاسو له په هغه هر کار کښې برکت درکړی چې تاسو يې کوئ. ⑳ کله چې تاسو يو ځل خپل زيتُون وشُوکوئ، نو هغې له بيا مۀ ورځئ چې هغه پاتې شوی راوشُوکوئ، دا به د مُسافرو، يتيمانو اؤ کونډو د پاره وی. ㉑ کله چې تاسو يو ځل خپل انګُور راټول کړئ، نو په دويم ځل د انګُورو راټولولو د پاره باغُونو ته مۀ ځئ، کُوم انګُور چې پاتې وی نو هغه به د مُسافرو، يتيمانو اؤ کونډو د پاره وی. ㉒ دا هيڅ کله مۀ هېروئ چې تاسو په مِصر کښې غُلامان وئ، نو دا ځکه ما تاسو له دا حُکم درکړے دے.

# ۲۵

① فرض کړئ چې دوه کسان د يوې لانجې هوارولو د پاره عدالت ته لاړ شی اؤ قاضيان فيصله وکړی چې يو په حقه دے اؤ بل په ناحقه دے. ② کۀ په هغه ناحقه کس باندې د وهلو حُکم وشی، نو د قاضی په مخکښې دې هغه پړمخې څملولے شی اؤ په کوړو دې ووهلے شی. هغۀ چې کُوم جُرم کړے وی نو د کوړو د ګُزارُونو شمېر به د هغې په مُطابق وی. ③ خو هغه به د څلوېښتو کوړو نه زيات نۀ شی وهلے، د څلوېښتو نه زياتو کوړو مطلب به دا وی چې ستاسو ګاونډی د خلقو په مخکښې وشرمېږی. ④ د غوبل په وخت کښې د غوَيی خُلې ته کوَرے مۀ اچوئ.

## د مړ ورور حق ادا کول

⑤ کۀ دوه ورُوڼه يو ځائ اوسېږی اؤ يو د هغوئ نه مړ شی اؤ يو زوئ يې هم پاتې نۀ شی، نو د هغۀ کونډه ښځه به د پردی سړی سره وادۀ نۀ کوی، دا د مړ سړی د ورور ذِمه واری ده چې هغه وادۀ کړی اؤ د

هغې سره کورواله کوی. ٦ د هغوئ چې ورومبے کُوم زوئ پیدا شی
نو هغه به د مړ سړی زوئ گڼلے شی، چې د هغهٔ نُوم د بنی اِسرائیلو نه
ختم نهٔ شی. ٧ خو کهٔ د مړ سړی ورور هغې سره وادهٔ کول نهٔ غواړی،
نو هغه ښځه به د ښار مشرانو ته پیش شی اؤ وبه وائی چې زما لېور خپله
ذِمه واری نهٔ پُوره کوی، هغه دا نهٔ غواړی چې د هغهٔ د ورور نُوم په بنی
اِسرائیلو کښې باقی پاتې شی. ٨ نو د ښار مشران دې هغه راوغواړی اؤ
د هغهٔ سره دې خبره وکړی. کهٔ تر اوسه پورې يې وادهٔ کول نهٔ غواړی،
٩ نو د هغهٔ د ورور کونډه ښځه دې د ښار د مشرانو په وړاندې هغهٔ له
ورشی، د هغهٔ یوه څپلۍ دې وباسی، د هغهٔ په مخ دې تُوکانړې اوتُوکی
اؤ وبه وائی چې دا هغه څهٔ دی چې د هغه سړی سره به کېږی چې د
خپل ورور کور آبادول نهٔ غواړی. ١٠ نو د هغهٔ کورنۍ به په اِسرائیل کښې
په دې نُوم یادېږی چې ”هغه سړے چې څپلۍ يې ویستلے شوې وه.“

## نور قوانین

١١ کهٔ دوه سړی په جګړه وی اؤ د هغه یو سړی ښځه د خپل
خاوند د مدد کوشش داسې وکړی چې هغه بل سړے د هګو نه
راونیسی، ١٢ نو چې په هغه ښځه باندې هیڅ رحم ونهٔ کړئ، اؤ د
هغې لاس پرې کړئ. ١٣-١٤ کله چې تاسو ناپ تول کوئ نو په هغې
کښې ټګی مهٔ کوئ. ١٥ صحیح اؤ پُوره ناپ تول کوئ، نو داسې به
تاسو په هغه وطن کښې یوه ډېره موده تېره کړئ چې مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی. ١٦ مالِک خُدائ د هغو خلقو
نه کرکه کوی څوک چې داسې کارُونه کوی.

## د عمالیقیانو قتلېدل

۱۷ هغه رایاد کړئ چې کله تاسو د مِصر نه راروان وئ نو عمالیقیانو
درسره څۀ وکړل. ۱۸ هغوئ د خُدائ پاک نه هیڅ یره نۀ لرله، نو
هغوئ په داسې وخت کښې په تاسو د شا نه حمله وکړه چې تاسو
ستړی ستومانه وئ اؤ چې کُوم وروستو پاتې وُو نو هغه ټول یې
ووژل. ۱۹ نو چې کله مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک هغه وطن
تاسو له درکړی اؤ د خپلو ټولو دُښمنانو نه مو بچ کړی چې ستاسو نه
گېرچاپېره اوسېږی، نو گورئ چې ټول عمالقیان ووژنئ، نو د آسمان
لاندې به هیڅ څوک نور هغوئ نۀ یادوی. دا کار مۀ هېروئ.

## د فصل نذرانې

۲۶ ۱ د هغې نه وروستو چې کله تاسو هغه وطن قبضه کړئ
چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یې تاسو له درکوی
اؤ هلته اوسېږئ، ۲ نو تاسو هر یو به خامخا د هر فصل وړومبے برخه
په یوه ټوکرئ کښې بِردئ اؤ دا به د عِبادت هغه یو ځائ ته وړئ چې
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یې درته د دې د پاره ښائی چې د
هغۀ د نُوم درناوے وشی. ۳ هغه دې د هغه وخت مُقرر شوی اِمام
له لاړ شی اؤ هغۀ ته دې ووائی چې زۀ مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک ته دا اِقرار کوم چې زۀ هغه وطن ته ورداخِل شوم چې زمُونږ د
پلارنیکۀ سره یې وعده شوی وه چې مُونږ له به یې راکوی. ۴ اِمام
به ټوکرئ ستاسو نه واخلی اؤ هغه به دا مالِک خُدائ ستاسو خُدائ

پاک د قُربان‌ګاه په وړاندې کېږدی. ۵ نو، د مالِک خُدائ په حضُور
کښې به تاسو دا خبرې بيان کړئ چې زما پلارنيکۀ د شام وو اؤ
هغه به لکه د کوچيانو ګرځېدو، هغۀ خپله کورنۍ مِصر ته بوتله چې
هلته اوسېږی. کله چې هغوئ هلته لاړل نو هغوئ څو کسان وُو،
خو د هغوئ نه يو لوئ اؤ طاقتور قوم جوړ شوے دے. ٦ د مِصر
خلقو زمُونږ سره بد سلُوک کولو اؤ زمُونږ نه يې غُلامان جوړ کړی
وُو. ۷ نو مُونږ د خپل پلارنيکۀ مالِک خُدائ ته د مدد د پاره فرياد
وکړو. نو هغۀ زمُونږ فرياد واؤرېدو اؤ زمُونږ تکليف، سختۍ اؤ غم
يې وليدو. ۸ د خپل لوئ طاقت اؤ قُدرت سره هغۀ مُونږ د مِصر نه
راوويستلُو. هغۀ مُعجزې اؤ نښې ښرګندې کړې اؤ يروُونکی کارُونه
يې وکړل. ۹ هغۀ مُونږ دلته راوستلو اؤ دا وطن يې راکړو، هغه وطن
چې زرخېز اؤ آباد دے. ۱۰ نو ما مالِک خُدائ ته د پېداوار وړومبۍ
برخه راوړې ده چې هغۀ ما له د دې زمکې نه راکړی ده. دا ټوکرۍ
د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک په وړاندې کېږدئ اؤ د هغۀ په
حضُور کښې سجده وکړئ. ۱۱ په هغه ښۀ څيزُونو شُکر وباسئ چې
مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو اؤ ستاسو کورنۍ له درکړی
دی، اؤ ليويان اؤ مُسافر پرېږدئ کُوم چې ستاسو سره اوسېږی چې
ستاسو سره په جشن کښې شامِل شی. ۱۲ په هر دريم کال ليويانو،
مُسافرو، يتيمانو اؤ کونډو له د خپلو فصلُونو لسمه برخه ورکوئ،
نو داسې ستاسو په هره علاقه کښې به د خوراک ضرُوری څيزُونه
ملاوېږی. کله چې تاسو دا وکړئ، ۱۳ نو مالِک خُدائ ته ووايئ
چې زما په کور کښې د مُقدسې لسمې حِصې نه هيڅ نۀ دی پاتې

شوی، ما هغه ليويانو، مُسافرو، يتيمانو اؤ کونډو له ورکړی دی، لکه څنګه چې تا ما ته حُکم کړے دے. د لسمې حِصې په باره کښې ما ستا د حُکمُونو نه د يو حُکم نافرمانی نۀ ده کړې اؤ نۀ مې هېر کړې دی. ⑭ کله چې زۀ په غم غمژن وم نو ما د دې نه هيڅ نۀ دی خوړلی، کله چې زۀ ناپاک وم نو ما د دې نه د خپل کور نه بهر هيڅ نۀ دی ويستلے، اؤ ما د دې نه د مړو د پاره نذرانې په توګه هيڅ نۀ دی ورکړی. مالِکه خُدايه! ما ستا فرمانبرداری کړې ده، د لسمې حِصې په باره کښې چې تا څۀ حُکم کړے دے نو ما هغه هر څۀ کړی دی. ⑮ په آسمان کښې د خپل مُقدس مقام نه لاندې وګوره اؤ خپلو خلقو اِسرائيليانو له برکت ورکړه، هغه وطن له هم برکت ورکړه چې زرخېز اؤ آباد دے اؤ تا مُونږ له راکړے دے، لکه څنګه چې تا زمُونږ د پلارنيکۀ سره وعده کړې وه.

## د مالِک خُدائ خپل قوم

⑯ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک نن تاسو ته حُکم کوی چې په دې ټولو حُکمُونو اؤ اصُولو باندې عمل کوئ، اؤ د زړۀ د اِخلاصه په وفادارئ سره په دې عمل کوئ. ⑰ نن تاسو دا اِقرار کړے دے چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک دے. اؤ تاسو وعده کړې ده چې د هغۀ په لاره به روان يئ اؤ د هغۀ قانُون، حُکمونه اؤ اصُول به منئ اؤ د هغۀ فرمانبرداری به کوئ. ⑱ مالِک خُدائ نن تاسو خپل قيمتی قوم ګڼلی يئ، لکه څنګه چې هغۀ ستاسو سره وعده کړې وه، اؤ هغۀ تاسو له حُکم درکړے دے چې د هغۀ ټول حُکمونه به

منئ. ١٩ هغۀ چې ځومره قومُونه پېدا کړی دی نو په هغه ټولو کښې
به ستاسو مقام اُوچت وی. نو ستاسو په وجه به د هغۀ د نُوم صِفت
اؤ درناوے کېږی. تاسو به هغه قوم يئ چې مالِک خُدائ ستاسو
خُدائ پاک ته مُقدس وی، لکه څنګه چې هغۀ وعده کړې ده.“

## په کاڼو باندې د خُدائ پاک ليکلے قانُون

# ٢٧

١ بيا مُوسیٰ اؤ د اِسرائيليانو مشرانو خلقو ته ووئيل، ”نن
چې زۀ کُوم اصُول درته ښايم هغه ټول ومنئ. ٢ په
کُومه ورځ چې تاسو د اُردن سيند نه پورې وځئ اؤ هغه وطن ته
ورننوځئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک يې تاسو له درکوی،
نو هلته لوئ لوئ کاڼی ودروئ اؤ لېو يې کړئ، ٣ اؤ په هغو باندې
دا ټول قانُون اؤ خبرې وليکئ. کله چې تاسو هغه وطن ته ورننوځئ
چې پئ اؤ شات په کښې ډېر تېر وی، چې مالِک خُدائ ستاسو د
پلارنيکۀ خُدائ پاک ستاسو سره د هغې وعده کړې ده، ٤ اؤ چې
تاسو د اُردن بلې غاړې ته واوړئ، نو د عيبال په غرۀ باندې دا کاڼی
ودروئ، لکه څنګه چې نن زۀ تاسو له حُکم درکوم اؤ هغه کاڼی لېو
کړئ. ٥ هلته د کاڼو يوه داسې قُربان‌ګاه جوړه کړئ چې د هغې په
جوړولو کښې د اوسپنې هيڅ آوزار اِستعمال نۀ شی، ٦ ځکه چې
تاسو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک د پاره هره قُربان‌ګاه جوړوئ
نو هغه دې د داسې کاڼو نه جوړلے شی چې کټ کړے شوی نۀ
وی. هلته به تاسو سوزېدُونکې قُربانۍ پېش کوئ، ٧ اؤ هلته به تاسو
قُربانی کوئ اؤ خپلې د سلامتۍ نذرانې به خورئ اؤ د مالِک خُدائ

ستاسو خُدائ پاک په حضُور کښې به شُکر وباسئ. ⁸ په کُومو کاڼو
باندې چې ليو شوے وى په هغو باندې د خُدائ پاک د قانُون هره
يوه خبره صفا صفا وليکئ.“ ⁹ بيا مُوسىٰ اؤ د ليوى قبيلې اِمامانو
ټولو بنى اِسرائيلو ته ووئيل، ”اے د اِسرائيلو خلقو، خاموش شئ اؤ
غوږ ونيسئ! نن تاسو د خپل خُدائ پاک د مالِک خُدائ خپل خلق
شوئ، ¹⁰ نو د هغۀ فرمانبردارى کوئ اؤ د هغۀ ټول حُکمونه اؤ قانُون
پُوره کوئ چې نن يې زۀ درکوم.“

## د نافرمانئ لعنتُونه

¹¹ بيا هم په هغه ورځ مُوسىٰ د اِسرائيلو خلقو ته ووئيل، ¹² ”د
اُردن سيند نه د اؤړېدو نه پس دا قبيلې به د ګِرزيم په غرۀ باندې
ودرېږى چې هغوئ به په خلقو باندې د برکتُونو اِعلان کوى:
شمعُون، ليوى، يهُوداه، يساکار، يُوسف اؤ بنيامين. ¹³ کله چې
هغوئ لعنت وائى نو دا قبيلې به د عيبال په غرۀ باندې ودرېږى:
روبين، جاد، آشر، زبولون، دان اؤ نفتالى. ¹⁴ ليويان به دا خبرې په
اُوچت آواز سره وکړى:

¹⁵ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وى څوک چې د
کاڼى، لرګى، يا د ويلے کړے شوى څۀ څيز نه بُت جوړ کړى اؤ په
پټه د هغۀ عِبادت کوى، مالِک خُدائ د بُت پرستئ نه نفرت کوى.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائى، آمين!

¹⁶ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وى څوک چې د خپل
مور پلار بې عِزتى کوى.

نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین!
۱۷ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وی څوک چې د
ګاونډی د زمکې د حد پُوله ښوزوی.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین!
۱۸ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وی څوک چې يو
ړُوند کس بې‌لارې کوی.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین!
۱۹ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وی څوک چې هغه
مُسافر، يتيمان اؤ کونډې د خپلو حقُونو نه محرُومه کوی.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین!
۲۰ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وی څوک چې د خپل
پلار د ښځې سره زنا کوی.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین!
۲۱ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وی څوک چې د
ځناور سره حرام‌کاری کوی.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین!
۲۲ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وی څوک چې د خپلې
سکه يا ناسکه خور سره زنا کوی.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین!
۲۳ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وی څوک چې د خپلې
خواښې سره زنا کوی.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائی، آمین!

۲۴ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وى ځوک چې په پټه
باندې قتل کوى.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائى، آمين!
۲۵ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وى ځوک چې د يو
بې‌ګُناه کس د قتل پيسې اخلى.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائى، آمين!
۲۶ د خُدائ پاک لعنت دې وې په هغه چا وى ځوک چې د
خُدائ پاک په ټولو لارښودنو اؤ قانُون باندې عمل نۀ کوى.
نو ټول قوم به په جواب کښې ووائى، آمين!

## د فرمانبردارۍ برکتُونه

**(د ليويانو کِتاب ۲۶: ۳-۱۳، د ګردان کِتاب ۷: ۱۲-۲۴)**

**۲۸**

۱ کۀ تاسو د مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک پُوره
فرمانبردارى وکړئ اؤ په وفادارۍ سره د هغۀ په ټولو
حُکمُونو عمل کوئ کُوم چې زۀ تاسو له درکوم، نو هغه به تاسو
له د دُنيا په ټولو قومُونو باندې اُوچت مقام درکړى. ۲ د مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک فرمانبردارى کوئ اؤ هغه به تاسو له دا
ټول برکتُونه درکړى: ۳ کۀ تاسو په ښارُونو يا کلو کښې اوسېږئ
نو مالِک خُدائ به تاسو له برکت درکړى. ۴ مالِک خُدائ به تاسو
له ډېر اولاد، ډېره غله اؤ ډېر څاروى اؤ ګډې درکړى. ۵ ستاسو
په کندو او خانک کښې به برکت وى. ۶ مالِک خُدائ به ستاسو
په هر کار کښې برکت واچوى. ۷ کله چې ستاسو دُښمنان په

تاسو حمله کوی نو مالِک خُدائ به هغوئ له شکست ورکړی.
هغوئ به د یو طرف نه په تاسو حمله وکړی، خو بیا به په هر
طرف ستاسو نه تښتی. ۸ تاسو چې هر کار کوئ مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک به په هغې کښې برکت واچوی اؤ ستاسو
ګودامُونه به د غلې نه ډک کړی. هغه به تاسو له په هغه وطن
کښې برکت درکړی کُوم چې تاسو له درکوی. ۹ کۀ تاسو د
مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک حُکمونه ومنئ اؤ د هغۀ په لاره
روان يئ، نو هغه به ستاسو نه یو مُقدس قوم جوړ کړی لکه څنګه
چې هغۀ وعده کړې ده. ۱۰ نو د دُنیا ټول قومُونه به وګوری چې
تاسو د مالِک خُدائ په نُوم یادېږئ اؤ هغوئ به ستاسو نه یرېږی.
۱۱ مالِک خُدائ به تاسو له په هغه وطن کښې ډېر اولاد، ډېر
څاروی، او ډېر فصلُونه درکړی د کُوم چې هغۀ ستاسو پلارنیکۀ
سره تاسو له درکولو وعده کړې ده. ۱۲ هغه به په آسمان کښې
د خپلې ډکې خزانې نه په صحیح مُوسم کښې باران ووروی اؤ
ستاسو په هر کار کښې به برکت واچوی، نو تاسو به ډېرو قومُونو
له قرض ورکوئ، خو د هیچا نه به تاسو قرض نۀ اخلئ. ۱۳ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو د قومُونو کشران نه بلکه مشران
جوړ کړی، نن چې زۀ کُوم حُکمونه درکوم کۀ په هغه ټولو باندې
عمل وکړئ نو تاسو به همېشه کامیاب يئ اؤ هیڅ کله به ناکام
نۀ شئ. ۱۴ زۀ چې نن تاسو له کُوم حُکمونه درکوم نو د هغې نه
اخوا دېخوا مۀ اوړئ اؤ نۀ چې په نورو معبُودانو پسې لاړ شئ اؤ
نۀ يې عِبادت وکړئ.

## د نافرمانۍ نتیجه

**(د لیویانو کِتاب ٢٦: ١٤-٤٦)**

١٥ خو کۀ تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک نافرمانی وکړئ
اؤ د هغۀ په ټولو حُکمُونو اؤ قانُون باندې په وفادارۍ سره عمل نۀ
کوئ کُوم چې زۀ نن درکوم، نو دا لعنتُونه به په تاسو راشی اؤ په تاسو
به غالِب شی: ١٦ مالِک خُدائ به ستاسو په ښارُونو اؤ پټو باندې لعنت
راولی. ١٧ مالِک خُدائ به ستاسو په غله اؤ په هغه خوراک لعنت
راولی چې تاسو بې د دې نه تیاروئ. ١٨ مالِک خُدائ به په تاسو
لعنت راولی اؤ لږ بچی، بې‌کاره فصل اؤ لږ څاروی اؤ ګلې به
درکړی. ١٩ مالِک خُدائ به ستاسو هر کار لعنتی کړی. ٢٠ کۀ تاسو
بد عمل کوئ اؤ د مالِک خُدائ نه اِنکار کوئ نو هغه به په تاسو
آفت، وار خطائی اؤ تکلیف راولی، چې زر اؤ په پُوره تباه شئ.
٢١ هغه به په تاسو باندې پرله پسې بیمارۍ راولی تر دې پورې چې
په هغه وطن کښې ستاسو یو کس هم پاتې نۀ شی کُوم چې تاسو
قبضه کوئ. ٢٢ مالِک خُدائ به تاسو په خوربدُونکو بیمارو، په
پړسوب اؤ تبه باندې آخته کړی، هغه به سره د توروالی اؤ د پشم د
بیمارۍ وچ کالی اؤ سخته ګرمی راولی. دا آفتُونه به تر مرګه پورې
ستاسو سره وی. ٢٣ بره د آسمان نه به باران بند وی اؤ زمکه به د
کاڼی په شان کلکه شی. ٢٤ د باران په ځائ به مالِک خُدائ د خاورو
اؤ د شګو طوفان راولی اؤ طوفانونه به تر هغې پورې وی چې تاسو
تباه کړی. ٢٥ مالِک خُدائ به ستاسو دُښمنانو له په تاسو باندې فتح

ورکړی. تاسو به د یو طرف نه په هغوئ باندې حمله وکړئ، خو تاسو ته به د تښتې لار نۀ ملاوېږی، چې د زمکې خلق ستاسو دا حالات وګوری نو وبه یرېږی چې دا په تاسو څۀ شوی دی. ۲۶ ستاسو لاشُونه به د ټولو مارغانو اؤ ځنګلی ځناورو خوراک شی اؤ هلته به هيڅ څوک داسې نۀ وی چې تاسو نه يې وشړی. ۲۷ مالِک خُدائ به په تاسو باندې دانې راوخېژوی، لکه څنګه چې هغۀ په مِصريانو راخېژولې وې. هغه به ستاسو بدنونه د دردُونو سره مات کړی. تاسو به په خارښت اؤ دانو باندې پټ شئ، خو د دې به هيڅ علاج نۀ وی. ۲۸ مالِک خُدائ به تاسو لېونی کړی، هغه به تاسو ړاندۀ کړی اؤ دماغ به مو ګډوډ کړی. ۲۹ د غرمې په وخت کښې به هم تاسو د ړندو په شان اخوا دېخوا ګرځئ اؤ تاسو به د دې جوګه نۀ يئ چې لاره پيدا کړئ. تاسو به په يو کار کښې هم کامياب نۀ يئ. تاسو به پُوره کړېدلی اؤ لُوټ شوی يئ اؤ هلته به داسې څوک نۀ وی چې ستاسو مدد وکړی. ۳۰ تاسو به د يوې پېغلې سره کوژدن وکړئ، خو بل څوک به د هغې سره څملی. تاسو به يو کور جوړ کړئ، خو هيڅ کله به په هغې کښې ونۀ وسېږئ. تاسو به د انګُورو باغ وکَرئ، خو د هغې انګُور به هيڅ کله ونۀ خورئ. ۳۱ ستاسو څاروے به د ستاسو د سترګو په وړاندې حلال شی، خو تاسو به يې غوښه ونۀ خورئ. ستاسو په وړاندې به ستاسو خرُونه بوتلے شی خو تاسو له به واپس نۀ درکولے کېږی، ستاسو ګډې به ستاسو دُښمنانو له ورکړے شی خو ستاسو د مدد د پاره به هيڅ څوک نۀ وی. ۳۲ ستاسو زامن اؤ لُوڼه به نورو قومُونو له غلامان ورکړے شی تاسو به هميشه هغوئ ته سترګې

په لار يئ خو هيڅ به هم نۀ شئ کولے. ۳۳ يو پردے قوم به هغه ټول
فصلُونه يوسی چې د هغې په کَرلو کښې تاسو ډېره سخته خواری
کړې وی، خو په هغه وخت کښې به تاسو ته د سخت کړاؤ اؤ بد
سلُوک نه بغېر هيڅ نۀ ملاوېږی. ۳۴ او دا تکليفُونه چې تاسو وينئ نو
تاسو بۀ لېونی شئ. ۳۵ مالِک خُدائ به ستاسو خپې په لا عِلاجه اؤ
دردناکو زخمونو پټې کړی، د سر نه تر خپو پورې به په تاسو باندې
دانې راوخېژی. ۳۶ مالِک خُدائ به تاسو اؤ ستاسو بادشاه يو پردی
وطن ته بوځی، هلته به مخکښې هيڅ کله نۀ تاسو اؤ نۀ ستاسو
پلارنيکۀ اوسېدلی وی، هلته به تاسو د داسې معبُودانو خِدمت کوئ
چې د لرګی اؤ کاڼی نه جوړ وی. ۳۷ په کُومو وطنُونو کښې چې
مالِک خُدائ تاسو خوارۀ وارۀ کړی، نو تاسو به د خلقو د پاره
يرۉونکی شئ، هغوئ به په تاسو پورې ټوقې اؤ مسخرې کوی.
۳۸ تاسو به ښۀ ډېر تُخم وکَرئ، خو لږ فصل به ترې ورېبئ، ځکه چې
د قحطۍ ملخان به ستاسو فصلُونه وخوری. ۳۹ تاسو به د انګُورو
باغُونه وکَرئ اؤ د هغې ساتنه به وکړئ، خو تاسو به نۀ د هغو نه انګُور
راغونډ کړئ اؤ نۀ به يې شراب وڅښئ، ځکه چې انګُور به چينجی
وخوری. ۴۰ د زيتُونو ونې به ستاسو په وطن کښې شوی وی، خو
هيڅ د زيتُونو تېل به تاسو ته مِلاؤ نۀ شی، ځکه چې زيتُون به کچه
راوغورزېږی. ۴۱ ستاسو به زامن اؤ لُوڼه وی، خو تاسو به يې د ځان
سره نۀ شئ ساتلے، ځکه چې هغوئ به قېديان شی. ۴۲ ستاسو ټولې
ونې اؤ فصلُونه به د قحطۍ ملخان خراب‌تُراب کړی. ۴۳ ستاسو په
وطن کښې چې کُوم د پردی وطن خلق اوسېږی هغوئ به ورځ په

ورځ په تاسو زورَور کېږی اؤ تاسو به ورځ په ورځ کمزوری کېږئ. ۴۴ هغوئ سره به پېسې وی چې تاسو له يې قرض درکړی، خو تاسو سره به هيڅ نۀ وی چې تاسو يې هغوئ له قرض ورکړئ. په آخِر کښې به هغوئ ستاسو بادشاهان شی. ۴۵ دا ټول آفتُونه به په تاسو راشی اؤ دا آفتُونه به ستاسو تر تباهئ پورې تاسو سره وی، ځکه چې تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک فرمانبرداری ونۀ کړه اؤ په هغه ټول قانُون باندې تاسو عمل ونۀ کړو چې هغۀ درکړے وو. ۴۶ دا آفتُونه به د يوې نښې اؤ خبرداری په شان ستاسو اؤ ستاسو د اولاد په مېنځ کښې د همېشه د پاره وی. ۴۷ مالِک خُدائ تاسو له په هر څۀ کښې برکت درکړے دے، خو تاسو په خوشحالئ اؤ د زړۀ د اِخلاصه د هغۀ خِدمت ونۀ کړو. ۴۸ نو بيا به تاسو د هغه دُښمنانو خِدمت کوئ چې مالِک خُدائ يې ستاسو خِلاف درلېږی. تاسو به وږی، تږی، بربنډ اؤ د هر څۀ حاجت مند يئ. مالِک خُدائ به تاسو سخت وکَړوی تر دې پورې چې تباه شئ. ۴۹ مالِک خُدائ به ستاسو خِلاف د لرې ځائ نه يو قوم راولی، هغه قوم چې تاسو به يې په ژبه نۀ پوهېږئ. هغوئ به د باز په شان په تاسو باندې راغُوټه شی. ۵۰ هغوئ به يو ظالِم اؤ بېرحمه قوم وی چې نۀ به د مشرانو عِزت کوی اؤ نۀ به په کشرانو رحم کوی. ۵۱ هغوئ به ستاسو څاروی اؤ فصلُونه وخوری اؤ تاسو به د لوږې نه مړۀ شئ. هغوئ به ستاسو غله، د انګُورو شراب، د زيتُونو تېل، څاروی اؤ ګډې هيڅ هم نۀ پرېږدی، اؤ تاسو به مړۀ شئ. ۵۲ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک چې کُوم وطن تاسو له درکوی هغوئ به د هغې په هر ښار باندې حمله وکړی اؤ په

کُومو اُوچتو اؤ پَخو دېوالُونو باندې چې تاسو اعتبار کوئ هغه به راوغورزېږی. ۵۳ کله چې ستاسو دُښمنان ستاسو ښارونه مُحاصره کوی، نو تاسو به دومره وږی شئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک تاسو له کُوم بچی درکړی وی نو هغه به هم وخورئ. ۵۴ - ۵۵ ستاسو د ټولو نه شریف اؤ د نرم زړۀ سړے به هم په مُحاصره کښې دومره وږے شی چې هغه به هم خپل بچی وخوری ځکه چې نور خوراک به نۀ ملاوېږی. هغه به په دې پاتی لاش کښې خپل ورور اؤ ښځې له چې مینه ورسره کوی اؤ خپلو بچو له هیڅ هم نۀ ورکوی. ۵۶ - ۵۷ ستاسو د ټولو نه شریفه اؤ د نرم زړۀ ښځه، دومره شریفه اؤ پاکه چې په پُوره ژوند کښې چرته نۀ وی تلې، هغه به هم دغه شان کار کوی. کله چې دُښمن هغه ښار مُحاصره کړی، نو هغه به دومره وږې شی چې هغه به پټ پټ خپل نوے پیدا شوے ماشُوم اؤ پیروان هم خوری. هغه به په دې کښې خپل خاوند له چې مینه ورسره کوی اؤ خپل بچی هم نۀ شریکوی. ۵۸ کۀ تاسو په وفادارئ د خُدائ پاک ټولې لارښودنې ونۀ منئ کُومې چې په دې کِتاب کښې لیکلے شوی دی اؤ کۀ تاسو د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک عجیبه اؤ هیبتناک نُوم نه ونۀ یرېږئ، ۵۹ نو هغه به په تاسو اؤ ستاسو په اولاد باندې داسې لاعِلاجه بیمارئ اؤ دردناکې وباګانې راولېږی چې هغه به هیڅ کله نۀ بندېږی. ۶۰ هغه به یو ځل بیا په تاسو باندې هغه ټولې یرۇونکې بیمارئ راولی چې په تاسو باندې په مِصر کښې تېرې شوې وی اؤ تاسو به هیڅ کله روغ نۀ شئ. ۶۱ هغه به هغه هر قِسم بیمارئ اؤ وباګانې هم راولېږی چې هغه د خُدائ پاک د قانُون په دې کِتاب

کښې نۀ دی بیان شوی اؤ تاسو به تباه شئ. ۶۲ اګرچې تاسو به د آسمان د ستورو په شان بې‌شمېره شئ، خو صِرف ستاسو یو څو کسان به ژوندی پاتې شی، ځکه چې تاسو د مالِک خُدائ د خپل خُدائ پاک فرمانبرداری ونۀ کړه. ۶۳ لکه څنګه چې مالِک خُدائ په خوشحالئ سره تاسو کامیاب کړئ اؤ ستاسو شمېر یې زیات کړو، نو هم دغه شان هغه به خوشحالئ سره تاسو تباه کړی اؤ تباهی به درباندې راولی. تاسو به د هغه وطن د بېخ نه وویستلے شئ کُوم چې تاسو قبضه کوئ. ۶۴ مالِک خُدائ به تاسو په ټولو قومُونو کښې د دُنیا د یو سر نه تر بل سر پورې خوارۀ وارۀ کړی اؤ هلته به تاسو د هغه معبُودانو خِدمت کوئ چې د لرګی اؤ کاڼو نه جوړ وی، د هغه بُتانو چې د دې نه مخکښې نۀ تاسو اؤ نۀ ستاسو پلارنیکۀ د هغې عِبادت کړے وی. ۶۵ په هغه قومُونو کښې به هیچرته تاسو ته آمن نۀ ملاوېږی، تاسو ته به یو ځائ کښې هم آرام نۀ ملاوېږی، مالِک خُدائ به ستاسو پرېشانی، نااُمیدی اؤ غم د حد نه زیات کړی. ۶۶ ستاسو ژوند به همېشه په خطره کښې وی. شپه اؤ ورځ به تاسو یرېږئ اؤ تاسو به هر وخت د مرګ په یره کښې ژوند تېروئ. ۶۷ تاسو چې هر څۀ هم ګورئ نو زړُونه به مو د یرې نه درزېږی. هر سحر به تاسو د ماښام آرمان کوئ، اؤ هر ماښام به تاسو د سحر آرمان کوئ. ۶۸ مالِک خُدائ به تاسو په سمندری جهاز کښې واپس مِصر ته ولېږی، اګرچې هغۀ وئیلی وُو چې تاسو به هیڅ کله هلته بیا نۀ ځئ. هلته به تاسو دا کوشش وکړئ چې خپل ځانُونه په دُښمنانو باندې غُلامان خرڅ کړئ، خو هیڅ څوک به تاسو نۀ اخلی.“

## د موآب په وطن کښې د بنی اِسرائيلو
## سره د مالِک خُدائ تړون

# ۲۹

۱ دا د هغه تړون خبرې دی چې مالِک خُدائ مُوسیٰ
ته ووئيل چې د موآب په وطن کښې د بنی اِسرائيلو
سره دا تړون وکړی، دا ټولې خبرې د هغه تړون نه علاوه وې چې
مالِک خُدائ د سينا په غرۀ باندې د هغوئ سره کړی وو. ۲ مُوسیٰ
ټول اِسرائيليان راوغوښتل اؤ ورته يې ووئيل، ”تاسو په خپلو سترګو
وليدل چې مالِک خُدائ په فِرعون، د هغۀ په ټولو درباريانو اؤ د هغۀ
په ټول وطن باندې څۀ وکړل. ۳ تاسو سختې وباګانې، مُعجزې
اؤ لوئې نښې وليدې چې مالِک خُدائ وکړې. ٤ خو تر نن ورځې
پورې مالِک خُدائ تاسو له د پوهېدو د پاره عقل، د ليدلو سترګې اؤ
د اؤرېدو غوږُونه نۀ دی درکړی. ۵ څلوېښت کاله په بيابان کښې
مالِک خُدائ ستاسو لارښودنه وکړه اؤ ستاسو جامې اؤ څپلۍ هيڅ
کله نۀ دی زَړې شوې. ٦ ستاسو سره د خوراک د پاره نۀ ډوډۍ وه
اؤ نۀ د څښلو د پاره درسره د انګُورو شراب اؤ نۀ تېز شراب وُو، خو
مالِک خُدائ ستاسو د ضرُورت د پاره دا تاسو له درکړل چې تاسو
ته وښائی چې هغه ستاسو خُدائ پاک دے. ۷ اؤ کله چې مُونږ دې
ځائ ته راغلُو، نو د حسبون بادشاه سيحون اؤ د بسن بادشاه عوج
زمُونږ خِلاف جنګ له راووتل. خو مُونږ هغوئ له شکست ورکړو،
۸ د هغوئ وطن مو ونيولو اؤ دا مُونږ د روبين اؤ جاد په قبيلو اؤ د
منشه په نيمه قبيله باندې تقسيم کړو. ۹ په وفادارۍ سره د دې تړون

ټولې خبرې ومنئ، نو داسې به تاسو په هر کار کښې کامیاب یئ.
۱۰ نن ستاسو ټول سړی، ستاسو مشران اؤ آفسران د مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک په حضُور کښې ولاړ دی، ۱۱ هم داسې ستاسو
ښځې ستاسو بچی، اؤ هغه مُسافر چې هغوئ ستاسو سره اوسیږی اؤ
لرګی درله پرې کوی اؤ تاسو له اوبهٔ راوړی. ۱۲ نن تاسو د هغه تړون
د پاره راغلی یئ چې مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک یې تاسو سره
کوی چې هغه د قسم په شان پوخ دے، ۱۳ نو چې تاسو د مالِک
خُدائ خلق یئ اؤ هغه ستاسو خُدائ پاک وی، لکه څنګه چې هغهٔ
تاسو، ستاسو پلارنیکهٔ اِبراهیم، اِسحاق اؤ یعقُوب سره وعده کړې
وه. ۱۴ صِرف تاسو هغه خلق نهٔ یئ چې د چا سره مالِک خُدائ دا
تړون کوی. ۱۵ هغه دا لوظ زمُونږ ټولو سره کوی کُوم چې نن دلته
د مالِک خُدائ زمُونږ خُدائ پاک په مخکښې ولاړ یُو اؤ زمُونږ د
اولاد سره هم چې هغوئ لا پیدا شوی نهٔ دی. ۱۶ ستاسو به یاد وی
چې په مِصر کښې ژوند څنګه وو اؤ د نورو قومُونو په علاقه کښې
د تیرېدو سفر څنګه وو. ۱۷ تاسو د هغوئ مُردار بُتان ولیدل چې د
لرګی، کاڼی، سپینو زرو اؤ سرو زرو نه جوړ وُو. ۱۸ پام کوئ چې یو
سړے، ښځه، کورنۍ اؤ یوه قبیله هم د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک نه وانهٔ وړی کُوم چې نن دلته حاضر یئ چې تاسو د نورو قومُونو
د معبُودانو عِبادت وکړئ. دا به د یوې داسې جرړې په شان وی
چې یو ترخه اؤ زهرژنه مېوه ترې نه جوړه شی. ۱۹ پام کوئ چې دلته
نن هیڅ څوک هم داسې نهٔ وی چې هغه د دې تړون خبرې اوری
اؤ خپل ځان له دا تسلی ورکوی چې کهٔ هغه د خپل ضدی زړهٔ په

خوښه پسې هم ځی نو هغه به محفوظ وی، دا به ښۀ اؤ بد دواړه تباه کړی. ۲۰ مالِک خُدائ به داسې سړے نۀ معاف کوی. د مالِک خُدائ سخت قهر اؤ د هغۀ سخت غېرت به د هغۀ خِلاف شی اؤ په دې کِتاب کښې ليکلے شوی ټول لعنتُونه به په هغۀ رانازل شی تر دې پورې چې مالِک خُدائ هغه پُوره تباه کړی. ۲۱ مالِک خُدائ به هغه د اِسرائيليانو ټولو قبيلو په مخکښې د عبرت يوه نمُونه جوړه کړی اؤ يوه تباهی به وربانديې راولی هم هغه شان څنګه چې هغه ټول لعنتُونه په هغه تړون کښې شوی دی کُوم چې مالِک خُدائ د لارښودنې په دې کِتاب کښې ليکلی دی. ۲۲ په راتلُونکی نسلُونو کښې ستاسو اولاد اؤ د لرې وطنُونو مُسافر به هغه تباهی اؤ تکليفُونه وګوری چې مالِک خُدائ ستاسو په وطن باندې راوستلی وی. ۲۳ پټی به شنډ شی، په زېړو ګُوګړو اؤ مالګه به پټ شی، هيڅ څۀ به په دې کښې نۀ شی کَرلے، هغه واښۀ قدر به هم په کښې نۀ کېږی. ستاسو وطن به د صُدوم اؤ عُموره، ادمه اؤ ضبوئيم په شان وی، چې مالِک خُدائ تباه کړی وُو په کُوم وخت چې هغه سخت په قهر وو. ۲۴ بيا به ټوله دُنيا وائی چې د هغوئ په وطن يې دا ولې وکړل؟ څۀ وجه وه چې هغه دومره سخت په قهر وو؟ ۲۵ نو د هغې جواب به دا وی چې د مِصر نه راويستلو په وخت چې د هغوئ پلارنيکۀ کُوم تړون کړے وو، نو د مالِک خُدائ خلقو هغه مات کړے دے. ۲۶ هغوئ د هغه معبُودانو عِبادت وکړو چې مخکښې يې هيڅ کله نۀ وو کړے، د هغه معبُودانو چې مالِک خُدائ د هغوئ د عِبادت نه منع کړی وُو. ۲۷ نو مالِک خُدائ خپلو خلقو ته په قهر شو اؤ د هغوئ په وطن يې

هغه ټول لعنتُونه راوستل چې په دې کِتاب کښې ليکلے شوی دی.
۲۸ مالِک خُدائ سخت په قهر شو اؤ د خپل لوئ قهر په وجه يې د
هغوئ د وطن نه راوويستل اؤ يو پردی وطن ته يې وشړل اؤ هغوئ
تر نن ورځ پورې هلته دی. ۲۹ داسې څۀ خبرې شته دے چې مالِک
خُدائ زمُونږ خُدائ پاک هغه په راز کښې ساتلې دی اؤ څۀ يې زمُونږ
اؤ زمُونږ د اولاد د پاره څرګندې کړې دی د دې د پاره چې مُونږ د
هغۀ د قانُون ټولې خبرې همېشه ومنُو.

## د واپس کولو اؤ برکت د پاره شرطونه

۳۰ ۱ ما تاسو له د برکت اؤ لعنت په مېنځ کښې خوښه
درکړې ده. کله چې په تاسو باندې دا ټول کارُونه شوی
وی اؤ تاسو د هغه قومُونو په مېنځ کښې اوسېږئ چرته چې مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک خوارۀ وارۀ کړی يئ، نو تاسو به هغه
خوښه رايادہ کړئ چې ما درکړې ده. ۲ کۀ تاسو اؤ ستاسو اولاد
مالِک خُدائ ته راواپس شی اؤ د زړۀ د اِخلاصه د هغۀ حُکمونه
ومنئ کُوم چې نن زۀ درکوم، ۳ نو مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک
به په تاسو رحم وکړی. هغه به تاسو واپس د هغه قومُونو نه راولی
چرته چې هغۀ تاسو خوارۀ وارۀ کړی يئ اؤ هغه به بيا تاسو نېک
بخته کړی. ۴ کۀ د دُنيا آخری سر ته هم لېږلے شوی يئ، نو مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو راغونډ کړی اؤ واپس به مو راولی،
۵ هغه به تاسو هغه وطن ته راولی چرته چې ستاسو پلارنيکۀ اوسېدل
اؤ دا به قبضه کړئ. اؤ هغه به تاسو نور هم کامياب کړی اؤ تاسو به

په شمېر کښې د خپل پلارنيکۀ نه هم زيات کړى. ۶ مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به ستاسو اؤ ستاسو د اولاد زړُونه بدل کړى، نو تاسو به د زړۀ د اِخلاصه د هغۀ سره مينه کوئ اؤ په هغه وطن کښې به تاسو ژوند تېروئ. ۷ مالِک خُدائ به دا ټول لعنتُونه ستاسو په دُښمنانو واچوى، چې هغوئ ستاسو نه کرکه کوله اؤ تاسو يې کړَولى يئ، ۸ اؤ تاسو به بيا د هغۀ فرمانبردارى کوئ اؤ د هغۀ ټول حُکمونه به منئ کُوم چې نن زۀ درکوم. ۹ مالِک خُدائ به تاسو په هر کار کښې کاميابوى، ستاسو به ډېر اولاد اؤ ډېر څاروى وى اؤ ستاسو پټى به ډېر فصلُونه پېدا کوى. هغه به ستاسو په کاميابولو باندې دومره خوشحاله وى لکه څنګه چې هغه ستاسو د پلارنيکۀ په کاميابولو خوشحاله وو، ۱۰ خو تاسو به د هغۀ فرمانبردارى کوئ اؤ د هغۀ په ټولو حُکمُونو به عمل کوئ کُوم چې د هغۀ د قانُون په دې کِتاب کښې ليکلى دى. تاسو به د زړۀ د اِخلاصه هغۀ ته راوګرځئ. ۱۱ نن چې زۀ کُوم حُکم درکوم هغه ډېر ګران نۀ دے اؤ نۀ ستا د وس نه بهر دے. ۱۲ دا خو څۀ په آسمان کښې نۀ دے. چې تاسو به داسې ووايئ چې څوک به ورخېژى اؤ مُونږ له به يې راکُوز کړى، چې مُونږ يې واورُو اؤ عمل پرې وکړُو؟ ۱۳ نۀ دا د سمندر نه پورې غاړه دے. تاسو به دا نۀ وايئ چې څوک به د سمندر نه پورې وځى چې مُونږ له يې راوړى، چې مُونږ يې واورُو اؤ عمل پرې وکړُو؟ ۱۴ بلکه هغه پېغام ستاسو په وړاندې دے. دا ستاسو په ژبه اؤ ستاسو په زړۀ کښې دے، چې عمل پرې وکړئ. ۱۵ ګورئ زۀ نن ستاسو په وړاندې يو طرف ته ژوند اؤ خوشحالى ږدم اؤ بل طرف ته مرګ اؤ تباهى ږدم

چې تاسو به څۀ خوښوئ. ⑯ کۀ تاسو د مالِک خُدائ خپل خُدائ
پاک حُکمونه ومنئ، کُوم چې نن زۀ درکوم، کۀ تاسو د هغۀ سره
مینه کوئ، د هغۀ په لارو تلل کوئ اؤ د هغۀ په ټول قانُون عمل
کوئ، نو تاسو به کامیاب شئ او د ډېرو خلقو قوم به شئ. مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک به تاسو له په هغه وطن کښې برکت
درکړی چې تاسو یې قبضه کوئ. ⑰ خو کۀ تاسو د هغۀ نه واوړئ
اؤ د هغۀ فرمانبرداری نۀ کوئ اؤ د نورو معبُودانو د عِبادت د پاره
بې لارې کول کوئ، ⑱ نو تاسو به تباه شئ، زۀ نن تاسو له خبردارے
درکوم. تاسو به په هغه وطن کښې ډېره موده تېره نۀ کړئ کُوم چې
د اُردن نه پورې دے چې تاسو یې قبضه کوئ. ⑲ زۀ نن تاسو له د
ژوند اؤ مرګ، د خُدائ پاک د برکت اؤ د خُدائ پاک د لعنت په
مېنځ کښې فېصله په تاسو پرېږدم اؤ زۀ آسمان اؤ زمکې ته وایم چې
د هغې ګواه وی چې تاسو یې خوښوئ. ژوند خوښ کړئ. ⑳ د
مالِک خُدائ خپل خُدائ پاک سره مینه کوئ، د هغۀ فرمانبرداری
کوئ اؤ د هغۀ وفادار شئ نو بیا به تاسو اؤ ستاسو اولاد په هغه وطن
کښې ډېره موده تېره کړئ چې هغۀ ستاسو پلارنیکۀ، اِبراهیم، اِسحاق
اؤ یعقُوب سره د ورکولو وعده کړې ده.“

## د حضرت یشوَع د حضرت مُوسیٰ په ځائ کار کول

**۳۱**

① نو مُوسیٰ د اِسرائیلیانو سره خپلې خبرې جاری
وساتلې، ② اؤ وې وئیل چې، ”زۀ اوس د یو سل شلو
کالو یم اؤ زۀ نور ستاسو د مشرئ جوګه نۀ یم. اؤ مالِک خُدائ ما

ته دا هم وئيلی دی چې زۀ به د اُردن نه پورې نۀ ووځم. ۳ مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په خپله ستاسو نه مخکښې پورې وځی
اؤ هغه قومُونه به تباه کړی چې هلته اوسېږی، نو تاسو به د هغوئ
وطن قبضه کړئ، اؤ يشوَع به ستاسو مشر وی، لکه څنګه چې مالِک
خُدائ وئيلی دی. ۴ مالِک خُدائ به هغه خلق هغه شان تباه کړی،
لکه څنګه چې هغۀ د اموريانو بادشاهان سيحون اؤ عوج تباه کړی وُو
اؤ د هغوئ وطن يې تباه کړو. ۵ مالِک خُدائ به تاسو له په هغوئ
باندې فتح درکړی اؤ تاسو به د هغوئ سره خامخا هم هغه شان کار
کوئ لکه څنګه چې ما درته وئيلی دی. ۶ تکړه اؤ زړَور اوسئ.
د هغوئ نه مۀ يربېږئ. مالِک خُدائ ستاسو خُدائ پاک به په خپله
ستاسو سره وی. هغه به تاسو نۀ ناکامه کوی اؤ نۀ به مو پرېږدی.“
۷ بيا مُوسیٰ يشوَع راوغوښتلو اؤ د ټولو اِسرائيليانو په مخکښې يې
هغۀ ته ووئيل، ”تکړه اؤ زړَور اوسه، ته هغه کس يې چې د دې خلقو
راهنمائی به کوې چې هغه وطن قبضه کړی چې مالِک خُدائ يې
د هغوئ پلارنيکۀ سره وعده کړې ده. ۸ مالِک خُدائ به په خپله
ستاسو لارښودنه کوی اؤ هغه به ستاسو سره وی. هغه به تاسو نۀ
ناکامه کوی اؤ نۀ به مو پرېږدی، نو يربېږئ مه اؤ حوصله مۀ بائيلئ.“

## په هر اوؤم کال د شريعت لوستل

۹ نو مُوسیٰ د خُدائ پاک قانُون وليکلو اؤ دا يې هغه ليوی
اِمامانو، کُومو چې د مالِک خُدائ ترون صندُوق وړلو اؤ د اِسرائيليانو
مشرانو له ورکړو. ۱۰ هغۀ هغوئ له حُکم ورکړو، ”د هر اوؤم کال

په آخِر کښې يعنې کله چې د قرضُونو د معاف کولو کال راځی،
نو د جُونګړو په اختر کښې دا په اُوچت آواز سره وايئ. ⑪ دا ټولو
اِسرائيليانو ته وايئ کله چې هغوئ د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک د عِبادت د پاره، د عِبادت هغه يو ځائ ته راشی. ⑫ سړی،
ښځې، ماشُومان او مُسافر چې ستاسو په ښارُونو کښې اوسيږی، دا
ټول راوغواړه، چې هغوئ دا واوری او د مالِک خُدائ ستاسو خُدائ
پاک نه يريدل ايزده کړی او چې د هغهٔ د قانُون په ټولو خبرو پُوره
عمل کوی. ⑬ نو ستاسو هغه اولاد چا چې هيڅ کله د مالِک خُدائ
ستاسو خُدائ پاک قانُون نهٔ دے اورېدلے نو هغوئ به يې واوری.
نو هغوئ به د هغهٔ فرمانبرداری ايزده کړی چې هغوئ په هغه وطن
کښې تر کُومې پورې اوسيږی چې هغه د اُردن نه پورې دے او تاسو
يې قبضه کوئ."

## حضرت مُوسیٰ ته د مالِک خُدائ آخری نصيحت

⑭ بيا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، "ستا د مرګ ورځې رانزدې
دی. يشوَع راوغواړه او مُقدسې خېمې ته يې راوله، چې هلته هغهٔ
ته نصيحت وکړم." نو مُوسیٰ او يشوَع خېمې ته لاړل، ⑮ او مالِک
خُدائ هلته د وريځې د ستن په شکل کښې ظاهر شو چې د خېمې
د دروازې په خُله کښې ولاړه وه. ⑯ مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل،
"ستا د مرګ نېټه پُوره کيدو والا ده او د خپل پلارنيکهٔ سره به يو
ځائ شې او ستا د مرګ نه پس به خلق زما نه نافرمانه شی او هغه
ټرون به مات کړی چې ما د هغوئ سره کړے دے. هغوئ به ما

پرېږدی اؤ د هغه وطن د غېرو معبُودانو عِبادت به وکړی چې کُوم ته
هغوئ ورننوځی. ١٧ نو بيا به زۀ هغوئ ته په قهر شم، زۀ به هغوئ
پرېږدم اؤ هغوئ به تباه شی. ډېر سخت آفتُونه به په هغوئ راشی، نو
هغوئ ته به پته ولګی چې په هغوئ باندې داسې ځکه کېږی چې
زۀ يعنې خُدائ پاک نور د هغوئ مل نۀ يم. ١٨ نو په هغه وخت به
زۀ د هغوئ نه مخ واړوم، ځکه چې هغوئ به بد عمل کړے وی اؤ
د نورو معبُودانو عِبادت به يې کړے وی. ١٩ اوس دا سندره وليکه.
دا د اِسرائيلو خلقو ته وښايه اؤ ور ايزده يې کړه، نو چې دا د هغوئ
خِلاف د ګواه په شان وی. ٢٠ زۀ به هغوئ هغه وطن ته بوځم چې
زرخېز اؤ آباد دے، لکه څنګه چې ما د هغوئ د پلارنيکۀ سره وعده
کړې ده. هغوئ چې کُوم خوراک غواړی نو هلته به ورته ملاوېږی
اؤ هغوئ به په آرام سره ژوند تېروی. خو هغوئ به واوړی اؤ د نورو
معبُودانو عِبادت به وکړی. زما نه به هغوئ مُنکر شی اؤ زما تړون به
مات کړی، ٢١ اؤ کله چې په هغوئ باندې سخت آفتُونه اؤ مُصيبتُونه
راشی نو دا سندره به د هغوئ خِلاف ګواه وی، ځکه چې د هغوئ
اولاد به دا نۀ هېروی، ما ته د هغوئ د ارادې پته ده چې هغوئ
مې لا وعده کړی شوی وطن ته راوستلی هم نۀ دی.“ ٢٢ نو هم په
هغه ورځ مُوسىٰ دا سندره وليکله اؤ په بنی اِسرائيلو باندې يې ايزده
کړه. ٢٣ بيا مالِک خُدائ د نون زوئ يشوَع سره خبرې وکړې اؤ
ورته يې ووئيل، ”تکړه اؤ زړَور اوسه. تۀ به بنی اِسرائيل هغه وطن
ته بوځې چې ما د هغوئ سره د هغې وعده کړې ده اؤ زۀ به ستا
مل يم.“ ٢٤ مُوسىٰ د خُدائ پاک قانُون د اول نه تر آخره پورې د

قانُون په کِتاب کښې ولیکلو. ۲۵ کله چې هغه اوزګار شو، نو هغهٔ
لیویانو اِمامانو ته ووئیل کُوم چې د مالِک خُدائ د تړون د صندُوق
مشران وُو، ۲۶ ”د خُدائ پاک د قانُون دا کِتاب واخلئ اؤ د مالِک
خُدائ ستاسو خُدائ پاک د تړون صندُوق په خوا کښې یې کیږدئ،
چې دا د خپلو خلقو خِلاف د یو ګواه په شان وی. ۲۷ ما ته پته ده
چې هغوئ څومره ضدی اؤ سرکشه دی. هغوئ زما په ژوند کښې
د مالِک خُدائ خِلاف بغاوت کړے دے اؤ زما د مرګ نه پس به
هغوئ نور بغاوت هم کوی. ۲۸ د قبیلو ټول مشران اؤ آفسران زما په
وړاندې راغونډ کړئ، چې زهٔ هغوئ ته دا خبرې وښایم، زهٔ به آسمان
اؤ زمکه د هغوئ خِلاف ګواهان جوړ کړم. ۲۹ ما ته پته ده چې زما
د مرګ نه پس به خلق بد عمله شی اؤ چې ما څهٔ ورته ښودلی دی
د هغې نه به مُنکر شی. اؤ په راتلُونکی وخت کښې به هغوئ د آفت
سره مخامخ شی، ځکه چې هغوئ به مالِک خُدائ په قهر کړے
وی د هغه کارُونو په وجه چې هغهٔ منع کړی دی.“

## د مُوسیٰ سندره

۳۰ بیا مُوسیٰ حمد ووئیلو اؤ د اِسرائیلیانو ټول قوم ورته غوږ
اینښے وو.

# ۳۲

۱ ”اے آسمانُونو! ما ته غوږ کیږدئ اؤ زهٔ به خبرې وکړم،
اے زمکې زما د خُلې خبرې واوره.
۲ زما تعلیمات به د باران په شان راپریوزی،
اؤ زما پیغام به د پرخې په شان راکُوزیږی.

پرېږده چې زما خبرې په تازه واښو باندې د باران په شان راپرېوزی،
اؤ چې د نرى باران په شان په شنو بُوټو باندې ووربږى.
۳ زۀ به د مالِک خُدائ د نُوم بيان وکړم،
زمُونږ د خُدائ پاک لوئى بيان کړئ.
٤ مالِک خُدائ طاقتور ساتُونکے دے،
د هغۀ کارُونه مُکمل دى اؤ د هغۀ هر کار د اِنصاف دے،
ستاسو خُدائ پاک وفادار اؤ رېښتُونے دے،
هغه صادق اؤ د اِنصاف کوونکے دے.
۵ خو تاسو بېوفا يئ اؤ د دې لائق نۀ يئ چې د هغۀ خلق شئ،
تاسو ګُناهګار اؤ دهوکه باز قوم يئ.
٦ تاسو د مالِک خُدائ سره داسې کوئ،
اے کمعقلو اؤ بېشعُوره خلقو!
هغه ستاسو پلار دے، هغه ستاسو خالِق دے،
هغۀ تاسو جوړ کړئ اؤ آباد يې کړئ.
۷ تاريخ ته وګورئ، هغه وخت چې پخوا تېر شوے دے،
د خپل پلار نيکۀ نه تپوس وکړئ نو هغه به درته ووائى چې څۀ شوى وُو،
د خپلو مشرانو نه تپوس وکړئ، هغوئ به مو د تېرې زمانې نه خبر کړى.
۸ خُدائ تعالىٰ قومُونو له خپل خپل ميراث ورکړو،

کله چې هغهٔ فېصله وکړه چې قومُونه به په کُوم کُوم ځائ
کښې اوسېږی.
چې هر يو قوم د خپل هغه معبُود سره اوسېږی چې هغهٔ ورله
خوښ کړے وی،
۹ خو د يعقُوب اولاد هغهٔ د خپل ځان د پاره خوښ کړو.
۱۰ هغهٔ هغوئ په بيابان کښې پېدا کړل چې سرګردانه ګرځېدل،
چې يوه خوشے اؤ وچه صحرا وه.
هغهٔ هغوئ بچ کړل اؤ پام يې ورباندې وکړو،
لکه چې هغه يې د سترګو تور وی.
۱۱ لکه چې يو باز خپل بچی ته د الوتلو چل ښائی،
اؤ په حِفاظت سره يې په خورو وزرو کښې نيسی،
مالِک خُدائ بنی اِسرائيل د غورزېدو نه وساتل.
۱۲ يواځې مالِک خُدائ د خپلو خلقو لارښودنه وکړه
د هغهٔ سره د پردی خُدائ مدد نهٔ وو.
۱۳ هغهٔ دا موقع ورکړه چې په اُوچتو وطنُونو حکومت وکړی،
اؤ هغوئ له يې د پټو د فصلُونو خوراک ورکړو
په هغوئ يې د يو ګټ نه شات وخوړل،
د کاڼی په شان سختې زمکې نه يې د زيتُونو تېل ورکړل.
۱۴ د رَمو نه يې ماستهٔ اؤ پئ اؤ څاربه ګډُوری اؤ چېلی ورکړل،
د بسن ګډُوری اؤ د ښو اوړو غنم يې ورکړل.
د انګُورو رس نه تاسو شراب وڅښل.
۱۵ د مالِک خُدائ خلق مالداره شول، خو سرکشه وُو،

هغوئ خاربه اؤ په خوراک ماړۀ وُو.
هغوئ خُدائ پاک خپل خالِق پرېښودو
هغوئ د خپل طاقتور خلاصوُونکی نه مُنکر شول.
۱۶ د هغوئ بُت پرستئ د مالِک خُدائ غېرت رابېدار کړو،
د هغوئ بد عمل هغه په قهر کړو.
۱۷ هغوئ پېريانو ته قُربانئ وکړې اؤ خُدائ پاک ته يې ونۀ کړې،
هغه خُدايان چې هغوئ نۀ دی پېژندلی،
هغه خُدايان چې اوس اوس راوتلی دی چې ستاسو پلار
نيکۀ د دې نه هيڅ کله نۀ دی يرېدلی،
۱۸ هغوئ خپل خُدائ پاک خپل خلاصوُونکے هېر کړو،
چا چې هغوئ له ژوند ورکړے وو.
۱۹ کله چې مالِک خُدائ دا وليدل، هغه په قهر وو
اؤ د خپلو زامنو اؤ لُوڼو نه مُنکر شو.
۲۰ هغۀ ووئيل، "زۀ به د هغوئ نه مخ واړوم،
بيا به زۀ وګورم چې په هغوئ باندې څۀ کېږی،
ځکه چې هغه يو ضدی نسل دے، ځوک چې بې‌وفا دی.
۲۱ د خپلو غلطو بُتانو په وجه هغوئ زۀ په قهر کړے يم،
د بې‌کاره معبُودانو په وجه هغوئ زما غېرت راپاروَلے دے،
زۀ به هغوئ د هغه خلقو په وجه په حسد کړم ځوک چې
خلق نۀ دی.
نو زۀ به د يو کم عقل قوم په ذريعه هغوئ په قهر کړم،
۲۲ زما قهر به د اور په شان لمبې ووهی

اؤ په زمکه باندې هر څيز به وسوزوی.
دا به لاندې دُنيا ته ورسېږی
اؤ د غرُونو بېخُونه به تباه کړی.
۲۳ زۀ به په هغوئ باندې نه ختمېدُونکی آفتُونه راولم
اؤ د هغوئ خِلاف به خپل ټول غشی اِستعمال کړم.
۲۴ هغوئ به د لوږې اؤ تبې نه مړۀ شی،
هغوئ به په دې سختو وباګانو مړۀ شی.
زۀ به ځنګلی ځناور ورولېږم چې په هغوئ حمله وکړی،
اؤ زهرژن ماران به ورولېږم چې هغوئ وچيچی.
۲۵ د جنګ په وجه به په کُوڅو کښې مړی پراتۀ وی،
په کورُونو کښې به يره وی.
پېغلې اؤ ځوانان به مړۀ شی،
نۀ به ماشُومان اؤ نۀ به سپين‌ګيری بچ شی.
۲۶ ما به هغوئ بېخی تباه کړی وی،
نو هيڅ څوک به هغوئ نۀ يادوی.
۲۷ خو د هغوئ دُښمنان ما داسې لافو وهلو ته پرې نۀ ښودل
چې هغوئ زما خلقو له شکست ورکړے وے،
ځکه چې هغوئ ما په خپله ختم کړی دی.“
۲۸ اِسرائيل يو داسې قوم دے چې شعُور نۀ لری،
هغوئ بېخی عقل نۀ لری.
۲۹ کۀ هغوئ هوښيار وے اؤ په دې باندې پوهېدلے،
اؤ کۀ چې هغوئ په خپل انجام باندې پوهه شی.

۳۰ ولې زرو کسانو د یو کس نه شکست وخوړو،
اؤ ولې لسو زرو صِرف دوه کسانو نه شکست وخوړو؟
مالِک خُدائ، د هغوئ خُدائ پاک، هغوئ پرېښې دی،
خُدائ تعالٰی د هغوئ نه مخ اړولے دے.
۳۱ د هغوئ دُښمنانو ته پته ده چې د هغوئ معبُودان کمزوری دی،
د اِسرائیلیانو د خُدائ پاک په شان طاقتور نهٔ دی.
۳۲ د هغوئ دُښمنان د صُدوم اؤ عُموره په شان خراب شوی دی،
هغوئ د داسې باغُونو په شان دی چې تراخهٔ اؤ زهرژن انگُور نیسی،
۳۳ د داسې شرابو په شان چې د مارانو د زهرو نه جوړ وی.
۳۴ د مالِک خُدائ په یاد دی چې د هغوئ دُښمنانو څهٔ کړی دی،
هغه د صحیح وخت اِنتظار کوی چې هغوئ له سزا ورکړی.
۳۵ مالِک خُدائ به بدله واخلی اؤ هغوئ له به سزا ورکړی،
هغه وخت به راشی چې هغوئ راوغورزېږی،
د هغوئ د تباهۍ ورځ نزدې ده.
۳۶ مالِک خُدائ به خپل خلق بچ کړی
کله چې هغه ووینی چې د هغوئ طاقت ختم شو.
هغه به په هغوئ رحم وکړی څوک چې د هغهٔ خِدمت کوی،
کله چې وگوری چې هغوئ څومره بېمددگاره دی.
۳۷ نو مالِک خُدائ به د خپلو خلقو نه تپوس وکړی،
هغه تکړه معبُودان چرته دی چې تاسو پرې یقین لرلو؟
۳۸ تاسو د خوراک د پاره هغوئ له د خپلو قربانو وازگه ورکوله
اؤ د څښلو د پاره مو ورته شراب پېش کول.

اوس پرېږدئ چې هغوئ راشی اؤ ستاسو مدد وکړی،
پرېږدئ چې هغوئ ستاسو بچ کولو د پاره رامنده کړی.
۳۹ زۀ اؤ يواځې زۀ خُدائ پاک يم،
بل يو هم حقيقی خُدائ نشته.
زۀ مړۀ کول اؤ ژوندی کول کوم، زۀ زخمی کول اؤ روغول کوم،
اؤ هيڅ څوک زما د کارُونو مُخالفت نۀ شی کولے.
۴۰ څنګه چې په حقيقت سره زۀ ژوندے خُدائ پاک يم،
زۀ خپل لاس اُوچتوم اؤ زۀ قسم خورم
۴۱ چې زۀ به خپله ځلېدُونکې تُوره تېره کړم
اؤ وبه ګورم چې اِنصاف وشو.
زۀ به د خپلو دُښمنانو نه بدل واخلم
اؤ هغوئ له به سزا ورکړم چې څوک زما نه نفرت کوی.
۴۲ زما غشی به د هغوئ په وينه کښې ډُوب شی،
اؤ زما تُوره به هغه ټول ووژنی څوک چې زما مُخالفت کوی.
څوک چې زما خِلاف جنګ کوی زۀ هغه يو کس هم نۀ پرېږدم.
تر دې پورې چې زخميان اؤ قېديان به هم مړۀ شی.
۴۳ قومُونو! تاسو د مالِک خُدائ د خلقو صِفت وکړئ،
مالِک خُدائ هغه هر چا له سزا ورکوی چې څوک هغوئ ووژنی.
هغه د خپلو دُښمنانو نه بدله اخلی
اؤ د خپلو خلقو د زمکې کفاره ادا کوی.“

۴۴ مُوسىٰ اؤ د نون زوئ يشوَع د دې حمد ټولې خبرې بيان کړې، د دې د پاره چې د اِسرائيلو خلق يې واورى.

## د حضرت مُوسىٰ وصيت

۴۵ کله چې مُوسىٰ د خُدائ پاک خبرې د خلقو سره ختمې کړې، ۴۶ هغۀ دا هم ووئيل: "ما چې نن کُومې خبرې تاسو سره کړې دى دا ټولې په زړۀ کښې واچوئ. د يو حُکم په توګه يې خپلو بچو ته وښايئ چې هغوئ د دې نصيحتُونو هره خبره ومنى. ۴۷ دا د لار ښودنې هسې تشې خبرې نۀ دى، دا ستاسو د ژوند خبرې دى. دا ومنئ نو تاسو به په هغه وطن کښې ډېره موده تېره کړئ چې د اُردن سيند نه پورې دے اؤ تاسو يې قبضه کوئ."
۴۸ هم په هغه ورځ مالِک خُدائ مُوسىٰ ته ووئيل، ۴۹ "د موآب په وطن کښې د عباريم غرُونو ته لاړ شه چې د يريحو ښار ته مخامخ دے، د نبُو غرۀ ته وخېژه اؤ د کنعان وطن ته وګوره کُوم چې زۀ اِسرائيليانو له ورکوم. ۵۰ تۀ به په هغه غر باندې مړ شې لکه څنګه چې ستا ورور هارُون د حُور په غرۀ باندې مړ شوے وو، ۵۱ ځکه چې د بنى اِسرائيلو په مخکښې تاسو دواړو زما سره بې وفائى وکړه. کله چې تاسو د صين په صحرا کښې چې د قادِس ښار سره نزدې دے، د مريبه د چينو سره وئ، نو د خلقو په مخکښې تاسو زما سپکاوے وکړو. ۵۲ تاسو به د يو لرې ځائ نه هغه وطن وګورئ، خو تاسو به هغه وطن ته ورننه نۀ وځئ کُوم چې زۀ بنى اِسرائيلو له ورکوم."

## د حضرت مُوسىٰ بنى اِسرائيلو د پاره برکت غوښتل

# ۳۳

۱ دا هغه برکتُونه دى چې د خُدائ پاک پيغمبر
مُوسىٰ يې د خپل مرګ نه مخکښې د بنى اِسرائيلو
د پاره اِعلان وکړو.
۲ هغۀ ووئيل: ”مالِک خُدائ د سينا غر نه راغلو،
هغه په ادوم باندې د نمر په شان راوختلو
اؤ د فاران غر نه په خپلو خلقو باندې وځليدو.
لس زره فرِښتې د هغۀ سره وې،
اؤ په ښى لاس کښې يې د اور لمبه وه.
۳ مالِک خُدائ د خپلو خلقو سره مينه کوى
اؤ د هغه خلقو ساتنه کوى څوک چې د هغۀ وى.
نو مُونږ په هغۀ پسې روان يُو
اؤ د هغۀ حُکمونه منُو.
۴ د هغۀ قانُون منُو چې مُوسىٰ مُونږ له راکړے دے،
چې دا زمُونږ د قوم د ټولو نه قيمتى سرمايه ده.
۵ مالِک خُدائ د خپلو خلقو اِسرائيليانو بادشاه شو
کله چې د هغوئ قبيلې اؤ مشران يو ځائ راغونډ وُو.“
۶ مُوسىٰ د روبين قبيلې په باره کښې داسې ووئيل:
”روبين دې ژوندے وى اؤ هيڅ کله دې نۀ مرى،
اګرچې د هغوئ خلق لږ دى.“
۷ د يهُوداه قبيلې په باره کښې هغۀ ووئيل:

”مالِکه خُدايه! د مدد د پاره د هغوئ چغې واوره،
هغوئ يو ځل بيا د نورو قبيلو سره يو مُوټےَ کړه.
مالِکه خُدايه! د هغوئ د پاره وجنګېږه،
اؤ د هغوئ د دُښمنانو خِلاف د هغوئ مدد وکړه.“
۸ د ليوی قبيلې په باره کښې هغهٔ ووئيل:
”مالِکه خُدايه! تهٔ خپله رضا د اُوريم اؤ تميم په ذريعه څرګندوی
د خپلو وفادارو خِدمتګارانو، ليويانو په ذريعه،
هغوئ تا په مسه کښې وآزمائيل
اؤ د مريبه چينو سره دې رېښتُونی ثابت کړل.
۹ هغوئ تا ته د مور پلار، وروُنو اؤ بچو نه هم زياته وفاداری وښودله.
هغوئ ستا حُکمونه ومنل
اؤ هغوئ ستا د تړون وفادار وُو.
۱۰ هغوئ به ستا خلقو ته وښائی چې ستا د قانُون تابعداری وکړی،
هغوئ به ستا په قُربانګاه باندې قُربانئ پېش کړی.
۱۱ مالِکه خُدايه! د هغوئ د قبيلې مدد وکړه چې تکړه شی،
د هغوئ د کارُونو نه خوشحاله شه.
د هغوئ دُښمنان ختم کړه،
اؤ هغوئ مهٔ پرېږده چې بيا سر راپورته کړی.“
۱۲ د بنيامين قبيلې په باره کښې هغهٔ ووئيل:
”دا هغه قبيله ده چې مالِک خُدائ ورسره مينه کوی اؤ ساتنه يې کوی،

هغه ټوله ورځ د هغوئ حِفاظت کوی،
اؤ هغه د هغوئ په مېنځ کښې اوسېږی.“
۱۳ د یُوسف قبیلې په باره کښې هغهٔ ووئیل:
”مالِک خُدائ دې د باران سره د هغوئ وطن له برکت ورکړی
اؤ لاندې د زمکې نه د اوبو برکت ورکړی.
۱۴ مالِک خُدائ دې د هغوئ وطن له په نمر پَخو شوو مېوو سره
برکت ورکړی،
د هغوئ وطن دې د هر مُوسم د ډېرو ښو مېوو سره ښهٔ کړی.
۱۵ د هغوئ پخوانی غرُونه دې د ښو مېوو په ونو باندې شنهٔ شی.
۱۶ د هغوئ وطن دې د ټولو نعمتُونو نه ډک شی،
مالِک خُدائ دې د خپل خېر سره هغوئ له برکت ورکړی،
هغهٔ د سوزېدُونکې بُوټی نه خبرې وکړې.
دا برکتُونه دې د یُوسف په قبیله باندې نازل شی،
ځکه چې هغه د خپلو ورُونو نه اُوچت وو.
۱۷ یُوسف د غوَیی په شان طاقت لری،
د ځنګلی غوَیی د ښکرو په شان دے.
د هغهٔ ښکرُونه د منشه زرګُونو خلق دی
اؤ د اِفرائیم لس زرګُونه خلق دی.
د دې ښکرو سره هغه قومُونه وهی
اؤ د دُنیا آخری سرُونو ته یې رسوی.“
۱۸ د زبولون اؤ یساکار قبیلو په باره کښې هغهٔ ووئیل:
”زبولون دې په سمندری کاروبار کښې مالداره شی،

اؤ د يساکار دولت دې په کور کښې زيات شى.
۱۹ هغوئ مُسافر خپلو غرُونو ته رابلى
اؤ هلته صحيح قُربانى پېش کوى.
هغوئ ته د آباد سمندر نه دولت ملاوېږى
اؤ د شګو نه ورته پټه خزانه ملاوېږى."
۲۰ د جاد قبيلې په باره کښې هغۀ ووئيل:
"د خُدائ پاک ثناء صِفت دې وى، چا چې د هغوئ علاقه لويه کړه.
جاد د زمرى په شان اِنتظار کوى
چې د ښکار مټ اؤ کوپړۍ غوڅه کړى.
۲۱ هغوئ د ځان د پاره د ټولو نه ښه زمکه واخستله،
د يو مشر برخه د هغوئ په حواله شوه.
هغوئ د مالِک خُدائ حُکمونه اؤ قانُون ومنلو
کله چې د اِسرائيليانو مشران يو ځائ راغونډ وُو."
۲۲ د دان قبيلې په باره کښې هغۀ ووئيل:
"دان د يو ځوان زمرى په شان دے،
چې د بسن نه ټوپ وهى."
۲۳ د نفتالى قبيلې په باره کښې هغۀ ووئيل:
"د نفتالى سره د مالِک خُدائ د نېکۍ ډېر برکت دے،
د هغوئ وطن به په جنُوب کښې د ګليل ډنډ پورې رسېږى."
۲٤ د آشر قبيلې په باره کښې هغۀ ووئيل:
"آشر ته د نورو قبيلو نه زيات برکت ورکړے شوے دے.

هغه به په خپلو وږُونو کښې د ټولو نه ګران وی،
اؤ د زیتُونو وني به د هغۀ په وطن کښې ښې ډېرې وی.
۲۵ د هغۀ د ښارُونو دې د اوسپنې په دروازو سره حِفاظت وشی،
اؤ هغه دې همېشه په آمن کښې ژوند تېروی.“
۲۶ اے اِسرائیلیانو! ستاسو د خُدائ پاک په شان خُدائ نشته،
د خپل شان سره هغه پاس په آسمان کښې دے،
ستاسو د مدد د پاره هغه په وریځو سور راځی.
۲۷ خُدائ پاک همېشه ستاسو د حِفاظت ځائ دے،
د هغۀ ابدی قُوت به ستاسو مدد کوی.
تاسو چې مخ په وړاندې ځئ نو هغه ستاسو دُښمنان شړی،
اؤ تاسو ته یې ووئیل چې هغوئ ټول تباه کړئ.
۲۸ نو د یعقُوب اولاده! په آمن سره اوسېږئ،
په هغه وطن کښې په حِفاظت کښې اوسئ چې د غلې اؤ
د انګُورو د شرابو نه ډک دے،
چرته چې د آسمان نه پرخه زمکه اوبۀ کوی.
۲۹ اِسرائیلیانو! تاسو څومره خوشحاله یئ.
ستاسو په شان هیڅ څوک هم نشته،
یو داسې قوم چې مالِک خُدائ خلاصُون ورکړے دے.
مالِک خُدائ په خپله ستاسو ډال اؤ ستاسو تُوره دے،
چې ستاسو حِفاظت وکړی اؤ تاسو له فتح درکړی.
ستاسو دُښمنان به راشی اؤ د رحم د پاره به سوال کوی،
اؤ تاسو به هغوئ د خپو لاندې کړئ.

## د حضرت مُوسیٰ په حق رسېدل

# ۳٤

۱ بیا مُوسیٰ د موآب د مېدانُونو نه د نبُو غرۀ ته وختلو،
يعنې د پِسګه غر سر ته چې يريحو ته مخامخ دے، اؤ
هلته مالِک خُدائ هغۀ ته هغه ټول وطن وښودلو: د دان ښار پورې
د جِلعاد علاقه يې ورته وښودله، ۲ د نفتالى ټوله علاقه، د اِفرائيم
اؤ منشه علاقې، د مديتران سيند پورې د يهُوداه علاقه، ۳ د صحرا
برخه، اؤ هغه مېدان چې د ضُعر نه د يريحو پورې رسېږى، چې د
کهجُورو د ونو ښار دے. ۴ بیا مالِک خُدائ مُوسیٰ ته ووئيل، ”دا
هغه وطن دے چې ما د دې وعده د اِبراهيم، اِسحاق اؤ يعقُوب
سره کړې ده چې د هغوئ اولاد له به يې ورکوم. ما د دې کتلو ته
پرېښودې خو هلته تلو ته به دې نۀ پرېږدم.“ ۵ نو چې څنګه مالِک
خُدائ وئيلى وُو چې مُوسیٰ د مالِک خُدائ خِدمت کوُونکے به د
موآب په وطن کښې مرى نو هم هغسې وشول. ۶ نو هغۀ هغه د
بيت فعور ښار ته مخامخ د موآب په وطن کښې په يو مېدان کښې
ښخ کړو، خو تر ننه پورې د هغۀ د ښخېدو صحيح ځائ پته هيچا
ته نشته. ۷ مُوسیٰ د يو سل اؤ شلو کالو په عُمر کښې وفات شو،
هغه په هغه وخت هم د مخکښې په شان تکړه وو اؤ د هغۀ د سترګو
نظر ټيک وو. ۸ بنى اِسرائيل دېرش ورځې د موآب په مېدانُونو کښې
په هغۀ پسې غمژن وُو، ۹ د نون زوئ يشوَع د اِلهامى حِکمت نه
ډک شو، ځکه چې مُوسیٰ هغه مُقرر کړے وو چې د هغۀ په ځائ
کار کوى. بنى اِسرائيلو د يشوَع تابعدارى وکړه اؤ هغه حُکمونه يې

پُوره کړل چې مالِک خُدائ د مُوسىٰ په ذريعه هغوئ له ورکړى وُو.
⑩ نو په اِسرائيليانو کښې هيڅ کله د مُوسىٰ په شان پيغمبر نۀ دے
پيدا شوے، چې مالِک خُدائ مخامخ د هغۀ سره خبرې وکړې،
⑪ په ټولو اِسرائيليانو کښې د مُوسىٰ په شان بل يو پيغمبر نۀ هم وو
چې په مِصر کښې د فِرعون، د هغۀ د ټولو درباريانو اؤ د هغۀ د ټول
وطن خِلاف داسې مُعجزې اؤ عجيبه عجيبه کارُونه وکړى. ⑫ بل يو
پيغمبر هم داسې لوئ لوئ اؤ يرۇونکى کارُونه نۀ دى کړى لکه چې
مُوسىٰ د ټولو اِسرائيليانو په وړاندې وکړل.

Holy Torah in Pashto (Yuzuf Zai dialect)
© UBS 1213 Printrun: MM
ISBN 978969250-8595